پنځم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې پنځم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱۴۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱۷۲ افغانۍ


**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**




پنځم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

# فهرست

عنوان صفحه


النمل .......... ۱
القصص.......... ۴۸
د ملتونو د عروج او زوال عوامل .......... ۴۸
یادونه: .......... ۴۸
سریزه.......... ۴۹
القصص.......... ۵۰
د سورې معرفي .......... ۵۰
د فرعوني نظام واکمني څېړې .......... ۵۵
له مظلومانو سره د فرعوني نظام چلن.......... ۵۶
د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت .......... ۵۶
قیادت د هر نهضت پیلامه.......... ۵۸
قائد او (علم) او (حکمت) ئې.......... ۶۱
د خضر علیه السلام ځانګړی علم .......... ۷۹
موسی علیه السلام له خپل عالم ملګري څه زده کړل؟.......... ۸۰
موسی او خضر علیهما السلام چېري سره لیدلي؟.......... ۸۴
د بني اسرائیلو د آزادۍ شعار .......... ۱۰۵
د عصا په اړه د بایبل غلطه وینا .......... ۱۰۹
د بني اسرائیلو د قصې نوري برخي.......... ۱۴۵
د فرعون د مشر زوی مړینه .......... ۱۴۹

کله چي تشدد نتيجه نه ورکوي:........................................ ۱۵۱
د هجرت پرېکړه........................................ ۱۵۵
د نجات د ورځي لمانځنه........................................ ۱۵۸
د فرعون غرقېدا........................................ ۱۶۲
د فرعون له غرقېدو وروسته څه وشول؟........................................ ۱۶۳
غوره امت........................................ ۱۶۵
ژوندی بُت او مړه بُتان........................................ ۱۶۶
من او سلوٰی........................................ ۱۶۷
د زوال او ذلت پړاو........................................ ۱۷۲
مذهبي حيله........................................ ۱۷۷
اختلاف او تشتت........................................ ۱۸۰
له الله تعالی سره کړې ژمني ماتول........................................ ۱۸۲
د الله تعالی د ليدو هيله........................................ ۱۸۵
د تورات ورکړه........................................ ۱۸۶
د پيغمبرانو او عدالت غوښتونکو وژل........................................ ۱۹۵
د کتاب په ځينو برخو عمل او په ځينو نه عمل........................................ ۱۹۶
دين پلورنه........................................ ۱۹۸
د قائد څو ورځنی غيابت او په بڅمار مشر پسي تلل........................................ ۲۰۱
ذلت، مسکنت او د خدای غضب ئې پايله........................................ ۲۰۸
د الهي احکامو په منلو او تعميل کې لټې او تعلل........................................ ۲۰۹
خپل منځي قتلونه او له قاتل دفاع........................................ ۲۱۱
د الله په کتاب کې تحريف........................................ ۲۱۱
منافقت........................................ ۲۱۵
د کفر او کافرانو په وړاندي د حساسيت کموالی........................................ ۲۱۷

په تجارتي راکړې ورکړې کې خیانت................................................ ۲۱۸
له مرګ سخته وېره او له ژوند سره افراطي مینه.................................... ۲۲۰
ړوند مذهبي تعصب..................................................................... ۲۲۱
د رومیانو او بابلیانو بریدونه ............................................................. ۲۲۵
العنکبوت .............................................................................. ۲۳۰
الروم.................................................................................... ۲۷۰
لقمان.................................................................................. ۲۹۸
السجده ................................................................................ ۳۲۷
الاحزاب ............................................................................... ۳۴٦
سبإ..................................................................................... ٤۲٤
فاطر ................................................................................... ٤۵۲
یٰس .................................................................................... ٤۸۰

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحيم

# النمل

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم النمل دئ، د سورې د ۱۸ آیت له دې فقرې ﴿قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ﴾ اخیستل شوی، د مکې دور په منځنیو کلونو کې او تر الشعراء وروسته نازله شوې، ۹۳ آیتونه لري، آیتونه ئې د الشعراء په پرتله دومره اوږده دي چې د دې یو د هغې له دوو سره برابر دي، او له دې داسې معلومېږي چې دا سوره تر الشعراء زیاته موده وروسته نازله شوې، او د دواړو د نزول تر منځ کافي وخت تېر شوی، آیتونه ئې ښکلی او خوندور وزن لري او په داسې صیغو پای ته رسېدلي چې د سورې د لومړي آیت (مبین) او د درېیم آیت (یوقنون) صیغو ته ورته وزن لري.

لکه څنګه چې دا سوره په دوو مقطعاتو حروفو (طاء او سین) پیل شوې د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم دوه دي، دا مضامین د لومړۍ رکوع په پیل کې په دې توګه راغلي:

۱- د الله تعالی له لوري لېږل شوی مبین کتاب د مؤمنانو لپاره لارښود او زېری دئ، د هغو مؤمنانو لپاره چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او پر آخرت یقین کوي.

۲- هغه چې پر آخرت ایمان نه راوړي؛ دوی ته الله تعالی خپل خپل عملونه ښایسته کړي نو د ایمان راوړو سعادت ئې نه په برخه کېږي، لالهاند وي، په دنیا کې به هم په بد عذاب اخته شي او په آخرت کې به لازیات زیانمن وي.

ټوله سوره د همدغو دوو اساسي مطالبو پر محور څرخي او د څو تاریخي بېلګو په ترڅ کې زموږ په وړاندې انځور شوي:

لومړۍ تاریخي بېلګه ئې د موسی علیه السلام د بعثت قصه ده، چې له نهو سترو سترو معجزو سره د فرعونیانو مقابلې ته لېږل شوی خو د دغو سترو معجزو له لیدو سره سره فرعونیانو ایمان رانه وړ!! موسی علیه السلام په داسې حال کې پر پیغمبرۍ مبعوث شوی چې له خپلې مېرمنې او ماشومانو سره د شپې په تیاره کې، یوه تنګ او کږلېچن ناو کې په سفر روان وو، هوا سړه وه، د اور بلولو او ځان تودولو سامان ئې هم نه درلودل، لار ترې ورکه شوې وه، داسې چا ته اړ وو چې لار وروښيي. په همدې حالت کې ئې لرې لرې د اور رڼا تر

سترګو شوه، خپل ټبر ته ئې وويل: دلته تم شئ، هلته مي د اور يوه لمبه وليده، ورځم، يا به د لارې په اړه ترې وپوښتم، خو که دوی هم زموږ په څېر لاروي ول او د لارې په اړه ئې معلومات نشو راکولی نو کومه بله سکروټه به ترې راوړم، چې اور بل کړو او ځان تود کړئ. په دې کې د موسی علیه السلام د بې وسۍ او بې کسۍ حالت انځور شوی، داسې يو کس د فرعون مقابلې ته لېږل شوی، خو ومو ليدل چې د دې مقابلې پايله څه وه!!

ورپسې د داؤد علیه السلام او د ده د زوی سليمان علیه السلام قصه په تفصيل سره وړاندې شوې، او په دې کې د الله تعالی په وړاندې د يوه مؤمن واکمن چلن انځور شوی، د قصې اساسي مطالب دا دي:

- الله تعالی داؤد او سليمان عليهما السلام ته ځانګړی علم ورکړی وو، د رسالت علم تر څنګ له اوسپنې زغرې جوړول، د بادې کښتۍ اختراع، د اطلاعاتو او ليکونو لېږد رالېږد کې د مرغانو کارول او د مرغانو په ژبې د پوهيدا علم ورکړی شوی وو.
- د دې الهي پېرزوينو په وړاندې د دوی د امتنان او شکر احساس او وينا دا وه: ستاينې هغه الله ته دي چې موږ ته ئې پر خپلو ډېرو مؤمنو بندګانو فضيلت راکړ.

بيا د صالح علیه السلام په وړاندې د ثمودیانو چلن انځور شوی، چې اساسي ټکې ئې دا دي:

۱. الله تعالی ثمودیانو ته د دوی ورور صالح علیه السلام ولېږو، له دې پيغام سره چې د الله تعالی عبادت وکړئ، د ده د دعوت په وړاندې ثمودیان په دوو ډلو ووېشل شول، ځينو ايمان راوړ او ځينو د صالح علیه السلام د مخالفت او دښمنۍ لار غوره کړه او د دوی تر منځ شخړه پيل شوه، صالح علیه السلام ورته وويل: اې زما قومه! ولې تر ښېګڼو بدو کړنو ته تلوسه لرئ؟ ولې بدې تر نېکې وړاندې په تلوار سره غواړئ، ولې له الله بخښنه نه غواړئ چې په نتيجه کې به ئې د الهي رحمت او پېرزوينې وزر درباندې وغوړول شي؟!

۲. دوی د صالح علیه السلام په ضد په توطئو لاس پورې کړ، خپل پټ تدبير ئې وکړ او الله تعالی په داسې حال کې پټ تدبير وکړ چې دوی بې خبره ول، نو وګوره چې د دوی د پټ تدبير پايله څنګه وه، څنګه مو دوی او د دوی ټول قوم ويجاړ ويجاړ کړل!! او دا د دوی کورونه دي چې له دې کبله تش پاته دي چې ظلم ئې وکړ.

ورپسې د اخلاقي فساد په يوه ګنده ډنډ کې د نښتي قوم قصه د بلې تاريخي بېلګې په توګه وړاندې شوې، دا د لوط علیه السلام د مفسد قوم قصه ده چې په دې توګه راغلې:

- لوط علیه السلام خپل قوم ته وويل: آيا دې فحش کار ته په داسې حال کې وړاندې کېږئ چې تاسو يو بل ته ګورئ، په څرګنده توګه او د نورو په وړاندې؟!! آيا د ښځو پر ځای نارينه وو ته د شهوت په موخه وړاندې کېږئ؟!! يوازې دا نه بلکې ډېر نور جهالتونه هم کوئ.
- د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې د لوط پلويان له خپل کلي وباسئ، يقيناً چې دوی داسې وګړي دي چې ځان پاك پاك کوي!! دا دئ ګورئ چې پليت، په ګناهونو کې

غرق، په اخلاقي فساد اخته وګړي پاکلمني نشي زغملی، له خپل کلي ئې له دې کبله باسي چې د دوی په څېر بدلمني نه دي!!

- نو الله تعالی دی او د ده تبر وژغورو، د ده له مېرمنې پرته چې برخليك ئې د نورو وروسته پاته شوو په څېر وو، د ډبرو باران ئې پرې ووراوو، وګوره چې د هغو وګړو پر سر ورېدونکی باران څومره بد دئ چې پيغمبرانو خبرداری ورکړی او دوی ئې پروا نه ده کړې!!

بيا د وينا مخه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مخاطبينو په لوري اړول شوې او هغوی ته د الله تعالی او آخرت په اړه ډېره زړه راښکونکې او جذابه وينا، په زړه پوري لارښوونې او ډېر مضبوط او قانع کوونکي دلائل وړاندې شوي.

په پای کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې دوی ته ووايي:

- زه ګمارل شوی يم چې دا قرآن خلکو ته واوروم.
- څوك چې په سمه لار روان شي يقيناً چې د ځان په ګټه په سمه لار تللی.
- څوك چې بې لارې شي نو زه خو يوازې يو منذر يم، د نورو پيغمبرانو په څېر تاسو د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو وېروم.
- ستاينې ټولې الله ته دي.
- ژر به خپل آيتونه داسې دروښيي چې تاسو به ئې پېژنئ، هغه څه چې تاسو ترې انکار کوئ ډېر ژر به ئې په خپلو سترګو وګورئ.
- الله تعالی له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡقُرۡءَانِ وَكِتَابٖ مُّبِينٍ ١ هُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱلَّذِينَ
يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُمۡ يَعۡمَهُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمۡ سُوٓءُ
ٱلۡعَذَابِ وَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ٥

طا، سين، دا د دې قرآن آيتونه دي او د يوه څرګند کتاب، هغو مؤمنانو ته لارښوونه او زېری چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او پر آخرت يقين کوي، يقيناً هغه چې پر آخرت ايمان نه راوړي؛ دوی ته مو خپل خپل عملونه ښايسته کړي نو دوی لالهاند دي، دوی همغه دي چې بد عذاب ئې په برخه دئ او دوی به په آخرت کې لازيات زيانمن وي.

---

(۱-۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

لکه څنګه چې دا سوره په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم دوه دي، دا مضامین د لومړۍ رکوع په پیل کې په دې توګه راغلي:
١- د الله تعالی له لوري لېږل شوی مبین کتاب د مؤمنانو لپاره لارښود او زېری دئ، د هغو مؤمنانو لپاره چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او پر آخرت یقین کوي. دوی ته د روښانه مستقبل او فلاح او بریا زېری ورکوي.
٢- هغه چې پر آخرت ایمان نه راوړي؛ دوی ته الله تعالی خپل خپل عملونه ښایسته کړي نو د ایمان راوړو سعادت ئې نه په برخه کېږي، لالهاند وي، په دنیا کې به هم په بد عذاب اخته شي او په آخرت کې به لازیات زیانمن وي.
ټوله سوره د همدغو دوو اساسي مطالبو پر محور څرخي او د څو تاریخي بېلګو په ترڅ کې زموږ په وړاندې انځور شوي.
د قرآن په اړه چې دلته په لومړي آیت کې څه ویل شوي دا مطلب په مکرره توګه، په مختلفو الفاظو او په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلی، دلته قرآن د مبین کتاب په نامه ستایل شوی، مبین یعني ښکاره، څرګند او واضح، مبین یعني د ټولو حقائقو څرګندوونکی، بیانوونکی او واضح کوونکی، او د دې معنی دا ده چې په قرآن کې ابهام، اغماض، د انسان له فهم او درك لوړ مطلب، مجهوله وینا او د شك او تردد مورد نشته، او د دې معنی دا ده چې قرآن ټول حقائق څرګند کړي، کومو لارښوونو ته چې انسان ضرورت لري په دې قرآن کې بیان شوې، نو قرآن هم په خپله څرګند کتاب دئ او هم د حقائقو لپاره وروستی معیار او ملاك. او دا د هغو خلکو ادعاء په بشپړه توګه ردوي چې وایي: قرآن مبهم او د خلکو له سویې لوړ کتاب دئ او په قرآن پوهېدا ګران کار دئ، د قرآن په اړه دا قضاوت ستر جرم دئ او د الله تعالی د مکرري وینا خلاف غلط او ظالمانه قضاوت دئ. څوك چې د قرآن په اړه داسي قضاوت کوي او هغه یو مبهم او د خلکو له سویې لوړ کتاب معرفي کوي هغه یقیناً چې یو جاهل، ناپوه، د قرآن له حقیقت بې خبره او په غرض او مرض اخته انسان دئ، داسي چا ته مه د عالم په سترګه ګورئ او مه ئې خبره د اعتناء وړ ګڼئ. دوی تر څرګند دښمن هم د قرآن ستر دښمنان دي، دوی په دې وینا سره خلك د قرآن له ویلو منع کوي او څوك چې له قرآن پرته په بل څه کې هدایت لټوي هیڅکله به هدایت نشي او صحیح لار به ونه مومي. هیڅ حقیقي عالم به د الله تعالی د دې مبین او آسان کتاب په اړه د داسي څه ویلو جسارت ونه کړي چې د قرآن په اړه یو کرکجن او ظالمانه تور او په خپله د قرآن د وینا خلاف وي، په قرآن کې په وار وار ویل شوي چې دا مبین او آسان کتاب دئ. ځیني د ناپوهۍ له کبله دا خبره کوي چې په قرآن پوهېدا ګرانه ده او ځیني ګمان کوي چې په داسي وینا سره موږ د قرآن درناوی کړی!! حال دا چې دا درناوی نه بلکې سپکاوی دئ، کوم کتاب چې غامض، پېچلی، مبهم او د مخاطب له سویې لوړ وي یو ناقص او عیبناك کتاب دئ.
دا همغه کار دئ چې د یهودو او نصرانیانو دین پلورونکو مذهبي مشرانو له تورات او انجیل سره وکړ، هغوی هم د الله تعالی کتاب شا ته وغورځاوو او خلکو ته ئې وویل: د الله

په کتاب پوهېدل گران دي، تاسو نشئ کولی د هغه په معنی او حقيقت پوه شئ، موږ ئې خلاصه درته وايو، په همدې اکتفاء وکړئ؛ او دوی به هغه قصې ورته کولې چې له شيطانانو به ئې زده کړې وې او پيغمبرانو ته به ئې منسوبولې، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٌ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ ... ﴿١٠٢﴾ البقره

او کله چې د الله له لوري کوم داسي پيغمبر ورته راغلی چې له دوی سره د شته (کتاب) تصديقوونکی وو، نو د اهل کتاب يوې ډلې د الله کتاب داسي شا ته وغورځاوو لکه (په هيڅ) چې نه پوهېدل. او د هغه څه متابعت ئې پيل کړ چې شيطانانو به د سليمان عليه السلام د پاچاهی په نامه (ورته) لوستل!!

دا دئ گورئ چې له مخکينيو الهي کتابونو سره همدا کار شوی او له قرآن سره همدا کار کېږي.

څوك چې وايي قرآن دومره پېچلی، مجمل او گران کتاب دئ چې د نړۍ هيڅ کتاب دومره پېچلی نه دئ، گواکې د قرآن د دې خبرې چې وايي: که جن او انس راغونډ شي داسي کتاب نشي وړاندې کولی؛ معنی همدا ده چې دا کتاب پېچلی دئ؛ دا کس يا دروغجن دئ او د الله تعالی د کتاب په اړه دروغ وايي، يا د قرآن د دغې وينا په معنی نه دئ پوه شوی، د قرآن د دغې وينا معنی دا ده چې هيڅوك د قرآن په څېر واضح، څرگند، عام فهم، سليس، د اسرارو واضح کوونکی، جامع، لارښود، معياري، اغېزناك او خوندور کتاب نشي وړاندې کولی، په يوه کتاب کې ابهام، اغماض، پېچلتوب، عدم وضاحت او د مخاطب له سويې لوړ والی؛ ستر عيب دئ او د حکيم رب کتاب له دې عيب منزه دئ، څوك چې قرآن ته ابهام او اغماض منسوبوي پر الله تعالی او د هغه پر مبين کتاب ستر تور لگوي. حقيقت دا دئ چې د نړۍ هيڅ مذهبي او غير مذهبي کتاب د قرآن په څېر واضح او آسان نه دئ؟

څوك چې وايي: د قرآن د کوم آيت په اړه به يوازې هغه څه وايو چې په رواياتو کې راغلي، له دې پرته نه د څه ويلو حق لرو، نه د کومې انتباه اخيستو او نه د بل تعبير او تفسير، او داسي تعبير او تفسير ته د تفسير بالرأی نوم ورکوي او هغه حرام گڼي!! دا خبره له ځانه کوي، هيڅ عقلي او نقلي بنسټ او دليل ورته نه لري، دا جناب نه له قرآن خبر دئ او نه د رواياتو له کتابونو، نه پوهېږي چې په رواياتو کې د څو محدود شمېر آيتونو تفسير راغلی او په همدغو لږو مواردو کې به هم نه يوازې د يوه آيت د تفسير په اړه گڼ شمېر متعارض او متضاد روايات ستاسو مخې ته راشي بلکې يوه صحابي ته به دوه او درې متعارض اقوال منسوب شوي ومومئ، د قرآن په تفسير کې چې کومه ستره ستونزه رامنځته شوې نو له دغو متعارضو او متضادو رواياتو راولاړه شوې، دغه متعارض روايات د دې باعث شوي

چې ځيني ووايي: په قرآن پوهېدا گرانه ده، ځکه چې دا دئ گورو قرآن يو څه وايي، روايت بل څه، د يوه آيت په اړه يو روايت يو څه وايي او بل روايت بل څه!! د دې ستونزې منشأ قرآن نه بلکې همدا متعارض روايات دي، دا ستونزه د قرآن له بېلو بېلو آيتونو نده راولاړه شوې، له هغو رواياتو راولاړه شوې چې يا له قرآن سره تعارض لري او يا په خپلو منځونو کې، ځوك چې قرآن ته د وروستي ملاك او معيار په سترگه گوري هغه ته ډېره آسانه ده چې صحيح روايت له کمزوري، ضعيف او جعلي تفکيك کړي، هر روايت چې له قرآن سره اړخ نه لگوي، په قرآن کې کوم شاهد ورته نه مومو او د قرآن له کوم آيت سره تعارض ولري هغه روايت نه صحيح دئ، نه د منلو او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د منسوبولو وړ، آيا زموږ ايمان او عقل دا خبره مني چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به داسي خبره کړې وي چې له قرآن سره تعارض لري؟!! څنگه ومنو چې قرآن او صحيح حديث به په خپلو کې تعارض لري؟!! زموږ ايمان او عقل وايي: هغه روايت قطعاً نشي صحيح کېدی چې د قرآن خلاف خبره کوي. د قرآن په حقيقت د پوهېدا په ارتباط د هغو خلکو سورلۍ په ختو کې نښلي، د وړاندي تلو توان له لاسه ورکوي او له ستونزي د وتلو سعادت ئې نه په برخه کېږي چې قرآن د وروستي معيار او ملاك په توگه نه مني او ضعيفو او غريبو رواياتو ته د قرآن پر څرگندو آيتونو ترجيح ورکوي. د هغوی مثال هغه شنواري ته ورته دئ چې چا ترې وپوښتل: خدای ستر دئ که دُربابا؟ له څه درنگ او ځنډ وروسته ئې وويل: خلای (خدای) دي داسي حيران کړه لکه چې زه دي حيران کړم، که ووايم خلای ستر دئ دربابا خفه کېږي او که ووايم در بابا ستر دئ نو خلای ناراضه کېږي!! دوی هم چې د آيت او روايت تر منځ له جدي او ژور تعارض حتی تضاد سره مخامخ شي او وپوښتل شي: کوم يو صحيح وگڼو؟ نو د هغه شنواري په څېر حيران شي!! دوی ته وايو: خدای مو هدايت کړه، څنگه د الله تعالی د کتاب په وړاندي يوه ضعيف او غريب روايت ته اعتبار او ارزښت ورکوئ؟!! هغوی په دې نه پوهېږي چې تفسير بالرأی څه دئ، کوم تفسير بالرأی حرام دئ؟ تفسير بالرأی دا نه دئ چې ځوك د قرآن له کوم آيت کومه انتباه واخلي، يا د کوم آيت په اړه خپله رأيه وړاندي کړي، يا د څو مفسرينو د آراءو له منځه يوه غوره وگڼي، که دې ته ځوك تفسير بالرأی ووايي نو بيا خو ټولو مفسرينو همدا کار کړی او هر يوه د قرآن د آيتونو په اړه خپله خپله رأيه وړاندي کړې؟ آيا دوی حرام کار کړی؟ که داسي تفسير ناجائز وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به له صحابه وو داسي پوښتنه نه کوله چې په قرآن کې مؤمن له يوې ونې سره تشبيه شوی هغه کومه ونه ده؟ عمر رضی الله عنه به له صحابه وو همداسي پوښتنه نه کوله، هغه د جليل القدره صحابه وو په يوې غونډې کې د النصر سورې په اړه پوښتنه وکړه، هر چا خپله خپله رأيه ورکړه، عبد الله بن عباس رضی الله عنهما هم چې لا ځوانکی وو خپله رأيه وړاندي کړه او عمر رضی الله عنه وويل چې زما انتباه هم د ده په څېر وه. که دا کار جائز نه وی نو دا پوښتني به نه کېدې!! مفسرينو به د قرآن د آيتونو په اړه خپل خپل آراء نه وړاندي کول، الله تعالی به نه فرمايل چې په دې قرآن عقلمن او اولوالالباب پوهېږي.

دغو درنو مفسرينو د دغو آراءو په وړاندې کولو سره نه يوازې کومه ګناه نه ده کړې بلکې طمع مو دا ده چې الله تعالی به دوی ته د صحيح تفسير په صورت کې دوه او د اشتباه په صورت کې يو اجر ورکوي. تفسير بالرأی دې ته وايي چې څوك له ځان سره کومه خاصه رأيه ولري او بيا د دغې رأيي لپاره په تکلف سره د قرآن کوم آيت تأويل او تحريف کړي، داسې لکه چې څوك يو غريب روايت واوري يا د مذهبي تعصب له مخې کومه رأيه قبوله کړي او بيا د قرآن کوم آيت د خپل ظاهري او څرګند مفهوم په خلاف د همدې غريب روايت او همدې مذهبي رأيي په تأييد کې تحريف کړي، د دې پر ځای چې آيت معيار وګڼي او روايات د هغه په تله وتلي برعکس همدا کمزوري روايات معيار ګڼي او د قرآن آيتونه د هغوی په تأييد کې تحريفوي!! د دې پروا هم نه کوي چې وينا ئې د قرآن خلاف ده!!

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾

او يقيناً چې تا ته دا قرآن د پوه باحکمت ذات له لوري درکول کېږي.

(٦)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې تا ته دا قرآن د هغه الله تعالی له لوري درکول کېږي چې پوه باحکمت دئ، يعني دا کتاب د (علم) او (حکمت) خزانه ده ځکه رالېږونکی ئې عليم او حکيم دئ، د دې کتاب په هرې لارښوونې کې به د حکيم او عليم رب د علم او حکمت څرګند مظاهر په خپلو سترګو وګورئ. څوك چې په دې کتاب ايمان نه راوړي وجه ئې دا نه ده چې دا کتاب ورته مبهم دئ، يا کافي دلائل ئې په وړاندې نه دي ابښودل شوي، يا په هغه کې د علم او حکمت څرګند مظاهر نه ګوري، بلکې وجه ئې دا ده چې له خپلو غلطو کړنو لاس اخيستو او د خپلو ناولو اعمالو پرېښودو ته چمتو نه دي، دوی ته خپلې کړنې ښايسته برېښي.

إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا سَـَٔاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ ءَاتِيكُم
بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ
وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨﴾ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ
ٱلْحَكِيمُ ﴿٩﴾ وَأَلْقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْۚ
يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿١٠﴾ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنَۢا
بَعْدَ سُوٓءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١﴾ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ

سُوٓءٍۖ فِي تِسۡعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ١٢ فَلَمَّا
جَآءَتۡهُمۡ ءَايَٰتُنَا مُبۡصِرَةٗ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١٣ وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ
أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٤

هغه مهال چي موسی خپل ټبر ته وویل: ما یو اور ولید، له هغه به یا حتماً کوم خبر درته راوړم یا په موټ کي نیول شوې لمبه، چي ځان تود کړئ، نو کله چي ورته راغی ورغږ شو چي هغه هم مبارك کړی شوی چي په اور کي دئ او هغه هم چي شاوخوا کي ئې دئ، او پاكي د عالمونو رب الله ته ده، اې موسی! خبره دا ده چي یقیناً زه باحکمت عزتمن الله یم، او عصا دي وغورځوه، او کله چي ئې هغه داسي ولیده لکه چي خوځنده مار وي نو په داسي حال کي ئې (په تېښته) مخ ترې واړاوو چي شا ئې ور اړولې وه او شا ته ئې ونه کتل، اې موسی! مه وېرېږه، یقیناً چي زما خوا ته پیغمبران نه وېرېږي، مگر هغه چي ظلم ئې وکړ، بیا ئې له بدو وروسته نېکي په بدل کي وکړه، نو یقیناً چي زه مهربان بخښونکی یم. او لاس دي په گرېوان کي دننه کړه، چي له داغ پرته به تك سپین راووځي، په نهو نښو کي د فرعون او د هغه د قوم په لوري، یقیناً چي دوی فاسق وگړي دي، نو کله چي زموږ ځرگندي بصیرت پاروونکې (سترگي پرانیستونکې) نښې ورغلې وئې ویل: دا ځرگند جادو دئ!! نو په داسي حال کي ئې د ظلم او کبر له کبله انکار ترې وکړ چي زړونو ئې پرې باور کړی وو؛ نو وگوره چي د دغو مفسدینو پایله څنگه وه؟!

---

(۷-۱٤)- په دې مبارکو آیتونو کي د سورې د اساسي مضامینو لپاره د موسی علیه السلام د بعثت قصه، له نهو سترو سترو معجزو سره د فرعونیانو مقابلې ته د هغه لېږل او د دغو سترو معجزو له لیدو سره سره د فرعونیانو ایمان نه راوړل د تاریخي بېلگي په توگه وړاندي شوې؛ چي خلاصه ئې دا ده:

- هغه مهال درپه یاد کړه چي موسی علیه السلام له خپل ټبر (مېرمني او ماشومانو) سره د شپې په تیاره کي، یوه تنگ او کږلېچن ناو کي په سفر روان وو، هوا سړه وه، د اور بلولو او ځان تودولو سامان ئې هم نه درلود، لار ترې ورکه شوې وه، داسي چا ته اړ وو چي لار وروښیي. په همدې حالت کي ئې لږ لري د اور رڼا تر سترگو شوه، خپل ټبر ته ئې وویل: دلته تم شئ، هلته مي د اور یوه لمبه ولیده، ورځم، یا به د لاري په اړه ترې وپوښتم، خو که دوی هم زموږ په څېر لاروي ول او د لاري په اړه ئې معلومات نشو راکولی نو کومه بله سکروټه به ترې راوړم، چي اور بل کړو او ځان تود کړئ. په دې کي د موسی علیه السلام د بې وسۍ او بې کسۍ حالت انځور شوی، داسي یو کس د فرعون مقابلې ته لېږل شوی، خو

ومو ليدل چې د دې مقابلې پايله څه وه!!

- کله چې د اور ځاى ته ورغى داسې غږ پرې وشو: دا يو سپېڅلى ناو دئ، هغه هم مبارك دئ چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دئ، او پاکي د عالمونو رب الله ته ده، يعني دا سيمه اوس د الله تعالى تر خاص رعايت لاندې ده او هر څه ئې مبارك دي. د القصص په سوره کې ويل شوي چې دا غږ له يوې ونې پرې وشو، تفصيلات ئې هلته وګورئ. دا لوړه د طور غره په لمنې کې پرته ده، د عيسائيانو لومړي پاچا قسطنطين په ٣٦٥ م کې دلته يوه کنيسه جوړه کړه، بيا نژدې دوه سوه کاله وروسته قيصر د دې خوا ته يو دَير جوړ کړ چې دا کنيسه هم د هغه يوه برخه شوه، دواړه تر اوسه پاته دي.
- د آيت دا فقره غور غواړي چې وايي: پاکي هغه الله ته ده چې د عالمونو رب دئ، بايد وګورو چې له مخکينيو فقرو سره ئې تړاو څنګه دئ، تر دې وړاندې د يوه مکان، اور او غږ يادونه شوې، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې له رب العالمين سره د دغو دريو (مکان، اور او غږ) تړاو څنګه دئ؟ په دې فقرې سره دغې پوښتنې ته ځواب ويل شوى او هغه داسې چې الله تعالى د عالمونو رب دئ، له هر عيب او نقص منزه دئ، نه مکان ته اړ دئ، نه ئې دلته حضور داسې وو لکه کوم مخلوق چې يو ځاى پرېږدي او بل ځاى ته ولاړ شي، نه دا اور او رڼا ئې د ده د تجلي او جلال رڼا وه او نه دې ته اړ دئ چې چا ته د يوې لارښوونې د القاء لپاره داسې تکلم وکړي لکه د يوه انسان تکلم له بل سره، د الله تعالى هيڅ څه مخلوق ته ورته نه دي، په هيڅ څه کې د مخلوق په څېر نه دئ، داسې نه چې الله تعالى له مخلوق سره تشبيه کړئ، داسې نه چې يوه وړه دره د رب العالمين لپاره مکان وګڼئ، الله تعالى همدلته له موسى عليه السلام سره تکلم کړى، خو دا تکلم څنګه وو؟ موږ نه پوهېږو، يوازې دومره ويلې شو چې موسى عليه السلام ته داسې غږ شوى او داسې تکلم ورسره شوى چې دى پرې پوه شوى، دا اور او رڼا د الله تعالى د تجلي رڼا نه وه، ځکه قرآن په خپله په بل ځاى کې موږ ته لارښوونه کوي چې موسى عليه السلام له الله تعالى وغوښتل چې ځان وروښيي، هغه ته وويل شو چې ما نشې ليدلى، دا دئ وګوره چې ستر غر د الله تعالى د تجلي په وړاندې مقاومت نشي کولى، الله تعالى د غره په لوري تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسى عليه السلام بې سده شو.
- الله تعالى موسى عليه السلام ته ځان داسې معرفي کوي: يقيناً چې زه باحکمت عزتمن الله يم، زما په هرې پرېکړې کې حکمت مضمر دئ، دلته ستا راوستل، په پيغمبرۍ ستا ګمارل او د فرعون لوري ته ستا لېږل؛ دا هر څه پر حکمت مبتني دي. ځواکمن او عزتمن رب درسره دئ، مه د فرعون له زور او ځواك وېره کوه او مه ځان کمزورى او ضعيف ګڼه.
- هغه ته وويل شول: دا مکان چې تا ته اور ښکاري؛ د الله تعالى د خاصې توجه وړ ګرځېدلى، د همدې خاصې توجه له کبله د دې په منځ او شاوخوا کې هر څه مبارك دي.
- موسى عليه السلام ته وويل شول: عصا دې وغورځوه، له غورځولو سره سم ئې هغه

داسي ومونده لکه چي خوځنده مار وي، هیبت پرې راغی، مخ ئې ترې واړاوو او داسي په تېښته شو چي شا ته ئې نه کتل. په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي موسی علیه السلام تر وحي وړاندي یو عادي انسان وو، حالت ئې داسي وو چي کله ئې خپله عصا د خوځنده مار په بڼې کې ولیده داسي ترې وتښتېدو چي شا ته ئې نه کتل، همدا عادي انسان له رسالت وروسته دې ته چمتو شو چي د فرعون مقابلې ته ملا وتړي، نه ئې له زور او ځواك ووېرېږي او نه ئې له ګواښونو او تهدیدونو.

- الله تعالی هغه ته وویل: اې موسی! مه وېرېږه، یقیناً چي زما خوا ته پیغمبران نه وېرېږي، مګر هغه چي ظلم ئې وکړ، بیا ئې له بدو وروسته نېکي په بدل کې وکړه، نو یقیناً چي زه مهربان بخښونکی یم. دلته څو خبري باید په پام کې ولرو: ۱- د دې خبري چي (زما خوا ته پیغمبران نه وېرېږي) معنی یوازي دا نه ده چي ته به دلته او زما په حضور کې نه وېرېږې، بلکي معنی ئې دا ده چي تل زما تر رعایت لاندي یې نو هیڅکله مه وېرېږه، له نورو آیتونو معلومېږي چي موسی علیه السلام ته همدا ډاډ ورکړی شوی چي زه درسره یم، زما تر رعایت لاندې یې، فرعونیان ضرر نشي دررسولی. ۲- ورپسې ویل شوي: (مګر هغه چي ظلم ئې وکړ، بیا ئې له بدو وروسته نېکي په بدل کې وکړه، نو یقیناً چي زه مهربان بخښونکی یم)، باید وګورو چي د دې استثناء معنی څه ده، په دې اړه په تفسیرونو کې اوږده بحثونه شوي، کوم څه چي له کوم تکلف پرته او د الفاظو ظاهر ته په پام سره د انسان ذهن ته راځي هغه دا دي: پیغمبران او د دوی ملګري د الله تعالی تر رعایت لاندي دي، الله تعالی ورسره دئ او د دوی مرسته کوي، باید وېره ونه لري، هغه څوك دي ووېرېږي چي ظلم وکړي، خو که دا هم له خپلي غلطۍ وروسته داسي نېك کار وکړي چي خپله اشتباه پرې جبران کړي نو الله تعالی به مهربان بخښونکی ومومي، او د دې غلطۍ له کبله به ئې له خپل رعایت او مرستي نه محروموي.

- الله تعالی موسی علیه السلام ته وفرمایل: لاس دي په ګرېوان کې دننه کړه، چي له داغ پرته به تك سپین او ځلانده راووځي، دا دواړه د هغو نهو معجزو په ضمن کې دي چي تا ته درکړی شوې، نو د فرعون او د هغه د قوم په لوري ولاړ شه، یقیناً چي دوی فاسق وګړي دي. دلته ویل شوي چي موسی علیه السلام ته نه (۹) معجزې ورکړی شوې، د قرآن له نورو آیتونو معلومېږي چي د دغو دواړو تر څنګ دا هم د موسی علیه السلام معجزې وې چي کله پر فرعونیانو قحطي راغلې، کله د حاصلاتو کموالی، کله طوفان، کله ملخان، کنې، چنګاښي او کله ئې اوبه د وینو په څېر شوې، هر ځل موسی علیه السلام ته راغلي او له ده ئې غوښتي چي خپل رب ته د دې مصیبت د لري کولو دعاء وکړي، هغه دعاء کړې او هغه مصیبت ختم شوی، خو دوی پر خپلو ژمنو نه دي ودرېدلي او ایمان ئې نه دئ راوړی.

- خو کله چي دا ځرګندي، بصیرت پارووونکې او سترګي پرانیستونکې نښي او معجزې ورښودل شوې د ایمان راوړو پر ځای ئې ویلي: دا ځرګند جادو دئ!!

- په داسې حال کې ئې انکار ترې کړی چې زړونو ئې پرې باور کړی وو، ښه پوهېدلي وو چې موسی علیه السلام د الله تعالی رسول دئ، خو سره له دې ئې د ده د دعوت له منلو انکار کولو، د عدم ایمان وجه ئې د دوی ظلم او کبر وو، ظلم او کبر نه پرېښودل چې ایمان راوړي. دا آیتونه موږ ته لارښوونه کوي چې (فسق)، (ظلم) او (کبر) د ایمان په وړاندې ستر ستر خنډونه دي، په دغو دریو جرمونو اخته انسان؛ که هر څومره سترې سترې معجزې وګوري او هر څومره قانع کوونکي دلائل واوري، دومره چې حقیقت په بشپړه توګه ورته جوت شي او زړه ئې پرې قانع شي، د ایمان راوړو سعادت نشي تر لاسه کولی او دې ته نه چمتو کېږي چې د ایمان په مقتضی او له الهي لارښوونو سره سم عمل وکړي. دا آیت او د قرآن ګڼ شمېر نور آیتونه ښیي چې پر الله تعالی او د هغه پر پیغمبر د ایمان معنی یوازې دا نه ده چې څوك د الله تعالی پر شتون او د پیغمبر پر حقانیت باور وکړي، که داسې وی نو د فرعونیانو ایمان او یقین به کافي او معتبر ګڼل شوی وو، دا ایمان د باور او یقین تر څنګ عملي مقتضیات او غوښتنې لري، د ایمان دعوی یوازې هغه مهال د اعتبار وړ ګڼل کېږي چې عملي مقتضیات او غوښتنې ئې تأمین شي.

په دې قصې کې موږ ته د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت په وړاندې د یوه داسې کافر واکمن چلن انځور شوی چې اقتدار غولولی، خپل زور ځواك مغرور کړی، د خپل اقتدار د بقاء او دوام لپاره د موسی علیه السلام په څېر د ډېرو معجزو خاوند پیغمبر مخالفت کوي؛ په داسې حال کې چې د ده حقانیت ورته ثابت شوی!! خو په راتلونکې قصې کې د الله تعالی په وړاندې د یوه بل ستر واکمن او د لوی ملك مشر او لارښود چلن زموږ په وړاندې ځلېږي چې مؤمن دئ، خپل هر څه د الله تعالی عنایت او پېرزوینه ګڼي او تل د الله تعالی د نعمتونو شکر پر ځای کوي، او خپل زور ځواك د حق د غلبې او د الله تعالی لوري ته د خلکو د بلنې په لار کې کاروي.

---

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾ وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ دَاوُۥدَ ۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَىْءٍ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا۟ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾

او یقیناً چې داؤد او سلیمان ته مو ځانګړی علم ورکړ؛ او دواړو وویل: ستاینه هغه

الله ته ده چې موږ ته ئې پر خپلو ډېرو مؤمنو بندګانو فضيلت راکړ، او سليمان د داؤد وارث شو، او وئې ويل: اې خلکو! د مرغانو وينا راښودل شوې، او هر څه راکړی شوي، يقيناً چې دا ښکاره فضيلت دئ، او سليمان ته د انسانانو، پېريانو او مرغانو خپلې لښکرې داسې راغونډې کړی شوې چې دوی منضبط کړی شوي وو، تر هغه چې (سليمان او لښکرې ئې) د مېږيو درې ته ورسېدل، يوې مېږۍ وويل: اې مېږيو! خپلو هستوګنځيو ته ننوځئ، داسې نه چې سليمان او د ده لښکرې تاسو تر پښو لاندې کړي په داسې حال کې چې هغوی به نه پوهېږي.

---

(۱۵-۱۸)- په دې مبارکو آيتونو کې د سورې د اساسي مضامينو لپاره يوه بله تاريخي بېلګه؛ د داؤد عليه السلام او د ده د زوی سليمان عليه السلام قصه وړاندې شوې، چې اساسي مطالب ئې دا دي:

• الله تعالی داؤد او سليمان عليهما السلام ته ځانګړی علم ورکړی وو، چې تفصيل ئې د قرآن په نورو آيتونو کې راغلی، د رسالت علم تر څنګ له اوسپنې زغرې جوړول، د بادې کښتۍ اختراع، د اطلاعاتو او ليکونو په لېږد رالېږد کې د مرغانو کارول او د مرغانو په ژبې د پوهيدا علم ورکړی شوی وو.

• د دې الهې پېرزوينو په وړاندې د دوی د امتنان او شکر احساس او وينا دا وه: ستاينې هغه الله ته دي چې موږ ته ئې پر خپلو ډېرو مؤمنو بندګانو فضيلت راکړ.

• سليمان عليه السلام د خپل پلار د لويې واکمنۍ او ملك وارث شو.

• سليمان عليه السلام خلکو ته وويل: اې خلکو! د مرغانو وينا راښودل شوې، ټول ضروري شيان راکړی شوي، يقيناً چې دا د الله تعالی له لوري ښکاره فضل دئ چې د نورو په پرتله ئې زموږ په برخه کړی.

• د سليمان عليه السلام په لښکر کې هم د انسانانو منضبط ټولګي ول هم د پېريانو او هم د مرغانو، دلته څو خبرې په پام کې ولرئ: ۱- د آدم عليه السلام په ټول اولاد کې يوازينی شخص چې پېريان ورته مسخر شوي وو سليمان عليه السلام دئ، دا د ده ځانګړې معجزه وه، نه بل پيغمبر ته دا معجزه ورکړی شوې او نه بل عادي انسان ته دا واك او توان. ۲- دوی ته د مرغانو په وينا د پوهېدا فضيلت ورکړی شوی وو. ۳- له مرغانو د خطونو په وړو راوړ کې استفاده د دوی په لاس پيل شوې.

• يو ځل سليمان عليه السلام ته خپلې لښکرې په داسې حال کې راغونډې کړی شوې چې په بېلو بېلو ټولګيو کې له بشپړ نظم او ضبط سره خوځېدې، په خاص لوري د تلو پرېکړه شوې وه، د حرکت په دوران کې سليمان عليه السلام او لښکرې ئې د مېږيو درې ته ورسېدل، يوې مېږۍ وويل: اې مېږيو! خپلو هستوګنځيو ته ننوځئ، داسې نه چې سليمان او د ده لښکرې تاسو تر پښو لاندې کړي په داسې حال کې چې هغوی به نه پوهېږي. دلته له يوې

خوا د سليمان عليه السلام دې ځانګړتيا ته اشاره شوې چې د مېږيو په ژبې هم پوهېدو، له بل لوري د مېږيو په اړه داسي څه ويل شوي چې د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندي ږدي، دا مبارك آيت نه يوازي دا خبره کوي چې مېږي په خپلو منځونو کې خبري کولی شي بلکي پر دې سربېره څو نورو مهمو خبرو ته اشاره کوي: دوی مشر لري، مشره ئې ملکه ده، هغې ورته امر وکړ چي خپلو خپلو هستوګنځيو ته ننوځئ، هغه پوهېده چي د سليمان عليه السلام لښکر راروان دئ، که مېږي خپلو کورونو ته داخل نشي تر پښو لاندي کېږي!!

• همدا راز که پورتني آيت ته ځېر شئ نو وبه ګورئ چي قرآن د مېږيو مشره د نملة په نامه يادوي او وايي قالت نملة: يوې مېږۍ وويل، د څېړنو په ترڅ کې څرګنده شوې چي د مېږيو د کورنۍ مشره د موچيو په څېر ملكه (ښځينه مشره) وي، دنده ئې د هګيو اچول او د ټولي کورنۍ پالل او اداره کول وي، د کورنۍ کارګراني ښځينه مېږۍ دي خو ټولي شنډي وي او هګۍ نه اچوي!! همداراز د څېړنو په ترڅ کې جوته شوې چي په يوې کورنۍ کې تر لسو پوري مشري وي، دوی د همدې مشرۍ او هګيو اچولو لپاره غوره کېږي، قرآن دلته ويلي چي يوې مېږۍ وويل، داسي الفاظ نه دي راغلي چي يوازينۍ مشره افاده کړي، بلکي له څو يوې ته اشاره شوې، او دا يقيناً چي له هره پلوه د هغو څېړونکو له وينا سره په دقيقه توګه تطابق لري چي وايي: مېږي ښځينه مشره لري، په هري کورنۍ کې تر لسو پوري مشري وي!! اوس نو تاسو ووایاست چي د مېږيو په اړه د قرآن دغه وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ؟! آيا پر قرآن د ايمان راوړو لپاره دغه اعجاز کافي نه دئ؟!! که تاسو د قرآن دا وينا د هغه چا په وړاندي کښېږدئ چي د مېږيو د ژوند په اړه ئې ژوري څېړني کړې دي او لنډه موده وړاندي ورته جوته شوې چي د مېږيو مشره ښځينه وي؛ ما ته ووايئ د دې وينا په وړاندي به ئې غبرګون څنګه وي؟ په ځانګړې توګه که تاسو د عنکبوت (غڼې) او موچيو په اړه هم د قرآن هغه ويناوي ورته تشريح کړئ چي هره يوه ئې يو ستر علمي اعجاز دئ، آيا له دې پرته بله چاره لري چي ووايي: د قرآن دا ويناوي زموږ د ژورو تحقيقاتو له نتائجو سره په بشپړه توګه ورته دي، او که ترې پوښتنه وکړئ چي نو رسول الله صلى الله عليه و سلم څنګه دا حقائق درك کړل؟ ځواب به ئې يا دا وي چي ووايي: دا ويناوي حتماً الهي منشأ لري، د يوه عادي انسان له توانه ډېره لوړه ده چي د څوارلسو پېړيو وړاندي شرائطو کې په داسي حقائقو پوه شي، او که د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه نشي نو حتماً به په حيرت کې لوېږي او لږ تر لږه دا به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لوړ نبوغ حمل کوي.

• دلته د (هم لايشعرن) خبره ډېره جالبه او د خاص توجه وړ ده؛ اې انسانانو! تاسو دا مېږي بې احساسه او بې عقله ګڼئ خو هغوی ستاسو د ستر سالار په اړه وايي: دوی نه پوهېږي!!

هغه محققين چي د ژوو په اړه ئې څېړني کړې دي؛ دې نتيجې ته رسېدلي چي نور ژوي هم د انسانانو په څېر د افهام او تفهيم لپاره خپلي خپلي ژبې او الفاظ لري، په خاصو غږونو سره يو بل پوهوي، يو بل وربلي، ځينو د ژوو د خاص ډول ګڼ شمېر الفاظ ثبت کړي چي

هر يو ئې په خاص حالت کې خاصه معنى لري او يو بل ته په هغه سره خاص مطلب انتقالوي.

د موريس ميترلينګ په نامه يوه غربي محقق د ځينو حشراتو پر ژوند څېړني وکړې، څو کتابونه ئې وليکل، دې ليکنو ده ته د ټولې نړۍ په کچه شهرت ورکړ، ما د ده ځيني ليکني هغه مهال لوستلې دي چې لا محصل وم، د مېږيو د ژوند په اړه د ده کتاب ډېر جالب وو، د هغه په کتاب کې مي لوستلي وو چې مېږي په خپل کور کې د غذا د ساتلو لپاره نه يوازي خوندي ځايونه جوړوي بلکې داسي دوا پرې وهي چې له ګنده کېدو ئې مخنيوی وکړي، ډاکټران لري چې بيماران تداوي کوي، کله کله ناروغ مېږی له کوره راباسي او لمر ته ئې اچوي او بيا ئې بېرته کور ته ننباسي، ځيني نباتات کري، يو ډول خړه حشره (کوخۍ) چې په پسرلي کې د ونو په پاڼو کښېني او ډېره سوکه سوکه خوځېږي؛ دا اهلي کوي او پالي ئې چې دوی ته يوه خوندوره عصاره جوړوي او په بدل کې ئې دوی ورته خوراك ورکوي، د خوراك موندلو ځانګړې ټولګی لري، کله چې چېري خوراکي توکي ومومي نورو ته اطلاع ورکوي او په يوه ليکه ځان هغه ځای ته رسوي، د ګډ کار پرېکړه کوي او په ګډه پرې لګيا کېږي، دقيق نظام لري، د هر کار لپاره بېل بېل ټولګی موظف وي، د هري ډلي وظيفه مشخصه وي، يو د بل په کارونو کې تشبث نه کوي، يو پر بل ظلم نه کوي، فقير او غني نه لري، ټول د يوې کورنۍ د برابرو غړو په توګه ژوند کوي، ځان ته خوندي کور جوړوي، که تر زمکي لاندي وي، يا د کوم دېوال اړخ کې يا کومي ستې کې نو داسي ئې جوړوي چې له اوبو خوندي وي، حتي که سيمه اوبه ونيسي د دوی کور ته اوبه نه ننوځي، ځان ته لار جوړوي، تګ راتګ ئې په همدغي ثابتي لاري وي، کله چې دوه په لار کې سره مخامخ شي د خپلو ښاخونو له لاري تماس نيسي او له همدې لاري يو بل وپېژني، خپله خبره سره رد و بدل کړي، که پردی وي مخه ئې نيسي، که په دغي لاري کې د کوم مېږي مړی ومومي، فوراً شا ته ځي، نور خبروي، اړوند مېږي راځي او د مړي جسد انتقالوي، منظم جنګونه لري، د جګړي له ميدانه خپل ټپيان انتقالوي، د معالجې لپاره مؤظف ډاکټران لري، او دې ته ورته ډېر نور عجائب چې انسان په حيرت کې غورځوي، وايي: يو ځل د انګلستان په يوې سيمي کې له انسانانو سره د مېږيو جګړه پيل شوه، انګرېزان ئې پسي واخيستل، دومره چې مجبور شول د دوی په وړاندي خندق وکني او له اوبو ئې ډك کړي چې مخه ئې ونيسي!!

---

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾

نو د دې د وينا له کبله خندېدونکی موسکی شو او وئې ويل: اې زما ربه! دا (توفيق)

راپه برخه کړه چې ستا د هغو نعمتونو شکر وکړم چې پر ما او زما پر پلار دي پېرزو کړي، او چې هغه نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې او په خپل رحمت سره مې په خپلو صالح بندګانو کې داخل کړې.

---

(١٩)- سليمان عليه السلام ته د مېږي دا وينا چې ده او د ده لښکريانو ته د ناپوهۍ نسبت کوي نه يوازې دومره حيرانوونکې او عجيبه وه چې موسکی شو او وئې خندل بلکې متوجه شو چې علم، عقلمني او شعور هغه الهي پېرزويني دي چې الله تعالی ئې د خپل فضل له مخې خپلو مخلوقاتو ته ورپه برخه کوي، دغه وړوکې مېږي ته الله تعالی دومره تېز شعور او حساس فهم ورکړی چې زما او زما د لښکرو له راتلو خبر شوی، زه ئې پېژندلی يم، خپلو مېږيو ته سمه لارښوونه کوي او موږ ته د ناپوهۍ نسبت کوي!! نو څکه وايي: اې زما ربه! دا توفيق راپه برخه کړه چې ستا د هغو نعمتونو شکر وکړم چې پر ما او زما پر پلار دي پېرزو کړي، دا زموږ ذاتي کمال نه بلکې په بشپړه توګه ستا فضل او پېرزوينه ده، ما ته دا توفيق را چې هغه نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې او په خپل رحمت سره مې په خپلو صالح بندګانو کې داخل کړې.

---

وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيۡرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ أَمۡ كَانَ مِنَ ٱلۡغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ
عَذَابٗا شَدِيدًا أَوۡ لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيدٖ
فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ وَجِئۡتُكَ مِن سَبَإِۭ بِنَبَإٖ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّي وَجَدتُّ
ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ وَأُوتِيَتۡ مِن كُلِّ شَيۡءٖ وَلَهَا عَرۡشٌ عَظِيمٞ ﴿٢٣﴾ وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا
يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ
ٱلسَّبِيلِ فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُونَ ﴿٢٤﴾ أَلَّاۤ يَسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخۡرِجُ ٱلۡخَبۡءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ
ٱلۡعَظِيمِ۩ ﴿٢٦﴾

نو د مرغانو پلټنه ئې وکړه او وئې ويل: پر ما څه شوي چې هُدهُد نه ګورم او که هغه غائب دئ؟ حتماً به ئې په سخت عذاب سره تعذيب کړم، يا به ئې حلال کړم يا به هرو مرو ما ته څرګند دليل وړاندې کوي، نو درنګ ئې وکړ له ډېر ځنډ پرته او وئې ويل: په هغه څه مې علماً احاطه کړې چې تا پرې احاطه نه ده کړې او له سبا مې يو يقيني

خبر درته راوړی، ما داسې ومونده چې یوه مېرمن ئې واکمنې کوي او هر څه ورکړی شوي او ستر تخت ئې وو، دا او د دې قوم مې داسې وموندل چې له الله پرته ئې لمر ته سجده کوله، او شیطان خپل عملونه ورته ښایسته کړي وو او له لارې ئې تېر ایستي وو نو دوی نه هدایت کېږي. چې هغه الله ته سجده ونه کړي چې په آسمانونو او زمکې کې پټ (شیان او اسرار) رابرسېره کوي، او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ، هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته؛ د ستر عرش رب.

---

(۲۰-۲٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• یو ځلې سلیمان علیه السلام د مرغانو د ډلې کتنه او پلټنه کوله، هُدهُد ئې تر سترګو نشو، وئې ویل: پر ما څه شوي چې هُدهُد نه ګورم او که هغه غائب دئ؟ حتماً به ئې سخت تعذیب کړم، یا به ئې حلال کړم یا به هرو مرو ما ته څرګند دلیل وړاندې کوي. د سلیمان علیه السلام له وینا معلومېږي چې د خپلو لښکرو دا کتنه ئې په داسې مهال کې کوله چې په کوم مهم عسکري سفر روانېدو، څارګر ئې وړاندې لېږلې وو، له هدهد د خطونو وړو راوړو کې کار اخیستل کېدو، په داسې حساس وخت کې ئې د هدهد غیابت عادي او د اغماض وړ نشو ګڼلی، له همدې کبله ئې د هغه په اړه دا پرېکړه کړې، خو لا ډېر وخت نه وو تېر شوی چې هدهد راڅرګند شو او سلیمان علیه السلام ته ئې وویل: داسې معلومات مې تر لاسه کړي چې ته پرې خبر نه یې، د سبإ له سیمې مې یو یقیني خبر درته راوړی، ما د دې ملك خلك داسې وموندل چې یوه مېرمن ئې واکمنې کوي، هغې ته هر څه ورکړی شوي او ستر تخت ئې وو، دا او د دې قوم مې داسې وموندل چې له الله پرته ئې لمر ته سجده کوله، شیطان خپل عملونه ورته ښایسته کړي او له لارې ئې تېر ایستي وو نو دوی نه هدایت کېږي. د شیطان موخه دا ده چې دوی هغه الله ته سجده ونه کړي چې په آسمانونو او زمکې کې پټ شیان او اسرار رابرسېره کوي، او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ، هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته؛ د ستر عرش رب.

• دلته څو خبرې د دقت غوښتنه کوي: تر دې وړاندې د مېږۍ وینا راغله چې د سلیمان علیه السلام او د هغه د لښکرو په اړه ئې نورو مېږیو ته وویل: اې مېږیو! خپلو هستوګنځیو ته ننوځئ، داسې نه چې سلیمان او د ده لښکرې تاسو تر پښو لاندې کړي په داسې حال کې چې هغوی به نه پوهېږي. یعني یوه مېږۍ سلیمان علیه السلام او د هغه جرارو لښکریانو ته د ناپوهۍ نسبت کوي، او د دې وینا په اورېدو سره سلیمان علیه السلام موسکی کېږي، دلته یو هدهد سلیمان علیه السلام ته وایي: داسې معلومات مې تر لاسه کړي چې ته پرې خبر نه یې، په دې سره قرآن موږ ته وایي: اې انسانه! تا ته به دا حیوانات بې شعوره برېښي،

د ځان په پرتله به ئې ډېر بې شعوره او ناپوه ګڼې او پر خپل علم او پوهې به مغرور یې، خو دا هر یو په ډېرو برخو کې تر تا مخکې دي، ډېر حیوانات په خپلو ډېرو حواسو کې له تا وړاندې دي، ځنګلي حیوانات، پشۍ، سپی، غرڅه، مارغان په لیدو اورېدو او د بوی په احساسولو او پېژندلو کې تر تا ډېر ډېر وړاندې دي. ډېر حیوانات د باران، طوفان او زلزلې راتګ تر تا د مخه احساسوي، ته هسې مغرور شوی یې او دوی ته د حقارت په سترګه ګورې.
دا دئ ګورې چې سلیمان علیه السلام، دا په انساني تاریخ کې تر ټولو ستر واکمن، د ډېرو لښکرو خاوند، چې بادي کښتۍ په لومړي ځل ده جوړه کړې، له اوسپنې زغرې جوړول د ده پلار اختراع کړي، د مرغانو په ژبه پوهېدو، خو همدا دی له هغه څه خبر نه وو چې هدهد وربانديې خبر وو، د سبإ له هېواد او د هغه ځای له وضعې هدهد خبر کړ، یوه مېږۍ ورته د بې شعورې نسبت کوي!!!

قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ ٱذْهَب بِّكِتَٰبِى هَٰذَا فَأَلْقِهْ
إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَٱنظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ
كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا۟ عَلَىَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ
﴿٣١﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ
﴿٣٢﴾ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا۟ قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ شَدِيدٍ وَٱلْأَمْرُ إِلَيْكِ فَٱنظُرِى مَاذَا تَأْمُرِينَ
﴿٣٣﴾

وئې ویل: ژر به وګورو چې رښتیا دې ویلي که له دروغجنو یې، زما دا لیك یوسه، دوی ته ئې ورواچوه، بیا ترې شا ته شه، او وګوره چې څه ته رجوع کوي (څه تصمیم نیسي)، وئې ویل: اې درباریانو! یقیناً چې ما ته یو مهم لیك راغورځول شوی، هغه د سلیمان له لوري دئ، او هغه داسې دئ چې (وایي) د هغه الله په نامه چې ډېر زیات رحم کوونکی مهربان دئ، (وایي) چې زما په وړاندې لویي مه کوئ او تسلیم شوي راته راشئ. (ملکې) وویل: اې درباریانو! په دې کار کې مې مشوره راکړئ، زه خو تر هغه د کوم کار پرېکړه نه کوم چې تاسو راته حاضر شئ! هغوی وویل: موږ ځواکمن یو او کلك جنګیالي، او کار تا ته محول دئ، نو وګوره چې څه امر کوې!!

(۲۷-۳۳)- د دې مبارکو آیتونو خلاصه مطالب دا دي:

- سلیمان علیه السلام وویل: ژر به دا معلومه کړو چې رښتیا دې ویلي که له دروغجنو یې، زما دا لیك یوسه، دوی ته ئې ورواچوه، بیا ترې شا ته شه، او وګوره چې د دوی غبرګون

او عکس العمل څه دئ او څه پرېکړه کوي.

- د سبإ ملکې ته لیك په لاس ورغی، خپل درباریان ئې راغونډ کړل او هغوی ته ئې وویل: اې درباریانو! ما ته یو مهم لیك راغورځول شوی، د سلیمان له لوري دئ، په بسم الله الرحمن الرحیم پیل شوی، مطلب ئې دا دئ چې زما په وړاندې لویي مه کوئ او تسلیم شوي راته راشئ. نو ما ته په دې اړه مشوره راکړئ، زه خو هیڅکله ستاسو له حضور پرته د کوم کار په اړه پرېکړه نه کوم.
- درباریانو ورته وویل: موږ ځواکمن او کلك جنګیالي یو، د سلیمان مقابلې ته چمتو یو، خو د پرېکړې واك له تا سره دئ، ته په خپله وروستۍ پرېکړه وکړه او وګوره چې موږ ته څه امر کوې!!

په دې مبارکو آیتونو کې په یوه غیر اسلامي نظام کې د شورى څرنګوالى په ډېره دقیقه توګه ښودل شوی، چې څو خبرې ئې ډېرې جالبې دي:

- ملکه وايي: زما د دې کار په اړه څه مشوره راکوئ؟ داسې نه وايي چې د دغه کار چې په ټول ولس او هېواد پورې تړلی دئ؛ څه رأیه لرئ؟ له دې الفاظو معلومېږي چې ملکې په ضمني توګه خپله پرېکړه دوی ته اعلان کړې.
- ورته وايي چې زه خو ستاسو په غیاب کې پرېکړه نه کوم، تل تاسو راغواړم او ستاسو په وړاندې فیصله کوم!!
- درباریان ورته وايي: موږ ځواکمن یو، توریالي یو او جګړې ته چمتو، خو پرېکړه ستا کار دئ، څه چې ستا خوښه وي هغه به کوو!!

دا قصه د دې لپاره راغلې چې مسلمانان د دغو غوړه مالو او ذلیلو درباریانو په څېر نشي او شورى ئې د پاچایانو شورى ته ورته نه وي. او واکمن ئې هم داسې نه وي لکه دغه ملکه، چې وروستۍ پرېکړه د ځان مسلم حق ګڼي او مشوره ئې یوازې د دې لپاره چې د غوړه مالو درباریانو په وړاندې خپله پرېکړه اعلان کړي!! قرآن د فرعون په څېر کې هم د غیر اسلامي نظامونو د مطلق العنان واکمنانو دغه بد خصلت انځوروي او وايي: فرعون ته یوه داسې درباري چې په پټه ئې ایمان راوړی وو، غوښتل ئې له موسى علیه السلام دفاع وکړي او فرعون د هغه له وژلو منع کړي، څو نېکې مشورې ورکړې، خو فرعون په ځواب کې ورته وویل: زه همغه څه تاسو ته وایم چې ښه پرې پوه شوی یم او زه چې تاسو ته کومه لارښوونه کوم هغه د ترقي او کمال په لوري لارښوونه ده!!

﴿يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الأَرْضِ فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ بَأْسِ اللَّهِ إِنْ جَاءَنَا قَالَ فِرْعَوْنُ مَا أُرِيكُمْ إِلا مَا أَرَى وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلا سَبِيلَ الرَّشَادِ﴾ غافر ۲۹

(هغه مؤمن درباري وویل): اې زما قومه! نن خو واکمني په داسې حال کې ستاسو په برخه ده چې په دې زمکې کې غالب یئ نو که د الله عذاب راورسېږي څوك به مو د هغه په وړاندې

مرسته کوي؟! فرعون وويل: له هغه څه پرته بل څه نه درښيم چې زه ئې (غوره) وينم او د کمال له لارې پرته بل څه ته ستاسو لارښوونه نه کوم.

آيا دغه آيتونه کفايت نه کوي چې ووايو: غيرملزمه شورى د غيراسلامي نظامونو ځانګړتيا ده، فرعونان داسې شوراګانې خوښوي؟!!

قرآن د فرعون او د سبإ د ملکې دا قصې د دې لپاره رااخيستي چې موږ ته ووايي: په غيراسلامي نظامونو کې واکمن ټولواك وي، وروستۍ پرېکړه د ده له لوري کېږي، هغه ځان عقل کل ګڼي، خپله رأيه تر ټولو غوره او لوړه ګڼي، شورى ئې ملزمه نه وي، ټولواك د شورى پرېکړو ته په التزام مکلف نه وي. او د دې لپاره چې موږ ته ووايي: په کوم نظام کې چې دا خصوصيات وي، هغه اسلامي نظام نه بلکې فرعوني نظام وي، خلافت نه بلکې ملوکيت وي.

دې ته مو بايد پام وي چې دلته د ټولو درباريانو پرېکړه او رأيه يو څه ده او د ملکې بل څه، هغوى د جنګ او مقاومت خبره کوي او ملکه د هديې لېږلو!!

---

قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّى مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾

وئې ويل: يقيناً چې کله دا پاچايان کوم کلي ته ننوځي تباه ئې کړي او عزتمن ئې ذليل کړي، او همداسې کوي، او زه دوى ته د يوې هديې لېږونکې يم، بيا د دې ناظره چې استازي له څه سره راګرځي.

---

(٣٤-٣٥)- ملکې خپلو درباريانو ته وويل: د پاچايانو دود او خصلت دا دئ چې کله کوم ملك ته ننوځي او پرې مسلط شي نو تباه ئې کړي او د هغه عزتمن خلك سپك او ذليل کړي. د ملکې له دې وينا وروسته ويل شوي چې (او همداسې کوي)، ځينو درنو مفسرينو دا هم د ملکې وينا ګڼلې او ځيني وايي چې دا د الله تعالى له لوري ويل شوي او د پاچايانو په اړه د ملکې د دغې وينا تأييد ئې کړى. الفاظو ته په پام سره همدا رأيه غوره برېښي. د دې مبارك آيت الفاظ او انداز دومره جامع دئ چې د پاچايانو د معرفۍ لپاره همدا کفايت کوي، دوى ئې داسې معرفي کړي:

- کله چې کومې سيمې ته ننوځي او پرې مسلط شي هلته تباهي خوروي، امنيت له منځه وړي، د ټولنې مخکينى اجتماعي، سياسي، مذهبي او اخلاقي نظام نسکوروي، د ولس شتمني غارتوي او داسې حالت راپيدا کوي چې نه د چا سر خوندي وي، نه مال او نه عزت.
- د ټولنې عزتمن وګړي سپکوي، هغه چې د مفسدو ملوکو او پاچايانو تر تسلط وړاندې ئې سرلوړى ژوند او په ولس کې وقار او اعتبار درلود او د ټولنې مخور شخصيتونه ول، او ولس د خپلو مشرانو په سترګه ورته کتل، هغه چې د ظلم او فساد مخالفت کوي، عزت النفس لري، زور او زياتى نه مني، د ولس پر مال، سر او عزت تېرى نه زغمي، دوى د دغو

ملوکو له لوري رټل کېږي، ځيني ووژني، ځيني زندان ته ولېږي او ځيني له خپل هېواده وشړي، او د ټولني، سپك، رذيل او ذليل کسان راوړاندي کړي، هغه څوك پر ولس مسلط کړي او اقتدار وروسپاري چي نه عزت النفس لري، نه کوم دين او مذهب او نه په کوم سپېڅلي شي باور، د ذليلو کرسيو او منحطو اغراضو لپاره هري ذليلي معاملې او سودا ته چمتو وي!! او دا همغه څه دي چي هر پاچا ئې له خپل ولس سره کوي او دا همغه څه دي چي ټولو استعماري ځواکونو په خپلو مستعمراتو کې کړي، پرون انگرېزانو او روسانو په افغانستان کې وکړل او نن ئې امريکايان کوي!!

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُمۚ بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ تَفۡرَحُونَ ٣٦ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٣٧

نو کله چي سليمان ته راغی وئې ويل: آيا په مال سره مي مدد کوئ؟! حال دا چي څه الله راکړي تر هغه ډېر غوره دي چي تاسو ته ئې درکړي، نه؛ بلکي تاسو پر خپلې هديې خوښي کوئ، دوی ته ورستون شه، هرومرو به له داسي لښکرو سره ورشو چي دوی به ئې د مقابلې توان نه لري، او حتماً به په داسي حال کې دوی ترې وباسو چي دوی به ذليل او سپك وي.

(۳۶-۳۷)- د ملکې پلاوی له هديو سره د سليمان عليه السلام حضور ته وړاندي شو، سليمان عليه السلام ورته وويل: آيا په مال سره مي مدد کوئ؟! حال دا چي څه الله راکړي تر هغه ډېر غوره دي چي تاسو ته ئې درکړي، زه په داسي هديو نه خوشحالېږم، دا تاسو يئ چي پر خپلو هديو خوښي کوئ، دوی ته ورستون شه، که تسليم نشي نو هرومرو به له داسي لښکرو سره ورشو چي دوی به ئې د مقابلې توان نه لري، حتماً او په داسي حال کې به دوی ترې وباسو چي ذليل او سپك به وي.

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ٣٨ قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ وَإِنِّي عَلَيۡهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٞ ٣٩ قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي لِيَبۡلُوَنِيٓ

ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾

وئې ویل: اې درباریانو! ستاسو کوم یو به د هغې تخت تر هغه وړاندې ما ته راوړي چې دوی تسلیم شوي راشي؟ یوه پیاوړي پېري وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم چې ته له خپل ځای پورته شې، او زه پرې توانمن او امین یم، هغه چا چې د کتاب څه علم ورسره وو وویل: زه به ئې تر هغه وړاندې راوړم چې د سترګې آخري لید دې درته راشي، نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای پر ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومې آزمويي، آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم، او څوك چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او څوك چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن غني (بې نیاز) دئ.

(٣٨-٤٠)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- سلیمان علیه السلام خپلو درباریانو ته وویل: ستاسو کوم یو به د دې ملکې تخت تر هغه وړاندې ما ته راوړي چې دوی تسلیم شوي راشي؟
- یوه پیاوړي پېري وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم چې ته له خپل ځای پورته شې، لا به دا غونډه پای ته نه وي رسېدلې او تا به خپل ورځنی کار نه وي تمام کړی چې زه به ئې راورسوم، زه ئې پر راوړو توانمن یم او د خوندي رارسولو ئې امین، په امانت سره به ئې تر تا رارسوم.
- یوه بل پېري چې د کتاب څه علم ورسره وو، یعني مؤمن وو او د الهي کتاب له علومو څه ناڅه برخمن وو؛ وویل: زه به ئې تر هغه وړاندې راوړم چې د سترګې آخري لید دې درته راوګرځي، یعني د سترګو په رپ کې.
- نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای پر ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومې آزمويي، آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم، او څوك چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او څوك چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن بې نیاز دئ.

که څه هم ځینو مفسرینو په دې اړه چې سلیمان علیه السلام کله د ملکې د تخت راوړلو پرېکړه وکړه، ولې ئې دا پرېکړه وکړه، هغه څوك وو چې د کتاب علم ورکړی شوی وو او دا تخت ئې د سترګو په رپ کې راورسولو، کوم علم ورکړی شوی وو؟ بېل بېل، متعارض او حتی حیرانوونکي آراء وړاندې کړي، ځینو ویلي چې دا کس مستجاب الدعوات وو، ځینو ویلي چې د الله تعالی په هغه اسم اعظم پوهېدو چې هر څوك پرې دعاء وکړي الله تعالی ئې دعاء قبلوي، د هغه په دعاء سره دا تخت حاضر کړی شوی، خو دې ته ئې پام نه دئ کړی چې دعاء کوونکی هیڅکله دا ادعاء نشي کولی چې زه دا کار کوم، هغه هم د سترګو په

رپ کې، هغه وايي: زه به دعاء وکړم هيله کوم چي الله تعالی به ئې قبوله کړي، ځينو ويلي چي يوه فرشته وه، يا جبرائيل وو، ځينو ويلي چي خضر عليه السلام وو او ځينو ويلي چي دا په خپله سليمان عليه السلام وو... د دغو آراءو لپاره نه په قرآن کي کوم شاهد مومو او نه په صحيح الاسناد رواياتو کې، خضر عليه السلام تر سليمان عليه السلام څو پيړۍ وړاندي او د موسی عليه السلام په زمانه کي تېر شوی، څوك چي خضر عليه السلام ته د قرآن په هينداري کي وګوري نو پوهېږي چي هغه يو عادي انسان خو عالم او مجاهد وو، نه په غيب پوهېدو، نه ئې خارق العاده کارونه کولی شو او نه ئې معجزه درلوده، حتی قرآن هغه د رسول او نبي په نامه هم نه دئ ياد کړی، هغه څوك به داسي خبري خضر عليه السلام ته منسوبوي چي پر قرآن نه بلکي پر عاميانه قصو او افسانو باور لري، هغه چي اوس هم چا ته لاس ورکوي نو د بېې ګوتي بند ئې کښېکاږي چي پوه شي هډوکی لري که نه، ځکه هغه اورېدلي چي د خضر عليه السلام يوه نښه دا ده چي دا ګوته ئې هډوکی نه لري!!! متأسفانه ډېرو مفسرينو د ٤٠ آيت دغه الفاظ (قال الذي عنده علم من الکتاب) په اړه ويلي چي له دې کوم سړی مراد وو، نه کوم بل پېری، خو که د آيت الفاظو او سياق و سباق ته ځير شو نو په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چي دا هم يو پېری وو نه يو سړی، دا ځکه چي تر دې مخکي ويل شوي: قال عفريت من الجن او ورپسې ويل شوي: قال الذي عنده علم من الکتاب، يعني دا هم پېری وو خو له مخکيني سره ئې توپير په دې کي وو چي ده څه ناڅه د الهي کتاب علم هم درلود. که دا خبره کوم انسان کړې وی نو بيا خو مناسبه دا وه چي ويل شوي وی: و قال رجل عنده علم من الکتاب، داسی تعبير نه يوازي د آيت له ترکيب سره بشپړ مناسبت لري بلکي د قرآن له عام اسلوب سره اړخ لګوي او دې اشکال ته مجال نه پرېږدي چي څوك د الذي په اړه په شك کي ولوېږي او يا دا پوښتنه ورسره راولاړه شي چي يو انسان څنګه وتوانېدو د سترګو په رپ کي له يمن د ملکې تخت راحاضر کړي؟ سليمان عليه السلام پيغمبر وو دا کار ئې نشو کولی نو د ده يوه امتي دا کار څنګه وکړ؟ دا کار يوازي يو پېری کولی شي نه يو انسان، په قرآن کي د دې لپاره هيڅ شاهد نه مومو چي يو انسان داسي خارق العاده کار کولی شي، هغه هم يو عادي انسان چي معجزه نه لري!! دقيقه رأيه دا ده چي دا هم پېری وو، دا ځکه چي (الذي) اسم موصول دئ او بايد له کوم مخکيني نوم سره وصل شي، دلته تر (الذي) مخکي د (جن) يادونه شوې نه د (انس)، دا صحيح نه ده چي له جن پرته ئې بل څه ته راجع کړو.

دې ته مو پام وي چي د شرکي افکارو خاوندان او په خرافاتو کي غرق کسان له داسي مواردو غلطه استفاده کوي، ځيني ئې وايي: دا کس په غيب پوهېدو، ځيني ئې وايي چي هغه (متصرف الامور) وو، ګواکي همدا پر غيب د انسان د پوهېدا او په عالم کي د اولياء الله د تصرف شواهد دي!! که څه هم په مفسرينو کي هيچا داسي غلطه او د قرآن د صريح آيتونو خلاف خبره نه ده کړې، هيچا نه دي ويلي چي دا کس (عالم الغيب) يا (متصرف الامور) وو، ځکه په قرآن پوه انسان داسي غلطه ادعاء نشي کولی. دا کمزوری تعبير چي دا کس يو انسان

وو؛ دغو کړيو ته د غلطي استفادې مجال برابروي.

قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِيٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾
فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَۚ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا
وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٖ
كَٰفِرِينَ ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِي ٱلصَّرْحَۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةٗ وَكَشَفَتْ عَن
سَاقَيْهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٞ مُّمَرَّدٞ مِّن قَوَارِيرَۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي
وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٤﴾

وئې ويل: تخت ئې ورته ناآشنا غوندې کړئ، چې وګورو هدايت کېږي او که له هغو ګرځي چې نه هدايت کېږي، کله چې راغله ورته وويل شول: آيا ستا تخت دغسې دئ؟ وئې ويل: داسې دئ لکه چې همغه وي، او تر دې وړاندې پوهه راکړی شوې، او موږ مسلمان شوي يو، او له هغه څه ئې راوګرځوله چې له الله پرته ئې لمانځو، يقيناً چې هغه له کافرو وګړو وه، ورته وويل شو: دې ماڼۍ ته ننوځه، کله چې ئې هغه وليده د اوبو د حوض ګمان ئې پرې وکړ او خپلې پونډۍ ئې لوڅې کړې، وئې ويل: دا خو يوه ماڼۍ ده چې فرش ئې د شيشو دئ، وئې ويل: اې زما ربه! يقيناً چې ما پر خپل ځان ظلم کړی، او (اوس) له سليمان سره يو ځای د عالمونو رب الله ته منقاد شوې يم.

(٤١-٤٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

سليمان عليه السلام وويل: د ملکې دا تخت د هغې لپاره ناآشنا غوندې کړئ، چې وګورو هدايت کېږي او که له هغو ګرځي چې نه هدايت کېږي، ځينو مفسرينو دا وينا داسې تعبير کړې چې ګواکې سليمان عليه السلام دا ملکه آزمويله چې خپل تخت پېژندی شي که نه، خو د آيت له سياق و سباق او د ورپسې آيت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې مراد ئې دا نه بلکې دا وو چې د دې تخت ئې لازيات سينګار کړی، غوښتل ئې دې ته وښيي چې ته هسې پر خپل تخت نازې او هغه درته دومره مهم او ارزښتناك برېښي چې ګمان کوې د نړۍ په هيڅ ګوټ کې به ئې بېلګه ونه موندل شي، دا دئ نن ستا په وړاندې تر هغه ډېر ښکلی تخت پروت دئ، ممرد قصر ته د دې بېول هم په همدې موخه وو، غوښتل ئې د دغو صحنو په ليدو سره د هغې بې ځايه غرور مات شي او ايمان راوړو ته چمتو شي، همداسې وشول، د دواړو صحنو په ليدو سره هغې داسې څه ويلي چې د سليمان عليه السلام د انتظار مطابق وو، الفاظ دا دي: کله چې راغله ورته وويل شول: آيا ستا تخت دغسې دئ؟

وئې ویل: داسې دئ لکه چې همغه وې، او تر دې وړاندې پوهه راکړی شوې، او موږ مسلمان شوې یو، او له هغه څه ئې راوګرځوله چې له الله پرته ئې لمانځو، یقیناً چې هغه له کافرو وګړو وه، ورته وویل شو: دې ماڼۍ ته ننوځه، کله چې ئې هغه ولیده د اوبو د حوض ګمان ئې پرې وکړ او خپلې پونډۍ ئې لوڅې کړې، د قصر لار په ښویو شیشو فرش شوې وه، رنګ ئې داسې چې نابلد کس د اوبو ګمان پرې کاوو، نو ځکه ملکې خپلې پایڅې بډ وهلې، او کله چې ورته وویل شول: دا خو یوه ماڼۍ ده چې فرش ئې د شیشو دئ، نو وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم کړی، او اوس له سلیمان سره یو ځای د عالمونو رب الله ته منقاد شوې یم. عجیبه ده چې څوك دا واضح تعبیر پرېږدي او داسې څه ترې جوړوي چې نه ئې عقل مني او نه له نقل سره اړخ لګوي. متأسفانه په ځینو تفسیرونو کې په دې اړه داسې ناپېړیتې خبرې راغلې چې یوازې د یوه بیمار ذهن زېږنده ئې ګڼلی شو، لکه دا چې سلیمان علیه السلام غوښتل د ملکې پونډۍ وګوري چې وېښتان لري که نه!! دې ته ورته ډېرې نورې کچه خبرې، دا هم باید واضح کړو چې په (نکروا لها عرشها) کې به یا څه کمول مراد وي یا څه پرې زیاتول، کمول ئې د بحث له مطلب سره اړخ نه لګوي او خاص مطلب نه ترې راوځي. ځکه مو سینګارولو ته ترجیح ورکړې.

دا به غوره وي چې دلته د سلیمان علیه السلام په اړه د بایبل هغه غلطې خبرې هم ستاسو په وړاندې کښېږدو چې زموږ ځینې مفسرین ئې تر اغېز لاندې تللي:

د بایبل د دولسم کتاب (دوهم تاریخ) په سریزې کې لولو: دا د مخکیني کتاب ادامه ده، په اصل کې دواړه سره یو وو او لیکونکی ئې هم همغه عزرا دئ، په دې کتاب کې راغلي چې سلیمان د اسرائیلیانو بې رقیبه پاچا وو، د خدای کور ئې په اوو کلونو کې جوړ کړ، د سبإ ملکه د ده له پوهې او حکمته خبره شوه او د ده ملاقات ته راغله، ... ډېر نور مشران هم راغلل چې د ده له حکمته برخمن شي، ... دی د خپل پلار په څېر له خدایه نه وېرېدو، مشرکې ښځې ئې په نکاح کړې، د خدای د اطاعت په ځای ئې د دغو مېرمنو خبرو ته غوږ نیولو، د دوی په څېر مشرك او بت لمانځونکی شو او خلك به ئې په زور په خپلو کارونو ګمارل، په پای کې له څلوېښتو کلونو حکومت وروسته پرته له دې چې توبه وکړي له دنیا ولاړ، په داسې حال کې چې د نړۍ له ډېرو شتمنو پاچایانو وو!! خو له مرګ وروسته ئې د سلطنت هغه شأن او شوکت هم له منځه ولاړ!!

بایبل د داؤد علیه السلام د ځای ناستې په توګه د سلیمان علیه السلام ټاکنې باندې بحث کوي او لیکي چې ده خپل ورور ادونیا چې د سلطنت مدعي وو ووژلو... او بیا د ده لخوا د یوه ستر معبد د جوړېدو په اړه ډېر تفصیلي بحث کوي، خو الفاظ ئې د مخکینیو بحثونو تکرار او همغه دي چې د موسی علیه السلام لخوا د معبد جوړولو په اړه ئې کارولي، دلته هم لیکي چې په دې معبد ښه ډېر سره او سپین زر، مس، قیمتي ډبرې او اعلی لرګي مصرف شول. بیا د ده د لوی او مجلل قصر په اړه معلومات ورکوي او لیکي چې سلیمان د سرو زرو دوه سوه ډالونه چې د هر یوه وزن څلوېښت کېلو وو او درې سوه ډالونه چې د

هر يوه وزن دوه كيلو وو، جوړ كړي وو او دا ئې د قصر په لوی تالار كې چې (د لبنان ځنګل) نومېدو، ايښي وو، د قصر ټول لوښي د خالصو سرو زرو وو، سليمان اوه سوه مېرمني او درې سوه وينځې درلودې، دغو مېرمنو ورو ورو سليمان له خدايه لرې كړ او د دې په ځای چې د عمر په پای كې د خپل پلار په څېر د خدای عبادت ته تر مخكې زيات توجه وكړي د بتانو عبادت ته ئې مخه كړه!!! د يورشليم په غره ئې د موآب او مولك بتانو لپاره دوه معبدونه جوړ كړل!! مېرمني ئې اكثراً مشركې وې او ده هري يوې ته خپله خپله د بت خونه جوړه كړه!!! كه څه هم خدای دوه ځلي ده ته ځان وروښود او دی ئې د بتانو له لمانځنې منع كړ خو ده د خدای له امره سرغړونه وكړه، نو خدای په سليمان غصه شو او ورته وئې ويل: له دې كبله چې زما له اوامرو دې سرغړاوی وكړ سلطنت درنه اخلم او ستا تر لاس لاندې يوه كس ته ئې سپارم، خو ستا د پلار داؤد په خاطر دا كار ستا په ژوند كې نه بلكې ستا د زوی په سلطنت كې كوم!!! سليمان څلوېښت كاله پاچايي وكړه كله چې وفات شو نو زوی ئې رحبعام پاچا شو!!

قرآن د سليمان عليه السلام په اړه د بايبل ټولې غلطې ويناوې ردوي او فرمايي چې سليمان عليه السلام يو مجاهد پيغمبر وو، د سبإ ملكه ئې په دې وګواښله چې كه تسليم نه شې نو د داسې ستر فوځ مقابلې ته دې چمتو شې چې مخې ته ئې نه شې تم كېدی. قرآن نه يوازې د بايبل دا خبره بې بنسټه ګڼي او د سليمان عليه السلام په اړه ئې يو دروغجن تور چې ده د ژوند په پای كې د بتانو عبادت پيل كړ او مېرمني ئې هم مشركې وې، بلكې فرمايي چې ده د سبإ ملكه هم له شرك او لمر لمانځنې لاس اخيستو او د يوازيني رب عبادت ته چمتو كړه:

حقيقت دا دئ چې سليمان عليه السلام يو موحد او مجاهد شخصيت وو، د ده لوی او مضبوط حكومت د ده او د ده د پلار د جهادونو نتيجه وه، د دوی دواړو په اړه د بايبل خبرې پوچې او بې بنسټه دي، عياش خلك نه لوی لوی دولتونه جوړولی شي او نه ئې ساتلی شي، د چا چې توره د سرو زرو شوه جنګ ئې بايللی او د چا په معبد كې چې سره زر وكارول شول خدای ئې هېر كړی او دين ئې له لاسه وركړی.

عجيبه ده چې زموږ ځينو مفسرينو د سليمان عليه السلام په اړه هغه خبرې كړې دي چې له سر تر پايه غلط بايبل ئې اقتباس كړې دي!!

---

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا۟ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ ۚ قَالَ

طَٰٓئِرُكُمۡ عِندَ ٱللَّهِۖ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تُفۡتَنُونَ ۝٤٧ وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ
يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ۝٤٨ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ
ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ۝٤٩ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا
وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ۝٥٠ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا
دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٥١ فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ۝٥٢ وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝٥٣

او يقيناً چي ثمودیانو ته مو د دوی ورور صالح ورولېږو چي د الله عبادت وکړئ، نو ناڅاپه دوی دوه ډلي شول چي په خپلو کي په شخړه بوخت شول، وئې ویل: اې زما قومه! ولي بدي تر نېکي وړاندي په تلوار سره غواړئ، ولي له الله بخښنه نه غواړئ چي رحمت درباندي وشي؟! وئې ویل: موږ پر تا او پرهغو چي له تا سره دي بدفالي نېولې (د بدمرغي سبب مو گڼو)، وئې ویل: بدمرغي مو له الله سره ده، بلکي تاسو داسي وگړي یئ چي آزمویل کېږئ، او په ښار کي نه ډلمشران ول چي په زمکي کي ئې فسادونه کول او رغونه ئې نه کوله، وئې ویل: د الله په نامه لوړه وکړئ چي د شپې له لوري به پر ده او د ده پر ټبر یرغل کوو؛ بیا به ئې وارث ته وایو چي موږ د ده د ټبر د هلاکت په وخت کي حاضر نه وو او یقیناً چي موږ رښتیني یو، نو دوی هم یو پټ تدبیر وکړ او موږ هم په داسي حال کي یو پټ تدبیر وکړ چي دوی بې خبره ول، نو وگوره چي د دوی د پټ تدبیر پایله څنگه وه، څنگه مو دوی او د دوی ټول قوم ویجاړ ویجاړ کړل!! او دا دي د دوی کورونه چي له دې کبله تش پاته دي چي ظلم ئې وکړ، یقیناً چي په دې کي د هغو وگړو لپاره څرگنده نښه ده چي پوهېږي، او هغه مو وژغورل چي ایمان ئې راوړ او پرهېزگاري ئې کوله.

---

(٤٥-٥٣)- په دې مبارکو آیتونو کي د سورې د اساسي مضامینو لپاره یوه بله تاریخي بېلگه وړاندي شوې، په دې کي د صالح علیه السلام په وړاندي د ثمودیانو چلن انځور شوی، چي اساسي ټکي ئې دا دي:

- الله تعالی ثمودیانو ته د دوی ورور صالح علیه السلام ولېږو، له دې پیغام سره چي د الله تعالی عبادت وکړئ، د ده د دعوت په وړاندي ثمودیان په دوو ډلو ووېشل شول، ځینو ایمان راوړ او ځینو د صالح علیه السلام د مخالفت او دښمنۍ لار غوره کړه او د دوی تر

منځ شخړه پیل شوه، صالح علیه السلام ورته وویل: اې زما قومه! ولې تر ښېګڼو بدو کړنو ته تلوسه لرئ؟ ولې بدي تر نېکي وړاندي په تلوار سره غواړئ؟ ولې له الله بخښنه نه غواړئ چي په نتیجه کي به ئې د الهي رحمت او پیرزویني وزر درباندي وغوړول شي؟!

- ثمودیانو ورته وویل: موږ پر تا او پرهغو چي له تا سره دي بدفالي نېولې، تاسو (د بدمرغیو سبب ګڼو).
- صالح علیه السلام ورته وویل: موږ ستاسو د بدمرغیو سبب نه یو، د بدمرغیو اسباب مو له الله تعالی سره دي، ستاسو د کړنو له کبله ئې له دغو بدمرغیو سره مخامخ کړي يئ، تاسو داسي وګړي یئ چي آزمویل کېږئ، کوم فرصت چي درکړی شوی دا ستاسو د مزید آزمویني لپاره دئ.
- د ثمودیانو په ښار کي نه ډلمشران ول چي په زمکي کي ئې فسادونه کول او رغونه ئې نه کوله، دوی په خپلو منځونو کي وویل: د الله په نامه لوړه وکړئ چي د شپې له لوري به پر ده او د ده پر ټبر یرغل کوو، بیا به ئې وارث ته وایو چي موږ د ده د ټبر د هلاکت په وخت کي حاضر نه وو او یقیناً چي موږ رښتیني یو.
- دوی خپل پټ تدبیر وکړ او الله تعالی په داسي حال کي پټ تدبیر وکړ چي دوی بې خبره ول، نو وګوره چي د دوی د پټ تدبیر پایله څنګه وه، څنګه مو دوی او د دوی ټول قوم ویجاړ ویجاړ کړل!! او دا د دوی کورونه دي چي له دې کبله تش پاته دي چي ظلم ئې وکړ.
- یقیناً چي په دې کي د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چي پوهېږي.
- الله تعالی هغه خلك وژغورل چي ایمان ئې راوړی وو او پرهېزګاري ئې کوله.
- د صالح د قوم د مشرانو د دې پرېکړي له یادوني چي د شپې له لوري به د ده پر کور برید کوو؛ داسي معلومېږي چي دا مبارکه سوره هغه مهال نازله شوې چي د قریشو مشرانو هم غوښتل همداسي کار وکړي او دا د مکي دور په وروستیو کلونو کي وو او هغه مهال ئې دې ته ملا وتړله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د هجرت امر شوی وو.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ
ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ
إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوٓا۟ ءَالَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَنجَيْنَـٰهُ
وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَـٰهَا مِنَ ٱلْغَـٰبِرِينَ ﴿٥٧﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ
مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٥٨﴾

او لوط چي کله ئې خپل قوم ته وویل: آیا دې فحش کار ته په داسي حال کي وړاندي

کېږئ چي تاسو (يو بل ته) گورئ، آيا تاسو له ښځو پرته نارينه وو ته د شهوت په موخه وړاندي کېږئ، بلکي تاسو په جهالت کي پرېوتونکي وگړي يئ، نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چي د لوط پلويان له خپل کلي وباسئ، يقيناً چي دوی داسي وگړي دي چي ځان پاك پاك کوي، نو دی مو وژغورو او د ده ښځې؛ د ده له مېرمني پرته چي له وروسته پاته شوو مو مقدره کړې وه، او ځانگړی باران مو پرې ووراوو، نو څومره بد دئ د انذار کړی شوو باران!!

---

(۵٤-۵۸)- دلته د اخلاقي فساد په يوه گنده ډنډ کي د نښتي قوم قصه د دې سورې د مضاميو لپاره د بلي تاريخي بېلگي په توگه وړاندي شوې، دا د لوط عليه السلام د مفسد قوم قصه ده چي په دې توگه راغلې:

- لوط عليه السلام خپل قوم ته وويل: آيا دې فحش کار ته په داسي حال کي وړاندي کېږئ چي تاسو يو بل ته گورئ، په څرگنده توگه او د نورو په وړاندې؟!! آيا د ښځو پر ځای نارينه وو ته د شهوت په موخه وړاندي کېږئ؟!! يوازي دا نه بلکي ډېر نور جهالتونه هم کوئ.
- د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چي د لوط پلويان له خپل کلي وباسئ، يقيناً چي دوی داسي وگړي دي چي ځان پاك پاك کوي!! دا دئ گورئ چي پليت، په گناهونو کي غرق، په اخلاقي فساد اخته وگړي پاکلمني نشي زغملی، له خپل کلي ئې له دې کبله باسي چي د دوی په څېر بدلمني نه دي!!
- نو الله تعالی دی او د ده ښځې وژغورو، د ده له مېرمني پرته چي برخليك ئې د نورو وروسته پاته شوو په څېر وو، د ډبرو باران ئې پرې ووراوو، وگوره چي د هغو وگړو پر سر ورېدونکی باران څومره بد دئ چي پيغمبرانو خبرداری ورکړی او دوی ئې پروا نه ده کړې!!

---

قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٥٩﴾
أَمَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ
حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ
يَعۡدِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ
وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٦١﴾ أَمَّن
يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ
مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن

يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۝٦٣ أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٦٤

ووايه: ستايني الله ته دي او سلام پر هغو بندګانو چي غوره کړي ئې دي، آيا الله غوره دئ که هغه چي دوی ئې (له الله سره) شريکوي؟!! هغه څوك دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل؟ او له آسمانه ئې تاسو ته اوبه راکوزي کړې، بيا ئې په هغه سره سمسور باغونه را شنه کړل (هغه چي) تاسو ته (ممکنه) نه وه چي ونه ئې را شنه کړئ، آيا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي دوی هغه خلك دي چي (له حق) انحراف کوي، هغه څوك دئ چي زمکه ئې تم ځای وګرځوله او د هغې په منځ کي ئې نهرونه جوړ کړل، او هغې ته ئې لنګرونه (غرونه) پيدا کړل، او د دوو سمندرونو (تريو او خوږ) تر منځ ئې حجاب او پرده راپيدا کړه، آيا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي د دوی اکثر نه پوهېږي. هغه څوك دئ چي د مضطر او بې وزلي (دعاء) مني کله چي ئې (مرستي ته) راوبلي، او ستونزي ختموي او تاسو د زمکي خليفه ګرځوي، آيا له الله سره بل معبود شته؟ لږ پند اخلئ. هغه څوك دئ چي د وچي او لمدې (بيديا او سمندر) په تيارو کي تاسو ته لاربښيي او هغه چي بادونه تر خپل رحمت (باران) وړاندي د زېري په توګه رالېږي؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ الله له هغه څه لوړ دئ چي (له ده سره) ئې شريکوي، هغه څوك دئ چي پيدايښت شروع کوي بيا ئې اعاده کوي او هغه چي تاسو ته له آسمان او زمکي روزي درکوي؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ ورته ووايه: خپل برهان او دليل راوړئ که رښتيني ياست.

---

(٥٩- ٦٤)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- په دې خور او پراخ عالم کي چي تاسو د خير او ښېګڼي کومه بېلګه او نښه ګورئ، کوم ښايست، جمال او کمال مو تر سترګو کېږي، د حق، عدل او علم کوم مظهر او مصداق په نظر درځي، د پېرزويني او رحمت، د فضل او نعمت کوم اثر مومئ، د دې ټولو په بدل کي به هغه الله تعالی ستايئ چي دا عالم ئې له دغو ښېګڼو سره پيدا کړی. که ګورئ چي د تاريخ په اوږدو کي ئې تل حقپال مظلومان ژغورلي او د کفر، شرك او فساد ځواکونه ئې ځپلي، وجه ئې دا ده چي الله تعالی حميد دئ، د ستاينو وړ دئ، له دې عيب منزه دئ چي د مظلوم پوښتنه ونه کړي او ظالم ته سزا ورنه کړي.
- د الله تعالی پر ټولو هغو بندګانو سلام وايه چي ده د حق په لار د تلونکو او د حق لوري ته د بلونکو په توګه غوره کړي، او الله تعالی د سترو ستر دښمنانو له شر او ضرر

خوندي او روغ رمتې ساتلي.

• اوس نو تاسو ووايئ: آيا الله غوره دئ که هغه چي دوی ئې له الله سره شريکوي؟!! وګورئ د الله تعالی د بندګۍ پايلي ښې وې که د شرك او له الله تعالی پرته د دروغجنو معبودانو د لمانځلو پايلي؟!!

• هغه څوك دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل؟ او له آسمانه ئې تاسو ته اوبه راکوزي کړې، بيا ئې په هغه سره سمسور باغونه را شنه کړل (هغه چي) تاسو ته (ممکنه) نه وه چي ونه ئې را شنه کړئ؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي دوی هغه خلك دي چي (له حق) انحراف کوي. آيا داسي څوك په نظر درځي چي د آسمانونو او زمکي په پيدايښت کي د الله تعالی شريك وي او څه ئې پيدا کړي وي؟ که داسي نه وي نو څنګه هغه څوك او هغه څه لمانځئ چي د هيڅ څه پيدا کولو توان نه لري؟!! آيا له آسمانه د اوبو ورول او په همدې اوبو سره په زمکي کي د داسي ونو سمسور باغونه راشنه کول چي هيڅ انسان ئې د راټوکولو توان نه لري، هغه چي انسانانو ته ډول ډول خوندوري او ښايسته مېوې ورکوي، د دې حقيقت ګواهي نه ورکوي چي د آسمان، زمکي، نباتاتو او انسانانو پيدا کوونکی او رب يو دئ؟!!

• هغه څوك دئ چي زمکه ئې تم ځای وګرځوله، د انسان د استقرار لپاره مناسب ځی، داسي لکه چي د ده کور وي، چي هر څه ئې د ده له طبيعي او فطري غوښتنو سره متناسب؟ هغه څوك دئ چي په زمکي کي ئې داسي نهرونه جوړ کړل چي که هغه نه وی نو د زمکي پر سر نه د انسان لپاره ژوند ممکن وو او نه د نباتاتو او حيواناتو لپاره؟!! هغه څوك دئ چي د زمکي د زلزلو د مخنيوي لپاره ئې داسي غرونه په کي راپيدا کړل چي د کښتۍ د لنګرونو په څېر دي او د زمکي د خوځېدو مخنيوی کوي؟ هغه څوك دئ چي د دوو سمندرونو تر منځ ئې حجاب او پرده راپيدا کړه، يو ئې تريو او بل ئې خوږ دئ او تر منځ ئې حجاب چي د دواړو د ګډېدو مخنيوی کوي؟!! آيا دا ټول ستر ستر حقائق د دې خبري ګواهي نه ورکوي چي د الله تعالی تر څنګ بل معبود نشته؟ يوازي ناپوه انسان به دا حقائق له پامه غورځوي او پر الله تعالی د ايمان راوړو لپاره به ئې کافي نه ګڼي. د سمندرونو تر منځ د حجاب تفصيل د الفرقان د سورې د ۵۳ آيت په شرحي کي وګورئ.

• هغه څوك دئ چي د مضطر او بې وزلي انسان دعاء مني او له اضطرار او پرېشانۍ ئې ژغوري؟!! کله چي تاسو يو انسان په داسي حال کي ګورئ چي سخت مضطر او پرېشان دئ، له هر لوري ئې طمع قطع شوې، په خپلي شاوخوا کي داسي څوك نه ګوري چي غږ ئې واوري او مرسته ئې وکړي، په همدې حالت کي د الله تعالی په وړاندي په دعاء لاسونه لوړوي، مرستي ته ئې رابلي، دعاء ئې قبلېږي، ستونزي ئې ختموي او نه يوازي له دې اضطرار او سخت حالت ژغورل کېږي بلکي ډېر ځلي همدې مضطر انسان ته د زمکي خلافت او واکمني ورپه برخه کېږي، داسي پېښي په وار وار او د تاريخ په هر پړاو کي تکرار شوې، آيا دا پېښي

هر حقپال انسان ته دا حقيقت نه ثابتوي چي دلته د دعاگانو منونكى رب شته؟!! هغه چي په څنگ كي ئې بل معبود نشته؟ خو د انسانانو ډېرى له دغو عبرتناكو صحنو لږ پند اخلي.

- ورته ووايه: په زمكه كي وگرځئ (تاريخ ته رجوع وكړئ، د تاريخ پاڼې واړوئ) بيا وگورئ چي د مجرمينو عاقبت څنگه وو. دا چي هر مجرم قوم ته ئې په پاى كي سزا وركړې، هغه ئې نيولى، هغه ئې له خپل شوم پاى او بدمرغه برخليك سره مخامخ كړى، آيا دا نه ثابتوي چي دا عالم يو داسي ټولواك حاكم لري چي دلته ئې اراده نافذه ده او هغه عملونو ته بدله وركوي؟ دا د بدلې او اجر وركړه په دې دلالت كوي چي دا (ملك) څانته (مالك) لري. همدا راز دا چي گورو څيني د ايمان په خط كي نېك اجر تر لاسه كوي، په مستمر او انقطاع نه منونكې توگه د خپلو عملونو نېك اجر تر لاسه كوي، د زمكي وارث شي، الله جل شأنه د زمكي خلافت ورته وركړي، الله تعالى ئې له ناتوانى، ضعف، اضطراب، پرېشانى، ذلت او بې وزلۍ وژغوري، قوت او عزت ته ئې ورسوي، د هغوى د وېرې او خوف هغه حالت چي په ټولنه ئې حاكم وو، هغه ختم كړي او امن، امان او اطمئنان ور په برخه كړي. او د دې په مقابل كي بله ډله د فساد، ظلم او د جرم په وجه په اسفل السافلين كي پرې باسي، او تر ټولو بد حالت سره ئې مخامخ كړي، دا موږ په خپلو سترگو گورو، آيا دا چي څيني كسان د ايمان له خط د انحراف په نتيجه كي له زيان او خسران سره مخامخ شوي، آيا دا په خپله د دې لپاره دليل نه دئ چي دلته يو احكم الحاكمين، مالك الملك الله دا هستي اداره كوي، او دلته د هغه اراده حاكمه ده او هغه هر عمل ته مناسبه بدله وركوي؟!!

- هغه څوك دئ چي انسانانو ته ئې د وچي او لمدې په هر لوري كي او د بيديا او سمندر په پراخو غېږو كي، پر زمكه او آسمان كي داسي علائم او نښې پيدا كړې چي د تيارو شپو په سفرونو كي لار ورښيي؟ چا ته د لوړو غرونو څوكي، چا ته ستوري، چا ته سپوږمۍ، چا ته يو او چا ته بل څه نښه شي او خپل هدف ته د رسېدو لار وروښيي. انسان د دغو علائمو په مرسته خپل هدف مونډلى شي، كه دا نه وى نو انسان ته به ډېره گرانه وه چي خپل هدف ته ورسېږي، په ځانگړې توگه هغه مهال چي سفر ئې د شپې له لوري او په بيديا او سمندر كي وي. يعنى ستاسو لپاره ئې د هدايت او لارښووني انتظام كړى، په بحر كي هم، هلته چي د لوري د تشخيص لپاره هيڅ ډول علائم نشته، خو الله تعالى ستاسي لپاره د دې چاره كړې چي هلته لار بيا مومئ، يا د ستورو په ذريعه لار پيدا كوئ، يا د افق له رڼا او د لمر له طلوع او غروب پوهېږئ چي سمت مو كوم لوري ته دئ، او يا د داسي قطب نما او پرمخ تللو وسائلو بندو بست ئې كړى او داسي سنن ئې په طبيعت كي ايښي چي له هغوى په استفادې سره تاسو په دقيقه توگه خپله لار مونډلى شئ. نو دا په وچه او لمده كي چي ستاسي د هدايت او لارښووني لپاره انتظامات شوي، دا چا كړي؟

- همدا راز تاسو ته ئې سترگي دركړې، د دغسي وسائلو انتظام ئې په دې عالم كي كړى چي په هغه سره تاسي په سمندر، صحرا، فضا، په ورځ او شپه كي خپله لاره ومومئ، په دې

طبیعت کې دا انتظام چا کړی؟ دا چې په وچه او لمده کې، هغه مهال چې تیاره وي، هیڅ څه نه تر سترګو کېږي، ستاسو د لارښوونې او هدایت انتظام شوی، دا په خپله انسان ته ښيي چې دا عالم یوه رحمان ذات پیدا کړی.

• هغه څوك دئ چې بادونه تر هغه باران وړاندې د زېري په توګه رالېږي چې د رحمت او پېرزوینې ستره نښه ده، هغه مهال چې تاسو باران ته اړ یئ، فصلونه، باغونه او څاروي مو تږي دي، په خپلې شاوخوا کې داسې څواك نه مومئ چې دا ستونزه مو حل کړي او دې سترې اړتیا ته مو ځواب ووايي، نو د امید سترګې مو د الله تعالی په لوري اوړي او ګورئ چې ناڅاپه سره هوا راشي، د باران ورېدو زېری درکړي، وربځې په آسمان کې راڅرګندې شي او همغه باران درباندې ووربېږي چې که ئې ورېدا څو نورې ورځې ځنډېدلې وی نو هم ستاسو ژوند له ګواښ سره مخامخ کېدو او هم ستاسو د فصلونو، باغونو او څارویو!! آیا سره له دې ګمان کوئ چې د الله تعالی تر څنګ بل معبود هم شته چې په دی کارونو کې څه برخه ولري او له الله تعالی سره په دې چارو کې شریک وي؟ الله تعالی له هغه څه ډېر ډېر لوړ او اوچت دئ چې دوی ئې ور سره شریکوي، هغه له شریک مستغني او بې نیاز دئ.

• هغه څوك دئ چې یو مخلوق په لومړي ځل او د مخکینۍ بېلګې له درلودو پرته پیدا کړي او بیا ئې په وار وار اعاده کوي؟ د انسان او ټولو ژوو پیدایښت ئې همداسې له مخکینۍ بېلګې پرته پیل کړ او بیا ئې په پرله پسې توګه راپیدا کوي!! او هغه څوك دئ چې تاسو ته له آسمان او زمکې روزي درکوي؟ آیا له الله تعالی پرته داسې څوك مومئ چې د انسان او نورو مخلوقاتو په پیدایښت کې او ژوو ته له آسمان او زمکې په روزي ورکولو کې څه برخه او ونډه ولري؟!! ورته ووایه: خپل برهان او دلیل راوړئ که رښتیني یاست.

لکه چې په دغو آیتونو کې مو ولیدل، د قرآن عظیم الشأن ټول دلائل همداسې مشهود او محسوس دلائل دي، د خپلې مدعا د اثبات لپاره په عالم کې په خورو نښو او شواهدو باندې استناد کوي.

---

قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ﴿٦٥﴾

ووایه: له الله تعالی پرته د آسمانونو او زمکې هیڅوك په غیب نه پوهېږي او پدې هم نه پوهېږي چې څه وخت به بیا راژوندي کړی شي.

---

(٦٥)- دا آیت په پرېکنده توګه وايي چې په آسمانونو او زمکې کې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي، که دا فرشتې دي، که انسانان دي، که پېریان، که پیغمبران دي او که اولیاء الله، که رمالان دي یا نجومیان. څوك چې له الله تعالی پرته بل چا ته په غیب پوهېدا

منسوب کړي نه یوازې د قرآن له دې صریح او پرېکنده آیت سره ئې مخالفت کړی او دروغ ئې ویلي بلکې د قرآن ګڼ شمېر هغه آیتونه ئې تکذیب کړي چې همدا خبره کوي. غیب هغه څه دئ چې د انسان له سترګو او حواسو پټ وي، د ده او هغه څه تر منځ یا کوم حجاب حائل وي او یا زمان، انسان نه په دې پوهېږي چې د دېوال تر شا څه تېرېږي او نه په دې چې یوه شېبه وروسته به څه کېږي. دا څرګند آیت د داسې الهي معیار په توګه په پام کې ولرئ چې د غیب په اړه د سمي او غلطي رأیي او صحیح او غلط مذهب او مسلك په پېژندو کې ستاسو لپاره وروستی معیار وي، مه هغه مذهب او مسلك منئ چې د دې آیت خلاف خبره کوي او له الله تعالی پر ته بل چا ته په غیب پوهېدا منسوبوي او مه هغه روایت منئ چې د قرآن له دغه آیت سره تعارض ولري.

---

بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّنۡهَاۖ بَلۡ هُم مِّنۡهَا عَمُونَ ٦٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبٗا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ٦٧ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨

بلکې د آخرت په اړه د دوی علم پاته راغلی، بلکې دوی ترې په شك کې دي؛ بلکې ترې ړانده دي، او هغو چې کفر ئې کړی وویل: آیا کله چې موږ او زموږ پلرونه خاوري شو آیا موږ به (له قبرونو ژوندي) راایستل کېږو؟ یقیناً چې د دې خبري وعده هم له موږ سره شوې او هم تر دې وړاندې زموږ له پلرونو سره، دا د لومړنیو له نکلونو پرته بل څه نه دي.

---

(٦٦-٦٨)- د مخکینیو آیتونو په رڼا کې او له هغوی سره په تړاو کې د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

له الله تعالی د دوی د انکار وجه دا نه ده چې کافي او قانع کوونکې دلائل ئې نه دي تر سترګو شوي، بلکې وجه ئې دا ده چې په آخرت ایمان راوړل ورته ګران او د نه منلو وړ برېښي، ځیني ئې داسې دي چې د آخرت په اړه ئې علم پاته راغلی، سر ئې نه پرې خلاصېږي، په دې اړه متضاد او یو له بل سره متصادم افکار لري، ځیني ئې په دې اړه شك لري، او ځیني ئې داسې دي لکه ړانده، د بیا ژوندون په اړه د دغو کافرانو وینا دا ده: آیا کله چې موږ او زموږ پلرونه خاوري شو آیا موږ به بېرته له قبرونو ژوندي راایستل کېږو؟ د دې خبري وعده خو هم له موږ سره شوې او هم تر دې وړاندې زموږ له پلرونو سره، ولې تر سره نشوه؟ دا د لومړنیو له نکلونو پرته بل څه نه دي.

دې ته مو پام وي چې د ٦٦ آیت د لومړۍ فقرې ﴿بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ﴾ په اړه په تفسیرونو کې بېل بېل متعارض تعبیرونه او ژباړې تر سترګو کېږي، خو د آیت سیاق

و سباق ته په پام سره ویلی شو چې دلته د (ادٰرك) صیغه یا د لاندې او وروسته پاته کېدا په معنی راغلې او یا په خپلو منځونو کې د تضارب په معنی، په قرآن کې د کافرانو په اړه کله ویل شوي چې دوی د آخرت په اړه په خپلو کې مختلف دي او متعارض آراء لري او کله ویل شوي چې دومره علم او شعور نه لري چې پرې پوه شي.

قُلْ سِيرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾

ووایه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د مجرمینو پایله څنګه وه!!

(٦٩)- دلته د قیامت او اخروي محاسبې د اثبات لپاره پر دې حقیقت استناد شوی چې د تاریخ په اوږدو کې په وار وار مجرمینو ته سزا ورکړې شوې، چې د زمکې هرې سیمې ته ولاړ شئ او تاریخ ئې ولولئ د دوی د تاریخ په هرې پاڼې کې به وګورئ چې مجرمین له بدو پایلو سره مخامخ شوي!! دا مورږ ته لارښوونه کوي چې دا عالم یو داسې پالونکی رب لري چې له انسانانو سره محاسبه کوي او مجرم ته سزا ورکوي، که داسې نه وی نو څواکمن مجرمین به هیڅکله له بدو پایلو سره نه مخامخ کېدل، تل به برلاسي او له محاسبې او سزا خوندي ول. په داسې یو رب باور انسان دې ته اړباسي چې ووایي: قیامت راتلونکی دئ او له انسان سره به هرومرو محاسبه کېږي.

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا
ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ ٱلَّذِى
تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا
يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ
غَآئِبَةٍ فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٧٥﴾

پر دوی مه خواشینی کېږه او د دوی له پټو توطئو تنګوالی مه احساسوه، او وایي: دا وعده به کله وي که رښتیني یئ، ووایه: ښایي د هغه څه به ځینې برخې درنژدې شوې وي چې په تلوار سره ئې غواړئ. او یقیناً چې ستا رب پر خلکو د فضل خاوند دئ خو د دوی ډېری شکر نه کوي، او یقیناً چې ستا رب په هغه څه ښه پوهېږي چې د دوی سینې ئې پټوي او هغه څه چې دوی ئې څرګندوي. او په آسمان او زمکې کې داسې هیڅ غائب (له سترګو پټ) شی نشته چې په یوه څرګند کتاب کې دې نه وي.

(۷۰-۷۵)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته څو لارښووني شوې:

- د دوی په حالت او د دوی د مخالفتونو له کبله مه خواشینی کېږه.
- د دوی له پټو توطئو هیڅ اندېښنه مه کوه.
- که دوی درته وایي: که ته په خپلې ادعاء کې رښتینی یې نو د قیامت یا الهي عذاب د راتلو دا وعده به کله تر سره کېږي؟! په ځواب کې ورته ووایه: ښایي د هغه څه به ځینې برخې درنژدې شوې وي چې په تلوار سره ئې غواړئ. د عذاب په راتلو کې د ځنډ او تاسو ته د مزید فرصت درکولو وجه خو دا ده چې الله تعالی پر خلکو د فضل خاوند دئ، خو د دوی ډېری د الله تعالی د دغه ستر فضل او پېرزوینې شکر نه کوي.
- د ځنډ وجه دا نه ده چې ګواکې الله تعالی د دوی له پټو ناروا توطئو او ښکاره بدو عملونو خبر نه دئ او یا دوی د الهي عذاب وړ نه دي، ستا رب په هغه څه هم ښه پوهېږي چې د دوی سینې ئې پټوي او په هغه څه هم چې دوی ئې په ښکاره توګه کوي.
- په آسمان او زمکې کې داسې هیڅ غائب او له سترګو پټ شی نشته چې په یوه ښکاره کتاب کې دې نه وي ثبت شوی.

---

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَكْثَرَ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُۥ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

یقیناً چې دا قرآن بني اسرائیلو ته د هغو (حقائقو) ډېری بیانوي چې دوی اختلاف په کې کوي، او یقیناً دا د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ.

---

(۷٦-۷۷)- دلته د قرآن په اړه څو وضاحتونه شوي:

- قرآن د هغو حقائقو ډېری بیانوي چې بني اسرائیلو په کې اختلاف کړی، د دې معنی دا ده چې بني اسرائلو په تورات او انجیل کې دومره تحریفونه کړي، موسی او عیسی علیهما السلام ته ئې دومره غلطې خبرې منسوب کړې، او د دین او مذهب په نامه ئې دومره غلطې خبرې له ځانه جوړې کړې چې قرآن د هغوی ډېری برخې ردوي او د دوی د غلطو انګېرنو او اکاذیبو د تردید په موخه حقائق بیانوي. څوک چې اوسنی تورات او انجیل چې په بایبل کې راغونډ شوي په دقت سره او د قرآن په رڼا کې مطالعه کړي نو دا به ډېر ژر ورته جوته شي چې قرآن د بایبل په سلو کې نژدې پنځه نوي خبرې په بشپړه توګه ردوي او پاته پنځه ئې تصحیح کوي.
- قرآن د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ. د ژوند په ټولو برخو کې د دوی سمه لارښوونه کوي او هغه څه ورښيي چې د الله تعالی د رحمت دروازې د دوی پر مخ پرانېزي.

---

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۖ إِنَّكَ

عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ﴿٧٩﴾

يقيناً چي ستا رب په خپل حكم سره د دوی تر منځ پرېکړه کوي، او هغه پوه عزتمن دئ، نو پر الله توکل وکړه، يقيناً چي ته په څرګند حق (متمسك) يې.

(٧٨-٧٩)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لاري مؤمنانو ته ويل شوي چي ستا رب په خپل حكم سره د دوی تر منځ پرېکړه کوي، په داسي حال کې چي هغه پوه عزتمن دئ، پوهېږي چي دوی د خپلو عقائدو او اعمالو له کبله د کوم برخليك او سزا وړ دي، د ده د پرېکړو په وړاندي هيڅوك خنډ کېدی نشي او د پلي کېدو مخه ئې نشي نيولی؛ ځکه هغه ځواکمن، برلاسی او عزتمن دئ. داسي ګمان مه کوئ چي دا الهي پرېکړه به يوازي د قيامت په ورځ کېږي، نه؛ دا نن او په دې دنيا کې هم ټولي پرېکړي د الله تعالی له لوري کېږي او د عملونو پايلي د ده له لوري ټاکل کېږي. نو پر الله توکل وکړه، يقيناً چي ته په څرګند حق متمسك يې، ستا دريځ او ستا تګلاره حق دي.

إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَآ أَنتَ
بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

يقيناً چي ته نه مړو ته اورول کولی شې او نه کڼو ته هغه مهال بلنه اورولی شې چي مخ واړوي؛ په داسي حال کې چي تر شا کېدونکي وي. او ته له ضلالت د ړندو (د ايستلو) لارښود نه يې، ته يوازي هغه چا ته اورول کولی شې چي زموږ پر آيتونو ايمان راوړي او دوی مسلمانان دي.

(٨٠-٨١)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

• رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته نه شې کولی مړو ته کومه خبره ورواوروې، همدراز هغو کڼو ته هم خپله بلنه نه شې وراورولی چي تا ته شا کړي او درنه روان شي، او ته د هغه چا لارښوونه هم نه شې کولی او له تيارو ئې ړنا ته نه شې بېولی چي ړانده دي. ته يوازي هغه چا ته اورول کولی شې چي زموږ پر آيتونو ايمان راوړي او دوی مسلمانان دي.

• که څه هم دلته له مړو، کڼو او ړندو هغه کافران مراد دي چي د تعقل، تدبر او تفکر استعدادونه ئې ځپل شوي او د ايمان راوړو له سعادت او توفيق محروم شوي خو په ضمن کې دا مطلب موږ ته واضح کوي چي مړي څه نه اوري، نه يوازي دا چي څه نه اوري بلکي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر يو پيغمبر هم نه شي کولی مړي ته کومه خبره ورواوروي، کوڼ او ړوند ته هم څوك په خارق العاده توګه نه څه اورولی شي او نه ئې

لاربښوونه کولی شي.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې د هغو روایاتو په اړه به څه کوو چې وینا ئې د دې صریح او څرګند آیت خلاف ده او د مړو د اورېدو خبره کوي؟! د دې پوښتني ځواب دا دئ: د یوه روایت د صحت لپاره تر ټولو مهم او لومړی شرط دا دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري، هغه روایت د اعتبار وړ نه دئ چې وینا ئې د قرآن خلاف وي، دا نه یوازې پر قرآن د ایمان تقضاء ده بلکې ټول محدثین، فقهاء او علماء پر دې خبرې متفق دي. کوم روایات چې د دې آیت خلاف خبره کوي هغه نه د سند له پلوه د دې وړ دي چې اعتبار ورکړی شي او نه د متن له پلوه، د دغو روایاتو په مقابل کې ګڼ شمېر داسې روایات شته چې هم ئې وینا د دغه آیت مطابق ده او هم د دغو روایاتو تردید کوي، عائشه رضی الله عنها د قرآن پر دغه او دې ته ورته آیتونو استناد کوي او د هغه چا وینا ردوي چې د مړو د اورېدو ادعاء کوي. بخاري تر دې عنوان لاندې (مړی د پښو څپا (ږغ) اوري) دا روایت راوړی:

عن أَنَسٍ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الْعَبْدُ إِذَا وُضِعَ فِى قَبْرِهِ، وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ حَتَّى إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ، أَتَاهُ مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ فَيَقُولاَنِ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِى هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍصلى الله عليه و سلم فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ. فَيُقَالُ انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ، أَبْدَلَكَ الله بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ- قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا- وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِى، كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ. فَيُقَالُ لاَ دَرَيْتَ وَلاَ تَلَيْتَ. ثُمَّ يُضْرَبُ بِمِطْرَقَةٍ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً بَيْنَ أُذُنَيْهِ، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ إِلاَّ الثَّقَلَيْنِ". (بخاري:۱۳۳۸)

له انس بن مالک رضی الله عنه روایت دئ چې وایې: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: (کله چې بنده په قبر کې کښېښودی شي او ملګري ئې ترې ولاړ شي او په داسې حال کې چې د هغوی د څپلیو ږغ (څپا) به اوري؛ دوې فرشتې ورته راشي او هغه راکښېنوي، بیا ورته وایې: ته د دې شخص یعنی محمد (صلی الله علیه و سلم) په اړه څه وایې؟ هغه به وایې: شاهدي وایم چې هغه د الله تعالی بنده او رسول دئ. نو ورته وبه ویل شي: په دوزخ کې دې خپل ځای ته وګوره چې الله تعالی د جنت په هستوګنځي درته بدل کړی. نبي (صلی الله علیه و سلم) وفرمایل: دواړه به ووینې. خو کافر یا منافق به وایې: نه پوهېږم؛ ما به هغه څه ویل چې نورو خلکو به ویل! نو ورته وبه ویل شي: ته نه پوه شوې او نه په نورو پسې ولاړې، بیا به ئې په اوسپنیز څټک سره د غوږونو تر منځ ووهي او داسې چیغه به وکړي چې له انسان او پیری پرته به ئې شا و خوا ټول شیان واوري).

دا روایت یو ځل بیا هم په بخاري کې په دې شمېرې ۱۳۷٤تکراراً راغلی خو له دغو توپیرونو سره: په یوه کې وَتُوُلِّيَ وَذَهَبَ أَصْحَابُهُ، په بل کې وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ، په یوه کې أَتَاهُ

مَلَكَانِ فَأَقْعَدَاهُ، په بل کې أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ، په يوه کې مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ-صلى الله عليه وسلم، په بل کې مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم، په يوه کې فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په بل کې فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ الله وَرَسُولُهُ، په يوه کې وَأَمَّا الْكَافِرُ- أَوِ الْمُنَافِقُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي، په بل کې وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي راغلي.

دا روايت د سند له مخې داسې دئ چې په صحابه وو او تابعينو کې يو يو راوي لري او په تبع تابعينو کې دوه، ټول راويان ئې د بصرې اوسېدونکي دي، د متن له پلوه داسې دئ چې يوه برخه ئې له قرآن سره تعارض لري او هغه دا چې قرآن وايي: مړي خبري نه اوري، خو دا روايت وايي چې حتی د ژونديو د ګامونو ږغ هم اوري!! د قرآن آيتونه دا دي:

إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٨٠﴾ النمل

فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٥٢﴾ الروم

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَحۡيَآءُ وَلَا ٱلۡأَمۡوَٰتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ ﴿٢٢﴾ فاطر

دا آيتونه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وايي چې ته مړو او هغو ته چې په قبرونو کې دي خبره نشې اورولې، يعني نه يوازې دا چې مړي خبره نه اوري او داسې دي لکه کاڼه او ګونګيان؛ بلکې که هڅه وکړې چې څه ورواوروې نو هڅه به دې څه نتيجه نه لري.

پوښتنه دا ده چې آيا يو غريب روايت چې نه يوازې په قرآن کې کوم شاهد ورته نه مومو بلکې د قرآن له څو څرګندو آيتونو سره تعارض لري او هغه خبره کوي چې د عائشې رضى الله عنها په څېر په قرآن او حديث پوه شخصيت ئې ردوي؛ د اعتبار وړ ګڼلی شو؟! پر قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې داسې روايات په درناوي سره يوې خوا ته کښېږدو؛ نه پرې استناد وکړو او نه ئې بل ته ووايو.

---

وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾

او کله چې د دوی په اړه دغه وينا تحقق ومومي له زمکې به داسې خوځېدونکی ژوی ورته راوباسو چې له دوی سره به دا خبرې کوي چې خلکو زما پر آيتونو باور نه کولو.

---

(۸۲)- دا مبارك آيت څو مطالب زموږ په وړاندې ږدي:

- کله چې د انسانانو په اړه دا وينا تحقق ومومي چې دوی نور پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړونکي نه دي، هغو ته ورته شوي چې په قبرونو کې دي، بې احساسه، بې شعوره،

زړونه ئې ړانده او وجدان ئې مړ؛ نه د الله تعالی کتاب ته اعتناء کوي او نه په عالم کې خورو نښو ته؛ نو الله تعالی به له زمکې داسې يو ژوی راوباسي چې هم به خوځي او هم به له خلکو سره خبرې کوي، دوی ته به وايي: د خلکو حالت داسې وو چې د الله تعالی پر آيتونو ايمان راوړو ته چمتو نه وو.

• له هغو خلکو سره چې نه ئې د پيغمبرانو وينا ته اعتناء کړې او نه په عالم کې خورو نښو ته؛ همدا مناسب دې چې يو حيوان ئې مخاطب کړي او ورته ووايي: د انسانانو حال داسې شوی وو چې د الله تعالی پر آيتونو ئې باور نه کولو!!

• په رواياتو کې دا خبره واضح شوې چې د دې حيوان پيدا کېدا د قيامت له هغو سترو سترو نښو ده چې تر قيامت به لږ وړاندې تر سترګو شي. خو دا چې دا حيوان څنګه دئ او څنګه به راپيدا کېږي نه په دې اړه څه ويل څه ګټه لري او نه داسې صحيح الاسناد روايت تر سترګو کېږي چې په دې اړه ئې وضاحت کړی وي.

• دې ته مو پام وي چې د شيعه وو ځينو لار ورکو او ټګمارو مذهبي مشرانو د دې آيت په اړه داسې ناپړيتي خبرې او چټي بحثونه کړي چې يوازې له بيمارو زړونو او زهرجنو مغزونو راخوټېدی شي، دوی وايي چې له دې (دابة) امام زمان يا علي رضی الله عنه مراد دئ، چې تر قيامت وړاندې به له زمکې راووځي، منافقينو (د علي رضی الله عنه مخالفينو) ته به سزا ورکړي، د هر چا پر تندي به وليکي چې مؤمن دئ، که کافر او که منافق!! عجيبه ده!! د دوی عقل دا خبره هم مني چې الله تعالی به امام زمان يا علي رضی الله عنه د دابة يعني حيوان او خزنده په نامه ياد کړی وي!! پوښتنه کوو: الله تعالی ولې او د کوم ضرورت، مجبوريت يا مصلحت له مخې په صراحت سره د دوی نوم نه دئ ياد کړی او د دابة نوم ئې ورته غوره کړی؟! که زه تا د حيوان په نامه ياد کړم آيا دا د ځان لپاره اهانت نه ګڼې؟ نو ته څنګه خپل امام ته د دابة نوم مناسب ګڼې؟!! په عامه توګه ژوي د دابة په نامه يادول د دې لپاره مجوز نشي کېدی چې يو مشخص انسان د حيوان يا دابة په نامه ياد شي، آيا قرآن د معما کتاب دئ چې امام زمان د دابة په نامه ياد کړي؟!! آيا په ټول قرآن کې کوم مشخص انسان د دابة په نوم ياد شوی؟ ستاسو دا وينا د بايبل هغه خندوونکې معما انسان ته وريه يادوي چې د سامسون په اړه ئې کړې، سامسون د يهودانو لپاره داسې دئ لکه د شيعه وو لپاره امام زمان يا علي رضی الله عنه، قصه ئې داسې ده: سامسون له خپلې مور او پلار سره تمنې ته روان شو...په لارې کې د انګورو په باغ کې يوه ځوان زمري په سامسون بريد وکړ... که څه هم له ده سره وسله نه وه خو بيا ئې هم زمری د يوه سېرلي په څېر څيرې کړ!! خو په دې اړه ئې مور او پلار ته څه ونه ويل... کله چې تمنه ته ورسېدو، له هغې نجلۍ سره ئې خبرې وکړې او خوښه ئې شوه...له څه مودې وروسته بيا له مور او پلار سره د واده لپاره تمنې ته روان شو... په لارې کې د هغه مړ زمري خوا ته ورغی... د موچيو په ګڼه ګوڼه ئې سترګې ولګېدې او د مړ زمري په کالبوت کې ئې د موچيو په ځالې کې شات

وموندل...څه مقدار ئې له ځان سره واخیستل چې په لار کې ئې وخوري... مور او پلار ته ئې هم لږ ورکړل خو دا ئې ورته ونه ویل چې شات ئې له کومه تر لاسه کړل... پلار ئې د واده په کار بوخت وو... ده د هغه ځای د دود دستور مطابق د کلي ځوانانو ته مېلمستیا وکړه، دېرشو زلمیانو په کې برخه واخیسته، سامسون دوی ته وویل: یوه معما لرم، که تاسو په اوه ورځو کې د هغې ځواب راکړ، نو دېرش کتاني څادرونه به له دېرشو جوړو جامو سره درکوم که نه نو تاسو به دا جامې راکوئ، دوی وویل: ډېره ښه! خپله معما ووایه! هغه وویل: له خوړونکي خوراك راووت او له زوروره خواږه!! ... درې ورځې تېرې شوې خو ځواب ئې ونه موندو، په څلورمه ورځ د سامسون مېرمنې ته راغلل او ورته وئې ویل: له خپل مېړه د معما ځواب معلوم کړه او موږ ته ئې ووایه، که نه نو ستا د پلار کور سوزوو، ... نو د سامسون مېرمن ده ته ورغله، وئې ژړل او ورته وئې ویل: زه درباندې گرانه نه یم، له ما کرکه لرې، ... د هغې معما ځواب ما ته نه وایې...هغه ورته وویل: ما مور او پلار ته د هغې ځواب نه دئ ویلی نو ته څنگه د دې انتظار لرې؟ خو هغې نه پرېښود...او هره ورځ به ئې ورته ژړل...بالآخره ئې په اوومه ورځ ورته ووایو... او دې هم ځوانان پرې خبر کړل... نو زلمیانو هم له لمر لوېدو د مخه د معما ځواب سامسون ته داسې ورکړ: تر شاتو به څه شی خوږ وي او تر زمري څه شی زورور؟!! سامسون ورته وویل: که زما په غوا مو یوې نه وی کړې نو د معما ځواب مو نه شو موندلی!! باور وکړئ چې د سامسون دا معما د شیعه وو دغې مذهبي او تفسیري معما ته ورته ده!!

د قرآن په تفسیر کې چې کومه ستره ستونزه رامنځته شوې نو هغه له جعلي، متعارضو او متضادو روایاتو راولاړه شوې، دا دئ گورئ چې څینې د جعلي روایاتو له مخې د قرآن د څرگندو آیتونو په اړه څومره غلط او د عقل خلاف تعبیرونه کوي، حتی علي رضی الله عنه او خپل موهومي امام زمان د دابة په نامه یادوي!!

---

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ فَوۡجٗا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ يُوزَعُونَ ۝٨٣ حَتَّىٰٓ إِذَا
جَآءُو قَالَ أَكَذَّبۡتُم بِـَٔايَٰتِي وَلَمۡ تُحِيطُواْ بِهَا عِلۡمًا أَمَّاذَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٨٤
وَوَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمۡ لَا يَنطِقُونَ ۝٨٥

او هغه ورځ چې له هر امت  د هغو کسانو فوځ فوځ راپاڅوو چې زموږ آیتونه تکذیبوي، نو دوی به (په ډلو ډلو کې) یو ځای کړی شي. تر هغه چې راشي (او ورته) ووایي: آیا زما آیتونه مو تکذیب کړل، په داسې حال کې چې علماً مو احاطه نه وه پرې کړې، یا هغه څه وو چې تاسو کول؟ او په سبب د هغه ظلم چې دوی کاوو وینا به پرې محققه شي نو دوی به خبري نشي کولی.

(۸۳-۸۵)- دا مبارك آيتونه وايي چې د قيامت په ورځ به الله تعالی له هر امت د هغو كسانو فوځ فوځ راپاځوي چې د الله آيتونه تكذيبوي، دوی به په ډلو ډلو كې كې سره يو ځای كړی شي، د الله تعالی په وړاندې به ودربږي، دوی ته به ووايي: آيا زما آيتونه مو له دې كبله تكذيب كړل چې پرې پوه شوي نه وئ، يا ئې كوم بل معقول سبب وو؟!! هغه څه وو چې له كبله ئې تاسو دا دريځ غوره كړی وو؟ هيڅ معقوله وجه به ونه ښودی شي، هم به په خپله دوی ته جوته شي چې ظلم ئې كړی او هم هر چا ته، د همدې ظلم له كبله به د الهي عذاب مستحق وګڼل شي او حالت به ئې داسي وي چې خبرې به نشي كولی او كوم دليل به نشي وړاندې كولی.

په داسي حال كې چې د دې مباركو آيتونو په الفاظو او مفهوم كې د ابهام هيڅ مورد نشته، هر څوك حتی په سطحي او لومړني نظر سره له كوم ځنډ او ابهام پرته دغه واضح او څرګند مطلب ترې اخلي، خو متأسفانه د شيعه وو ځينو تش په نامه او په خرافاتو كې غرق مفسرينو داسي څه ترې جوړ كړي چې انسان ورته حيران حيران شي، دوی وايي چې دا پاځون د قيامت د ورځې پاځون نه دئ بلكې د رجعت پاځون دئ، د رجعت پاځون دوی داسي څه ته وايي چې تر قيامت وړاندې به الله تعالی منافقين (د علي رضى الله عنه مخالفين) هغه مهال بېرته دنيا ته ولېږي چې امام زمان يا علي رضى الله عنه به واكمن وي، چې كلكه سزا وركړي!! دا عقيده دوی د قرآن له كوم آيت يا د كوم آيت له كوم لفظ نده اخيستې بلكې له يهودو ئې اقتباس كړې، يهودان هم د عيسى عليه السلام له بعثت وړاندې او تر نن پورې د داسي موعود مسيح انتظار كوي چې يهودان به ئې لښكر وي، د دوی ټول دښمنان به ووژني او پر ټولې نړۍ به حكومت كوي!! خو همغه موعود مسيح (عيسى عليه السلام ) راغی خو تر ټولو زيات همدغو منتظرو يهودانو د هغه مخالفت وكړ او دا دوی ول چې روميان ئې د هغه نيولو او وژلو ته وهڅول!! كه دا نن د شيعه وو دغه منتظر خو له ځانه جوړ شوی موهومي امام راشي نو يقيناً تر ټولو زيات او تر ټولو وړاندې به همدغه شيعه د هغه مخالفت او دښمنۍ ته ملا تړي. دوی د رجعت دغې خرافي عقيدې لپاره دوه دلائل وړاندې كوي: لومړی او اساسي دليل ئې د دوی اړوند روايات دي او دوهم دليل ئې دا دئ چې دلته په آيت كې ويل شوي: وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا ، ګواكې دا داسي ورځ ته اشاره كوي چې ټول امت نه بلكې د هر امت ځيني خلك به محشور شي، نو ځكه دا د قيامت ورځ نه ده بلكې تر قيامت وړاندې بله ورځ ده چې يوازې دغه منافقين به په كې محشور شي او امام زمان به سزا وركوي!! عجيبه ده، نه پوهېږو د دغو خلكو په سر كې مغز دي كه بوس چې داسي كچه او خوشې خبرې منلی شي!! آيت په ټول صراحت سره وايي چې له هر امت به د هغو خلكو فوځ محشور شي چې د الله تعالی آيتونه تكذيبوي، او دا فوځونه به د الله تعالی په وړاندې ډلې ډلې ودرولی شي، الله تعالی به ترې پوښتنه كوي چې څنګه مو زما آيتونه په داسي حال كې تكذيب كړل چې نه پرې پوهېدئ؟!! د دې معنی دا نه ده چې په دې ورځ به هغه خلك نه وي محشور شوي چې د الله تعالی آيتونه ئې نه وو تكذيب كړي، هغوی به هم محشور

شوي وي خو دلته د بحث موضوع دا نه ده چي له هغوی سره به څه معامله کېږي، نو ځکه د هغوی يادونه نه ده شوې. دې جنابانو ته وايو: آيا دې ته مو پام کړی چي په دې غلطي عقيدې سره تاسو د قرآن هغه ګڼ شمېر آيتونه تکذيبوئ چي د انسانانو د يوه حشر او يوازي دوه ځلي ژوندون خبره کوي، تاسو د دوه ځلي حشر کېدو او درې ځلي ژوندون خبره کوئ!! حال دا چي قرآن د قيامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندي د بیاژوندون په اړه د کافرانو وينا داسي بولي: احييتنا اثنتين: اې زموږ ربه! موږ دې دوه ځلي ژوندي کړو، يعني لومړی د دنيا ژوند او بيا د آخرت د ورځي ژوند، تاسو خو د قرآن هغه آيتونه تکذيبوئ چي وايي: له مرګ وروسته دنيا ته بېرته تګ نشته، دا مطلب په وار وار د کافرانو د هغي تمنی په ارتباط ويل شوی چي وايي به: کاش دنيا ته بېرته ستانه شوي وی چي ايمان مو راوړی وی، د پيغمبر اطاعت مو کړی وی او په خپلو ټګمارو مشرانو پسي نه وی تللي. څنګه يو جعلي او د قرآن او عقل ضد روايت معتبر ګڼئ او د هغه لپاره د قرآن ګڼ شمېر آيتونه تکذيبوئ؟!!

دغه دوه خبري مي د دوی له داسي تفسير رانقل کړې چي د ايران له انقلاب وروسته د آيت الله مکارم شيرازي تر مشرۍ لاندي د يوې ډلي له لوري ليکل شوی، ما له مکارم شيرازي سره ليدلي، هغه مي د شيعه وو په علماءو کي تر نورو معقول شخص مونډلی، د ده د تفسير (تفسير نمونه) ډېري برخي مي هم لوستلې، که څوک د شيعه وو د تفسير لوستلو شوق لري نو هغه ته مي مشوره دا ده چي همدا تفسير دي ولولي، خو د دې تفسير لويه ستونزه دا ده چي د مجهول الهويه راويانو جعلي او د عقل او قرآن خلاف رواياتو ته ئې دومره اعتبار ورکړی چي د قرآن صريح آيتونه ئې د هغوی په تأييد کي تأويل او حتی تحريف کړي، دوه بېلګي ئې د همدې سورې دغه دوه آيتونه دي، په تفسير نمونه کي د رواياتو په استناد د آيتونو د تشريح لپاره د (بحث روايتي) تر عنوان لاندي روايات راوړل شوي، په دې بحثونو کي به تاسو وګورئ چي روايت ته د اصل او آيت ته د فرع په سترګه کتل شوي، هڅه شوې چي آيت داسي تعبير او تأويل کړي چي له روايت سره ئې تعارض له منځه يوسي!!

آيا له قرآن سره د مخالفت لپاره دا کافي نه ده چي څوک په داسي څه باور او ايمان ولري چي په ټول قرآن کي ئې هيڅ يادونه نه وي شوې، هغه هم داسي غلط باور چي د قرآن له څرګندو اصولو سره په بشپړه توګه مغايرت لري؟ په غائب امام باور د قرآن د اصولو خلاف باور دئ، له الله تعالی پرته بل چا ته علم غيب ثابتول د قرآن د لسګونو صريح آيتونو خلاف باور دئ، د ابوبکر، عمر، عثمان او عائشې رضی الله عنهم په څېر هغو سترو سترو شخصيتونو سره دښمني کول او هغوی د منافق په نامه يادول چي الله تعالی او د هغه رسول خپل رضايت ترې اعلان کړی!! يوازي د هغه چا کار کېدی شي چي نه پر الله تعالی او د هغه پر قرآن ايمان لري او نه د هغه پر پيغمبر، په ټولو شيعه وو کي هيچا پرخپل اولاد د ابوبکر، عمر، عثمان او عائشې نوم نه دئ ايښی، د عائشې رضی الله عنها له نامه سره حساسيت لري، هغه عائشه چي الله تعالی د هغې په اړه او د هغې له شخصيت د دفاع لپاره ئې د

قرآن يوه مكمله سوره نازله كړې او په دې سره ئې هغې ته دومره لوړ مقام وركړى چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم وروسته هيڅا ته نه دئ وركړى شوى، هغه ستر شخصيت چې په ټول انساني تاريخ كې له آسيه، مريم او خديجې رضي الله عنهن وروسته هيڅ ښځه د هغې لوړ مقام ته نه ده رسېدلې.

امامت موروثې ګڼل د قرآن د لارښوونو خلاف باور دئ، علي رضى الله عنه منصوصې امير ګڼل دروغجنه او د قرآن د وينا خلاف ادعاء ده، قرآن موروثي امارتونه ردوي، موروثي امامت؛ كه سياسي وي او كه مذهبي؛ د غير اسلامي، ظالمانه او جاهلي نظامونو ځانګړتيا ده، په ټول قرآن كې د هيڅا د امارت په اړه هيڅ اشاره هم نه مومو، قرآن په بشپړ صراحت سره د امام غوراوى د مؤمنانو حق او مسئوليت ګڼي، په ټول قرآن كې د علي رضى الله عنها او د امام زمان يادونه نه ده شوې، علي رضى الله عنه له ابوبكر، عمر او عثمان رضى الله عنهم سره بيعت كړى، د هغوى په امامت كې ئې نژدې دېرش كلونه لمونځ كړى، عمر رضى الله عنه ته ئې خپله لور په نكاح وركړې، ټولو صحابه وو په اتفاق سره دا درې خلفاء تر علي رضى الله عنه د خلافت لپاره مستحق او وړ ګڼلي، شيعه د دغو ټولو حقائقو خلاف دروغ وايي او خپل مذهب ئې د دغو دروغجنو باورونو پر بنسټ اېښى!! د صحابه وو په اړه د دوى دريځ دروغجن او د عقل او ايمان خلاف دئ.

د دوى اصلي ستونزه دا ده چې د عقل او قرآن خلاف عقيده ئې اختراع كړې، د هغې لپاره په قرآن كې هيڅ شاهد، نه صراحتاً او نه اشارتاً، وړاندې كولى شي، له دې پوښتني او جدي اعتراض سره مخامخ دي چې ولې داسې عقيده ومنو چې په ټول قرآن كې د هغې هيڅ يادونه نه ده شوې، ولې علي رضى الله عنه او د ده اولاد منصوصي امامان وګڼو حال دا چې په قرآن كې نه د ده نوم راغلى او نه د ده د اولاد او نه دا چې امامت د دوى حق دئ؟!! ولې په امام زمان باور ولرو حال دا چې په قرآن كې د داسې باور لپاره هيڅ دليل نه مومو؟!! مګر د عقائدو او باورونو لپاره قرآن كافي نه دئ؟ آيا قرآن ناقص دئ چې موږ پرې اكتفاء ونه كړو او نور افكار او عقائد پرې علاوه كړو؟ كه دا باورونه دومره مهم او ضروري وى لكه دوى چې اهميت وركوي نو هرو مرو به په قرآن كې په ډېر صراحت سره په دې اړه ګڼ شمېر آيتونه راغلي وو، كه قرآن د هارون عليه السلام يادونه كوي او هغه د موسى عليه السلام ځاى ناستى او مرستيال ګڼي او په مكرره توګه د هغه نوم يادوي، څنګه ومنو چې علي او امام زمان د رسول الله صلى الله عليه و سلم ځاى ناستي دي حال دا چې يو ځل هم په قرآن كې د دوى نوم نه دئ راغلى؟!! له دې اعتراض او جدي پوښتني د ځان ژغورلو لپاره ئې يا داسې جعلي روايات جوړ كړي چې د دوى لپاره مستمسك شي او د تېښتي لار ورته پرانېزي او يا ئې هڅه كړې د قرآن آيتونه تحريف كړي او داسې څه ترې راوباسي چې په دې غلط دريځ كې د دوى متكاء شي!! نو وايي: دابة يعني امام زمان، الشمس يعني علي، القمر يعني فاطمه!!!

امام زمان د دوى له نظره د يولسم امام حسن العسكري زوى دئ چې وايي په ٢٥٥

هجري كال كې زېږېدلی او ګواكې په پنځه كلنۍ كې غائب شوی، د غيابت ئې دوه مرحلې بولي: ووړ غيابت چې اويا كاله ئې دوام كړی او په دې مودې كې خلكو د ده د څلورو نائبانو له لارې ورسره تماس درلود او لوی غيابت چې له ۳۲۹ هـ كال شروع شوی او تر نن پورې دوام لري. دا په داسې حال كې چې د امام حسن العسكري ورور وايي چې زما ورور هيڅ زوی نه درلود او د زوی د وركېدو خبره ئې بې بنسټه ده!!

دا د امام غائب جعلي او خرافي عقيده هغه مهال د سياسي عواملو پر بنسټ او د اسلام د دښمنانو له لورې وزېږول شوه چې امت واحد مشر درلود، دوی په مسلمانانو كې د اختلاف راولاړولو په موخه خلك په داسې امام باور كولو ته بلل چې نشته، داسې امام چې نه پيدا شوی، نه ئې امامت كړی، نه چا پر لمانځه ولاړ ليدلی، نه ئې د هغه له خولې د قرآن يو آيت، د رسول الله صلی الله عليه و سلم يو حديث، د حق يوه خبره اورېدلې، نه ئې د كوم ظالم په ضد او د مظلوم په ملګرتيا كې څه كړي يا ويلي، په تېرو ديارلسو سوو كلونو كې هيچا نه هغه ليدلی او نه ئې د ده كوم كار او نه د شته والي كومه نښه!!! آيا تر دې لوی درواغ هم كېدی شي؟!! آيا داسې امام د امامت وړدئ كه د دې وړ چې غوږونه ئې ورتاو كړی شي او د سكوت، مداهنت او سازش سزا وركړی شي؟!! آيا هغه عادي مجاهد چې د الله او د هغه د دين د دښمنانو په ضد جهاد كوي غوره او د الهي معيارونو له مخې د قدر وړ دئ كه هغه جعلي امام چې نه يوازې په خپله د زمانې د ستر فرعون مقابله نه كوي، بلكې شيعه ئې دې ته پرېښي چې له همدې فرعون سره په افغانستان، عراق، سوريې، پاكستان او ... كې ملګرتيا وكړي؟!! موږ ته خو قرآن هغه لوی لوی مجاهد شخصيتونه د امامانو په توګه رامعرفي كوي چې هر يوه ئې د سترو سترو ظالمانو مقابله كړې، ابراهيم عليه السلام د نمرود، موسی عليه السلام د فرعون او هر پيغمبر د خپل دور د طاغوت او طاغوتيانو مقابله كړې، قرآن خو وايي: چا چې د ظالم په وړاندې مداهنت وكړ د الله تعالی عذاب ته دې منتظر وي، څنګه هغه موهومي امام منئ چې تر ننه ئې د هر ستر ظالم په وړاندې سكوت كړی!!

څوك چې غواړي عوام وغولوي، د خپلې خبرې او غوښتنې منلو ته ئې چمتو كړي نو ورته وايي: زه له امام زمان سره ارتباط لرم، څه چې درته وايم دا د امام زمان خبرې دي، د خپل شيطان خبره امام زمان ته منسوب كړي، احمقان پرې وغولېږي او د ده جيب ورډك كړي، كه دا نن د هغه خمس او صدقاتو موضوع چې دا ټګماران ئې د امام زمان په نامه له خلكو تر لاسه كوي او دا ادعاء چې د علي رضی الله عنه ټول اولاد تر قيامت پورې سپېڅلي، ستانه او سادات او د درناوي وړ او تر نورو خلكو لوړ او غوره دي او خمس او صدقات به دوی ته سپارل كېږي!! له دې عقيدې جلا كړو نو يقيناً چې دا عقيده به ډېر ژر مري، نه به مبلغين لري او نه پلويان!! په كومو ورځو كې چې ما د دغې سورې تفسير ليكلو نو په ايران كې له دې موهومي امام زمان سره د مخامخ ارتباط په اړه لويه لانجه راولاړه شوې وه، د ايران د جمهور رئيس مشاور په دې تورن شوی وو چې ويلي ئې دي: زه له امام زمان سره مخامخ ارتباط لرم، دا خبره د ايران د روحاني مشر پلويانو جدي ونيوله او دا وېره ورسره پيدا

شوه چې د عوامو مخ به له دوی بل لوري ته واوړي!! تر ده وړاندې د دوی بل جمهور رئیس رفسنجاني د جمعې د ورځې په خطبې کې ویلي وو چې موږ له امام زمان سره خطي رابطه لرو!! حتماً به پوهېږئ چې دا خطي ارتباط څنګه دئ!! داسې چې د امام زمان په نامه خپل عرائض لیکي بیا ئې په یوه ځای کې د قبر خوا ته اچوي، څه وخت وروسته د خط ځواب د کوم ټګمار له لوري ورلېږل کېږي!! همدا له امام زمان سره د دوی خطي ارتباط دئ!!

أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِيَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٦﴾

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې شپه مو داسې ګرځولې چې آرام په کې وکړي او ورځ لید مهال، یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته حتماً څرګندې نښې دي چې ایمان راوړي.

(٨٦)- په دې مبارك آیت کې د مکذبینو په ځواب کې ویل شوي: آیا پر الله تعالی او د آخرت پر ورځې د ایمان راوړو لپاره دا څرګند او مشهود دلیل کافي نه دئ چې شپه ستاسو د آرامښت لپاره پیدا شوې او ورځ داسې چې د تیارې پرده څیرې کړي او هر څه ستاسو د سترګو په وړاندې وځلوي چې د اړتیا وړ شیان مو تشخیص کړئ او خپلې اړتیاوې رفع کړئ، تاسو د خوب لپاره شپې ته ضرورت لرئ او د ژوند ژواك د اړتیاوو د تأمین لپاره ورځې ته، تاسو تودوخې او رڼا ته ضرورت لرئ او دا دئ الله تعالی ستاسو د اړتیاوو د تأمین لپاره شپه او ورځ پیدا کړې، د شپې او ورځې دا دقیق او هدفمن نظام په څرګنده توګه ګواهي ورکوي چې د الله تعالی او د آخرت د ورځې په اړه د مکذبینو غلط باورونه څومره د عقل او انصاف ضد باورونه دي.

وَيَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۚ وَكُلٌّ أَتَوۡهُ دَٰخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ﴿٨٨﴾

او هغه ورځ چې په شپېلۍ کې پو شي نو ټول هغه به په وېره کې شي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، مګر هغه چې الله ئې وغواړي، او هر یو به عاجزي کوونکی ورته راشي. او غرونه به ګورې چې د ولاړ ګمان به پرې کوې حال دا چې هغه به د ورېځو د خوځېدو په څېر خوځي، د الله هغه جوړونه چې هر څه ئې استوار (او مضبوط) کړی، یقیناً چې دی په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۸۷-۸۸)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د قیامت په ورځ به په شپېلۍ کې پو شي، داسې هیبتناك حالت به رامنځته شي چې ټول هغه څه به په وېره کې شي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، په همدې سخت حالت کې به هغه مؤمنان ډاډه او مطمئن او له وېرې خوندي وي چې الله تعالی ئې له دې وېرې خوندي ساتل غواړي.
- په دې ورځ به ټول انسانان د الله تعالی په وړاندې په بشپړې عاجزۍ او انکسار سره ودرېږي، د هغو به هم غاړه کږه وي چې په دنیا کې پر خپل زور ځواك مغرور ول او د خپل رب له احکامو ئې سرغړونه کوله.
- دا لوړ لوړ غرونه چې تا ته ډېر کلك او مضبوط برېښي او گمان کوې چې ستر ستر طوفانونه او تېزې تندې سیلۍ ئې نه خوځولی شي او نه لړزولی، د قیامت په ورځ به داسې خوځي لکه د ورېځ خوځېدا. که څه هم دا آیت د قیامت په ارتباط راغلی او د قیامت په ورځ د غرونو حالت ئې زموږ په وړاندې انځور کړی، خو دا یقیناً د قرآن یو ستر علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو علمي تحقیقاتو وروسته ساینسپوهانو ته جوته شوې چې دا جامده ماده په حقیقت کې له داسې وړو وړو توکو جوړه شوې چې تل د خوځېدو په حال کې وي، ماده له مالیکولونو او مالیکولونه له اټمونو جوړ شوي، خو د مادې د وجود دا لومړنۍ او اساسي خښته د هغو پروتونونو او الکټرونونو مجموعه ده چې په پر له پسې او دائمي توگه او له هرراز توقف پرته یو د بل پر شاوخوا ځرخي، د دې حقیقت د بیان لپاره تر بل هر بیان جامع او کامل بیان همدا د قرآن وینا ده چې وایي: غرونه به گورې چې د ولاړ گمان به پرې کوې حال دا چې هغه به د ورېځو د خوځېدو په څېر خوځي. نو دا غرونه هسې موږ ته ولاړ، راکد او جامد برېښي خو په اصل کې له داسې خوځنده اجزاوو جوړ شوي چې په مسلسله توگه د خوځېدو په حال کې دي او خوځېدا ئې د ورېځو د خوځېدا په څېر. ورېځې د زمکې پر محور په دائروي توگه خوځي، همغسې لکه الکټرون چې د اتم د زړه پر محور ځرخي، توپیر ئې د الکټرون له خوځښته سره یوازې په دې کې دئ چې ورېځې له منځه ځي خو الکټرون په خپل حال پاته کېږي او خپل حرکت ته دوام ورکوي.
- دا د هغه الله تعالی جوړونه او پیدایښت دئ چې هر څه ئې استوار او مضبوط پیدا کړي.
- یقیناً چې الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٖ يَوۡمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٠﴾

ځوك چې له ښېگڼې سره راغی نو تر هغې غوره به ئې په برخه شي او دوی به د دغې

ورځې له وېرې خوندي وي، او څوك چې له بدې سره راشي هغوی به پړمخې په اور كې واچول شي، آيا له هغه پرته بله بدله دركول كېږي چې تاسو كول؟

(۸۹-۹۰)- د قيامت په ورځ به هر چا ته د خپلو كړنو مطابق جزا او سزا وركړی شي، چا چې نېك كارونه كړي بدله به ئې د ده تر ښېګڼو غوره وي او د قيامت د ورځې له هول او هيبته به خوندي وي، او چا چې بد كارونه كړي پړمخې به په اور كې واچول شي.

إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَيۡءٖۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ
أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ۝٩١ وَأَنۡ أَتۡلُوَاْ ٱلۡقُرۡءَانَۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي
لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ۝٩٢ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمۡ
ءَايَٰتِهِۦ فَتَعۡرِفُونَهَاۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ۝٩٣

يقيناً چې زه فقط پر دې ګمارل شوی يم چې د دغه ښار د رب عبادت وكړم هغه چې ده محترم ګرځولی، (هغه رب) چې هر څه د ده دي، او ګمارل شوی يم چې له غاړه اېښودونكو  وم، او دا چې قرآن تلاوت كړم، نو څوك چې په سمه لار روان شي يقيناً چې د ځان په ګټه په سمه لار تللی او څوك چې بې لارې شي نو ووايه: زه خو يوازې له منذرينو  (يو منذر) يم. او ووايه: ستايني ټولې الله ته دي، ژر به خپل آيتونه داسې دروښيي چې تاسو به ئې پېژنئ، او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې كوئ.

(۹۱-۹۳)- په دې مباركو آيتونو كه رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خلكو ته ووايي:

- زه فقط پر دې ګمارل شوی يم چې يوازې د هغه رب عبادت وكړم چې د مكې دغه ښار ئې محترم ګرځولی، هغه رب چې هر څه د ده دي.
- زه پر دې ګمارل شوی يم چې له غاړه اېښودونكو  وم، په هر څه كې د الله تعالی اوامرو ته منقاد او تسليم وم.
- زه ګمارل شوی يم چې دا قرآن خلكو ته واوروم.
- څوك چې په سمه لار روان شي يقيناً چې د ځان په ګټه په سمه لار تللی.
- څوك چې بې لارې شي نو زه خو يوازې يو منذر يم، د نورو پيغمبرانو په څېر تاسو د كفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو وېروم.
- ستايني ټولې الله ته دي.
- ژر به خپل آيتونه داسې دروښيي چې تاسو به ئې پېژنئ، هغه څه چې تاسو ترې انكار كوئ ډېر ژر به ئې په خپلو سترګو وګورئ.

- الله تعالی له هغه څه غافل نه دئ چي تاسو ئې کوئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# القصص

## د ملتونو

## د عروج او زوال عوامل

## د بني اسرائيلو

## په عبرتناکي قصې کي

## يادونه:

د القصص سوره تر دې وړاندي د يوه مستقل کتاب په بڼه کي چاپ شوې وه، په دې کتاب کي د القصص د سورې د تفسير تر څنگ هڅه شوې چي د قرآن ټول هغه آيتونه راغونډ کړی شي چي په هغوی کي د بني اسرائيلو په اړه څه ويل شوي، تاسو پوهېږئ چي په قرآن کي د بني اسرائيلو قصه په ډېر تفصيل سره او په ډېري اغېزمني او جالبي بڼې کي راغلې، په دې عبرتناکي قصې کي د ملتونو د عروج او زوال عوامل په دقيقه توگه څېړل شوي، دا مو غوره وگڼله چي دلته د دغه کتاب ټول مطالب په بشپړه توگه راوړو، چي په دې سره به لوستونکي وتوانېږي چي د دې عبرتناکي او لارښوونکې قصې ټولي مهمي برخي په خپلي مخي کي وگوري او په رڼا کي ئې د يوه ملت د عروج او زوال عوامل په جامع او بشپړه توگه وپېژني.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحيم

## سریزه

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

دا کتاب په اصل کې د هغو درسونو مجموعه ده چې د مدرسو او ښوونځیو د استادانو یوې تربیتي غونډې ته وړاندې شوي، او په ۱۳٦٦کال کې د یوې رسالې په بڼه کې چاپ شوی، د درسونو د بحث محوري موضوع (د ملتونو د عروج او زوال عوامل د بني اسرائیلو په عبرتناکې قصې کې) وه، د القصص د سورې ټول هغه آیتونه په کې څېړل شوي وو چې د دغې قصې اساسي برخې د مخاطب مخې ته ږدي، په دې کتاب کې د القصص د سورې د بشپړ تفسیر تر څنګ د قرآن نور هغه آیتونه هم رااخیستل شوي چې د دې قصې پاته برخې په کې څېړل شوي.

یوازینۍ قصه چې په قرآن کې په ډېر تفصیل سره راغلې د بني اسرائیلو عبرتناکه او له لوړو ژورو ډکه قصه ده، عظیم الشأن قرآن د دغې قصې ټول اړخونه او د دغه قوم د عروج او زوال ټولې پېښې څېړلې دي، او دا ئې موږ ته روښانه کړې چې څرنګه او له کومه ځایه د دې قوم د شرف او عزت دوران پیل شوی، څنګه او د کومو املونو په سبب د عزت لوړو پوړو ته رسیدلی، د زمکې خلافت، د پراخو شتمنیو وراثت او د نورو ولسونو امامت او مشري ئې په برخه شوې او د نړۍ پر ټولو قومونو هغوی ته فضیلت ورکړی شوی؟ او بیا څنګه د دغه قوم د زوال دور پیل شوی، د ذلت او سپکاوي په ژورې کندې کې پرېوتې، هر چا په سپکه سترګه ورته کتلې او د دوست او دښمن له لوري رټل شوی؟ د راپرېوتو او زوال عوامل ئې کوم وو؟ د کومو عواملو په سبب له ذلت، سپکاوي، فقر، مسکنت او د الله تعالی له غضب او لعنت سره مخامخ شوي او د نورو لپاره د پند وسیله ګرځېدلي؟! قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د دې او بل هر قوم او ولس د عروج، عزت او فضیلت عوامل کوم دي او د زوال او سقوط املونه ئې څه دي؟

عظیم الشأن قرآن د بني اسرائیلو د عروج او زوال قصه د یوې داسې لارښووونکې او تاریخي قصې په توګه څېړلې چې په ترڅ کې ئې ډېر ستر ستر حقائق، عبرتناک درسونه او جامع لارښوونې زموږ مخې ته ږدي. په دې قصې کې د ملتونو د عروج او زوال په اړه د الله تعالی سنن انځور شوي او اساسي عوامل ئې څېړل شوي، عظیم الشأن قرآن د دې قوم د عزت او ذلت حالتونه او عوامل ئې د تاریخي بېلګو په توګه وړاندې کوي، دې ته باید متوجه وو چې د قرآن قصې یوازې نکلونه او قصې نه دي، د قرآن په اړه دا ډول انګېرنه په حقیقت کې د هغو مشرکینو وه چې د قرآن له عظمته بې خبره ول او د هغه مخالفت ته ئې ملا تړلې

وه، هغوی به ویل چې قرآن (اساطیرالاولین) یعني د لومړنیو خلکو د قصو او نکلونو مجموعه ده، قرآن دا انګېرنه له بنسټه ردوي، د قرآن قصص په حقیقت کې تاریخي مثالونه او بېلګې دي، د قرآن هدف دا نه دئ چې د یوه قوم تېر تاریخ د قصې په بڼې کې وړاندي کړي، بلکې د قصې په ترڅ کې د الله تعالی د یوه سنت، یوې قطعي او نه بدلېدونکې پرېکړې او د یوه الهي وعد او وعید تاریخي بېلګه وړاندي کوي، یوازې په دې موخه د یوه قوم د تېر تاریخ یوه برخه رااخلي او د مخاطب په وړاندي ئې ږدي چې د یوه ستر حقیقت عملي بېلګه وړاندي کړي.

پیغمبر اکرم علیه السلام فرمایي چې دا تاریخي بېلګې به تل تکرارېږی، تاسو به هم د هغو امتونو سنن تعقیب او د هغوی تګلاري خپلې کړئ چې تر تاسو وړاندي تېر شوي دي. هر دور ځانته فرعون او موسی لري او فرمایي چې زما د امت فرعون؛ ابوجهل دئ. له دې معلومېږي چې قرآن د شخصیتونو یادونه د دوی د معرفي لپاره نه بلکې د تاریخي څېرو او بېلګو په توګه کوي، فرعون د استبداد، ظلم، کفر او طغیان بېلګه دئ او موسی علیه السلام د حق پالونکو، عدالت غوښتونکو او مجاهدینو بېلګه، همدا وجه ده چې په قرآن کې ۷۴ ځلي د فرعون نوم یاد شوی او ۱۳٦ځلي د موسی علیه السلام نوم، دا په داسي حال کې چې د محمد علیه السلام نوم یوازي پنځه ځلي راغلی. نو د قرآن (قصې) او (څېرې) په حقیقت کې تاریخي بېلګې دي چې په ترڅ کې ئې باید د فلاح او بریا لار ولټوو، عزت ته د رسېدو او له ذلت او سپکاوي د نجات لار وپېژنو، د هغو په څېر شو چې قرآن ستایلي، عظمتونه ئې په برخه شوي، الله تعالی ترې راضي شوی، په تأیید، نصرت او غیبي لښکرو سره ئې د دوی مرسته کړې؛ او له هغه څه ځان وساتو چې نور ئې د الله تعالی له تأیید محروم کړي، په زوال محکوم شوي، د عزت ټغر ئې ټول شوی او له ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي.

اللهم اجعلنا من الذین انعمت علیهم، غیرالمغضوب علیهم ولا الضالین؛ آمین

حکمتیار

# القصص

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم القصص دئ، د سورې له ۲۵ آیت اخیستل شوی، د مکې دور په منځنیو کلونو کې او د الشعراء او النمل له سورتونو وروسته نازله شوې، ۸۸ آیتونه لري، آیتونه ئې د مکې دور په منځنیو کلونو کې نازل شوو سورتونو ته ورته او اوږدوالی ئې منځنی دئ، خو هر یو ئې له څو لنډو لنډو مسجع فقرو جوړ شوی او سورې ته ئې خوندور وزن وربه برخه کړی. آیتونه ئې ښکلی او خوندور وزن لري او په داسي صیغو پای ته رسېدلي چې د سورې

د دوو لومړنيو آيتونو د (مبين) او (يؤمنون) صيغو ته ورته وزن لري، څو آيتونه ئې د وكيل او عظيم په صيغو پاى ته رسېدلي چي دا هم په ډېر لږ توپير سره (مبين) ته ورته وزن لري، د مضمون جالب والي او د آيتونو ښکلي او خوندور وزن د سورې حفظول ډېر آسانه کړى، انسان کولى شي په لږ زحمت سره او په کم وخت کي دا سوره حفظ کړي.

لكه څنګه چي دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (ط س م) پيل شوې؛ د سورې اساسي مضامين هم درې دي، چي خلاصه ئې د سورې په آخري دريو آيتونو کي په دې توګه راغلي:

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

او ته داسي نه وې چي د کتاب درتلو ته دي هيله کوله، مګر ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه، نو د کافرانو ملاتړى مه شه. او دوى دي تا د الله له آيتونو له هغه وروسته منع نه کړي چي درته نازل کړى شول، او د خپل رب لوري ته بلنه ورکړه او له مشرکانو مه شه. او له الله سره بل معبود مه بله (د ده تر څنګ بل معبود مه مانځه)، له ده پرته بل معبود نشته، د ده له ذاته پرته هر څه هلاکېدونکي دي، حکم ده لره دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

دا اساسي مطالب په ټولي سورې کي او د موسى عليه السلام په مفصلي او جامع قصې کي بيان شوي، د هري موضوع لپاره د قصې يوه برخه د تاريخي او عملي بېلګي په توګه راغلې.

د قصې له پيله مخکي د قصې موخه او هدف په ګوته شوى، بيا فرعون او د فرعوني نظام ځانګړتياوي په دې توګه ښودل شوې چي وايي هغه مغرور او متکبر وو، د خپلي لويي د ثابتولو او ساتلو په فکر کي وو، د خپل قدرت د بقاء په لټه کي وو او د دې هڅه ئې کوله چي خپله لويي پر نورو تحميل کړي. خلك ئې په بېلا بېلو ډلو وېشلي وو، پر ټولني ئې طبقاتي نظام مسلط کړى وو. عاصي او مفسد وو او په ټولني کي د فساد اصلي عامل وو، ورپسې د دغه نظام په اړه الهي ثابت او نه بدلېدونکى سنت بيان شوى، چي حتماً ئې نسکوروي او هغه هم د مستضعفانو او مظلومانو په لاس، بيا د دې الهي سنت تفصيلات په ګوته کوي او ښيي چي د فرعوني نظامونو د ړنګېدو لړۍ د صالح قيادت له رامنځته کېدو او د ده په خواکي د مظلومانو له راغونډېدو پيل کېږي، د موسى عليه السلام پيدايښت، د سيند څپو ته لوېدا، د فرعون په کور کي د ده روزنه، له يوه مظلوم بني اسرائيلي د ظالم قبطي په وړاندي دفاع او د هغه وژنه، مدين ته تېښته، په پيغمبرۍ بعثت، د فرعون د مقابلې لپاره مصر ته تګ، له بني اسرائيلو سره يو ځاى له مصره د سينا لويي صحرا ته وتل، او د قصې نوري برخي د همدغو اساسي مطالبو د ښه توضيح لپاره رااخلي او د خپل مخاطب

مخې ته ئې بېدي او په پای کې د ټولې سورې خلاصه په وروستیو دریو آیتونو کې راوړي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓمٓ ﴿١﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾

ط س م. دا د څرګند کتاب آیتونه دي.

(۲)- په دې مبارك آیت کې یو ځل بیا قرآن د (مبین) کتاب په نامه معرفي شوی، یعني دا کتاب هم په خپله واضح او څرګند دئ او آیتونه ئې هر لوستونکي ته د فهم او درك وړ دي او هم هر څه په څرګنده توګه بیانوي، په خپله څرګند دئ او هر څه څرګندوي، نه ئې د آیتونو په الفاظو کې ابهام او اغماض شته او نه داسي څه ترې پاته دي چې په دې مبین کتاب کې ئې وضاحت نه وي شوی. هر مخاطب په آسانۍ کولی شي د هغه په مقصد پوه شي او واضح مطلب ترې واخلي، او چې د هر ضروري او مهم مطلب په لټه کې قرآن ته رجوع وکړي واضح او څرګنده لارښوونه به ئې په برخه شي.

نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرۡعَوۡنَ بِٱلۡحَقِّ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٣﴾

د موسی او فرعون ځیني خبرونه په رښتیني توګه پرتا لولو د هغوخلکو لپاره چې ایمان راوړي.

(۳)- یعني دا د موسی علیه السلام او د فرعون د مقابلې رښتینې قصه ده، نه ناول دئ او نه داستان، ځیني برخي ئې ستا مخي ته بېدو خو د هغه چا لپاره چې د ایمان په روښانه لار د تلو هوډ او د حقیقت د پېژندو او په هغه د ایمان راوړو عزم لري.

دا مبارك آیت موږ ته په واضحو الفاظو لارښوونه کوي چې قرآن ولې د تاریخي پېښو ځیني برخي د خپل مخاطب مخي ته بېدي؟ د څه لپاره او د چا لپاره؟ مخاطب ئې هغه څوك دئ چې د ایمان په لار د تلو هوډ لري، د دوی لپاره په دغو قصو کې روښانه لارښووني دي.

قرآن د قصې په پیل کې فرعون موږ ته راښیي او د هغه نظام ځانګړتیاوې په ګوته کوي چې فرعون ئې مشر او ټولواك وو. فرمایي:

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤﴾

يقيناً چې فرعون په زمکې کې کبر او لويي وکړه او د هغې اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې يوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چې دی له مفسدينو وو.

---

(٤)- دا مبارك آيت موږ ته د يوه ظالم او فرعوني نظام اساسي ځانګړتياوې داسې راښيي:

- واکمن ئې فرعون دئ چې د دغو صفاتو څښتن دئ: مغرور او متکبر دئ، د خپلې لويي د ثابتولو او ساتلو په فکر کې دئ، د خپل قدرت د بقاء په لټه کې دئ او د دې هڅه کوي چې خپله لويي پر نورو تحميل کړي.
- خلك ئې په بېلا بېلو ډلو وېشلي دي، پر ټولنې ئې طبقاتي نظام مسلط کړی.
- عاصي او مفسد دئ، په ټولنې کې د فساد اصلي عامل دئ، که فقر او لوږه ده، که خلك د جهل او شرك په ډنډ کې غرق دي، که ظالمان پرې مسلط دي، که امنيت او عدالت نشته، د دې ټولو ناخوالو او مفاسدو اصلي عامل فرعون دئ. پر دې ټولنې مفسدين حکومت کوي او فرعون د دغو واکمنو مفسدينو له ډلې او د ټولو سالار دئ.

قرآن په نورو آيتونو کې موږ ته د دې مزيد تفصيلات بيان کړي او فرمايلي ئې دي چې په فرعوني نظام کې خلك په عام طور په دوو ډلو، حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم، مستکبر او مستضعف، مرفه او فقير وېشل کېږي او حاکمه طبقه ئې له دريو ډلو جوړه شوې وي: ١- واکمن او حواريون ئې، ٢- د نظام په خدمت کې ټګمار مذهبي مشران، ٣- بډايه او شتمنه طبقه چې دغه نظام د شتمنيو خاوندان کړي.

د فرعون په اړه وايي چې دی ځان د مصر د ټولو شتمنيو څښتن او د خلکو مالك الرقاب بولي: قرآن فرمايي:

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِۦ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِي مِن تَحْتِيٓۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ الزخرف

او فرعون په خپل قوم کې په لوړ غږ ووېل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آيا نه ئې ګورئ؟

ګورئ چې قرآن فرعوني نظام داسې معرفي کوي چې ټولواك ئې ځان د هېواد د ګردو شتمنيو، نهرونو او زمکو څښتن ګڼي!! په هر نظام کې چې واکمنان ئې ځان د خلکو مالك الرقاب او د ملي شتمنيو بې رقيبه څښتن بولي او په دغو شتمنيو کې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکوي د قرآن له نظره دا يو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

... وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾ يونس

او يقيناً چې فرعون د زمکې پر سر يو متکبر او باغي وو او هغه له مسرفينو وو.

قرآن دا د يوه ظالم او فرعوني نظام ځانګړتيا ګڼي چي واكمن ئې ځان ته ټولواك وايي او د ملك او ولس ټولي شتمنۍ د ځان بولي.

قرآن؛ پيغمبران عليهم السلام او د دوی تګلاره د موسی عليه السلام په څېره کې داسي انځوروي چي هم د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله كوي، يو ئې د ظالمانه اقتدار بېلګه، بل ئې د ټګمارو مذهبي مشرانو بېلګه او درېيم ئې د حريصو شتمنو او بډايانو بېلګه. قرآن وايي چي د تاريخ په اوږدو کې تل دغو دريو طبقو د پيغمبرانو عليهم السلام مقابله كړې. دې ته مو بايد پام وي چي په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته او نه د دوی لپاره ځانګړي امتيازات، اسلام فرعوني نظام په دې خاطر محكوموي چي خلك ئې په ډلو ډلو وېشلي وو، طبقاتي نظام ئې رامنځته كړی وو، چارواكو ځان ټولواك ګاڼو او د ولس په شتمنيو کې ئې د هر راز تصرف حق ځان ته وركاوو.

كه فرعون له يوې خوا د مصر د ټولو شتمنيو واكمن دئ او له سياسي او اجتماعي پلوه ټولواك دئ؛ خو له بلي خوا ئې له مذهبي پلوه د (الوهيت) دعوی كوله او خلكو ته ئې ويل: زه ستاسو اعلی رب يم!! خو بايد وګورو چي د دې وينا معنی څه ده؟ آيا هغه په دې وينا سره واقعاً ځان ته د اله او معبود په سترګه كتلي او له ولس ئې د همدې خبري غوښتنه كړې؟ او كه هغه ځان ته داسي مقام او منزلت وركړی چي يوازي له اله او معبود سره ښايي؟ په دې کې هيڅ شك نشته چي له دې خبري نه د فرعون موخه هيڅكله دا نشي كېدی چي ګواكي ځان ته ئې د اعلی رب په سترګه كتلي او د همدې ادعاء ئې كړې، معنی ئې له دې پرته بل څه نه ده چي هغه ځان ته داسي حقوق او امتيازات وركړي او له ټولو ئې غوښتي چي هغه ومني چي له الله تعالی پرته له هيچا سره نه ښايي، هيڅ بنده دا حق نه لري چي په ټولني کې ځان ته دا مقام او منزلت وركړي. د ده د وينا معنی دا ده چي ولس ته ئې ويلي: زه د مصر ټولواك يم، دلته به يوازي زما حكم چلېږي، د جائز او ناجائز پرېكړه به زه كوم، د پرېكړو وروستۍ مرجع زه يم، له خلكو ئې غوښتي چي تر هر څه او هر چا زيات بايد د ده ستاينه او لمانځنه وشي، موسی عليه السلام هم په دې ګواښي چي كه له ما پرته دي بل څوك د معبود او اله په توګه غوره كړ؛ ځای دي زندان دئ:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَـٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ۝٢٩ الشعراء

وئې ويل: كه له ما پرته دي بل اله ونيو نو حتماً به دي له (نورو) زندانيانو سره يوځای كړم.

يعني په دې ملك کې به د ژوند په هري برخي کې محوري او مركزي حيثيت د فرعون وي، د ټولني هر وګړی به هم د لارښووني په برخه کې او هم د پرېكړو لپاره ده ته مراجعه كوي، په دې هېواد کې به له ده پرته بل داسي مقام او مرجع نه غوره كېږي چي ولس د لارښوونو او د منازعاتو د حل و فصل لپاره هغه ته مخ اړوي، دلته به يوازي زما احكام چلېږی او كه تا بل مقام او مرجع ته د مخ اړولو جسارت وكړ نو ځای دي زندان دئ، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان کې پروت وې. هر هغه څوك چي په خپلي ټولني کې

همغه مقام او منزلت غواړي چي فرعون غوره کړی وو که څه هم ځان ته د اله او معبود خطاب ونه کړي په حقيقت کې ئې ځان معبود او اله ګڼلی او د الوهيت دعوی ئې کړې.

دا د فرعون او فرعوني نظام ځانګړتياوي دي، قرآنکريم د دې لپاره دا يادونه کوي چي موږ د دې په هينداري کې فرعون ته ورته واکمنان وپيژنو او په دې پوه شو چي الله تعالی کوم نظام يو فرعوني نظام ګڼي او د رانسکورولو لپاره ئې موسی لېږي؟!! له دې قصې د قرآن موخه دا نه ده چي موږ په تاريخ کې هغه تېر شوی فرعون وپيژنو، بلکې هدف ئې دا دئ چي موږ په دې خبري پوه کړي چي په چا کې دغه صفات وي هغه فرعون دئ او د فرعون له برخليك سره به مخامخ کېږي. او ته به د دې فرعون داسي مقابله کوې لکه چي موسی عليه السلام د خپل دور فرعون مقابله کوله.

## د فرعوني نظام واکمني څېرې

قرآن د فرعوني نظام واکمنان په دريو ډلو وېشي، د هري ډلي د مشر يادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر يو د يوې حاکمي طبقې ممثل دئ، دغه درې طبقې او په سر کې ئې دا درې مشران يو بل ته لاس ورکوي او پر يوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هر جاهلي نظام کې به وګورئ چي دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري، اعتقادي (فکري)، سياسي او اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سياسي نظام اړخ تمثيلوي، هامان ئې د ايديالوژيکي او فکري اړخ استازی او د دغه نظام مفکر او تيوريسن دئ، د ده طبقه ده چي فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجيه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتوا ګاني ورکوي او قارون د پانګي او شتمنۍ څښتن او د شتمني طبقې ممثل دئ. له فرعون، هامان او قارون هدف يوازي درې کسان نه بلکې د فرعوني نظام درې واکمني طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کې فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې ښی او کيڼ لاسونه.

قرآن عظيم الشأن فرمايي چي الله تعالی موسی عليه السلام د دې لپاره مصر ته ولېږو چي لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي:

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ ﴿٢٤﴾ غافر

يقيناً چي موږ موسی له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، او هغوی وويل: دروغجن کوډګر دئ.

يعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چي په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ويلي چي څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا؟ د ټولو خو په تدريج سره، داسي چي يوه ته به پر بل اولويت ورکوې،

اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړی مقابله باید له ده سره وي، داسي نه چي په نورو جبهاتو کي تر دې د مخه مصروف شې او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کي به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او ورپسې د قارون، موسی علیه السلام د همدغو دریو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لېږل شوی وو، څوك چي د موسی علیه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو دریو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي.

## له مظلومانو سره د فرعوني نظام چلن

قرآن فرمايي چي فرعون او نظام ئې له یوې ډلي سره داسي معامله کوله:

... يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤﴾ القصص

غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چي دی له مفسدينو وو.

که څه هم زموږ درانه مفسرين په دې اړه بېل بېل تعبیرونه او تفسیرونه لري چي فرعون ولې د بني اسرائیلو زامن وژل او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، ځيني ئې وايي: فرعون په خوب کي لیدلي وو چي په بني اسرائیلو کي به داسي څوك راپیدا شي چي د ده واکمني به گواښي او د ده تخت او تاج ته به تاوان رسوي، د دې احتمالی خطر د مخنيوي لپاره ئې د بني اسرائیلو د ماشومانو په وژلو لاس پوری کړ، ځيني نور وايي چي کاهنانو د دې احتمالی خطر اطلاع ورکړې وه؛ نو ځکه ئې د بني اسرائیلو زامن وژل!! خو که د دغو آراءو جرړو ته متوجه شو راته جوته کېږي چي دغو درنو مفسرينو په دې اړه د بایبل وینا ته اعتبار ورکړی او د بایبل تر اغېز لاندي تللي او همغه څه ئې ويلي چي محرف بایبل ويلي!! خو پورتنی آیت په ډېره واضحه توگه موږ ته لارښوونه کوي چي د ماشومانو له وژلو د فرعون هدف دا وو چي د بني اسرائیلو قوم ضعیف او کمزوری کړي، غوښتل ئې د دې قوم شمېر دومره زیات نشی چي دی او اقتدار ئې وگواښي، د دې خطر د مخنيوي لپاره ئې د هغوی زامن وژل. دې درنو مفسرينو د قرآن دې لارښوونې ته هم پام نه دئ کړی چي کاهنان، رمالان، نجوميان او له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي!!

عظيم الشأن قرآن فرمايي چي فرعون نه یوازې دا چي خپل مخالفين د زندان تورو خونو کي اچول بلکي په لاس او پښو ئې ورته مېخونه ټك وهل، حتی پر خپلي مېرمني ئې رحم ونه کړ، د هغې په لاسونو او پښو کي ئې هم مېخونه ټك وهل او دومره ئې وځوروله چي له الله تعالی ئې د مرگ هیله وکړه!!

## د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت

قرآن عظيم الشأن د فرعون او فرعوني نظام له معرفي وروسته او د قصې متن ته له ننوتلو

وړاندې، د الله تعالی هغه دائمي او نه بدلېدونکی سنت بیانوي چې د داسې ظالمانو او ظالمانه نظامونو د نسکورولو او د مظلومانو د ژغورنې لپاره ئې وضع کړی؛ فرمايي:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُواْ يَحْذَرُونَ ۝٦

او غواړو پر هغو پېرزوينه وکړو چې په زمکې کې ئې د بې وزلۍ لټه کېږي او پېشوايان ئې کړو او (د ټولو شتمنيو) وارثان ئې کړو او پر زمکې کې تمکين ورپه برخه کړو او له دوی فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښېو چې ترې وېرېدل.

(۵-۶)- يعني دا د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دئ چې بې وزلي ولسونه به له اسارت او محکوميت ژغوري، له دوی به د لويو لويو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواک د نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعيف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائيلو) په لاس له منځه وړي. الله تعالی به پرهغو کسانو احسان کوي چې په زمکې کې ضعيف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسې مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قيادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسې اقتدا وکړي، د زمکو او شتمنيو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سياسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په ميراث ورکړي، په زمکه کې اقتدار او تمکين دوی ته وسپاري، واک او صلاحيت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعيف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستی کړي چې په وېرې او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعيفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسې دئ چې لومړی له دغو بې وزلو او مستضعفينو په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي، هاماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قيادت له مقامه خلع کړي او دا قيادت مستضعفينو ته وسپاري، فرعونيان د ولس له سياسي او اجتماعي قيادت عزل کړي او دا قيادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلې شتمنۍ دوی ته په ميراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکري ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابير ئې نيول چې دا بې وزلي راويښ نه شي، يو بل ته لاس ورنه کړي، د نظام په ضد پاڅون ونه کړي، الله تعالی غواړي چې دوی ته همدا وروښيي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلي او مظلومان قوت ونه مومي، قيام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف

او ناتوانۍ کې ساتل، خو د الله تعالی سنت دا دئ چې پر مظلومانو او مستضعفانو به پېرزوینه او احسان کوي او فرعونیانو ته به هرو مرو هغه څه ښيي چې ترې وېرېدل.

## قیادت د هر نهضت پیلامه

قرآن عظیم الشأن فرمايي چې د دې الهي سنت د تحقق لړۍ د پیغمبر له بعثت او د قائد، مشر او زعیم له راپیدا کېدو وروسته پیل کېږي، قیادت او زعامت د دې کار مقدمه ده، د الله تعالی سنت او اراده د ولسونو د مقدراتو او برخلیك په ټاکلو کې همداسې ده، خو د دې سنت د تطبیق کار چې له کومه ځایه پیل کېږي؛ هغه د پیغمبر بعثت او د قیادت رامنځ ته کېدل دي، له همدې ځایه د آزادۍ نهضتونه او د استبداد ضد خوځښتونه پیل کېږي.

قرآن د مصر د هغه مهال حالت داسې انځوروي چې په ټول مصر باندې د شدید اختناق توري وریځې خورې وې، د اختناق حالت دومره شدید او خوف وېره دومره خوره وه چې حتی د موسی علیه السلام په شمول د بني اسرائیلو هر ماشوم هم د خپلو مېندو په غېږ کې خوندي نه وو، د فرعون جلادان د بني اسرائیلو د هر نوي زېږېدونکي ماشوم لپاره توره په لاس ولاړ ول، موسی علیه السلام په داسې سختو حالاتو کې نړۍ ته راغی چې مور ئې له دې عاجزه وه چې دی په خپلې غېږ کې وروزي، د قوم، ملت او ولس تأیید او ملاتړ خو پرېږده، حتی د خپلې مور له هغې لومړنۍ غېږې هم محروم شو، مور ئې مجبوره وه چې دی د ماشومتوب په حالت کې د اوبو څپو ته وسپاري!! خو قرآن فرمايي چې د الله تعالی سنت نه بدلېدونکی دئ، هېڅوك ئې د تحقق مخه نه شي نیولی، د چا په اړه چې الله تعالی غوښتې وي د یوه بې وزلي او مظلوم ولس د پاڅون لارښوونه وکړي، په طوفانونو او د څپاندو او مستو سیندونو په څپو کې به ئې وساتي، د فرعون په کور کې به ئې ستر کړي، د دښمن په خوا کې او حتی د هغه په لاس به ئې روزنه وکړي!! الله تعالی غوښتل چې موسی علیه السلام داسې وروزي چې د ولس د مشرۍ وړتیاوې په ده کې وده وکړي او د ضعف او حقارت هغه احساس په ده کې را پیدا نه شي چې عادتاً په یوې مظلومې او بې وزلې کورنۍ کې د روزل شوي انسان په زړه او دماغ توره پرده غوړوي. د یوه مظلوم ولس قیادت او مشرې هغه څوك نه شي کولی چې په خپله د حقارت احساس کوي، په کوم چاپېریال کې چې فقر او مسکنت وي، وېره او خوف وي او د قوم بچیان په مظلومیت، بې وزلۍ او خوف کې پیدا کېږي او ستر کېږي، گرانه ده چې په دغسې چاپېریال کې د روزل شوي او ستر شوي انسان پر زړه او دماغ د حقارت احساس وزر ونه غوړوي، د همدې لپاره حکیم خدای موسی علیه السلام د خپلې مور له غېږې جلا کړ او د فرعون کور ته ئې ولېږو چې هلته وروزل شي او د مشرتابه اړوند ځانگړتیاوې ورپه برخه کړي. قرآن فرمايي:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِي
وَلَا تَحْزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧﴾

او د موسی مور ته مو وحي وکړه چي ته ورکړه او کله چي پرې ووېرېدې نو سیند ته ئې وغورځوه، مه وېرېږه او مه غمجنه کېږه، موږ ئې حتماً بېرته ستا خوا ته راګرځوونکي او د پيغمبرانو له ډلي ئې ګرځوونکي یو.

(۷)- الله تعالی د موسی علیه السلام د مور په زړه کي دا خبره واچوله چي د فرعون جلادانو ته ئې ونه سپاري، پټ ئې وساتي، تر هغه ئې پټ وساتي او ته ورکړي چي کولی شي، کله چي يوه شي نور ئې پټولی نشي نو د لرګي په صندوق کي ئې کښېږدي او په سیند کي ئې پرېږدي، زړه ته ئې دا خبره لوېدلې وه چي الله تعالی به ئې بېرته روغ رمټ ورته راوګرځوي او له ده به پيغمبر او د بني اسرائيلو ناجي جوړ کړي. دې همدا کار وکړ، څه موده ئې په پټه تی ورکړ، خو کله چي خطر زيات شو هغه ئې د الله تعالی په نامه او د ژوندي پاته کېدو په هيله په صندوق کي د نيل څپو ته وسپارو.

د قرآن له دې او په همدې اړه له نورو مبارکو آيتونو څو خبري معلومېږي:

- د بني اسرائيلو لپاره د مصر وضعيت داسي وو چي مېندو خپل ماشومان په خپلي غېږ کي نه شو ساتلی، دا پرېکړه شوې وه چي د دوی نارينه ماشومان به وژل کېږي.
- الله تعالی د موسی علیه السلام د مور په زړه کي دا خبره واچوله چي دی تر هغه وپاله چي خطر احساس کړې، د خطر په صورت کي ئې سیند ته وغورځوه او ډاډه اوسه چي نه يوازي بېرته به ئې روغ رمټ درته راوګرځوو بلکي هغه به د پيغمبر په توګه غوره کړو.
- مور ئې دی په صندوق کي ايښی او په سیند کي ئې پرېښی، بايبل وايي چي هغه ئې په يوه شکور کي ايښي، خو قرآن دا ادعاء ردوي او ښايي د همدې ادعاء د ترديد لپاره د صندوق يادونه شوې وي، حقيقت همدا دئ چي شکور نه يو ماشوم د اوبو پر سر ساتلی شي او نه د هغه لپاره خوندي او مصئون ګڼل کېدی شي!!

فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًاۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا
كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ ﴿٨﴾ وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَۖ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰٓ
أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾

نو فرعونيانو تر لاسه کړ، چي دښمن ئې شي او د اندېښنو سبب، يقيناً چي فرعون، هامان او لښکري ئې اشتباه کوونکي ول او د فرعون مېرمني وويل: زما او ستا لپاره يو د سترګو يخوالی دئ، مه ئې وژنئ، ښايي ګټه راورسوي يا ئې په زوی ولېـ ونيسو او دا

په داسې حال کې چې دوی نه پوهېدل.

---

(۸-۹)- له دې آیتونو معلومېږي چې:

- صندوق په داسې وخت کې له سیند د فرعونیانو (آل فرعون) لخوا راایستل شوی چې فرعون او مېرمن ئې هم د سیند خوا کې وو.
- فرعون د ده د وژلو امر کړی او مېرمنې ئې ممانعت کړی او فرعون ته ئې ویلي چې هغه مه وژنه، پرېږده چې وئې ساتو؛ یا به ئې په زوی ولی‌ ونیسو او یا به کومه بله گټه راورسوي، ښایي له دې خبرې ئې مقصد دا وو چې یو بني اسرائیلي به زموږ په غېږ کې ستر شي او دا به باعث شي چې دا قوم زموږ د پېرزوینې مرهون او زموږ په وړاندې مطیع او تسلیم وي، زموږ په کورنۍ کې یوه ستر شوي مشر باندې به راغونډ شي او زموږ د نورو قبطي پلویانو په څېر به زموږ دفاع کوي!!
- فرعون، ستر مشاور ئې هامان او د دوی لښکري په دې نه پوهېدل چې په دې کار سره یو داسې دښمن په خپلې غېږ کې ساتي چې دوی ته به د ډېرو اندېښنو او غمونو باعث شي.

قرآن دا هم وايي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته په ماشومتوب کې داسې ځېره ورکړې وه چې د هر چا مینه پرې راتله: وَ أَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِى.

---

وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا إِن كَادَتْ لَتُبْدِى بِهِۦ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا
لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِۦ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمْ
لَا يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ
بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا
وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

او د موسی د مور زړه بې قراره شو، که د دې لپاره چې له مؤمنانو وي د دې زړه مو نه وی مضبوط کړی، نو نژدې وه چې ښرگنده ئې کړي او د ده خور ته ئې وویل: ورپسې شه! نو له گوښې گوښې ئې داسې تر سترگو لاندې نیولی وو چې هغوی پرې نه پوهېدل او تر دې مخکې مو تی ورکوونکې پرې منع کړې وې، نو وئې ویل: آیا داسې کورنۍ دروښیم چې درته وئې پالي او خواخوږي ئې وي؟ نو په دې توگه مو خپلې مور ته راوگرځاوو چې سترگې ئې پرې سړې شي، غمجنه نه وي او پوه شي چې د الله وعده رښتینې ده خو ډېری خلك نه پوهېږي.

---

(۱۰- ۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې څو لارښووني گورو:

- د موسى د مور زړه بې قراره او له صبر تش شو، بې قرارې ئې دې پړاو ته رسېدلې وه چې نژدې وه داسې کار وکړي چې ټوله خبره بربنډه شي، خو الله تعالی صبر ورکړ، که خبره افشاء شوې وی نو ښايي د موسى تر څنګ به دا هم په مرګ محکومېده، خو الله تعالى غوښتل چې نه يوازې موسى عليه السلام او د ده مور ژوندي پاته شي، بلکې د شاهي کورنۍ د يوه نازولي غړي په توګه د خپلې مور په غېږ کې ستر شي او پر مور ئې هغه ورځ هم وګوري چې موسى عليه السلام په پيغمبرۍ مبعوث شوی او دې ايمان پرې راوړی.
- خپلې لور؛ د موسى عليه السلام خور ته ئې ويلي چې ورپسې شه او وګوره چې د سيند څپې ئې چېرې وړي او څه ورسره کېږي.
- هغه عقلمنه او هوښياره نجلۍ وه، په احتياط احتياط ورپسې روانه وه، وئې ليدل چې د فرعونيانو لاس ته ورغی، د فرعون مېرمنې له خپل سيالو مېرمنو او وينزو غوښتې چې تی ورکړي؛ خو ده د هيچا پر تي خوله نه ده ايښې.
- د موسى عليه السلام خور چې له لرې ئې د صحنې تماشا کوله، چا ته ئې ويلي چې زه داسې مېرمن پېژنم چې د ماشومانو په ښه ساتلو کې خاص مهارت لري، ځواب ئې تر لاسه کړی چې راځې وله، خپله مور ئې راوستې، کله چې هغې موسى خپل تي ته نيولی، تی ئې رودلی، د فرعون مېرمنې د ماشوم د ساتلو او پاللو دنده دې ته سپارلې.
- د الله تعالى وعدې رښتينې دي؛ چې دا ئې يوه بېلګه وه.

## قائد او (علم) او (حکمت) ئې

قرآن فرمايي چې موسى عليه السلام په داسې ماحول کې ستر شو چې پخې ځوانۍ ته د رسېدو پر مهال ئې هم (حکم) په برخه شو او هم (علم):

---

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسۡتَوَىٰٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤

او کله چې پوخوالي ته ورسېد او تکړه شو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو.

---

(١٤)- يعني کله چې موسى عليه السلام خپل قوت او کمال ته ورسېد، د ځوانۍ هغه پړاو ته چې د انسان ټول قوتونه او استعدادونه په کې کمال ته رسېږي، نو موږ ورته علم او حکمت ورکړ، دا الهي پېرزوينه يوازې د ده په اړه نه وه، دا عام الهي سنت دئ، له نورو نېکانو سره به هم دې ته ورته معامله کېږي، (و كذلك نجزی المحسنين: همدغسې ټولو نېکانو ته بدله ورکوو)، هرڅوك چې د نېکۍ لاره غوره کړي؛ دغسې به الله تعالى هغه ته نېکه بدله ورکوي، علم او حکمت به ئې په برخه کوي.

دا آيتونه موږ ته ښيي چې د قيادت او زعامت لپاره يوازې (علم) کافي نه دئ، بلکې د علم تر څنګ (حکمت) ته هم اړتيا شته، د قرآن په ځای ځای کې به دا مطلب ستاسو مخې

ته راشي چې پيغمبران عليهم السلام له (علم) او (حکمت) سره د خپل امت په لوري تللي او دوی ته ئې هم د علم ښوونه کړې او هم د حکمت. يعني يوازي په حقائقو پوهېدل کافي نه دي، د حقائقو پلي کول، تطبيقول او د تطبيق په لارو چارو ئې پوهېدل ترهر څه د مخه ضروري دي. الله تعالی موسی عليه السلام ته هم علم ورکړ او هم حکمت، ګورئ چې د يوه اجتماعي انقلاب لړۍ د داسي قيادت له راپيدا کېدو پيل کېږي چې الله تعالی هم (علم) ورکړی او هم (حکمت).

بايد وګورو چې دا کوم (علم) او کوم (حکمت) دئ چې له پيغمبرۍ وړاندي او د همدغي ځوانۍ په دوران کي د موسی عليه السلام په برخه شوی؟! آيا معنی ئې دا ده چې هغه ديني علم له مذهبي کورنۍ تر لاسه کړی او (حکمت) او د زعامت او قيادت هنر د فرعون په کور کي، څکه مخکيني آيتونه د موسی عليه السلام د روزنې چاپېريال داسي انځوروي چې له يوې خوا ئې له خپلي مذهبي کورنۍ سره اړيکي ټينګي دي او ديني پوهه له دې ځايه تر لاسه کوي او له بلي خوا د فرعون په دربار کي د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توګه د ده لپاره د ډېر څه زده کولو شرائط برابر دي، په دې توګه الله تعالی ده ته له يوې خوا ديني علم ورکړ او له بلي خوا ئې هغه بصيرت او حکمت ور په برخه کړ چې د ولس د قيادت او مشرتابه لپاره ضروري وي، او که له دې پرته د علم او حکمت تر لاسه کولو کومه بله مرجع ئې هم په برخه شوې؟

د قرآن په ځينو نورو آيتونو کي له غور او دقت وروسته معلومېږي چې موسی عليه السلام د خپلي پوهي او علم تر لاسه کولو يوه بله مرجع هم موندلې وه، د يوه عالم شخصيت په لټه کي په اوږده سفر وتلی وو، څه موده ئې د هغه ملګرتيا کړې وه او له هغه ئې علم تر لاسه کړی، خو دا څوك وو؟ چېري ئې موندلی؟ څه ئې ترې زده کړي؟ قرآن د دې پوښتنو ځواب په دې توګه موږ ته راکوي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ

بِهِۦ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْـَٔلْنِي عَن شَيْءٍ حَتَّىٰٓ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾ الكهف

او کله چې موسی خپل زلمکي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چې مجمع البحرين (د دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) درومم. نو کله چې د دواړو يوځای کېدو سيمي ته ورسېدو نو دواړو خپل کب هېر کړ، چې په عجيبه توگه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله او ولاړ. نو کله چې تېر شول خپل زلمکي ته ئې وويل: غرمنی (خوراك) مو راته راوړه؛ په رښتيا چې له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه کړو)، وئې ويل: په ياد دې دي کله چې هغې لويې ډبرې ته مو پنا يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسې شيطان رانه هېر کړ چې يادونه ئې (درته) وکړم، او په عجيبه توگه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله. وئې ويل: همدا هغه څه دئ چې موږ ئې غواړو، پر خپلو پلونو گام په گام په شا وگرځېدل، نو زما له بندگانو ئې داسي يو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانگړی علم ورزده کړی وو. موسی ورته وويل: آيا کېدی شي د دې لپاره ستا متابعت او ملگرتيا وکړم چې د هغه رشد او پوهې څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړی شوی؟ هغه ورته وويل: ته زما په ملگرتيا کې صبر نشې کولی، څنگه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه يې؟ وئې ويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کې به له تا سرغړاوی ونه کړم. وئې ويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وکړم.

په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښوونې زموږ مخې ته اېښودل شوې:

- موسی عليه السلام ته د يوه پوه او عالم شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چې دا کس حتماً وگوري، څه وخت ورسره پاته شي او څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوځېدلی، يو کس ئې د خادم او ساتونکي په توگه له ځان سره کړی. د موسی عليه السلام د سفر ملگری د (فتا: غلام او خادم) په نامه ياد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال تر سره شوی چې موسی عليه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توگه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، دا ځکه چې قرآن د يوسف عليه السلام ساتونکي او خدمتگاران هم په دغه نامه يادکړي.
- دا سفر اوږد او ستونزمن وو، د ده دا وينا چې يا به مجمع البحرين ته رسم او يا خو به همداسي تر اوږدې مودې دروم، همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحيح نه ده چې وايي: موسی عليه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، هملته ئې پوخ ماهي ترې ورك شوی او خضر عليه السلام

ځې همغلته موندلی!!

• دا سفر د دوبي په ګرميو کې تر سره شوی، د تودوخې له کبله ئې د غرمې مهال د يوې لويې ډېرې سيورې ته پنا وړې وه.

• لکه څنګه چې د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په روايت کې راغلي؛ موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چې د سفر په دوران کې به په سيند کې روان کب ستا لپاره لارښود او نښه وي، د هغه په خوا کې درومه، په هر ځای کې چې درنه ورك شو نو مجمع البحرين همغلته دئ او دغه عالم به همغلته ومومې.

• موسی عليه السلام خپل ملګری په دې ګمارلی وو چې په سيند کې روان کب به ترنظر لاندې نيسي، که ترې ورك شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، خو کله چې دې کب خپل مسير بدل کړی او په بل لورې تللی نو له ملګري ئې دا خبره هېره شوې او هغه مهال ئې موسی عليه السلام ته کړې چې هغه د خوراك غوښتنه ترې کړې.

• په خپله مخه د کب تلل ښيي چې مجمع البحرين همدلته وو، کب خپله لاره بدله کړې او په هغه لورې تللی چې له بل اړخ بل سيند له نيل سره يو ځای شوی، نو ځکه موسی عليه السلام خپل ملګري ته وويل: موږ د همدغه ځای (مجمع البحرين) په لټه کې وو. دې ته مو هم بايد پام وي چې هغه پلې نابلد مسافر ته چې د لوی سيند په ژۍ بري خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چې د دوو سيندونو د يو ځای کېدو ځای په دقيقه توګه تشخيص کړي، دا ځکه چې ډېر ځلي لوی سيندونه په يوه ځای کې ووېشل شي او په بل ځای کې ئې وېشل شوې څانګې بېرته سره يو ځای شي، دې ته مو هم بايد پام وي چې الله تعالی کبان داسې پيدا کړي چې په ژمي کې تودو سيمو ته کوزېږي او په دوبي کې بېرته خپلو اصلي سړو سيمو ته درومي، کله کله د دوی دا ژمنی او دوبنی سفر سلګونه کيلومتره اوږد وي، د نيل کبان د دوبي (اوړي) په موسم کې له مصر د سودان او په يوګندا او ايتوپيا کې د نيل د سرچينو په لورې درومي.

• لکه څنګه چې د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په يوه روايت کې راغلي دا عالم شخص خضر عليه السلام وو، روايت داسې دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: هُوَ خَضِرٌ فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، فدعاه ابن عباس فَقَالَ: إِنِّي تَمَارَيْتُ وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِى سَأَلَ السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، فَهَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ شَأْنَهُ؟ فَقَالَ: إنى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول: "بَيْنا مُوسَى فى مَلأ مِنْ بَنِى إِسْرَاءِيلَ إِذْ جاءَهُ رَجُلٌ فَقالَ: تَعْلَمُ مَكانَ أَحَدٍ أَعْلَمَ مِنْكَ؟ قال مُوسَى: لا فَأَوْحَى اللهُ إلى مُوسَى: بَلى عَبْدُنا خَضِرٌ، فَسأَل مُوسَى السَّبِيلَ إلى لُقِيِّه، فجَعَلَ اللهُ لَهُ الحُوتَ آيَةً،

وقِيلَ لَهُ: إِذَا فَقَدْتَ الحُوتَ فارْجِعْ فإِنَّكَ سَتَلْقاهُ، فكانَ مُوسَى يَتْبَعُ أَثَرَ الحُوتِ فى البحُرِ، فَقال فتَى مُوسَى لِمُوسَى: أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنا إِلى الصَّخْرَةِ، فإِنِّي نَسِيتُ الحُوتَ، قالَ مُوسَى: ذلكَ ما كُنَّا نَبْغِ، فارْتَدَّا على آثارِهِما قَصَصًا، فَوَجَدَا عَبْدَنا خَضِرًا. رواه البخارى، احمد، الطبرى و غيرهم

دا روایت څو خبري زموږ مخي ته ږدي: دا عالم او پوه شخص خضر علیه السلام وو. موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چي په ژوندي ماهي پسي روان شي، په هر ځای کي چي ترې ورك شو هملته به خضر وومومي. موسی علیه السلام د سفر ملګری په دې ګمارلی وو چي په سیند کي روان کب به تر نظر لاندي نیسي، کله چي ترې ورك شي نو ده ته به خبر ورکوي، دوی د سفر په دوران کي د تودوخي په وجه د کوم کمر سیوري ته پنا وړې، په همدې وخت کي کب خپله لار بدله کړې او د هغه ځوانکي له سترګو غائب شوی، کله چي بیا خوځېدلي، له څه مزل وروسته موسی علیه السلام له هغه غرمنی خوراك غوښتی، په همدې وخت کي هغه ته د کب د غائبېدو خبره ورپه یاد شوې او موسی علیه السلام ته ئې یادونه کړې، موسی علیه السلام ورته ویلي چي موږ د همدې ځای په لټه کي وو، بېرته راستانه شوي او خضر علیه السلام ئې هملته موندلی.

خو دا روایت په بخاري کي دولس ځلي نور هم راغلی، په دې کي درې ځلي نور د پورتني روایت په څېر دئ او شلور ځلي داسي راغلی چي له پورتني سره ژور تعارض لري او په کي راغلي چي موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چي وریت شوی کب په ټوکرۍ کي ورسره واخلي، په دغو شلورو کي هم ژور توپیرونه تر سترګو کېږي، دا په داسي حال کي چي د ټولو دیارلسو روایتونو راوي یو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ویلي چي کوم روایت ئې تر نورو غوره، دقیق او صحیح دئ، هغه له بېلو بېلو راویانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دغو متعارضو روایاتو به یو غوره کوو، یا هغه چي وایي موسی علیه السلام ته په سیند کي روان کب د نښي په توګه ټاکل شوی وو یا هغه چي وریت شوی کب نښه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري به هرومرو ویلي وو چي کوم ئې ضعیف دئ او کوم ئې صحیح. مجبور یو د قرآن په رڼا کي او د درایت له مخي ارجح روایت تشخیص کړو، د دې روایت په اړه ډېري داسي پوښتني راولاړېږي چي ځواب ئې نشي ویل کېدی، پوښتني دا دي:

- د روایت په سر کي دا الفاظ راغلي: كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ: د خدای دې دښمن دروغ ویلي! د عبدالله بن عباس غوندي له شخصیت لري خبره ده چي د یوه کس د ادعاء له مخي د بل چا په اړه داسي وینا وکړي. شریعت داسي قضاوت جائز نه ګڼي چي د یوې لانجې د دواړو خواوو د ویناوو له اورېدو مخکي وي.
- دا روایت وایي چي موسی علیه السلام له بعثت وروسته دا سفر کړی، حال دا چي له

بعثت وروسته هغه د ټول عالم لپاره لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم كس په نړۍ كې نه وو، ولې به الله تعالی د دې خبرې په كولو تر عتاب لاندې نيولو چې د يو چا په ځواب كې ئې ويلي وو: تر ما بل پوه كس نشته؟! پيغمبر عليه السلام په وار وار صحابه وو ته ويلي چې تر تاسو ټولو ښه پوه يم، او صحابه وو هم ويلي چې الله او د هغه رسول تر ټولو زيات پوه دي.

- قرآن وايي چې موسی عليه السلام تر بعثت وروسته يوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم لرې شوی چې د ده په غياب كې سامري وغولول، كه دا سفر تر بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت كړی وو. له بعثت وروسته هغه د سينا په صحرا كې وو، هلته نه سيندونه وو او نه مجمع البحرين.
- كه وريت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی عليه السلام به څنګه خپل خادم ته ويل چې هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت كې خو به ئې تل له ځان سره ساتو او له خوړلو به ئې ډډه كوله.
- دا روايت وايي چې وريت شوی كب ژوندی شو او سيند ته ئې ټوپ كړل او موسی عليه السلام او ملګری ئې حيران شول، خو قرآن وايي چې د كب د غائبېدا او تګ صحنه يوازې د موسی عليه السلام ملګري ليدلې وه نه موسی عليه السلام، د روايت دا وينا د قرآن له وينا سره په بشپړه توګه تعارض لري.
- خضر عليه السلام څنګه موسی عليه السلام ته ويلي: ما ته داسې علم راكړی شوی چې تا ته نه دئ دركړی شوی او تا ته داسې علم دركړی شوی چې ما ته نه دئ راكړی شوی؟! كوم علم ده ته وركړی شوی وو؟ علم غيب خو نشي كېدی!! ځكه چې هغه د ملاقات پر مهال موسی عليه السلام ونه پېژندو.
- د خضر عليه السلام په لاس د كافر او مفسد ځوانكي د وژل كېدو په اړه دا الفاظ راغلي چې منل ئې ګران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلَاهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ : نو خضر د سر له لوړې نه ونيو او په خپل لاس سره ئې سر ترې وايست!!

د موسی عليه السلام د سفر مربوط ابتدائي آيتونه دا دي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ الكهف

د دې آيتونو له هيڅ لفظ؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې معلومېږي چې وريت شوى كب ژوندى شوى او له ټوكرۍ ئې سيند ته ټوپ كړي؟ كه دا كار شوى وى نو قرآن به په صريحو الفاظو هغه ته اشاره كړې وه، او كه د موسى عليه السلام ملګري داسې صحنه په سترګو ليدلې وى نو له ډېرې حيرانتيا به ئې يا داسې چيغه له خولې وتلې وه چې موسى عليه السلام به ئې له خوبه راويښ كړى وى او كه ئې ډېر صبر كړى وى نو د ده له وېښېدو وروسته به ئې فوراً دا خبره ورته كوله، لږ تر لږه هغه مهال خو به ئې دا خبره كړې وه چې تشه ټوكرۍ ئې له ځان سره وړله، دا داسې خبره نه ده چې څوك ئې هېره كړي، او څو ساعته وروسته ورپه ياد شي، قرآن وايي چې دواړو خپل كب هېر كړ (نسيا حوتهما)؛ يعنې دواړو دې خبرې ته نه وو پام چې كب به تر نظر لاندې نيسي، قرآن ورپسې د موسى عليه السلام د ملګري دا وينا راوړې: شيطان رانه هېره كړه چې يادونه ئې وكړم، كب په عجيبه توګه پر خپله مخه ولاړ، د دې خبرې معنى دا ده چې يوازې د موسى عليه السلام ملګري دا صحنه ليدلې وه، نه موسى عليه السلام. دغو خبرو ته په پام سره په يقيني توګه ويلى شو چې دا روايت ډېر اشكالات لري او هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او د قرآن له وينا سره اړخ لګوي.

كله چې موسى عليه السلام له خضر عليه السلام سره مخامخ شوى له هغه ئې غوښتي چې څه موده ئې له ځان سره د ملګري په توګه ومني او هغه څه وروښيي چې الله تعالى ده ته ورښودلي. هغه په ځواب کې دوه خبرې ورته كړې: ١- ته زما په ملګرتيا کې صبر نشې كولى، ښايي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته كړې، هغه ئې په سوكالۍ او رفاه کې ستر شوى زلمى موندلى او د ځان د ستونزمنو او خطرناكو سفرونو د ملګرتيا جوګه ئې نه دئ ګڼلى؛ نو ځكه ئې دا خبره ورته كړې. او بيا ئې ورته ويلي: څنګه به په هغه څه صبر وكړې چې پرې خبر نه يې؟ ٢- او كه سره له دې زما متابعت كوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وكړم. له دې معلومېږي چې خضر عليه السلام ډېر محتاط شخصيت وو، خپل نژدې د سفر ملګرى ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسى عليه السلام ئې دا شرط ومنلو چې د اسرارو پوښتنه به نه ترې كوي، مګر هغه مهال چې دى ئې په خپله يادونه وكړي. له دې دا هم معلومېږي چې خضر عليه السلام په سرې مبارزې بوخت وو، د دې خبرې حقيقت هغه مهال موږ ته لاښه جوت كېږي چې د دوى دواړو د ملګرتيا درې پېښې په دقت سره له نظره تېرې كړو. د موسى عليه السلام مخكينى د سفر ملګرى له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته كوي. موسى عليه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه كوي.

له دې آيتونو دا خبره په ډېره واضحه توګه معلومېږي چې د دغو دواړو شخصيتونو تر منځ دا ملاقات هغه مهال تر سره شوى چې موسى عليه السلام لا په پيغمبرۍ نه وو مبعوث شوى، دا ځكه چې له بعثت وروسته هغه د ټولې نړۍ لپاره لارښود شو، دا ضرورت ئې نه وو چې له خضر عليه السلام څه زده كړي.

ډېره عجيبه ده، د قرآن له داسې قصې او مضمون چې هر مخاطب ته د سري مبارزې درس ورکوي، غرضي او مرضي خلکو داسې افسانه جوړه کړې چې د مخاطب ذهن تخديروي او له سره تر پايه غلط افکار القاء کوي، چېرې د خضر عليه السلام هغه درې جهادي کارونه او چېرې دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چې هغه په غيب پوهېدو او کارونه ئې غیرعادي وو.

دلته بايد د دې مبارك آيت په وړاندې لږ توقف وکړو، او په معنی ئې ځان پوه کړو:

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾ الكهف

نو زما له بندګانو ئې داسې يو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانګړی علم ورزده کړی وو.

د دې آيت د (من لدنا علماً) له فقرې ځينو متصوفينو د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې او وايي چې دا علم د تعليم، تعلم، ليك او لوست له لارې نه تر لاسه کېږي، آناً او له مقدمې پرته انسان ته القاء کېږي، دا اصلي او حقيقي علم بولي او هغه علم ته د پوستکي او ظاهري علم په سترګه ګورې چې د تعليم او تدريس له لارې او په ليك لوست تر لاسه کېږي!! د دغو جنابانو په ځواب کې وايو:

- دا له ځانه جوړه شوې بې بنسټه اصطلاح ده.
- له (لدني علم) ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعليم او ليك لوست پرته تر لاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هيڅوك نه لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعليم، تدريس، ليك او لوست له لارې علم تر لاسه کوي، قرآن د پيغمبر عليه السلام په اړه فرمايي چې تر بعثت مخکې لار ترې ورکه وه، سمه لار ئې نه پېژندله:

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ الضحى

مګر نه ئې وموندلې يو يتيم او د تېکي ځای ئې درکړ؟ مګر نه ئې وموندلې يو لار ورکی او لار ئې وښودله؟ او نيازمند ئې وموندلې، خو غنا ئې کړه په برخه؟

همدا راز فرمايي چې له بعثت مخکې نه په کتاب پوهېدو او نه د ايمان په حقيقت او معنی:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾ الشورى

همداسې مو تا ته له خپل لوري د خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنی او حقيقت) پوهېدې، خو موږ داسې نور وګرځاوو چې له خپلو

بندګانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې، او بې شکه چې ته د مستقيمي لارې خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د هر انسان علم په حقيقت کې د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهې او معرفت وسائل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په يوه څه د پوهېدو مجال او شرائط هم الله تعالی ورته برابروي. قرآن په دې اړه فرمايي:

يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ البقرة

په داسي حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي يا ئې شا ته دي او دوی د ده د علم يوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي،

يعني دا الله تعالی دئ چې هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګې، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي. د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانيستل کېږي او په هرې نوې خبرې چې د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي، د ده هر( کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقيقت کې د الله تعالی يوه پېرزوينه ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانيستل کېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفيق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، چې حقيقت همداسي دئ نو تاسو ما ته ووايئ چې ولې د خضر عليه السلام علم استثنايي علم ګڼئ او د (لدني علم) نوم ورکوئ؟!!

او د درېيم تعبير په صورت کې بايد پوه شئ چې له عيسی او يحيی عليهما السلام پرته نه الله تعالی چا ته په وړوکتوب کې فوق العاده علم ورکړی او نه ئې په پيغمبرۍ مبعوث کړی، عيسی عليه السلام ته په ماشومتوب کې يوازې څو خبرې ښودل شوې، جامع علم ئې هغه مهال په برخه شو چې انجيل پرې نازل شو.

پيغمبرانو عليهم السلام ته چې د وحي له لارې کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدريجي توګه او د کتاب او صحيفې په بڼه کې ورکړی شوی، نه دا چې په يو ځل او په بشپړه توګه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پيغمبر عليه السلام په تدريجي توګه نازل شوی، دا د ټولو فقهاءو او علماءو متفقه قول او د قرآن د صريحو آيتونو مطابق نظر دئ، يوازې افراطي او غلات شيعه او ناپوه متصوفين ورسره مخالفت لري، دا په داسي حال کې چې پيغمبر عليه السلام د هرې قضيې او پېښې په اړه د وحي نزول ته انتظار کړی، د وحي له راتلو مخکې نه پوهېدو چې څه حکم وکړي.

اوس موږ ته ووايئ چې تاسو د کوم منطق له مخې د (لدن) له لفظ (لدني علم) اخلئ

او ادعاء کوئ چې دا علم له تعليم او تدريس، ليك او لوست پرته تر لاسه کېږي؟ آيا له دې حقيقت خبر نه يئ چې دا د محرف بايبل غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چې قرآن ئې په کلکه ردوي او د قرآن لومړي نازل شوي آيتونه د بايبل د دغې ادعاء خلاف وايي چې د انسان علم اکتسابي دئ، د قرائت او ليك لوست له لاري تر لاسه کېدی شي او الله تعالی د قلم له لاري انسان ته هغه څه ښيي چې نه پرې پوهېږي: قرآن فرمايي:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ العلق

۱- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پيدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ۳- ولوله چې رب دې ډېر کريم دئ. ٤- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. ۵- انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آيتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

• د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي. او دا د ټولو هغو کمعقلو په خوله سخت گوزار دئ چې د (لدني علم) بې بنسټه خبره ئې جوړه کړې.

• دا د الله تعالی د کرم او پېرزويني ځرگنده نښه ښودل شوې چې انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو گټه واخلي، د معلوماتو د ضايع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کې نه گورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتيا ايښې ده چې له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی.

• په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

• (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لاري پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

• لکه څنگه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملکه ايښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړې او تعليم او

تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البيان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) ملَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافيالضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو نه په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم ايښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانګړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی.

• په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدريج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په ختهه او دماغ کې ايښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهيم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفيد او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زيات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمير کې ئې ايښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (ليکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفيت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په ليك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

سره له دې چې عظيم الشأن قرآن (قلم)، (ليك) او (لوست) ته دومره اهميت ورکړی او سره له دې چې پيغمبر عليه السلام ته د وحي په پيل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ويل شوي چې قلم د تعليم او تعلم ستره وسيله ده، خو متأسفانه ځيني متصوفين دا ستر او څرګند حقيقت له پامه غورځوي او ادعاء کوي چې له قرائت، تعليم، تدريس، ليك او لوست پرته هم (علم) تر لاسه کېدی شي، نو د علم د زده کړې لپاره مدرسې ته مه ځه، د عالم مخې ته مه کښېنه، کتاب او قلم پرېږده، خانقاه ته ولاړ شه، د مرشد لمن ونيسه، د کوم قبر خوا ته دېره شه، (لدني علم) به دې په برخه شي، سترګې به دې پرانيستلې شي او په غيبي حقائقو به پوه شې!! دا همغه خبره ده چې محرف بايبل ئې کوي!!

تاسو د قرآن دا علمي، دقيقه او په حقيقت او واقعيت ولاړه وينا د بايبل او د بايبل تر اغېز لاندې د تللو متصوفينو له دغې بې بنسټې ادعاء سره مقايسه کړئ چې وايي: انسان د

معرفت د ونې مېوه وخوړه، سترګې ئې پرانیستلې شوې او د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو!!

بایبل وايي: آدم او حوی علیهما السلام په جنت کې د دوو ونو د مېوو له خوړلو منع شوي وو: د (معرفت ونه) او د (حیات ونه)، او ورته ويل شوي وو چې که دا مېوه وخورئ نو حتماً مرئ!!

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام ته د کومې مېوې د نه خوړلو توصیه شوې وه او ګواښل شوی وو چې که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حیات د ونې که د معرفت د ونې؟ طبیعي ده چې دا د حیات د ونې مېوه نه شي کېدی دا ځکه چې هغه خو په مرګ نه بلکې په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمې خبرې معنی خو دا ده چې که ته د معرفت تر لاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د ونې) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، یعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د ونې مېوه مه خوره؛ ځکه چې دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي! په دې اړه څو پوښتنې لرو:

- آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولې مړ نه شو؟ ولې د بایبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ويلي وو چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!
- د انسان د مرګ یو ستر عامل خو د بایبل د خبرې برعکس د ده عدم معرفت دئ، هغه که له بیمارۍ مري وجه ئې دا ده چې د دې بیمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چې معرفت ئې ناقص دئ، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دئ نه د مرګ باعث، الله تعالی به څنګه ده ته وايي چې د معرفت د ونې مېوه ستا د مرګ باعث کېږي؟!!
- که چا ته د معرفت ورکول په دې توګه وی نو پیغمبرانو علیهم السلام ته به همداسې لدني علم ورکول کېدو او پر دوی به په تدریج سره د کتاب د نازلېدو ضرورت نه وو!!

راشئ د بایبل د دغې وینا په وړاندې لږ توقف وکړو، د بایبل په درېیم فصل کې، د انسان سقوط تر عنوان لاندې په لومړیو ۱۹ جملو کې دا مطالب لولو:

"مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرك وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي يئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانیستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په

برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانستلې شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې یې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکې تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر کله چې ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاورې به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاته دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پنډۍ چیچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چې د خپلې ښځې خبره دې ومنله او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چې درته ویلي مې وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت لاندې راشي او ته به په خپل ټول عمر کې په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې تر لاسه کوې، له زمکې به اغزي او خاشاك درته راټوکېږي او د بېدیا بوټي به خورې، د عمر تر پایه به د تندې په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کې به همغې خاورې ته بېرته ورګرځې چې ترې واخیستی شوې، دا ځکه چې ته له خاورو جوړ شوی یې او خاورو ته به بېرته ورګرځې، آدم خپله ښځه حوی (یعني ژوندون) ونوموله، ځکه چې دا باید د ټولو ژوندیو مور شي!!!

په دې برخې کې دومره بېهوده او د خندا وړ خبرې دي چې انسان ورته حیران شي، نه پوهېږو مسیحیان او یهودان څنګه دا خبرې د الله تعالی له لورې او د یوه مقدس آسماني کتاب خبرې ګڼي!! لاندې څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وایي مار تر ټولو حیواناتو زیات زیرك دئ، حال دا چې د مار زیرکتیا تر ډېرو ډېرو حیواناتو لږ ده.
- وایي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وایي: مار ښځې ته وویل: خدای تاسو ته حقیقت نه دئ ویلی، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقیقت دا دئ چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای په دې خاطر نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره

تاسو د خدای په څېر معرفت تر لاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړيږي، هغه نه غواړي چي رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغي مېوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چي د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

قرآن دا موضوع د يوې ډېري ژوري علمي موضوع په توګه څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چي د عالَم په ټولو ژوو کې يوازې انسان داسي پيدا شوی چي مجبور دئ د مفيد او مضر خوراك په اړه له بله معلومات تر لاسه کړي، نور ژوي داسي پيدا شوي چي د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چي کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد ايښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځي سم او ناسم خوراك معلوموليَ شي، د آهو (غرڅه) بچی، وری، سېرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کې د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکې دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا ځکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د ځمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښايسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له يخنۍ ساتي او هم په دوبي کې له تودوخي. د ځينو لباس خو دومره ښايسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنګ کې داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې يوازې انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چي انسان په سر کې داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هيڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو د يوې اشتباه په نتيجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وايستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځيني ئې يوازې د ځان پټولو لپاره، ځيني ئې د ښايست او سينګار لپاره او ځيني ئې د تقوی لباس، سنګين، باوقاره او د ګناه مانع لباس. د بايبل ليکونکي د آدم عليه السلام بربنډېدا هغسي توجيه کړې، له

سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بايبل تر اغېز لاندې راغلي خلك د آدم عليه السلام له لومړني لباس داسې تعبير لري چې ګواکې دا به له وړيو، وربښمو، سنډو او يا مالوچو اوبدل شوې كومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه كړې، الله چې كومه جامه وركوې هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوى نه د قرآن الفاظو ته پام كړى او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، يوې خوا ته په مليونونو هغه ژوي ګوري چې په ښايسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته يوازې بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوى چې له وړيو، وربښمو، سنډو، نيلون او يا مالوچو ځان ته جامه جوړه كړي، قرآن په دې سره يو ستر علمي حقيقت بيان كړى خو د اسرائيلي رواياتو په دام كې پرېوتو كسانو له دې افسانه جوړه كړې.

له كومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوى او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوى، نو همدا جامه د انسانانو تر منځ د تفريق، تبعيض او يو پر بل د لويي او تېري وسيله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه كې څومره ظلمونه كېږي، په عسكرې او پوليسي جامو كې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول كېږي، څومره شريف انسانان د خړو جامو په سبب تحقير كېږي، څومره ذليل انسانان په فاخره جامو كې تر نورو ځان لوړ ګڼې، نه ګورئ چې يوه له خپلې جامې د ګيدړې پوستكى جوړ كړى خلك پرې غولوي، بل له جامو د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سينه كې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسې ښيي چې زمرى دئ خو تر ګيدړ به زيات بې زړه او جبون وي. الله تعالى انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخې او يخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په دريو ډولونو وېشلى: د ځان پټولو لباس، د ښايست لباس او د تقوى لباس، خو انسان له خپلې جامې يا د غولولو وسيله جوړه كړې، يا د ظلم او تېري وسيله، يا يو پر بل د لويي او تكبر ذريعه!!

د بايبل دا خبره تر ټولو حيرانوونكې ده چې وايي: د همدې ورځې په مازديګر كې، آدم عليه السلام او ښځې ئې د خداى غږ واورېدو چې په باغ كې ګرځېدو، نو په ونو كې پټ شول، خداى آدم ته غږ كړ: اې آدمه! چيرې يې، ولې پټيږې؟ آدم ځواب وركړ: ستا غږ مې په باغ كې واورېدو، ووېرېدم، دا ځكه چې لوڅ وم، نو ځكه پټ شوم، خداى وفرمايل: چا درته وويل چې لوڅ يې؟ آيا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع كړى مې وې؟ آدم ځواب وركړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راكړه او ما هم وخوړه، دلته نو خداى له ښځې وپوښتل: دا څه كار وو چې تا وكړ؟ ښځې وويل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- بايبل الله تعالى داسې معرفي كوي: په يوه وړوكي باغ كې ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم عليه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خداى نه پوهېدو چې آدم چېرې دئ، غږ ئې ورته وكړ: اې آدمه چېرې يې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوى دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له

آدم علیه السلام پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چي لوڅ يې؟ آيا هغه مېوه مو خوړلې چي درته مي منع کړې وه؟!! له دې هم نه وو خبر چي ښځي دا کار کړی!! او له دې هم چي مار غولولې وه!!

• په دې سزا هم لږ غور وکړئ چي مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دي په سينه خوځېږي، خاوري دي خوراك شه!! پوښتنه کوو: آيا مار له دې د مخه په سينه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حيوانات او خزندې چي په سينه خوځېږي هغوی ته د کومي ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چي د مار خوراك خاوره ده!! هيڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراك خاوره نه بلکي د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حيوانات دي!!

• ښځي ته چي کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دي زيات شه!! د خاوند د اشتياق په اور وسوزې، هغه دي پر تا برلاسی وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حيواناتو ته چي د اولاد زېږولو په وخت کي همداسي د درد احساس کوي، د کومي ګناه سزا ورکول کېږي؟! د مېړه اشتياق خپلي مېرمني ته زيات دئ که د مېرمني خپل مېړه ته؟ مګر دا اشتياق سزا ده؟ په ټولو ژوو کي دا اشتياق شته، دوی ته د کومي ګناه په وجه دا د اشتياق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتياق خو سزا نه بلکي د الله تعالی یوه لويه پېرزوينه ده، د انسان او حيوان د نسل د دوام يوه ستره وسيله ده، تاسو ولې دې اشتياق ته د سزا په سترګه ګورئ؟ قرآن خو د ښځي او مېړه تر منځ دا الفت، مينه او اشتياق د الهي رحمت او پېرزويني يوه ستره بېلګه ګڼي!! آيا دا سمه ده چي د نارينه سلطه او برلاسی پر خپلي مېرمني ښځي ته سزا وګڼو؟! دا برلاسی يوه طبيعي مسئله ده، په اکثرو حيواناتو کي هم د دې شاهد يو، داسي چي نارينه د ښځي ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسي نه يوازې ښځي ته سزا نه شو ګڼلی بلکي د ښځي لپاره يوه ستره الهي پېرزوينه ده، چرګ له خپلو چرګو دومره دفاع کوي چي پرې زخمي زخمي شي، همداسي بې شمېره نور مرغان او حيوانات، هيڅ عاقل انسان به د بايبل دا وينا د منلو وړ ونه ګڼي.

بايبل ورپسې ليکي:

(خدای د حيوان له پوسته لباس جوړ کړ او آدم او مېرمني ته ئې ورواغوست، بيا خدای وفرمايل: اوس چي آدم زموږ په څېر شوی او ښه او بد پېژني، بايد پرې ئې نږدو چي د "حيات د ونې" مېوه هم وخوري او تر ابده ژوندی وي، نو خدای دی د عدن له باغه وايست، چي ولاړ شي او په هغي زمکي کي کار وکړي چي له خاوري ئې جوړ شوی، په دې توګه ده آدم د عدن له باغه وايست او د عدن د باغ په شرقي برخي کي ئې د اور په داسي سرو تورو سمبال فرشتې وګمارلې چي هري خوا ته څرخي، د دې لپاره چي د حيات د ونې لاره خوندي وساتي!!)

د دې کرښو د مطالبو په اړه څو پوښتني راولاړېږي:

- مخلوقاتو ته د لباس په ورکولو کې د الله تعالی سنت داسې نه دئ چې د کوم درزي په څېر چا ته لباس جوړ کړي او ورواټي غوندي، د بايبل ليکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالى له لوري د لباس ورکولو معنى څه ده!! الله تعالى ټولو حيواناتو، ونو او بوټو ته مناسب مناسب لباس ورکړی چې هم ئې له يخنۍ ساتي، هم له گرمۍ او هم له حشراتو او مکروبونو، آدم عليه السلام ته هم د نورو په څېر مناسب لباس ورکړی شوی وو، خو د ممنوعه مېوې په خوړلو سره له هغه لباسه محروم شو، لومړی ئې په پاڼو ځان پټ کړ، بيا د حيواناتو په پوستکي او وروسته وروسته د ده اولاد له وړيو او تاره اوبدل شوې جامې ځان ته جوړې کړې.
- د بايبل ليکوال خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوك وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم عليه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابير سنجوي چې څنگه د دې مخه ونيسي چې آدم عليه السلام د حيات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره يو تلپاته حريف او رقيب نه شي!! نو ځکه ئې له يوې خوا آدم عليه السلام د عدن له باغه وايست او له بلې خوا ئې دغې ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرشتې وگمارلې چې په تورو سمبال وې او دا توري هم د اور توري چې هرې خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوك ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ په آسمان کې وي طبيعي ده چې له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره گمارل کېدې؟ او که دا په زمکې کې وو نو موږ ته ووايئ چې چېرې دئ اوس خو له داسې پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم عليه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حيات ونې ته د رسېدو لپاره په هليکوپټرو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلك دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټي خبرو هر څوك په دې پوهېدی شي چې د بايبل ليکوال څوك او د څنگه شخصيت خاوند دئ او د الله تعالی په اړه د ده انگېرني څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د ترديد او تصحيح لپاره فرمايي چې الله تعالى آدم عليه السلام د داسې مخلوق په څېر پيدا کړ چې معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفيق ورکړ چې فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهې په سبب ئې د زمکې خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقيب او حريف ئې نه دئ گڼلی بلکې د زمکې خلافت ئې ورسپارلی او فرشتو ته ئې امر کړی چې ده ته سجده وکړي، بايبل وايي چې فرشتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وايي چې فرشتو آدم عليه السلام ته سجده وکړه او الله تعالى د زمکې او آسمان هر څه آدم عليه السلام ته مسخر کړل.

بايبل ليکي: "له دې وروسته خدای په عدن کې چې په ختيځې سيمې کې پروت دئ يو باغ پيدا کړ او هغه آدم ئې په کې ځای په ځای کړ چې مخکې ئې پيدا کړی وو!! خدای ډول

ډول ښایسته ونې په دې باغ کې راپیدا کړې چې خوندورې مېوې ورکړي، ده د باغ په منځ کې (د حیات ونه) او (د ښه او بد د پېژندو ونه) پیدا کړه"

دا په داسې حال کې چې د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته ورته نورې خبرې بې بنسټه او د خیال په عالم کې جوړې شوې خبرې دي، انسان داسې پیدا شوی چې خامخا به مري، الله تعالی داسې اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوړو سره انسان دائمي او ابدي ژوند تر لاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړې او تجربې په نتیجه کې ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطح لوړېږي، الله تعالی داسې مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوراك سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! قرآن د بایبل دغه وینا رد کړې او په هغو آیتونو کې چې تر ټولو د مخه پر پیغمبر علیه السلام نازل شوي او په همدې آیتونو سره د قرآن د نزول لړۍ پیل شوې فرمایي چې د انسان علم اکتسابي دئ او په لیك لوست سره تر لاسه کېږي.

تاسو به د (لدني علم) په اړه د بایبل د وینا په څرنګوالي حتماً پوه شوي وئ؛ اوس راشئ چې د متصوفینو وینا ته هم لږ ځیر شو، هغوی په اصل کې دا رأیه له بایبل اخیستې او هغې ته ئې اسلامي رنګ ورکړی، دوی د الکهف د سورې د ٦٥آیت له دغې فقرې ((أتینه من لدنا علماً) د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې، حال دا چې د (لدن) صیغه د ګڼ شمېر آیتونو په ضمن کې د نورو شیانو په اړه هم راغلې، هغوی دې ته متوجه نه دي چې د انسان هر څه د الله تعالی ېرزوینه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوینه ئې ګڼي، په ټولو هغو آیتونو کې چې دا حقیقت په کې بیان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ لکه دا آیتونه:

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ۝٦ النمل

او یقیناً چې تا ته دا قرآن د پوه باحکمت ذات له لوري درکول کېږي.

وَقَالُوٓا۟ إِن نَّتَّبِعِ ٱلْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَآ ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٥٧ القصص

او وئې ویل: که له تا سره د لارښوونې متابعت وکړو له خپل ټاټوبي تښتول کېږو! آیا دوی ته مو خوندي حرم داسې ټاټوبی نه کړ چې هغه ته د هر څه مېوې راوړل کېږي زموږ له لوري د رزق او روزي په توګه؟!! خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ۖ قَالَ رَبِّ هَبْ لِى مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ۝٣٨ آل عمران

دلته نو زکریا خپل رب ته دعا وکړه، وئې ویل: اې زما ربه! له خپل لوري ما ته پاکیزه اولاد را، بې شکه چې ته د دعاګانو ښه اورېدونکی یې.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء

او په تاسو څه شوي چې د الله په لار کې او د هغو بې وزلوسړیو، ښځو او ماشومانو د ژغورنې لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زمونږ ربه! له دې کلي چې اهل ئې ظالمان دي مونږ وباسه او له خپلې خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه.

وَإِنِّي خِفْتُ ٱلْمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ مريم

او يقيناً چې زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو (پر حال) ووېرېدم، او مېرمن مې شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري يو وارث را په برخه کړه.

که په دغو آیتونو کې لږ دقت وکړو او د الکهف د سورې له ٦٥ آيت سره ئې مقایسه کړو نو په دې حقیقت به پوهېدل راته ګران نه وي چې قرآن د انسان هر څه د الله تعالی عطیه بولي، چا چې د الکهف د سورې له ٦٥ آیت د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې هغوی باید د خپل اسلوب له مخې له دغو آیتونو هم (لدني رزق)، (لدني ولي و نصير)، (لدني اولاد) (لدني قرآن) راوباسي، خو هر عاقل انسان پوهېږي چې دا بې بنسټه او غلط اسلوب او کرکجن استباط دئ.

## د خضر عليه السلام ځانګړی علم

راشئ دا هم وڅېړو چې خضر عليه السلام ته کوم ځانګړی علم ورکړی شوی وو؟ قرآن په دې اړه څه وايي؟ که په قرآن کې د خضر عليه السلام قصې ته لږ ځير شو نو ډېر ژر په دې حقيقت پوهېدی شو چې الله تعالی ده ته کوم علم ورکړی وو او ده موسی عليه السلام ته د ملګرتيا په دوران کې څه ورزده کړل، قرآن فرمايي چې هغه موسی عليه السلام ته د ملګرتيا په دوران کې درې لارښووني وکړې: ١- د يوه ظالم پاچا له منګولو د مسکينو او بې وزلو بېړۍ والو ژغورل؛ هغه هم په داسې بڼې کې چې بېړۍ وال پرې خبر نشول، ٢- د يوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل، ٣- تر نړېدونکي دېوال لاندې د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول.

موسی عليه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد همدا لارښووني تر لاسه کړې، د همدې لارښوونو په رڼا کې هغه دغو دريو کارونو ته ورته کارونه وکړل: له يوه مظلوم بني اسرائيلي د دفاع په موخه ئې يوه ظالم قبطي ته داسې څپېړه ورکړه چې پرې مړ شو، د مدين د کوهي خوا ته ئې په داسې حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه څروبه کړه چې د اوږده سفر له کبله ډېر ستړی او ستومانه وو، د بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين مصر ته ولاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله!!

د قرآن له آيتونو خو دا حقيقت جوتېږي چې خضر عليه السلام يو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملګرتيا ئې کوله، موسى عليه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ، نه پوهېږو دوى د دغو څرګندو او واضحو آيتونو له کومې برخې او له کوم لفظ د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې؟!! او غواړي له قرآن بې خبرو مريدانو ته ووايي چې که ستاسو پير او مرشد نه قرآن لوستلى شي، نه د پيغمبر عليه السلام له احاديثو خبر دئ، نه په ليك پوهېږي او نه لوست کولى شي، د هغه په اړه شك مه کوه، ځن ئې کلکه ونيسه، دا خبري بايد ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکيني مرشد له لوري (لدني علم) ورکړى شوى او د دين په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د يوې دعاء له امله پوه شوى!! هغه په يوې مراقبې سره کولى شي د اسرارو دروازې پرانېزي او په پټو حقائقو پوه شي!!

## موسى عليه السلام له خپل عالم ملګري څه زده کړل؟

دوى د خپلو ادعاءو د اثبات لپاره د خضر عليه السلام په قصې استناد کوي، له ځينو آيتونو دا معنى راباسي چې خضر عليه السلام په غيب پوهېدو، او همدې ته د لدني علم نوم ورکوي، دا په داسې حال کې چې دا قصه اصلاً د دې لپاره راغلې چې وښيي موسى عليه السلام په غيب نه پوهېدو! له خپل عالم ملګري سره روان دئ خو د هغه د څو کارونو په وجه او موخه نه پوهېدو!! کله چې له خضر عليه السلام سره مخامخ شو هغه ونه پېژندو او پوښتنه ئې ترې وکړه چې څوك يې؟ کله چې هغه ورته وويل: موسى، نو پوښتنه ئې ترې وکړه چې د بني اسرائيلو موسى؟ له دې خبرې خو په وضاحت سره معلومېږي چې هغه په غيب نه پوهېدو، هيڅوك دا ادعاء نشي کولى چې د دې کس مقام تر موسى عليه السلام لوړ وو. قرآن خو موسى عليه السلام د هغو پنځو پيغمبرانو له ډلې ګڼي چې هيڅ انسان او هيڅ پيغمبر د هغوى مقام ته نشي رسېدى. موږ نه پوهېږو دوى د قرآن له کوم لفظ دا معنى اخيستې ده چې دا کس په غيب پوهېدو؟ قرآن خو وايي چې له الله تعالى پرته هيڅوك په زمکه او آسمان کې په غيب نه پوهېږي. قرآن خو د ابراهيم، موسى، ذکريا، لوط، نوح، يعقوب، محمد،... عليهم السلام قصې زموږ مخې ته ږدي چې ښيي دوى په غيب نه پوهېدل، فرشتې ئې په خوا کې ولاړې وې خو دوى د زلمو او مېلمنو ګمان پرې کاوو، د اولاد زېرى ورکړى شوى، پوښتنه ئې کوله چې دا زوى به څنګه او څه وخت ورکول کېږي، څو متره آخوا ئې زوى په څا کې لوېدلى خو له حاله ئې خبر نه دئ او له غمه ئې سترګې ړندې شوې، د خپل ملګري د کارونو په کنه او حقيقت خبر نه وو ... د خضر عليه السلام نه نوم په قرآن کې راغلى او نه دا چې هغه يو پيغمبر وو، په يوه روايت کې د موسى عليه السلام دا ملګرى د خضر په نامه ياد شوى، هيڅ په دين پوه انسان دا ادعاء نشي کولى چې د هغه مقام تر موسى عليه السلام لوړ وو.

په دې قصې کې دوه شخصيتونه انځور شوي: يو ئې اولوالعزمه پيغمبر موسى عليه السلام او بل ئې د خداى يو نېك بنده، موسى عليه السلام د هغه ليدو ته ورغلى، د ده د سيمې له

حالته معلومات نه لري، هغه په خپلې سيمې کې بلد دئ، ښه او بد پېژني، موسى عليه السلام د ملګرتيا او سفر په دوران کې له خپل ملګري درې داسې کارونه ګوري چې د علم غيب نه درلودو په وجه نه پوهېږي چې ولې ئې دا کارونه وکړل، له هغه وروسته پرې پوه شو چې ملګري ئې تفصيلات ورته بيان کړل، دا قصه په ډېر وضاحت سره دا حقيقت زموږ مخې ته ږدي چې پيغمبران عليهم السلام په غيب نه پوهېږي، عجيبه دا ده چې د کږو زړونو خاوندان له دغې قصې معکوسه نتيجه اخلي او د موسى عليه السلام ملګري ته علم غيب ثابتوي!!

پدې قصې کې هيڅ داسې دليل نشته چې د موسى عليه السلام ملګري ته علم غيب ترې ثابت شي، قرآن ندي ويلي چې دی په غيب پوهېدو، نه پوهېږو دوی دا انتباه له کومه ځايه اخيستې ده؟!

د ظالم او غاصب پاچا په اړه د هغه علم، د هغه ځوان له نېك عمله مور او پلار او د ده له کفر او طغيان د ده خبرتيا او تر نړېدونکې دېوال لاندې د هغو يتيمانو خزانه چې صالح مور پلار ئې له لاسه ورکړې وو، دا معلومات ولې په علم غيب حمل شي؟ دا ولې د هغه د پراخو معلوماتو او د سيمې له حالت د ده د خبرتيا نښه ونه ګڼو؟

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسى عليه السلام د ملګرتيا په قصه کې څو په زړه پوري او د زياتې توجه وړ ټکي زمونږ مخې ته ايښودل شوي:

- موسى عليه السلام چې د پنځو اولوالعزمه پيغمبرانو دئ له خپل عالم ملګري داسې څهويني چې د ده لپاره د توجيه او منلو وړ ندي، په ظاهر کې داسې بد او قبيح ورته ښکاري چې په وړاندې ئې چوپ نشي پاته کېدی، فوراً اعتراض کوي. که څه هم ژمنه ئې کړې وه چې تر هغه پوري چې ده نه وي پرې خبر کړی او قضيه ئې نه وي ورته بيان کړې، تر هغې پوري به د هيڅ کار په اړه پوښتنه نه کوي، خو ګورو چې موسى عليه السلام هرځل خپل تعهد هېروي، سکوت ماتوي او له خپل ملګری پوښتنه کوي، اعتراض ورباندې کوي او ورته وايي: دا څه عجيب کار!! دا څومره ناوړه عمل!! او ملګری ئې هرځل ورته وايي: تا ته مې ويلي وو چې زما ملګرتيا نه شې کولی، زما پرکارونو صبرنه شې کولی، ځکه چې په راز ئې نه پوهېږې، د کارونو له اسرارو بې خبري د دې سبب کېږي چې بې صبره شې. دا کار درې ځلې تکرارېږي، بالآخره موسى عليه السلام اعتراف کوي چې له دې شخص سره د ملګرتيا توان نه لري او د هغه د عجيبو کارونو په وړاندې صبر نه شي کولی. که موسى عليه السلام علم غيب لرلی نو داسې به نه کېدل، نه به ئې په خپل ملګري اعتراض کاوو او نه به ئې له ملګرتيا پاته شوی وی، که موسى عليه السلام چې له اولوالعزم رسولانو دئ، علم غيب نه لري نو بل به څوك وي چې د علم غيب خاوند وي؟!
- موسى عليه السلام پدې اعتراض وکړ چې د مسکينانو کښتۍ ولې تخريب شي او ولې له سفر پاته شي، خو له دې خبر نه وو چې څو قدمه وړاندې دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د يوه ظالم پاچا پلويانو کمين نيولی، هره کښتۍ چې مومي غصبوي ئې! د

موسى عليه السلام ملګرى پدې خبر وو، د دې لپاره چي دا کښتۍ او غريب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي يو تدبير ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سورۍ کړه، د دې لپاره چي له سفره پاته شي، دا کار چي د موسى عليه السلام لپاره د توجيه وړ نه وو په حقيقت کې د کښتۍ د مالکانو لپاره لوى خدمت وو او په همدې کې د موسى عليه السلام لپاره يو لوى درس پروت وو او هغه دا چي يوه چا ته د ډېري ګټي لپاره لږ ضرر رسول د ستايني وړ دئ نه د اعتراض وړ.

• په دوهم ځل ئې هم د خپل پوه او عالم ملګري په کړو صبر ونشو کړى، بيا ئې اعتراض وکړ چي دا ځوان دي ولي بې موجبه ووژلو؟! له دې خبر نه وو چي دا ځوان يو شرير، سخت زړى، فاسد او کافر انسان دئ، مور او پلار ئې مسلمانان دي او د ده خطر دومره لوى شوى چي کورنۍ ئې تهديدوي، دا په اصطلاح يو فاسد غړى دئ، جراحي ته ضرورت لري، د دې فاسد او خطرناك غړي قطع کول په واقع کې له دې مؤمني کورنۍ سره مرسته ده. د موسى پوه او عالم ملګري دې مؤمني کورنۍ ته لوى خدمت وکړ، د يوه شرير انسان له شره ئې وژغورله او موسى عليه السلام ته ئې دا درس وروښود چي: په سالم بدن کې د فاسد غړى جراحي ممانعت نه لري، له سالم بدن د هغه غړي قطع کول ضروري دي چي د اصلاح او جوړيدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولني ته د يوه شرير او فاسد انسان له خوا ګواښ او تهديد متوجه شي او تر خطر لاندي راشي چي له تصفيې او منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجيه او ستايني وړ عمل دئ. دې ته مو هم بايد پام وي چي د قرآن له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د دې شرير هلك مور او پلار خضر عليه السلام ته د خپل بد چلن زوى په اړه شکايت کړى او دوى درې واړو د ده د وژلو پرېکړه کړې، تفصيل ئې د الکهف په سورې کې وګورئ.

• درېيم ځل ئې پدې اعتراض وکړ چي ولي له هغه بخيل قوم سره د کاږه دېوال په جوړولو او د هغه د نړېدو په مخنيوى کې مرسته کوي، له داسي قوم سره ولي مرسته کوي چي دومره بخيل او بې احساسه دئ چي اړ او مجبور انسان ته يوه مړۍ ډوډۍ هم نه ورکوي او ولي ئې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟ موسى عليه السلام د خپل ملګري پدې عمل انتقاد وکړ، ځکه هغه پدې نه وو خبر چي تردې دېوال لاندي د هغو دوو يتيمانو خزانه ده چي له مؤمنو والدينو په ميراث ورته پاته ده، د موسى عليه السلام ملګري په خپل دې مفت او بې اجورې کار سره هغو يتيمانو ته غټ خدمت وکړ او په عين وخت کې ئې موسى عليه السلام ته دا لارښوونه وکړه چي انسان ته نه ښايي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چي د ټولني د اکثريت بدکړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقليت سره له نېکي منع کړي. ولي ونه وايو چي د هغو يتيمانو پلار خضر عليه السلام يو امين او صالح کس ګڼلى، ورته ويلي ئې وو چي د زامنو لپاره مي تر دېوال لاندي سکې ښخوم، کله چي ستر شي نو ترې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمني له کبله دې کلي ته راغلى چي د دېوال حالت وګوري،

هغه ئې د ړنگېدو په حال کې موندلی نو ځکه ئې رغولی. دا ځکه چې هیڅوك د اولاد لپاره په داسې حال کې خزانه نه ښخوي چې هیڅوك پرې خبر نه کړي، له داسې کار به د ده اولاد ته څه گټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنگ شي او خزانه د بل چا په لاس کې پرېوزي.

صحیح نه ده چې د ظالم واکمن په اړه علم، د صالح پلار د طاغي او عاصي زوی په اړه علم او تر دېوال لاندې د یتیمانو د خزانې په اړه علم داسې توجیه او تعبیر کړو چې له قرآن سره تعارض ولري او په غیب د انسان د پوهېدا غلطه خبره ترې راووځي، دا آیتونه باید د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې تفسیر کړو، خضر علیه السلام په دې خبرو پوهېدو؛ دا ځکه چې دی په همدې سیمې کې اوسېدو، موسی علیه السلام ترې خبر نه وو ځکه چې هغه له بلې سیمې هلته تللی وو.

ځیني خلك د خضر علیه السلام دا وینا چې وئې ویل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حکم دا کار نه دئ کړی) داسې تعبیروي چې گواکې ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو، خو په آیتونو کې په لږ دقت سره پوهېدی شو چې د دې وینا معنی دا ده: ما دا کار د خپل نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مې په کې نه وو، د الله دین د داسې څه کولو اجازه راکړې، په الهي دین کې د هغه چا وژل مانع نه لري چې صالح ټولنه په کفر او طغیان گواښي، یوازې دغسې تعبیر موسی علیه السلام ته یو مهم درس گڼل کېدی شي، نه دا چې گواکې د الله تعالی له لوري خضر علیه السلام ته په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی وو!!

که خضر علیه السلام هغه کارونه د الله تعالی په ځانگړي امر او حکم سره کړي وی نو حتماً به ئې ویلي وو: ذلك مما امرني به ربي، ولې به ئې د دې الفاظو په ځای ویل چې و ما فعلته عن امري؟ نه پوهېږم کوم په ژبې پوه انسان به له دې الفاظو دا معنی راباسي چې فعلته عن امر ربي!! زه گمان کوم څوك چې د خضر علیه السلام له دې وینا دا راباسي چې (فعلته بامر ربي) جسارت کوي، او هغه خبره کوي چې قرآن نه ده کړې، او بیا که خضر علیه السلام دا کار د الله تعالی په ځانگړي حکم سره کړی وي نو په دې که د موسی علیه السلام لپاره څه لارښوونه وه؟ په دې صورت کې خو به موسی علیه السلام هم یوازې هغه مهال له چا سره مرسته کوله او یا به ئې د چا د وژلو اراده کوله چې الله تعالی ئې نوم ورته ښودلی وی!! لارښوونه خو یوازې په هغه صورت کې کېدی شي چې له هر بې وزلي سره د مرستې درس په کې وي او د هر هغه چا وژل جائز وگڼل شي چې د هغه ځوانکي په څېر کافر، بې رحمه او مفسد وي، خپله کورنۍ ئې له گواښ سره مخامخ کړې وي او مور پلار ئې خضر علیه السلام ته له خپل زوی شکایت کړی وي.

همداراز د خضر علیه السلام دا وینا چې وئې ویل: "فأردنا أن يبدلهما ربهما خيراً منه زكوةً و اقرب رحماً" په واضح توگه ښیي چې هغه په دې طمع او هیله دا کار کړی چې الله تعالی د دې طاغي او کافر زوی په بدل کې د ده صالح مور پلار ته داسې زوی ورکړي چې د ده په څېر کافر، سرکښ، مفسد او بې رحمه نه وي، که خضر علیه السلام دا کار د الله تعالی

په حکم کړی وی نو بیا خو د داسې څه ویلو ته قطعاً مجال نه پاته کېدو، په دې صورت کې به ده حتماً همغه مخکینۍ خبره کوله (فأراد ربك: ستا رب وغوښتل)، د (أردنا) صیغه داسې تعبیرول چې ګواکې الله تعالی او خضر علیه السلام په ګډه د دې ځوانکي د وژلو پرېکړه کړې؛ صحیح تعبیر نه دئ، دا ځکه چې الله تعالی یوازې او د بل له شراکته پرته پرېکړې کوي. همداراز په اړوند آیتونو کې د (فخشینا) او ورپسې د (اردنا) صیغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمیر د هلك مور، پلار او خضر ته راجع دئ، دوی د هلك په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې، په دې کې اصلاً د الله نوم نشو شاملولی.

دا خبره صحیح نه ده چې ووایو خضر علیه السلام یو معصوم ماشوم وژلی، د هغه ځوانکي په اړه د موسی علیه السلام وینا په دې معنی نه ده چې هغه وژل شوی ځوان یو معصوم ماشوم وو، موسی علیه السلام هغه نه پېژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چې هغه داسې جرم نه دئ کړی چې د وژلو مستحق وي، د دې ځوانکي په اړه د خضر علیه السلام وینا معیار ده، د ده له وینا معلومېږي چې هغه په داسې کفر، طغیان، فساد او بې رحمۍ کې غرق وو چې نژدې وه خپله کورنۍ تباه کړي.

## موسی او خضر علیهما السلام چېرې سره لیدلي؟

د مفسرینو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې موسی علیه السلام کله له خضر علیه السلام سره لیدلي، له بعثت مخکې که وروسته؟ د بعثت په لومړیو کې که په پای کې؟ په دې کې هم د اختلاف شاهد یو چې دا ملاقات چېرې تر سره شوی؟ مجمع البحرین چېرې دئ؟ په ټول مصر کې داسې ځای نشته چې دوه سیندونه سره یو ځای شوي وي، هغه دوه ستر سیندونه (نیل الابیض او نیل الازرق) چې نیل ترې جوړ شوی؛ د سودان په مرکز خرطوم کې سره یو ځای شوي، له مصر تر خرطوم پورې بل مجمع البحرین نه تر سترګو کېږي، او دا تر دوو میاشتو زیات پلې مزل غواړي، د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وینا چې یا به د دوو سیندونو د یوځای کېدو ځای ته رسېږم او یا خو به تر اوږدې مودې همداسې درومم، په څرګنده توګه معلومېږي چې موسی علیه السلام په اوږده سفر وتلی وو، په لنډ سفر کې هیڅوك دا خبره نه کوي چې یا به آخري مزل ته رسېږم او یا خو به همداسې تر اوږدې مودې روان یم. د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چې له مجمع البحرین د نیل د دوو څانګو د یوځای کېدا محل اخلي، دلته له بحرین مراد دوه روان سیندونه اخلي نه دوه ولاړې اوبه، د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بینهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي. همداراز که مراد ترې د خلیج عقبه او خلیج سویس یا د بحرالروم او بحر القلزم یوځای کېدا وی نو دا ځایونه هیڅ نبي ته ضرورت نه لري او له موسی علیه السلام ئې دومره اوږد سفر هم نه غوښتو چې ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم.

او دا ښیي چې دا لیدنه تر بعثت مخکې او په مصر کې د قیام په زمانه کې شوې نه له

مصر تر وتلو وروسته، له همدې کبله د موسی علیه السلام دوه کارونه د هغو لاربښوونو نتیجه ګڼلی شو چې له خضر علیه السلام ئې په هغه سفر کې زده کړې وې، یو ئې له یوه مظلوم بني اسرائیلي د یوه قبطي د تېري په وړاندې دفاع، داسې دفاع چې په ترڅ کې ئې تېری کوونکی ووژل شو، او بل ئې د مدین د کوهي په غاړه له هغو دوو نجونو سره د رمې د خړوبولو مرسته چې صالح پلار ئې سپین ږیری وو او د رمې پیایلو ته اړې شوې وې. دا دواړه کارونه د خضر علیه السلام له دوو کارونو سره ډېر شباهت لري، د دغو پېښو تر منځ شباهتونه باید عادي ونه ګڼو او سطحي ترې تېر نشو، همدا راز د فرعون له ظلم د بني اسرائیلو ژغورنه داسې وه لکه خضر علیه السلام چې هغه مسکین جاله والان د ظالم ملك له شره وژغورل. خو د دې اعتراض ځواب به څه وي چې تر بعثت مخکې به موسی علیه السلام ته څنګه د وحي له لارې ویل شوي وي چې مجمع البحرین ته ولاړ شي او هلته د الله له یوه صالح بنده سره وګوري؟ د دې ځواب دا دئ چې د وحي دا وینا باید همغسې وګڼو لکه چې د موسی علیه السلام مور ته وحي شوې وه چې زوی دې وپاله، کله چې خطر احساس کړې په صندوق کې ئې کښېږده او په سیند کې ئې پرېږده، بېرته به ئې درته راوګرځوو، هغه به یو پیغمبر وي، همدغسې په تفصیل سره موسی علیه السلام ته تر بعثت مخکې د خضر علیه السلام په اړه ویل شوي وو. دې ته مو هم باید پام وي چې قرآن د موسی علیه السلام په اړه دا خبره نه کوي چې هغه ته له خضر علیه السلام سره د لیدو په اړه وحي شوې وه.

که د قرآن الفاظو ته ځیر شو نو څو خبرې زموږ مخې ته راځي: ۱- دا پېښه له مصر بهر په بل ملك کې رامنځته شوې ده، دا ځکه چې خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وایي: وَ كانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كلَّ سفِينَةٍ غَصباً: آخوا ته ئې داسې پاچا (په کمین کې) وو چې هره کښتۍ غصبوي، د دې معنی دا ده چې دا پېښه د فرعون تر واکمنۍ لاندې مصر کې نه بلکې په بل ملك کې رامنځته شوې. ۲- د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، ۳- کله چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام سره مخامخ شوی نو خپل مخکینی د سفر ملګری (غلام او خادم) ئې پرېښی او یوازې له خضر علیه السلام سره په نوي سفر کې ملګری شوی. دا ځکه چې له دې وروسته تل د تثنیې صیغې کارول شوې او دا ښیې چې له دوی سره درېیم کس نه وو، ٤- د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه یاد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، ۵- د هغو خلکو انتباه صحیح نه ده چې وایي: موسی علیه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسې ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، همله ئې پوخ ماهي ترې ورك شوی او خضر علیه السلام ئې همله موندلی!!

له دغو خبرو معلومېږي چې د موسی علیه السلام دا تربیتي سفر له بعثت او مدین ته له تلو مخکې هغه مهال تر سره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې اوسېدو، د دې سورې همدا ١٤ آیت ښیې چې الله تعالی په همدې مودې کې چې موسی علیه السلام د

فرعون په کور کې اوسېدو د ده د روزنې او په علم او حکمت د سمبالېدو خاص انتظام کړی وو، یو ئې همدا تربیتي سفر او له خضر علیه السلام سره د ده څو ورځنۍ ملګرتیا وه. که وغواړو د قرآن دغه آیت د نورو آیتونو په رڼا کې تفسیر کړو نو له دې پرته بل څه نشو ویلی چې دلته هغه علم ته هم اشاره شوې چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام د هغه سفر په دوران کې تر لاسه کړی وو، ځکه قرآن په ډېر صراحت سره وایي چې هغه خضر علیه السلام ته وویل: ما په ملګرتیا قبول کړه او پرېږده هغه څه درنه زده کړم چې تا ته درښوول شوي. ښایي له ځینو سره دا پوښتنه راولاړه شي چې موسی علیه السلام څنګه په یوه لنډ سفر کې دومره څه له خضر علیه السلام زده کړل چې قرآن ئې یادونه کوي، حقیقت دا دئ چې کله کله څو میاشتنی سفر خو پرېږده یوه وړه پېښه او یوه وینا هم د یوه حساس انسان د ژوند مسیر بدل کړي او د معرفت دروازه ئې پر مخ پرانېزي.

---

وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى فَٱغْفِرْ لِى فَغَفَرَ لَهُۥٓ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴿١٧﴾

او ښار ته هغه مهال ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل وو (د شپې او یا د غرمې په مهال په خوب ویده ول)، نو دوه سړي ئې داسي په کې وموندل چې په جګړې سره بوخت دي، دا یو ئې د ده له خپلې قبیلې او هغه بل ئې د ده د دښمن (له خېله)، نو هغه چا چې د ده له قبیلې وو د ده د دښمن په خلاف مرستې ته ورنارې کړې، نو موسی په څپېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ویل: دا د شیطان کار وو، یقیناً چې هغه ځرګند بې لارې کوونکی دښمن دئ. وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم وکړ، بخښنه راته وکړه، نو بخښنه ئې ورته وکړه، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ. وئې ویل: اې زما ربه! د دې لپاره چې پر ما دې پېرزوینه وکړه، نو (له دې وروسته به) هیڅکله د مجرمینو ملاتړی نه شم.

---

(۱۵-۱۷)- ګورئ چې قرآن د دې قصې اتل څنګه انځوروي، په ښار کې دوه سړي د نښتې په حالت کې ګوري، یو ئې ظالم او بل ئې مظلوم، یو ئې د واکمني طبقې او بل ئې د بې وزلې

قبیلې، مظلوم او بې وزلی مرسته ترې غواړي، دی فوراً او له ځنډه پرته د بې وسه او مظلوم مرستې ته وروړاندې کېږي، په بې تفاوتۍ له صحنې نه تېرېږي، مخ نه ترې اړوي، ځان تر دې لوړ نه ګڼي چې د دوو کسانو په لانجې کې مداخله وکړي، که څه هم دی اوس د شاهي کورنۍ غړی دئ او کېدی شي چې دا مداخله او له یوه بني اسرائیلي د ده دفاع ډېر تاوان وروړسوي، خپل موقف له لاسه ورکړي، د فرعون له پېرزوینو محروم شي، په داسې حالت کې د ډېرو عقلمنو خلکو عقل دا ورته وايي چې غوږ مه پرې ګروه، مخ بلې خوا ته واړوه او تېر شه، ولې ځان په یوې لانجې کې اچوې!! موسی علیه السلام په دې خاطر نه شي کولی له صحنې بې پروا او بې تفاوته تېر شي چې الله تعالی حساس ضمیر ورکړی، پر یوه مظلوم انسان تېری نه شي زغملی، د خپل حساس ضمیر په حکم مداخله کوي، هسې د خلاصون مداخله هم نه، چې که ئې یو یا دواړه خواوې ونه مني نو خپله لار وهي او صحنه پرېږدي، بلکې له مظلومه دفاع کوي، ظالم او تېری کوونکی په سوك یا څپېړه وهي، خو دا ګوزار داسې وو چې په همدې سره د ظالم چاره وشوه، کار ئې تمام شو او ومړ، (فقضی علیه)، د موسی علیه السلام په یوه وار سره د هغه ظالم د ژوند فیصله وشوه او په قتل ورسېد. قرآنکریم دا د یوه صالح او زړه سواند قائد او زعیم د درېیم صفت په توګه وړاندې کوي او د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي چې له صالح مشر سره د علم او حکمت تر څنګ داسې حساس ضمیر ضروري دئ، د ظلم او تېري په مقابل کې چوپ او بې تفاوته نه پاته کېدل او له مظلومانو دفاع کول.

د قتل له پېښې وروسته د موسی علیه السلام په وینا کې څو ډېرې حساسې او مهمې خبرې زموږ مخې ته ایښودل شوې:

- موسی علیه السلام له همدې پېښې وروسته تصمیم نیسي چې له دې نېټې وروسته به هیڅکله د ظالمانو او مجرمانو ملاتړ او ملګرتیا نه کوم، دا له فرعون او فرعوني نظام سره د ده د تلپاته مقاطعې او پرېکون هوډ او عزم وو!! د دې په ځای چې دا ناڅاپي پېښه ئې د مظلوم له ملګرتیا او د نورو په شخړو کې له مداخلې منصرف کړي او ووايي چې له دې وروسته به په داسې قضایاوو کې مداخله نه کوم او ځان ته به بې ځایه ستونزې نه راپیدا کوم، برعکس له ظالمانو خپل برائت اعلانوي!!
- دا په حقیقت کې له فرعوني نظام سره د موسی علیه السلام د بشپړې مقاطعې اعلان وو.

د علم او حکمت له ورکړې وروسته د دغو پېښو یادونه ښيي چې همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتائج وو، یو داسې کس چې د فرعون په کور کې په ناز او نعمت کې ستر شوی وي، د فرعون مېرمنې د خپل نازولي او ګران زوی په توګه روزلی وي؛ ډېره بعیده ده چې هغه دې یوازې او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او بیا دې د دوو عادي سړو تر منځ نښتې کې مداخله وکړي او هغه هم داسې مداخله چې په ترڅ کې ئې تېری کوونکی ووژل شي، خو الله تعالی د ده د روزنې بېل انتظام کړی وو، له خضر علیه السلام سره ملګرتیا هغه ته ښودلې وو چې د مظلوم ملګرتیا به کوې. خضر علیه السلام د ملګرتیا په دوران کې د درېو پېښو په

ترڅ کې هغه ته دا درس ورکړی وو چې تل به د مظلوم ملګرتیا کوې او د ظالم له منګولو د هغه د ژغورنې لپاره به ملا تړې.

- الله تعالی ته د خپلې دعاء په ترڅ کې وایي: د دې لپاره چې تا راباندې پېرزوینه وکړه، نو له دې وروسته به هیڅکله د مجرمینو ملاتړ نه کوم!! خو باید وګورو چې موسی علیه السلام دلته کوم الهي نعمت او پېرزویني ته ګوته نیسي؟! که څه هم د نعمت صیغه عامه ده او په ټولو الهي پېرزوینو ئې اطلاق کېدی شي خو دلته ئې مراد د نورو نعمتونو تر څنګ دا هم دئ چې الله تعالی د ده پرده وکړه او د قتل پېښه بربنډه نه شوه.
- دا ظریف ټکی هم زموږ مخې ته راځي چې د ګناه له دنیوي سزا د چا ژغورنه د الله تعالی له لوري یوه پېرزوینه او بخښنه ده، لکه څنګه چې دلته ګورئ چې موسی علیه السلام د قتل د پېښې بخښنه وغوښته، الله تعالی ورته بخښنه وکړه او ده د دغې بخښنې په مقابل کې ژمنه وکړه چې له دې وروسته به د مجرمینو ملاتړ نه کوم.
- قرآن د بایبل د ادعاء خلاف وایي چې دا قتل عمدي قتل نه وو، موسی علیه السلام د ده د وژلو په نیت نه دئ وهلی، په څپېړې ئې وهلی او طبیعي ده چې په څپېړې یا سوک څوک نه وژل کېږي!! د موسی علیه السلام فوري ندامت او بخښنه غوښتل په خپله دا ثابتوي چې دا یوه تصادفي پېښه وه.

فَأَصْبَحَ فِى ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِى ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُۥ ۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِىٌّ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن يَبْطِشَ بِٱلَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِى كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِٱلْأَمْسِ ۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٩﴾

نو په ښار کې ئې په داسې حال کې شپه تېره کړه چې وېره ئې درلوده او څار ئې کاوو، ناڅاپه هغه چا بیا ورناري کړې چې پرون ئې مرسته ترې غوښتې وه، موسی ورته وویل: یقیناً چې ته ښکاره بې لارې او دوکه شوی یې، نو کله چې ئې وغوښتل د دواړو (ګډ) دښمن ته لاس واچوي، (هغه) وویل: آیا غواړې ما هم هغسې ووژنې لکه چې پرون دې یو کس ووژلو؟ له دې پرته بل څه نه غواړې چې ته هم په دې زمکې کې یو (بل) جابر شې، نه غواړې چې د مصلحینو له ډلې وې!!

(۱۸-۱۹)- موسی علیه السلام سبا بیا همغه پرونی مظلوم د یوه بل قبطي تر تېرې لاندې وموند، هغه بیا مرسته ترې وغوښته، دی ورروان شو خو چې ورنژدې شو هغه ته ئې وویل: ته غلط شوی یې، دا یوه غلطي ده چې له دغو ظالمانو سره په جګړو کې ښکېل کېږې،

اسرائيلي داسي وانګېرله چي موسى عليه السلام دى ملامت ګڼي او غواړي وئې وهي، حال دا چي موسى عليه السلام د ده د مرستي په نيت ورروان وو، خو هغه په جګ غږ نارې کړې: موسى! ته غواړې ما هم ووژنې، همغسي لکه چي پرون دي هغه بل ووژلو؟! ته هسي ځان مصلح او د مظلومانو ملګرى ګڼې... په دې سره قرآن موږ ته دا راښودل غواړي چي موسى عليه السلام د داسي يوه نااهله قوم د ژغورني لپاره مأمور شوى، د خپل ناجي او ژغورونکي اسرار افشاء کوي، څو شپې مخکي د يوه ناجي په سترګه ورته ګوري او د ظالمانو له منګولو د ژغورني لپاره ده ته غږ کوي او مرسته ترې غواړي خو چي د ده پر غلطۍ ئې ګوته کښېښوده او هغه ئې ملامت کړ، نه يوازي له ټولو ښېګڼو ئې انکار کوي، جابر او ظالم ئې ګڼې، بلکي دښمن ته ئې په لاس ورکوي او اسرار ئې افشاء کوي!! او په دې سره قرآن موږ ته دا هم راښيي چي بني اسرائيل لا د دې وړ نه وو چي د ظالمانو له سلطې د نجات لپاره د يوه مشر تر قيادت لاندي راغونډ شي او پاځون ته ملا وتړي، له يوې خوا موسى عليه السلام مزيد روزني ته ضرورت لري او له بلي خوا بني اسرائيل بايد څه نوره موده سختي ورځي وګوري او دې نتيجې ته ورسېږي چي د يوه مشر تر قيادت لاندي له راغونډېدو او د ظلم په خلاف له پاځون پرته بله چاره نه لري!!

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلۡمَلَأَ يَأۡتَمِرُونَ بِكَ لِيَقۡتُلُوكَ فَٱخۡرُجۡ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنۡهَا خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾

د ښار له لري برخي يو سړى په منډه راغى، وئې ويل: اې موسى! درباريان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چي ودي وژني، ووځه! زه دي له خواخوږو يم. نو په داسي حال کي له وېري سره له ښاره ووت چي څار ئې کاوو، وئې ويل: اې زما ربه! له دغه ظالم قومه مي وژغوره!

(٢٠-٢١)- فرعون او درباريانو ئې فيصله وکړه چي موسى عليه السلام د قتل په تور اعدام کړي، له دربار يو کس په عجله او تلوار سره د موسى عليه السلام خوا ته ځان ورساوو، د درباريانو له پرېکړې ئې خبر کړ او له مصر د وتلو مشوره ئې ورکړه، موسى عليه السلام د خپل دوست او خواخوږي مشوره مني او د مصر د پرېښودو پرېکړه کوي. الله تعالى غوښتل چي دا د بني اسرائيلو ناجي او د فرعون په ضد د يوه ستر انقلاب قائد د هجرت په لوړو ژورو کي او د ستونزو او کړاوونو په ترخ کي وروزي او هغه زغم او صبر ورپه برخه کړي چي د انقلابونو د مشرتابه لپاره ضروري دئ. او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د ولسونو د مشرتابه لپاره د (علم)، (حکمت) او (حساس ضمير) تر څنګ هغه (صبر او زغم)

ته ضرورت دئ چي د (هجرت) او له کړاوونو او ستونزو سره ئې د مخامخ کېدو په نتيجه کې د انسان په برخه کېږي. د ګلانو پر بستر ستر شوی مشر نه د مظلومو او بې وزلو ولسونو دردونه حس کولی شي او نه د يوه انقلاب قيادت او لاښوونه کولی شي!!

له دې بهیر څو مهمي لارښووني تر لاسه کوو:

- موسی عليه السلام دلته فرعونيان دظالمانو په نامه يادوي او الله تعالی ته دعاء کوي چي له دې (ظالمانو) ئې وژغوري، تر دې د مخه ئې ويلي وو چي په هيڅ څه کې به د دغو (مجرمينو) ملاتړ نه کوم، له دې معلومېږي چي موسی عليه السلام فرعونيانو ته د ظالمانو او مجرمينو په سترګه کتل، د چارواکو په ظلمونو او جرمونو ښه پوه شوی وو، د زړه له تل ئې له دوی کرکه درلوده او د دوی په ضد ئې د مبارزې کلکه پرېکړه کړې وه.
- د ده د دعوت او مبارزې اغېز تر دربار پوري غزېدلی وو، په دربار کې ئې هم خواخوږي پيدا کړي ول. د همدوی له ډلي يوه کس اطلاع ورکړه چي درباريانو ستا د اعدام پرېکړه کړې، زه دي خواخوږی يم له مصره ووځه.
- قبطيان د ښار په بري خوا کې اوسېدل، د فرعون قصرونه هم هلته وو، بني اسرائيل د ښار په لاندينۍ برخي کې او له دوی ډېر لري اوسېدل، د همدې لپاره قرآن وايي چي (د ښار له لري برخي يو سړی په منډه راغی، وئې ويل: اې موسی! درباريان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چي ودي وژني...) په ټولو طبقاتي نظامونو کې مرفه طبقه، واکداران او شتمن د ښارونو په يوې برخي کې او بې وزلي او نيستمن په بلې برخي کې او له دوی ډېر لري اوسېږي.
- موسی عليه السلام پرېکړه کړې چي د مدين په لوري وخوزېږي، ښايي د دې لپاره چي دا سيمه ورته نژدې وه او د فرعون له سلطې او واکمنۍ وتلې سيمه وه، د ده مخکينی سفر د جنوب په لوري وو، له خضر عليه السلام سره د ملاقات په موخه، دا لوری ئې ښايي د دې لپاره نه وي غوره کړی چي د نيل دواړو خواوو ته مېشت خلك د سودان تر سرحداتو پوري د فرعون تابع ول، په دې ټولي پراخي او اوږدې سيمي د ده واکمني مسلطه وه، دا لوری غوره کول د احتياط خلاف کار وو.
- له اوو اتو ورځو مزل وروسته د مدين کوهي ته ورسېد، چي قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطْبُكُمَاۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ

(٢٤)

او كله چې ئې د مدين په لوري مخه كړه وئې ويل: هيله ده رب مې په سمې لارې بوځي او كله چې د مدين اوبو ته ورسېد؛ يوه ډله خلك ئې پرې وموندل چې (خپل څاروي ئې) خړوبول او له دوی آخوا ئې دوې ښځې تر سترگو شوې چې (خپل څاروي ئې) ايسارول، (ورته) وئې ويل: ستاسو څه حال (او مشكل) دئ؟ (دواړو) ورته وويل: تر هغه چې شپانه نه وي وتلي موږ (خپل څاروي) نه شو خړوبولی، پلار مو ډېر سپين ږيری دئ (په كورنۍ كې بل نارينه نه لرو، موږ دې ته اړي شوې يو چې خپله رمه وپيايو)، (موسی عليه السلام) د دوی رمه خړوبه كړه او پخواني سيوري ته راستون شو، وئې ويل: اې زما ربه! پر ما چې دې كومې پېرزوينې كړې وې، نن ورته محتاج يم.

(٢٢-٢٤)-دلته څو جالب ټكي زموږ توجه جلبوي:

- په دې لار ئې تر دې د مخه سفر نه وو كړی نو ځكه ئې وويل: هيله ده رب مې په سمې لارې بوځي.
- نجونو به يا له شپنو پاته اوبه خپلې رمې ته وركولې او يا خو ئې د حيا له وجهې دا نه غوښتل چې تر هغه كوهي ته رانژدې شي چې شپنو دا ځای نه وي پرېښی.
- كله چې موسی عليه السلام د رمې له خړوبولو وروسته مخكيني سيوري ته راگرځي يوه ډېره زړه ژړوونكې دعاء كوي او وايي: له هغو ټولو نعمتونو محروم يم چې تر دې د مخه دې پر ما پېرزو كړي وو، نن هر څه ته محتاج يم، د فرعون په كور كې هغه سوكاله او آرام ژوند او د نن ورځې لوږه، فقر او احتياج ئې مخې ته ودرېدلې.
- موسی عليه السلام ستومانه، وږی او د يوه خوندي پناځي په لټه كې وو، داسې سختې ورځې ئې په خپل ژوند كې نه وې ليدلې، په نعمتونو كې ستر شوی وو خو اوس تر تعقيب لاندې، يوې گولۍ وچې مړۍ ته محتاج او د يوې شپې تېرولو خوندي ځای ته اړ دئ، د ده د دعاء په ماهيت هغه څوك ښه پوهېدی شي چې په ژوند كې ئې همداسې حالت پرې راغلی وي.

بې مناسبته ئې مه گڼې چې كه ووايم: د مدين د كوهي په خوا كې د هغه سيوري لاندې چې د موسی عليه السلام كوم حالت وو، له ننه ٣٣ كاله د مخه په ما باندې همداسې حالت راغلی وو، د وخت فرعون سردار داؤد زما د اعدام پرېكړه كړې وه، تر تعقيب لاندې وم، تخار، كندز، پروان، پكتيا، غزني او پكتيكا ته ولاړم، د دې لپاره چې د پنا كوم مطمئن ځای پيدا كړم، خو موفق نه شوم، په پای كې دې ته اړ شوم چې پاكستان ته ولاړ شم، له هغه وخته تر نن پورې چې كله د موسی عليه السلام دغه پورتنۍ دعاء په قرآن كې لولم، بې اختياره مې اوښكې پر مخ راشي.

د مجاهدينو، بې وزلو او محتاجانو مل رب د ده دعاء قبوله كړه، مطمئن او ډاډمن

پناځی ئې ورته برابر کړ چې قرآن ئې په وروستيو آيتونو کې تفصيلات بيانوي.
بايبل د کوهي د غاړې دغه پېښه يعقوب عليه السلام ته منسوبوي او تر دې عنوان لاندې (يعقوب فدان ارام ته رسي) داسې ليکي: ... يعقوب په صحرا کې د يوه کوهي څنګ ته ورسېدو... هلته شپانه راغونډ وو ... پوښتنه ئې وکړه: آيا لابان د ناحور زوی پېژنئ؟ هغوی ورته وويل: هو؛ هغه ده لور ئې راحيل له خپلې رمې سره راروانه ده، ... يعقوب په يوازې تن د کوهي له سره لويه تيږه لرې کړه او د راحيل رمه ئې خړوبه کړه... بيا وروړاندې شو او هغه ئې ښکل کړه او په ژړا شو، ځان ئې ورمعرفي کړ،... هغې د کور په لورې وځغاستل او خپل پلار ئې خبر کړ... لابان راغی، خپل خوريې ئې په غېږ کې ونيو، ښکل ئې کړ او له ځان سره ئې کور ته بوت.. يوه مياشت وروسته لابان ورته وويل: زه نه غواړم چې ما ته وړيا کار وکړې، ووايه څومره اجوره درکړم... يعقوب چې د ده په کشرۍ لور راحيل باندې زړه بايللی وو، ورته وويل: که کشره لور دې راکړې اوه کاله به ستا نوکري وکړم... لابان موافقه وکړه... اوه کاله پوره شول... لابان د واده بندوبست وکړ، ډېر خلك ئې راوبلل... چې کله شپه تياره شوه نو د راحيل په ځای ئې مشره لور ليه د ده حجلې (د ناوې لپاره خصوصي خونه) ته ورولېږله، يعقوب ورسره نژدېکت وکړ، سهار متوجه شو چې د راحيل په ځای ئې له ليه سره شپه تېره کړې!! نو لابان ته ورغی او ورته وئې ويل: دا دې له ما سره څه وکړل، ما د دې لپاره اوه کاله ستا خدمت وکړ چې راحيل راته راکړې، ولې دې دوکه راسره وکړه؟ هغه ځواب ورکړ: زموږ دود دستور داسې دئ چې لومړی مشره لور ودوو، يوه اونۍ صبر وکړه، راحيل هم درکوم خو په دې شرط چې د اوه کاله نور خدمت ژمنه وکړې!!! يعقوب ومنله، يوه اونۍ وروسته ئې راحيل هم ده ته ورکړه!!)
د دې جعلي قصې دغو برخو ته ستاسو پام راآړوم:

- يعقوب يوه پېغله نجلۍ چې د واده کېدو عمر ته رسېدلې وه د نورو شپنو په مخکې ښکل کړه!! داسې کار نه يوازې د هغه وخت په قبائلي ژوند کې لوی جرم ګڼل کېدو بلکې د اروپا او امريکا په لادينه مدني ټولنو کې ئې دوه سوه کاله مخکې ببلګه نه شو وړاندې کولی، نژدې يوه پېړۍ مخکې د انګلستان د پارلمان يوه غړي خپله مېرمن د نورو په وړاندې ښکل کړه او له دې يوه لويه لانجه جوړه شوه!!
- لابان د خپلې ژمنې خلاف د کشرۍ لور پر ځای خپله مشره لور د شپې په تياره کې د يعقوب حجلې ته ورولېږله، هغه شپه ورسره تېره کړه، نه ئې له غږه وپېژنده او نه له رنګه!! د رنګ لپاره خو د بايبل ليکوال ښه حيله جوړه کړې او ليکلې ئې دي چې کله شپه تياره شوه نو لابان د راحيل په ځای ليه ورولېږله!! خو دا ئې نه دي ليکلي چې ولې ئې له غږه ونه پېژنده؟!!
- دوه خويندې په يوه وخت يوه کس ته په نکاح کېدل ئې جائز ګڼلي او دا هغه څه دي چې قرآن ئې حرام ګڼي، الهي شريعت نه غواړي چې د دوو خويندو مينه په رقابت او کينې

بدله شي، داسې نكاح دوه نژدې انسانان چې يو له بل سره پاكه او ژوره مينه لري سره لري كوي او د دوی تر منځ رقابت او كينه راولاړوي.

قرآن د بايبل دا خبره ردوي، دا د موسی عليه السلام د قصې برخه ګڼي، د رمې پيايونكې نجلۍ يوه نه بلكې دوه ښيي او هغه چې موسی عليه السلام كورته د تلو لپاره بللی يوه حياناكه نجلۍ معرفي كوي او فرمايي:

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَٰتَيۡنِ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٖۖ فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿٢٨﴾

(له همدې دعاء سره سم) له هغو دوو نجونو يوه په حياء حياء كې راغله، (او موسی ته) ئې وويل: زما پلار دې غواړي چې زموږ د رمې خړوبولو په بدل كې څه دركړي، نو كله چې هغه ته راغی او ټوله قصه ئې ورته وكړه، هغه (ورته) وويل: نور نو له ظالمانو ژغورل شوی يې، يوې (لور ئې پلار ته) وويل: پلاره! دا په نوكرۍ ونيسه، تر ټولو غوره كس چې په نوكرۍ ئې نيسې هغه دئ چې پياوړی او امين وي، وئې ويل: غواړم يوه لور مې تا ته په نكاح دركړم خو په دې شرط چې اته كاله به له ما سره د اجورې په مقابل كې تېروې او كه لس كلونه دې بشپړ كړل نو دا به ستا پېرزوينه وي، نه غواړم چې زياتی درباندې وكړم، كه خدای كول ما به له صالحينو ومومې، وئې ويل: همدا دې زما او ستا تر منځ (ژمنه) وي، په دې دواړو كې هره موده چې مې (دلته) تېروله (اختيار به ئې زما وي او) تېری به راباندې نه كېږي، وئې ويل:) په هغه څه چې وايو ئې الله شاهد او وكيل دئ.

(٢٥-٢٨)- دا مبارك آيتونه څو خبرې زموږ مخې ته ږدي:

- كله چې نجونې كور ته ستنې شوې پلار ترې پوښتنه كړې چې نن ولې دومره ژر راغلئ؟ قصه ئې ورته تېره كړې او ورته ويلې ئې وو چې د كوهي غاړې كې يوه ناست مسافر زلمي

زمونږ رمې ته اوبه راوایستې، نو څکه ئې یوه پسې ولېږله چې دی کور ته ورولي، ورسره روان شو، دی مخکې او هغه تر شا، کله چې وررسېدو، (د نجونو پلار ته ئې ټوله قصه تېره کړه، هغه ورته وویل: نور نو د ظالمانو له منګولو ژغورل شوی یې، دا سیمه د هغوی له سلطې بهر ده.

- یوې لور ئې ورته ویلې: د نوکر او شپون په لټه کې وې، دا دئ یو امین او پیاوړی کس په لاس درغلی، ښه به وې چې همدا دی په شپني ونیسې. ښایي د دې لپاره ئې هغه د قوي او امین په نامه یاد کړی چې له کوهي ئې په یوازې سر دومره اوبه راوایستلې چې د دوی ټوله رمه ئې خړوبه کړه، او د لارې په اوږدو کې د ده تقوی، حیاء، او پاك لمنی ته متوجه شوې او امین ئې ونډلی.
- پلار ئې له ځان سره فکر وکړ چې په کور کې د یوه نامحرم زلمي ساتل صحیح نه دئ، ښه به وې یوه لور په نکاح ورکړم، موسی ته ئې وویل: غواړم یوه لور مې په نکاح درکړم خو مشروط په دې چې اته کاله به راسره تېروې او که دې لس کاله راسره تېر کړل دا به ستا احسان وي.
- موسی علیه السلام چې د یوه ډاډمن پناځي په لټه کې وو، دا وړاندیز ئې فوراً ومانو، خو ورته وئې ویل: په دې دواړو کې هره موده چې مې دلته تېروله اختیار به ئې زما وي او تېری به راباندې نه کېږي.
- په همدې ئې سره ژمنه وکړه.

ګورئ چې الله تعالی د ده دعاء له څنده پرته قبوله کړه، د یوې نېکې کورنۍ په غېږ کې ئې پنا ورکړه، پنا ورکوونکي ورته وویل: غواړم خپل لور په نکاح درکړم، دا به ستا پېرزوینه وي چې تر اتو، لسو کلونو له ما سره پاته شې!!

الله تعالی غوښتل چې موسی علیه السلام په مدین کې د یوه نېك او صالح انسان په خوا کې واوسوي او د هغه تر روزنې لاندې اته یا لس کاله پاته شي، په دې دوران کې شپني وکړي او دا ئې د تربیت او روزنې بله مرحله وي، د دې مرحلې په پای کې د مصر په لوري، د خپل قوم د لارښوونې او د فرعون مقابلې ته ولاړ شي!!

د قرآن په دغو ویناوو کې څو اساسي لارښوونې موږ ته شوې:

- هجرت د شخصیتونو د روزنې مدرسه ده، د مظلومو ولسونو لپاره چې الله تعالی کوم قیادت غوره کوي هغه به د هجرت په لوړو ژورو کې روزي.
- موسی علیه السلام باید د څه وخت لپاره د مصر له مختنقې فضاء او له هغه ظلماني او ضیق محیط چې فرعون پرې حکومت کاوو ووځي، د مدین په آزادې فضاء کې ژوند وکړي، د ظالمانو له هرراز سلطې د آزاد ژوند خوند وڅکي، شپني وکړي، دا شپني په خپله قیادت دئ او د قیادت رموز انسان ته ښيي.
- د پنا ځای په لټه کې وو، الله تعالی ورته مناسب ځای غوره کړی وو، همغه ځای ته ئې

ورساوو.

په آثارو کې راغلي چې په همدې دوران کې چې موسی علیه السلام شپني کوله یوه ورځ یوه ملائکه د سېرلي په بڼه کې ورته راڅرګندېږي او ترې ځغلي، موسی علیه السلام ورپسې شي، چې هر ځل موسی علیه السلام ورنږدې شي دا بيا ترې وځغلي، په دې توګه ټوله ورځ ورپسې منډې ووهي، بالآخره هغه له ډېرې ستړيا پر زمکه پرېوځي، موسی علیه السلام ورورسېږي، خو د دې پرځای چې له ډېرې غوصې ئې ووهي؛ پښې ئې ورموښي او وايي: الله تعالی دي ما ته عفوه وکړي چې د دې سېرلي د ترېدو باعث شوم، دا مې څومره وځورولو، زه د ده د ځورولو او کړولو باعث شوم، دا د موسی علیه السلام د تربيتي دورې د بشپړتيا او تکميل نښه وه، اوس هغه کولی شي چې خپل قوم ته ولاړ شي او د يوه زړه سواند لارښود په توګه د هغوی لارښوونه وکړي، اوس هغه وخت رارسېدلی چې دی بايد د مصر په لوري وخوځېږي.

---

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارًاۖ قَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾

او کله چې موسی دا موده بشپړه کړه او له خپلې کورنۍ سره وخوځېدو، د طور په يوه اړخ کې ئې اور تر سترګو شو، خپلې کورنۍ ته ئې وويل: تم شئ! زما يو اور تر سترګو شو، يا به کوم خبر (او احوال) ترې درته راوړم او يا د اور کومه سکروټه چې تاوده شئ.

---

(۲۹)-د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- موسی علیه السلام خپله ژمنه تر سره او هغه موده ئې بشپړه کړه او پرېکړه ئې وکړه چې مصر ته ستون شي، له خپلې کورنۍ سره يوځای د مصر په لوري وخوځېدو.
- يوه شپه په يوې تنګې او کږلېچنې درې کې روان وو چې لار ترې ورکه شوه، لرې ئې د غره په يوې ډډې کې د اور رڼا تر سترګو شوه، ګمان ئې وکړ چې هلته به شپنو اور بل کړی وي، د کورنۍ غړو ته ئې وويل: دلته تم شئ! زما يو اور تر سترګو شو، يا به د لارې په اړه معلومات ترې تر لاسه کړم او يا د اور کومه سکروټه چې اور پرې بل کړو او تاوده شئ.

بايبل په دې اړه داسې وايي:

"موسی د مديان سيمې ته وتښتېدو...يوه ورځ د هغه ځای د کوهي په غاړه ناست وو اوه نجونې ئې وليدې چې له کوهي ئې اوبه رااېستلې د دې لپاره چې خپلو څارويو ته ئې ورکړي... شپنو د يترون لوڼې د کوهي له غاړې لرې کړې او خپلې رمې ئې خړوبه کړې...

موسی وړاندې ورغی، شپانه ئې یوې خوا بلې خوا ته کړل او له نجونو سره ئې د خپلو څارویو په خړوبولو کې مرسته وکړه...کله چې نجونې کورته ستنې شوې پلار ترې وپوښتل: نن ولې دومره ژر راغلئ؟ وئې وویل: یوه مصري راسره مرسته وکړه... پلار ورته وویل: هغه دلته راولئ... موسی ورغی، د هغه په کور کې پاته شو... هغه خپله لور صفوره په نکاح ورکړه... یوه ورځ په داسې حال کې چې موسی د رمې په پېولو بوخت وو... ناڅاپه د خدای فرشته د اور په بڼه کې د یوه بوټي له منځه ورښکاره شوه... کله چې خدای ولیدل چې موسی بوټي ته ورنږدې کېږي، د بوټي له منځه ئې پرې غږ کړ: موسی! موسی! نور مه رانږدې کېږه، څپلۍ دې له پښو وباسه، ځکه چې ته په یوه سپېڅلي ځای ولاړ یې... زه ستا د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای یم... ما په مصر کې د خپلو بندګانو کړاوونه لیدلي... راغلی یم چې دوی د مصریانو له منګولو وژغورم او هغې ښېرازه زمکې ته ئې بوځم چې شات او شیدې په کې بهېږي... هغې سیمې ته چې اوس کنعاني، هیتي، اموري، فرزي، حوي او یبوسي په کې مېشت دي اوس تا فرعون ته لېږم چې زما قوم له مصره وباسې... موسی وویل: زه څوك یم چې دا کار وکولی شم... خدای ورته وویل: زه درسره یم... موسی وویل: که بني اسرائیل رانه پوښتنه وکړي چې د هغه خدای نوم څه دئ چې ته ئې رالېږلی یې، څه ورته ووایم؟ خدای وفرمایل: (یم چې یم!!) دوی ته ووایه: (یم) ستاسو خوا ته رالېږلی یم، دا زما تلپاته نوم دئ، ټول خلك به مې په دې نامه پېژني... موسی وویل: که بني اسرائیل زما خبره ونه مني په څه به ئې قانع کوم؟ ... خدای ورته وویل: عصا دې وغورځوه... وئې غورځوله چې ناڅاپه مار ترې جوړ شو... موسی له وېرې په تېښته شو، خدای ورته وویل: لاس وراوږد کړه او مار تر لکۍ ونیسه... همداسې ئې وکړل او مار بېرته په عصا بدل شو... بیا ئې ورته وویل: لاس دې په خپلې جامې کې د ننه کړه... کله چې ئې لاس بېرته راوایست ګوري چې د جذام په وجه د واورې په څېر تك سپین شوی... خدای ورته وویل: بیا ئې د ننه کړه... دا ځل ئې چې لاس راوایست روغ رمټ شوی وو ... موسی زړه نازړه وو، غوښتل ئې د ده په ځای بل څوك ولېږل شي... خدای پرې غصه شو... هارون ئې هم ورسره کړ او ورته وئې ویل: هارون ښه ویاند دئ، دی به د خلکو په وړاندې ستا ویاند وي ... موسی خپل خسر ته وویل: مصر ته ځم چې د خپلې کورنۍ احوال واخلم... هغه ورته وویل: په مخه دې ښه... د مصر په لورې وخوځېدو... خدای ورته وویل: فرعون ته ورشه، دا معجزې وروښیه... ورته ووایه چې خدای فرمایي: اسرائیل زما مشر زوی دئ... نو ځکه تا ته امر کوم چې دوی پرېږده چې له مصره ووځي او زما عبادت وکړي، که دا کار ونه کړې نو ستا مشر زوی به درته ووژنم... نو موسی له خپلې کورنۍ سره د مصر په لورې وخوځېدو... د لارې په اوږدو کې او هغه وخت چې دوی د آرام کولو لپاره تم شول، خدای ورته راڅرګند شو او موسی ئې په مرګ وګواښو... نو صفوره یوه تېره تیږه راواخیسته او خپل زوی ئې سنت کړ او د غوښې ټوټه ئې د موسی پښو ته وغورځوله او وئې ویل: د خپل زوی د نه سنت کولو په سبب دې نږدې ځان مرګ ته ورکړی وو... د همدې لپاره خدای د موسی له وژلو تېر شو!!)

د بایبل په دې قصې کې هم د محتوی له لحاظه ډېري ستونزې شته او هم له ادبي پلوه بې شمېره نواقص، دا ستونزې او نواقص هغه وخت ښه درك کولی شئ چې د بایبل وینا د قرآن له څرګندونو سره مقایسه کړئ، خو که تاسو د بایبل دا قصه د یوه ناول لیکونکي مخې ته کښېږدئ او ترې وپوښتئ چې د قصې د محتوی او ادبي جوړښت په اړه څه نظر لرې؟ نو له شکه پرته به درته ووایي: دا د یوه ضعیف او کمزوري لیکوال لیکنه ده!! ښایي د هر هوښیار انسان لپاره د بایبل دا وروستۍ وینا کافي وي چې د بایبل په ماهیت پوه شي او په دې کې شك ونه کړي چې دا کتاب د یوه داسي کمعقله انسان په لاس لیکل شوی چې نه خدای سم پېژني او نه د الهي کتابونو له لارښوونو خبر دئ.!!

کوم باشعوره انسان به دا خبره ومني چې خدای ویلي: اسرائیل زما مشر زوی دئ!! آیا دا ممکنه ده چې د الله تعالی په کتاب کې داسي غلطه او د حقیقت خلاف خبره تر سترګو شي؟! د بایبل لیکونکی دي ووایي چې له اسرائیل د ده مراد یعقوب علیه السلام دئ که بني اسرائیل؟ که مراد ئې بني اسرائیل وي نو بیا خو باید ویل شوي وی چې بني اسرائیل زما مشران زامن دي او که مراد ئې یعقوب علیه السلام وي نو ده خو بل ځای کې عیسی علیه السلام د خدای یوازینی زوی ګڼلی!! دا متناقضې خبرې څنګه سره تلفیق کوې؟ د یوازیني زوی تر څنګ خو نه د بل مشر زوی شته والی ممکن دئ او نه د ډېرو زامنو!! که خدای زوی درلودی نو هغه به هم خدای وو، د بایبل لیکونکی دې مونږ ته ووایي چې خدای د اسرائیل په څېر دئ که اسرائیل د خدای په څېر؟ آیا ستا په خدای کې ټول هغه عیبونه شته چې په بني اسرائیلو کې شته؟ بني اسرائیل بیمارېږي، وږي او تږي کېږي، خوراك کوي، په خوراك پوري اړوند ډېري نیمګړتیاوې لري، ویدېږي، ووړ وي ستړ شي او په پای کې ومري، طبیعي ده چې د دوی پلار هم باید دغسي وي!! آیا خپل خدای ته دا ټول عیبونه او نواقص راجع کوې؟!! ستا په خدای کې د بني اسرائیلو کوم صفت شته او په بنې اسرائیلو کې د خدای کوم صفت؟!! ولې هغوی ته د خدای د مشر زوی لقب ورکړی شوی؟ تر دوی خو ډېر نسلونه مخکې پیدا شوي، مشر زوی خو هغه چا ته ویل کېږي چې تر نورو زامنو مخکې پیدا شوی وي!! که دا ئې مشر زوی وی نو کشر به ئې هم وو!! دا کشر زوی هم رامعرفي کړه!! چې ځوك د پیدایښت نېټه لري هغه په دې دلیل خدای نه شي کېدی چې له دې نېټې مخکې نه وو!! د چا چې زوی په یوې معیني نېټې کې پیدا شوی او له هغې مخکې نه وو نو دی به هم همداسي په یوې معیني نېټې کې پیدا شوی وي او له هغه مخکې به نه وو!! ځوك چې زوی لري نو هغه حتماً پلار هم لري!! آیا د خدای په اړه دا باور د منلو وړ دئ؟!! په انسان باندي د خدای د زوی اطلاق به ډېر ناپوه او احمق انسان کوي!!

قرآن د بایبل د دې غلطي او واهي خبري په رد کې فرمایي:

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلۡ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلۡ أَنتُم

بَشَرٌ مِّمَّنۡ خَلَقَۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨ المائدة

يهودانو او نصرانيانو وويل: موږ د الله زامن او د ده محبوبان يو، ورته ووايه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذيبوي؟ داسې نه ده بلکې تاسو همغه عادي انسانان يئ چې الله پيدا کړي. چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي تعذيبوی ئې او د آسمانونو، زمکې او څه چې په دوی کې دي، د ټولو واك له الله سره دئ او بېرته ورتګ د ده په لوري دئ.

يعني که تاسو د خدای زامن او محبوبان وئ نو دا ستر ستر الهي عذابونه به پر تاسو نه نازلېدل، له هغه سپکاوي، ذلت او اسارت سره به ئې نه مخامخ کولئ چې په مصر کې ورسره مخامخ وئ، هيڅ پلار نه غواړي چې زامن ئې په عذابونو اخته شي، تاسو خو همغه انسانان يئ چې الله تعالی ستاسو په څېر ډېر نور پيدا کړي، ستاسو او د هغوی تر منځ څه توپير شته چې ځان تر نورو غوره او د خدای زامن ګڼئ؟!! زوی ته خو هغه څوك ضرورت لري چې مري، خدای به ولې زوی لري چې هيڅکله نه مري؟!! زوی او ځای ناستي ته خو هغه څوك اړ وي چې خپل ملك په خپله، د بل له مرستې پرته او د تل لپاره نه شي سمبالولی، الله تعالی خو د زمکې او آسمانونو مالك او ټولواك دئ هغه به ولې زوی او ځای ناستی غوره کوي؟!! څنګه به هغه څوك د زوی په توګه غوره کوي چې ډېر ژر مري او د ده په لوري وردرومي؟!!

څوك به دا خبره ومني چې الله تعالی، موسی عليه السلام په دې خاطر په مرګ وګواښو چې خپل زوی ئې نه وو سنت کړی او بيا په دې خاطر د ده له وژلو تېر شو چې مېرمنې ئې د خپل سنت شوي زوی د غوښې ټوټه د موسی پښو ته وغورځوله؟!! بايبل خو وايي چې څو ورځې مخکې خدای؛ موسی عليه السلام ته ورڅرګند شو، هغه ته ئې معجزې ورکړې او د يوه پيغمبر په توګه ئې د فرعون لوري ته ولېږو، سره له دې چې ده خپل زوی نه وو سنت کړی!! که د زوی نه سنتول دومره ستره ګناه وي او د بايبل خدای دومره پرې غصه کېږي نو موسی عليه السلام ئې ولې له دې سره سره په پيغمبرۍ وټاکو؟ آيا هغه مهال دې ته متوجه نه وو او اوس د سفر په دوران کې ورته متوجه شوی؟ موسی عليه السلام ته خو لا تورات نه وو ورکړی شوی، لا د زوی د سنتولو په اړه کومه لارښوونه هم نه وه ورته شوې، ولې به ئې اوس او د سفر په دوران کې او هغه وخت چې په خوب ويده دئ په مرګ ګواښو؟!! د الله تعالی دين خو د سفر پر مهال فرايض هم معافوي، مسافر ته د روژې ځنډول جائز ګڼي، د څلورو رکعتونو لمونځ ئې ورته دوه رکعته کړی، هر الهي دين او هر واقعي مذهب به د کړاوونو او زحمت پر وخت د انسان د مکلفيتونو پېټی سپکوي، دا د مهربان الله تعالی له شأنه ډېره لرې ده چې د سفر پر مهال د زوی د نه سنتولو په سبب خپل غوره پيغمبر پر مرګ تهديد کړي!! د بايبل له ليکونکې پوښتنه کوو چې د موسی عليه السلام مېرمن څنګه په

دې پوه شوه چي خدای له دې کبله پر ده غصه دئ چي خپل زوی ئې نه دئ سنت کړی؟!!
او په هغه صورت کې به د ده له وژلو لاس اخلي چي د خپل سنت شوي زوی د غوښي ټوټه د موسی پښو ته وغورځوي؟!! د بايبل منونکو ته وايو: باور وکړئ چي که له دغو غلطو او بېهوده خبرو چي بايبل ترې ډك دئ او شمېر ئې زرګونو ته رسېږي، که مسلمانانو دې ته ورته يوه غلطه خبره هم په قرآن کې موندلې وی نو (نعوذ بالله) قرآن به ئې د الله تعالی کتاب نه ګاڼو او ايمان به ئې پرې نه راوړو.

که د بايبل په سلګونو خوشې، غلطي او بېهوده خبري پرېږدو؛ يوازې دغه څو مسخره خبري ئې کافي دي چي هر هوښيار انسان ئې په لوستلو سره دا کتاب په دېوال ووهي او لري ئې وغورځوي. بايبل چي کوم خدای معرفي کوي هغه همداسي د ماشومانو په څېر عادتونه لري، په وړو وړو خبرو خپل دوستان په مرګ ګواښي او په وړو وړو خبرو ئې غصه کښېني او له خپلو پرېکړو اوړي!!! خو قرآن ګناهونه وېشي، ځيني ئې ستر ګڼي او ځيني ئې واړه او فرمايي: که له سترو سترو ګناهونو ځان وساتئ له وړو وړو به الله تعالی درته تېر شي:

إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ النساء

که مو له هغو سترو سترو ډډه وکړه چي ترې منع شوي يئ، بد، بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

دلته سيئات د کبائرو په مقابل کې ذکر شوي او دا مطلب افاده کوي چي که له سترو سترو ګناهونو ډډه وکړئ نو الله تعالی به سيئات يا واړه واړه ګناهونه درته معاف کړي، خو دا ستر ګناهونه کوم دي او واړه ئې کوم؟ آيا مراد ترې يوازې دغه ګناهونه دي چي تر دې آيت مخکې ورته اشاره شوې؟ په ناحقه د بل مال خوړل او د نفس قتل او که معنی ئې عامه ده او ټولو هغو ګناهونو ته شامله ده چي اسلام ورته کبائر وايي؟ او دا کبائر کوم دي؟

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ " قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالشُّحُّ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ» رواه النسائی

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: له اوو تباه کوونکو ډډه وکړئ، وويل شول: يا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمايل: له الله سره شرك، بخل او حرص، د هغه نفس وژل چي الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، د يتيم مال خوړل، سود خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول او تېښته او د مؤمنو، عفيفو او له ګناه د غافلو ښځو

تورنول.

ګورئ چې د اسلام له نظره هغه ستر ستر ګناهونه کوم دي چې د الله تعالی د غضب باعث او د هلاکت سبب ګڼل شوي؟!! خو بايبل د دغو ګناهونو په ځای د سر وېښتان خريل او زوی نه سنتول ستر ستر ګناهونه او د الله تعالی د غضب او غصې باعث ګڼي!!

که تاسو د موسی علیه السلام او له مصر د بني اسرائيلو د وتلو قصه په بايبل او قرآن کې سره مقايسه کړئ نو وبه ګورئ چې قرآن نه يوازې د بايبل د قصې ډېرى برخې تکذيب يا تصحيح کړې بلکې دا قصه ئې د هغې مقدمې لپاره د يوې تاريخي بېلګې په توګه وړاندې کړې چې د قصې په پيل کې ئې د خپل مخاطب مخې ته ږدي، د فرعون تر مشرۍ لاندې د يوه طبقاتي او ظالم نظام ځانګړتياوې او د دې نظام د راپرځولو په اړه د الله تعالی سنت بيانوي او د دې سنت د توضيح لپاره دا قصه د يوې تاريخي بېلګې په توګه وړاندې کوي، د قرآن قصص د بايبل په څېر هسې قصې او شجرې نه دي، بلکې تاريخي مثالونه او بېلګې دي، د قرآن هدف دا نه دئ چې د يوه قام د ژوند قصه او شجره د يوه نکل او ناول په توګه وړاندې کړي، بلکې د يوې تاريخي قصې په ترڅ کې ئې د يوه قوم د عروج او زوال عوامل څېړلي، د يوه مهم مطلب او د الله تعالی د يوې وعدې او د يوه الهي سنت او فطري قانون د بيان او اثبات لپاره تاريخي بېلګې وړاندې کوي، هره قصه ئې ځانګړې موخه او هدف لري، په يوې مهمې خبرې د مخاطب د قانع کولو لپاره د يوه قوم د عبرتناکې قصې يوه برخه رااخلي.

---

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن
يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا
جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ﴿٣١﴾
ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ وَٱضۡمُمۡ إِلَيۡكَ جَنَاحَكَ مِنَ
ٱلرَّهۡبِۖ فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ
﴿٣٢﴾

نو کله چې ورغی؛ د ناو له ښي اړخه د يوې بختورې سيمې له يوې ونې پرې غږ شو؛ چې اې موسی! زه د عالمونو پالونکی رب يم او دا چې عصا دې وغورځوه، چې کله ئې هغه داسې وليدله چې د تېز مار په څېر خوځي، شا ئې واړوله، په تېښته شو او تر شا ئې نه کتل، (الله تعالی وفرمايل) اې موسی! مخ راواړوه او مه وېرېږه، يقيناً چې ته

خوندي يې، لاس دې په گرېوان کې دننه کړه، سپين له داغه پرته به راووځي او د وېرې په حالت کې دې وزرونه (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، د فرعون او د ده د درباريانو په وړاندې دا ستا د رب له لوري دوه نښې او دلائل دي، دوی له شکه پرته يو فاسق قوم دئ.

(۳۰-۳۲)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښوونې شوې:

- موسی عليه السلام د رڼا په لوري ولاړ، هلته د ناو له ښي اړخه، چې په گڼو ونو پوښل شوی وو، له يوې ونې پرې غږ شوی چې زه د عالمونو رب يم، په نورو آيتونو کې دا مطلب هم راغلی چې ورته ويل شوي څپلۍ دې وباسه، ته په يوه سپېڅلي ناو کې يې.
- ورته ويل شوي چې عصا دې وغورځوه، کله گوري چې عصا ئې د تېز ستر مار په څېر شوې او خوځي، وېره پرې راغلې، شا ئې اړولې او داسې تښتېدلی چې تر شا ئې نه کتل.
- ورته ويل شوي: مه وېرېږه، ته خوندي يې، لاس وروغزوه، وئې نيسه، بېرته به خپلې لومړنۍ بڼې ته واوړي، همدا کار ئې کړی او خپله عصا ئې په لاس کې موندلې.
- بيا ئې ورته ويلي: لاس دې په گرېوان کې دننه کړه، سپين له داغه پرته به راووځي او د وېرې پر مهال خپل (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، په همدې سره به دې وېره پای ته رسي. دا دوه به د فرعون او د ده د درباريانو په وړاندې ستا د رب له لوري نښې او دلائل وي چې ستا پر حقانيت دلالت کوي.

قرآن د بايبل دا ادعاء هم ردوي چې وايي د موسی عليه السلام يوه معجزه دا وه چې لاس به ئې په جامه کې د ننه کړ نو د پېس په شان به داغجن او سپين راووت!! قرآن وايي چې لاس به تك سپين، ځلانده او بې داغه وو، نه د پېس په څېر داغجن، طبيعي ده چې څوك داغجن لاس ته د معجزې په سترگه نه گوري، سپين ځلانده او بې داغه لاس په محاوراتو کې معمولاً د دې لپاره کارول کېږي چې د يو چا پاکوالی، پاك لمنتوب، صفايي او له گناه او غدر لرې والی بيانول په پام کې وي، په ټولو ژبو کې هغه چا ته چې په غدر، دوکې او خيانت نه وي ككړ ويل کېږي: لاس ئې سپين دئ، همدا راز خپله عصا د خپل توان او ځواك او خپلو ذاتي امکاناتو لپاره د استعارې په توگه کارول کېږي، که څه هم دا دواړه د موسی عليه السلام معجزې وې، خو په دې سره موږ ته قرآن د يوه واقعي مشر دوې نورې ځانگړتياوې راښيي:

۱- د هغه لمن بې داغه وي، د هغه په شخصيت کې څوك تور داغ نه شي موندلی، پاك لمنتوب او سپېڅلي اخلاق ئې په حقانيت او رښتينولۍ شهادت ورکوي.

۲- له خپلې (عصا) سره د دښمن مقابلې ته درومي، له الله تعالی پرته په هيچا بروسه او توکل نه کوي او د نورو د تأييد او ملاتړ په اعتماد مبارزې ته ملا نه تړي.

قرآن په دې سره موږ ته دا درس هم راکوي چې که ستا (لاس سپين) وي نو د فرعون مقابله په يوې (عصا) سره هم کولی شې، الله تعالی به ستا په دغې (عصا) کې هغه قوت او

ځواك ږدي چې د فرعون د مجهزو لښکرو په وړاندې درته کافي وي، قرآن په دې ټينګار کوي چې د ښکېلو ځواکونو تر منځ نښتو کې د برې او ماتې پرېکړه د تجهيزاتو، عدد او عدة له مخې نه کېږي، داسې نه ده چې مجهز لورى به خامخا برى تر لاسه کوي او د وسائلو له پلوه کمزورى اړخ به خامخا ماتې خوري، بلکې د دواړو لوريو اخلاقي او معنوي حالت د نښتو پاى ټاکې، وروستۍ بريا به د هغه چا په برخه کېږي چې له فکري او اخلاقي لحاظه پر خپل حريف برلاسى وي!! دلته هم الله تعالى موسى عليه السلام ته فرمايي چې تاسو او ستاسو پلويان به زما د آيتونو په وجه برلاسي وئ، يعني ستاسو د برلاسي او پر دښمن د غلبې لپاره همدا بينات او آيتونه کافي دي.

په نورو آيتونو کې د موسى عليه السلام اوه نوري معجزې هم ښودل شوې، تفصيل ئې د الاعراف په سورې کې وګورئ.

ځيني ناپوه او غرضي کسان دا رڼا د الله تعالى نور او تجلي ګڼي خو قرآن په کلکه د دې انګېرنې ترديد کوي او فرمايي چې موسى عليه السلام دلته او دغه مهال نه الله تعالى په خپله په سترګو ليدلى او نه د الله تعالى نور او تجلي، د غره له يوې داسې ډډې چې په شنو ونو پوښل شوې وه له يوې ونې ئې د الله تعالى غږ اورېدلى، د همدې لپاره په بل ځاى کې وايي چې موسى عليه السلام د خپل رب د ليدو تمنى وکړه خو الله تعالى ورته وويل: ته مې هيڅکله ليدى نشې... که دلته هغه الله تعالى يا الهي تجلي او نور ليدلى وى نو څو کاله وروسته او له مصر د لوى هجرت په کلونو کې به ئې له الله تعالى دا غوښتنه نه کوله چې ما ته ځان راوښيه چې ودې ګورم، او دا ځواب به هم نه ورکېدو چې ته مې هيڅکله ليدلى نشې.

همدلته په دې مأمور شوى چې د فرعون او د ده د درباريانو په لوري د پيغمبر په توګه ولاړ شي، د حق لوري ته بلنه ورکړي او له غلامۍ د بني اسرائيلو د آزادۍ غوښتنه وکړي.

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ
أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِيٓ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾
قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ
أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾

وئې ويل: اې زما ربه! ما د دوى يو کس وژلى، نو وېرېږم چې وبه مې وژني، او زما ورور هارون تر ما ژبه ور او فصيح دئ، نو له ما سره ئې د مرستيال په توګه ولېږه چې زما تصديق کوي، يقيناً چې زه له دې وېرېږم چې دروغجن به مې وګڼي، وئې ويل: مټ به دې په خپل ورور سره مضبوط کړم او تاسو دواړو ته به داسې ځواك درپه

برخه کړم چې دوی دررسېدلی نه شي، زما د آیتونو په سبب به تاسو او ستاسو پلویان او متابعین برلاسي وي.

---

(۳۳-۳۵)- موسی علیه السلام دا دنده تر خپل وس لوړه او درنه بولي، ځان تر دې عاجز ګڼي چې دا ستر مسئولیت په غاړه واخلي او له عهدې ئې بریالی ووځي، دوه دلائل وړاندي کوي: ۱- ما د دوی یو کس وژلی، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چې وبه مي وژني، مخکې له دې چې خپل دعوت پیل کړم. ۲- د زعامت او مشرتابه لپاره چې کوم فصاحت ته ضرورت دئ زه ترې محروم یم، تر ما هارون فصیح او ژبه ور دئ، دا دنده هغه ته وسپاره. الله تعالی هارون علیه السلام د ده د مرستیال په توګه ګماري او اطمئنان ورکوي چې دښمن هیڅ تاوان نه شي دررسولی. په نورو آیتونو کې د دې مزید تفصیل راغلی او فرمایي چې موسی علیه السلام ته وویل شو: د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بني اسرائیلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړی، د خپلې بریا په اړه ډاډه اوسه، زما آیتونه ستا د بریا لپاره کافي دي.

د موسی علیه السلام د دې دواړو خبرو چې ویل ئې: (وېرېږم چې وبه مي وژني)، (وېرېږم چې دروغجن به مي وګڼي) معنی دا ده چې: ښایي ما ته د دې فرصت هم رانه کړی شي چې خپل پیغام خلکو ته ورسوم، په قتل تورن یم، له تلو سره سم به زما د وژلو پرېکړه کوي او بني اسرائیل به ما ته د شك په سترګه ګوري، ځکه چې زه څه موده د فرعون په کور کې پاته شوی یم، زما په اړه به دا فکر کوي چې د قیادت او مشرۍ شوق او تلوسه ئې د فرعون له کوره تر لاسه کړې، د دې په ځای چې ما یو پیغمبر وګڼي ما به د اقتدار وږی او د پیغمبرۍ دروغجن مدعي وشمېري!! ګورئ چې موسی علیه السلام هم د قبطیانو له غبرګونه اندېښنه لري او هم د اسرائیلیانو، هم له دوست او هم له دښمنه، قرآن حالات داسي انځور کړي چې موسی علیه السلام له هیڅ پلوه د مصر شرائط د ځان او خپل دعوت په ګټه نه ګڼي، یوازې دئ، د دې دروند پېټي د وړلو توان او حوصله په ځان کې نه ګوري، فقط یوه عصا ورسره ده، نه د دوست مثبت غبرګون ته طمع لري او نه د دښمن له پلوه څه ډاډ او اطمئنان لري، خو له دې ټولو سره سره وروستۍ فتح د ده په برخه شوه او مجهز دښمن ئې له ماتې سره مخامخ شو!!

موسی علیه السلام ته دا هر څه ناڅاپي او له تصور لوړ وو، دا کار ئې له خپل توان او طاقت لوړ ګاڼو، دا عذرونه ئې وړاندي کړي: د ژبې طلاقت نه لرم، حوصله مي کمزورې ده، یا دا پېټی د هارون په غاړه کړه، ځکه چې هغه تر ما فصیح دئ او یا ئې زما مرستیال کړه!

موسی علیه السلام د لارې په اوږدو کې په ناڅاپي توګه او په داسي حال کې چې نه ئې دا ګمان کاوو او نه انتظار، د الله تعالی له لوري د پیغمبر په توګه وټاکل شو، بایبل ادعاء کوي چې موسی علیه السلام په مدین کې پر پیغمبرۍ مبعوث شوی، خو قرآن دا ادعاء ردوي او وایي چې هغه د مدین او مصر تر منځ د طور په غره کې او هغه مهال چې مصر ته روان

وو په پیغمبرۍ مبعوث شوی. قرآن د دې خبري په کولو سره ځانګړې موخه لري، غواړي موږ پوه کړي چي موسی علیه السلام د زعامت او قیادت طمع او تلوسه نه درلوده، نه ئې کله دا خیال په ذهن کي تېر شوی او نه ئې د دې ستر کار توان او استعداد په ځان کي لیدو، په ناڅاپي توګه له دې بهیر سره مخامخ شوی او دا دنده ورپه غاړه شوې او دا هم د یوه صالح مشر یوه ځانګړې نښه ده، په خپله نه د مشرۍ تر لاسه کولو تلوسه لري او نه ئې هڅه کوي، دا دئ ګورئ چي د موسی علیه السلام په څېر ستر شخصیت او د اولوا العزمه پیغمبرانو له جملې یو پیغمبر د مشرۍ له دندي ځان عاجز ګڼي، غواړي دا مسئولیت بل چا ته وسپارل شي، خپل عذر او ناتواني وړاندي کوي او وايي: د زعامت لپاره دوو وړتیاوو ته ضرورت دئ: (پراخه حوصله) او (ښه فصاحت) چي زه له دواړو محروم یم، نه د دې درون پېټي د وړو حوصله لرم او نه ولس ته د خپل پیغام رسولو لپاره فصیح ژبه!!

قرآن د بایبل دا وینا هم غلطه ګڼي چي ګواکي الله تعالی موسی علیه السلام ته راڅرګند شوی، وايي چي موسی علیه السلام یوازي یوه رڼا لیدلې او یو غږ ئې اورېدلی، قرآن په دې خبري تأکید کوي چي په دې دنیا کي هیڅوك د الله تعالی د لیدو توان نه لري، په داسي حال کي چي موسی علیه السلام یوازینی هغه پیغمبر ګڼي چي الله تعالی ورسره خبري کړې دي، خو د همده په اړه فرمايي چي الله تعالی ته ئې د لیدو سوال وکړ، الله تعالی ورته وفرمایل چي ما نه شې لیدی، دې غره ته وګوره، که زما د تجلي په وړاندي ئې مقاومت وکړی شو نو ته به هم ما ولیدی شې، خو کله چي الله تعالی غره ته تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسی علیه السلام بې سده شو، کله چي راپه سد شو وئې ویل: ربه ! پاکي تا لره ده، زما دې توبه وي، زه لومړی هغه کس یم چي په دې خبري ایمان راوړم چي انسان د الله تعالی له لیدو ډېر عاجز دئ، او دا د بایبل د لیکونکي په خوله یو سخت ګوزار دئ چي په لسهاوو ځایونو کي ئې دا ادعاء کړې چي خدای دې او هغه ته، دلته او هلته راڅرګند شو!! موږ چي لمر ته په رڼو سترګو نه شو کتلی، د زمکي او آسمانونو هغه پیدا کوونکی رب به څنګه په خپلو دغو سترګو او دلته په دنیا کي ولیدی شو چي دا لمر د هغه د عظمت په وړاندي د مشنګو د دانې په څېر دئ!!؟ د لمر رڼا به د الله تعالی د تجلي په وړاندي څه حیثیت ولري؟

د لارښود قرآن دا آیتونه د هغو متصوفینو ادعاء هم په کلکه ردوي چي ګمان کوي اولیاء الله کولی شي الله تعالی په مشاهدې سره وګوري، دې ته د (شهود) نوم ورکوي، ادعاء ئې دا ده چي د روحاني ارتقاء او د سلوك یوه مرحله دا ده چي سالك خپل رب مشاهدتاً ګوري!! قرآن دا انګېرنه له بنسټه ردوي، او وايي چي انسان خو پرېږده لوی غر د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نشي کولی. دغو متصوفینو دا عقیده له محرف بایبل تر لاسه کړې، په قرآن او حدیث کي د داسي عقیدې لپاره هیڅ دلیل نشو موندلی، قرآن د موسی علیه السلام دا قصه د همدې لپاره رااخیستې چي د بایبل غلطه ادعاء تردید کړي. د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کي د یهودانو او د بایبل د هغو پلویانو په خوله سخت سوك دئ چي د بایبل دا غلطه خبره مني چي د دوی ګڼ شمېر انبیاءو الله

تعالى په خپلو سترګو ليدلى او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!! دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالى د ليدو خبره کوي. که د موسى عليه السلام په څېر اولوالعزمه پيغمبر نشي کولى الله تعالى وګوري بل څوك به ئې څنګه وليدى شي، موسى عليه السلام لومړى او وروستى شخص دئ چې الله تعالى ورسره تکلم کړى او دا ئې په خپلو سترګو ليدلې چې نه غر او نه انسان د الله تعالى د تجلي په وړاندې مقاومت کولى شي. بخاري روايت کوي چې عائشي رضي الله عنها د محمد عليه السلام په اړه وويل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ) (وَ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلا وحياً أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ. مسند احمد، صحيح البخارى، مسند أبى عوانه

که چا درته وويل چې محمد صلى الله عليه و سلم خپل رب ليدلى دئ نو پوه شه چې دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالى فرمايي: "سترګى ئې نشي ليدلى"، "او هيڅ انسان لره نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا او يا کومه فرشته وليږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چې غوښتي ئې وي" او که چا درته وويل چې هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالى فرمايي: له الله پرته هيڅوك علم غيب نه لري.

## د بني اسرائيلو د آزادۍ شعار

قرآن فرمايي چې د موسى عليه السلام له اساسي غوښتنو يوه د بني اسرائيلو آزادي وه، هغه د دې تر څنګ چې ټول مصريان؛ د فرعون په شمول؛ پر الله تعالى او آخرت ايمان، الهي دين ته تسليمېدا او له ظلم او فساد لاس اخيستو ته رابلي، فرعون ته په خپل خطاب کې وايي: په غلامۍ کې د بني اسرائيلو له ساتلو لاس واخله، هغوى آزاد کړه، که ئې په مصر کې نشې زغملى پرې ئې ږده چې له ما سره يو ځاى له مصره ووځي، لکه څنګه چې موسى عليه السلام د بني اسرائيلو د آزادۍ له شعار سره مصر ته تللى د هر پيغمبر يو اساسي شعار د غلامي جوغ ماتول، د غلامانو په لاس پښو کې پراته زنځيرونه شلول او غلامان آزادول وو. قرآن په دې اړه فرمايي:

فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْۖ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ طه

نو دواړه ورشئ او ورته ووايئ چې موږ ستا د رب استازي يو نو بني اسرائيل راسره ولېږه او له تعذيبولو ئې لاس واخله، يقيناً چې ستا د رب له لوري له څرګندي نښې سره تا ته راغلي

يو، او سلامتيا دې په هغه چا وي چې د لارښوونې متابعت کوي.

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ الشعراء

نو فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: يقيناً چې موږ د رب العالمين استازي يو (له دې پيغام سره) چې بني اسرائيل راسره ولېږه.

موسى عليه السلام فرعون ته وايي: ته چې پر ما د خپلو پېرزوينو او احساناتو يادونه کوې او وايې چې په خپل کور کې مې ستر کړې! د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائيل په غلامۍ کې ساتلي، د هغوی زامن دې وژل، زما مور دې ته اړه شوه چې سيند ته مې وغورځوي، په دې توګه ستا لاس ته درغلم، ولې ستا په کور کې د سترېدو پيغور راکوې؟!

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَىَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ الشعراء

خو راشئ د قرآن دا وينا د بايبل له کمزورې وينا سره مقايسه کړئ چې وايي: موسى فرعون ته وويل: د خدای قوم پرېږده چې صحرا ته ولاړ شي او د خدای عبادت وکړي!! بايبل تر دې عنوان لاندې (موسى او هارون د فرعون په دربار کې) ليکي: (د قوم له مشرانو سره له ليدو وروسته موسى او هارون فرعون ته ورغلل او ورته وئې ويل: موږ د خدای له لوري، د بني اسرائيلو د خدای له لوري؛ تا ته يو پيغام راوړی، هغه فرمايي: زما قوم پرېږده چې صحرا ته ولاړ شي او زما عبادت وکړي!! فرعون ورته وويل: خدای څوك دئ چې زه ئې خبرې واورم او بني اسرائيل آزاد کړم؟...

دوی ورته وويل: ... د عبرانيانو خدای موږ ته ويلي چې د دريو ورځو په مزل واټن صحرا ته ولاړ شو او هلته د خپل خدای لپاره قرباني وکړو، که دا کار ونه کړو نو هغه به مو په بيمارۍ يا جنګ سره ووژني!! فرعون د دوی خبره ونه منله، ... په بني اسرائيلو ئې شاقه کارونه لازيات کړل... فرعون ته د شکايت لپاره ورغلل، هغه ئې شکايت ته اعتناء ونه کړه... له قصره د راوتلو په وخت کې ئې موسى او هارون ته چې د قصر په خوله کې ورته منتظر ول وويل: خدای دې زموږ غچ له تاسو واخلي چې موږ مو د فرعون او د ده د درباريانو له نظره وغورځولو او زموږ د وژلو بهانه مو په لاس ورکړه!! موسى خدای ته شکايت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ خدای ورته وويل: اوس به وګورې چې زه له فرعون سره څه کوم؟ داسې به ئې تر فشارونو لاندې ونيسم چې نه يوازې زما قوم به پرېږدي بلکې په زور به ئې له مصره وشړي، زه همغه خدای يم چې ابراهيم، اسحاق او يعقوب ته د قادر او مطلق خدای په توګه ورڅرګند شوم خو د خدای په نامه مې ځان ورمعرفي نه کړ!! ما له دوی سره وعده کړې ده چې د کنعان سيمه به دوی ته بخښم، ... خدای موسى ته امر وکړ چې بيا فرعون ته ورشه... هغه ورته وويل: چې بني اسرائيل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟ ... )

د بايبل د دغو خبرو په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او ناسموالی ئې په ګوته کړو: د

بايبل د ادعاء له مخې موسی علیه السلام د فرعون لیدو ته ورغلی او هغه ته ئې له ځانه دا خبره کړې چې د عبرانیانو د خدای پیغام ستا لپاره دا دئ چې د خدای قوم؛ بني اسرائیل پرېږده چې له مصره د دریو ورځو په واټن صحرا ته ووځي او هلته خدای ته خپلې قرباني وړاندې کړي، ګواکې دا یو چم او چل وو، غوښتل ئې بني اسرائیل په دې پلمه له مصره ووځي او کنعان ته ولاړ شي!! قرآن دا ادعاء ردوي او فرمايي چې موسی علیه السلام فرعون ته همغه څه ویلي چې هر پیغمبر ئې ولس او د ولس واکمنانو ته وايي، هغه ئې په الله تعالی او آخرت ایمان ته رابللی، د نورو اساسي خبرو په ضمن کې ئې هغه ته ویلي چې د بني اسرائیلو له تعذیب، ځورولو او په اسارت او غلامۍ کې د دوی له ساتلو لاس واخله، پرېږده چې آزاد ژوند وکړي، که ترې وېرېږې او د همدې لپاره ئې په اسارت او استضعاف کې ساتې او زامن ئې ورته وژنې نو پرې ئې ږده چې له مصره ووځي او د خپلې خوښې سیمې ته له موږ سره ولاړ شي... فرعون ورته وويل: آیا ته همغه نه یې چې ماشوم وې او موږ وروزلې او د خپل عمر څو کلونه دې زموږ خوا کې تېر کړل؟ او خپل هغه کار دې هم وکړ، حال دا چې هغه وخت ته هم (زموږ په څېر) د کافرانو له ډلې وې، وئې ويل: هغه کار مې په داسې حال کې کړی چې له لار ورکو او ناپوهانو وم (په ناپوهۍ کې هغه کار رانه شوی، اعتراف کوم چې هغه وخت زه هم ستاسو په څېر لار ورکی وم) نو کله چې له تاسو ووېرېدم درنه وتښتېدم، نو زما رب راته حکم راکړ او له پیغمبرانو ئې وګرځولم او دا پېرزوینه چې ته ئې پر ما منت ږدې، د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائیل غلامان کړي (که دوی آزاد وی ولې به زه د خپلې مور له غېږې محرومېدم، ستا لاس ته به درتلم او ستا تر روزنې لاندې به نیول کېدم او ولې به تا نن د دغې خبرې منت پر ما اېښودو او خپله دا پېرزوینه به دې ما ته رایادوله؟!!) د قرآن الفاظ دا دي:

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَىَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ الشعراء

د بايبل د ليکوال دا بد عادت دئ چې تل د خپلو قصو اتلان داسې انځوروي چې په چل او چم سره غواړي خپلو موخو ته ځان ورسوي!! او له دې د ليکوال مقصد دا دئ چې د بايبل منونکي او پلويان ذهناً دې ته چمتو کړي چې ومني په مکر او چل سره ځان خپل هدف ته رسول د اتلانو او پیغمبرانو کار دئ!! کاش ده داسې یوه پلمه جوړه کړې وی چې فرعون ته د منلو وړ او معقوله برېښېدی، موسی علیه السلام به څنګه د فرعون په څېر یوه

ستر ظالم ته وايي چې خدای تا ته دا پيغام لېږلی چې بني اسرائيل پرېږده له مصره صحرا ته ووځي او هلته خپل خدای ته خپلې قربانۍ ورلاندي کړي!! آيا موسی عليه السلام په فرعون باندې د داسې ساده او کمعقله انسان گمان کاوو چې دا پلمه به ومني او د وتلو اجازه به ورکړي؟!!

---

قرآن د بايبل دا خبره هم ردوي چې د بني اسرائيلو مشرانو موسی عليه السلام د خپلو ستونزو عامل گڼلی او شکايت ئې ترې کړی او ده له هغه څه شکايت کړی چې الله تعالی له بني اسرائيلو سره کول!! د دې ادعاء په خلاف فرمايي چې موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته د صبر او له الله تعالی د مرستې غوښتو توصيه وکړه:

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ الاعراف

موسی خپل قوم ته وويل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، يقيناً چې زمکه د الله ده، له خپلو بندگانو ئې چې چا ته خوښه وي په ميراث ئې ورکوي او نېکه پايله د متقيانو ده ( وروستی بری د هغه چا په برخه کېږي چې له بې صبرۍ ځان وساتي او له الله تعالی پرته بل چا ته د مرستې لاس اوږد نه کړي).

او د بني اسرائيلو همتناك او له شهامته ډك ځواب داسې بيانوي:

قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ الاعراف

وئې ويل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي يو او له راتلو وروسته دې هم، (موسی عليه السلام) ورته وويل: اميد دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د زمکې خلافت درپه برخه کړي او بيا وگوري چې تاسو څنگه عمل کوئ.

---

د قرآن د وينا له مخې بني اسرائيلو په مېړانې او صبر سره د موسی عليه السلام ملگرتيا کړې او د همدغه صبر په سبب الله تعالی پر دښمن بری ورکړ او د نړۍ پر ټولو قومونو او ولسونو ئې دوی ته فضيلت ورکړ. که څه هم ځينو درنو مفسرينو د بني اسرائيلو دا ځواب د ضعف او بې زړه توب نښه او د شکايت په توگه تعبير کړی خو دا توجيه کمزورې ده، ځکه چې د يونس د سورې په ۸٤-۸٦ او د الاعراف سورې په ۱۳۷آيتونو کې په دې اړه داسې راغلي:

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ

﴿۸۶﴾ یونس
او موسی وویل: اې زما قومه! که مو پر الله ایمان راوړی وي نو پرې توکل وکړي که مسلمانان یئ، نو وئې ویل: پر الله مو توکل دئ، اې زموږ ربه! د دغه ظالم قوم لپاره مو د آزمېښت وسیله ونه ګرځوې او په خپل رحمت سره مو له دې کافر قوم وژغورې.

... وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ... ﴿۱۳۷﴾ الاعراف

... او ستا د رب غوره وینا د بني اسرائیلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ....

دلته د بایبل په وینا کې جدي تناقض ګورو، له یوې خوا بني اسرائیل داسې معرفي کوي چې د فرعون په غلامۍ کې راضي وو او پر موسی علیه السلام ئې دا اعتراض درلود چې ولې ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کړل، خو له بلې خوا وايي چې دوی له مصر د وتلو په اړه له موسی علیه السلام سره موافق ول او د همدې لپاره د دوی مشران د فرعون لیدو ته ورغلي وو، پوښتنه دا ده چې هغه ولس به څنګه د یوه انقلابي مشر قیادت ومني، پاڅون ته به ملا وتړي او له ده سره به یوځای هجرت ته تیار شي چې هغه ته ئې ځواب دا وي: ستا په سبب فرعون او درباریان ئې له موږ ناراضه شوي، له موږ ئې مخ اړولی او په مرګ مو ګواښي!! آیا دا د یوه ستر پیغمبر په نسبت لوی اتهام نه دئ چې خدای ته ئې شکایت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آیا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ آیا د بایبل دا ادعاء به کوم عقلمن او په دین پوه انسان ومني چې وايي: خدای موسی ته امر وکړ چې بیا فرعون ته ورشه... هغه ورته وویل: چې بني اسرائیل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟

## د عصا په اړه د بایبل غلطه وینا

بایبل (د هارون عصا) تر عنوان لاندې لیکي: (خدای موسی او هارون ته وویل: دا ځل به د مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دې خپله عصا د فرعون په مخکې پر زمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بیا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباریانو په وړاندې خپله عصا پر زمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکیمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلې عصاګانې ئې پر زمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول، خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل... خو د دې معجزې له لیدو سره سره د فرعون زړه سخت پاته شو... بیا خدای موسی ته وویل: سبا هغه عصا درسره واخله چې مار ترې جوړ شوی وو، د نیل ژۍ ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووایه: ... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دئ... زه به د ده په امر د نیل اوبه په یوه ګوزار سره په وینو بدلې کړم... هارون

د پاچا او درباريانو په وړاندي د نيل اوبه په خپلي عصا ووهلې او په وينو بدلې شوې، ټول ماهيان مړه شول او اوبه گنده شوې، ... خو د فرعون زړه همغسي سخت پاته شو... له دې يوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وويل: فرعون ته ورشه او ورته ووايه: زما قوم پرېږده چې ولاړ شي او زما عبادت وکړي، که نه نو ټول مصر به له چنگاښو درته ډك کړم، د نيل سيند به داسي له چنگاښو ډك شي چې بهر به راووځي او ستا د قصر په لوري به هجوم راوړي... ستا د خوب خونې، د اوړو نغريو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نيل سيند، چينو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له چنگاښو ډك شول... خو مصري جادوگرانو هم په خپل جادو سره همدا کار وکړ او ډېري زياتي چنگاښې ئې راپيدا کړې!! فرعون له موسی وغوښتل چې خپل خدای ته دعاء وکړي چې دا بلا زموږ له سره لري کړي، ژمنه کوم چې په هغه صورت کې به بني اسرائيل پرېږدم چې ولاړ شي او د خپل خدای لپاره قرباني وکړي... موسی دعاء وکړه... ټولي چنگاښي مړې شوې ... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بيا خدای موسی ته وويل: هارون ته ووايه چې سبا خپله عصا پر زمکه ووهي چې ټول مصر له ماشو ډك شي... همداسي ئې وکړل او ټول مصر له ماشو ډك شو او پر خلکو ئې بريد پيل کړ... د مصر جادوگرانو وغوښتل چې همدا کار وکړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وويل: په دې کار کې حتماً خدای لاس لري... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... ورپسې په همدې توگه د مچانو، طاعون، دانو، ږلۍ، ملخ او سختې تيارې داسي يادونه کوي لکه چې ئې د مخکينيو مصيبتونو يادونه کړې، الفاظ ئې تکراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا يو له دغو مصيبتونو پر مصريانو مسلط شوی او بيا فرعون له موسی غوښتي چې دعاء وکړي... د موسی عليه السلام د دعاء په وجه مصيبت ترې دفع شوی خو فرعون په خپل قول عمل نه دئ کړی!! په پای کې ليکي چې فرعون موسی عليه السلام ته وويل: زما له مخي لري شه او بيا مه راځه که نه نو وژل کېږې، موسی ورته وويل: لکه څنگه چې تا وويل بيا به ما ونه گورې، نو خدای موسی ته وويل: داسي بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چې دی به په خپله له تاسو وغواړي چې له مصره ووځئ!! د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چې تر وتلو مخکې له خپلو مصري گاونډيو سره او سپين زر (په امانت) تر لاسه کړي!!! نو موسی فرعون ته وويل: خدای فرمايي: نن نيمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري کورنيو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له مشره زويه چې د ده ځای ناستی دئ نيولې د هغې وينځې تر زوی پوري چې کار ئې په مېچني سره د غنمو وړه کول وي، حتی د مصر د څارويو لومړي بچيان به هم ومري!!! ... نو دغه وخت موسی له غصې سره د فرعون له قصره ووت،...)

دلته د بايبل گڼ شمېر خبري د سالم عقل او صحيح الهي دين خلاف دي او قرآن ئې ردوي:

بايبل داسي ښيي لکه چې موسی عليه السلام څو اونۍ پر له پسې د فرعون په دربار کې تېري کړې وي او په همدې مودې کې خدای په وار وار ورته راغلی او ده ته ئې د نوې معجزې

ښودلو لارښوونه کړې وي، ده هم خپلې ټولې معجزې د فرعون په حضور کې او له جادوګرانو سره په مقابله کې ښودلې دي، هر څه چې ده کړي جادوګرانو هم همغه کار کړی، دوی یوازې د ماشو په پیدا کولو نه دي توانېدلي!! دا هسې یوه بې بنسټه او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هیڅ جادوګر، که هر څومره ماهر او چالاك وي، هیڅ شی نه شي پیدا کولی، نه مړ شی او نه ژوندی، د جادوګر کمال او هنر په دې کې وي چې د خلکو ذهن تر اغېز لاندې راولي او یو شی د خپلې اصلي بڼې په ځای په بدلې بڼې کې وګوري، جادوګر له دې پرته نور هیڅ نه شي کولی، له الله تعالی پرته نه څوك په جادو سره څه پیدا کولی شي او نه په بل څه سره، د قرآن د وینا له مخې جادوګرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترګو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهیت کې څه تبدیلي نه ده راغلې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. قرآن د سحر د ماهیت په اړه فرمايي:

قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ﴿٦٦﴾ طه

(موسی علیه السلام جادوګرانو ته) وویل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه وخت د دوی د سحر په وجه د دوی پړي او عصاګانې داسې ورته وبرېښېدې چې ګواکې ځغلي.

یعني جادوګرانو په خپل جادو سره یوازې دومره څه کړي چې پر زمکې پراته پړي او عصاګانې موسی علیه السلام او نورو ته داسې برېښېدلې چې ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شیانو په ماهیت کې څه تبدیلي نه ده راغلې، بلکې د خلکو ذهن ته داسې ورغلي چې دا پړي او عصاګانې د مارانو په څېر ځغلي او په دې سره د بايبل د ټولو هغو ادعاګانو تردید شوی چې وايي: جادوګرانو دا او هغه شیان راپیدا کړل!!

د ټولو معجزو موخه دا ښودل شوې چې فرعون د بني اسرائیلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چې مصریان پر خدای ایمان راوړي، له کفر او شرك لاس واخلي او د الله تعالی دین ته غاړه کښېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وینا ته ځیر شئ وبه ګورئ چې موسی علیه السلام فرعون او مصریانو ته جامع او بشپړ پیغام لري، د بني اسرائیلو آزادي د اساسي مسائلو په ضمن کې او د یوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.

که معجزې یوازې فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چې فرعون بني اسرائیلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي، ولې ئې په ټولو مصریانو دا مصیبتونه راوستل؟ ولې ئې د ټولو مصریانو حتی د هغو وینځو مشران زامن هم ورته وژل چې مېچنې ئې چلولې؟!! آیا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چې الله تعالی د مصریانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آیا الله تعالی د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چې زمکې ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چې د کلیوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چې انسانان د الله تعالی په اراده پیدا کېږي او مري، داسې مري لکه چې بايبل وايي؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چې بايبل تر دې وروسته کړې او لیکلي ئې دي چې

خدای به په مصر کې د بني اسرائيلو او مصريانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چې د بني اسرائيلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وينو سرې شوې وي او د دغو وينو په ليدو سره به د بايبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، يوازې د مصريانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

ګورئ چې بايبل دلته هم خدای داسې معرفي کوي چې بني اسرائيلو ته د غدر او خيانت لارښوونه کوي، وايي چې خدای موسی عليه السلام ته ويلي وو: د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چې له خپلو مصري ګاونډيو د سرو او سپينو زرو ښه ډېري ګاڼې (په کومه پلمه) تر لاسه کړي، چې بيا ئې د وتلو په وخت کې له ځان سره يوسي!! آيا ممکنه ده چې د زمکې او آسمانونو رب به خپلو بندګانو ته داسې د غدر او خيانت درس ورکوي!!

راشئ وګورو چې قرآن د موسی عليه السلام د قصې د دغې برخې په اړه څه وايي او د قرآن او بايبل د ويناوو تر منځ څومره ژور توپير شته، دا څومره لوړ، جامع او اغېزناک او هغه بل څومره ټيټ، بې محتوی او بې ارزښت!!! قرآن فرمايي:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ
مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ
﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ
﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ
وَٱبْعَثْ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ
يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُوا۟ هُمُ
ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُوا۟ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾
قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا۟
حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا۟ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا
هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾
رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي
عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ
وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ قَالُوا۟ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا

رَبُّنَا خَطَـٰيَـٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾ الشعراء

(فرعون موسی علیه السلام ته) وویل: که له ما پرته دې بل معبود غوره کړ له زندانیانو به دې وګرځوم، (هغه ورته) وویل: (زندان ته مې لېږې) که څه هم (د خپل حقانیت د اثبات لپاره) څرګنده نښه درته وړاندې کړم؟! هغه ورته وویل: راځې وړه که رښتینی یې! نو خپله عصا ئې وغورځوله چې ښکاره مار ترې جوړ شو او خپل لاس ئې راوایست چې لیدونکو ته روڼ او ځلانده وو، (فرعون) په خپلې خوا کې درباریانو ته وویل: دا خو ډېر پوه جادوګر دئ، غواړي په خپل جادو سره مو له خپل ملکه وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ وئې ویل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کې ټول راغونډوونکي (جارچیان او اربکي) وګماره، چې ټول پوه ماهر جادوګران درته راولي، نو جادوګران د معلومې ورځې ټاکلي ځای ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شو: آیا تاسو هم راغونډېدونکي یئ، چې د (موسی په ځای د خپلو) دغو جادوګرانو متابعت وکړو، (په خاصه توګه هغه وخت چې) دوی برلاسي شي، نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که موږ برلاسي شوو نو آیا موږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ویل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربینو په ډله کې وئ!! موسی ورته وویل: څه چې (د جادو ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! نو خپل پړي او عصاګاني ئې وغورځولې او وئې ویل: د فرعون په عزت قسم چې موږ هرو مرو غالبېدونکي یو!! نو موسی خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، نو جادوګران په سجده پرېوتل او وئې ویل: په رب العالمین مو ایمان راوړ، د موسی او هارون په رب، (فرعون) وویل: آیا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم تاسو ایمان راوړ؟!! په دې کې شك نشته چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی، نو اوس به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم، (دوی ورته) وویل: باك نشته، موږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي یو، طمع مو دا ده چې زموږ رب به زموږ خطاګاني په دې خاطر راته وبخښي چې لومړني ایمان راوړونکي شوو).

د قرآن په دې مؤجزو او مختصرو الفاظو کې هومره پراخ او ژور مطالب او لارښوونې پرتې دي چې له شرحې او تفصیل ئې یو کتاب جوړیږي، ځینې مهمې برخې ئې دا دي:

- فرعونان په دلائلو نه قانع کېږي، د حق د لارې مبارزین دې له ظالمو او فرعون صفته واکمنانو دا طمع نه کوي چې د دوی دلائل به ومني او له مخالفته به لاس واخلي.
- لکه څنګه چې فرعون د موسی علیه السلام مقابلې ته د مصر جادوګران راوړاندې کړل، همدا راز به تل او د تاریخ په هر پړاو کې، د فرعون ملګرې، د هر دیني تحریك په ضد، ټګمار مذهبي مشران راوړاندې کوي او د دین مقابله به په دین او د مذهب مقابله به په مذهب سره کوي، د حقپالو دعوتګرانو په ضد به د دین پلورونکو ټګمارو مذهبي مشرانو ډله لومړي خط ته لېږي.

• که غواړئ چې يو واقعي دعوتګر وپېژنئ او له دروغجن، ټګمار، دين خرڅوونکي او مذهب پلورونکي مذهبي مشر ئې تفکيك کړئ نو دا به د يوه ځلانده ملاك او معيار په توګه په پام کې لرئ چې له فرعونانو سره ئې چلن څنګه دئ، د هغه مقابله کوي که د هغه مزدور دئ، د ده په ضد خوځېږي که د ده په امر او اشاره، خدای ته د تقرب په لټه کې دئ که فرعون ته!! قرآن دلته د موسى عليه السلام په مقابل کې ټګمار او د فرعون مزدور مذهبي مشران د جادوګرانو په څېره کې انځوروي چې دا ئې ځانګړتياوي ګڼي: د حقپالونکو په ضد د فرعون په امر راغونډېږي، له فرعون د مزد او اجورې طمع لري، تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چې فرعون ته ئې تقرب او نژدې والی په برخه شي او د درباريانو په ډله کې ونيول شي.

• د فرعوني نظامونو واکمنان به تل د ديني خوځښتونو په ضد په هغه دين او مذهب ترکيز کوي چې د دوی د واکمنۍ تر سيوري لاندې په ولس کې خور شوی، د قومي مذهب بنه ئې غوره کړې، د ټولني حاکم وضعيت د الهي مقدراتو مطابق او د الله تعالی د خوښې حالت ګڼي، ولس ته په دې حالت د قناعت توصيه کوي، له مخالفت ئې منع کوي، ولس ته ئې پيغام دا وي چې په روان وضعيت راضي اوسه، دا واکمنان د خدای سيوری ګڼه، له دې حالت سره مخالفت له الهي مقدراتو سره مخالفت بوله!! ګورئ چې فرعون ولس ته څه وايي: ولې د موسى په ځای د خپلو مخکينيو مذهبي مشرانو متابعت ونه کړو؟!!

• خو دغه لومړي خط ته لېږل شوي مذهبي مشران، هغه چې فرعون خلکو ته ويل: د موسى په ځای ولې د دوی متابعت ونه کړو!! کله چې د موسى عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوهېږي او ايمان راوړي، د دوی په اړه د فرعون دريځ او پرېکړه دا ده: موسى ستاسو په څېر دئ، ستاسو استاد دئ، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه کړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه کړې وه، که داسې نه وی نو ولې مو زما له اجازې مخکې خپله ماتې ومنله، د خلکو په وړاندې موسى ته تسليم شوئ او ايمان مو راوړ؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه کوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع کوم.

• کوم ځواب چې جادوګران ئې په دې وخت کې فرعون ته ورکوي، ډېر عجيب، د پام وړ او ارزښتناك دئ، وايي: هيڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو يو، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونکي رب په لوري بيايي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له يوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندې ايمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسى عليه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفيل ئې خپله بريا يقيني او حتمي ګڼله، له فرعون ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباريانو په ډله کې ونيول شي، خو اوس او په الله تعالی باندې له ايمان وروسته په دوی کې دومره ژوره تبديلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګ نه وېرېږي، مرګ

د الله تعالی په لوري د تلو وسیله ګڼي او پروڼۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وايي چې د ايمان خاوند بايد داسې وي، که تاسو په رښتيا په الله تعالی ايمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

• د فرعون په ځواب هم بايد غور وکړو چې موسی علیه السلام ته ئې ورکړ او وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله او معبود ونيولو، خامخا به دې له زندانيانو وګرځوم. (يعني په دې ملك کې به له ما پرته بل چا ته په دې سترګه نه ګورې چې احکام صادروي او د پرېکړو حق لري، دلته خو يوازې زما احکام چلېږي او که تا د بلې مرجع دعوی وکړه نو ځای دې زندان دئ، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان کې پروت وې).

• د قرآن د وينا له مخې نن د نړۍ نژدې ټول نظامونه فرعوني نظامونه دي، شتمنۍ د څو محدودو شتمنو په لاس کې، پراخې او اضافي ادارې له ډېرو مأمورينو سره، ستر ستر فوځونه او پوليس او د هغوی ملا ماتوونکې مصارف... دا ټول د عام ولس په اوږو بار وي او مصارف ئې له عام ولس تر لاسه کېږي، چارواکې ئې تر فرعون هم زيات بې رحمه، ظالم او مغرور، چې نه له الله تعالی وېرېږي او نه په ولس ترحم لري!!

• قرآن عظيم الشأن فرمايي: چې فرعون نه يوازې خپل مخالفين په زندان کې اچول بلکې هغوی ئې رجم کول، د دوی پر لاسونو او پښو کې ئې مېخونه ټك وهل، عادي او پردي مخالفين خو پرېږده حتی د خپلې هغې مېرمنې په لاس او پښو کې ئې هم مېخونه ټك وهل چې ايمان ئې راوړی وو!!

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾

نو کله چې موسی څرګندې نښې ورته راوړې وئې ويل: دا خو له ځانه جوړ شوې جادو پرته بل څه نه دي او دا مو د خپلو مخکينيو پلرونو په ويناوو کې نه وې اورېدلې. او موسی وويل: زما رب هغه څوك ډېر ښه پېژني چې د ده له لوري له لارښوونو سره راغلی او هغه چې د (آخرت) غوره مېشت ځای به ئې په برخه وي. حقيقت دا دئ چې ظالمان نه برياليي کېږي.

(۳۶-۳۷)- دلته د موسی علیه السلام د څرګند لارښود دعوت په وړاندې د قوم عکس العمل او د ده ځواب زموږ مخې ته ايښودل شوي:

• قوم ورته وايي: ستا ټولې معجزې له جادو پرته بل څه نه دي، دا نوې خبرې دي، زموږ

د پلار نيکه له دين او مذهب سره اړخ نه لګوي، دا خبرې مو تر دې د مخه له خپلو نيکونو ندي اورېدلې، ته غواړې د پلار نيکه لار پرېږدو او نوی دين ومنو؟!!

- موسی علیه السلام ورته وايي: الله تعالی ښه پوهېږي چې څوك په سمه لار روان دئ او څوك په کږې، د چا عاقبت نېك او غوره دئ او د چا بد، د هر چا د وينا او عمل په اړه بايد د الله تعالی د دين په رڼا کې قضاوت وکړو، نه دا چې له پلار نيکه راپاته دين او مذهب حق او سم وګڼو او په پټو سترګو پسې روان شو، په دې پوه شئ چې د ظالمانو پايله وخيمه ده، هيڅ بريا به ئې په برخه نشي او له الهي عذابه به ونه ژغورل شي.

په نورو آيتونو کې د دې پېښې تفصيلات داسي راغلي:

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ الاعراف

د فرعون د قوم درباريانو وويل: دا خو حتماً يو ډېر پوه جادوګر دئ، غواړي تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه امر کوئ؟ وئې ويل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او ښارونو ته اربکي ولېږه، چې هر ماهر او پوه ساحر درته راولي. او جادوګران فرعون ته راغلل او وئې ويل: حتماً به مو څه بدله په برخه کېږي، که برلاسي شوو؟ وئې ويل: هو؛ او تاسو به خامخا له مقربينو وئ.

دلته څو ټکي په پام کې ولرئ:

- درباريانو د موسی علیه السلام د معجزو له ليدو وروسته وويل چې دا حتماً يو ماهر جادوګر دئ، که خپلې مخې ته پرېښودی شي نو زمکه به درته سور اور کړي، تاسو به له اقتدار او واکمنۍ محروم او د دې هېواد پرېښودو ته اړ کړي، ووايئ چې څه چاره ئې وکړو، مشوره مو څه ده، له "ما ذا تأمرون" دا معنی هم اخيستل کېدی شي چې دوی فرعون ته ويلي چې څه امر کوې، که څه هم تأمرون د جمع صيغه ده، خو واکمنانو ته د دوی درباريان تل همداسي خطاب کوي، دا توجيه تر ټولو غوره برېښي چې درباريانو په خپل منځ کې دا خبره ياده کړې، د دوی له منځه چا ويلي چې نو مشوره مو څه ده، ټول په دې متفق شوي چې فرعون ته ووايي: موسی او ورور ته ئې مهلت ورکړه، د هېواد ګوټ ګوټ ته اربکي ولېږه چې له موسی سره د مقابلې لپاره تکړه جادوګران راغونډ کړي، فرعون دا مشوره منلې ده. دا څکه چې په الفاظو کې دا نه مومو چې غونډه د فرعون په حضور کې دائره شوې او هغه درباريانو ته څه ويلي.

- دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې فرعون او درباريان ئې ولې د موسی علیه السلام له يوې

معجزې دومره په وېره کې شول چې وايي تاسو له خپل ملك باسي؟! د يوه داسي ستر هېواد مطلق العنان واکمن چې له شام تر ليبيا پوري او د مديترانې له ساحله تر حبشې پوري غزېدلی وو، څنگه له تش لاسي موسی عليه السلام او د ده له بې وزلي او مريي قوم دا وېره احساس کړه؟! ځواب ئې دا دئ چې:

د همدغه بې وزلي قوم يوه ستر او نامتو مشر يوسف عليه السلام په دغه ستر هېواد حکومت کړی وو، د مصر اکثريت اوسېدونکو له هغه سره کلکه مينه درلوده او د ده په څېر د يوه مهربان، زړه سواند، امين او مدبر مشر غوښتونکي ول، د غافر (المؤمن) سورې په ٣٤ آيت کې ويل شوي چې کله فرعون د موسی عليه السلام د وژلو خبره وکړه د ده له درباريانو يوه کس چې ايمان ئې راوړی وو خو خپل ايمان ئې نه څرگنداوو له موسی عليه السلام په ډېرو اغېزناکو الفاظو دفاع وکړه، دوی ته ئې يوسف عليه السلام ورپه ياد کړ او وئې وويل: تر دې د مخه يوسف له څرگندو نښو سره درته راغلی وو، د هغه له وفاته وروسته تاسو ويل چې الله به بيا داسي پيغمبر راونه لېږي، دا آيت ښيي چې د موسی عليه السلام د دعوت اغېز حتی تر دربار پوري غزېدلی وو.

د موسی عليه السلام دعوت داسي وو چې له فرعوني نظام د بغاوت معنی ئې درلوده، فرعونيان پوهېدل چې که په مصريانو کې دا دعوت خور شي نو د دوی اقتدار له ستر گواښ سره مخامخ کوي.

فرعون ته د جادوگرانو په وينا کې موږ ته د سرکاري مذهبي مشرانو خصوصيات معرفي شوي، دوی د واکمنانو په حکم راغونډېږي، له حکامو د خپلو فتوی گانو اجوره تر لاسه کوي، ستر هدف ئې دا وي چې د دربارونو تقرب ئې په برخه شي.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ١١٥ قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٖ ١١٦ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧ الاعراف

(جادوگرانو) وويل: اې موسی! ته ئې غورځوې (خپله عصا) او که موږ لومړني غورځوونکي شو (د خپلو پړو او عصاگانو)؟ وئې ويل: وئې غورځوئ، نو کله چې دوی وغورځول د خلکو سترگې ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندې کړ. او موسی ته مو وحي وکړه چې خپله عصا وغورځوه، نو ناڅاپه دې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په دوکې او چل ول سره جوړ کړي وو.

په دې آيتونو کې څو خبرې شوې:

- جادوگرانو موسی عليه السلام ته وويل چې ته خپله معجزه ښيې او که موږ پرېږدې چې خپل هنر وړاندې کړو؟ د وينا الفاظ ئې داسي وو چې غوښتل ئې دوی ته د لومړيتوب موقع ورکړی شي. موسی عليه السلام ورسره موافقه کوي.

- د دوی هنر د لاس چالاکۍ او د خلکو سترګې دوکه کول او تر اغېز لاندې نيول وو، داسې څه ئې وښودل چې خلك ئې ووېرول، د جادو ستره مظاهره ئې وكړه.
- الله تعالى موسى عليه السلام ته وحې وكړه چې خپله عصا وغورځوي، عصا ئې فوراً د جادويي پړو او عصاګانو په ښوی تېرولو پيل وكړ.

فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾ الاعراف

نو حق واقع او محقق شو او هغه څه باطل او محوه شول چې دوی كول. هلته نو مغلوب او ذليل شول. او جادوګران په سجده پرېوتل. وئې ويل: په رب العالمين مو ايمان راوړ. د موسى او هارون په رب.

حق غالب شو، د فرعونيانو هڅې هدر ولاړې، په دې مقابلې كې مغلوب شول، د كبر او لويې پايله ئې سپكاوی او ذلت وو، د چا په هنر او كمال چې دوی تكيه كړې وه؛ هغوی نه يوازې ماتې وخوړه بلكې د موسى عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوه شول، د الله تعالى په وړاندې په سجده پرېوتل، په رب العالمين باندې ئې خپل ايمان څرګند كړ، ټولو خلكو دا صحنه په خپلو سترګو ليدله، فرعونيان په خپلې لومې كې نښتې ول، هغه څه وشول چې دوی ترې وېرېدل.

قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُواْ مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾ الاعراف

فرعون وويل: آيا تر دې مخكې چې زه اجازه دركړم ايمان مو راوړ؟ دا حتماً ستاسو داسې يو پټ تدبير دئ چې په دې ښار كې مو تر سره كړ د دې لپاره چې اوسېدونكي ئې ترې وباسئ! نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره كوم). حتماً به ستاسو لاس پښې يو د بل خلاف پرې كړم، بيا به تاسو ټول پانسۍ كړم. وئې ويل: يقيناً چې موږ د خپل رب لوري ته بېرته ورګرځېدونكي يو. او له دې پرته په بل څه موږ نه رټې چې د خپل رب په آيتونو مو له هغه وروسته ايمان راوړ چې موږ ته راورسېدل، اې زموږ ربه! پر موږ صبر راولېږه او په داسې حال كې مو وفات كړه چې مسلمان وو.

فرعون چې په خپلې لومې كې نښتی وو، له يوې خوا بايد ولس ته څه ووايي او له بلې خوا جادوګرانو ته چې د ده دښمن ته تسليم شوي او دی ئې له ستر سپكاوي سره مخامخ كړی، د همدې لپاره وايي: تاسو ولې زما له اجازې مخكې ايمان راوړ؟ پكار خو دا وه چې زما

تر پرېکړې مو انتظار کړی وی، دا حتماً ستاسو چل ول وو، موسی ستاسو د ډلې مشر دئ، په ګډه مو دا دسیسه جوړه کړې ده، غواړئ د دې ښار اصلي اوسېدونکي ترې وباسئ، نو اوس به د خپلې توطئې سزا حتماً وګورئ، د لاس پښو پرې کېدا او په دار ځوړېدا مو سزا ده!!

په دې مختصرو الفاظو کې ډېر زیات ستر ستر حقائق او درسونه پراته دي، موږ ته لارښوونه کوي چې د مظلومو او محکومو ولسونو د وېرولو لپاره د فرعونانو وینا څه وي؟ خلکو ته څه وايي؟ له څه ئې وېروي؟ دوی له یوې خوا ولس ته د عدالت غوښتونکو په ضد وايي: دوی د نظام په ضد توطئې کوي، غواړي امنیت له منځه یوسي، ستاسو هېواد په سور اور بدل کړي، تاسو د هېواد پرېښودو ته اړ کړي او له بلې خوا ئې وېروي، هم له نظام سره د مخالفت له سختې سزا او هم د مخالفینو د برلاسي له خطرناکو عواقبو.

خو د جادګرانو په ځواب کې څو مهمې خبرې تر سترګو کېږي:

هغه کسان چې تر ایمان د مخه د فرعون په حکم خوځېدل، د اجورې لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابلې ته ملا تړلې وه، لویه هیله ئې دا وه چې د دربار تقرب ئې په برخه شي، له ایمان راوړو وروسته نه یوازې د فرعون له سختو ګواښونو نه وېرېږي، بلکې مرګ د خپل رب په لورې د تلو وسیله ګڼي، فرعون ته وايي چې زموږ جرم فقط دا دئ چې د نښو او دلائلو له لیدو وروسته مو د الله تعالی په آیتونو ایمان راوړی، له الله تعالی د صبر او استقامت غوښتنه کوي، غواړي مرګ ئې د مسلمان مرګ وي، یعنی اوس ئې وېره په خپل ایمان او اسلام ده، یوازې له دې وېرېږي چې د تعذیبونو په وړاندې بې صبره نه شي او داسې څه ته اړ نشي چې له اسلام او د الله تعالی له اوامرو د مخالفت په معنی وي!!

---

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ لِى يَٰهَٰمَٰنُ
عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ
ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا
لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾
وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾

او فرعون وویل: اې درباریانو! ستاسو لپاره له ځان پرته بل معبود نه پېژنم، نو اې هامانه! خټه په اور راته پخه کړه او لوړه ماڼۍ راته جوړه کړه چې د موسی د معبود لوري ته لوړ شم او یقیناً چې زه ئې له دروغجنو ګڼم. او ده او لښکرو ئې په زمکې کې په ناحقه لویي وغوښته او ګمان ئې وکړ چې زموږ لوري ته به نه راګرځول کېږي. نو

دی او د ده لښکري مو ونیول او سیند ته مو وغورځول، نو وګوره چې د ظالمانو پایله څنګه وه؟! او له دوی مو داسې ډله جوړه کړه چې د اور په لوري بلنه ورکوي او د قیامت په ورځ به ئې (هیڅوك) مرسته ونه کړی شي. او په دې دنیا کې مو لعنتونه ورپسې کړل او د قیامت په ورځ به له قبیح او رذیل ګڼل شوو وي.

---

(۳۸-٤۲)- د دې مبارکو آیتونو ځیني جامع لارښووني دا دي:

- فرعون خپلو درباریانو ته هم وایي چې ستاسو لپاره له ځان پرته بل معبود نه پېژنم. یعني هغه خپلو درباریانو ته هم د غلامانو او بندګانو په سترګه ګوري، له دوی سره ئې هم معامله د بادار او غلام معامله وي.
- هامان ته وایي دنګه ماڼۍ راته جوړه کړه، خو تر دې نامه لاندي چې غواړي بر لاړ شي او خلکو ته دا وښیي چې هلته ئې د موسی رب نه دئ موندلی، هغه درواغ وایي چې رب ئې بر په آسمان کې دئ!! ځان ته لوړه ماڼۍ جوړوي خو د رژیم له مخالفینو سره د مقابلې تر نامه لاندي، هر فرعون همداسي کوي، د دنګو ماڼیو له جوړولو د فرعونانو موخه یوازي دا نه وي چې د مرفه او له تعیشه ډك ژوند شرائط ځان ته برابر کړي بلکي پر دې برسېره غواړي عام ولس تر خپل رعب او هیبت لاندي راولي.
- هامان ته دنده سپاري چې دا دنګه ماڼۍ به له پخو خښتو جوړوي، خو باید وګورو چې آیا دا د مصر موجود اهرامونه همغه دي چې فرعون جوړ کړي؟ آیا دا ستري ستري ډبري چې د اهرامونو په جوړولو کې کارول شوې؛ ډبري دي که له خټو جوړي شوې پخې خښتي چې د وخت په تېرېدو سره په ډبرو بدلې شوې؟ ځیني دا ادعاء کوي چې اهرامونه له داسې سترو تیرو جوړ شوي چې له درې سوه کیلومتره لرې سیمې د غلامانو په واسطه راوړل شوې دي، په خپله د اهرام شاوخوا نژدې سیمې کې داسې ډبري نه موندل کېږي!! له پرمخ تللو وسائلو پرته د داسې تیرو راوړل او هغه هم په دومره لوی شمېر کې او بیا یوه د بلې د پاسه اېښودل ډېر ګران کار دئ. که دا اهرامونه همغه وي چې قرآن ورته ګوته نیسي نو په بشپړ یقین سره ویلی شو چې تیري ئې په اصل کې ستري ستري پخې خښتي دي چې د زمانې په تېرېدو سره په ډبرو بدلې شوې. ما څو کاله مخکې د یوې څېړنې تفصیلات واورېدل چې ویل ئې د اهرامونو په ځینو برخو کې داسې سوري وموندلې شوې چې له ایرو ډکې وې، همدا راز د جهاد په کلونو کې مې د شلمان غره په ډډې کې داسې معبدونه ولیدل چې په دېوالونو کې ئې پلنې ډبرې کارول شوې وې او د ډبرو تر منځ خټه، خو دا خټه د اوږدې مودې په تېرېدو سره تر سمنټو هم زیاته کلکه او ډبرینه شوې وه.
- فرعون او لښکرو ئې د استکبار لار غوره کړه، غوښتل ئې خپله لویي په ناحقه توګه پر خلکو ومني، د دنګو قصرونو او ماڼیو جوړول ئې د همدې ناحق استکبار نښه وه، د هرې زمانې فرعونان به همداسې وموئ؛ له الله تعالی غافل، له آخرته بې پروا. ځان تر نور لوړ ګڼل، خپله لویي پر نورو منل او نورو ته د حقارت په سترګه کتل، د تاریخ د ټولو فرعونانو

مشترك خصلتونه دي.

- الله تعالی د کبر او ظلم سزا ورکړه، د عذاب په منګولو کې ئې ونيول، په بحر کې ئې له خپلو لښکرو سره يو ځای غرق کړل.
- وګوره چې د ظالمانو پايله څنګه ده، د تاريخ هر فرعون ته همدا او دې ته ورته پايله منتظره ده.
- داسې ډله ترې جوړه شوه چې خلك ئې د اور په لوري بلل، د دوی په ملګرتيا کې خلك په اور کې پرېوتل، او د آخرت له عذابه خو ئې هيڅوك او هيڅ څه نشي ژغورلی، هلته به هيڅ مل او مرستندوی ونه مومي.
- په دنياکې به هم خلك پرې لعنتونه وايي او په آخرت کې به هم د رټل شوو او سپك شوو په ډله کې وي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾

او يقيناً چې موسی ته مو له هغه وروسته کتاب ورکړ چې مخکيني پېړۍ وال مو هلاك کړل، خلکو ته د بصيرت اسباب، لارښود او رحمت؛ د دې لپاره چې پند واخلي.

(٤٣)- دا آيت موږ ته ښيي چې:

- موسی عليه السلام ته له هغه وروسته کتاب ورکړی شو چې الله تعالی فرعون او فرعونيان هلاك کړل.
- د دې کتاب ځانګړتياوې دا وې: ١- د بصيرت وسيله وو، هر څه ئې خلکو ته معرفي کول، د دوی سترګې ئې پرانيستلې، د نور او رڼا په څېر وو چې دوی ئې له تيارو ايستل، ٢- د ژوند په ټولو اړخونو کې ئې د دوی لارښوونه کوله. ٣- او د الله تعالی د رحمت او پېرزوينو دروازې ئې د دوی پر مخ پرانيستلې.

دا مبارك آيت ښيي چې بني اسرائيلو تر هر څه د مخه يوه لارښود مشر ته ضرورت درلود چې د فرعون له غلامۍ ئې وژغوري، له آزادۍ وروسته ئې لارښود کتاب ته ضرورت وو چې د ژوند اړوند ټولې برخې ئې تنظيم کړي. په همدې کتاب د عمل کولو په نتيجه کې به د الله تعالی د رحمت او پيرزوينو نيکمرغه وزر پر دوی وغوړېږي.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ

تَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا
وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ
يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

**او ته هغه مهال په غربي اړخ کې نه وې چې موسی ته مو کار سپارلو او له شاهدانو هم نه وې. خو موږ د پېړیو پېړیو نسلونه راپیدا کړل او اوږده عمرونه پرې تېر شول، او ته په مدین کې هم مېشت نه وې چې زموږ آیتونه پرې لولې خو موږ د پیغمبر لېږونکي وو. او ته د طور په اړ خ کې هم نه وې چې موږ غږ کړ خو اما ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه د دې لپاره چې هغه قوم انذار کړې چې تر تا د مخه هیڅ خبرداری ورکوونکی نه دئ ورغلی، چې پند واخلي.**

---

(٤٤-٤٦)- د دې مبارکو آیتونو څو حساسو خبرو ته جدي توجه وکړئ:

پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته هغه مهال د طور د ناو په غربي اړخ کې حاضر نه وې چې موسی علیه السلام ته تورات ورکول کېدو او هغه مهال هم حاضر نه وې چې د خپل قوم اویا مشران ئې له ځان سره طور ته بېول چې د الله تعالی له لوري د تورات د احکامو د تر لاسه کولو شاهدان وي. او په مدین کې هم مېشت نه وې چې په هغه پوري اړوند آیتونه اوس قوم ته اوروې، او هغه مهال هم د طور په اړخ کې حاضر نه وې چې موږ موسی علیه السلام ته غږ کړ، په پیغمبرۍ مو مبعوث او د فرعون مقابلې ته مو لېږلو، دا حقائق د وحي له لاري تا ته ښودل شوي. په دې پېښو پېړۍ پېړۍ او اوږده عمرونه تېر شوي، هغه پېښې تا په خپلو سترگو نه دي لیدلې، موږ اراده وکړه چې تا د پیغمبر په توگه ولېږو، چې زما د آیتونو په ترڅ کې دا پېښې هغو خلکو ته بیان کړې چې تر تا د مخه هیڅ پیغمبر نه دئ ورغلی، په مکرره توگه دې خبري ته گوته نیول چې ته دلته او هلته نه وې، څه چې وایي نه ستا د سترگو لیدلې پېښې او حوادث دي او نه له کوم مخکیني پیغمبر اوربېدلې خبري، بلکې د وحي له لاري تا ته ویل شوې، دا ښیي چې دلته یوه مهم مطلب ته اشاره کول په پام کې دي او هغه دا چې مسیحیانو د مسیح علیه السلام په اړه وویل چې هغه نور وو، تر ټولو مخلوقاتو مخکې د الله خوا ته د یوه روڼ ستوري په څېر موجود وو، اوس شته او تل به وي، په مسلمانانو کې هم داسې خلك راپیدا شول چې د بایبل تر اغېز لاندې ئې د پیغمبر علیه السلام په اړه همغه خبري وکړې چې مسیحیانو د مسیح علیه السلام په اړه کولې، دا مبارك آیتونه د هغو ټگمارانو او لار ورکو پر خوله سخت گوزار دئ چې وايي پیغمبر علیه السلام په هر ځای کې هر وخت حاضر دئ، د همدې لپاره هغه ته د (حضور) لفظ کاروي!! دوی دا ادعاء هم کوي چې پیغمبر علیه السلام له آدم علیه السلام

او ټولو مخلوقاتو مخکې پیدا شوی، وایي د آسمانونو او زمکې له پیدا کېدو زرګونه کاله مخکې د نور په څېر ځلېدو، په ظاهر کې تر ټولو وروسته خو په باطن کې تر ټولو مخکې دئ، دا همغه څه دي چې بایبل ئې د عیسی علیه السلام په اړه وایي، دوی دا ټولې خبرې له محرف بایبل اخیستې او په هغوی کې ئې یوازې دومره تصرف کړی چې د مسیح علیه السلام په ځای ئې د محمد علیه السلام نوم راوړی، دوی د قرآن دې وینا ته هم پام نه کوي چې آدم علیه السلام د محمد او عیسی علیهما السلام په شمول د ټولو انسانانو لومړی جد دئ، آدم علیه السلام له خاورې پیدا شوی او ټول انسانان د ده له نطفې، د دغو لار ورکو متصوفینو افکار د قرآن د صریح آیتونو خلاف او له یهودو او نصرانیانو اخیستل شوي افکار دي.

بایبل وایي: عیسی د خدای کلمه ده، کلمه د خدای صفت دئ، صفت له خدای بېل نه دئ، نو عیسی خدای دئ!! دې جنابانو ته وایو: د خدای کلمه یوه نه بلکې دومره دي چې قرآن ئې داسې بیانوي: که بحر مداد (د قلم رنګ) شي، د زمکې د سر ټولې ونې قلمونه شي، اوه بحرونه نور ورسره یو ځای شي او د الله تعالی کلمې ولیکي، نو رنګ به خلاص شي خو د خدای کلمې به لا پاته وي!! دا د عالم هر شی د الله تعالی د یوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی د (کن) په امر سره راپیدا شوی!! دا جنابان هسې د الفاظو په چکر کې لوېدلي دي، یوازې عیسی د خدای کلمه ګڼې او کلمه یوه، په دې هم نه پوهېږې چې کلمه شی نه دئ او په کلام سره له متکلم کوم شی نه بېلیږي، کلمه مستقل وجود نه لري، داسې نه چې عیسی علیه السلام یا د عالم دا ټول مخلوقات د الله تعالی له ذات رابېل شوي، بلکې دا هر څه د الله تعالی په یوه فرمان (کلمې) له نشت راپیدا شوي.

بایبل تر دې عنوان لاندې (مسیح زموږ دنیا ته راغی) لیکي: په ازل کې، مخکې له دې چې څه پیدا شي، (کلمه) وه او د خدای په خوا کې وه، هغه تل ژوندی وو او دی په خپله خدای دئ، چې څه شته د ده په وسیله پیدا شوي، داسې څه نشته چې ده نه وي پیدا کړي، دا تلپاته ژوندی خلکو ته نور او رڼا بخښي!!

یوحنا وایي چې مسیح د خدای په خوا کې یوه کلمه وه! انسان شو، زمکې ته راغی او زموږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!! پوښتنه کوو: د دې خبرې معنی څه ده؟ دا خو یوه نامکمله او نامفهومه جمله ده، کلمه خو وجود نه لري، کلمه او لفظ خو (شی) نه دئ چې د خدای په خوا کې ئې وګڼو، کلمه خو د متکلم د ارادې او فکر مظهر دئ او د دې ښودنه کوي چې متکلم څه غواړي او څه وایي، د دې ناقصې جملې بشپړه بڼه دا ده چې ووایو: مسیح د الله تعالی د یوې داسې کلمې مظهر دئ چې مریمې علیها السلام ته ئې القاء کړه، الله تعالی فیصله وکړه چې مسیح له پلار پرته او یوازې له مور په فوق العاده توګه پیدا شي، دا فرمان ئې صادر کړ، مسیح د هغې کلمې مظهر دئ چې دا الهي فرمان ئې منعکس کړ، قرآن هم د مسیح علیه السلام په اړه د (کلمه) لفظ کاروي خو د یوه بشپړ، مکمل او واضح آیت په ترڅ کې او فرمایي:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾ النساء

اې اهل کتاب! په خپل دين کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وايئ، بې شکه چې مسيح د مريمې زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي، ډډه وکړئ، چې دا درته غوره دئ، الله خو يوازينی اله دئ، له دې منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

د بايبل منونکو ته وايو: يوازې مسيح نه بلکې د عالم هر (شی) د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، يوحنا هم د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی له کلمې د يوحنا په څېر يو انسان جوړ شوی، يوحنا بايد د الله تعالی د کلمو شمېر لږ تر لږه هومره وګڼي لکه د عالم د ټولو موجوداتو شمېر. جنابه! ته له يوې خوا وايې چې مسيح کلمه وو، له بلې خوا وايې هغه تل ژوندی وو او پر دې سربېره وايې چې هغه په خپله خدای وو!! دا درې خبرې هومره متناقضې دي چې يوازې ستر ناپوه او جاهل به په يوه وخت کې ټولې منې!! نه کلمه تلپاته ژوندی (شی) ګڼلی شو، نه پر خدای د کلمې اطلاق کولی شو او نه د خدای په خوا کې بل شی په خپله خدای ګڼلی شو!!

---

وَلَوۡلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَيَقُولُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓۚ أَوَ لَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبٖ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمَآ أَتَّبِعۡهُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

او که دا نه وی چې کله دوی ته د هغه څه له امله کوم مصیبت ورورسېږي چې په خپلو لاسونو ئې تر سره کړي نو وایي به: اې زموږ ربه! ولې دې کوم پیغمبر راونه لېږو چې ستا د آیتونو متابعت مو کړی وی او له مؤمنانو شوي وی؟! نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ویل: ولې ده ته هم موسی ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آیا تر دې د مخه په هغه څه کافران نشول چې موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ویل: دوه کوډې (سحر) چې یو د بل ملاتړ کوي، او وئې ویل: موږ له هر یوه انکار کوونکي یو. ورته وواېه: د الله له لوري داسې کتاب راوړئ چې تر دې دواړو ښه لارښود وي چې متابعت ئې وکړم که رښتیني یئ. نو که ئې ځواب درنه کړ (ستا بلنه ئې ونه منله) نو پوه شه چې دوی د خپل هوی او هوس متابعت کوي، او تر هغه چا به زیات بې لاري څوک وي چې له الهي لارښوونې پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی، یقیناً چې الله داسې ظالم وګړي نه هدایتوي.

---

(۴۷-۵۰)- په دې مبارکو آیتونو کې لاندې لارښوونې شوې:

• کله چې خلکو ته د خپلو ناروا کړنو، شرك، ظلم او فساد له کبله مصیبتونه ورسېږي نو خدای ته مخه کړي، ژمنه کوي چې د الله تعالی بندګي او د هغه د پیغمبر اطاعت به کوي، شکایت کوي چې الله تعالی ولې تر دې د مخه چې موږ په ګناهونو کې غرق شو او دا سزا راکړی شي کوم پیغمبر راونه لېږو، د دوی په ځواب کې ویل شوي: دا دئ الله تعالی پیغمبر درولېږو، خو تاسو د دې په ځای چې په خپلو ژمنو عمل وکړئ، ایمان راوړئ او له ګناهونو لاس واخلئ وایئ: ولې ده ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې موسی علیه السلام ته ورکړی شوې وې؟!! دوی ته ویل شوي چې آیا د موسی علیه السلام له ټولو معجزو سره سره له ده او معجزو ئې انکار ونه شو؟ ستاسو پلرونو د هغه معجزو ته د سحر په سترګه وکتل او تاسو د محمد علیه السلام دعوت ته، دواړه مو کوډې او سحر او یو د بل مؤید وګڼل.

• پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې دوی ته وواېه: نو تاسو داسې کتاب راوړئ چې تر تورات او قرآن ښه وي چې زه ئې متابعت وکړم، زه خو د هدایت په لټه کې یم، د همدې لپاره مې قرآن د لارښود په توګه منلی، که تر دې غوره لارښود کتاب موندل کېدی هغه به مې غوره کړی وو، که تاسو په رښتیا د حق او هدایت په لټه کې وئ نو تر تورات او قرآن به غوره لارښود کتاب چېري وي؟!

• څوك چې نه تورات مني او نه قرآن هغه د هوی او هوس بنده دئ، نه د حق پروا لري او نه د هدایت په لټه کې دئ، تر ټولو ستر لار ورکی او په ضلالت کې پرېوتی انسان هغه دئ چې د خپل هوس بنده وي، د داسې ظالمانو په وړاندې د هدایت دراوازې تړل شوې او الله تعالی له هدایته محروم کړي.

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ مِن
قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّنَآ
إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِۦ مُسْلِمِينَ ﴿٥٣﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُواْ
وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغْوَ
أَعْرَضُواْ عَنْهُ وَقَالُواْ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي
ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾

او يقيناً چي دا وينا مو په پرله پسې توگه ورته کړې ده؛ په دې هيله چي پند واخلي. هغه چي تر دې د مخه کتاب (په حقيقي معنی) ورپه برخه شوی هغوی ايمان پرې راوړي، او کله چي پرې ولوستی شي وايي: ايمان مو پرې راوړی، بې شکه چي دا زموږ د رب له لوري حقيقت دئ، يقيناً چي موږ تر دې د مخه منقاد او غاړه ايښودونکي وو. دوی ته به له دې امله خپل اجر دوه ځلي ورکړی شي چي صبر ئې وکړ او په ښېگڼې سره بدي دفع کوي، او له هغه څه چي موږ ورروزي کړي انفاق کوي. او کله چي چټي خبره واوري مخ ترې اړوي او وايي: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، پر تاسو دي سلام وي، موږ جاهلان نه غواړو.

(٥١-٥٥)- د دې مبارکو آيتونو اساسي لارښووني دا دي:

- الله تعالی په پر له پسې توگه دوی ته خپله وينا اورولې، اوس د قرآن په بڼې کې او تر هغه مخکې د انجيل او تورات په صفحاتو کې، د دې لپاره چي پند واخلي.
- چا چي تر قرآن مخکې پر تورات او انجيل ايمان راوړی هرو مرو به پر قرآن هم ايمان راوړي او د قرآن په اورېدو سره به حتماً وايي: چي دا له شکه پرته زموږ د رب له لوري دئ، هره وينا ئې رښتينې ده، موږ تر دې د مخه خپل رب ته منقاد وو او په همغه څه مو عمل کولو چي قرآن ئې اوس له موږ غواړي.
- دوی ته به هم په مخکينيو کتابونو د ايمان راوړلو او په مقتضاء ئې د عمل کولو اجر ورکړی شي او هم پر قرآن د ايمان راوړلو او عمل کولو. دا ځکه چي دوی د صبر لمنه کلکه نيولې وه، په ښېگڼو سره ئې بدي دفع کوله او هغه څه ئې د الله تعالی په لار کې لگول چي الله تعالی پرې پېرزو کړي وو او کله چي به ئې کومه خوشې او چټي خبره واورېده مخ به ئې ترې اړولو او ويل به ئې: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، هر څوك به د خپل عمل جزا او سزا گوري، هر چا ته خپل عمل ښه ښکاري، تاسو ته سلامتي غواړو خو

موږ ناپوهان او جاهلان نه خوښوو او مجالست او ملګرتيا ئې نه غواړو.

إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

يقيناً چې ته هغه څوك نشې هدايتولی چې خوښ دي دئ، خو الله چې هر څوك وغواړي هدايتوي ئې، او هغه هدايتېدونكي ډېر ښه پېژني.

(٥٦)- د دې مبارك آيت په وړاندې بايد لږ توقف وكړو او څو مهمو برخو ته ئې ځير شو:

- پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې دا ستا په واك كې نه ده چې څوك له هدايته برخمن كړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه كړې، ستا دنده ايمان او سمې لارې ته د دوی بلنه ده، دا پرېكړه د الله تعالی له لوري كېږي چې چا ته په سمې لارې د تلو توفيق وركوي او څوك ترې محروموي.
- په دې اړه د الله تعالی پرېكړه د هغه جامع او كامل علم له مخې كېږي چې د هدايت كېدونكي په اړه ئې لري. ته نه پوهېږې چې څوك د دې سعادت وړ دئ او څوك ترې محروم، الله تعالی د هغه چا په وړاندې د هدايت دروازه پرانېزي او په سمې لار د تلو توفيق وركوي چې وړتيا ئې لري، تا ته نه د دوی وړتيا معلومه ده او نه د زړه كيفيت او نه دا چې دوی په سمې لار د تلو مجال او اراده لري كه نه.
- دا مبارك آيت د هغو لار وركو خرافي عقيده ردوي چې وايي: پيغمبر عليه السلام د الله تعالی د پېرزوينو وېشونكی او مُقَسِّم دئ، د الله تعالی د عناياتو له خزانو هر چا ته هر څه وركولی شي، پير او مرشد كولی شي له لري واټنه؛ حتی له خپل قبر ؛ مريدانو ته روحاني فيوضات ورسوي!! كه پيغمبر عليه السلام نشي كولی خپل غيرتي او د ده ستر حامي او مدافع تره ابوطالب ته د ايمان راوړو سعادت ورپه برخه كړي او په روحاني فيض سره د هدايت دروازه د هغه پر مخ پرانېزي بل څوك به څنګه دا كار وكولی شي؟!! آيا د عظيم الشأن قرآن دغه مبارك آيت كافي نه دئ چې داسې خرافي عقائد په دېوال ووهو او په دې باور وو چې الله تعالی هيڅوك د خپلو عناياتو او پېرزوينو د خزانو واكمن نه دئ ټاكلی او د دې خزانو كلياني ئې هيچا ته نه دي سپارلې، په خپله او د خپل بنده وړتياوو ته په پام سره پرېكړه كوي چې چا ته څومره وركړي او څوك ترې محروم كړي.

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَآ ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا ءَامِنًا يُجْبَىٰٓ إِلَيْهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَىْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ

﴿وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ٥٨﴾ ٥٧

او وئې ويل: که له تا سره د لارښوونې متابعت وکړو له خپل ټاټوبي تښتول کېږو! آيا دوی ته مو داسې حرم يو خوندي ټاټوبی نه کړ چې هغه ته د هر څه مېوې راوړل کېږي؛ زموږ له لوري د رزق او روزي په توگه؟!! خو د دوی ډېری نه پوهېږي. او له کلو نه مو څومره هغه ترې هلاك کړل چې پر خپل معيشت له پولو واوښتل، نو دا ئې د دوی مېشت ځي چې له دوی وروسته مېشتيا په کې نه وه مگر ډېره لږ، او موږ (ئې) په مېراث وړونکي وو.

(۵۷-۵۸)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

• پر پيغمبر عليه السلام د ايمان نه راوړلو او د ده له ملگرتيا د اجتناب يو اساسي او لوی سبب دا ښودل شوی چې وېرېدل د ده د ملگرتيا له کبله به د دوی ژوند، مال او ثروت له گواښونو سره مخامخ شي. نن هم له اسلام د مخ اړولو، له مسلمانانو سره د نه پيوستون او د ظالمانو، مفسدينو او کافرانو د ملگرتيا يو لوی عامل همدا دئ، شتمن په خپلو شتمنيو وېرېږي او د اقتدار خاوندان په خپلو کرسيو، او د رفاه او تعيش خاوندان د مرفه او سوکاله ژوند له لاسه ورکولو!!

• دا مبارك آيت دا حقيقت هم زموږ مخې ته ږدي چې د دې سورې د نازلېدو په مهال په مکه مکرمه کې د اختناق، خوف او وېرې څه حالت وو او قريشو له مسلمانانو سره څنگه چلن کاوو، دوی د خوف او وېرې داسې حالت رامنځته کړی وو چې ډېرو د دوی د تعذيبونو له وېرې ايمان نشو راوړی.

• الله تعالی هغو ضعيف النفسه خلکو ته چې د قريشو له وېرې ئې له ايمان راوړلو ډډه کوله، خپلې سوکالۍ، بې خطره او مرفه ژوند ته ئې پر ايمان ترجيح ورکوله فرمايي: چې نه گورئ د ايمان د يوې نښې (کعبې) په طفيل ئې دا حرم څنگه خوندي او د امن ځای وگرځولو، نه گورئ چې له هرې خوا؛ د هر موسم؛ راز راز مېوې ورته رادرومي؟! تاريخ ته رجوع وکړئ، صفحات ئې واړوئ او وگورئ چې د هغو خلکو شمېر څومره دئ چې مرفه ژوند ئې درلود، خپل معيشت او سوکاله ژوند هغه پړاو ته رسولی ول چې تېری ئې وکړ او له پولو واوښتل او له همدې کبله هلاك شول؟! دا دي تشې او ورانې ماڼۍ ئې د عبرت لپاره ترې پاته، چې لږ خلك د لنډې مودې لپاره په کې پاته شوي، هر څه ئې الله تعالی ته په مېراث پرېښودل. نو سره له دې څنگه د ايمان راوړلو له نتائجو وېرېږئ او د سوکاله او مرفه ژوند له بدو پايلو وېره نه لرئ.

قرآن په بل ځای کې دا حقيقت په دې اغېزناکو الفاظو بيانوي:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَكۡفُرُونَ ٦٧ العنكبوت

آيا وئې نه ليدل چې موږ (له مکې) خوندي او باامنه ځاتوبی جوړ کړ، په داسي حال کې چې د دوی شاوخوا ته خلك تښتول کېږي، نو آيا پر باطل ایمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟!

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبۡعَثَ فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ٥٩

او ستا رب تر هغه د کلیو هلاکوونکی نه دئ چې په مرکزي برخي کې ئې یو پیغمبر ونه لېږي چې زما آیتونه پرې ولولي، او موږ د کلیو هلاکوونکي نه یو مگر دا چې اوسېدونکي ئې ظالمان وي.

(۵۹)- دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی، الله تعالی تر هغه پر یوه قوم د عذاب لېږلو پرېکړه نه کوي چې پیغمبر ئې نه وي ورلېږلی، هغه هم په داسي سیمي کې چې ټولو ته مرکزي حثیت ولري، او له هغه ځایه ټولو ته د ده دعوت په آسانۍ ورسېږي، او تر هغه د یوه ولس د هلاکولو فیصله نه کوي چې ظلم ئې څرگند شي. قرآن دا مطلب په بل ځای کې داسي بیانوي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ٣٣ الانفال

او الله داسي نه دئ چې دوی تعذیب کړي په داسي حال کې چې ته (اې پیغمبره!) لا په دوی کې یې او الله په داسي حال کې د دوی تعذیبوونکی نه دئ چې دوی د بخښني غوښتونکي وي.

دلته هم د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی، د عذاب په راتلو کې د څنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کې د داعي شته والی او په دوی کې د داسي خلکو شته والی چې توبه به کوي او له کفر، شرك او گناه به لاس اخلي.

گورئ چې الله تعالی دا ځواب هغه چا ته ورکړی چې په خپله خوله د عذاب نازلېدل غواړي او وايي: زموږ له شدید مخالفت سره سره ولي پر موږ باندي له آسمانه ډبري نه ورېږي او ولي په کوم بل عذاب نه اخته کېږو؟! الله تعالی فرمايي: زما سنت دا دئ چې د پیغمبر په شته والي کې او تر هغه چې په خلکو کې د توبې او استغفار امکان وي؛ زه خپل عذاب نه نازلوم!! په دې سره قریشو ته ویل شوي: تاسو د پیغمبر علیه السلام وژل او شړل غواړئ، خو په دې نه پوهېږئ چې د ده شته والی د الهي عذاب د راتلو مانع دئ، تاسو په خپل لاس هغه ستنه ړنگول غواړئ چې د دردناك الهي عذاب چت ئې تم کړی. د عذاب په

راتلو کې د ځنډ وجه دا نه ده چې تاسو د الهي عذاب مستحق نه يئ، بلکې وجه ئې دا ده چې د الهي سنت مطابق د راتلو نېټه ئې نه ده رارسېدلې او موانع له منځه نه دي تللي.

راشئ د قرآن دا دقيقه او عادلانه وينا د بايبل له هغې وينا سره مقايسه کړئ چې په همدې اړه او د يونس عليه السلام د بعثت په ارتباط ئې کړې، بايبل ليکي:

"خدای يونس ته دا پيغام ولېږو: د نينوا لوی ښار ته ولاړ شه او اوسېدونکو ته ئې ووايه چې خدای داسې فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه يم، ډېر ژر به مو هلاك کړم!!

که پر الله تعالی د ايمان په رڼا کې دې خبرو ته ځېر شو نو پوهېږو چې دا نه الهي پيغام کېدی شي او نه د يوه پيغمبر رسالت، داسې پيغامونه يوازې هغه څوك لېږي چې له يوه قوم سره د جنګ اراده لري، داسې پيغامونه د هيټلر او موسوليني په څېر جلادانو ته منسوبول صحيح دي خو الله تعالی ته ئې انتساب لوی ظلم او ستر جسارت دئ، الله تعالی د خپل رحمت او پېرزويني په سبب او د خلکو د هدايت لپاره پيغمبران لېږي، د عذاب پرېکړه هغه وخت کوي چې د خلکو د هدايت ټولې هڅې ناکامې شي، ولس خپل پيغمبر ته د رد ځواب ورکړي، اتمام حجت وشي، نه د زرګونو سواندو پيغمبرانو عليهم السلام مسلسل دعوت څه نتيجه ورکړي او نه ئې معجزې، په دې وخت کې خلك په الهي عذاب ګواښل هم معقول کار دئ او هم عادلانه، خو له دې د مخه ګواښل له مهربان رب سره نه ښايي!!

قرآن د قريشو په ځواب کې او هغه مهال چې ويل ئې: دا ولې پر موږ الهي عذاب نه راځي، د عذاب نه راتګ ښيي چې موږ په حقه يو؛ فرمايي:

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةًۚ فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ الانفال

او الله به ئې ولې په عذاب نه اخته کوي، په داسې حال کې چې له مسجدالحرام (د خلکو) مخنيوی کوي، او دوی ئې (حقيقي) متوليان نه دي، حقيقي متوليان خو ئې يوازې متقيان دي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. او د بيت الله خوا ته د دوی لمانځنه (او عبادت) له شپېلکې او لاس پړکولو پرته بل څه نه وي، نو په سبب د هغه کفر چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

يعني دوی د الهي عذاب وړ دي، دا ځکه چې په کفر او د خدای پالنې خلاف په خپلې دښمنۍ کې هغه پړاو ته رسېدلي چې له مسجدالحرام د خلکو مخنيوی کوي، دا په داسې حال کې چې ځان د مسجد الحرام متوليان ګڼي، د دې په ځای چې خلك د مسجدالحرام په لوري راتلو او د الله تعالی عبادت ته تشويق کړي، په دې لار کې خنډونه راولاړوي، دوی په خپله او په خپلو بدو عملونو سره د الله تعالی لوري ته د خلکو د راتلو په وړاندې خنډ او مانع دي، د مسجد الحرام حقيقي متولي خو داسې نه وي، دوی ئې حقيقي متوليان نه دي، دا

سپېځلې دنده چې کومې ځانګړتیاوې غواړي په دوی کې نشته، حقیقي متولیان خو ئې متقیان دي، دوی له تقوی محروم او د ګناهونو په ګنده ډنډ کې تر ستوني غرق، جاهل او ناپوه دي، په دې هم نه پوهېږي چې د بیت الله متولي باید څنګه وي!! هغه څوك څنګه ځان د مسجد الحرام متولي ګڼي چې د بیت الله خوا ته ئې عبادت له شپېلکیو او لاس پړکولو پرته بل څه نه وي؟!

له مسجدالحرام د دوی د ممانعت دوه صورتونه وو: یو دا چې خپل مخالفین به ئې نه ورته راپرېښودل، له چا سره چې به د دوی دښمني راولاړه شوه هغوی به ئې مسجدالحرام ته له ننوتلو منع کول او دوهم دا چې د دوی عملونه داسې وو چې د دین په خلاف به د خلکو د کرکې او نفرت باعث وو، کله چې د دین له حقیقت بې خبره خلك، د دین مدعیان په ګناهونو او فسادونو کې غرق ګوري له دین ئې زړه تور شي او ګمان کوي چې د دې دین اصلي ماهیت همغه دئ چې موږ ئې د دغو خلکو په کړو وړو کې ګورو، که په دې دین کې د اصلاح قوت وی نو خپل پلویان به ئې اصلاح کړي وو، د دوی اخلاقي او عملي وضع به دومره کرکجنه نه وه، نو ځکه دې ته زړه نه ښه کوي چې د دغه دین خوا ته راشي.

دا آیت د واقعي خدای پال بنده او دوکه شوي دیندار او د الله د دین د واقعي او صادق خادم او دروغجن او ټګمار خادم د پېژندو لپاره یو دقیق محك او معیار زموږ مخې ته ږدي، د الله تعالی مخلص بنده هغه دئ چې:

- د شعائر الله، دیني مقدساتو او خدای پالونکو درناوی کوي.
- د هغه چا مخې ته نه خنډ کېږي او دښمني ورسره نه کوي چې د الله تعالی د عبادت تکل کوي، نه یوازې مخې ته ئې نه خنډ کېږي بلکې مرسته ئې کوي.
- د عبادت په وخت کې به د ده په څېره، الفاظو او حرکاتو کې په څرګنده توګه احساس کړې چې په الله تعالی ایمان لري، له هغه وېرېږي، هغه ته طمع لري.
- الفاظ ئې د طمعي الفاظ او حرکات ئې د الله تعالی په عظمت له اعتراف راولاړ شوي حرکات دي، د یوه هیبت وهلي، خاضع، خاشع او محتاج بنده په توګه د ستر ټولواك په وړاندې ولاړ او په زاریو زاریو سره دعاء کوي.

خو هغه چې دوکه شوی دیندار یا د دیني مقدساتو ټګمار خادم دئ داسې به ئې ګورې چې:

- نه ئې په څېرې کې له الله تعالی د وېرې او هیبت نښې او آثار تر سترګو کېږي، نه په الفاظو کې او نه په حرکاتو کې.
- د عبادت په وخت او معبد کې به ئې په لهو و لعب بوخت ومومې، همغسې لکه چې قریشو به د طواف په وخت او د بیت الله خوا ته شپېلکې کول او لاسونه به ئې پړکول او همغسې لکه چې نن ځیني خلك د ذکر په حلقو کې ډول او دبلې ته غورځي، پرځي، څپې اچوي، قوالي سندرې وایي، د هو هو چیغې وهي او د جذبې په نامه مستي کوي.

- له خدای پالونکو سره به دښمني کوي، کافر ته به پر مؤمن ترجيح ورکوي، له خدای او دين منکر او باغي انسان سره به دوستي کوي او د هغه چا په ضد به ئې مرسته کوي چې ديندار دئ او د الله په عبادت او لمانځني بوخت.

د دوی په مقابل کې د ديانت او ديني مشرتابه دروغجن مدعي هغه دئ چې:

- ديني او مذهبي منصب په ميراث ورته پاته شوی، د نېك پلار بد ځای ناستی، له هغو ځانګړتياوو بې برخي چې د مذهبي قيادت او مشرتابه لپاره ضروري دي.
- د دې په ځای چې په قول او عمل سره خلك د دين لوري ته تشويق کړي په خپله د دين په وړاندي خنډ وي، واقعي دين ته د خلکو د راتلو مانع ګرځي.

---

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٠﴾

او (له راز راز ) شيانو چې څه تاسو ته درکړی شوي دا ټول د دنيوي ژوند متاع او د ښايست (اسباب) دي، او څه چې له الله سره دي هغه غوره او تر ټولو زيات پاته کېدونکي دي، نو آيا تعقل نه کوئ؟!

---

(٦٠)- دلته د مخکيني مطلب په دوام کې ويل شوي چې ستاسو هر څه يا د څو ورځو ژوند لپاره د تمتع او ګټې اخيستو وسائل دي او يا د زينت او ښايست اسباب، دې ته د هدف په سترګه مه ګورئ، تر هغه څه ئې غوره مه ګڼئ چې د ايمان په نتيجه کې ئې د الله تعالی په خوا کې تر لاسه کوئ، هغه غوره دي او تلپاته.

---

أَفَمَن وَعَدۡنَٰهُ وَعۡدًا حَسَنٗا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعۡنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ هُوَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ﴿٦١﴾

نو آيا هغه چې د غوره وعدې ژمنه مو ورسره کړې چې هغه به ورسره مخامخ کېدونکی وي؛ د هغه چا په څېر دئ چې د دنيوي ژوند متاع مو ورپه برخه کړې، بيا به هغه د قيامت په ورځ له حاضر کړی شوو وي؟!

---

(٦١)- دلته دوه کسان د مخاطب مخي ته انځور شوي: يو ئې هغه چې الله تعالی غوره وعده ورسره کړې، دا له ده سره شوې وعده په دنيا او آخرت کې هرومرو تر سره کېدونکې ده، او بل ئې هغه چې دنيوي متاع ئې ورپه برخه کړې خو د قيامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندي د محاسبې لپاره حاضر کړی شي، ووايئ کوم يو بختور دئ، د کوم په څېر کېدل غواړئ؟

وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغۡوَيۡنَآ أَغۡوَيۡنَٰهُمۡ كَمَا غَوَيۡنَاۖ تَبَرَّأۡنَآ إِلَيۡكَۖ مَا
كَانُوٓاْ إِيَّانَا يَعۡبُدُونَ ﴿٦٣﴾ وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ
وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ لَوۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ يَهۡتَدُونَ ﴿٦٤﴾

او هغه ورځ چي ورغږ به کړي او وبه وايي: زما هغه شريکان چېري دي چي (زما د شريکانو) گمان مو (پرې) کاوو؟ هغه کسان چي (الهي) وينا ئې په اړه تر سره شوې وايي به: اې زموږ ربه! دا همغه دي چي موږ بې لاري کړي ول، همغسي مو بې لاري کړي ول چي موږ په خپله بې لاري شوي وو، ستا په وړاندي (ترې) بې زاره کېږو، دوی زموږ عبادت نه کاوو. او وبه ويل شي: خپل شريکان (مرستي ته) دروبلئ! نو وروبه ئې بلي خو دوی ته به ځواب نه ورکوي او عذاب به وگوري (او وبه وايي) ای کاش چي لار ئې موندلې وی.

(٦٢-٦٤)- دلته د قيامت په ورځ د هغو دوو کسانو دردوونکې حالت انځور شوی چي يوه ئې بل بې لاري کړ، يو ئې د مال، جاه او اقتدار خاوند وو، د نورو مشری ورپه غاړه وه، خو بې لاري وو، بل ئې په همدې بې لاري مشر پسي روان وو او د دې په ځای چي د الله تعالى بندگي وکړي د همدې مشر د غلامۍ او بندگۍ کړۍ ئې په خپلي غاړي کې اچولې وه، په حقيقت کې ئې هغه د خپل رب شريك گرځولي وو، الله تعالى به پوښتنه ترې وکړي: هغه ذوات چېري دي چي گمان مو کاوو زما شريکان دي؟!! کشران به ساکت وي او مشران به ځواب ورکړي: دا دي هغه خلك چي موږ بې لاري کړي ول، همغسي مو بې لاري کړي ول چي موږ په خپله بې لاري شوي وو، لکه چي موږ په خپله خوښه د ضلالت لار غوره کړې وه، دوی هم په خپله خوښه او زموږ له جبر او اکراه پرته په موږ پسي راغلل او بې لاري شول، اوس ستا په وړاندي خپله بې زاري ترې اعلانوو، او وايو چي دوی زموږ عبادت نه کاوو، بلکي د خپل هوس بندگان ول، کشرانو ته به وويل شي: خپل شريکان (مرستي ته) دروبلئ! نو وروبه ئې بلي خو دوی ته به ځواب نه ورکوي او په بدل کې به ئې الهي عذاب تر سترگو شي او وبه وايي: ای کاش چي په سمه لار تللي وی.

گورئ چي دلته د لار ورکو مشرانو اطاعت داسي ښودل شوی لکه هغوی په الوهيت کې له الله تعالى سره شريکول، د قرآن په گڼ شمېر نورو آيتونو کې هم په پټو سترگو د بې لاري مشرانو اطاعت د شرك مترادف ښودل شوی، په دنيا کې ئې له دوی طمع درلوده، دغي طمعي د دوی اطاعت ته چمتو کول، نو ځکه به د قيامت په ورځ ورته وويل شي چي اوس ئې هم مرستي ته دروبلئ، دوی به بيا هم ورغږ کړي خو هيڅ ځواب به تر لاسه نه کړي، له خپل

شرك او د لار ورکو مشرانو له غلامۍ به بې بیزاره وي خو هیڅ ګټه به نه وررسوي.

وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ
فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿٦٦﴾

او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وايي: پیغمبرانو ته مو څه ځواب ورکړ؟ نو په دې ورځ به خبري ترې ورکې شي او یو به بل نشي پوښتی.

(٦٥-٦٦)- د قیامت په ورځ به ترې پوښتنه وشي چې خپل خپل پیغمبر ته ستاسو ځواب څه وو؟ کله چې هغوی تاسو ته بلنه درکوله چې پر الله تعالی او آخرت ایمان راوړئ څه ځواب مو ورکړ؟! له هغوی به ځواب ورك شي، خبره به نشي کولی، د ویلو لپاره به څه نه لري او یو به له بله پوښتنه هم نشي کولی.

فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلۡمُفۡلِحِينَ ﴿٦٧﴾

او هغه چې توبه ئې وکړه، ایمان ئې راوړ او صالح عمل ئې وکړ نو هیله ده چې له بریالیو وي.

(٦٧)- د پورتنیو دوو ډلو په مقابل کې هغه خلك دي چې له کفر او شرك لاس اخلي او د خپل رب لوري ته ورګرځي، ایمان راوړي او صالح عملونه کوي، هیله ده چې همدا توبه، ایمان او صالح عمل ئې بریا په برخه کړي، ولې دلته د (عسی) لفظ کارول شوی چې د یقین په ځای احتمال په ګوته کوي، ځیني مفسرین وایي چې کله دا لفظ د الله تعالی له لوري وي نو د یقین معنی ورکوي، خو غوره توجیه دا ده چې توبه، ایمان او صالح عمل د ثبات او دوام غوښتنه کوي، یو ځلي کار نه دئ چې د هغه له مخي وروستۍ او یقیني پرېکړه وشي، که ثبات او دوام ونه کړي کېدی شي دا توبه، ایمان او صالح عمل په یقیني بریا منتج نشي.

وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ
إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأُولَىٰ وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٧٠﴾

او ستا رب چې څه غواړي پیدا کوي ئې او غوره کوي ئې، اختیارول (ئې) له دوی سره نه دي، پاکې الله لره ده او لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې (ورسره) شریکوي. او ستا رب په هغه څه هم پوهېږي چې د دوی سینې ئې پټوي او په هغه څه هم چې

څرګندوي ئې. دی هغه الله دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، ستاینه مخکې او وروسته ده لره ده، او حکم (صادرول) د ده (کار) دئ او د ده لوري ته ګرځول کېږئ.

(۶۸-۷۰)- دا مبارك آيتونه د توحيد او شرك په اړه څو ستر ستر حقائق زموږ مخي ته ږدي:

- پر الله تعالی د ايمان معنی دا ده چي هغه يوازينی خالق او پيدا كوونكی ومنو، او دا د الله تعالی كار وګڼو چي څه او څوك د كوم ځانګړي كار لپاره غوره كوي او د هغه كار د تر سره كولو توان او توفيق وركوي، په دې دواړو كې هيڅوك له الله تعالی سره شريك نه كړو، نه په خلقت كې او نه غوراوي او اختيار كې، الله تعالی له دې ډېر لوړ وبولو چي څوك په دې چارو كې ورسره شريك وي. په دې باور وو چي الله تعالی په هر څه پوهېږي، په پټو او څرګندو، حاضر او غائب، ماضي، حال او مستقبل، هغه يوازينی معبود ومنو، له هغه پرته هيڅوك او هيڅ څه د لمانځني او عبادت وړ ونه ګڼو، له هر عيب او نقص لوړ او د ټولو ستاينو وړ، پرېكړې د ده له لوري صادرېږي، قضايا ده ته راجع كېږي او د هر څه په اړه وروستۍ پرېكړه د ده له لوري وي، او په پای كې د ده لوري ته ورګرځول كېږو.
- او شرك يعني دا چي له الله تعالی پرته د بل چا په اړه دا عقيده ولرو چي د پيدايښت په چارو كې ونډه لري، بل ته د مال او اولاد وركوونكی، له بېماريو رغوونكی، له كړاوونو ژغورونكی او د مشكلاتو حلوونكی وبولو، يوه ته ئې هغه اوصاف او صلاحيتونه منسوب كړو چي د الله تعالی لپاره مختص دي او بل ته ئې هغه واكونه او اختيارونه وركړو چي الله تعالی هيڅ مخلوق ته نه دي وركړي، له الله تعالی پرته بل چا ته لمن ونيسو، مرسته ترې وغواړو، لمانځنه ئې وكړو او په وړاندې ئې د دعاء لاسونه اوچت كړو، حاضر او ناظر ئې وبولو او په غيب پوه ورته ووايو او په دې باور وو چي هغه مو له لري غږ اوري او دعاء مو په خپله او يا پر الله تعالی قبلوي!!

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

ووايه: آيا دې ته مو پام شوی چي كه الله دا شپه د قيامت تر ورځي درباندي تلپاته كړي، له الله پرته بل معبود څوك دئ چي رڼا درته راوړي؛ نو آيا نه اورئ؟! ووايه: آيا دې ته مو نه دي كتلي چي كه الله دا ورځ د قيامت تر ورځي درباندي تلپاته كړي، له

**الله پرته بل معبود څوك دئ چې شپه درته راوړي چې پكې آرام وكړئ، آيا نه ګورئ؟! او د خپلې پېرزوينې له امله ئې شپه او ورځ درته جوړه كړه چې پكې آرام وكړئ او چې د ده فضل ولټوئ او د دې لپاره چې شكر وكړئ.**

---

(۷۱-۷۳)- په دې مباركو آيتونو كې د مخكيني مهم مطلب د اثبات لپاره څو دلائل وړاندې شوي:

- دا ستاسو شپه چې د خاص مصلحت له مخې په خاص او دقيق تناسب تاكل شوې، كله لنډه او كله اوږده شي، خو خپل دقيق او ثابت تناسب مراعاتوي او په دې سره د زمكې پر سر د انسان لپاره لازم او ضروري شرائط برابرېږي، كه په دې تناسب كې تغيير راشي نو د زمكې پر سر به هيڅ ژوی پاته نشي، نه انسان، نه حيوان او نه هغه ونې او بوټي چې انسان ته مېوې او دانې جوړوي، كه الله تعالى وغواړي چې دا شپه دومره اوږده كړي چې د قيامت تر ورځې دوام وكړي، لمر او زمكه له حركته ودرېږي؛ آيا داسې ذات مومئ چې شپه مو په ورځې بدله كړي؟ كه داسې څوك نه مومئ نو څنګه له الله تعالى پرته بل چا ته د دعاء لاسونه لوړوئ او مرسته ترې غواړئ؟!!
- كه الله تعالى وغواړي چې دا ورځ مو تلپاته كړي او د قيامت تر ورځې ئې اوږده كړي؛ آيا داسې څوك مومئ چې ورځ پای ته ورسوي او شپه راولي چې تاسو د هغې په غېږ كې څو شېبې آرام وكړئ؟! كه داسې ځواك په ټول عالم كې په نظر نه درځي نو ولې له الله تعالى پرته بل چا ته لمن غوړوئ او مرستې ته ئې دربلئ؟!!
- مګر دې ته پام نه كوئ چې الله تعالى شپه او ورځ داسې پيدا كړي چې تاسو ورته اړ يئ، شپه د خوب او آرام لپاره او ورځ د معيشت د تأمين لپاره، تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسې يوه فرصت ته چې په ورځني كار كې خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران كړئ، دمه وكړئ، اعصاب مو لږ آرام وكړي او ستړيا مو رفع شي، الله تعالى ته داسې پيدا كړی يې چې له څه وخت كار كولو وروسته خوب درباندې غلبه وكړي، په خپله راشي، ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې دروتړي او له ځان سره دې بوځي، د خوب مهار ئې ستا په واك كې نه دئ دركړی، بلكې ستا مهار ئې د هغه لاس ته وركړی، چې كله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هيڅ كار نه شې كولی، ناڅاپه دې خوب خوا ته راشي، ستا كار درباندې متوقف كړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت وركړي چې خپلې نيمګړتياوې پوره كړي، خپله ستوماني رفع كړي او د راتلونكې پړاو لپاره كار ته ځان چمتو كړي، ګورې چې (ستا په خوب) كې څومره ستر مصلحت او حكمت پروت دئ!! كه (خوب) نه وی او يا ئې مهار د انسان په واك كې وی، څومره ستر ستر مصيبتونه به ئې انسان ته راولاړ كړي وو؟!! حريصو انسانانو به خپل ټول توان او ځواك په لنډې مودې كې مصرفاوو، خپله روغتيا به ئې په خطر كې اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ كاوو!! تاسو د دغه (خوب) لپاره دوو شيانو ته ضر ورت لرئ: تياره او خاموشي، نه

په رڼا کې سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوږ ډك محيط کې، ناځاپي ګورې چې شپه ستا مرستې ته راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای وغوړوي، غږونه خاموش شي، هر د غږ خاوند د خوب غېږ ته پناه يوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرائط برابر شي. بيا تاسو د خپل ژوند مخکې بېولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمين لپاره ورځې ته ضرورت لرئ، د دې لپاره چې د هغې په رڼا کې هر څه وپېژنئ، مفيد له مضر تفکيك کړئ، دوست له دښمن بېل کړئ او په خپل چاپېريال کې د شته توکو د کارولو امکان تر لاسه کړئ. د زمکې او آسمانونو خالق زمکه داسې جوړه کړې او د زمکې او لمر تر منځ فاصله او د زمکې حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسې تنظيم کړی چې کله د زمکې پر سر شپه وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چې زمکه تر ضرورته زياته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چې زمکه تر لازم حده زياته توده شي، بايد يوه په بلې پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاته شي چې ضروري وي، ستا اړتيا رفع کړي، خپل کارونه تر سره کړي، بېرته ولاړه شي او خپل ځای بلې ته خالي کړي!! که دا دقيق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه يا اوږده وی، د لمر او زمکې تر منځ واټن کم يا زيات وی، د زمکې چورلېدل او خوځېدل تند يا سست وی، نو د زمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُواْ بُرْهَٰنَكُمْ فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾

او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وايي: زما هغه شريکان چېرې دي چې (زما د شريکانو) ګمان مو (پرې) کاوو؟ او له هرې ډلې به يو ګواه راوباسو او وبه وايو: خپل دلائل راوړاندې کړئ، نو پوه به شي چې حق د الله په خوا دئ او هغه څه به ترې ورك شي چې له ځانه ئې په دروغو جوړول.

(۷٤-۷۵)- دلته د قيامت د ورځې مخکينۍ صحنه له يوه بله اړخه انځور شوې: الله تعالی به له مشرکانو پوښتنه وکړي چې هغه معبودان مو چېرې دي چې زما د شريکانو ګمان مو پرې کاوو، بيا به له هر قوم د هغوی پيغمبر د ګواه په توګه راوړاندې کړی شي چې د دوی په خلاف به ګواهي ورکوي، بيا به دوی ته ووېل شي چې خپل دليل او شاهد وړاندې کړئ! پوه به شي چې حق د الله تعالی په خوا دئ، دوی نه د خپل شرك په دفاع کې کوم عذر وړاندې کولی شي، نه دليل او نه ګواه، هغه شرکي افکار او له ځانه جوړ کړي دروغجن معبودان به ترې ورك وي او مرسته به ئې نشي کولی!!

إِنَّ قَـٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَـٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ
مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ
ٱلْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ
وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ
ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

يقيناً چې قارون د موسی له قومه وو، چې پر دوی ئې تېری وکړ، له خزانو مو دومره ورکړې وې چې کونجیاني به ئې یوې ځواکمنې ډلې ته درنې وې، کله چې خپل قوم ورته وویل: (په دې) مه ویاړه، یقیناً چې الله ویاړونکي نه خوښوي، په هغه څه کې چې الله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنیوي برخه دې هم مه هېروه او همغسې (له نورو سره) ښېګڼه کوه چې الله له تا سره ښېګڼه کړې او په زمکې کې فساد مه لټوه، یقیناً چې الله مفسدین نه خوښوي.

---

٧٦-٧٧دلته څو خبرو ته توجه ولرئ:

- له قارون سره مبارزه هغه مهال رامنځته شوه چې موسی علیه السلام له بني اسرئیلو سره یو ځای له مصره ووتل، د سینا په صحرا کې د اوسېدو په دوران کې د ده ستونزه راولاړه شوه.
- دا ښیي چې له قارونانو سره مقابله او په ټولني کې اقتصادي اصلاحات باید د انقلاب له بري وروسته او هغه مهال پلې او تر سره شي چې د فرعونانو واکمني نسکوره شوې وي، په مبارزې کې دې موضوع ته پاملرنه زیات اهمیت لري، تر هغه چې انقلاب بري ته نه وي رسېدلی ټوله توجه باید یوې جبهې ته مبذول شي، خپل ټول توان طاقت باید اصلي دښمن او لومړنۍ جبهې ته متوجه کړو، په نورو جبهو کې او د دوهمې او درېیمې کچې له دښمنانو سره په نښتو کې ښکېل نشو، مګر دا چې دښمن ئې زموږ مخې ته راوړاندې کړي، دا سوره موږ ته لارښوونه کوي چې د مبارزې په لومړي پړاوو کې باید خپل ټول توان طاقت د ستر دښمن په ضد جنګ ته سوق کړو، په نورو جبهو کې ثانوي او غیرضروري فعالیتونه متوقف کړو او په بل جنګ او په وړو جبهو کې له مصروفېدو ډډه وکړو. دا صحیح نه ده چې په یوه وخت کې په ډېرو جبهو کې مصروف شو او په ګڼ شمېر محاذونو کې خپل محدود ځواك ووېشو. دښمنان باید درجه بندي کړو، لومړی باید د لوی او اصلي دښمن چاره وکړو، حج موږ ته همدا درس راکوي چې د جمراتو د رمي په ورځو کې لومړۍ ورځ د جمرة الکبرٰی د رمي ورځ ده، جمرة الاولٰی او جمرة الوسطٰی په دوهمه او درېیمه ورځ رمي کېږي، په لومړۍ

ورځ د دواړو لخوا آرام تېرېږو، له رمي ئې ډډه کوو او ځان جمرة الکبرٰی ته رسوو، لوی دښمن ته، د وړو دښمنانو تر شا ولاړ دښمن ته، اصلي کار چې تر سره شي واړه او فرعي کارونه له څه زحمت پرته تر سره کېږي، زموږ تېره تجربه؛ د شوروي اتحاد ماتې؛ په همدې حقیقت شهادت ورکوي. پیغمبر علیه السلام سود هغه مهال تحریم کړ چې مکې ته د فاتح په توګه ننوت او انقلاب پر اصلي او ځواکمن دښمن وروستۍ بریا تر لاسه کړه.

- قارون د بني اسرائیلو له یوې قبیلې وو، د فرعون ملګرتیا ئې کوله، د همدې ملګرتیا له کبله د ډېرو شتمنیو خاوند شو، له مصره د بني اسرائیلو د وتلو پر مهال دی هم دې ته اړ شو چې له قوم سره یو ځای ووځي، ځان ئې په مصر کې خوندي نه لیدو، له وتلو پرته ئې بله چاره نه درلوده. خو د بغاوت لار ئې غوره کړه، له خپلو شتمنیو په استفادې سره د فساد خورولو په لټه کې وو.
- د قوم صالح شخصیتونو ورته نصیحت وکړ چې له فساده لاس واخله، له خپلې شتمنې داسې کار واخله چې هم دې آخرت ښه شي او هم خپله دنیوي برخه تر لاسه کړې، له محتاجو خلکو سره داسې احسان وکړه لکه چې الله تعالی له تاسره احسان کړی. خو ده نصیحت کوونکو ته همغه ځواب ورکړی چې هر مفسد او له الله تعالی غافل بډای او شتمن ئې ورکوي، قرآن د ده ځواب په دې توګه راښیي:

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ مِن قَبۡلِهِۦ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ۝٧٨

وئې ویل: له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغې پوهې او هنر نتیجه ده چې زه ئې لرم، آیا په دې نه پوهېدو چې الله تر ده د مخه ډېر داسې خلك هلاك كړل چې زور ئې تر ده زيات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له مجرمانو د دوی د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه کېږي.

(۷۸)- د قارون ځواب دا وو: څه چې لرم زما د هنر او کمال؛ او زیار او زحمت نتیجه ده، په لاس ته راوړو کې ئې نه د چا د احسان او پېرزویني مرهون او پوروړی یم او نه ئې چا ته په څه ورکولو مکلف!! الله تعالی ده او ده ته ورته مغرورو او بخیلو شتمنو ته په ځواب کې فرمایي: آیا نه پوهېږي چې تر ده د مخه مو داسې شتمن خلك هلاك كړل چې هم ئې ځواك او قوت تر ده زيات وو او هم ئې شتمنی، خپل قوت او شتمنیو مغرور کړي ول او غرور او بخل باعث شو چې د الله تعالی په سخت عذاب اخته شي، هغه مهال چې د الله

تعالی عذاب پرې نازلېدو نو د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه ترې کېده، دا ورته نه ويل کېدل چې شتمني دې څنګه او له کوم هنر او کمال په استفادې سره او د کومې ګناه د ارتکاب له لارې تر لاسه کړه؟!! له هر مجرم سره به همدا معامله کېږي.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَـٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ
مَآ أُوتِىَ قَـٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ
ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا ۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّـٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِۦ
وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ
يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ
بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾

نو د خپل قوم په وړاندې له خپل شأن او شوکت سره راووت، هغو چې د دنيوي ژوند په لټه کې ول وئې ويل: کاش زموږ هم دغه حالت وی چې د قارون په برخه شوی! يقيناً چې دی د لويې برخې خاوند دئ، او هغو چې علم ئې په برخه شوی وو وويل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله هغه چا ته چې ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی (تر دې ډېر) غوره دئ او دا خو يوازې د صابرانو په برخه کېدی شي، نو دی او د ده کور مو په زمکه کې ښخ کړل، نو له الله پرته ئې نه کومه ډله وه چې مرسته ئې وکړي او نه له انتقام اخيستونکو وو، او هغه چې پرون ئې د ده د مقام او مرتبې تمنی کوله داسې شول چې ويل ئې: او هو ! خبره خو دا وه چې په حقيقت کې دا الله دئ چې د خپلو بندګانو چې چا ته وغواړي رزق ورته پراخوي او تنګوي، که دا نه وی چې الله پر موږ احسان وکړ نو موږ به ئې هم په زمکې کې ننايستي وو، او هو! حقيقت خو دا دئ چې کافران هيڅکله نه شي ژغورل کېدی.

(۷۹-۸۲)- دلته د ولس په وړاندې د قارون د څرګندېدو او د ده حالت ته په پام سره د خلکو د دوو ډلو ويناوو او غبرګون ته په دې توګه ګوته نيول شوې:

- ولس ته به له غولوونکي شأن او شوکت سره، په فاخره جامو کې او په ګاڼو سمبال راووت.
- ضعيف النفسه، له آخرته غافل او په دنيوي لذتونو پسې لالهاندو خلکو به د ده غولوونکي حالت ته په پام سره ويل: ای کاش موږ ته هم همغسې څه راکړی شوي وی چې

قارون ته ورکړی شوي، هغه خو له شکه پرته ډېر بختور دئ.

- د ایمان او علم خاوندانو به دغو ضعیف النفسو وګړو ته ویل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله هغه چا ته چي ایمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی تر دې ډېر ډېر غوره دئ او دا خو یوازې د صابرانو په برخه کېدی شي، هغه چي پر خپل حلال رزق اکتفاء کوي او حرامو ته لاس نه غزوي.
- الله تعالی قارون او د ده کور او کورنۍ یو ځای په زمکه کي ښخ کړل، له الله تعالی پرته ئې نه داسي ډله وموندله چي مرسته ئې وکړي او نه ئې په خپله له ځان دفاع کولی شوی.
- چا چي پرون د ده د مقام او مرتبې تمنی کوله، د ده د پایلي په لیدو سره ئې وویل: خبره خو دا ده چي په حقیقت کي دا الله تعالی دئ چي د خپلو بندګانو رزق پراخوي او تنګوي، که الله تعالی پر موږ احسان نه وی کړی نو موږ به ئې هم په زمکي کي ننایستي وو، حقیقت خو دا دئ چي کافران هیڅکله د خپل کفر او ظلم له بدو پایلو نه ژغورل کېږي.

---

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًاۚ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

دا اخروي کور خو د هغه چا لپاره ټاکو چي په زمکي کي نه لویي غواړي او نه فساد، او غوره پایله د متقیانو ده.

---

(٨٣)- د آخرت غوره مېشت ځای مو د هغو لپاره ټاکلی چي نه په زمکي کي د خپلي لویي په لټه کي وي او نه د فساد خورولو په لټه کي، د دنیا او آخرت نېکه پایله د هغو متقیانو ده چي له کبر او فساد ډډه کوي.

ګورئ چي قرآن په څومره حکیمانه انداز د قارون او د ده د شأن او شوکت تر اغېز لاندي د تللو ضعیف الایمانو کسانو حالت او پایله بیانوي او د دوی په وړاندي د واقعي مؤمنانو حالت څنګه انځوروي؟!! قرآن فرمایي چي موسی علیه السلام د فرعون، هامان او قارون مقابلې ته لېږل شوی وو، قارون د موسی له قومه او اسرائیلي وو خو د خپل قوم په ضد له فرعون سره ملګری شوی او په ټولو تېریو کي ئې د هغه ملګرتیا کوله، قارون په خپل کور کي له ټولي کورنۍ سره په زمکي کي خسف شو او فرعون له خپلو لښکرو سره په سیند کي غرق شو.

راشئ وګورو چي بایبل په دې اړه څه چټیاټ ویلي: بایبل تر دې عنوان (وټي) لاندي لیکي چي خدای موسی ته وفرمایل: اسرائیلیانو ته ووایه چي د خپلو جامو په لمنو کي له تاره جوړ شوي وټي (ځوندي) په شنه تار وځړوئ او دا به تل ستاسو د ټولو نسلونو لپاره یو دود وي، دغه وټي به تاسو ته زما احکام دریادوي!! او ورپسې د موسی علیه السلام په ضد د رؤبین د قبیلې د دریو مشرانو د بغاوت یادونه کوي او لیکي چي په دې کي د لاویانو د قوم

دوه سوه پنځوسو منتخبو مشرانو هم برخه اخيستې وه، غوښتل ئې د موسی عليه السلام مشري پای ته ورسوي، ... موسی دوی ته وويل: آيا ستاسو لپاره مخکيني امتيازات کافي نه دي، چي اوس د کاهني مقام هم غواړئ؟ ... موسی غصه شو او خدای ته ئې وويل: نور نو د دوی قرباني مه قبلوه... سبا ټول قوم د موسی په وينا د عبادت د خيمې خوا ته راغونډ شو، ... د خدای جلال ټولو اسرائيليانو ته راڅرګند شو، خدای موسی او هارون ته وويل: د دې قوم له څنګه لري شئ چي فوراً ئې هلاك کړم... خو موسی او هارون په سجده پرېوتل او وئې ويل: ... آيا د يوه کس د ګناه لپاره په ټول قوم غصه کېږې؟ ... نو خدای وويل: اسرائيليانو ته ووايه چي د قورح، دوتان او ابيرام له خيمو لري شي.... همداسي ئې وکړل... ناڅاپي زمکه وچاودېده او دا درې کسان له خپلو کورنيو سره په کي ښخ شول... بيا د خدای له لوري يو اور راغی او هغه دوه نيم سوه کسان ئې وسوزول (دا دوه نيم سوه کسان چي په توطئې کي ئې برخه اخيستې وه د معبد خادمان وو، سپېلني به ئې دودول، هر يوه څان ته د سپېلنيو دودولو سامان او لوازم جوړ کړي وو او له قربانيو او هديو به ئې خپله برخه تر لاسه کوله).... يوه ورځ وروسته اسرائيليانو بيا له موسی شکايت وکړ... بيا خدای په ورېځو کي راڅرګند شو... څوارلس زره اوه سوه کسان ئې ترې ووژل شول!!! ليکي چي شخړه د زعامت پر سر وه، خلکو د هارون مشري نه منله... په پای کي دا لانجه داسي پای ته ورسېده چي خدای موسی ته وويل: ټول مشران دي خپلي عصاګاني تا ته راوړي، په هري عصا د هغه د خاوند نوم وليکه... د عهد صندوق خوا ته ئې کښېږده... هغه څوك چي زه ئې د مشرۍ لپاره غوره کوم عصا به ئې غوټۍ وکړي... همداسي ئې وکړل... سبا چي د عبادت خيمې ته ننوت نو وئې ليدل چي د هارون عصا غوټۍ کړې، ګل ترې ټوکېدلی او بادام ئې کړی... موسی ټولي عصاګاني راوايستې او هر چا خپله عصا واخيسته... خو سره له دې اسرائيليانو خپل شکايتونه تر مخکي هم زيات کړل. ښايي ويل به ئې چي موسی (عليه السلام) د هارون د عصاء په ځای د بادام د ونې تازه څانګه ودرولې!!

داسي معلومېږي چي د بايبل ليکونکي په تورات يا انجيل کي د قارون د خسف کېدو خبر لوستی او ده ترې دا قصه جوړه کړې، په دې کي هيڅ شك نشته چي په تورات او انجيل کي به د قارون قصه په همغه بڼې کي راغلې وي چي په قرآن کي راغلې، قرآن د بايبل دا قصه له بنسټه ردوي او د قورح په ځای د قارون نوم اخلي او فرمايي چي دی له فرعون سره د خپل قوم په ضد ملګری شوی وو، د ډېرو شتمنيو خاوند وو، دا شتمني ئې هم د دغي ملګرتيا په وجه تر لاسه کړې وه، د موسی عليه السلام مخالفت ته ئې ملا تړلې وه او له خپلو شتمنيو سره په زمکه کي ښخ شو.

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٨٤

څوك چي له ښېګڼي سره راشي نو ده ته به تر هغې غوره ورېه برخه شي، او څوك چي له بدو كړنو سره راشي نو بدعملو ته به له خپلو كړنو پرته د بل څه سزا نه وركول كېږي.

(۸٤)- په دې مبارك آيت كې ويل شوي چي:
الله تعالی نېك عملو ته تر خپلو عملونو غوره بدله وركوي، او بدعملو ته د خپلو بدو عملونو مطابق سزا وركوي.

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾

يقيناً چا چي پر تا دا قرآن فرض كړی حتماً تر موعود مقامه ستا رسوونكی دئ، ووايه: زما رب هغه څوك ښه پېژني چي له لارښووني سره راغلی او هغه چي په څرګندي بې لارۍ كې دئ.

(۸۵)- يعني چا چي دا ذمه واري تا ته سپارلې ده چي دا قرآن به تر خلكو رسوې، هغوی ته به ئې ورزده كوې او د قرآن د تعليماتو مطابق د خپل ژوند سمبالولو ته به ئې رابلې، هغه به هرومرو خپلې وعدې تر سره كړي، تا به هغه لوړ مقام ته ورسوي چي وعده ئې درسره كړې، د معاد لغوي معنی د وعدې مهال او ځای دئ، هم ئې په اخروي وعدو اطلاق كېدی شي او هم په دنيوي وعدو، خو د آيت سياق او سباق او ټول هغه مضمون ته په پام سره چي تر دې آيت مخكې راغلی او پر فرعون او قارون د موسی بريا او برلاسي او د ده د دښمنانو په بحر كې غرقېدا او په زمكې كې ښخېدا په كې راغلې؛ ښيي چي دې ته ورته وعدې ترې مراد دي. يعني له خپلو دښمنانو سره به ستا روانه مبارزه هرومرو په همغه څه پای ته رسي چي الله تعالی ئې له تا سره وعده كړې، د حق بشپړه غلبه او د باطل زوال.
د دوی د تبليغاتو پروا مه كوه، په ځواب كې ئې ووايه: زما رب تر ټولو ښه پوهېږي چي څوك له لارښوونو سره راغلی او څوك په څرګندي بې لارۍ او ضلالت كې دئ.

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

او ته داسې نه وې چې د کتاب درتلو ته دې هیله کوله، مګر ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه، نو د کافرانو ملاتړی مه شه. او دوی دې تا د الله له آیتونو له هغه وروسته منع نه کړي چې درته نازل کړی شول، او د خپل رب لوري ته بلنه ورکړه او له مشرکانو مه شه. او له الله سره بل معبود مه بله (د ده تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه)، له ده پرته بل معبود نشته، هر څه هلاکېدونکي دي مګر د ده ذات، حکم ده لره دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

---

(٨٦-٨٨)- دا وروستي درې آیتونه چې د دې مبارکې سورې خلاصه زموږ مخې ته ږدي لاندې لارښوونې لري:

• پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې تا دا هیله او انتظار نه درلود چې کتاب درباندې نازل شي او په پیغمبرۍ مبعوث شې، بس الله تعالی اراده کړې وه چې پر تا او ستا پر امت رحم وکړي، همغسې لکه چې موسی علیه السلام؛ نه پر پیغمبرۍ د ګمارل کېدو انتظار درلود او نه ئې ځان د دې ستر منصب لپاره مستعد او جوګه ګڼلو، له اته - لسو کلونو مسافرۍ او تبعیدې ژوند وروسته مصر ته روان وو، د لارې په نیمايي کې ئې رڼا تر سترګو شوه، خوا ته ئې ورغی او همدلته په نابېره توګه او د خپل تصور او انتظار خلاف پر پیغمبرۍ وګمارل شو او د فرعون مقابلې ته د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره ولېږل شو، لکه څنګه چې د ده بعثت د دې قوم لپاره د الله تعالی یوه پېرزوینه وه همداسې ستا بعثت هم ستا د امت لپاره یوه ستره الهي پېرزوینه ده، ته هم د دوی د نجات لپاره مبعوث شوی یې.

• لکه څنګه چې موسی علیه السلام ژمنه کړې وه چې له دې وروسته به هیڅکله د مجرمینو ملاتړ نه کوم ته هم هیڅکله د کافرانو ملتیا او ملاتړ مه کوه.

• پام کوه چې د دښمنانو تهدید او تطمیع دې تا دې ته ونه هڅوي چې د الله تعالی د آیتونو له متابعت امتناع وکړې، د الله تعالی د حکمونو مطابق عمل کوه، د خپل رب لوري ته بلنه ورکوه او په هیڅ څه کې د مشرکانو په څېر مه کېږه.

• د الله تعالی تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه، له ده پرته بل معبود نشته، له الله تعالی پرته هر څه هلاکېدونکي دي، حکم صادرول، حکمیت کول، د قضایاوو او پېښو په اړه پرېکړې کول مختص ده لره دي، او تاسو ټول به د ده لوري ته ورګرځول کېږئ.

دلته د القصص مبارکه سوره پای ته ورسېده.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## د بني اسرائیلو د قصې نوري برخې

لکه څنګه چې ګورئ د القصص په مبارکې سورې کې د بني اسرائیلو د عبرتناکې قصې ځینې برخې په تفصیل سره راغلې او نورو برخو ته ئې یا په ایجاز او اختصار سره اشاره شوې او یا اصلاً نه دي راوړل شوي، د دې لپاره چې په دې کتاب کې مجمل او پاته برخې هم ذکر شي؛ دا غوره بریښي چې د نورو سورتونو هغه آیتونه هم د لوستونکو مخې ته کښېږدو چې د بني اسرائیلو د عروج او زوال عبرتناکه قصه څېړي، په دې سره به دا کتاب یوازې د القصص د سورې تفسیر نه وي بلکې د بني اسرائیلو د تاریخ لوړې ژورې به ئې په نسبتاً مفصله توګه څېړلې او د هغه په ترڅ کې به ئې د ملتونو د عروج او زوال عوامل په ګوته کړې وي.

د قرآن په نورو سورتونو کې راغلي چې کله موسی علیه السلام مصر ته ستون شو او خپل دعوت ئې پیل کړ او په ضمن کې ئې فرعون ته بلنه ورکړه، هغه او درباریانو ئې انکار وکړ، ده ته ئې د کوډګر خطاب وکړ او خلکو ته ئې وویل: موسی د بې امنیو باعث دئ، فساد خوروي، که خپلې مخې ته پرېښودی شي تاسو به له مصره وتلو ته اړ کړي، څه چې تاسو ته ښیي زموږ د کوډګرو کوډو ته ورته دي، نه دی د خدای پیغمبر دئ او نه ئې دعوت الهي دعوت، د مصر ټول ماهر کوډګران ئې راغونډ کړل چې د ده مقابله وکړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُۥ لِيُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَ ۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ الاعراف

او د فرعون د قوم مشرانو وویل: آیا موسی او قوم ئې پرېږدې چې په زمکې کې فساد خور کړي، تا او ستا خدایان پرېږدي؟ وئې ویل: حتماً به ئې زامن ووژنو او ښځې به ئې ژوندۍ پرېږدو، په داسې حال کې چې موږ پرې برلاسي یو. موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته

وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده. وئې ویل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي یو او له راتلو وروسته دي هم، (موسی علیه السلام ورته) وویل: امید دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د زمکي خلافت درپه برخه کړي او بیا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

د قوم مشرانو له فرعون وغوښتل چې د موسی علیه السلام او د ده د پلویانو په ضد قاطع او پرېکنده اقدام وکړي، هغه ته ئې وویل چې دوی هم له نظامه بغاوت کړی او هم له مذهبه، نه تا مني او نه ستا خدایان. د فرعون ځواب دا دئ: د دوی په ضد د هر څه کولو توان لرو، زموږ تر لاس لاندي دي، زامن ئې ورته وژنو او ښځي ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېږدو چې د وینځو په توګه زموږ خدمت وکړي. دا د هر فرعون او فرعوني نظام منطق دئ، مخالفین نشي زغملی، یو وژني، بل په اسارت کې ساتي، د مخالفتونو د ځپلو لپاره له خپلي سلطې او واکمنۍ کار اخلي.

په دې دوران کې چې بني اسرائیل له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ دي راشئ وګورو چې موسی علیه السلام څه توصیه ورته کوي؟ موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

د موسی علیه السلام په دې وینا کې څو اساسي لارښووني د هر مؤمن لپاره ګورو:

- له الله تعالی مرسته وغواړئ، بلي خوا ته د امید سترګي مه اړوئ، له بل چا مرسته مه غواړئ.
- د ګواښونو، ستونزو او کړاوونو په وړاندي صبر وکړئ.
- په دې پوه شئ چې د زمکي حقیقي ټولواك الله تعالی دئ، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته ئې په میراث ورکړي، له چا ئې بېرته واخلي او د ده په ځای ئې چا ته وسپاري.
- نېکه پایله د پرهېزګارانو ده، د هغو ځان ساتونکو چې له الله تعالی پرته بل ته طمع نه کوي، له بې صبرۍ ځان ساتي او دا پرېکړه د بل چا په واك کې نه ګڼي چې د زمکي واکمني به چا ته سپارل کېږي.

ګورئ چې موسی علیه السلام په هغه سخت او ستونزمن حالت کې چې دی او ټول پلویان ئې ورسره مخامخ دي، خپلو مؤمنو پلویانو ته توصیه کوي چې مرسته باید یوازی له الله تعالی وغواړئ، د ستونزو او مشکلاتو په وړاندي صبر وکړئ، او په دې باور ولرئ چې د زمکي رښتینی او یوازینی څښتن لوی الله دئ، هغه به د دې فیصله کوی چې له خپلو بندګانو ئې چا ته په میراث ورکړي. د دې قضیې فیصله د الله تعالی له لوري کېږي چې زمکه او په هغې کې واکمني او اقتدار چا ته په میراث ورکړی شي، د دې خبري اختیار چې زمکه چا ته په میراث ورکړي شي؛ د زمکي پر سر هیچا ته نه دئ سپارل شوی، لوی څښتن‌تعالی دا پرېکړه

له عرش صادروي، موسى عليه السلام خپلو مؤمنو پلويانو ته همدا ويل چې په دې کې به شك نه کوئ، که ستاسو او ستاسو د دښمن حالت هر ډول وي، دا فيصله به مالك الملك خداى کوى. "إن الارض لله: زمکه يقيناً د الله ده"، "يورثها من يشاء من عباده: له خپلو بندګانو ئې چې چا ته وغواړى په ميراث ئې ورکوى"، "والعاقبة للمتقين: او نېکه پايله د پرهيزګارانو ده"، د کومو پرهيزګارانو؟ هغه چې له الله تعالى پرته له بل چا استعانت نه غواړي، په ستونزو، مشکلاتو او محروميتونو کې هم پرته له خداى بل چا ته اميد نه ساتي، بل چا ته لاس او لمن نه اوږدوى. څوك چې صبر، حوصله، ثبات او استقامت له لاسه نه ورکوي، او په دې اړه هيڅ شك نه لري چې دا زمکه چې مالك ئې خداى دئ چا ته چې ئې وغواړي هغه ته ئې په ميراث ورکوى، د دغو متقيانو او پرهيزګارانو عاقبت نېك دئ.

د موسى عليه السلام قوم د صبر مظاهره وکړه، ورته وئې ويل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي يو او له راتلو وروسته دي هم، (موسى عليه السلام ورته) وويل: اميد دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د زمکې خلافت درپه برخه کړي او بيا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

قوم په ځواب کې ورته وويل: ستا له راتلو مخکې هم اذيت شوي يو او ستا له راتلو وروسته هم، داسي نده چې يوازې ستا په راتلو سره دا مصيبتونه پر موږ نازل شوي، پروا ئې نشته، موږ په همدغو مصيبتونو کې لوى شوى يو، تر دې د مخه هم دا موږ وو او دا مصيبتونه.

که څه هم ځينو مفسرينو دا وينا د بني اسرائيلو د شکايت وينا ګڼلې، خو حقيقت دا دئ چې د دوى تعبير کمزورى دئ، د بني اسرائيلو وينا به په هغه صورت کې شکوه او شکايت ګڼل کېده چې ويل شوي وى: ستا له راتلو وروسته پر موږ دا د مصيبتونو دور پيل شوى، خو د دوى دا وينا چې ستا تر راتلو د مخه هم زموږ همدا حالت وو، معنى ئې دا ده چې ستا په راتلو سره دا مصيبتونه پر موږ نه دي نازل شوي، پروا ئې نشته، دا خبره د دوى صبر او استقامت څرګندوى، همدا علت دئ چې موسى عليه السلام د دوى د صبر له مشاهدې وروسته هغوى ته وايي: هيله ده چې الله تعالى ستاسي دښمن هلاك کړي او د زمکې خلافت تاسي ته وسپاري او بيا به ګوري چې تاسي څه کوئ؟ ځکه که دا د صبر مظاهره نه واى نو موسى عليه السلام به کله هم دوى ته نه وو ويلي: اوس نو هيله من يم چې ستاسي د دې صبر په نتيجه کې به الله تعالى ستاسي دښمن هلاك کړي، تاسي ته به د زمکې خلافت دروسپاري او بيا به ګوري چې تاسي څه کوئ؟ د دغه آيت تر ټولو غوره او حقيقي توجيه همدا ده، عظيم الشأن قرآن دا د يوه ضعيف النفسه او بې صبره ټولګي نښه ګڼي چې کله له کوم مصيبت سره مخامخ شي نو خپل لاربښود او مشر ته شکايت کوي او وايي: ستا په خاطر موږ له دې مشکلاتو او کړاوونو سره مخامخ شوي يو. لکه چې قرآن فرمايي:

أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِكڪُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ

هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ حَدِيثٗا ﴿٧٨﴾ النساء

چې هر ځای وئ مرګ به مو بیا مومي؛ که څه هم په دنګو کلکو ماڼیو کې وئ؛ او چې کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده؛ خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا دئ؛ ورته ووایه: ټول د الله له لوري دي؛ پر دې خلکو څه شوي چې په هیڅ خبري نه پوهېږي؟

په دې وینا سره بني اسرائیلو موسی علیه السلام ته داډ ورکړی چې بې صبري به نه کوي، په کړاوونو کې پاخه شوي یو، ستا له راتلو وروسته زموږ د ځورولو او کړولو لړۍ نه ده پیل شوې، تر دې د مخه هم ځورول شوي یو، د دوی د دې وینا په ځواب کې موسی علیه السلام وفرمایل: إن شاء الله چې ستاسو رب به دښمن هلاك کړي، د دې زمکې خلافت به تاسو ته وسپاري، بیا به وګوري چې تاسو څه کوئ؟

دې ته مو باید پام وي چې دا مطلب هغه مهال مسلمانانو ته اورول شوی چې دوی په مکې مکرمې کې له ورته ګواښونو سره مخامخ ول، ځورول کېدل، وژل کېدل او هجرت ته مجبورېدل، په دې سره دوی ته ویل شوي چې ستاسو دریځ، وینا، صبر، مقاومت، پرالله تعالی توکل باید همغسې وي لکه ستاسو د مخکینیو مؤمنو وروڼو.

په دې مودې کې الله تعالی پر مصر رنګ رنګ عذابونه نازل کړل، د قرآن د وینا له مخې په مصریانو باندې دا عذابونه او مصیبتونه نازل شوي: قحطي، د حاصلاتو کموالی، طوفان، ملخان، کنې، چنګښې، وینې، خو قرآن وايي چې د دې مصیبتونو وجه د دوی ګناهونه وو او هدف ترې دا چې دوی پند واخلي او له خپل کفر، شرك، ظلم او فساد لاس په سر شي.

وَلَقَدۡ أَخَذۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ الاعراف

او یقیناً چې فرعونیان مو په قحطي او د حاصلاتو په کموالي سره ونیول چې پند واخلي.

فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ الاعراف

نو طوفان، ملخان، کنې، چنګښې او وینه مو د بېلابېلو نښو (په توګه) پرې راولېږل او دوی لويي وکړه او یو مجرم قوم وو.

د دې آیت د (مفصلات) له لفظ په څرګنده توګه معلومېږي چې دا مصیبتونه په یوه وخت او یو په بل پسې نه دي نازل شوي بلکې په بېلابېلو وختونو کې نازل شوي، یو کال قحطي راغلې، یو کال د باغونو او زمکو حاصلات کم شوي، یو کال ملخانو د دوی پر فصلونو برید کړی، یو وخت طوفان پرې راغلی، بل وخت کنې او بیا چنګښې پرې مسلطې شوې او یو وخت د دوی اوبه د سرو وینو په څېر شوې او دا د بايبل د دې ادعاء خلاف ده چې وايي

دا ټول حوادث د څو اونیو په منځ کې او د موسی او هارون علیهما السلام په لاس او هغه وخت تر سره شوي چې دوی د فرعون له جادوګرانو سره مقابله کوله، د بایبل ادعاء هم د عقل او واقع خلاف ده او هم د قرآن د وینا خلاف!! د الله تعالی سنت دا دئ چې له مصیبت وروسته خپلو بندګانو ته د توبې او تجدید نظر موقع ورکوي، که پند وانه خلي، بل او بل مصیبت پرې راولي، په یوه وخت د ګڼ شمېر مصیبتونو یو په بل پسې راتلو سره د توبې او تجدید نظر مجال ختمېږي.

## د فرعون د مشر زوی مړینه

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: خدای په نیمه شپه کې د ټولو مصریانو ټول مشران زامن ووژل، د فرعون له مشر زویه د هغه غلام تر زویه چې ترزمکې لاندې تور زندان کې پروت وو... په دغه شپه فرعون او درباریان راویښ شول ... ټولو په جګ غږ ژړا پیل کړه... فرعون په همدغه شپه موسی او هارون راوغوښتل او ورته وئې ویل: ژر له مصره ووځئ او اسرائیلیان هم درسره بوځئ، خپل څاروي هم درسره روان کړئ... خو له وتلو مخکې ما ته دعاء وکړئ، ... نورو مصریانو هم اسرائیلیانو ته وویل: له مصره ووځئ... دوی له مصریانو ډېر سره او سپین زر هم واخیستل... او په دې توګه ئې د مصر ټولې شتمنۍ له ځان سره یووړې... شمېر ئې له ښځو او ماشومانو پرته نژدې شپږ سوه زره سړي وو... اسرائیلیانو څلور سوه دېرش کاله په مصر کې تېر کړل...

دلته د بایبل څو عجیبو خبرو ته لږ ځیر شئ: خدای په نیمه شپه کې مصر ته راغی، د مصر په ټولو کورونو وګرځېدو، له هغه کوره تېر شو چې دروازه ئې په وینو لړلې وه، د هر مصري کور ته داخل شو، د هغه مشر زوی ئې ورته وواژو، په دې وخت کې د اسرائیلیانو شمېر نژدې دوه ملیونه وو، طبیعي ده چې د مصریانو شمېر به هم لږ تر لږه څلور ملیونه وو، که هره کورنۍ لس کسان وګڼو نو د مصر د کورونو شمېر به شپږ لکه وو، د بایبل خدای چې د انسان په څېر دئ او تګ ئې هم انسان ته ورته، ګام په ګام مخکې ځي، په پاته نیمي شپې کې په دې شپږ لکه کورونو ګرځېدلی، شا وخوا څلور لکه مصري ځوانان ئې وژلي، بیا په همدې پاته نیمي شپې کې فرعون موسی او هارون ځان ته غوښتي، هغوی ته ئې له مصره د وتلو او ده ته د دعاء کولو خبره کړې!!! په همدې شپه د اسرائیلیانو ښځو د خپلو مصري ګاونډیو له مېرمنو ښه ډېر سره او سپین زر تر لاسه کړي، هومره چې د مصر ټولې شتمنۍ ئې د ځان کړې او له ځان سره ئې وړې!!! نه پوهېږم مسیحیان او یهودان کومي بلا وهلي چې داسي مسخره خبري مني، که یو ناول لیکونکی وغواړي چې ډېر حیرانووکی ناول ولیکي نو دا هغه خامخا کوي چې خبري ئې څه نا څه په عقل برابرې وي، که ډېر هوښیار خلك ئې ونه مني نو ځیني کمعقله خلك خو ئې ومني، خو د بایبل لیکونکي د دې پروا نه ده کړې، مسیحیان او یهودان ئې داسي موندلي چې ګران درواغ تر آسان رښتیا ژر مني، د زوړ تاریخ هره خبره ورته مقدسه برېښي!! هر څه چې د دوی پلرونو ته منسوب شي او د انجیل او

تورات په نامه وړاندي شي له تعمقه پرته ئې مني!!

بايبل تر دې د مخه ليکلي چي په مصر کې د يعقوب عليه السلام د مېشتېدو په وخت کې د ده د کورنۍ د ټولو غړو شمېر اويا کسان وو او اوس ليکي چي څلور سوه دېرش کاله وروسته کله چي له مصره وتل نو يوازي د نارينه وو شمېر نژدې شپږلکه وو، يعني د ښځو او ماشومانو په شمول به لږ تر لږه دوه مليونه ول او د دې معنى دا ده چي په دې مودې کې د دوى شمېر نژدې اته ويشت زره پنځه سوه ځله زيات شوى، که د بايبل دا له مبالغې ډکه محاسبه ومنو نو دا دوه مليونه يهودان بايد له نورو څلور سوه دېرشو کلونو تېرېدو وروسته اوه پنځوس مليارده شوي وي، چي دا د ټولي نړۍ د موجوده نفوس نژدې لس برابره دئ او بيا په تېرو نژدې دوه نيم زرو کلونو کې به د دوى شمېر څومره شوى وى؟!! آيا دا محاسبه ډېره خندونکې نه ده؟ ښايي د بايبل ليکونکي به غوښتلي وي چي همغه زړه بې بنسټه خبره رښتينې کړي چي بايبل خداى ته منسوب کړې او ويلي ئې دي: د يهودانو شمېر به د آسمان تر ستورو او د زمکي تر شگو هم زيات شي!! خو نن او په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د يهودانو مجموعي شمېر شپږو مليونو ته نه رسېږي!! بايبل دا خبري په داسي وخت کې کړې دي چي د شمېرو په اړه ئې چا درواغ نه شوى ثابتولى، هغه وخت خو به تر زرو زيات رقم هم نه وو، چا دا محاسبه ورسره کوله چي اويا کسيزه کورنۍ څنگه په ٤۳۰ کلونو کې (يعني پنځه نسله وروسته) دوه مليونو ته ورسېده؟!! په دومره مودې کې خو د سويانو په څېر د هغو حيواناتو شمېر هم دې حد ته نه شي رسېدى چي هر ځل ډېر بچيان زېږوي!! بايبل دې ته هم پام نه دئ کړى چي په مصر کې بني اسرائيلو ډېر بد ژوند درلود، فرعون د دوى زامن ورته وژل، په دې صورت کې خو بايد د دوى شمېر د زياتېدو په ځاى کمېدى!! که زياتېدل ومنو، نو په ۱۹۹۸کال کې د دوى د نفوس وده په کال کې ۱،۹٪ وه که د بايبل په خاطر دا ۲٪ وگڼو نو د دوى شمېر بايد په ٤۳۰ کلونو کې نژدې درې لکه پنځوس زره وى نه دوه مليونه!!

له دغو غلطو ارقامو او په ارقامو باندي د بايبل له ترکيز؛ د بايبل په ماهيت پوهېدى شئ، په لارښود کتاب کې د ارقامو، شجرو او نومونو په ځاى په اساسي مفاهيمو ترکيز کېږي او لارښوونو ته اهميت ورکول کېږي، قرآن د ارقامو په اړه فرمايي چي په دې ځان مه مصروفوئ، دا هومره ارزښت نه لري چي له چا سره پرې مناقشه وکړئ او خپل وخت پرې ضايع کړئ، د اصحاب کهف د قصې په ترڅ کې فرمايي چي په دې له خلکو سره بحثونه مه کوئ چي د دوى شمېر څومره وو او څو کلونه په غره کې پاته شول، بس همدومره کافي ده چي ووايئ: دا د مؤمنو زلميانو يوه ډله وه، په خداى ئې ايمان راوړ، د ظالمو واکمنانو له وېري ئې غره ته پنا يووړه او الله تعالى د اوږدې مودې لپاره په خوب ويده او ژوندي وساتل، نه د دوى شمېر په گوته کوي او نه دا وايي چي څو کلونه په غره کې پاته شول، فرمايي:

نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ﴿١٣﴾ الکهف
موږ د دوی قصه په رښتيني توگه درته بيانوو، دوی يوه داسي ډله وه چي په خپل رب ئې ايمان راوړ او موږ ئې ايمان ورمضبوط کړ.

د خپل قوم په اړه د دوی نظر داسي بيانوي:

إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي مِلَّتِهِمۡ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴿٢٠﴾ الکهف

که دوی درباندي برلاسي شي نو يا به مو د ډبرو په ويشتلو سره وژني او يا به مو خپل مذهب ته وراړوي او په دې صورت کي به هيڅکله بريا درپه برخه نه شي.

د دوی د شمېر په اړه د قصه خوښو وينا او د دوی په مقابل کي د مسلمان داعي دريځ داسي په گوته کوي:

سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٞ رَّابِعُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ وَيَقُولُونَ خَمۡسَةٞ سَادِسُهُمۡ كَلۡبُهُمۡ رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِۖ وَيَقُولُونَ سَبۡعَةٞ وَثَامِنُهُمۡ كَلۡبُهُمۡۚ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا قَلِيلٞۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمۡ إِلَّا مِرَآءٗ ظَٰهِرٗا وَلَا تَسۡتَفۡتِ فِيهِم مِّنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴿٢٢﴾ الکهف

وايي به: درې ول او څلورم ئې د دوی سپی وو او وايي به: پنځه ول او شپږم ئې د دوی سپی وو، دا هسي په تياره کي کاڼي ويشتل دي او وايي به: اوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووايه: زما رب د دوی له شمېره ښه خبر دئ، يوازي لږ کسان پرې پوهېږي، د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو له هيچا د دوی په اړه پوښتنه مه کوه.

## کله چي تشدد نتيجه نه ورکوي:

څومره چي فرعون او فرعونيانو د موسی عليه السلام د پلويانو په ضد خپل تشدد زيات کړ همدومره نهضت قوت وموند، د موسی عليه السلام د پلويانو او د فرعون د مخالفينو شمېر زيات شو، فرعون پرېکړه وکړه چي ځان د هغه دين مدافع وښيي چي له پلار نيکه مصريانو ته په ميراث پاته دئ او موسی عليه السلام له دې دين باغي وښيي، دا د ديني خوځښتونو يوه ځانگړتيا ده چي دښمنان ئې په يوې مرحلې کي ځان د دين مدافعان او نهضت له دين او ديانت د باغي په توگه وړاندي کړي، د دين په جامه کي د دين مقابله کوي، همغه شعارونه ورکوي چي نهضت عنوان کړي، فرعون د دين ساتونکی شي او موسی (ع) د دين مخالف!! فرعون صالح او صلح غوښتونکی شي او موسی د بې امنيو او فساد عامل!!، خو کله چي تبليغات هم بې اغېزه پاته شي، نه د نهضت د مزيد څواکمنېدو او

خوربدو مخه ونيسي او نه له نهضت سره د ولس د يو ځاى كېدو، نو د شخصيتونو د ترور او وژني مرحله راورسېږي، د عام وژنو او د بني اسرئيلو د زامنو د ذبح كولو په ځاى د موسى عليه السلام د وژلو پرېكړه كېږي، قرآن فرمايي چي په دې پړاوكي دښمن دوه كاره كوى:

١ـ همغه شعارونه عنوانوي چي نهضت عنوان كړي، هغه هم د دين مدافع او خواخوږى شي!!

٢ـ د شخصيتونو د ترور پرېكړه كوي.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُۥٓ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي ٱلْأَرْضِ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ غافر

او فرعون وويل: ما پرېږدئ چي موسى ووژنم، او هغه دي خپل رب (مرستي ته) وروبلي، زه ويرېږم چي ستاسو دين بدل نكړي او يا په زمكه كي فساد خور نه شي!

گورئ چي هغه په پټه يوه خبره كوي او په ښكاره بله، خپلو درباريانو ته د تړلو دروازو تر شا وايي: ما پرېږدئ چي موسى ووژنم، موسى دي خپل خداى مرستي ته وروبلي، خو كله چي له عام ولس سره مخامخ كيږى وايي: زه وېرېږم چي موسى ستاسو غوره دين بدل نه كړي او په مصر كي بې امني او فساد خور نشي!! دا دئ گورئ چي هغه ستر مفسد اوس دا دعوى كوى چي موسى عليه السلام فساد خوروي، هغه له الله تعالى باغي او د دين ستر دښمن اوس د دين حامي شوى، قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه كوي چي دا د هري ديني مبارزې يوه مرحله ده، د پيغمبرانو عليهم السلام په خط روانو نهضتونو باندي هرومرو دا مرحله راځي، د مبارزې په يوه خاص پړاو كي به دښمن هم د نهضت شعارونه عنوانوي، د دين په جامه كي به د دين مقابله كوي، موږ د خپلي مبارزې په جريان كي په وار وار دا حقيقت په خپلو سترگو وليد، په وار وار همداسي وشول، د كمونيستانو په ضد د مبارزې په دوران كي هغه پړاو راغى چي له الله تعالى منكر او د دين سرسختو دښمنانو به خپلي ويناوي په بسم الله الرحمن الرحيم شروع كولې او په من الله التوفيق به ئې ختمولې، بې اودسه به په لمانځه ودرېدل، د لمانځه فيلمونه به ئې په تلويزيون كي ښودل كېدل، د شئون اسلامي وزارت ئې جوړ كړ، ويل ئې چي دولت ئې څلرويشتو زرو ملايانو ته معاش وركوي، د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چي دوى جوماتونه ورانوي او ملايان وژني!! عظيم الشأن قرآن دغه مرحله د نهضت د يوې طبيعي او حتمي راتلونكې مرحلې او د يوه سنت په توگه معرفي كوي، او په دې سره د الله د لاري مجاهدينو ته لارښوونه كوي چي له داسي پړاو سره مخامخ كېدو ته ذهناً چمتو وي، هغه ورځ به راځي چي فرعون ووايي: إني اخاف أن يبدل دينكم: زه وېرېږم چي ستاسي دين بدل نكړي!! ستاسو د غوره پلرني دين په اړه اندېښنه لرم، داسي نه چي موسى په خپل سحر او جادو او په خپلو جادويي ويناوو سره ستاسو پلرنى لرغونى

دين او مذهب بدل کړي، هغه لوی مفسد، د طبقاتي نظام سالار، چې ولس ئې په ډلو ډلو ويشلی وو، د بني اسرائيلو زامن ئې ذبح کول، لوڼې ئې د وينځو په توګه ساتلې، پر دې مظلوم او بې وزلي قوم ئې ټول هغه ظلمونه او ناروواوي له کلونو کلونو رااېسي روا ګڼلې، هغه ئې په استضعاف او ذلت کې ساتلی، د يوه بشپړ قوم فرد فرد د مريي او وينځې په توګه د فرعونيانو په درباروونو کې د ذلت شپې ورځې تېرولې، د همدې ظالم او طبقاتي نظام بې رحمه سالار؛ له ډېرو ظلمونو، تېرلو او وژلو وروسته وايي: وېرېږم چې په هېواد کې بې امني خوره نشي!! دا خبره پرون روسانو تکرار کړه، نن ئې امريکايان تکراروي، پرون کمونيستانو وکړه؛ نن ئې د امريکا د فوځونو په زور مسلط شوي لنډه غر غربپالان کوي!! روسانو يو نيم مليون بې ګناه افغانان ووژل، ټول هېواد ئې په کنډوالو بدل کړ، کلي او کورونه ئې په توپونو او بمونو ويجارکړل؛ خو سره له دې به ئې ويل: مجاهدين پلونه ورانوي، مدرسې، جوماتونه او مکتبونه ورانوي، نن امريکايان همدغه تبليغات کوي، په داسي حال کې چې په کليو، ښارونو، مدرسو او جوماتونو بمونه وروي، د خلکو د غم او ښادي په غونډو ډزې کوي، هره ورځ په لسګونو افغانان په خپلو وينو کې رغړوي، خو وايي چې مجاهدين مکتبونه، مدرسې او جوماتونه او عام المنفعه تأسيسات ورانوي، په خپل لاس به په دغو ځايونو کې بمونه منفجر کړي چې مجاهدين پرې تورن کړي، ګورئ چې هماغه د فرعون خبره پرون د روسانو په خوله تکرارېده او نن د امريکايانو په خوله. او دا ښيي چې د قرآن قصې تاريخي بېلګې او مثالونه دي چې تل به تکرارېږي، د تاريخ په هر پړاو او د زمانې په هر موړ کې به يو فرعون وي او په مقابل کې ئې يو موسی، او دا مبارزه به د فرعون په غرقېدا پای ته رسي.

که څه هم موسی عليه السلام په دې توګه لېږل شوی چې په لومړي سرکې به د فرعون مقابله کوي، د دښمن د متحدي جبهې له دريو اړخونو به لومړی د فرعون (د سياسي حاکمي طبقې سالار) په خلاف د جنګ جبهه پرانېزي، خو کله چې فرعون ګوري چې د بني اسرائيلو د زامنو وژلو هم څه نتيجه ورنکړه، او د قرآن په اصطلاح : و ما کيد الکافرين الاّفی ضلال: او د کافرانو کيد او توطئه له دې پرته بله پايله نه درلوده چې معکوس نتائج ورکړي، د موسی عليه السلام د وژلو پرېکړه هم عملي نه شوه، نو له خپلو درباريانو سره مشوره کوي چې اوس څه وکړو؟ قرآن د دوی د ځواب په اړه داسي فرمايي:

قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَأَرۡسِلۡ فِي ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ﴿١١٢﴾

الاعراف

وئې ويل: د ده او د ورور معامله ئې وروسته کړه او ټولو ښارونو ته اربکي ولېږه چې ښه پوه او ماهر جادو ګران درته راولي.

پوه او ماهر جـادو ګران راغـونډ شول، قرآن دا ساحران په دې توګه موړ ته معرفي کوي:
۱- د فرعون دسترګو په اشاره خوځېږي .۲ـ د فرعون اربکي ئې راغونډوي او د فرعون په ايماء

او اشاره د حق مقابله کوي. ۳ـ د حاکم نظام په خدمت کې دي. ٤ـ له فرعون د اجر او بدلې هیله لري.

دا د هغوی خصوصیات دي، که فتوی ورکوي هم د هغه په اشاره ئې ورکوي، که مقابلې ته راوځي نو د فرعون په امر راوځي، د هغه په اشاره راغونډېږي، د بدلې هیله هم له هغه لري او تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چې دربار ته مقرب او نژدې شي. عظیم الشأن قرآن د ساحرانو د پېژندلو معیارونه په ګوته کوي هلته چې فرمايي:

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرۡعَوۡنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمۡ وَإِنَّكُمۡ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ﴿٤٣﴾ الشعراء

نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: مورِ ته به څه اجر او بدله حتماً وي که بریالي شوو؟ هغه (ورته) وویل: هو! تاسي به له مقربینو وئ (زما له نژدې درباریانو او د درباریانو په فهرست کې به نیول کېږئ).

تاسو د روسانو د اشغال په دوران کې ولیدل چې د مجاهدینو د مقابلې لپاره ریاست شئون اسلامي او پلاروطنه ملي جبهه جوړه شوه، و مولیدل چې د اسلامي شئونو ریاست ئې په وزارت بدل کړ، امریکایانو په همدې موخه لویه جرګه، منتخب پارلمان او ستره محکمه رامنځته کړل، قاضیان ئې د روزنې لپاره ایټالیا ته ولېږل، دیني مدرسې ئې جوړې کړې، همغسې لکه چې فرعون د نهضت په خلاف لومړی د ساحرانو جبهه پرانیستله، غوښتل ئې د دوی په ذریعه د موسی علیه السلام مقابله وکړي او مصریانو ته ئې ویل: که دا ساحران بریالي شول ټول به په ګډه د هغوی متابعت کوو!!

فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ الشعراء

کوډګران د معلومې ورځې میقات ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شول: آیا تاسو هم غونډېدونکي یاست؟ د دې لپاره چې د سحره وو متابعت وکړو که غالب شول.

سحره چې د حاکم نظام په خدمت کې دي او د اربکیو په ذریعه را غونډېږي او د مسابقې میدان ته سوق کېږي، دوی د عام ولس د راغونډولو وسیله ګرځوي، خلکو ته وویل شول: که دا سحره غالب شول د دوی متابعت به کوو، خو کله چې همدا سحره ماتې خوري، د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي، ایمان راوړي، ګورئ چې فرعون ئې په مرګ او لاس پښو قطع کولو ګواښي!!

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٩﴾ الشعراء

فرعون وویل: پر ده مو ايمان راوړ، مخکې تر دې چې زه درته اجازه درکړم، دی ستاسو هغه مشر دئ چې سحر ئې درښودلی، نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره کوم؟)، لاسونه او پښې به مو حتماً يو د بل خلاف پرې کړم، او هرومرو به تاسو ټول په دار وځړوم!!

په دې سره قرآن موږ ته وايي: هغه مذهبي مشران چې د فرعون د غلامۍ کړۍ په غاړه اچوي او د هغه په امر د مجاهدينو مقابله کوي پايله ئې دا ده چې د فرعون له لوري به په مرگ گواښل کېږي!! دوی ته به ويل کېږي چې تاسو له مجاهدينو سره پټې اړيکې درلودې.

له ساحرانو چې چا ايمان راوړ د فرعون د گواښونو پروا ئې ونه کړه، او د قرآن د وينا له مخې ئې د گواښونو په وړاندې ځواب دا وو:

قَالُواْ لَا ضَيۡرَۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ۝٥٠ إِنَّا نَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٥١ الشعراء

وئې ويل: پروا ئې نشته، يقيناً چې موږ دخپل رب لوري ته ورگرځېدونکي يو، زموږ طمع دا ده چې زموږ رب زموږ خطاءگانې راوبخښي، په دې چې موږ لومړني مؤمنان شوو.

هغوی اوس نه يوازې له مرگ نه وېرېږي بلکې وايي مرگ موږ له خپل معبود خدای سره وصلوي، تر ايمان راوړلو د مخه ئې له فرعون اجر او معاوضه غوښتله خو اوس د دوی مادي طمع په معنوي تلوسې بدله شوې. هغوی اوس له خپل رب پرته له بل هيڅا طمع نه لرې او څه نه غواړي. له موسی عليه السلام هم څه نه غواړي، د هغوی مادي حرص او طمع، د چوکۍ او اقتدار تلوسه، اوس په معنوي تلوسې بدله شوې، اوس يوازې له خپل رب طمع لري، خو د هدايت او مغفرت طمع.

## د هجرت پرېکړه

کله چې مصر د بني اسرائيلو لپاره د اور په کندې بدل شو، الله تعالی موسی عليه السلام ته امر وکړ چې له خپلو ټولو پلويانو سره يو ځای د سينا په لوري هجرت وکړي، د هجرت لپاره معينه شپه وټاکل شوه، معينه شپه د دې لپاره وټاکل شوه چې د فرعون تر خبرېدو مخکې او تر دې وړاندې چې دوی را ايسار کړي او د هجرت مخه ئې ونيسي، له مصر په زيات واټن کې لرې شوي وي، ټول قوم د موسی عليه السلام په ملگرتيا په شپه کې له مصره وځي.

هجرت د پيغمبرانو سنت دئ، هجرت دمدنيتونو د جوړولو مقدمه ده او هجرت د انقلابي بدلونو پيل دئ. پر ولسونو کله کله داسې حالت راشي چې يا به هجرت کوي او يا به د تل لپاره په ذلت کې پاته کېدا منې، بني اسرائيل هجرت ته چمتو شول، راشئ وگورو چې قرآن د بني اسرائيلو د وتلو ځرنگوالی څنگه بيانوي، او بايبل په دې اړه څه وايي؟ آيا دا وتل ئې د فرعون په اجازه گڼي؛ همغسې چې بايبل وايي او که له فرعونه د بغاوت په توگه؟ آيا

د مصريانو زلمي زامن په سيند کې غرق شوي که په خپلو کورونو کې وژل شوي؟ د شپې لخوا وتل ئې د دې لپاره وو چې فرعون په همغه شپه د وتلو امر ورته کړی وو او که د دې لپاره چې د فرعون تر خبرېدو وړاندي ډېر مزل ووهي او که د فرعون لښکري ئې تعقيبوي نو وئې نه شي نيولی؟!!

قرآن فرمايي چې الله تعالى موسى عليه السلام ته د هجرت امر وکړ، ورته وئې ويل چې په شپه کې بني اسرائيل وړاندي او ته ئې تر شا له مصره ووځئ، فرعون به له خپلو لښکرو سره په تاسو پسي درځي، د نيول کېدو وېره مه کوئ... د قرآن الفاظ دا دي:

فَأَسْرِ بِعِبَادِى لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌاْ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ الدخان

زما بندگان په شپې کې روان کړه، يقيناً چې ستاسو تعاقب به کېږي او بحر آرام او ولاړ پرېږده، بې شکه چې دوی غرقېدونکی لښکر دئ، څومره باغونه، چينې، فصلونه او د اوسېدو غوره ځايونه ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! همداسې؛ او بل قوم ته مو په ميراث ورکړل، نو نه آسمان او زمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شوا!! او يقيناً چې بني اسرائيل مو له هغه سپکوونکې عذابه وژغورل، له فرعونه؛ يقيناً چې هغه د مسرفينو له ډلې يو ستر متکبر وو او يقيناً چې په پوهې سره مو (بني اسرائيل) پر ټولو نړۍ والو غوره کړل او هغه نښې مو ورکړې چې څرګندې آزمويني په کې وې.

همدا راز فرمايي:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ

﴿فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ۝٦٣ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْـَٔاخَرِينَ ۝٦٤ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن
مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ۝٦٥ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ۝٦٦ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ
۝٦٧ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٦٨﴾ الشعراء

او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان په شپه کې روان کړه،(دوی ترمخ او ته ئې تر شا)، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي، نو فرعون ښارونو ته اربکې ولېږل، (او وئې ویل) : دا یو لږکی ټولګی دئ او دا دوی دي چې زموږ غصه ئې راپارولې او یقیناً چې موږ یو محتاط ټولی یو، نو له باغونو او چینو مو وایستل او له خزانو او غوره بنګلو، همداسې؛ او بني اسرائیلو ته مو په میراث ورکړل، نو د لمر خاته پر مهال ورپسې شول او کله چې دواړو ډلو یو بل سره ولیدل د موسی ملګرو وویل: شك نشته چې موږ ومونډل شوو (دا دئ موږ ته راورسېدل)، وئې ویل: داسې نه ده؛ یقیناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار راښیي، نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سیند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو هغه نور هم رانژدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بیا مو هغه نور غرق کړل، یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

ګورئ چې موسی علیه السلام په هغه سخت حالت کې چې له هري خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخې ته بحر حایل او ملګري ئې هم وېرې اخیستي، خو دی په همدې حالت کې هم ډاډه او مطمئن دئ او د الله تعالی مرستي ته سترګې په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان په وجه الله تعالی ورته وفرمایل: اوس نو دا بحر په خپلې عصا ووهه، یعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتیجه وه چې موسی علیه السلام وښود او خپلو ملګرو ته ئې وویل: ګمان مه کوئ چې موږ ونیول شوو او د دښمن په لاس کې پرېوتو!! الله تعالی راسره دئ؛ هغه زموږ د ژغورنې ذمه وار دئ!!

ښایې هیڅ هوښیار او د حساس ضمیر خاوند به دا ضرورت احساس نه کړي چې د قرآن دا بلیغه، اغېزناکه او عبرتناکه وینا د بایبل له هغې پرېوتې او ګډې وډې وینا سره مقایسه شي، دې ته د انسان زړه په رېپدا راشي، د سر وېښتان ئې ځېږ شي، دا آیتونه ئې له ځان سره همغې صحنې ته بوځي، داسې احساس ورسره راپیدا شي چې دا هر څه په خپلو سترګو ګوري، یوه ډله د سیند په څپو سره وژغورل شي او بله په همدې څپو کې غرقه شي، یوه ته سیند په خپلې سینې لار ورکوي او بل ته خپل کومی پرانېزي، له یوه سره بې وزلي او وېرې اخیستي ملګري دي او له بل سره مغرور او مجهز فوځ، یو د آزادۍ لپاره خوځېدلی او بل د غلامۍ په زنځېرونو کې د یوه مظلوم ولس د ساتلو تکل کوي، یو پر الله تعالی توکل کوي، د هغه په امر خوځېدلی او خپله لار په خپلې عصا پرانېزي او بل د خدایۍ دعوی کوي، یو د بنګلو،

باغونو او خزانو خاوند دئ او بل تش لاسی ولس، له هر څه محروم، د وطن پرېښودو ته اړ، ... خو ګورئ چې وروستۍ فتح او بريا د چا په برخه کېږي او له ماتې سره څوك مخامخ کېږي؟!! پرېکړې له عرشه صادرېږي نه د ځمکې پر سر له قصرونو، داسې نه ده چې د زور او ځواك خاوندان به تل برلاسي وي او په هرې نښتې کې به بريا د دوی په برخه!! نه ګورئ چې فرعون له کوم برخليك سره مخامخ شو؟!! آيا له خپل لښکر سره يو ځای غرق نه شو؟ او شتمني ئې بني اسرائيلو ته په مېراث پاته نه شوه؟!!

د فرعون غرقېدا داسې پېښه ده چې انکار ترې ډېر ګران دئ، د مصر فرد فرد له خپل پلار نيکه اورېدلې او سينه په سينه تر ننه رارسېدلې، د فرعون په موميايي شوي کالبت باندې؛ وروستيو علمي څېړنو هم ثابته کړه چې هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، بايبل هم دا قصه رااخيستې ده خو هسې د يوې پېښې په توګه، له قصې مخکې او وروسته به داسې څه په نظر در نه شي چې د قصې د بيانولو موخه او هدف ګڼل کېږي، خو وګورئ چې قرآن په دې اړه څومره عبرتناکه وينا لري:

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾ يونس

او بني اسرائيل مو له سينده تېر کړل، نو فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په قصد ورپسې شول، تر هغه چې غرقېدا راګېر کړ، وئې ويل: په دې ايمان راوړم چې له هغه معبود پرته بل معبود نشته چې بني اسرائيلو پرې ايمان راوړی او زه (نور د الله تعالی په وړاندې) له غاړه اېښودونکو او تسليم شوو يم!! اوس! او په داسې حال کې چې مخکې دې سرکښي کوله او له مفسدينو وې؟!! نو نن به دې بدن وژغورو د دې لپاره چې هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاته) دي او د خلکو ډېری زما له آيتونو غافل دي!!

بايبل د دغو اساسي خبرو له کولو عاجز دئ، قصه د قصې لپاره راوړي نه د کوم اوچت او سپېڅلي مقصد لپاره !!

دا هم د قرآن يو بل اعجاز دئ چې د فرعون د جسد په اړه ئې وينا رښتينې ختلې، جسد ئې تر نن پورې د عبرت په توګه پاته دئ او دښمن اعتراف کوي چې هغه د قرآن له وينا سره سم په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی!!

## د نجات د ورځې لمانځنه

بايبل (د فصح عيد) تر عنوان لاندې داسې کاږي: خدای موسی او هارون ته وويل: له

دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتې په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي په خپل ګاونډ کې له بلې وړې کورنۍ سره دې ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیب او یو کلن وي، د همدې میاشتې د څوارلسمې په مازدیګر دې ټول اسرائیلیان دا وری قرباني کړي او د هغوی وینې دې د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندي چې د وري غوښه په کې خوړل کېږي، په همدې شپه دې دا غوښه وریته کړي او له پتیرې ډوډۍ او ترخو سابو سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او یني په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (د دې لپاره چې غیر یهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي!!)، د وري له خوړو مخکې به خپلې څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کې نیسئ او د سفر لپاره به تیاربږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه یادېږي، دا ځکه چې زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمې تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومې وینې چې تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چې دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازې مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځې په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کې چې اوه ورځې به وې یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خمېره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کې د خمېره شوو وړو ډوډۍ وخوري له اسرائیلیانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اوومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراك له برابرولو پرته بل هیڅ کار نه کوئ!! بایبل دلته دا خبره درې ځلې تکراروي چې په دغو اوه ورځو کې به یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په کور کې به خمېره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډۍ وخوړله له اسرائیلیانو به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصره وژغورلئ!!!

لکه چې ګورئ دا برخه هم له ډېرو مسخره او خندوونکو خبرو ډکه ده، چې ځیني ئې دا دي:

آیا دا عجیب مذهب نه دئ چې د یوه کلن وري حلالول، وریتول او په خپله ئې خوړل یو مهم مذهبي کار ګڼي؟!! داسې نه چې هغه حلال کړئ او د الله تعالی په نامه ئې فقیرانو او مسکینانو ته ورکړئ!! قرباني خو دې ته ویل کېږي چې څوك له یوه غوره شي؛ د یوه سپیڅلي هدف لپاره تېر شي، نه پوهېږو چې د داسې وریتي غوښې خوړلو ته څنګه د قربانۍ نوم ورکوئ؟!!

آیا کېدی شي الهي دین انسانانو ته ووایي چې د خپلو کورونو او خونو دروازې د قربانۍ په وینو ولړئ؟!! آیا داسې دین به د سالم فطرت خاوند ومني؟!! او په خاصه توګه چې دا په وینو د دروازو لړل د دې لپاره ضروري ګڼي چې خدای ته د یوې نښې په توګه وي او په دې سره پوه شي چې دا کور او دا خونه د اسرائیلیانو ده، نو هلته به له ننوتلو ډډه کوي او

د دوی زامن به نه وژني؟!!!

گورئ چې د بایبل له نظره مهم مسائل کوم دي؟ د ثواب کار کوم دئ او د گناه کار کوم؟ خدای په څه راضي کېږي او په څه ناراضه کېږي؟ د بایبل خدای د پټیري ډوډۍ په خوړلو راضي کېږي او د خمیره ډوډۍ په خوړلو دومره غصه کېږي چې خوړونکي ئې له خپل نازولي قوم د شړلو او رټلو وړ گڼي!!! آیا داسي دین ته څوك الهي دین ویلی شي؟ آیا هغه دین یو انساني دین کېدی شي چې د انسان د ژوند اړوند ټول مهم او اساسي مسائل ئې له پامه غورځولي وي او ترکیز ئې په دغسي مسائلو وي؟!!

قرآن وايي چې فرعون ټولو ښارونو ته اربکي ولېږل، لوی فوځ ئې برابر کړ، د هغوی په ستنولو او وژلو پسي ووتل:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ الشعراء

او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندگان په شپې کې وباسه (او په دې پوه شه چې) حتماً به ستاسو تعاقب کېږي. نو فرعون ټولو ښارونو ته اربکي ولېږل وئې ویل: دا یوه وړوکې ډلگۍ ده، او یقیناً چې دوی زموږ لپاره غصه کوونکي دي، او بې شکه چې موږ یوه محتاطه ډله یو.

---

په دې مبارکو آیتونو کې څو اساسي خبري تر سترگو کېږي:

- موسی علیه السلام ته د هجرت حکم شوی خو په دې توگه چې قوم مخکې او دی تر شا، پیغمبر علیه السلام هم لومړی خپل ټول اصحاب له مکې رخصت کړل او ترټولو وروسته ده هجرت وکړ. موسی علیه السلام ته هم همداسي وینا شوې وه.
- دا هجرت د شپې له لوري پیل شوی او په ډله ییزه توگه وو.
- دوی ته ویل شوي وو چې دښمن به ورپسي وځي، د دوی د نیولو، راستنولو او وژلو هڅه به کوي.
- فرعون ویلي چې دا یوه کوچنۍ ډله ده، د گوتو په شمېر، چې مقصد ئې یا په درواغو د دوی شمېر کم ښودل او د خپلو جنگالیو روحیه لوړول وو؛ همغسي چې تل د اقتدار خاوندان د خپلو مخالفینو په اړه وايي، همغسي لکه چې کمونیستانو او روسانو به د مجاهدینو په اړه ویل چې دا د گوتو په شمېر اشرار دي، په سلوکې ۹۸ ولس له موږ سره دئ، او همغسي چې نن امریکایان د مجاهدینو په اړه همدا خبره کوي،
- د (إِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ) د فقرې دوه ژباړې کېدی شي: ۱- دوی زموږ غصه کوونکي دي، زموږ غصه ئې راپارولې ده، اوس به خپله غصه پرې سړوو، ۲- دوی موږ ته په غصه دي، که

د وتلو اجازه ورکړو د غچ اخیستو هڅه به کوي. که څه هم له الفاظو چې کوم مطلب په آسانۍ او ژر اخیستل کېږي دوهمه ژباړه ئې افاده کوي او ورپسې آیت هم د دې تأیید کوي، یعني د احتیاط غوښتنه دا ده چې دوی له مصر وتلو ته پرې نژدو که نه موږ ته به ستونزې راولاړې کړي، خو دا تعبیر به په هغه صورت کې صحیح وو چې د (لنا لغائظون) پر ځای (علینا لغائظون) راغلي وی.

موسی علیه السلام او ملګري ئې له بحر سره مخامخ کېږي، د تېرېدو لار نه مومي، له شا د فرعون لښکرې رانژدې کېږي، دوی ځان په محاصره کېویني، موسی علیه السلام ته د سخت اضطراب، پرېشانۍ او نا امیدۍ په حال کې وایي: موږ محاصره شوو، د دښمن لاس ته ورغلو، د خلاصون او نجات لاره نشته، له محاصرې د وتلو امکان نه مومو، قرآن په دې اړه فرمایي:

فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴿٦١﴾ الشعراء

کله چې دواړو ډلو یوبل ولیدل، د موسی یارانو وویل: موږ ونیول شوو!

په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې ښایي پر تاسو هم داسې حالت راشي، د محاصرې حالت او هرې خوا ته د نجات د امکاناتو فقدان او د ټول قوم او د سفر د ملګرو اضطراب او پرېشاني، خو لکه چې الله تعالی دغه پرېشان او نهیلي قوم ته چې ځان ئې په سختې او نه ماتېدونکې محاصره کې لیدو، له نجات او ژغورنې مأیوس وو، په پای کې نجات ورکړ؛ همداسې به تاسو ژغوري، په دې شرط چې د موسی علیه السلام په څېر صبر وکړئ، بې همته نشئ او خدای ځان ته کافي وګڼئ، قرآن په دې سخت حالت کې د موسی علیه السلام وضعیت داسې انځوروي:

قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾ الشعراء

وئې ویل: نه؛ هیڅکله (داسې نه ده)، له ما سره زما رب دئ، حتماً به ما ته لار ښیي.

یعني موسی علیه السلام په همدې سخت حالت کې ډاډه او مطمئن دئ چې الله تعالی به ئې ژغوري، په خپلې بریا باور لري، د همدغې سختې محاصرې او د خپلو ملګرو د نهیلۍ په حالت کې د خپلې بریا په اړه شك نه لري، که څه هم مخې ته بحر، شا ته د دښمن مجهز لښکر، د سفر ملګري مضطرب او پرېشانه، هومره چې وایي: نور نو موږ ونیول شوو، محاصره یو، له دې محاصرې د وتلو امکان نشته!! د تنګسې او اضطراب په دغسې سخت حالت کې مطمئن وو او خپلو یارانو ته ئې اطمئنان ورکاوو او ویل ئې: داسې نده لکه چې تاسو ګمان کوئ، له ما سره زما رب دئ، هغه به د نجات لار راښیي، هغه به د نجات لاره زموږ پرمخ پرانېزي.

عظیم الشأن قرآن فرمایي چې د همدی اطمئنان له امله موږ ورته وویل چې اوس نو دا بحر پخپلې عصا ووهه، بحر شق شو، او د موسی علیه السلام او د ده د ملګرو د تېرېدو

لپاره د بحر په زړه کې وچه لاره پرانيستل شوه، دا هر څه د موسی علیه السلام د هماغه اطمئنان نتائج وو. په دې کې د هر مؤمن او مجاهد لپاره ستر درس دئ، او لارښوونه ورته کوي چې که له داسي حالت سره مخامخ شوئ چې موسی علیه السلام او د سفر ملگري ئې ورسره مخامخ شول، که په دې حالت کې د صف قائد او د مبارزې ملگري ئې صبر وکړي، د خپلې فتحې او بريا په اړه هيله من وي، پر خپل رب ئې توکل وي، له هغه مرسته وغواړي او هغه ځان ته کافي وگڼي، الله تعالی به ئې هرومرو مرسته کوي او د نجات لارې به ئې پر مخ پرانېزي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې د بني اسرائيلو ژغورنه د موسی علیه السلام د هغه اطمئنان نتيجه وه چې د الله تعالی د تأييد او حمايت په اړه ئې ښودلې، د قرآن الفاظ دا دي:

فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ٦٣ وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ٦٤ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ٦٥ الشعراء

نو موسی ته مو وحي وکړه چې بحر په خپلې عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې داسې وه لکه لوی غر، او هلته مو هغه نور هم رانژدې کړل، او موسی مو وژغورو او ټول هغه چې له ده سره ول.

يعني دا وحي او د بحر چاودېدا د هغه وينا نتيجه وه چې موسی علیه السلام د خپل مأيوس او وېرېدلو ملگرو په وړاندې وکړه.

قرآن د دې پېښې په يادولو سره هر باایمان داعي او مؤمن مجاهد ته لارښوونه کوي چې په داسي سختو شېبو کې بايد مأيوس نشي او د خپل رب د مرستې او تأييد په اړه ئې باور او اعتماد کمزورى نشي.

## د فرعون غرقېدا

کوم بحر چې موسی علیه السلام او د ده د سفر ملگروته ئې پر خپلې سينې لار ورکړه، د دوی لپاره وچاود، وچه لار ئې ورته پرانيسته، او دواړه برخې ئې تر هغه لوړې ولاړې وې چې دوی له بحر آخوا تېر شول، همدا بحر د فرعون او د هغه مغرورو لښکرو لپاره خپل کومې پرانيستی وو، ټول ئې له خپل ستوني تېر او غرق کړل، دا ده د الله تعالی د قدرت حيرانوونکې کرشمه، يو د بحر په څپو کې ژغوري او بل په همدغو څپو کې وژني، دا پېښه به بيا او بيا هم تکرارېږي، کله په يوې بڼې کې او کله په بلې بڼې کې!!

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٣٦ الاعراف

نو انتقام مو ترې واخيست او په سيند کې مو غرق کړل، د دې لپاره چې زما آيتونه ئې

تکذيبول او ترې غافل ول.

د الله تعالی د قدرت د نخښو درواغ ګڼل، غفلت او بې باکي د دې سبب شوه چې په بحر کې غرق شي، دا همغه څپې دي چې دوه ځلې ئې موسی علیه السلام وژغورو، په ماشومتوب کې هم او هغه مهال هم چې د یوه ستر تاریخي کاروان مشري ئې کوله.

نو اې د الله د لارې مجاهده! کېدی شي د مبارزې په دوران کې ته او یاران دې هم له داسې لوړو ژورو او هسکو ټیټو سره مخامخ شئ، خو د دې طوفانونو او حوادثو له لوړو او ژورو به وېره نه لرې، هیله ده چې د دغو پېښو په لوړو ژورو کې حکیم خدای تاسې همغسې وژغوري لکه چې موسی علیه السلام ئې د هغه بحر په چاودولو سره وژغورو چې فرعون ئې په کې غرق کړ، او لکه چې تر ده د مخه ئې د نوح علیه السلام کشتۍ د هغه طوفان په څپو کې وژغورله چې د ده دښمنان او مخالفان ئې د همدې طوفان په څپو کې ډوب کړل، ښايي ستا مخې ته به هم د داسې طوفانونو څپې راشي خو مطمئن اوسه چې دا طوفانونه د یوه مظلوم او با ایمانه قوم د نجات او خلاصون لپاره او د بل ظالم ټولګي د ځپلو، نسکورولو او غرقولو لپاره دي، د ستونزو او کړاوونو په دوران کې باید ستا دریځ همغسې وي لکه د موسی علیه السلام، داسې نه چې په سختو شېبو او د مشکلاتو او ستونزو په وړاندې د خپل رب له عنایاتو مأیوس او ناهیلی شې او د یأس په وجه مبارزه په نیمايي کې پرېږدې او دښمن ته تسلیم شې. موسی علیه السلام په الهي وعدو باور وکړ، د دې باور او اعتماد پایله بریا او فتح وه، فرعون الهي وعده او وعید دروغ وګڼل؛ پایله ئې غرقېدا وه.

## د فرعون له غرقېدو وروسته څه وشول؟

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف

او هغو خلکو ته مو چې په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختيزې او لوېديزې برخې په میراث ورکړې چې برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وینا د بني اسرائیلو په اړه له دې امله بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ویجاړ کړل چې فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چې دوی لوړول.

دلته څو اساسي خبرې غور او دقت غواړي:

- آیا دا بابرکته زمکه په خپله د مصر زمکه وه، که د مصر تر ولکې لاندې کومه بله زمکه او که شام او فلسطین چې په قرآن کې څو ځایه په همدې نامه یاده شوې؟ ځینې مفسرين په دې عقیده دي چې د فرعون له مرګ وروسته مصر د بني اسرائیلو په لاس کې پرېوتی، دوی

د قرآن په ځينو آيتونو د خپلې رأيي په تأييد کې استناد کوي، ځيني نور تاريخي رواياتو ته په پام سره وايي چې بني اسرائيل مصر ته بېرته نه دي ګرځېدلي بلکې خپل سفر ته ئې د فلسطين په لوري دوام ورکړی او زياته موده د سينا په بيديا کې لالهانده پاته شوي، که څه هم تاريخي روايات، مخصوصاً په بايبل متکي روايات قطعاً د اعتبار وړ نه دي، خو په قرآن کې داسې صريح اشاره نه مومو چې مصر ته د بني اسرائيلو د بېرته ستنېدو خبره ترې ثابته شي، داسې معلومېږي چې د فرعون سلطه د سيند ختيځې غاړې ته هم غزېدلې وه، دلته ځيني ښېرازه سيمې بني اسرائيلو ته په لاس ورغلې، وروستنی آيت هم دې ته اشاره کوي چې دوی تر سيند له تېرېدو وروسته مخامخ صحرا ته نه دي کوز شوي بلکې مېشتو سيمو ته داخل شوي، خو دا چې ولې دلته نه دي تم شوي، ولې ترې وتلي او کله، په دې اړه څه ويل ګران دي.

- دا آيت ښيي چې بني اسرائيلو په لومړي سر کې د موسی عليه السلام صادقانه ملګرتيا کړې، د الله په لار کې ئې ستونزې ګاللې او صبر ئې کړی او د دغه اخلاص او صبر په وجه الله تعالی خپل تأييد او نصرت د دوی په حال شامل کړی.
- آيا د فرعونيانو د جوړ کړی شوو او لوړ کړی شوو مراد د دوې وسلې، جنګي ګاډۍ او قصرونه دي؟ جنګي وسائل خو ئې يقيناً په سيند کې غرق او ټول ويجاړ شول خو قصرونه ئې څنګه ويجاړ شول؟ دا ښيي چې د فرعون له مرګ وروسته په مصر کې ګډوډۍ، وراني او بې امني رامنځته شوې، نظام په بشپړه توګه له منځه تللی، ډېر دولتي تأسيسات ويجاړ شوي، طبيعي ده چې کله د مصر د مجهز فوځ تر ټولو منظم ځواك او فرعون ته وفادار قطعات له منځه تللي، د فرعون ځای ناستی زوی هم وژل شوی وو، نو له سختو مخالفتونو سره مخامخ ديکتاتوري او استبدادي نظام نشو کولی داسې صدمه په آسانۍ وزغمي، دا آيت د هغو کسانو رأيه ترديدوي چې ګمان کوي يوازې د سيند په غاړه د مصري فوځ ځيني قطعات غرق شوي او نوره هيڅ تبديلي نه ده راغلې.

همدا راز قرآن فرمايي:

فَأَخۡرَجۡنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ۝٥٧ وَكُنُوزٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ۝٥٨ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ۝٥٩ الشعراء

نو له له باغونو، چينو، خزانو او غوره ځايونو مو وايستل، همداسې مو بني اسرائيلو ته په ميراث ورکړل.

د الدخان د سورې په ۲۵-۲۹ آيتونو کې داسې راغلي:

كَمۡ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ۝٢٥ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ۝٢٦ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ۝٢٧ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ۝٢٨ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ

مُنظَرِينَ ۞ الدخان

څومره باغونه، چینې، فصلونه او د اوسېدو غوره ځایونه او هغه نعمتونه ئې پرېښودل چې پکې خوشحاله ول، همداسې مو بل قوم ته په میراث ورکړل، بیا نه زمکې او آسمان پر هغوی وژړل او نه په انتظار کې پرېښودی شوي ول.

الله تعالی مزید وخت ورنکړ، په زمکه او آسمان کې هیڅوك پیدا نشو چې د دوی په حال تأسف وکړي او اوښکې پرې توی کړي، ځکه هغوی له الله تعالی سره د خپل تعلق په شلولو سره د آسمانونو او زمکې له هر څه سره خپلې اړیکې شلولې وې، د الله تعالی له تأیید د محرومېدا په سبب د هر څه له تأیید محروم ول، له دې ظالم قوم هر څه مظلوم قوم ته په میراث پاته شول. باغونه، فصلونه، چینې، بنګلې او ټول هغه نعمتونه چې الله تعالی ورکړي وو، ټول په میراث ترې پاته شول، د اقتدار په دوران کې ډېرو خلکو د دوی ستاینه او مداحي کوله، د هغوی په وړاندې ئې غوړه مالي کوله، د هغوی خدمت ته ئې ملاتړلې وه، د وفادارۍ دعوی ئې کوله، ویل ئې د دوی په خاطر هرې قربانۍ ته چمتو دي، په ښو او بدو کې ئې هغوی تأییدول، خو کله چې الله تعالی غرق کړل، نو بیا په زمکه او آسمان کې داسې څوك نه وو چې د هغوی لپاره ئې اوښکې توی کړې وی، الله تعالی تر خاصې نېټې او تر هغه ظالمانو ته مهلت ورکوي چې خپل حجت پرې اتمام ته ورسوي، بیا ئې کلك نیسي، د عذاب دا نېټه ثابته او نه بدلېدونکې ده، نه ئې د ظالمانو زور او تزویر بدلولی شي او نه د دوی د پلویانو ډېروالی او شمېر، کله چې دا عذاب نازل شي هیڅ څه او هیڅوك ئې مرسته نشي کولی: لکه چې قرآن فرمایي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ۞ آل عمران

دوی هغه دي چې عملونه ئې په دنیا او آخرت کې حبط او تباه شوي او هیڅ مرستندوی ورته نشته.

نه به په دنیا کې له خپلو کړنو او هلو ځلو څه تر لاسه کړی شي او نه په آخرت کې او نه به داسې څوك ومومي چې په دنیا او آخرت کې ئې له خپل شوم عاقبت وژغوري، دوی هیڅ مرستندوی نه لري، هیڅوك ئې له زړه او په اخلاص سره مرسته نه کوي، که نن ډېر د دوی د مرستې او حمایت تیرې په سینه وهي او د دوی لپاره لاس تړلي ولاړ دي، چې د رښتیا ورځ راشي، نو یو کس به هم د دوی مرستې ته راوړاندې نه شي او مرسته به ئې ګټه ورونه رسوي.

## غوره امت

بل لوري ته الله تعالی بني اسرائیل د عزت او سرلوړۍ هغه اوچت مقام ته ورسول چې پر ټولو نړۍ والو دوی ته فضیلت ورکړی شو، د ټولو آزادي غوښتونکو لپاره امامان شول، لکه چې قرآن فرمایي:

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُواْ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ السجده

له دوی مو هغه امامان جوړ کړل چي زموږ په حکم ئې د خلکو لارښوونه کوله، د دې لپاره چي صبر ئې وکړ او زما په آيتونو ئې يقين درلود.

د نورو لپاره امامان او پيشوايان شول، د نورو لپاره ئې د هادي او مرشد حيثيت تر لاسه کړ، وجه ئې د دوی صبر او د الله تعالی په آيتونو باور او يقين وو.

په دې توګه ګورو چي الله تعالی بني اسرائيلو ته د څو خبرو په سبب پر نورو قومونو فضيلت ورکړ او د عزت او شرف لوړو پوړو ته ئې ورسول:

- پر الله تعالی او د هغه پر پيغمبر موسی عليه السلام ئې ايمان راوړ.
- له فرعون ئې د بغاوت لار غوره کړه.
- د ايمان په لار کې ئې د ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر وکړ.
- د الله تعالی په لار کې ئې هجرت وکړ.
- اوس راشئ وګورو چي د دې قوم زوال څنګه پيل شو او د ذلت عوامل ئې کوم وو؟

## ژوندی بُت او مړه بُتان

له بحر تر تېرېدو وروسته بني اسرائيل له داسي قوم سره مخامخ شول چي د بُتانو عبادت ئې کاوو، په مصر کې د ژوندي بُت عبادت کېدو او دلته د مړو بُتانو، اکثراً دا مړه بُتان هم د هغو ژونديو بُتانو انځورونه وي، دوی د ژوندي بُت مقابله وکړه؛ راشئ وګورو چي له مړه بُت سره به د دوی چلن څنګه وو؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَجَٰوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتَوْاْ عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ۚ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿١٣٨﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَإِذْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾ الاعراف

او بني اسرائيل مو له بحره تېر کړل، نو په داسي قوم راغلل چي د خپلو بُتانو په وړاندې ئې اعتکاف کولو، وئې ويل: اې موسی! موږ ته د دوی د معبودانو په څېر يو معبود وټاکه، وئې ويل: په رښتيا تاسو يو جاهل قوم يئ. يقيناً دا خلك چي په کوم مذهب دي، هغه ويجاړ او خراب دئ او څه چي دوی کوي باطل دي. آيا له الله پرته بل معبود درته ولټوم حال دا چي هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضيلت درکړ؟ او هغه وخت درپه ياد کړئ چي له فرعونيانو نه مو وژغورلئ، چي بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ

پرېښودې او په دې کې ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو.

ګورئ چې له دې وروسته د موسی علیه السلام د اوږدې مبارزې بل پړاو پیل شوی، د داخلي مبارزې پړاو، د خپلو پلویانو په لیکو کې له انحرافاتو سره مبارزه، لومړی انحراف شرك دئ، لکه چې توحید د ټولو ښېګڼو بنسټ دئ همداراز شرك د ټولو انحرافاتو او مفاسدو بنسټ دئ، هره ګناه له دغه ګنده ډنډه څړوبه کېږي. موسی علیه السلام په مصر کې د دې فرصت نه وو تر لاسه کړی چې خپل قوم په فکري لحاظ ښه وروزي، ټول کالونه ئې له فرعوني نظام سره په کلکې او دوامداري مبارزې کې تېر کړل، د همدې لپاره ګورو چې بني اسرائیل د یوه بُت پالونکي قوم له لیدو سره سم له موسی علیه السلام د بُت په څېره کې د یوه مجسم معبود مطالبه وکړه، د دې جاهلانه غوښتني په ځواب کې موسی علیه السلام وفرمایل:

- تاسو یو ناپوه قوم یئ، داسې غوښتنه یوازې جاهلان کوي.
- د دغو خلکو مذهب خوشی او ویجاړ مذهب دئ او عبادت ئې باطل.
- آیا له الله تعالی پرته بل معبود درته ولټوم، حال دا چې هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضیلت درکړ.
- د الله تعالی هغه پېرزوینه درپه یاد کړئ چې له فرعونیانو ئې وژغورلئ، چې بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې.
- هغه بدې ورځې هم د آزمېښت لپاره وې او دا ژغورنه هم ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو، چې وګورې تاسو څه کوئ، د الله تعالی پېرزویني په پام کې ساتئ که د عصیان او بغاوت لار غوره کوئ.

## من او سلوىٰ

د سینا په لویې او وچې صحرا کې مهاجر بني اسرائیل له دریو اساسي ستونزو سره مخامخ شول: تودوخه، د ځان او خپلو څارویو لپاره د څښاك اوبه او خوراك نه موندل. الله تعالی دا درې واړه ستونزې ورته حل کړې، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنَـٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَـٰمَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَـٰتِ مَا رَزَقْنَـٰكُمْ ۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَـٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ الاعراف

او د موسی د قوم یوه ډله په حقه (دخلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت قائموي.

او دوی مو په دولسو قومي ټوليو ووېشل او موسی ته مو هغه مهال وحي وکړه چې قوم ئې اوبه ترې وغوښتې، چې دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو دولس چينې ترې راوخوټېدې، داسې چې هري قبيلې خپل اوبه خور وپېژندو او پر دوی مو وريځې سيوری کړ او من او سلوٰی مو پرې نازل کړل، (ورته ومو ويل) د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چې موږ درروزي کړی او پر موږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کولو.

په دې مبارکو آيتونو کې د موسی عليه السلام د قوم په اړه څو خبري شوې:

- يوه ډله ئې حقپاله وه، خلك ئې د حق په لوري بلل او په همدې سره ئې په ټولنې کې عدالت قائمولو.
- دوی په دولسو قومي ټوليو وېشل شوي وو؛ يعنی يو قوم وو چې دولس قبيلې ئې وې.
- کله چې د سينا په ستري بيديا کې له سختې تندي سره مخ شول او له موسی عليه السلام ئې د اوبو غوښتنه وکړه، الله تعالی موسی عليه السلام ته وحي وکړه چې دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو دولس چينې ترې راوخوټېدې، داسې چې هري قبيلې خپل اوبه خور وپېژندو.
- کله چې د صحرا سختې تودوخې تنگ کړل نو الله تعالی د وريځو سيوری پرې جوړ کړ.
- کله چې د دوی ټول خوراکي توکي ختم شول نو الله تعالی من او سلوٰی پرې نازل کړل او ورته وئې ويل: د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چې موږ درروزي کړی.
- دوی د الله تعالی د دغو پېرزوينو پاس ونه ساتو، د عصيان او بغاوت لاره ئې غوره کړه او په دې سره ئې پر خپل ځان ظلم وکړ او له سپکاوي، ذلت او فقر سره مخ شول.

په بل ځای کې الله تعالی همدغه نعمتونه دوی ته وربه يادوي او فرمايي:

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ البقرة

او وريځ مو پرتاسو سيوری کړ او پر تاسو مو من او سلوٰی نازل کړل، له هغو پاکيزه وو چې درروزي کړي مو دي وخورئ، پر مونږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کولو.

په دې آيت سره نه يوازې بني اسرائيلو ته هغه نعمتونه وربه ياد شوي چې د هجرت په دوران کې الله تعالی وربه برخه کړل، له مصر د شام په لوري د تلو په وخت کې، د سينا په تودې او وچې بيديا کې او هغه وخت چې د دوی کيږدۍ هم شړېدلې وې او د صحرا گرمې هوا سخت ځورول، الله تعالی په دوی باندې يو په بل پسې داسې وريځې راوستې چې هم ئې له گرمۍ وساتي او هم ئې د اوبو ضرورت رفع کړي، سپل سپل مرزان به راتلل او دوی به نيول، هر سهار به د بيديا د بوټو پر سر داسې خوندور څه راپيدا کېدل چې دوی به راغونډول او په خوند خوند به ئې خوړل، خو دوی د هجرت په دې ژوند او يو ډول خوړو صبر ونشو کړی، موسی عليه السلام ته ئې په څرگندو الفاظو وويل چې نور نو تر دې زيات صبر نه شو کولی، د دغې بې صبرۍ په وجه له دې نعمتونو محروم او په فقر، لوږه او ذلت

محکوم شول. د بني اسرائيلو په دې قصې کې هر مسلمان ته د دې سبق ورکړی شوی چې که د الله په لار کې هجرت وکړئ، د رزق او روزي ضامن مو الله دئ، د بني اسرائيلو د من او سلوٰی په څېر به تاسو ته روزي درکوي، خو که بې صبري وکړئ او په نیمه لار کې ودرېږئ او سفر نیمګړی پرېږدئ، د دوی په برخلیك به اخته شئ. الله په هیڅ ظلم نه کوي، د خپلې لارې پر مجاهد او مهاجر خو ئې په هیڅ صورت کې نه کوي، څنګه ممکنه ده چې دوی یوازې او بې اسرې پرېږدي، بني اسرائیل چې له کومو بدو پایلو سره مخامخ شول، دا د دوی د ظلمونو سزا وه.

د سینا په لویې صحرا کې چې د ژوند هیڅ ډول امکانات نشته، سیوری نشته، اوبه نشته، دانه او مېوه نشته، الله تعالی د بني اسرائیلو لپاره د رزق او روزي انتظام وکړ. ورېځې ئې د هغوی پر سر سیوری کړ، من او سلوٰی ئې ورته راپیدا کړل او له کلکې ډبرې ئې دولس چینې ورته راوایستلې.

قرآن په دې قصې سره موږ ته ډاډینه راکوي چې الله تعالی د هر هغه چا لپاره د رزق او روزي ذمه وهلې چې د ده په لارکې هجرت وکړي، رزاق خدای د دوی د رزق او روزي ضامن دئ، دوی ته به له حلالې او آسانې لارې رزق او روزي ورکوي، دا تل په تاریخ کې تکرار شوې، د شوروي اشغالګرانو په ضد د جهاد په دوران کې هم موږ د دې الهي وعدې مصداق په خپلو سترګو ولید، چا د دې تصورکولی شو چې د درې نیمو میلونو مهاجرو لپاره به د پاکستان په سپېرو ډاګونو کې د رزق او روزي او اوسېدو امکانات برابر شي؟ چا ګمان کولو چې نړۍ به نږدې پنځو ملیونو افغان مهاجرینو ته پناه ورکړي؟ دا دئ ومو لیدل چې د بني اسرائیلو د هجرت قصه دلته ټکي په ټکي او ګام په ګام تکرار شوه!!

د من او سلوٰی تر عنوان لاندې په بایبل کې دا خبرې د غور وړ مومو: (بني اسرائیلو بیا له موسی او هارون شکایت وکړ او وئې ویل: کاش چې په مصر کې پاته وی او هملته خدای وژلي وی، هلته به له غوښو د ډکو دېګونو خوا ته کښېنستو او چې څومره مو زړه غوښتل خوړله مو، خو اوس به په دغې دښتې کې چې تاسو ورته راوستلو ډېر ژر له لوږې ومرو... خدای موسی ته وویل: اوس به له آسمانه دوی ته ډوډۍ راولېږم... هرڅوك کولی شي له خپله کوره ووځي او د همغې ورځې لپاره ډوډۍ جمع کړي... غواړم په دې حکم سره دوی وآزمویم چې زما اطاعت کوي که نه... د جمعې په ورځ کولی شي د دوو ورځو خوراك جمع کړي...دوی ته ووایه چې هر مازدیګر به غوښې خوري او هر سهار به په ډوډۍ مړېږي... د همغې ورځې په مازدیګر ډېر مړزان راغلل او د دوی شا و خوا سیمه ترې ډکه شوه... او سهار پرخه پرېوته او کله چې پرخه ختمه شوه وړې وړې دانې ترې پاته شوې چې د واورې دانو ته ورته وې... یوه له بله ئې وپوښتل: دا څه دي؟ موسی ورته وویل: دا همغه ډوډۍ ده چې خدای درکړې چې وئې خورئ... خدای فرمایلي چې هره کورنۍ د خپلې ورځنۍ اړتیا په اندازه ترې جمع کولی شي... د هر کس لپاره یو عومر (نږدې دوه نیم لیتره)،... نو دوی بهر ووتل او په ټولولو ئې لګیا شول، چا ډېر او چا کم غونډ کړل خو کله چې ئې وتلل نو

وئې ليدل چې چا ډېر غونډ كړي وو زيات ونه ختل او چې چا لږ غونډ كړي وو كم ونه ختل... هر چا خپله ټاكلې برخه تر لاسه كړې وه!!! موسى ورته وويل: هيڅ څه به ئې تر سبا پوري نه ساتئ... خو ځينو د موسى خبري ته اعتناء ونه كړه، څه ئې سبا ته ساتلي ول... خو سهار متوجه شول چې ټول خوسا شوي او چينجي په كې راپيدا شوي... موسى هارون ته وويل: له دې من يو عومر (نژدې دوه نيم كيلو) په يوه لوښي كې وساته چې راتلونكو نسلونو ته د پند او عبرت لپاره پاته شي... چې دغه بيا (د عهد صندوق) كې له نورو مقدسو شيانو سره كېښېښودی شو!!!

دلته د بايبل د وينا ضعيف ټكي دا دي:

- اسرائيليان ئې داسې انځور كړي لكه چې په مصر كې دوی ډېر مرفه ژوند درلود، داسې چې له غوښو د ډكو دېگونو خوا ته به كښېنستل او چې څومره به ئې زړه غوښتل خوړله به ئې!! دا په مصر كې د اسرائيليانو د بد ژوند، فقر، لوږې او د غلامۍ د ژوند يو معكوس او غلط تصوير او د حقائقو خلاف وينا ده، كه اسرائيليانو په مصر كې داسې مرفه ژوند درلودی نو هيڅكله به له موسى عليه السلام سره هجرت ته نه وو تيار شوي!!
- وايي: خدای له دوی سره وعده كړې وه چې مازديگر به غوښه او سهار به ډوډۍ وركوي، خو سهار ئې د ډوډۍ په ځای سپيني دانې وموندې او موسى ورته وويل چې همدا همغه ډوډۍ ده چې خدای ئې وعده درسره كړې وه!! په دانو باندې د ډوډۍ اطلاق نه شي كېدی، د خوراك، روزي او رزق په نامه يادېدی شي خو هيڅوك دا غلطي نه كوي چې دانو ته د ډوډۍ نوم وركړي.
- دا خوشې او بې بنسټه خبره ده چې وايي: كه چا ډېر غونډ كړي وو يا لږ، چې كور ته ئې يووړل او وئې تلل نو همغه يو (عومر) ترې جوړ شو!! دا هم بې بنسټه خبره ده چې دوی ته ويل شوي وو د ورځنې خوراك په اندازه به ئې راټولوئ او د سبا لپاره به ئې نه ساتئ!! د دوی جرم دا نه وو چې زيات ئې غونډ كړي وو ځكه په خپله بايبل وايي چې زيات غونډولو كومه گټه نه وررسوله، په تللو كې به ډېر هم يو عومر ختل او لږ هم!! ذخيره كول ئې هم دوی ته گټه نه رسوله ځكه دا به تر سهاره خوسا كېدل!! د بايبل ليكونكی دې دا معما حل كړي چې يو ځای وايي: چې چا دا (من) د سبا لپاره ذخيره كړي وو سبا ئې هغه خوسا او گنده شوي وموندل، بل ځای وايي چې د جمعې په ورځ به ئې د شنبې د ورځې لپاره هم ټولول، ځكه چې په دې ورځ له كار كولو منع شوي وو او بيا ليكي چې موسى عليه السلام هارون عليه السلام ته وويل چې د (من) يو (عومر) راټول كړه چې د راتلونكو نسلونو لپاره ئې وساتو او دا ئې (د عهد په صندوق) كې كښېښودل!!! دا خبره به كوم عقل ومني چې يو شي هم په يوه شپه كې گنده كېږي او هم د راتلونكو نسلونو لپاره په ساتلو نه گنده كېږي!!!

قرآن د بايبل دا ادعاء ردوي او وايي چې اسرائيليانو بې صبري وكړه او موسى عليه السلام

ته ئې وويل: تر كله به په دې يو ډول خوراك صبر كوو؟ تر كله به همدا صحرا وي او دا من و سلوٰی؟!!

وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ البقرة

او هغه وخت چې تاسو وويل: اې موسی! په يوه رنګ خوراك هيڅكله صبر نه شو كولی!! نو خپل رب ته دې زموږ لپاره دعاء وكړه چې موږ ته هغه څه راوباسي چې زمكه ئې راشنه كوي: له ساګ سابه ئې، تره او بادرنګ ئې، غنم ئې، نسك ئې او پياز ئې، وئې ويل: آيا د هغه څه په عوض كې چې غوره دئ هغه څه غواړئ چې راټيټ او ناغوره دئ، مصر ته كوز شئ، چې هلته هغه څه تر لاسه كړئ چې تاسو ئې غوښتنه وكړه، نو سپكاوی او خواري ورباندي وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا له دې كبله چې د الله آيتونه ئې تكذيبول او پيغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصيان ئې وكړ او تېری ئې كاوو.

د قرآن له دې وينا معلومېږي چې په مصر كې د بني اسرائيلو خواړه؛ ساګ، تره، بادرنګ، غنم، نسك او پياز وو، له موسی عليه السلام ئې همدا غوښتل، نه د غوښو ډك دېګونه!!

بايبل تر دې عنوان (له ډبري اوبه!) لاندي ليكي: اسرائيليانو په رفيديم كې له موسی اوبه وغوښتې او ورته وئې ويل: ولې دې له مصره راوايستلو؟ آيا دلته دې د دې لپاره راوستلو چې له تندې ومرو؟ موسی خدای ته وويل: زه له دې قوم سره څه وكړم؛ نژدې ده ما سنګسار كړي!! خدای ورته وويل: د بني اسرائيلو څيني مشران درسره واخله، د حوريب غره ته ولاړ شه، هلته به زه د يوې ډبري خوا ته ستا په څنګ كې ودرېږم، په خپلي عصا دې ډبره ووهه چې اوبه ترې وبهېږي... موسی همداسې وكړل او اوبه ترې وبهېدې... دلته اسرائيليانو له خدای سره مجادله وكړه او وئې ويل آيا خدای زموږ په منځ كې شته... نو ځكه موسی دا ځای مريبه (يعني د شخړې او مجادلې ځای) ونوماوو!!

قرآن د بايبل دا وينا هم تصحيح كوي او فرمايي:

وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ

مُفۡسِدِينَ ۞ البقرة
او کله چې موسی علیه السلام د خپل قوم لپاره د څړوبه کېدو غوښتنه وکړه، نو (ورته) ومو ویل: دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو په دې سره له هغې دولس چینې راوخوټېدې، هرې ډلې خپل اوبه خور وپېژندو، د الله له رزق وخورئ او وڅښئ او په زمکې کې فساد کوونکې مه گرځئ.

په دې آیتونو کې له یوې خوا د بایبل دا خبره رد شوې چې وایي: اسرائیلیانو له خدای سره شخړه وکړه او وئې ویل چې که خدای زموږ په منځ کې وي نو چېرې دئ؟ ولې ئې موږ په خپلو سترگو نه گورو؟!! قرآن فرمایي نه یوازې دوی دلته شخړه نه ده کړې بلکې دلته د دوی تر منځ د راتلونکو شخړو مخه هم نیول شوې، دلته دولس چینې راوخوټېدې، د هرې قبیلې لپاره بېله چینه، او دا د دې لپاره چې د اوبو په سر ئې لانجه راولاړه نه شي. له بلې خوا د الله د لارې مجاهد او مهاجر ته ډاډ ورکړی شوی چې الله ستا د رزق او روزي ذمه وار دئ، که الله وغواړي نو له ډبرې تاسو ته چینې رااېستی شي، همغسې لکه چې بني اسرائیلو ته ئې د سینا په لویې وچې صحرا کې له ډبرې دولس چینې راوایستې، الله تعالی هغه ولس ته د ډاډه او پراخ رزق او روزي تضمین ورکوي چې ایمان راوړي، د دین په نسبت التزام ولري او د الله په لار کې جهاد ته ملا وتړي، د روزي په سر د دوی تر منځ د شخړو راولاړېدو مخه به هم نیسي او الله به عزت او سوکالي ورپه برخه کوي.

دلته د بایبل ادعاء دا ده چې خدای د هغې ډبرې خوا ته ولاړ وو، موسی علیه السلام لیدو، خو اسرائیلي مشرانو نه لیدو، د دې خبرې پر سر شخړه راولاړه شوه چې آیا خدای همدا اوس زموږ په منځ کې شته که نه؟!! له خپل خدای او له موسی سره ئې شخړه وه، خدای ته ئې ویل: که ته زموږ په منځ کې یې نو موږ ته ځان راوښیه!! موسی ته ئې ویل: که خدای دلته وي نو ولې ئې موږ نه گورو؟!! لانجه حل نه شوه، نو ځکه موسی علیه السلام دا ځای د مریبه په نامه یاد کړ!!! سل حیف او افسوس په هغه عقل چې داسې مسخره خبرې مني او هغه د الله تعالی د کتاب خبرې گڼي!!!

## د زوال او ذلت پړاو

قرآن د بني اسرائیلو د زوال ټول اساسي عوامل په دقت او تفصیل سره څېړلي، چې شرك، د الله تعالی له اوامرو سرغړاوی، د پیغمبر مخالفت، له جهاد ډډه، خپلمنځي اختلافات، بې صبري، په حلال رزق قناعت نه کول او مذهبي حیلې د دې عواملو عمده برخې دي، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۞ يَٰقَوۡمِ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡأَرۡضَ

ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿٢١﴾ قَالُوا۟
يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِنَّا
دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا
دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن
نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُوا۟ فِيهَا فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ
إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ
عَلَيْهِمْ ۛ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ المائدة

او كله چي موسی خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! پر تاسو د الله پېرزويني راياد كړئ؛ كله چي ئې په تاسو كي پيغمبران راپيدا كړل، تاسو ئې پاچايان وگرځولئ او هغه څه ئې دركړل چي په ولسونو كي ئې هېچا ته نه وو وركړي. اې زما قومه! دغې مقدسي زمكي ته چي الله درته ليكلې ورننوځئ او مه شا ته شا ته كېږئ، كه نه نو زيانمن به راوگرځئ. وئې ويل: اې موسی! په دې كي خو يو پياوړی قوم دئ او موږ به تر هغه هيڅكله ورداخل نشو چي دوی ترې ووځي، كه ترې ووتل بيا به ورننوتونكي شو. له دغو چي وېرېدل، دوو سړيو ئې چي الله پرې پېرزوينه كړې وه، وويل: له دروازې پرې ورننوځئ، نو كله هم چي ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او كه مؤمنان وئ نو پر الله بايد توكل وكړئ. وئې ويل: اې موسی! تر هغه چي دوی په كي وي موږ به هيڅكله ورداخل نشو، نو ته او رب دې لاړ شئ او وجنگېږئ، موږ به همدلته ناست يو! وئې ويل: اې زما ربه! زما په واك كي خو له خپل ځان او له خپل وروره پرته نور څه نشته، نو موږ او دغه فاسق قوم په خپلو كي سره بېل كړه. وئې فرمايل: نو دا تر څلوېښتو كلونو پرې حرامه شوه، په زمكي كي به لالهانده گرځي، نو پر دې فاسق قوم تأسف مه كوه.

په پورتنيو آيتونو كي بني اسرائيلو ته هغه ورځي ورپه ياد شوې چي موسی عليه السلام دوی جهاد ته وبلل، ترې وئې غوښتل چي فلسطين ته ننوځئ، له عمالقه وو ئې ونيسئ، دا ستاسو پلرنۍ ټاټوبی دئ، الله تعالی درسره وعده كوي چي دا سيمه به بېرته تاسو ته سپاري، كه له جهاده ډډه وكړئ، زيان كوئ او له سپكاوي او ذلت سره مخامخ كېږئ، دوی د نه ځواب وركړ، موسی عليه السلام د سيمي او د دښمن د وضعيت څېړني لپاره يو پلاوی وليږو، پلاوی له سيمي بېرته راوگرځېد، له دوو پرته نورو د جنگ مخالفت وكړ او وئې ويل چي دښمن ډېر ځواكمن دئ، موږ ئې له مقابلې عاجز يو، ته ئې د ايستلو چاره وكړه، له خپل رب وغواړه چي دوی وباسي، د دوی له وتلو وروسته به سيمي ته ننوځو، د پلاوي دوو چي وېره ئې له الله تعالی وه، نه د دښمن له زور او ځواكه، وويل: كه د دښمن ظاهر ځواكمن

برېښي، په حقيقت کې ډېر بې همته او ډارن دئ، ستاسو له برید سره سم به تښتي او سیمه به پرېږدي، د ايمان تقاضا خو دا ده چې پر خپل رب توکل وکړو. قوم په ځواب کې وویل: اې موسی! پدې پوه شه چې مونږ تر هغه دې سیمې ته هیڅکله نه ننوځو چې دښمن ترې وتلی نه وي، ته دي له خپل رب سره ولاړ شه او وجنګېږئ. موسی علیه السلام له خپل بې همته او جبون قوم خپل رب ته په داسې الفاظو شکایت وکړ چې ترې معلومېږي له خپل قوم سخت مأیوس شوی، په ځای ئې د بل باهمته او توریالي قوم د ملګرتیا هیله لري او دا شکایت او هیله په دې الفاظو بیانوي: زما ربه! له ځان او خپل ورور پرته بل څوك راسره نشته، ته مو له دې فاسق قوم بېل کړې!

الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې تر څلوېښتو کلونو به په صحرا کې لالهانده ګرځي، د ټېکې ډاډمن ځای به نه مومي، موسی علیه السلام ته ئې وفرمایل: اې موسی! دا د دوی د فسق او له جهاد د انکار سزا ده، ته ئې پر دردناك حالت تأسف مه کوه.

دا قصه بني اسرائیلو ته هم او د قرآن هر مخاطب ته هم دا حقیقت په ګوته کوي چې الله تعالی ولې د بني اسرائیلو په ځای په بل قوم کې پیغمبر مبعوث کړ؟ وجه ئې دا وه چې نور نو دا قوم د دې وړ نه وو، دوی په سختو شپو ورځو کې خپل ناجي لارښود او پیغمبر موسی علیه السلام یوازې پرېښود، دوی د پیغمبرانو د ملګرتیا وړ نه دي، په دوی کې د جهاد او د الله تعالی په لار کې د قربانۍ جذبه مړه شوې، په کورنیو شخړو کې ډېر تکړه دي، یو د بل ویني ته تږي خو د حق په لار کې جهاد ته ئې ملا ماته ده، له راتلونکې قصې هم معلومېږي چې په دې قصې کې همدا مطلب مراد دئ. قرآن فرمایي:

وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٦١ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ١٦٢ الاعراف

او کله چې دوی ته وویل شو: په دې کلي کې مېشت شئ او له هره ځایه ئې چې غواړئ وخورئ او ووایئ: بخښنه (درنه غواړو) او په دروازې سجده کوونکي ننوځئ، چې ګناهونه مو درته وبخښم، نېکانو ته به ئې حتماً زيات کړو. خو د دوی ظالمانو دوی ته له ویل شوې وینا پرته بله وینا په بدل کې خپله کړه، نو په دې سبب مو پر دوی له آسمانه د اضطراب عذاب نازل کړ چې ظلم ئې کولو.

بني اسرائیلو ته وویل شو چې پر دښمن برید ته چمتو شئ، خو دې ته مو پام وي چې د بریا او فتحې په وجه مغرور نه شئ، مفتوحه سیمو ته د مغرورو فاتحانو په څېر داخل نه شئ، د دوی ویناوو ته ورته ویناوې مو په ژبه رانشي او بریاوې د خپل تدبیر او د خپلو متو د زور نتیجه ونه ګڼئ. برعکس الله ته د مطیع او ساجد بنده په څېر داخل شئ او له الله تعالی د خپلو ګناهونو او اشتباهاتو معافي وغواړئ. خو دوی په بریاوو مغرور شول او د

ظالمو او فاسقو فاتحانو کړه وړه او وينا ئې تکرار کړه، د همدې لپاره هغه له بريا او فتحې تر لاسه شوې خوشحالۍ، سکون او اطمئنان ئې بېرته په اضطراب او پرېشانۍ بدل شو. په دې کې د الله د لارې مجاهدينو ته ډېرې مهمې لارښوونې شوې، له برياوو او فتوحاتو وروسته له کبر او غرور ځان لرې وساتئ، د نيول شوو سيمو له اوسېدونکو سره د مغرورو فاتحانو سلوك مه کوئ، دا ستاسو فتح په اضطراب او ماتې بدلوي.

بايبل هم د اعداد په کتاب کې ليکلي چې د خدای په حکم سره اسرائيليان څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند ته اړ شول، خو وروسته ليکي چې دوی د سيحون پاچا ټول هېواد سره له پلازمېنې او نورو ښارونو ونيوو!! دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د قرآن له وينا معلومېږي چې اسرائيليانو د موسی عليه السلام په ژوند کې جهاد نه دئ کړی، کله چې ده جهاد ته رابللي دوی د رد ځواب ورکړی.
- د بايبل له نورو برخو هم معلومېږي چې دوی څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند کړی. بايبل ليکلي چې خدای لوړه کړې وه چې د اسرائيليانو دا نسل به پرې نږدي چې موعود زمکې ته داخل شي.
- په دې اساس په يقين سره ويلی شو چې د اعداد دا قصه بې بنسټه او سراسر جعلي ده او د بايبل د مخکينيو يناوو خلاف ده.

د اعداد يوه بله خندوونکې قصه هم واورئ: ... د بالاق پاچا، بلعام (د باعور زوی) ته د يوه پلاوي په لاس دا پيغام ولېږو: يو لوی قوم له مصره راوتلی او زما سيمې ته راروان دئ، هيله کوم چې راشه او دا قوم زما لپاره په خپلې دعاء سره د لعنت وړ وګرځوه... پلاوی له نقدو پيسو سره بلعام ته ورغی... بلعام ورته وويل: شپه دلته وکړئ، زه به له خدايه پوښتنه وکړم چې دا کار وکړم که نه؟ په دې شپه خدای د بلعام خوا ته راغی او هغه ته ئې وويل: دا خلك څوك دي؟ ده ورته وويل: دا د موآب د پاچا بالاق لخوا راغلي او زه ئې د لعنت کولو لپاره غوښتی يم... خدای ورته وويل: له دوی سره مه ځه او په دې قوم باندې لعنت مه وايه... بلعام پلاوي ته وويل: خدای ما ته د تلو اجازه رانه کړه... پلاوی بېرته ولاړ... بالاق تر مخکيني مهم پلاوی له دې پيغام سره ورولېږو... ښه بدله به درکړم... چې څه غواړې هغه به درکړم ... بلعام ورته وويل: که له سرو زرو ډك قصر هم راکړئ نه ځم... د خدای د امر مخالفت نه شم کولی... خو بيا هم نن شپه پاته شئ زه به له خدايه پوښتنه وکړم چې اجازه راکوي که نه؟ ... هغه شپه خدای بلعام ته وويل: له دوی سره ولاړ شه خو هغه کار به کوې چې زه ئې در ته وايم... سهار ئې پر خپل خره کته واچوله او له پلاوي سره وخوځېدو... خو خدای د ده په تلو غصه شو... فرشته ئې ولېږله چې لار ئې خنډ کړي... د بلعام خره فرشته وليده چې دوه توري ئې په لاس کې او په لار کې ولاړه ده، وتربدو او له لارې پټې ته واوښتو، خو بلعام وواهو او لارې ته ئې سم کړ... بيا د خدای فرشته په يوه تنګ ځای کې چې دواړو خواوو ته ئې دېوالونه وو، ودرېده، خره چې فرشته په لار کې ولاړه

وليده نو دېوال ته داسي نژدې تېر شو چي د بلعام پښه له دېوال سره ولګېده، هغه بيا خر لاري ته سم کړ، بيا فرشته لړ لاندي په داسي ډېر تنګ ځای کي ودرېده چي خر نه شو تېرېدی، نو خر پرېوت، بلعام پرې غصه شو او په لرګي ئې وواهو، په دې مهال خدای خر په خبرو راووست او وئې ويل: ما څه کړي؟ ولي دي درې ځلي ووهلم؟ بلعام ورته وويل: د دې لپاره چي زه دي مسخره کړم، کاش توره راسره وی چي ته مي همدلته وژلی وی!! خره ورته وويل: آيا تر دې د مخه مي کله هم داسي کار کړی؟ بلعام وويل: نه! په دې وخت کي خدای د بلعام سترګي پرانيستې او هغه د خدای فرشته وليده چي توره په لاس په لار کي ولاړه ده! نو د هغې په وړاندي په سجده پرېوت، فرشتې ورته وويل: ولي دي دا خر درې واري وواهو؟ زه راغلې يم چي ستا مانع شم، دا ځکه چي ستا دا سفر د تمرد له وجهي دئ، دې خره درې واري زه وليدم او له ما ئې لار چپه کړه، که دا کار ئې نه وی کړی نو ته مي وژلې او هغه مي ژوندی پرېښود!!! بلعام اعتراف وکړ چي ما ګناه کړې، متوجه نه شوم چي تا زما لار نيولې، نو اوس که ته زما له تلو سره موافق نه يې بېرته خپل کور ته ستنېږم، فرشتې ورته وويل: له دوی سره ولاړ شه خو همغه کار به کوې چي زه ئې درته وايم،... پاچا ترې وپوښتل: ولي له لومړي پلاوي سره رانه غلې، آيا ګمان دي کاوو چي ښه شکرانه به درنه کړم؟ هغه ورته وويل: اوس راغلی يم، خو د څه ويلو توان نه لرم، څه چي خدای زما پر ژبه جاري کړي همغه به وايم!! ... پاچا دی له ځان سره د حصورت کلي ته بوت، هلته پاچا پسه او غوېي قرباني کړل او له غوښي ئې څه بلعام او د پلاوي غړو ته ورکړه، سهار ئې دی له ځان سره د بموت غره ته وخېژاوو، له هغه ځايه ئې د اسرائيليانو يوه برخه ليدلی شوی، بلعام پاچا ته وويل: دلته د قربانۍ اوه ځايونه جوړ کړه او اوه پسونه او اوه غويي د قربانۍ لپاره حاضر کړه، پاچا همداسي وکړل، بيا ئې پاچا ته وويل: دلته د خپلو سوزېدونکو قربانيو په خوا کي ودرېږه، زه ځم چي وګورم خدای زما ملاقات ته راځي که نه، نو بلعام د يوې غونډۍ سر ته وخوت، بلعام خدای ته وويل: ما د قربانۍ اوه ځايونه او د هر يوه پر سر اوه پسونه او اوه غويي حاضر کړي، په دې وخت کي خدای د بلعام په لاس بالاق ته دا پيغام ولېږو:

- بالاق پاچا زه له موآب دلته راوستم چي د اسرائيل قوم لعنت کړم،
- زه څنګه هغه څوك لعنت کړم چي خدای نه دي لعنت کړي؟
- زه ئې د ډېري له سره ګورم، د لوخړو په څېر دي، بې شماره بې حسابه!
- کاش دومره بختور وی چي د يوه اسرائيلي په توګه مړ شوی وی!
- کاش پای مي د اسرائيليانو په څېر وی!
- پاچا ورته وويل: دا دي څه کار وکړ؟ تا خو د لعنت په ځای دوی ته برکت ورکړ!
- ده ورته وويل: زه خو هغه څه وايم چي خدای ئې راباندي وايي!!
- بيا ئې بل غره ته بوتلو، هلته ئې هم د قربانۍ اوه ځايونه جوړ کړل ... مخکينی بهير

تكرار شو او د ده له خولې اسرائيليانو ته ښېرا ونه ختله... بيا ئې درېيم غره ته بوتلو هلته ئې همغه كارونه وكړل، د اسرائيليانو ډېره ستاينه ئې وكړه... څلورمه وحي پرې نازله شوه... د عماليقيانو او قينيانو چې له اسرائيليانو سره جنگېدل، د دوی د ماتې او تباهۍ وړاندويني ئې وكړې... بيا بلعام او پاچا خپل خپل ځای ته ستانه شول!!

دا خندوونكې قصه په نقد نه ارزي، جمله جمله ئې د خندا وړ ده، ډېر احمق انسان به ئې ومني، هغه څوك به ئې مني چې د بلعام خر ترې هوښيار وي!! څو خبرې ئې چې ټوكو ټكالو ته ورته دي بيا تكراروم:

- بلعام د خدای په اجازه خوځېدلی خو خدای ئې په روانېدو غصه شوی!!
- خر ئې فرشته گوري او دی ئې له ليدو عاجز دئ!!
- د فرشتې په ليدو سره خر لار بدلوي خو فرشته له خپل ځای نه شي خوځېدی او مخه ئې نه شي نيولی!!
- فرشتې غوښتل بلعام ووژني خو خره ترې بچ كړ!!
- بيا ئې له وژلو تېره شوه او له پاچا سره ئې د تلو اجازه په دې شرط وركړه چې همغه كار به كوي چې فرشته ئې ورته وايي او دا همغه خبره وه چې خدای د اجازې په وخت كې بلعام ته كړې وه!!
- پاچا پر دريو غرونو يويشت د قربانۍ ځايونه جوړ او يويشت غويي او يويشت پسونه ئې حلال كړل خو بلعام اسرائيليانو ته د ښېرا په ځای دعاء كوله!!
- دغه بلعام چې لري ليد ئې تر خپل خره هم لنډ وو او سترگي ئې تر هغه كمزورې، د دريو قومونو د راتلونكې په اړه وړاندويني وكړې!! او بايبل وروسته ليكي چې دی په خپله لنډه موده وروسته ووژل شو!!

چا چې جهاد كړی وي حتماً به ئې ډېر بلعامان تر سترگو شوي وي، د دښمن لپاره مجاهدينو ته ښېرا كوونكي، خو چې مجاهدين برلاسي شوي همدغو بلعامانو ورته ويلي: موږ هلته په خوله ښېرا او په زړه كې دعاء درته كوله!! د قرآن په الفاظو سره : (إنا كنا معكم: يقيناً چې موږ د دښمن په خوا كې ستاسو ملگري وو)!!

انگرېزانو هم د افغانستان د اشغال په وخت كې ډېر بلعامان د دوو سترو سترو سره افغانستان ته راوستل، يو له عراق او بل له هند، د موسی عليه السلام بلعام د غرونو پر سر د قربانۍ ځايونه جوړول او دوی د غرونو او غونډيو پر سر چهل گزي زيارتونه، هغوی هم د قربانۍ له ځايه ترصد كاوو او دوی هم له دې زيارتونو د ترصد لپاره كار اخيست!!

## مذهبي حيله

په بني اسرائيلو كې مذهبي حيله رائج شوه، مذهبي مشرانو به ئې د حرامو د حلال گرځولو لپاره داسي چلونه خلكو ته ښودل چې صريح حرام ته به ئې د حلال رنگ وركړ، قرآن د دې يوه بېلگه په دې توگه بيانوي:

وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِى ٱلسَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ
يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذْ
قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا۟ مَعْذِرَةً
إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦٓ أَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ
وَأَخَذْنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ بِعَذَابٍۭ بَـِٔيسٍۭ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوْا۟ عَن مَّا نُهُوا۟ عَنْهُ
قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿١٦٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَن
يَسُومُهُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ ٱلْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَٰهُمْ فِى
ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَٰهُم بِٱلْحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ
يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ
وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ
أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا
تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَٰبِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ
﴿١٧٠﴾ الاعراف

او د هغه کلي په اړه ترې وپوښته چي د بحر په غاړه (پروت) وو، چي د شنبې (په ورځ) به ئې تېری کاوو، چي کبان به د دوی د شنبې په ورځ له هر لوري څرګند ورته راروان ول، او چي د شنبې ورځ به ئې نه وه نو نه به ورته راتلل، همداسي مو د دې لپاره آزمويل چي فسق ئې کاوو. او کله چي د دوی يوې ډلې وويل: ولې هغو خلکو ته وعظ کوئ چي الله ئې هلاکوونکی يا په شديد عذاب سره تعذيبوونکی دئ، وئې ويل: ستاسو رب ته د عذر په توګه او د دې لپاره چي ښايي ځان به ترې وساتي. خو کله چي دوی هغه څه هېر کړل چي پند پرې ورکېدو، هغه مو وژغورل چي له بدو کړنو ئې مخنيوی کاوو او ظالمان مو د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چي سرغړاوی ئې کاوو. نو کله چي دوی له هغه څه سرغړاوی وکړ چي ترې منع شوي ول، ورته ومو ويل: رټل شوي بيزوګاني شئ. او کله چي ستا رب دا خبره په ډاګه کړې وه چي پر دوی به د قيامت تر ورځي داسي څوك مسلط کړي چي په بد عذاب به ئې اخته کوي. يقيناً چي ستا رب په عذاب ورکولو کي سريع دئ او يقيناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

په دې مبارکو آيتونو کي د بني اسرائيلو د يوې قبيلې په قصې کي د اړوند سورې اساسي

مضامين د يوې بلې تاريخي بېلګې په ترڅ کې زموږ مخې ته ايښودل شوي، دا د بحر غاړې ته مېشت قوم وو، دنده ئې د کبانو نيول، ورته امر شوی وو چې د شنبې په ورځ به له ښکاره ډډه کوي، همداسې لکه مسلمانانو ته چې ويل شوي د جمعې د لمانځه لپاره به له کاره لاس اخلئ، دوی د الله تعالی له امره سرغړاوی وکړ، په نورو مواردو کې هم او په دې خاص مورد کې هم، په نورو مواردو کې ئې فسق او سرغړاوی مقدمه او دا ئې پايله او تتمه وه، الله تعالی د همدې لپاره د شنبې په ورځ له هر لوري دوی ته ماهيان راوستل، دوی د دغې ممنوعه ورځې د ښکار لپاره مذهبي حيله جوړه کړه، ماهيان به ئې په ډنډونو کې بند کړل خو په سبا به ئې راوايستل او ادعاء به ئې دا وه چې موږ د شنبې د ورځې احترام ساتلی، ځينو دوی ته نصيحت کاوو او له دې کاره ئې منع کول، ځينو نورو به نه يوازې د دوی ممانعت نه کولو بلکې نصيحت کوونکي به ئې ترټل چې ولې خپل وخت ضايع کوئ؟ د څه لپاره ځان له دوی سره په لانجه کې غورځوئ؟ پرېږدئ چې الله تعالی په خپله سزا ورکړي، يا ئې هلاک کړي يا عذاب پرې راولېږي، کار ئې دې ځای ته ورسېدو چې د ټولنې اکثريت دين ته شا کړه، الله تعالی هغه خلك وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنيوی کاوو او ظالمان ئې د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې سرغړاوی ئې کاوو.

د دوی سرغړاوی مزيد عام او پراخ شو او الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې د رټل شوو بيزوګانو په څېر مسخ شي او د قيامت تر ورځې داسې څوك پرې مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. دا ځکه چې الله تعالی د ظالمانو په نيونې او مؤاخذې کې سريع دئ او د توبه کوونکو لپاره مهربان بخښونکی.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې دا مسخ جسمي وه که معنوي؟ که جسمي وه نو د پيغمبر عليه الصلاة و السلام د حديث له مخې مسخ شوي خلك مري او هيڅ نسل نه ترې پاته کېږي، خو دلته د آيت په وروستۍ برخې کې ويل شوي چې پر دوی به د قيامت تر ورځې داسې څوك مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي، د دې معنی خو دا ده چې د دوی نسل نه يوازې پاته شوی بلکې تر قيامت به پاته وي. دغه مطلب ته په پام سره ويلی شو چې يا خو دا مسخ معنوي مسخ وه، د بيزوګانو په څېر سپك، ذليل او مقلد قوم ترې جوړ شوی او يا خو يوه ډله ئې په جسمي توګه هم مسخ شوې او له منځه تللې، نور ئې پاته شوي. دې آيت او لاندې حديث ته په پام سره دا رأيه ارجح برېښي چې مسخ ئې معنوي وه.

عن عبد الله بن مسعود قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ الْقِرَدَةُ وَالْخَنَازِيرُ، هِيَ مِمَّا مُسِخَ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يُهْلِكْ قَوْمًا، أَوْ يُعَذِّبْ قَوْمًا، فَيَجْعَلَ لَهُمْ نَسْلًا، وَإِنَّ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ». رواه مسلم

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې يوه سړي وپوښتل: يا رسول الله! آيا

دا بیزوګاني او خنزیران همغه خلك دي چې مسخ شوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقیناً چې الله داسې نه کوي چې کوم قوم هلاك کړي یا ئې په عذاب اخته کړي او بیا ئې نسل ترې پربږدي، دا بیزوګاني او خنزیران تر دې د مخه موجود وو.

## اختلاف او تشتت

د دوی د زوال یو بل عامل خپلمنځي اختلافات وو، په ډلو ډلو ووېشل شول، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَطَّعْنَٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَٰهُم بِٱلْحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ الاعراف

او په زمکې کې مو په ډلو ډلو خواره واره کړل، ځیني ئې صالح دي او ځیني ئې تر دې راټیټ، په ښو او بدو (شیبو) مو وآزمویل چې راوګرځي.

دا آیت ښیي چې بني اسرائیل له پراخ تشتت او تفرق سره مخ شوي، په زمکې کې خواره واره شوي، یوه وړه ډله ئې روغه او سمه او نور ئې پرېوتي او ټیټ، الله تعالی کله په خپلو نعمتونو آزمویلي او کله په نقمتونو، په دې موخه چې پند واخلي او بېرته سمې لارې ته راوګرځي.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُۥ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَٰقُ ٱلْكِتَٰبِ أَن لَّا يَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ وَدَرَسُوا۟ مَا فِيهِ ۗ وَٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ الاعراف

نو تر دوی وروسته داسې (بد) پاته شوني ترې پاته شول چې کتاب ئې په میراث یووړ، په داسې حال کې چې د دې خسیسې (دنیا) مال متاع به ئې (پرې) تر لاسه کاوو او ویل به ئې: خدای به ئې حتماً راته وبخښي او که همداسې مال متاع بیا ورته رامخه کړي بیا ئې اخلي، آیا د کتاب دا ژمنه نه وه ترې اخیستل شوې چې د الله په اړه به له حق وینا پرته بل څه نه وايي؟ او هغه څه ئې لوستلي وو چې په دغه (کتاب) کې وو او د آخرت کور هغه چا لره غوره دئ چې تقوی کوي، آیا تعقل نه کوئ؟

دا مبارك آیت څو مهمې لارښووني لري:

- دوی ته کتاب په میراث پاته شو، داسې نه چې کتاب ئې غوره کړی، د کتاب په محتوی کې له غور او دقت وروسته ئې هغه د الهي لارښود کتاب په توګه منلی، بلکې د یوه میراثي توکي په څېر ئې تر لاسه کړی، محتوی ته ئې له پام پرته او د احکامو په وړاندې ئې له التزام

پرته.

• د دوی ملایانو او مذهبي مشرانو په دې موروثي کتاب دنیوي خسیسي ګټې تر لاسه کولې، له کتاب ئې دام او دکان جوړ کړی وو، خلك ئې پرې غولول او له دوی ئې شکرانې تر لاسه کولې، خو هر ځل چي به دوی دا کار وکړ، په کومي فتوی به ئې څه زهر زقوم په برخه شول، نو پټ به ئې له ځان سره وویل: زموږ مجبوریتونو ته په پام سره به خدای حتماً دا ګناه راوبخښي!! خو لا به څو ورځي نه وې تېري چي همدا سپك کار به ئې بیا او بیا تکرار کړ، دا په داسي حال کي چي له الله تعالی سره ئې ژمنه کړې وه چي د الله تعالی او د ده د دین په اړه به افتراء نه کوي، له ځانه به دروغجني فتواګاني نه ورکوي، دین به نه خرڅوي، الهي احکام به د دنیوي اغراضو لپاره نه پټوي، نه د کومي طمعي په وجه او نه د کومي وېري په وجه، او دا ټول په داسي حال کي چي دوی دغه الهي احکام په کتاب کي لوستلي او نورو ته ئې هم ورزده کړي. دا ئې هم په کتاب کي تر سترګو شوي وو چي څوك له داسي کارونو ځان وساتي د آخرت غوره کور به ئې په برخه شي!!

دا هغه ستره جفا ده چي له هر الهي کتاب سره شوې، دا هغه ستر ظلم دئ چي تل دین پلورونکو او ټګمارو مذهبي مشرانو له دین سره کړی، دا همغه فتنه ده چي تل په هغو قومونو کي راولاړېږي چي الهي کتاب د یوه مېراثي توکي په څېر تر لاسه کړي.

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ الاعراف

او هغه چي په کتاب تمسك کوي او لمونځ اقامه کوي، یقناً چي د دغو مصلحینو اجر نه ضایع کوو.

په دې مبارك آیت کي د مخکینۍ ډلي په مقابل کي د یوې بلي ډلي یادونه شوې چي قرآن ئې د مصلحینو په نامه یادوي او دا ئې ځانګړتیاوي ګڼي:

• دوی په الهي کتاب تمسك کوي، په هر څه کي د دوی مستمسك د الله تعالی کتاب وي، په وینا، قضاوت او عمل کي، دا کتاب ئې هم خپل لارښود وي او هم نورو ته په همدې کتاب لارښوونه کوي.

• لمونځ اقامه کوي، هم خپلي اړیکي له الله تعالی سره ټینګوي او هم نور دې ته رابلي چي په لمانځه سره خپلي اړیکي له الله تعالی سره ټینګي کړي.

له دې مبارك آیت په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چي د ټولني د اصلاح کار له دغو دوو لارو پرته له بلي لاري امکان نه لري، په الهي کتاب تمسك او د لمانځه اقامه، په کومي ټولني کي چي الهي کتاب هېر کړی شو، شا ته وغورځول شو، بل څه ته پرې ترجیح ورکړی شوه، جوماتونه ئې له معنوي پلوه ویجاړ شول، امامت ئې د غلطو او دین پلورونکو خلکو په لاس کي پرېوت، هیڅکله به ښېرازه نشي، سمه ورځ به ئې په برخه نشي او د اصلاح هره هڅه به ئې بې نتیجې پاته شي.

## له الله تعالی سره کړې ژمنې ماتول

پر بني اسرائيلو يو په بل پسې مصيبتونه راغلي، د مصيبتونو په دوران کې ئې له الله تعالی سره د بندګۍ، اخلاص او صداقت ژمنه کړې، د تورات نازلېدو پر مهال ئې په دې کتاب د عمل کولو تعهد کړی خو هر ځل ئې خپلې ژمنې او تعهدات مات کړي، قرآن فرمايي:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾ النساء

نو د خپلو ژمنو د ماتولو له کبله او د الله پر آيتونو د دوی د کافرېدو په سبب او په ناحقه د پيغمبرانو د وژنې او د دوی د دې وينا له امله چې (ويل ئې) زړونه مو په پردو کې دي، بلکې الله د دوی د کفر په وجه پرې مهر لګولی، نو ايمان نه راوړي مګر ډېر لږ.

په دغو مبارکو آيتونو کې د بني اسرائيلو هغو انحرافاتو ته ګوته نيول شوې چې الله پرې مؤاخذه کړل او له دردناك عذاب سره ئې مخامخ کړل:

- خپلې ژمنې ئې ماتې کړې.
- د الله له آيتونو ئې انکار وکړ.
- د انبياءو د وژلو لپاره ئې ملا وتړله.
- د خپل ذهن زيږنده جعلي مذهب په نسبت ئې داسې ړوند تعصب پيل کړ چې د هغه په خلاف د هيڅ دليل اورېدو ته تيار نه وو.
- په خپل کفر کې هغه ځای ته ورسېدل چې الله تعالی د دوی پر زړونو مهر ولګاوو او د هدايت دروازې ئې پر مخ وتړل شوې.

همداراز د المائدې سورې په ۱۳ آيت کې فرمايي:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ۙ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾ المائده

نو د خپلو ژمنو د ماتولو په وجه مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل، کلمې له خپل خپل ځايه کږوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکېدو او تل به د دوی له يوه او بل خيانته خبرېږې، مګر لږ ئې، نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه، بې شکه چې الله داسې محسنين خوښوي.

په دې مبارکو آيتونو کې د يهودانو څو هغو خصلتونو ته ګوته نيول شوې چې الله تعالی د همدې په سبب ورټل او زړونه ئې ورسخت کړل، د همدې له کبله د هر چا له لوري رټل شوي او هر څوك په سپکه سترګه ورته ګوري او د همدې له امله له الهي هدايته محروم

شوي:

- خپلې ژمنې ماتول.
- هغه لارښوونې شا ته غورځول چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس ئې په برخه شوې وې.
- پرله پسې خیانت، له دوست او دښمن سره، له الله تعالی او د ده له بندګانو سره.
- دا خیانت پکې عام شوی، له لرو پرته ټول پرې اخته شوي.

له دوی سره په معامله کې د څو لارښوونو توصیه کېږي: د دوی له کړو وړو سترګې پټول، مخ ترې اړول او ښېګڼه ورسره کول، دا ځکه چې الله تعالی ښېګڼې کوونکي او نېکان خوښوي. همدراز فرمايي:

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾ الرعد

او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې کړې او هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکې کې فساد کوي، دوی ته لعنت دئ او دوی لره بد ټاټوبی دئ.

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ البقرة

هغه (فاسقان) چې الهي ژمنې له ټینګولو وروسته ماتوي او هغه غوڅوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکه کې فساد کوي، همدا دوی خاسر او تباه شوي دي.

له دې آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د فطري اړیکو شلول او هغه څه قطع کول چې الله ئې د وصلولو امر کوي، د هغو فاسقانو کار دئ چې له الهي هدایت او لارښوونې محروم دي او د الله په کتاب د ایمان راوړو سعادت ئې نه په برخه کېږي او دا همغه مطلب دئ چې د بقرې د سورې په سر کې راغلی، او هغه دا چې د قرآن له لارښوونو هغه څوك ګټه اخیستی شي چې یو صفت ئې د (الصلوة اقامه) وي، لمونځ په حقیقت کې د اقامه صلوة تر ټولو ستره بېلګه ده، دا هم د انسان او الله تر منځ او هم د انسانانو تر منځ د اړیکو د مضبوطولو ترټولو مؤثره او اغېزمنه ذریعه ده، د همدې لپاره الله تعالی د لمانځه ادا کولو لپاره د اقیموا الصلوة صیغه غوره کړې.

وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾ الاعراف

او کله چې مو غر پرې راپورته کړ، داسې لکه چې چترۍ وي او ګمان ئې وکړ چې پرې

راپربېوتونکې دئ، (ومو ويل:) هغه څه په زور سره (ټينګ) ونيسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه څه ئې په ياد کړئ چې په هغه کې دي، د دې لپاره چې ځان مو ساتنه په برخه شي.

دلته بني اسرائيلو ته خپلې هغه ژمنې ورپه يادوي چې د تورات د نازلېدو په مهال ئې کړې وې، دوی له الله تعالی سره په داسې حال کې ژمنه کړې وه چې لوی غر ئې پر سر داسې راپورته شوی وو لکه چترۍ، هره شېبه ئې ګمان کاوو چې غر پرې راپربېوځي، ژمنه ئې دا وه چې د الله تعالی په کتاب به کلکې منګولې لګوي او لارښوونو ته به ئې تل پام کوي.

که له بني اسرائيلو په دې توګه ژمنه تر لاسه شوې وه، په نورو قومونو هم دې ته ورته حالات راځي، د مصيبتونو غرونه ئې پر سر سيوری وغوړوي، له سترو سترو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، له ګناهونو د لاس اخيستو او په اخلاص او صداقت سره د الله تعالی د بندګۍ ژمنې کوي. په افرادو باندې هم دې ته ورته حالتونه راځي او همداسې له الله تعالی سره ژمنې او تعهدونه کوي.

وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخْلُفْنِى فِى قَوْمِى وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ الاعراف

او له موسی سره مو د دېرشو شپو ژمنه کړې وه او بيا مو په لسو نورو بشپړې کړې، چې په دې سره ئې د رب وعده بشپړې څلوېښت شپې شوې، او موسی خپل ورور هارون ته وويل: په قوم کې مې نيابت وکړه، د اصلاح په کار بوخت اوسه او د مفسدينو په لار مه ځه.

الله تعالی موسی عليه السلام وروغوښت چې د بني اسرائيلو د ژوند د چارو تنظيمولو لپاره ضروري لارښوونې او احکام ورکړي، د دېرشو شپو لپاره غوښتل شوی وو، خو دا موده لس ورځې نوره هم اوږده شوه، موسی عليه السلام د تلو په مهال هارون عليه السلام خپل نائب وټاکو، هغه ته ئې سپارښتنه وکړه چې د اصلاح په کار بوخت وي او د مفسدينو په لار ولاړ نشي.

د قرآن داسې لارښوونو ته په پام سره به پيغمبر عليه الصلاة و السلام غزواتو ته تلو په مهال په مدينه کې خپل نائب ټاکلو، د تبوك جنګ ته د تلو په ورځ ئې غوښتل علي رضي الله عنه د نائب په توګه وټاکي، په هغه باندې دا خبره ګرانه تمامه شوه، نه ئې غوښتل له يوه ستر جهاد محروم پاته شي، پيغمبر عليه الصلاة و السلام ته ئې عرض وکړ چې آيا ما له ماشومانو او ښځو سره پرېږدې؟! پيغمبر عليه السلام ورته وويل: آيا نه غواړې زما لپاره داسې شې لکه هارون د موسی عليه السلام لپاره، مګر دا چې له ما وروسته پيغمبر نشته.

عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى تَبُوكَ، وَاسْتَخْلَفَ عَلِيًّا، فَقَالَ: أَتُخَلِّفُنِي فِي الصِّبْيَانِ وَالنِّسَاءِ؟ قَالَ: «أَلاَ تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ، مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَيْسَ نَبِيٌّ بَعْدِي». رواه البخاری

متأسفانه ځینو شیعه وو په دغه حدیث استناد کړی او ادعاء ئې کړې چې په دې سره علي رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکل شوی او خلافت د ده مسلم حق وو!! د همدې لپاره د دوی ځینو ټول صحابه په دې دلیل تکفیر کړل چې تر علي رضي الله عنه ئې نورو ته ترجیح ورکړه، ځینو حتی علي رضي الله عنه له اسلام په مخالفت متهم کړ او دا اعتراض ئې پرې وکړ چې ولې ئې پر خپل حق ټینګار ونه کړ، له نورو سره ئې بیعت وکړ!! دا ادعاء ئې د علي رضي الله عنه له شهادت نژدې څلور سوه کاله وروسته وکړه. که څه هم دا موضوع زموږ له اصلي بحث وتلې ده خو دا مناسب ګڼو چې دغو جنابانو ته ووایو:

- څوك چې د صحابه وو اجماع نه مني هغه باید دغه قرآن هم ونه مني چې نن زموږ په لاس کې دئ، موږ خو په دې دلیل دې قرآن ته د همغه قرآن په سترګه ګورو چې پر پیغمبر علیه الصلاة و السلام نازل شوی چې صحابه وو پرې اتفاق کړی!!
- صحابه هغه خلك دي چې د پیغمبر علیه السلام په لاس روزل شوي، تر هر چا زیات او ښه په قرآن پوهېدل، نه څوك د قرآن په پوهې کې هغوی ته رسېدی شي او نه په اخلاص کې، دا دوی ول چې اسلام ئې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو، موږ ته دا دین صحابه وو رارسولی، هغوی تر هر چا ښه پوهېدل چې د خلافت لپاره تر ټولو وړ او مناسب شخصیت څوك دئ، موږ د دوی پرېکړه د ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په اړه عادلانه، اصوب او احسن ګڼو. ډېر ناپوه او په غرض او مرض مبتلی انسان به په دې اړه د دوی پرېکړه د اسلام او عدالت خلاف ګڼي.
- پیغمبر علیه السلام نور صحابه او تر علي رضی الله عنه مخکې او وروسته او څو ځلي د موقت نائب په توګه ګمارلي، ولې هغوی ته د ځای ناستي په سترګه نه ګورئ؟!

## د الله تعالی د لیدو هیله

قرآن د دې قصې په ترڅ کې موږ ته هغه پېښه هم رایادوي چې موسی علیه السلام د طور په غره کې او له الله تعالی سره له تکلم وروسته دا هیله وکړه چې خپل رب په خپلو سترګو وګوري، فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِىٓ أَنظُرْ إِلَيْكَ ۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِى وَلَٰكِنِ ٱنظُرْ إِلَى ٱلْجَبَلِ فَإِنِ ٱسْتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوْفَ تَرَىٰنِى ۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبْحَٰنَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ الاعراف

او کله چې موسی زموږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبرې وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چې درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مې لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مې هم حتماً وګورې، خو کله چې د ده

رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسى بې سده پرېووت، کله چي راپه سد شو وئې ويل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی يم (د دې خبري چي هيڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي ليدی).

دلته څو ډېري اساسي او مهمي خبري زموږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسى عليه السلام سره تکلم او خبري کړې، موږ د دې خبرو په کيفيت او څرنګوالي نه پوهېږو، دومره ويلی شو چي موسى عليه السلام دا خبري اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبري په داسي حالت کي شوې چي موسى عليه السلام خپل رب نه ليدو، د ليدو تمنی ئې کړې او الله تعالی ورته فرمايلي چي زما د ليدو توان او استعداد نه لرې، ستا په څېر يو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نشي کولی، که دا غر زما د تجلي په وړاندي تم شو نو ته مي هم ليدی شې.
- کله چي الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسى عليه السلام بې سده شوی.
- کله چي راپه سد شو وئې ويل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی يم، يعنی له ما غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ يې چي انسان دي په خپلو کمزورو سترګو وليدی شي، تا ته مي توبه ده، زه لومړنی کس يم چي دې نتيجې ته رسېدلی چي هيڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي ليدی.

د قرآن دا وينا او هغه هم د موسى عليه السلام د قصې په ترڅ کي د يهودانو او د بايبل د هغو پلويانو په خوله سخت سوك دئ چي د بايبل دا غلطه خبره مني چي د دوی ګڼ شمېر انبياءو الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چي د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د ليدو خبره کوي. که د موسى عليه السلام په څېر اولوالعزمه پيغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوك به ئې څنګه وليدی شي؟!

موسى عليه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چي الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو ليدلي چي نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي.

## د تورات ورکړه

بني اسرائيلو له آزادۍ وروسته يوه داسي لارښود کتاب ته ضرورت درلود چي د دوی فردي او اجتماعي ژوند تنظيم کړي، ښه او بد، حلال او حرام وروښيي، د کفر، شرك، نفاق او ايمان تر منځ پولي او نښي په ګوته کړي، د عدل او ظلم د تفکيك لپاره واضح او څرګند معيارونه په لاس کي ورکړي، د همدې لپاره موسى عليه السلام ته تورات ورکړی شو، لکه چي قرآن فرمايي:

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ الاعراف

وئې فرمايل: اې موسى! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره تا ته پر خلکو غوره والی درکړ، نو څه چې مي درکړل واخله او له شکرکوونکو اوسه. او ده ته مو په (ډېرينو) تختو کې د هر څه (په اړه) موعظه او د هر څه (په اړه) تفصيلي ليکنه ورکړه، نو په قوت سره ئې واخله او خپل قوم ته سپارښتنه وکړه چې په غوره توګه ئې تر لاسه کړي، ژر به د فاسقانو ټاټوبی دروښيم.

دلته څو خبري په پام کې ولرئ:

- الله تعالى خپل پيغمبر موسى عليه السلام هغو سترو سترو پېرزوينو ته متوجه کوي چي د ده په برخه شوې وې: رسالت ئې ورپه برخه کړی وو او د ټولو انسانانو له منځه ئې يوزاي له ده سره په استثنائي او ځانګړې توګه تکلم کړی وو او ده ته ئې په لوحو کې ليکلي هدايات ورکړي وو.
- دا لوحې څو وې؟ په دې کې ټول تورات ليکل شوی وو که ځيني اساسي احکام ئې؟ په دې اړه په قرآن او د پيغمبر عليه الصلاة و السلام په احاديثو کې واضح ځواب نشو موندلی، د مفسرينو ګڼ اقوال نقل شوي، بايبل ئې دوه ډبريني لوحې ګڼي، چي لس احکام په کې ليکل شوي وو، يهودان او مسيحيان د بايبل لومړۍ برخي (عهد قديم) ته د تورات په سترګه ګوري، خو څوک چي بايبل په دقت سره مطالعه کړي پوهېږي چي دا نه يوازي په موسى عليه السلام باندي نازل شوی تورات نه دئ، بلکې له خرافاتو او تناقضاتو ډک کتاب دئ.

بايبل د دغو لوحو په اړه ليکي: خدای موسى ته امر وکړ چي ... د عهد صندوق به د سَرْو (لمنځه) له لرګي جوړوئ، اوږدوالی به ئې ۱۲۵ سانتي متره، سور او لوړوالی ئې ۷۵ سانتي متره، منځ او بهر ئې په خالصو سرو زرو وپوښه او په ژۍ ئې د سرو زرو ګاره تېره کړه، د دې صندوق لپاره د سرو زرو څلور حلقې جوړې کړه، د صندوق څلور لاندينيو کونجونو سره ئې ونښلوه، ... د صندوق د وړلو لپاره د لمنځي د لرګي دوه دستکې په سرو زرو وپوښه او په حلقو کې ئې ننباسه، کله چي د صندوق جوړول بشپړ شي هغه دوه لوحې به درکړم چي قوانين او لارښووني مي په کې ليکلې دي چي په دې صندوق کې ئې کښېږدې. د صندوق سرپوښ به له خالص سرو زرو جوړوې، اوږدوالی ئې ۱۲۵ او سور ئې ۷۵ سانتي متره، دا سرپوښ د (رحمت تخت) دئ، ستاسو د ګناهونو د کفارې لپاره!! د رحمت د تخت پر سر د فرشتې د شکل دوه مجسمې له سرو زرو نصب کړه، دا مجسمې داسي جوړې کړه چي د رحمت له تخت سره جوخت او نښتې وي، دواړه يوې بلي ته مخامخ او سترګي ئې د تخت په لوري او وزرونه ئې په تخت خواره وي، د رحمت تخت پر صندوق نصب کړه، بيا به زه

هملته ملاقات درسره کوم او د دغو دوارو فرشتو له منځه به خبري درسره وکړم او بني اسرائيلو ته به اړيني لارښووني وکړم.!!

د دې خبرو په اړه د بايبل منونکو ته وايو:

- آيا ستاسو عقل دا خبره مني چي الله تعالی به موسی عليه السلام په داسي بېهوده کارونو گمارلی وي او د معبد په جوړولو کي د سرو او سپينو زرو او قيمتي ډبرو د کارولو امر به ئې کړی وي؟!! آيا د خدای له يوه مسکين او فقير بنده سره چي له لوږي او بيمارۍ مري، مرسته به غوره وي که د معبد د تزئين او ښکلا لپاره بې دريغه مصرف؟!! که دا تاسو ته پرېښودی شي نو ستاسو پرېکړه به څه وي، کوم ته به ترجيح ورکوئ؟!!
- آيا الله تعالی د تورات لوحې د دې لپاره لېږلې وې چي د سرو زرو په صندوق کي کښېښودی شي که د دې لپاره چي د خلکو د ژوند لارښود وي او عمل پرې وشي؟ څنگه ممکنه ده چي موسی عليه السلام به تورات د سرو زرو په صندوق کي ږدي؟!! قرآن خو موږ ته تورات د هغه کتاب په توگه معرفي کوي چي نسخې ترې جوړي شوې او په ولس کي خورې شوې (والطور وکتاب مسطور في رق منشور)، موسی عليه السلام خو د تورات له راوړلو سره سم له بني اسرائيلو په دې کتاب د عمل کولو ژمنه اخيستې وه، قرآن خو موږ ته وايي چي موسی عليه السلام دا لوحې هغه وخت لري وغورځولې چي وئې ليدل د ده قوم د سامري په لاس دوکه شوی او د خدای په ځای ئې د سخوندر د مجسمې عبادت پيل کړی، تورات هم همدغه خبره کوي، له دې نه خو معلومېږي چي د موسی عليه السلام له نظره دا لوحې نه بلکي په دې لوحو کي ليکل شوي احکام مهم ول!! د ټولو جاهلو قومونو تاريخ په دې شهادت ورکوي چي دوی له خپلو سپېڅلو کتابونو سره همدا معامله کړې ده، هغه کتاب چي په لومړي سر کي د دوی د نېکو او صالحو پلرونو لپاره لارښود کتاب وو، خو ورو ورو ترې لري شوي، د کتاب لارښووني ئې هېري کړې، په جامو کي ئې نغښتی، په لوړ طاق کي ئې ايښی او د تبرك وسيله ئې ترې جوړه کړې، هندوانو او سيکانو له خپلو هغو مذهبي کتابونو سره چي سپېڅلي ئې گڼي همداسي وکړل، په درمسال کي ئې کښېښود، په گڼ شمېر جامو کي ئې پټ کړ، خوا ته ئې عطر شيندي، خوشبويه لرگي دودوي، بوزی ورته وهي، د برکت تر لاسه کولو لپاره ئې تر خوا تېرېږي او تعظيم ئې کوي!! مسلمانانو د جهل او انحطاط په دوران کي له قرآن سره همدا معامله وکړه، هغه کتاب چي د يوه ستر سياسي، اجتماعي او اقتصادي انقلاب لارښود وو، د ژوند د هري پېښي په اړه به مسلمانانو هغه ته رجوع کوله، د خپلي هري پوښتني ځواب به ئې له قرآنه غوښت، هره شخړه به ئې په قرآن حلوله، د هري قضيي په اړه به ئې د قرآن لارښوونه او پرېکړه وروستۍ پرېکړه گڼله، هغه کتاب چي په نړۍ کي ئې ستره او ژوره تبديلي راوسته، له خورو ورو قومونو ئې يو ستر او سرلوړی متحد امت جوړ کړ، د ظالمانو په ضد ئې مظلومان پاځون ته وهڅول، اقتدار ئې له ظالمانو واخيست او مظلومانو ته ئې وسپارو، دوه ستري امپراطورۍ ئې په زوال محکومي کړې، خو آيا پوهېږئ چي څو پېړۍ وروسته، تش په نامه مسلمانانو له دغه لارښود او انقلابي

کتاب سره څه وکړل؟!! هغه ئې هېر کړ، يوازې د تبرك وسيله ئې ترې جوړه کړه، په جامو کې ئې ونغاښتو، د تعظيم او احترام په نامه ئې د خپلې خونې په داسې طاق کې کښېښود چې تر ټولو لوړ وي او د هيچا لاس نه وررسي، هغه وخت به ئې له لوړ ځايه راکوزاوو چې غوښتل ئې د لوړې لپاره لاس پرې کښېږدي!!

بايبل بل ځای ليکي: کله چې موسی د سينا په غره کې وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو گوتو ئې لس احکام په کې ليکلي وو!! خو د سينا په غره کې ئې ځنډ وکړ... خلك هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وويل: د سرو زرو هغه گاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کې دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولې ويلې کړې، په يوه قالب کې ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر وليد چيغې ئې کړې: اې بني اسرائيلو! دا ستاسو هغه خدای دئ چې له مصره ئې راوايستئ!! هارون د دې صحنې په ليدو سره د سخوندر مخې ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ويل: سبا د خدای لپاره جشن نيسو!! سبا خلك سهار وختې پاڅېدل، د سخوندر په وړاندې ئې د سوزولو او سلامتۍ قربانۍ وړانده کړه، کښېنستل... ښه ډېر خوراك څښاك او د بې حيايۍ کارونه ئې وکړل... خدای موسی ته وويل: په تلوار لاندې ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلې غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وويل: خدايه! ولې پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه درپه ياد کړه چې ابراهيم او اسحاق ته دې ويلي وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم تېر شو!! ... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبرينې لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام ليکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانژدې شو، شور او ځوږ ئې ترغوږ شو... سترگې ئې پر طلايي سخوندر ولگېدې چې خلك ئې مخې ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسې غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندې وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بيا ئې طلايي سخوندر په اور کې ويلې کړ، وئې ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشيندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائيلو وڅښلې!!! ... هارون ته ئې وويل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ: څوك چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ويل: خدای امر کوي چې توري ترملا وتړئ، د پنډغالي له يوه سره تر بل سره ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او گاونډی ووژنئ...لاويانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائيليان ووژل شول... موسی لاويانو ته وويل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ ياست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وويل: دې قوم لويه گناه کړې، خو ته ئې وبخښه او يا خو زما نوم له خپل کتابه محو کړه!! خدای ورته وويل: ستا نوم به ولې محو کوم... چا چې گناه کړې هغه ته سزا ورکوم... خدای د هغه بُت د لمانځنې له کبله پر بني

اسرائيلو لويه بلا نازله کړه چې هارون جوړ کړی وو!! بيا خدای موسی ته وفرمايل: دا قوم هغې سيمې ته بوځه چې شات او شيدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه يم، ځکه چې سرکش يئ... ممکن په لارې کې مو هلاك کړم!! که يوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم... تر هغه چې ستاسو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم هر ډول گاڼې او جواهرات له ځان لرې کړئ... )

که څه هم د دې وينا جمله جمله غلطه ده او هر عاقل انسان ئې په غلطۍ پوهېږي، خو د بايبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور پرته منلی او هره وينا ئې ورته مقدسه برېښي، څو وضاحتونه ضروري گڼو:

• آيا الله تعالی زموږ په څېر دئ چې د څه ليکلو لپاره بايد قلم په لاس کې واخلي او په خپلو گوتو څه وليکي؟!! د الله تعالی په اړه داسې وينا خو يوازې هغه څوك کولی شي چې نه ئې پېژني او په يوه کمزوري او محتاج انسان ئې قياسوي، راشئ د بايبل دا ضعيفه وينا د قرآن له جامع او کاملې وينا سره مقايسه کړئ چې فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢ يس

يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته تر سره) کېږي!!

• که په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بُت او د هغه مخې ته د قربانۍ ځای هارون جوړ کړی وي، نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته ورکړی شوې وی!! دا څنگه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر کوي، هغه هم له پوښتنې او گوېږنې پرته او د پنډغالې له يوه سره تر بله سره د ټولو د وژلو امر، او هارون عليه السلام ته نه يوازې کومه سزا نه ورکوي بلکې دی او زامن ئې (لاويان) د معبد د ساتونکو او پالونکو په توگه پرېږدي او پرېمانه امتيازات ورته منې؟!!!

• آيا ستاسو عقل او ايمان دا مني چې الله تعالی به داسې پرېکړه کړې وي چې يوه ډله به توري له تېکو راباسي او د پنډغالې له يوه پلوه به تر بله پلوه پورې درومې او چې څوك مخې ته ورځي، که ئې ورور وي، که دوست، که گاونډی، نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چې وگوري د سخوندر عبادت ئې کړی وو که نه، د وژلو وړ دئ که نه؟ د عقل، عدل او دين تقاضا خو دا ده چې يوازې مجرم ته سزا ورکړی شي او يوازې بُت لمانځونکي مجازات شي!! که دا د پټو سترگو وژنه وی نو ولې به له شپږو لکو يوازې درې زره وژل کېدل؟! په کار خو دا وه چې په داسې عام قتل کې د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی، که د بايبل دا خبره رښتيا وي چې درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چې يوازې مجرمان وژل شوي. متأسفانه زموږ ځينې مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې تللي او د بايبل دا غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارك آيت په تفسير کې رااخيستې.

• هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د معبد د سينگارولو لپاره سره او سپين زر کارول

او مجاور ته ئې د نفيس ټوکر جامې جوړول او قيمتي ډبري ئې په سينه بند او ملابند کې کارول يوازې د ټګمارو مذهبي مشرانو کار کېدی شي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته، نه ئې خاص امتيازات، نه ئې خاصه تبعيضي او امتيازي جامه، نه ئې په قربانيو او صدقاتو کې خاصه برخه، اسلام موږ ته وايي ټوله زمکه مسجد دئ، په هر ځای کې د الله تعالی عبادت کولی شئ، امام په خپله غوره کړئ، هغه امام مه نيسئ چې پر امامت اجوره غواړي، مسجد به مو ساده وي او له سينګارولو به ئې ډډه کوئ، د لمانځه په مهال به امام له مقتدیانو په لوړ ځای نه ودرېږي. او دا همغه خبره ده چې د بايبل ليکونکي سهواً ليکلې وه: د قرباني ځای له خاورو جوړ کړئ، که ډبره کاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبري له ما سره نه ښايي!! په معبد کې زينه هم مه جوړوئ، خو هغه د انجيل په دغي خبري کې تحريف کړی او دا ئې پرې اضافه کړې: داسې نه چې له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...د بايبل ليکونکی دې ته نه دئ تيار چې ووايي: زينې د دې لپاره مه جوړوئ چې د الله تعالی په وړاندې يو برابر ودرېږئ!!

- آيا ستاسو عقل دا خبره مني چې موسی عليه السلام به په بني اسرائيلو له اېرو ډکې اوبه څښلې وي؟! ولې به ئې دا بېهوده او بې معنی کار کاوو او د دې ګټه څه وه او څه معنی ئې درلوده؟! قرآن د بايبل دا وينا ردوي او فرمايي چې بني اسرائيلو د سوزول شوي بُت په اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلکې د دې بُت مينه ئې څښلې وه!!

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْۖ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩٣﴾ البقرة

او چې کله مو ستاسو ژمنه درنه واخيسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ويل:) په هغه څه منګولې کلکې ولګوئ چې تاسو ته مو درکړی او غوږ شئ، وئې ويل: غوږ شوو خو سرغړونه کوو او د خپل کفر په سبب ئې سخوندر په زړونو کې ننه ايستی شو، ووايه: که تاسو مؤمنان ياست دا ايمان خو مو په ډېرو بدو شيانو ګماري!!

يعني دوی په داسې حالت کې له الله سره کړې ژمنې ماتې کړې چې د طور غر ئې د سر له پاسه وو، په همدغه وخت کې ئې په ژبه د منني او اطاعت الفاظ وو خو په زړونو کې ئې د عصيان هوډ او اراده، له همدې تعهد وروسته ئې جعلي معبود غوره کړ، دوی ته ويل شوي: چې د کفر په سبب د سخوندر مينه ستاسو د زړه تل ته کوزه شوه، که ستاسو دا ټول ناوړه اعمال د کوم ايمان په حکم او د کومې عقيدې له مخې وي نو دا خو ډېر کرغېړن ايمان او بده عقيده ده چې په داسې بدو کارونو مو ګماري.

آيا ستاسو ايمان دا اجازه درکوي چې د بايبل دا خبره ومنئ: موسی وويل: خدايه! ولې پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر

شه!! ... خپله هغه لوړه درېه یاد کړه چي ابراهیم او اسحاق ته دي ویلي وو: په خپل ذات لوړه کوم چي ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصمیم تېر شو!! یعني دا چي خدای غصه وو، پرېکړه ئې دا وه چي بني اسرائیل هلاك کړي، خپله مخکینۍ ژمنه ئې هېره وه... موسی علیه السلام خپله ژمنه ورپه یاد کړه نو ځکه له خپل تصمیم منصرف شو!!

آیا ستاسو عقل دا خبره مني چي الله تعالی به په خپلې وینا کې دومره مبالغه کړې وي او ویلي به ئې وي: دا قوم هغې سیمي ته بوځه چي شات او شیدې په کې بهېږي!!! شمېر به ئې د آسمان د ستورو په اندازه کړم؟!!

بایبل د (لس فرمانونه) تر عنوان لاندي لیکي: خدای له موسی سره خبري وکړې او دا احکام ئې ورکړل: (زه خدای، ستا خدای یم، همغه خدای چي ته ئې له اسارت او غلامۍ وژغورلې. له ما پرته به دې نور خدایان نه وي، د ځان لپاره هیڅ بُت د حیوان، مارغه او ماهي په څېر مه جوړوه، د هغه په وړاندي مه په گونډه کېږه او عبادت ئې مه کوه، دا ځکه چي زه خدای ستا خدای یم، غیور خدای یم، څوك چي له ما سره دښمني وکړي سزا ورکوم، دا سزا به د دوی د زامنو تر درېیم او څلورم پوښته پوري ورکول کېږي!! خو څوك چي له ما سره دوستي کوي او زما احکام پر ځای کوي، تر زر پوښته به پرې رحمت کوم!! ... زما له نومه غلطه استفاده مه کوه، که په بې احترامۍ سره زما نوم یاد کړې یا د دروغو قسم پرې وخورې مجازات کوم دي، ... د سبت (شنبې) ورځ په یاد لره او سپېڅلې ئې گڼه... په دې ورځ به هیڅ کار نه کوئ... دا ځکه چي خدای په شپږو ورځو کې آسمان، زمکه او... راپیدا کړل او په اوومه ورځ ئې له کاره لاس واخیست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله... د پلار او مور احترام کوه چي عمر دي اوږد شي... قتل مه کوه، زنا مه کوه، غلا مه کوه او درواغ مه وایه، د بل د مال او ناموس طمع مه کوه، د خپل گاونډي د مریي، وینځې، غوایي، خره او مال د لاس ته راوړو هڅه مه کوه.) ... کله چي بني اسرائیلو رعد و برق او له غره د لوخړو پورته کېدا ولیده او د شپېلۍ غږ ئې واورېدو وویرېدل او ولړزېدل او له غره لري ودرېدل او موسی ته ئې وویل: ته د خدای خبري واوره، موږ ته ئې ووایه موږ اطاعت کوو، خدای دي مخامخ له موږ سره خبري نه کوي ځکه وېرېږو چي وبه مرو!!! موسی ورته وویل: مه وېرېږئ... خدای د دې لپاره راکوز شوی چي تاسو ته خپل قدرت وښیي چي له دې وروسته ترې ووېرېږئ او گناه ونه کړئ!!... نو بیا خدای له موسی وغوښتل چي بني اسرائیلو ته ووایه: تاسو ولیدل چي څنگه مي له آسمانه له تاسو سره خبري وکړې!!! نو له دې وروسته له سرو او سپینو زرو ځان ته بُتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... ما ته چي د قربانۍ کوم ځای جوړوئ باید له خاوري جوړ شوی وي، د خپلو څارویو چي کومي سوزېدونکې قربانۍ او د سلامتۍ هدیې وړاندي کوئ نو دلته ئې قربانۍ کوئ، ... که مو غوښتل چي د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبري (د څټك په څېر) وسائلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسي ډبري زما د قربانۍ له ځای سره نه ښایي!! د قربانۍ د ځای

لپاره زینه هم مه جوړوئ، داسي نه چي له دغو زینو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...)

دلته د بایبل لیکونکي ته څو پوښتني راجع کېږي:

• په دې کي هیڅ شك نشته چي په تورات کي به د الله تعالی لومړی لارښوونه دا وه چي له الله جل شأنه پرته بل معبود نشته، د انسان، حیوان، مارغه او بل څه بُت به نه جوړوئ او عبادت به ئې نه کوئ، دا د هر الهي دین اساسي او لومړنۍ خبره ده، خو د بایبل له منونکو پوښتنه کوو چي تاسو د بایبل د دغي څرګندي او پرېکنده وینا په خلاف ولي عیسی علیه السلام په الوهیت کي شریك کړی؟ ولي مو د ده او د مریمي علیهما السلام مجسمې جوړي کړې، ټولي کلیساوي مو په دغو مجسمو ډکي دي؟ ولي مو د فرشتو مجسمې د رحمت د صندوق پر سر جوړي کړې؟!! دا ولي ستاسو کشیشان د د دغو مجسمو په وړاندي په ګونډه کېږي، عبادت ئې کوي او مرسته ترې غواړي؟!! د بایبل د وینا معنی خو دا ده چي چا له الله تعالی سره څوك یا څه شریك کړ، د هغه مجسمه ئې جوړه او د هغه په وړاندي په ګونډه شو له الله تعالی سره ئې دښمني کړې، داسي دښمني چي الله تعالی به ده او د ده دري او څلور پوښته ته سزا ورکوي!!

• خو د بایبل دا خبره د دین له بنیادي اساساتو سره ټکر کوي چي خدای تر دري څلور پوښته خپل دښمن ته سزا ورکوي او تر زر پوښته خپل دوست په خپل رحمت او پېرزوینو نازوي!! دا باور او نظر هم د دیني اصولو او باورونو خلاف دئ او هم د عدل او عقل خلاف، ولي به عادل خدای یو چا ته د پلار او غور نیکه په جرم سزا ورکوي؟!! او ولي به د غور نیکه په خاطر د ده کړوسیانو ته نېکه بدله ورکوي که څه هم د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت مستحق نه وي؟!! که داسي وی نو د آدم علیه السلام په زر پوښته اولاد به د الهي رحمت سیوری غوړېدلی وو، خو بایبل په خپله اعتراف کوي چي د آدم علیه السلام په تېرو شپېتو پوښته کي ډېر د الله تعالی له رحمته محروم او په الهي عذاب اخته شوي!!! د بایبل د ادعاء په اساس خو باید د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام په زر پوښته کي د الله تعالی د لعنت او عذاب مستحق اولاد نه راپیدا کېدو!!

• الله تعالی په اونۍ کي یوه ورځ د دې لپاره د تعطیل او رخصتۍ ورځ نه ده ګرځولې چي ده په خپله عالم په شپږو ورځو کي پیدا کړ او اوومه ورځ ترې وزګار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پیدا کړی او له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم چاري په خپل واك کي نیولې، د عالم تر پیدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که ګران کار نه وي نو آسان خو په هیڅ صورت کي نه دئ، قرآن فرمایي چي الله تعالی هم د دې عالم خالق دئ او هم ئې ټولواك، مالك او حاکم، د آسمانونو او زمکي له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم د پاچایۍ پر عرش استوی وکړه او د مالك الملك په توګه ئې د عالم د ادارې، ساتني او پالني واګي په خپل اختیار کي

واخيستې او په دې سره د بايبل د دغي غلطي وينا ترديد شوی چې الله تعالی په انسان قياسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کې يوه ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د يهودانو لپاره هفته، د مسيحيانو لپاره يکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه، پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کې راغونډېږي، په جماعت سره به لمونځ کوي او د جمعې د ورځې هغه خطبه به اوري چې د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کې د تېرې اونۍ ټولې مهمې او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به يوازې د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته خپل کارونه د نورو ورځو په څېر کولی شي!! د بايبل ليکونکي ته وايو: که د اونۍ آخري ورځ د عبادت لپاره ټاکل شوې وي نو آخري ورځ خو جمعه ده نه هفته!! که دا وروستۍ ورځ وګڼو نو تاسو ولې د يکشنبې ورځ د تعطيل ورځ منئ؟!! د بايبل کومه خبر د منلو ده؟

• د بايبل ليکونکی له يوې خوا دا ادعاء کوي چې خدای د اور لمبو او لوخړو کې د غره پر سر راکوز شو... او له بلې خوا ليکي چې خدای د موسی له لاري بني اسرائيلو ته وويل: تاسو وليدل چې څنګه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته له سرو او سپينو زرو ځان ته بُتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... دې تناقض ته څه ځواب وايې؟ په دې مهال خدای په آسمان کې وو که د غره پر سر ورېځو او لوخړو کې؟!!

• که الله تعالی تاسو ته دا ويلي وي چې ما ته د قربانۍ کوم ځای جوړوئ بايد له خاوري جوړ شوی وي، د خپلو څارويو چې کومې سوزېدونکې قربانۍ او د سلامتۍ هديې وړاندې کوئ نو دلته ئې قرباني کوئ، ... که مو غوښتل چې د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبرې (د څټك په څېر) وسائلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسې ډبرې زما د قربانۍ له ځای سره نه ښايي!! نو تاسو ولې خپل معبد او د عهد صندوق له څو زره کيلو ګرامه سرو او سپينو زرو او ... جوړ کړی؟!! الله تعالی خو تاسو ته ويلي چې د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که له ډبرو ئې جوړوئ نو ډبرې به نه تراشئ... او دا د ټولو جاهلو قومونو بد عادت دئ چې معبدونه ئې له معنوي لحاظه وران وي خو ظاهر ئې ډېر ښايسته او مزين، ډېر قومونه به وګورئ چې له بې وزلو او غريبو دوکه شوو ديندارانو د شکرانو او صدقو په نامه؛ سره او سپين زر راغونډوي او د قبرونو پر سر ستري ستري بنګلې جوړوي او دروازې ئې په سرو او سپينو زرو ورته سينګاروي!! که د الله تعالی د خوښې له معبد سره تراشلې ډبرې هم نه ښايي نو د سرو زرو دروازې او په سرو زرو پوښل شوی د عهد صندوق به څنګه خوښوي؟!! زموږ عظيم الشأن قرآن خو فرمايي چې چا سره او سپين زر ذخيره کړل او د الله تعالی په لارې کې ئې خرڅ نه کړل او له مسکينانو او فقيرانو سره ئې له مرستې ډډه وکړه، د قيامت په ورځ به ئې تندی، اړخ او شا د همدغو سرو او سپينو زرو په سکو داغل کېږي!!

• آیا ممکنه ده چې الله تعالی خپل بنده په دې مأمور کړي چې څاروي د دې لپاره ذبح کړي چې بیا ئې وسوزوي؟!! د دې په ځای چې غوښه ئې د الله تعالی بې وزلو، وږو او نیستمنو بندگانو ته ورکړي د قربانۍ په ځای کې ئې وسوزوي؟!! آیا هیڅ عاقل انسان به داسې دین ومني چې خلك په داسې بېهوده او له عقل او انصاف لرې امورو باندې مکلفوي؟!

• د بایبل دا خبره هم ډېره مسخره او خندونکې ده چې وایي: خدای وفرمایل: د قربانۍ په ځای کې زینې هم مه جوړوئ، دا ځکه چې کېدی شي پر زینو د ختلو په مهال ستاسو عورت بربنډ شي!!! ښایي په اصلي انجیل کې ویل شوي وي چې معبد باید پوړ پوړ نه وي، ټول باید د الله تعالی په وړاندې یو برابر ودرېږئ، نه دا چې ځیني لوړ او ځیني ټیټ، او دا همغه لارښوونه ده چې اسلام ئې موږ ته کوي، خو د بایبل لیکونکي دا خبره تحریف کړې او له هغې ئې داسې مسخره خبره جوړه کړې!!

## د پیغمبرانو او عدالت غوښتونکو وژل

بني اسرائیلو یوازې د پیغمبرانو علیهم السلام په تکذیب بسنه ونه کړه، بلکې د هغوی او د هغوی د صادقو او عدالت غوښتونکو پلویانو په وژلو ئې لاس پورې کړ، لکه چې قرآن فرمایي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢١ آل عمران

یقیناً هغه کسان چې د الله په آیتونو کافران کېږي او د الله پیغمبران په ناحقه وژني او د خلکو هغه کسان هم وژني چې د عدل کولو امر کوي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

هغه کافران چې د الله له آیتونو انکار کوي، د الله د پیغمبرانو په مخالفت کې هغه ځای ته رسي چې د دوی د وژلو لپاره ملا تړي او آمرین بالقسط وژني، هر څوك چې د ظلم خلاف غږ اوچت کړي او عدالت ته بلنه ورکړي، دوی ئې وژني، ځیني له دې انکار او د پیغمبرانو او آمرین بالقسط له وژلو دا طمع لري چې په دې سره به خپل مخالفین وځپي او د دوی اقتدار ته ورپېښ گواښونه به ختم کړي او د دوی د ریاست او قیادت بقاء او دوام به تضمین شي او ځیني نور ئې دا کار په دې هیله او گومان کوي چې په دې سره له خپل (حق مذهب) دفاع کوي، الله به ترې راضي شي او جنت به ئې په برخه شي!! خو دوی ته د دوی د دې کاذب او غولوونکي انتظار او هیلې خلاف د دردناك عذاب زېری ورکړه، دوی دې مطمئن وي چې د خپلو هیلو د تر سره کېدو زېری به هیڅکله وانه وري.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٢ آل عمران

دوی هغه دي چې عملونه ئې په دنیا او آخرت کې حبط او تباه شوي او هیڅ مرستندوی ورته نشته.

نه به په دنيا کې له دې عمل څه تر لاسه کړی شي او نه په آخرت کې او نه به داسې څوك ومومي چې په دنيا او آخرت کې ئې له خپل شوم عاقبت وژغوري، دوی هيڅ مرستندوی نه لري، هيڅوك ئې له زړه او په اخلاص سره مرسته نه کوي، که نن ډېر د دوی د مرستې او حمايت تيږې په سينه وهي او د دوی لپاره لاس په نامه ولاړ دي، چې د رښتيا ورځ راشي، نو يو کس به هم د دوی مرستې ته راوړاندې نه شي او مرسته به ئې گټه ورونه رسوي.

له (حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ) معلومېږي چې د دوی ځينو له دې عملومو دنيوي اهداف درلودل او ځينو ئې اخروي هيلې او طمعې.

## د کتاب په ځينو برخو عمل او په ځينو نه عمل

دا هم د بني اسراسيلو يو بل انحراف وو چې قرآن ئې په دغو آيتونو کې په دې توگه بيانوي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٢٣﴾ آل عمران

آيا هغو ته دې پام نه دئ چې د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي چې د دوی تر منځ پرېکړه وکړي، خو يوه ډله ئې ډډه کوي، په داسې حال کې چې عمداً اعراض کوونکي وي.

دلته د دوی د علماءو په اړه بحث شوی، هغه چې د کتاب په څه برخې پوه شوي، د کتاب څه محدود او لږ علم ئې په برخه شوی، خو کله چې د الله کتاب ته د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره بلنه ورکړی شي او کله چې ورته وويل شي چې د الله په کتاب عمل وکړئ، له دې اعراض کوي او مخ اړوي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٤﴾ آل عمران

دا له دې کبله چې وايي: مونږ ته به له څو شمېرلو ورځو پرته (د دوزخ) اور راونه رسېږي، خپلو افتراءاتو په خپل دين کې دوکه کړل.

دوی له دې کبله د الله کتاب شا ته وغورځاوو او په هغه ئې عمل کول پرېښود چې گومان ئې کولو جنت د دوی لپاره پيدا شوی او دوی د جنت لپاره، دوزخ ته به نه ځي مگر څو محدودې ورځې، دا د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو ورته ويلي وو، هغوی دې خبرې ته مذهبي رنگ ورکړی وو، هغوی ورته ويلي وو چې دا خبره د الله په کتاب کې راغلې، دا په رواياتو کې راغلې، پيغمبر دا خبره کړې، دغو افتراءاتو وغولول، په خپل دين له پوهېدو ئې عاجز کړل او په هغه له عمل کولو ئې بې پروا کړل.

همدا راز قرآن فرمايي:

﴿ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾﴾ البقرة

بيا تاسو همغه ياست چي يو بل وژنئ او خپله يوه ډله له خپل کور کلي باسئ، د دوی په ضد په گناه او تېري کې د (تېري کوونکو) مرسته کوئ او که د اسيرانو په څېر درته راشي نو فديه ئې ورکوئ، حال دا چي د دوی ايستل درباندي حرام دي، آيا د کتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو چي هرڅوك دا کار وکړي، نو سزا ئې په دنيا کې له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قيامت په ورځ به د شديد عذاب په لور گرځول کېږي او الله له هغه څه چي تاسو ئې کوئ غافل نه دئ. دا همغه خلك دي چي دنيوي ژوند ئې د آخرت په بيع وپېرو، نو نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به ئې مرسته وشي.

د خپل قوم پر بې وسه او بې وزلو به ئې ظلمونه کول، له خپل کور کلي به ئې ايستل، د دوی د وينو له تويولو ئې هم ډده نه کوله، خو چي کله به د بل په لاس کې اسير پرېوتل نو د هغوی د ژغورني لپاره به ئې بسپني راټولولې، دا کار به ئې د خپل قومي تعصب په اساس کولو خو هغه ته به ئې ديني او مذهبي رنگ ورکاوو، نو ځکه الله تعالی هغوی ته فرمايي: آيا د کتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې کافران کېږئ؟!

دلته دا خبره هم د زيات دقت وړ ده چي په کتاب عمل او نه عمل ئې په کتاب له ايمان او کفر سره مترادف گڼلی، د دې معنی دا ده چي په کتاب د ايمان لومړنۍ او اساسي غوښتنه پر هغه عمل کول دي، په کتاب د هغه چا د ايمان ادعاء دروغجنه ده چي عملورباندي نه کوي.

دا آيت مونږ ته دا هم راښيي چي د يوه ديندار ولس د ذلت او سپکاوي ستر عامل دا وي چي د کتاب پر يوې برخي عمل کوي او بله ئې شا ته غورځوي.

همدا راز مونږ ته راښيي چي د الله کتاب وېشل، په يوې برخي ئې عمل او بله ئې شا ته غورځول د هغه چا کار دئ چي دين په دنيا پلوري، دوی به په دنيا او آخرت کې له الهي عذاب سره مخامخ وي، هيڅ څه به ئې له دې عذاب ونه ژغوري، هيڅوك او هيڅ څه به ئې

مرسته ونشي کړی.

## دين پلورنه

د دوی علماءو دين پلورني ته مخه کړه، د دنيا لپاره ئې دين پلورلو، فتواګاني به ئې خرڅولې، هره فتوی به ئې د دنيوي اغراضو لپاره وه، د حکامو په ګټه به ئې فتواګاني ورکولې، خو سره له دې به ئې طمع دا وه چي خدای به ئې وبخښي!! قرآن په دې اړه فرمايي:

﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ۝٤٠ وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ۝٤١﴾ البقره

اې د اسرائيل زامنو! زما هغه نعمتونه درپه ياد کړئ چي پر تاسو مي پېرزو کړل او له ما سره په کړو ژمنو وفا وکړئ چي زه له تاسو سره په خپلو ژمنو وفا وکړم او يوازي له ما ووېرېږئ. او په هغه څه ايمان راوړئ چي ما نازل کړی، له تاسو سره د شته (کتاب) تصديقوونکی او لومړی انکار کوونکی او کافر ئې مه کېږئ او زما آيتونه په لږه بيع مه پلورئ او يوازي له ما ځان ساتنه او وېره ولرئ.

له دې مبارکو آيتونو معلومېږي چي:

- د ديندار قوم لومړني انحرافات درې دي: د الهي پېرزوينو او نعمتونو هېرول او ناشکري، له الله سره په کړو ژمنو کې بې وفايي او له الله تعالی پرته له بل چا وېره درلودل.
- د الله ژمني مشروطي دي؛ هلته به تر سره کېږي چي ته له الله سره په خپلو کړو ژمنو وفا وکړې.
- د دين لومړني او تر ټولو خطرناك دښمنان هغه دين پلورونکي دي چي دين په ډېره ارزانه بيع خرڅوي، د دې په ځای چي دوی د هر واقعي ديني تحريك لومړني مؤيدين او حاميان وي، برعکس تل به ګورئ چي دين خرڅوونکي دکاندار علماء په لومړي خط کې د ديني تحريکونو مقابله کوي، دښمن به ئې په ډېره کمه بيع اخلي او په لومړي خط کې به ئې د واقعي علماءو او ديندارانو په ضد جنګوي.

﴿وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٤٢ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣﴾ البقرة:۝٤٢-۝٤٣

او حق له باطل سره مه خلطوئ، ( باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ) او حق مه پټوئ، په داسي حال کې چي پوهېږئ. او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

دوی به کله په خپلو غلطو توجيهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندي او کله به

باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجيهاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق ثابت کړي او حق باطل، نو حق به پټوي، دا کار په داسي حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض په وجه ئې کوي، اخيستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي، مزد ئې هم ډېر کم: کومه چپنه، کومه سپينه پګړۍ، يو نس مړۍ او حتی يوازې يو شاباش.

په دې مبارکو آيتونو کې د بې لارو او منحرفو دين خرڅوونکو علماءو څو نوري ځانګړتياوي بيانېږي:

- له الله سره ئې تعلق ضعيف او کمزوری وي،
- لمونځ ئې يا پرېښی او يا له حقيقي روح عاري او په شکلياتو لګيا وي،
- د دې په ځای چې زکات ورکړي د زکات تر لاسه کول ئې عادت شي،
- له عام ولس سره ئې هم اړيکي سستي شي، له نورو سره يو ځای عبادت هم پرېږدي.

د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره يو ځای رکوع وکړئ، ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کې دئ.

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ البقرة

آيا خلك په ښېګڼو ګمارئ او خپل ځان هېروئ، په داسي حال کې چې تاسو کتاب لولئ! آيا تعقل نه کوئ؟

- په رياء او نفاق اخته شول، نورو ته ئې د خير خيرات ورکولو او احسان او نېکي کولو بلنه ورکوله خو ځان ئې هېر کړی وو، په داسي حال کې چې دوی بايد تر نورو زيات نېك عمل درلودی او د الله په لار کې ئې تر هر چا زياته قرباني ورکولی، دا ځکه چې دوی خو په کتاب د پوهېدو دعوی کوي او ځان ته عالم او د الله د کتاب حامل او د پيغمبرانو وارث وايي!!

د قرآن د وينا له مخي د بني اسرائيلو د زوال دور هغه مهال پيل شو چې دوی د الله تعالی کتاب شا ته وغورځاوو، د دنيا لپاره ئې دين ته شا کړه، له الله تعالی سره ئې اړيکي وشلېدې، له جهاده ئې لاس واخيست، دين ئې په ارزانه بيع خرڅ کړ، د حق او باطل، حلال او حرام توپير په کې ختم شو، د نفسي اغراضو لپاره ئې حق پټ کړ، عبادات ئې په شکلي مراسمو بدل شول، اصلي مسائل ئې هېر کړل او پر فرعي مسائلو ونښتل، د هغه لمانځه په اړه ئې اهمال او بې پروايي پيل کړه چې له يوې خوا د انسان تعلق او رابطه له الله تعالی سره ټينګوي او له بلي خوا د انسان تعلق له انسان سره، د سپېڅلو اهدافو لپاره د قربانۍ جذبه په کې وځپل شوه، ځای ئې حرص، طمعي او بخل ته تش شو، د آخرت او اخروي مکافات او مجازات په اړه ئې تصورات او انګېرني مشرکانه او جاهلانه او د دين د مبانيو او اساساتو په خلاف شوې، په دې باور شول چې کېدی شي د بل د مټ په زور او د شفاعت په طفيل له محاسبې معاف شي، له عذابه وژغورل شي او جنت ئې وړيا په برخه شي!! د تېر شوو صالح شخصيتونو لمن نيول او د دوی شفاعت ته طمع کول ئې کافي وګڼل، د فتحي

او غلبې په وخت کې مغرور او متکبر شول، په انتقام اخیستلو ئې لاس پورې کړ، د ترحم، عاطفې، انکسار او خضوع په عوض په دوی کې لويي، تکبر او غرور راپيدا شو، د هجرت او جهاد د ستونزو په وړاندې ئې صبر او ثبات له لاسه ورکړ، نه ئې د الله تعالی پر وعدو باور پاته شو او نه ئې له وعيد او انذار وېره، د الله تعالی له احکامو ئې سرغړاوی وکړ او له الهي آيتونو ئې د انکار لار غوره کړه، کفر، عصيان او بخل هغه پړاو ته ورسول چې انبياء په قتل ورسوي، د انبياءو وارثين (آمرين بالقسط) ووژني، په دوی کې ديانت او مذهب د مليت شکل غوره کړ، د دې پر ځای چې هم ئې عقائد او افکار له الهي دين څرو‌به شي او هم ئې د ژوند تګلاره د دين په رڼا کې وټاکل شي، په عکس ئې دين په يوه قومي دود او عنعنې بدل شو، او د يوه ملي پيوند بڼه ئې غوره کړه، په دوی کې د سپېڅلو ورځو، مقدساتو او شعايرالله احترام ختم شو، علماءو ئې د الله تعالی دين تحريف کړ، د حکامو په ګټه ئې پر حق پرده واچوله، حق او باطل ئې سره خلط کړل، علاوه له تلبيس او کتمان ، د ځينو لپاره دين په دکان بدل شو، خاصه مذهبي طبقه په کې راپيدا شوه چې هم ئې جامه له نورو بېله او هم امتيازات تر نورو زيات، د دين په نامه ئې له خلکو شکرانې او نذرانې تر لاسه کولې!! عوام ئې په غرضي او مرضي ملايانو او مشايخو پسي ولاړل، له دين بې خبره شول، له دين څني چې په څه پوهېدل هغه يوازي څه هيلي وې او څه ګمانونه، هيلي ئې دا چې دوزخ ته به نه ځي مګر څو ورځي او ګمانونه ئې دا چې د دې او د هغه لمن نيول او شفاعت ته ئې طمع درلودل به ئې جنت ته رسوي!! په دوی کې خپلمنځي جګړې هغې پوړې ته ورسېدې چې د کمزورو ژوند په کې خوندي نه وو، بې وزلي به ئې له کور کلي شړل، په هغوی ئې له هيڅ ظلم او تېري ډډه نه کوله، له خپل مؤمن به کتاب سره ئې معامله داسي شوه چې د کتاب په هغې برخي به ئې عمل کولو چې په هغې د عمل له لارې ئې څه دنيوي ګټه تر لاسه کوله او هغه برخه به ئې شا ته غورځوله چې له دوی ئې د قربانۍ او حق ته د غاړې ايښودو غوښتنه کوله، د الله دين ئې تجزيه کړ، د کتاب په يوې برخي ئې د ايمان او په هغې د عمل کولو دعوی کوله او د بلې برخي په نسبت ئې د کفر او انکار لار غوره کړه، په پای کې ئې د خدای کتاب په بشپړه توګه شا ته وغورځاوو، داسي لکه چې هغوی په هيڅ نه پوهېدل او په ځای ئې سحر او جادو، فال او تعويذونو ته پناه يووړه، د الله تعالی د بندګۍ په ځای د خپل نفس او هوی او هوس بندګان شول، له هري هغې بلنې سره ئې مخالفت کولو چې د دوی له هوی او هوس سره ئې تصادم کاوو، دا مخالفت به ډېر ځلي هغه پړاو ته ورسېدو چې د الله تعالی او حق لوري ته بلونکي او داعيان او آمرين بالمعروف ئې يا تکذيبول او يا وژل، په دوی کې له مرګ وېره، له ژوند سره ژوره او افراطي مينه راپيدا شوه، که څه هم دا به له ذلت او سپکاوي ډك ژوند وو، دا هغه اساسی او مهم عوامل وو چې دوی ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړل.

## د قائد څو ورځنی غیابت او په ټګمار مشر پسي تلل

عظیم الشأن قرآن فرمايي چي موسی علیه السلام د تورات راوړلو لپاره د طور غره ته ولاړ، لا څو ورځي نه وې تېري شوې چي په دوی کي د سامري په څېر جهل او شرك ته بلونکی راپیدا شو، دوی ته ئې د سخوندر په بڼه کي بُت جوړ کړ، د هغه خوا ته دېره شول او هغه ئې د معبود په توګه ونیو، له سرو او سپینو زرو جوړ شوی سخوندر ئې معبود شو او هغه ئې د خدای او بنده تر منځ واسطه او وسیله وګڼلو!! قرآن فرمايي:

وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ۝٥١ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝٥٢ البقرة

او بیا هغه وخت چي موسی ته مو د څلوېښتو شپو وعده ورکړه، بیا تاسو په ظالمانه توګه سخوندر (د معبود په توګه) ونیو. خو له دې سره سره مو تاسو ته عفو وکړه چي شکر وکړئ.

د بني اسرائیلو او د هر جاهل قوم یوه ستونزه دا ده چي د صالح مشر او زعیم په شته والي کي په سمه لار راشي، خو چي هغه ترې لږ یوې خوا ته شي، په بې لاري او منحرف مشر راغونډ شي او سمه لار پرېږدي، بني اسرائیل خو داسي وو چي د موسی علیه السلام د دعوت په نتیجه کي ئې نه یوازي په الله ایمان راوړ، بلکي په دې لار کي د کړاوونو او ستونزو ګاللو او له مصره هجرت ته هم چمتو شول، خو چي څو ورځي موسی علیه السلام میقات ته ترې ولاړ، د سامري په شا و خوا راغونډ شول، په هغه پسي ئې اقتداء وکړه او د هغه په وینا (سخوندر) ته په سجده پرېوتل، دوی د څارویو او بوده وو په څېر دي، شپون ئې په هر لوري بېولی شي. د دوی دا جرم د سختي نیوني وړ وو، که موسی علیه السلام نه وی، هغه دروغجن معبود ئې نه وی نسکور کړی او سامري ئې نه وی مجازات کړی، نو د الله ستر عذاب به ورباندي نازلېدو، خو الله تعالی د همدې په وجه ورته عفو وکړه. د دې نعمت مقتضی خو دا وه چي تاسو تل د الله شاکر بندګان وی او هیڅکله مو د شرك او عصیان لار نه وی غوره کړې.

لکه چي ګورئ دلته قرآن؛ شرك د ظلم په نامه یاد کړی، د دې په وړاندي باید لږ توقف وکړو او وګورو چي دا ولي؟ او دا شرك د چا په اړه او څنګه ظلم دئ؟ دا چي انسان د خپل عقل او شعور په خلاف، داسي څه او څوك له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کي شریکوي او د الله تعالی تر څنګ د هغه ستاینه او لمانځنه کوي، دعاء ورته کوي او مرسته ترې غواړي چي بې وسه او ناتوانه مخلوق دئ، نه څه پیدا کولی شي، نه کومه ګټه رسولی شي او نه کوم ضرر دفع کولی شي، دا په خپل عقل او شعور ستر ظلم دئ، دا چي الله تعالی ته مختص صفات د ده مخلوق ته منسوبېږي دا د الله تعالی په اړه ستر ظلم دئ. هغوی د موسی علیه السلام په څېر د ستر پیغمبر او د خپل ناجي لار پرېښوده او د مکار او ټګمار سامری په لومي کي ونښتل، سامري له سرو او سپینو زرو داسي سخوندر ورته جوړ کړ چي

مخصوص غبر به ترې پورته کېدو.
قرآن موږ ته وايي چې له سرو او سپينو زرو بُت جوړول د سامري کار دئ!! واقعاً چې د سرو زرو معبد او معبود جوړل د هغو ټګمارانو کار دئ چې د سامري په څېر وي!! هيڅ واقعي خدای پالونکی به په دې راضي نه شي چې د الله تعالی په نامه دي له غولېدلو عوامو سره زر تر لاسه شي او هغه دي په داسي مواردو کې مصرف شي، واقعي الهي دين هغه دئ چې خلکو ته وايي: د الله تعالی د بې وزلو بندګانو مرسته وکړئ، شتمنۍ مو د خير په کارونو کې، د وږو په مړولو کې، د بربنډو په پټولو کې، د بيمارانو په تداوي کې او د مسکينانو په لاس نيوي کې ولګوئ، سره او سپين زر مه ذخيره کوئ، چا چې ذخيره کړل ځای ئې جهنم دئ!!
له مصر وتلو او د آزادۍ له لاس ته راوړلو وروسته، بني اسرائيل يوه داسي لارښود کتاب ته اړ وو چې د دوی فردي او اجتماعي ژوند تنظيم کړي، الله ورته تورات ولېږو، چې هم ضروري احکام او قوانين پکې وو او هم د ښه او بد د پېژندو او د مفيد او مضر تر منځ د فرق کولو او تفکيك روښانه او څرګند معيارونه، د همدغه کتاب په ترڅ کې دوی ته حکم وشو چې د سامري په متابعت او له سخوندر ځان ته په معبود جوړولو سره مو ستر ظلم او جفا کړې، د دې لوی جرم د جبران لپاره بايد په يوه ستر جهاد لاس پوري کړئ. ځيني ګناهونه داسي وي چې په يوازي توبې سره ئې الله تعالی نه بخښي، د توبې قبلېدل ئې شرائط او لوازم لري، د بني اسرائيلو دا ګناه دومره ستره وه چې د توبې قبلېدا ئې په دې مشروط شوې وه چې وسله به اخلي او د هغو کسانو په خلاف به جهاد اعلانوي چې د شرك لار ئې غوره کړه او سخوندر ئې ځان ته معبود کړ. له دې معلومېږي چې په ځينو حالاتو کې يوازي ګناه کوونکی نه بلکې د ګناه ليدونکی به هم کفاره ورکوي. د هغو بني اسرائيلو لپاره چې د سخوندر د لمانځني مخنيوی ئې نه وو کړی دا کفاره وټاکل شوه چې د مشرکانو په ضد به وسله وال جهاد پيلوي. د دې مبارك آيت واضح او څرګنده معنی همدا ده، په نورو آيتونو سره هم د دې وضاحت شوی، لکه څنګه چې په بل آيت کې دې ته ورته الفاظ داسي راغلي: "ولاتخرجون انفسکم من ديارکم": خپل ځانونه (يعني خپلوان مو) له خپلو کورونو مه شړئ، او ورپسې د دې تشريح داسي شوې: "وتخرجون فريقاً منکم من ديارهم": او خپله يوه ډله له خپلو کورونو باسئ، دا ښيي چې له "فاقتلوا انفسکم" مراد دا دئ چې د خپل قوم همغه مشرك کسان ووژنئ. خو د بايبل د غلطي وينا تر اغېز لاندي ځينو له انفسکم مراد خپل ځان وژل اخيستی!! د بني اسرائيلو دا ګناه د هغو افغانانو ګناه ته ورته ده چې د روسانو په ضد له جهاد وروسته امريکايانو ته تسليم شول او پر خپل هېواد ئې د دوی سلطه او د دوی په لاس تپل شوي حکام ومنل. پرون ئې د خدای پالونکو مجاهدينو د ملګرتيا او د الله تعالی د بندګۍ دعوی کوله خو نن ئې د ډالرو د بُت په وړاندي سر ټيټ کړی او د امريکايانو تر قوماندې لاندي د خپل ولس په ضد جنګېږي!!
د قرآن په نورو آيتونو کې دا بهير په دې توګه انځور شوی:

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنۢ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ
غَضْبَٰنَ أَسِفًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ
أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴿٨٦﴾ قَالُواْ مَآ أَخْلَفْنَا
مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِيُّ
﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ فَقَالُواْ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴿٨٨﴾
أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ
مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓاْ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُواْ
لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ
ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓۖ إِنِّى
خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِىُّ
﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ
سَوَّلَتْ لِى نَفْسِى ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا
لَّن تُخْلَفَهُۥۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِى ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًاۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ
نَسْفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ طه

وئې فرمايل: يقيناً چي له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل، نو موسی خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو، وئې ويل: اې زما قومه! آيا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آيا (د وعدې دا) موده درباندي اوږده شوه، يا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب درباندي راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ، وئې ويل: موږ په خپلي خوښي او واك سره ستا له وعدې نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د گاڼو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چي رمباړه ئې وه او وئې ويل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ او (حق خبره ئې) هېره شوه، آيا دې ته ئې نه کتل چي هيڅ خبره نه ورگرځوي (د خبري ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومي گټې واك لري او نه د څه تاوان، او يقيناً چي هارون تر دې د مخه ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چي په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د

امر اطاعت وکړئ، وئې ويل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو چې موسی راوګرځي، وئې ويل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې وموندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آيا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ويل: اې زما د مور بچيه! تر ږيرې او تر سر مې مه نيسه، زه له دې ووېرېدم چې ته به (راته) وواېې: په بني اسرائيلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وينا خيال دې ونه کړ، وئې ويل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ويل: هغه څه مې تر سترګو شول چې د نورو تر سترګو نه شول، نو د پيغمبر له آثارو مې يو موټ تر لاسه کړل، بيا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښايسته کړ، وئې ويل: نو درومه او ستا لپاره به د دنيا په ژوند کې دا ويل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخی ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بيا به ئې د ايرو په څېر په سيند کې وشيندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې.

ګورئ چې قرآن (طلايي بُت) جوړول د (سامري) کار ګڼي، موږ ته د ټولو طلايي معبودانو او معبدونو حقيقت بيانوي او لارښوونه راته کوي چې که چېرې تاسو ته داسې معبد او معبود په نظر درشي چې له سرو او سپينو زرو جوړ شوی نو پوه شئ چې د دې په جوړولو کې حتماً د کوم سامري لاس وو!! قرآن موږ ته سامري او د هغه ځانګړتياوې داسې معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصيرت نسبتاً زيات دئ، يعني شيخ او ملا دئ، هم خلك ورته د پوه په سترګه ګوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه ګڼي، د پيغمبر له لارښوونو، شعارونو او علومو ئې هم څه برخه تر لاسه کړې، خو په نيمې لارې کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. يعني د شرك بنسټ د هغو ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس ايښودل شوی چې د پيغمبر له آثارو او د دين له ويناوو ئې څه برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بُت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له ګاڼو او پيسو او ورته ويلي ئې دي: دا ستاسو رب دئ او په دې توګه ئې خلك د الله تعالی په ځای د (سخوندر) عبادت ته چمتو کړي!! ښايي بې مناسبته به نه وي چې د مطلب د مزيد توضيح لپاره يوه قصه رانقل کړم، له يوه دوست سره له ناګمان نومې سيمې پېښور ته راتلم، په لارې کې مې د جونګي بابا په نامه لوحه تر سترګو شوه، پوښتنه مې وکړه چې جونګی بابا څوك وو؟ موږ خو د اوښ بچې ته جونګی وايو، هغه راته وويل: څو کاله مخکې دلته د سړك په غاړه يو مړی وموندی شو، ناپېژاندو کسانو وژلی وو، کوچی وو، اوښه ورسره وه، خوا ته ئې پر زمکه چو وه، خلك راغونډ شول اوښه ئې ټومبله خو هغه له خپل ځای نه خوځېده، په همدې حال کې چې د خلکو ګڼه ګوڼه زياتېده، يو ملنګ راغی، دا صحنه ئې ولېده او په يوې ګوښې کې ئې خپل څادر وغوړاوو او غږ ئې کړ: واچوئ د جونګي بابا په نامه، خدای مو وبخښه واچوئ د جونګي بابا په نامه!! مړی همدلته ښخ او هغه ملنګ ئې مجاور شو او ورو ورو د جونګي

بابا زیارت پرې جوړ شو!! ډېر زیارتونه همداسې جوړ شوي!! ځیني ئې د ملنګانو په لاس او ځیني ئې د ملکانو او پاچایانو په لاس!! دواړو د خلکو د غولولو او شکولو لپاره دا کار کړی.

کله چې بني اسرائیل له مصره وتل، د لارې په اوږدو کې د داسې قوم خوا ته تېر شول چې بُتان ئې درلودل، دوی هم له موسی علیه السلام وغوښتل چې همداسې کوم بُت ورته جوړ کړي، موسی علیه السلام سخت ورټل او دا ئې د یوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وګڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درك کړه، منتظر وو چې په کوم مناسب فرصت کې ترې ګټه واخلي، پوه شو چې دا خلك تر سترګو کېدونکی خدای غواړي، د ولس جاهلانه تلوسې او د موسی علیه السلام موقت غیابت دا موقع په لاس ورکړه، په بېړه پاڅېد، خلکو ته ئې وویل: باید د نورو قومونو په څېر د دعاء او عبادت پر مهال د خدای انځور زموږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خدای قدرت او ځواکمني باید د سخوندر په بڼه کې انځور کړو، که تاسو خدای منئ نو خپلې ګاڼې راوړئ، دوی ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه کړه چې کله کله به رمباړه ترې پورته کېده، قوم ته ئې وویل: دا همغه خدای دئ چې تاسو ئې له مصره وایستئ!! د ګاڼو له غونډولو معلومېږي چې ښایي په دې کار کې د ښځو ونډه تر نارینه وو زیاته وه!!

قرآن د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وایي: جاهل قومونه ډېر ژر د ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو په لومو کې ښکار شي، دین پلورونکي ئې د دین په نامه دوکه کړي، سامري ئې مذهبي مشر شي او د سرو زرو سخوندر ئې معبود! د خدای په ځای ئې د سخوندر په وړاندې سر ټیټولو ته چمتو کړي، هم ایمان ترې واخلي او هم ئې شتمنی، د سرو زرو بُت ورته جوړ کړي خو له دوی د اخیستل شوو سرو زرو له یوې ورې برخې!!

دې ته مو هم باید پام وي چې قرآن د موسی علیه السلام عکس العمل ډېر توند، جدي او غضبناك ښيي، وایي چې د دې صحنې په لیدلو سره هغه د تورات لوحې لرې وغورځولې او هارون علیه السلام ئې د سر او ږیرې له وېښتانو ونیو، د قرآن الفاظ دا دي:

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ الاعراف

او کله چې موسی خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېدو وئې ویل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نیابت کړی، آیا د خپل رب په کار کې مو دومره تلوار وکړ؟ (داسې ژر مو د الله تعالی په ځای د بُت عبادت پیل کړ؟) الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونیو او د ځان په لورې ئې راښکود، (ورور ئې) وویل: زما د مور بچیه! قوم کمزوری وګڼلم، نژدې

وو ومې وژني، نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! وئې ويل: زما ربه! ما ته بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کې مو داخل کړې او ته خو يقيناً چې تر ټولو رحم کوونکو زيات رحم کوونکی يې.

دا آيتونه موږ ته وايي:

- موسی علیه السلام خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېد، له يوې خوا سخت غصه وو او له بلې خوا ئې د دې ناپوه قوم په حالت تأسف کولو چې څنګه دومره ژر دوکه شول او د شرك په ګنده ډنډ کې پرېوتل.
- ورور ته ئې وويل: زما بد نيابت دې کړی.
- له ډېرې غصې ئې الواح پر زمکه وغورځولې.
- خپل ورور ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښکود.
- هارون عليه السلام د يوه مطيع او صالح ورور په توګه ورته وويل: ما خپله دنده تر سره کړې، دوی مې له دې کاره منع کړي، خو راباندې برلاسي شول، نژدې وو ما ووژني، له ما سره دا انديښنه وه چې ته به مې پر دې ملامتوې چې ولې دې په قوم کې اختلاف راولاړ کړ او زما تر راتلو دې انتظار ونه کړ، خو د انتظار خلاف ګورم چې ته مې رټې، دښمنان مه راباندې ښادوه، مه مې د ظالمانو له ډلې شمېره او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ظالمان ئې کوي!
- د هارون عليه السلام د خبرو له اورېدو وروسته حقيقت ورته جوت شوی، له تحقيق او پوښتنې ګوېږنې مخکې د هارون عليه السلام په اړه دا کار ئې خپله غلطي او اشتباه ګڼلې، د ځان او خپل ورور لپاره ئې د مغفرت او رحمت دعاء کړې.
- په دې قصې کې د موسی عليه السلام لوړ همت، جلال او ديني غېرت انځور شوی، دا ئې نشو زغملی چې د ده قوم د شرك په ډنډ کې پرېوځي، ګمان ئې کړی چې هارون عليه السلام تساهل او نرمي کړې، نو ځکه ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښکود. هيبت ئې هومره چې نه ئې سامري مخې ته ودرېدی شو او نه د هغه مشرك پلويان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعْدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٥٣﴾ الاعراف

يقيناً هغه چې سخوندر ئې (د معبود په توګه) ونيولو، د خپل رب په غضب به اخته او په دنيوي ژوند کې به ئې ذلت په برخه شي، افتراء کوونکو ته همداسې سزا ورکوو. او هغو چې بد کارونه ئې کړي، بيا ئې له دې وروسته توبه کړې او ايمان ئې راوړی، بې شکه چې ستا رب له دې وروسته مهربان بخښونکی دئ.

دلته د مرتد شوو سزا بیان شوې:

- د الله تعالی غضب، د بقرې په سورې کې د دې غضب وضاحت شوی، د دوی په ضد د جهاد اعلان شوی او وژل شوي. دا د موسی علیه السلام په دین کې هم د مرتد سزا وه او په اسلام کې هم.
- دنیوي ذلت، که له وژلو وژغورل شي او په تېښته بریالي شي، نو تل به په ذلت او سپکاوي کې ژوند کوي.
- خو څوك چې له هغه بد کار چې د ارتداد مترادف وي، توبه وکړي، بېرته ایمان راوړي، نو امید دئ الله تعالی ورته بخښنه وکړي، ځکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

ګورئ چې د موسی علیه السلام چلن جدي وو، له خپل نائب سره هم او له سامري او د سامري له پلویانو سره هم، خپل ورور د سر او ږېرې له وېښتانو نیسي، په قهر او غصې سره ئې د ځان په لوري راکاږي، ورته وایي: ولې دې د سامري او د هغه د پلویانو د شرك په وړاندې سکوت وکړ؟ کله چې دې دوی ولیدل د الله تعالی په ځای د سخوندر عبادت کوي ولې دې مخنیوی ونه کړ؟ هغه ورته وایي: اې زما د مور زویه! "ای زما وروره!" زه قوم بې وسه کړم، نژدې وو چې ما ووژني، دښمنان مه راباندې خوشحالوه! او ما د ظالمانو له جملې مه ګرځوه! ما مه د دوی ملګری ګڼه او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ستا په وړاندې بې ادبي وکړم او له ظالمانو شم، ورته وایي: ما تر ډېره حده د دوی مقابله وکړه، حتی له ما سره دا وېره راولاړه شوه چې ته به له راګرځېدو وروسته ما په دې ملامت کړې چې ولې دې زما تر راتلو انتظار ونه کړ؟ ولې دې په ولس کې اختلاف راولاړ کړ؟ ولې دې د ولس د وحدت او یووالي خیال ونه ساتو؟

موسی علیه السلام بُت ټوټې ټوټې کوي، بیا ئې سوزوي او ایرې ئې په اوبو کې غورځوي، او سامري ته داسې سزا اعلانوي چې هر څوك به ترې لرې ګرځي او له لاس وروړو به ځان ساتي.

قوم د دې صحنې په لیدو سره توبه کوي او ندامت ښیي، الله تعالی ئې توبه قبلوي، دا د الله تعالی سنت دئ، تر هغه چې په یوه قوم کې داعي وي، د خیر طرف ته بلنه وي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر وي، په ولس کې داسې خلك وي چې دوی د خیر، صلاح او ښېګڼې په لوري بلي، په دوی کې د توبې او اصلاح امکان وي، الله تعالی خپل نهائي او ورستی عذاب نه پرې نازلوي، د توبې دروازې ورته خلاصې پرېږدي، توبه ئې قبلوي، د موسی علیه السلام د شتون له امله د شرك په څېر د ستر تېري سره سره د دوی توبه قبلوي، خو د دوی په توبه کې دا لازمي ګڼي او د توبې قبلېدا ئې له دې سره مشروطوي چې د شرك کوونکو او مفسدینو په ضد به د جهاد اعلان کوي او ټول به په دې جهاد کې برخه اخلي، دا به د دوی هغه ګناه جبیره کړي او په دې توګه به ئې الله تعالی توبه قبوله کړي. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلۡعِجۡلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ

بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ البقرة

او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! بې شکه چې د سخوندر په (معبود) نیولو سره تاسو پر خپل ځان ظلم کړی، نو د خپل رب لوري ته مخه او توبه وکړئ او (مشرك شوي) خپلوان مو ووژنئ، دا د خپل رب په نزد کې درته غوره دئ، ستاسو توبه به قبوله کړي، بې شکه چې هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ.

دوی په څو ډلو وویشل شول، هغه چې د بُت عبادت او لمانحنه ئې کړې وه، هغه چې د دوی مخالفت ئې کړی وو، او هغه چې نه ئې د بُت عبادت کړی او نه ئې د بُت پالونکو مخالفت. هغه کسان چې بُت ئې نه وو لمانځلی مأمور شول چې د مشرك شوو په خلاف باید جنگ پیل کړي، هغوی باید په قتل ورسېږي. ذالکم خیرلکم عند بارئکم: همدا د خدای په وړاندې تاسو ته غوره دئ، په همدې سره به ستاسو توبه قبلوي، یقیناً چې هغه مهربان توبه منونکی دئ، نه یوازې توبه قبلوي بلکې د توبې منلو تر څنگ خپله پېرزوینه او رحمت هم د توبه کوونکې په حال شاملوي.

## ذلت، مسکنت او د خدای غضب ئې پایله

قرآن د بني اسرائیلو د بې صبرۍ سزا او پایله داسې انځوروي:

وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّۦنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ البقره

او هغه وخت چې تاسو وویل: اې موسی! په یوه رنگ خوراك هیڅکله صبر نه شو کولی!! نو خپل رب ته دې زمونږ لپاره دعاء وکړه چې مونږ ته هغه څه راوباسي چې زمکه ئې راشنه کوي: له ساگ سابه ئې، تره او بادرنگ ئې، غنم ئې، نسك ئې او پیاز ئې، وئې ویل: آیا د هغه څه په عوض کې چې غوره دئ هغه څه غواړئ چې راټیټ او ناغوره دئ، نو مصر ته کوز شئ، چې هلته هغه څه تر لاسه کړئ چې تاسو ئې غوښتنه وکړه، نو سپکاوی او خواري ورباندې وټپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا په دې خاطر چې د الله آیتونه ئې تکذیبول او پیغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصیان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

هر څوك چې په خپل حلال رزق قناعت ونكړي او د الله په لار كې د جهاد په سنگرونو كې صبر له لاسه وركړي، نو له ذلت، سپكاوي او خوارۍ سره به ئې مخامخ كوي. په دوى كې به ترټولو د مخه د عصيان او د دين له حدودو تېرى او د بل په حقوقو د تجاوز او تعدي بيماري خوربږي، دا بيماري به هغه حد ته رسي چې د پيغمبر او حق پالونكو داعيانو د مخالفت حتى وژلو لپاره به ملا وتړي او د الله له آيتونو به انكار وكړي. دې مطلب ته مو بايد پام وي چې د آدم عليه السلام په قصې كې هم په جائز رزق عدم اكتفاء او ممنوعه شجرې ته لاس غځول له جنت د وتو باعث شو او ورته وويل شو (اهبطوا) او بني اسرائيلو ته هم په همدې سبب وويل شو: (اهبطوا)، له دې معلومېږي چې د انسان د سقوط او له لوړو پوړو د راپرېوتو يوه اساسي وجه همدا بې صبري او په خپل جائز رزق قناعت نه كول دي. د بني اسرائيلو په دې قصې كې هغه مطلب په لازيات تفصيل سره راغلى چې په جنت كې د آدم عليه السلام د ځاى په ځاى كېدو او بيا له هغه د وتو په قصې كې په اختصار سره راغلى. دا قصه د هغې شرح ده، په دې كې د شجرۀ ممنوعه حقيقت په ډاگه شوى، دا يوه مېوه وه نه بل څه، له شجرۀ ممنوعه هر بل تعبير بې بنسټه او غلط دئ او د قرآن د دغې شرحې مخالف. شكاك ذهنيتونه د آدم عليه السلام د پيدايښت، په جنت كې ځاى په ځاى كېدل، شجرۀ ممنوعه او له جنت كوزېدل او د دې قصې له ټولو برخو داسې څه جوړوي چې غير طبيعي، خارق العاده او د ده د اولاد له هر څه سره توپير ولري، حال دا چې قرآن د آدم عليه السلام په قصه كې موږ ته خپل ځان رامعرفي كوي، په دې هينداري كې بايد مونږ خپله څېره وگورو او د انسان د عروج او زوال په عواملو پوه شو!!

## د الهي احكامو په منلو او تعميل كې لټې او تعلل

دوى د الله تعالى د صريح او څرگندو احكامو په وړاندې تعلل كاوو، په يوه او بله بهانه او په يوې او بلې توجيه سره به ئې د ځان خلاصولو او په حكم عمل نه كولو هڅه كوله، د دې انحراف يوه بېلگه ئې د هغې پېښې په ترځ كې زموږ مخې ته ږدې چې دوى ته د يوې غوا د ذبح كولو امر وشو، دا ځكه چې هغوى د سامري د سخوندر عبادت وكړ، د هغه مينه ئې زړه ته ولوېده، له دې د خلاصون لاره دا وه چې دوى هغه غوا ذبح كړي چې سپېڅلې ئې گڼله، خو دوى په يوې او بلې بنې كې د دې حكم له تعميل سرغړاوى كاوو، قرآن فرمايي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ
بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَـٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ
إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا
رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّـٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ﴿٧٠﴾
قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ
قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧١﴾ البقرة

او كله چې موسى خپل قوم ته وويل: الله درته امر كوي چې يوه غوا ذبح كړئ، وئې ويل: آيا په مونږ ملنډې وهې؟ وئې ويل: الله ته له دې پناه وړم چې له جاهلانو وم. وئې ويل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وكړه چې مونږ ته ئې څرگنده كړي چې دا څه ده؟ وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي غوا ده چې نه زړه ده، نه وړه، ځوانه؛ د دې تر منځ، نو په څه چې گمارل شوي يئ هغه تر سره كړئ. وئې ويل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وكړه چې مونږ ته ئې څرگنده كړي چې رنگ ئې څنگه دئ؟ وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي تكه زېړه غوا ده چې ليدونكي ښادوي. وئې ويل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وكړه چې مونږ ته ئې څرگنده كړي چې دا څه ده، مونږ خو دې غوا په شك كې اچولي يو او كه الله كول مونږ به حتماً هدايت موندونكي شو. وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي غوا ده چې نه خوارکۍ ده چې زمكه يوې كوي او نه كښت خړوبه كوي، روغه رمټه چې هيڅ ټاپی په كې نشته، وئې ويل: اوس دې سمه (د حق) خبره راوړه، نو هغه ئې په داسي حال كې ذبح كړه چې نژدې وو وئې نه كړي.

دلته د بني اسرائيلو په څېره كې د هغو خلكو حالت توضيح كېږي چې د الله د عبادت له لوړ مقام د سخوندر په څېر د يوه دروغجن معبود د عبادت ټيټ او پرېوتي مقام ته راپرېوځي، بيا په دې دروغجن معبود داسي كلك ودرېږي چې د هغه په ضد د پيغمبر د هغي خبري په منلو كې زړه نازړه وي چې الله ورته ويلې، دا دئ گورئ چې بني اسرائيلو د هغه (الله) په ځاى چې دوى ته ئې موسى عليه السلام ولېږو او له فرعون ئې وژغورل، (سخوندر) غوره كړ او چې موسى عليه السلام ورته وويل: د دې خبري د اثبات لپاره چې تاسو بېرته الله ته راگرځېدلي يئ او د سخوندر عبادت مو پرېښى، نو يوه غوا ذبح كړئ، خو دوى چې له زړه دې كار ته چمتو نه وو نو كله به ئې ويل: په مونږ خو به ملنډې نه وهې؟ او كله دا چې عمر ئې څومره دئ، رنگ ئې څنگه دئ، څه كار ترې اخيستل كېږي؟ دا ټولي خوشې حيلې او بهانې وې، اصلي خبره دا وه چې د دوى په زړونو كې د دې دروغجن معبود احترام او مينه په خپل حال پاته وه او پرېښودلو ته ئې چمتو نه وو. د هر جاهل او مشرك قوم وضع همداسي وي، په خپل شرك ټينگار كوي، شيطان ئې دې ته نه پرېږدي چې له خپلو (جعلي او دروغجنو معبودانو) لاس واخلي. د ايمان دروغجن مدعيان هم د بني اسرائيلو په څېر وي، چې كله د دين د كوم داسي څرگند او صريح حكم عملي كولو ته راوبلل شي چې د دوى له نفسي غوښتنو سره تصادم كوي نو په راز راز بهانو او حيلو لاس پوري كړي او خپلې سرغړوني ته رنگ رنگ مذهبي توجيهات برابروي.

## خپل منځي قتلونه او له قاتل دفاع

د موسی علیه السلام تر بعثت وړاندې په بني اسرائیلو کې له دین د انحراف په وجه د خپلمنځي قتلونو، له قاتل دفاع او د بل د تورنولو لړۍ پیل شوې وه. قرآن فرمایي:

وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٧٣﴾ البقره

او کله چې تاسو یو کس ووژلو او بیا د ده په اړه په اختلاف اخته شوئ او الله د هغه څه رابرسېره کوونکی وو چې تاسو پټولو. نو ومو ویل: هغه ئې په یوې برخې ووهئ، همدا راز الله مړي راژوندي کوي او خپلې نښې درښیي چې تعقل وکړئ.

د موسی علیه السلام په زمانه کې یوه کس بل ووژلو، د قاتل قبیلې بل څوك په قتل تورن کړ، نژدې وه د دوو کورنیو او بیا د دوو قبیلو تر منځ یوه بله خونړۍ جګړه پیل شي، الله تعالی اراده وکړه چې دا شخړه د موسی علیه السلام په لاس حل شي، بني اسرائیلو ته ئې د یوې غوا د ذبح کولو امر وکړ، دوی له ډېر ځنډ او ډېرو پوښتنو وروسته دې کار ته چمتو شول او هغه ئې ذبح کړه، ورته وویل شو چې اوس نو د دغې غوا په یوې برخې دا مړی ووهئ، همداسې ئې وکړل، هغه د څو شېبو لپاره راژوندی شو او خپل قاتل ئې وښود، په دې سره له یوې خوا د هغې محتملې خونړۍ جګړې مخه ونیول شوه او له بلې خوا بني اسرائیلو ته وښودی شوه چې ستاسو د دغه دروغجن مقدس معبود په ذبح کولو سره ستاسو لانجې حل کېږي، نه هغسې چې تاسو ګومان کولو چې معمولې بې احترامي به ئې د سترو سترو مصیبتونو راپرېوتو باعث شي. دا مبارك آیت مونږ ته دغه مطلب په ګوته کوي چې یوازې دین کولی شي د خلکو د سر او مال خوندي پاته کېدل تضمین کړي او په یوه بل د تېرې مخه ونیسي، چېرته چې دین نه وي نه به د خلکو سر خوندي وي، نه مال او نه عزت. ممکنه نه ده چې له دین پرته په بل څه امنیت راشي او پر یوه بل د تېرې مخه ونیول شي.

## د الله په کتاب کې تحریف

د دوی علماءو د الله کتاب تحریف کړ، د کتاب له آیتونو به ئې داسې تعبیر او تفسیر وړاندې کاوو چې نه به ئې د آیت له الفاظو سره اړخ لګاوو او نه له محتواء سره، په غلطو تأویلونو او تعبیرونو سره ئې حرام حلالول او حلال ئې حرامول، د همدې لپاره الله تعالی مؤمنانو ته وایي چې له دوی څنګه د دې طمع کوئ چې ستاسو دعوت ومنې او ایمان راوړي؟! قرآن فرمایي:

أَفَتَطۡمَعُونَ أَن يُؤۡمِنُواْ لَكُمۡ وَقَدۡ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٧٥﴾ البقرة

آيا دا طمع لرئ چې دوی به ايمان درته راوړي، حال دا چې د دوی يوه ډله د الله کلام اوري خو د هغه په مطلب له پوهېدو وروسته ئې تحريفوي په داسې حال کې چې پوهېږي.

مسلمانانو ته ويل شوي چې د بني اسرائيلو له مذهبي مشرانو دا طمع مه کوئ چې ايمان به راوړي، له هغه چا چې د الله کلام ئې اورېدلی، د الله په کتاب پوه شوی، خو سره له دې په هغه کې تحريف کوي، غلط ئې تعبيروي، غلطي او د ظالمو حکامو په ګټه فتواګانې ترې راباسي، له دوی د ايمان راوړو طمع بې ځايه ده.

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ آل عمران

او د دوی يوه ډله داسې ده چې په خپلې ليکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب يوه برخه وبولې، په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي په داسې حال کې چې د الله له خوا نه دي، په الله پورې دروغ ترې سره له دې چې ښه پوهېږي.

ګورئ چې دا مکاره او ټګماره ډله خپلې ليکنې او خپلې خبرې د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چې دا خبرې نه د الله تعالی په کتاب کې شته او نه د الهي کتاب معنی هغه ده چې دوی ئې وايي. په دې آيت پسې له ذکر شوو نورو آيتونو دا په ډاګه معلومېږي چې په دې رنځ اخته کسان يا هغه خلك دي چې له دين ناوړه ګټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واکمنان دي چې له دين د خپل زعامت او واکمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلکو د غلامۍ آله ګرځوي او يا هغه کسان دي چې غواړي پيغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لارې امتيازات لاسته راوړي، همدا کسان دي چې ځينې شخصيتونه د الوهيت تر مقامه پورته کوي، د الله شريکان ئې جوړوي، د علم غيب خاوند او د عالم په امورو کې د تصرف حق ورته ثابتوي، له دوی مرسته او پردوی توسل لازمي ګڼي او ادعاء کوي چې يوازې د دوی له لارې د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن دي!! دوی دا ادعاګانې له دغو درنو شخصيتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکې له دې ئې هدف خپلې ګټې وي، غواړي په همدې سره خپل مقام اوچت کړي، ځکه دوی ځان د دغو شخصيتونو د مادي او معنوي مقام وارث ګڼي، هر کرامت چې د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته راګرځي، له همدې د امتيازاتو د لاسته راوړلو وسيله جوړوي.

قرآن د دوی د علماءو په باب فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١ البقره

او كله چي د الله له لوري داسي استازى ورغلى چي له دوى سره د شته كتاب تصديق كوونكى وو نو د دغو خلكو چي كتاب وركړي شوى؛ يوې ډلي د خداى كتاب داسي شا ته غورځولى لكه چي په هيح څه نه پوهېږي.

يعني د هر نوي دعوت او هر نوي دعوتگر په خلاف ئې داسي سلوك او چلن غوره كړى لكه په كتاب د نه پوهيدونكو خلكو، د خداى كتاب او كلام ئې داسي هېر كړى او شا ته ئې غورځولى چي گواكي اصلاً د كتاب په هيڅ څه نه پوهېږي، دا د هغه چا حال وو چي څه نا څه په كتاب پوهېدل، د دوى ځينو د الله كتاب داسي هېركړ لكه چي په څه نه پوهېږي، خو د دوى بله ډله داسي وه چي په خپل لاس به ئې څه وليكل او هغه به ئې د الله تعالى له لوري گڼل! قرآن د دوى په اړه فرمايي:

فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩ البقرة

افسوس د هغو په حال چي كتاب په خپل لاس ليكي بيا وايي: دا د الله له لوري دئ، چي ناڅيزه بيع پرې تر لاسه كړي، افسوس د دوى د لاسونو پر ليكني او افسوس په هغه څه چي دوى ئې تر لاسه كوي.

علماء او اهل كتاب ئې داسي دي چي په خپل لاس ليكلې او له خپل غرض او مرض راخوتېدلې فتوى؛ الله او د هغه دين ته منسوبوي، هدف ئې دا وي چي په دې سره څه متاع، يو ټوك ډوډۍ او كومه چپنه او پگړۍ تر لاسه كړي، خو عوام ئې داسي چي په كتاب او د هغه په لارښوونو خبر نه دي، په كتاب د ايمان دعوى فقط دومره كړي چي په دوى كې ئې څه دروغجني هيلي او اميدونه راولاړ كړي او څه گومانونه ورسره راپيدا شوي، هيلي ئې دا دي چي جنت ته به درومي او گومان ئې دا چي د كتاب او الهي لارښوونو په اړه دوى كوم تصور لري او خپلو منحرفو مذهبي مشرانو ورته څه ويلي، همدا حقيقت دئ او د الهي حقيقي دين اصلي غوښتنه، دا دواړه ډلي (ټگمار او دين پلورونكي علماء او له دين بې خبره عوام) د تأسف وړ دي خو اصلي مجرمان او د ډېر تأسف وړ هغه علماء دي چي دين تحريفوي او د دنيا په متاع ئې پلوري!!

د ثمناً قليلاً په اړه ځيني مفسرين وايي چي دوى د الله تعالى د كتاب آيتونه په داسي بيع خرڅوي چي كه څه هم ډېره لوړه وي خو د دې آيتونو په پرتله ناڅيزه بيع ده، خو غوره توجيه دا ده چي د دوى د فتواگانو بيع ډېر كمه وي، ارزانه اخيستل كېږي، د خداى دين او خپل آخرت په ارزانه بيع پلوري. خو همدا په ارزانه بيع اخيستل شوي مفتيان به د

حق په مخالفت کې په لومړي صف کې ولاړ وو او د حقپالو مقابله به ئې کوله!! نو ځکه قرآن ورته وايي: و لا تکونو اول کافر به: او لومړي کافران او منکران ئې مه کېږئ!! په کار دا ده چې تاسو لومړني مؤمنان وئ، او تر ټولو مخکې تاسو پرې ایمان راوړی وی.

دلته خطاب د اهل کتاب علماءو ته متوجه دئ، په قلیله بیع د خدای د آیتونو له خرڅولو یا مراد دا دئ چې په ډېره ارزانه بیع او قیمت به ئې فتواګانې ورکولې، او یا ئې مراد دا دئ چې دوی د دې لپاره د الله تعالی احکام شا ته غورځول او د الله د کتاب آیتونه ئې پټول او له څرګندولو ئې ډډه کوله چې له کوم خطر سره مخامخ نشي، خپله وظیفه او معاش له لاسه ورنه کړي، له کوم مالي تاوان او زیان سره مخ نشي، قرآن همدا کار دې ته ورته بولي چې څوك په قلیله بیع د خدای آیتونه وپلوري.

د آیت په پای کې راغلې دا فقره (و ایای فاتقون) هم دغه مطلب افاده کوي چې د ګواښونو، خطرونو او مالي تاوان له وېرې ئې دا کار کاوو نو ځکه الله تعالی ورته فرمایي چې یوازې له ما ووېرېږئ.

دوی به کله حق پټولو او کله به ئې له باطل سره ګډولو، په دې معنی چې باطل به ئې په داسې بڼې کې وړاندې کاوو او داسې لباس به ئې وراغوستو چې خلکو به د حق ګمان پرې کولو، او حق به ئې په داسې بڼې کې تعبیر او تفسیر کړ چې باطل ترې راووځي او د باطل په ګټه وي، په خپلو غلطو توجیهاتو او تعبیرونو سره به ئې حق او باطل سره خلط کړل. دین پلورونکي علماء تل او د زمانې په هر پړاو کې همدا کار کوي، یوه بېلګه ئې زموږ په ټولنې کې ستاسو مخې ته ږدم: په افغانستان کې د جهاد او هجرت په لومړیو کې همدغو خلکو د قرآن د یوه آیت په نیمایي برخې استناد کاوو او له جهاد ئې خلك منع کول، آیت داسې دئ:

وَأَنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُوا۟ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوٓا۟ ۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ البقرة

او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنین خوښوي.

دا آیت وايي چې د الله په لار کې به د سر او مال له قربانۍ دریغ نه کوئ، که نه نو د عدم قربانۍ په وجه له تباهۍ سره مخامخ کېږئ، په خپل لاس ځان په دې تباهي کې مه غورځوئ، له جهاد او د الله په لار کې له قربانۍ ډډه کول د تباهي او هلاکت باعث او د دښمن په لاس د سپکاوي او تذلیل سبب کېږي، په هیڅ پلمه او بهانه به له دې ډډه نه کوئ. عجیبه ده چې ځیني بې لارې او منحرف خلك په دې څرګند آیت په غلطه سره دا استدلال کوي چې له زورور دښمن سره مقابله، په خطر کې ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سنبال دښمن مخې ته ودرېدل، ځان په هلاکت کې غورځول دي او قرآن هغه تحریم کړي او یا دا چې شهادت طلبانه عملیات روا نه دي، دا ډېر ډېر ناروا

او غلط استدلال دئ، دلته عدم انفاق او له قربانۍ ډډه کول د هلاکت باعث معرفي شوي، له دې دا مفهوم اخيستل چې د زورور او ځواکمن دښمن له مقابلې بايد ډډه وشي او يا په دې سره د شهادت طلبانه عملياتو په ضد استدلال کول ډېر غلط او شرمناك استدلال دئ، نه د ايمان خاوند داسې استدلال کولی شي او نه د عقل او پوهې خاوند، که داسې وي نو قرآن به يو مسلمان د لسو کافرانو په مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغيب لپاره به ئې د ابراهيم عليه السلام هغه قصه نه بيانوله چې په يوازې سر ئې د نمروديانو بُتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ويل چې: كم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَ اللَّهُ مَعَ الصبرِينَ * د الله په اذن سره څومره لږکي ټولگي په لويو ټولگيو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. د بې صبرۍ په وجه ځان وژنه او له الله سره د کلکې مينې په وجه شهادت طلبانه عمليات کول يو له بله ډېر ډېر توپير لري، يو له الله تعالی د يأس او نااميدۍ په سبب دا کار کوي او بل په الله او آخرت د کلك باور او د الله له دين د دفاع په لار کې د سر قرباني کولو په جذبه دا کار کوي، يو کس چې د لسو مقابله کوي په حقيقت کې شهادت طلبانه عمليات کوي، د ده او هغه چا تر منځ هيڅ فرق نشته چې بمونه په ځان پوري تړي او د دښمن هغه ځای ته ځان رسوي او داسې گوزار ورکوي چې له بلې لارې ورته ممکن نه وي.

تر دې آيت وړاندې ويل شوي چې که څوك په تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ (فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ) له دې معلومېږي چې په دې وروستي آيت کې د انفاق مراد د دښمن په ضد جهاد کې مالي او ځاني قرباني ده. که دا دواړه آيتونه يو ځای او د يوه مضمون د متصلو برخو په توگه په پام کې ولرو نو له دې دوه خبرې معلومېږي: لومړی دا چې له انفاق په دې ځای کې د دښمن په خلاف په جهاد کې د مال انفاق مراد دئ او دا مطلب په گوته کوي چې د جهاد په سامان او وسائلو باندې د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرگ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چې له دښمن سره بالمثله معامله جائزه ده.

## منافقت

په دوی کې منافقتونه پيل شول، د مؤمنانو په وړاندې به ئې د ايمان دعوی کوله او د کافرانو په وړاندې به ئې کافران تر مؤمنانو غوره گڼل، د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې د دوی ډول ډول منافقتونه په گوته شوي، دلته ئې څو بېلگې ستاسو په وړاندې ږدو:

وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوٓا۟ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾ البقرة

او کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړی او کله چې په خپلو کې سره

ګوښه شي وايي: آيا هغه خبري ورته کوئ چي الله تاسو ته پرانيستې؟، چي د خپل رب په وړاندي مو پرې پر کړي، آيا له عقل کار نه اخلئ. آيا په دې نه پوهېږي چي الله په هر هغه څه پوهېږي چي دوی ئې پټوي يا ئې ښکاره کوي؟

له هغو خلکو چي ځان ته (اهل کتاب او په کتاب پوه) وايي خو له دين ئې ځان ته دُکان جوړ کړی، دين په دنيا خرڅوي، په کتاب کې تحريف کوي، د مؤمنانو په وړاندي د ايمان دعوی کوي؛ خو تل د باطل په څنګ کې ولاړ وي او د ظالمانو ملګرتيا کوي، له دوی دا طمع کول چي د الله د لاري د مخلصو داعيانو او مجاهدينو ملګرتيا به وکړي او د حق په څنګ کې به مخلصانه ودرېږي، بې ځايه طمع ده. دوی خو تل خپلو ملګرو ته په خلوت کې دا وايي چي د (کتاب) له هغو برخو پرده مه اوچتوئ چي ستاسو د رسوائي باعث او د الله په وړاندي ستاسو د ملامتيا موجب ګرځي او واقعي داعيانو او مجاهدينو ته پر تاسو برلاسی ورکوي!! الله تعالی دوی ته په ځواب کې فرمايي: آيا په دې نه پوهېږي چي الله په هر هغه څه پوهېږي چي دوی ئې پټوي يا ئې ښکاره کوي.

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ آل عمران

دا دئ تاسو دوی سره اېسوئ خو تاسو د دوی سره نه اېسئ او چي درسره مخامخ شي وايي: مونږ ايمان لرو! او چي ګوښه شي نو پرتاسو د خپل غيظ او کينې له کبله خپلي ګوتي چيچي، ورته ووايه: په خپل غيظ سره ومرئ، بې شکه چي الله د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

تاسو ورسره محبت کوئ، خو هغوی درسره محبت نه لري، تاسو ئې دوستان ګڼئ خو هغوی مو دوستان نه ګڼي، تاسو ګومان کوئ چي دوی تر مشرکانو ښه دي، مونږ ته رانژدې دي، خو هغوی ستاسو په اړه داسي فکر نه کوي، تاسو تر مشرکينو ښه نه ګڼي، زړونه ئې له کينې ډک دي، مخامخ خپله دښمني نه اعلانوي، برعکس د ايمان دعوی کوي او وايي چي مونږ په ټولو هغو شيانو ايمان لرو چي تاسو ورباندي ايمان لرئ، خو په خفا کې له ډېري کينې خپلي ګوتي چيچي. الله ښه پوهېږي چي په خپلو سينو کې ستاسو لپاره کوم بد عزايم او څومره کينه لري.

د دوی د منافقت يوه بله بېلګه په خپلو ژمنو نه ودرېدل وو، هر ځلي ئې چي کومه ژمنه کړې يوې ډلي ئې مخالفت کړی او نورو ئې په همدې مخالفت کې د دوی ملاتړ کړی:

أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٠﴾ البقرة

او کله چي هم دوی کومه ژمنه کړې نو يوې ډلي ئې (دا ژمنه لري) غورځولې، بلکي اکثر ئې ايمان نه راوړي.

## د کفر او کافرانو په وړاندې د حساسيت کموالی

ګناهونه ورو ورو انسان هغه پړاو ته رسوي چې د کفر او کافرانو په وړاندې ئې حساسيت له منځه ولاړ شي، کافرانو ته د دوستۍ لاس اوږد کړي او کافرانو ته پر مؤمنانو ترجيح ورکړي، قرآن فرمايي:

تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿٨٠﴾ المائدة

ډېرى به ئې ګورې چې له کافرانو سره به دوستي کوي، څومره بد دئ هغه چې د دوی نفسونو وروړاندې کړل، چې الله پرې په قهر شو او په عذاب کې به تلپاته وي.

دلته د اهل کتاب د انحراف يوه بله بېلګه زموږ مخې ته کښېښودل شوې، چې هغه له کافرانو د کرکې او نفرت په ځای له هغوی سره دوستي کول دي، قرآن فرمايي چې د دغې ګناه په سبب د الله تعالی له قهر او غضب او تلپاته عذاب سره مخامخ شول، له دې معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او موالات، د الله تعالی په نزد کې څومره ستره ګناه ده، حقيقت دا دئ چې انسان هغه وخت د خپل دين او عقيدې له دښمن سره دوستي ته تيارېږي چې دين او عقيده ورته بې ارزښته شي، په خپلو اغراضو پسې شي، د کافرانو تر فکري اغېز لاندې راشي او د هغوی په څنګ کې خپلو منحطو موخو ته د رسېدو امکانات په نظر ورشي.

له دې آيته معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي د سقوط او ضلالت هغه مرحله ده چې هلته د انسان تولي اريکې له الله تعالی سره قطع کېږي، خدای ئې خپل نفس ته حواله کوي، د الله تعالی د غضب وړ شي، د هر قوم د سقوط او له دين د وتلو وروستۍ نښه او علامه همدا ده چې هغوی له کافرانو سره دوستي پيل کړي. قرآن وايي: هيڅ مؤمن قوم به داسې ونه مومې چې د خدای او د هغه د پيغمبر له دښمنانو سره دوستي وکړي که څه هم هغوی د ده نژدې خپلوان وي.

وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨١﴾ المائدة

او که دوی پر خدای، پيغمبر او هغه څه ايمان درلودی چې دوی ته نازل شوي وو نو هغوی به ئې دوستان نه نيول، خو اکثر د دوی فاسقان دي.

دا آيت په قاطع الفاظو حکم کوي چې له کافرانو سره هغه څوك دوستي کوي چې پر خدای، پيغمبر او الهي کتاب ايمان نه لري، فاسق وي او خپل فسق ئې د کافرانو دوستۍ ته هڅوي.

د ګناهونو له کبله نه يوازې د انسان حساسيت د کافرانو په وړاندې له منځه ولاړ شي

بلکې ورو ورو ورنژدې شي او په پای کې د دوستۍ لاس وراوږد کړي، له هغوی سره ناسته پاسته کوي، دا ځکه چې ایماني خصلتونو او مواصفاتو له دښمن بېل کړي وو، خوکله چې په هغوی کې دښمن ته ورته مواصفات، اخلاق او خصلتونه راپیدا شول، په لومړي سر کې د دښمن په وړاندې د دوی حساسیت، کرکه او تنفر له منځه ځي، ځان د دښمن په څېر او هغه د ځان په څېر ګوري، د خیانتونو، ګناهونو او له دین د فاصلې له کبله دومره لاندې پرېوځي چې د دښمن په وړاندې ئې حساسیت ختم شي.

## په تجارتي راکړې ورکړې کې خیانت

په دوی کې سود، رشوت، حرامه ګټه، په امانت کې خیانت، په تجارتي راکړې ورکړې کې چل ول، خپلې ژمنې تر پښو لاندې کول، دروغ او دوکه عام شول، لږ کسان ئې داسې پاته شول چې په حلال رزق قناعت وکړي او له حرامو ځان لرې وساتي، راشئ په دې اړه د قرآن ځینو آیتونو ته غوږ شو:

وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ سَبِيلٌ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ آل عمران

او د اهل کتاب ځیني داسې دي چې که د کومې خزانې امین ئې کړې، بېرته به ئې درکړي او ځیني ئې داسې دي چې که په یوه دینار ئې امین کړې نو بېرته به ئې درنکړي مګر دا چې تل ورباندې (ټینګار کوونکی) ولاړ وې. دا د دې لپاره چې دوی وایي: پر مونږ د نالوستو په اړه څه الزام نشته او د الله په نسبت دروغ وایي په داسې حال کې چې پوهېږي.

اهل کتاب ته خپلو مذهبي مشرانو ویلي وو چې له غیر اهل کتاب سره چې تاسو هره معامله وکړئ الله مو په دې نه نیسي، که له دوی سره خدعه کوئ یا خیانت، که دروغ ورته وایئ یا ئې مال خورئ پروا ئې نشته، د دې فتوی به ئې ورکوله، ورته ویل به ئې چې دا کارونه الله درته روا کړي، د الله د کتاب د فلان فلان آیت معنی همدا ده، په دروغو به ئې دا فتوی ورکوله، په الله او د الله په کتاب پسې ئې افتراء کوله، قصداً او عمداً به ئې دا کار کاوو، پوهېدل چې د دوی فتوی د الله د کتاب خلاف ده، د همدې لپاره که به کوم غیر یهودي یو دینار هم په امانت ورکړ بېرته ئې نه ورکاوو، خو په دوی کې مخلص او صادق اهل کتاب هم وو، په الله او آخرت ئې له زړه باور وو، امین وو، که به هر چا کوم څه په امانت ورکړل له خیانت پرته به ئې مسترد کول، که څه هم دا به زیات مال او قیمتي شی وو، د یوې خزانې په اندازه. د اسلام له نظره ایمان او خیانت سره نه یو ځای کېږي، ځوک چې امین نه وي هغه ایمان نه لري، لا ایمان لمن لا امانة له.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟

يَعۡمَلُونَ ۝٦٢ لَوۡلَا يَنۡهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ عَن قَوۡلِهِمُ ٱلۡإِثۡمَ وَأَكۡلِهِمُ ٱلسُّحۡتَۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ۝٦٣ المائده

او ډېرى به ئې وګورې چې په ګناه، تېرې او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي، څومره بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي. ولې ئې خداى پالونکي او علماء د ګناه له وينا او د حرامو له خوړلو نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي.

دلته د ايمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

- په ګناه کې تلوار.
- د بل پر حق تېرې او تجاوز کې تلوار.
- د حرامو په خوړلو کې تلوار.

له دغو بدو کړنو سره به الله تعالى څنګه د دوى د ايمان دعوى قبلوي؟

فَبِظُلۡمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَنۡ سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا ۝١٦٠ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ۝١٦١ النساء

نو پر يهودانو مو ځيني هغه پاکيزه شيان حرام کړل چې ورته حلال شوي وو؛ د دوى د ظلم له کبله او د الله له لارې د دوى د ډېر مخنيوى په سبب؛ او د دوى د سود اخيستو په وجه؛ په داسې حال کې چې ترې منع شوي وو او په ناحقه ئې د خلکو د مال خوړلو په وجه؛ او دغو کافرانو ته مو دردوونکى عذاب تيار کړى.

دلته د يهودانو ځينو هغو سترو سترو ګناهونو ته اشاره شوې چې دوى ئې د الله له دردناك عذاب سره مخامخ کړل:

- ظلم ئې کاوو.
- هم ئې پخپله د الله په سمې لارې له تلو ډډه کوله او هم ئې نور منع کول.
- سود ئې خوړلو، په داسې حال کې چې الله ترې منع کړي وو.
- په ناحقه او له نآراءو لارو ئې د خلکو مالونه خوړل، دوکه، رشوت، شکرانې اخيستل، فتواګانې او د جنت اسناد پلورل.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ۝٣٤ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ۝٣٥ التوبه

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېرى د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنيوى کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زيرى ورکړه. هغه ورځ چې د دوزخ په اور کې به سره شي او بيا به ئې تندي، اړخونه او شاګاني پرې وداغل شي، دا هغه څه دي چې د ځان لپاره مو زېرمه کړي وو، نو د هغه څه خوند وڅکئ چې زېرمه کول مو.

## له مرګ سخته وېره او له ژوند سره افراطي مينه

همدا راز په دې قوم کې له مرګ سخته وېره او له ژوند سراه افراطي مينه راپيدا شوه، که څه هم دا ژوند به له ذلت او سپکاوي ډك ژوند وو، د شهادت تلوسه او د سپېڅلو اهدافو لپاره د قربانۍ جذبه په کې مړه شوه، خو سره له دې به ئې په جنت د ايمان دعوى کوله او ځان به ئې د جنت مستحق ګڼلو، قرآن د دې متضادي انګېرنې په اړه فرمايي:

قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْـَٔاخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِۦ مِنَ ٱلْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ البقرة

ورته ووايه: که د الله په خوا کې، د آخرت کور، له خلکو پرته يوازې ستاسو لپاره وي نو د مرګ تمنى وکړئ که رښتيني ياست. او په خپلو لاسونو ئې چې څه وړاندې کړي د هغه په وجه به هيڅکله د مرګ تمنى ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دئ. او دوى به تر ټولو زيات په ژوند حريص ومومې او له مشرکانو هم، هر يو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړى شي، خو همدا د عمر اوږدوالى له عذابه د دوى ژغورونکى نه دئ او الله د هغه څه ډېر ښه ليدونکى دئ چې دوى ئې کوي.

سره له خپل ټول شرك، عصيان، له جهاد ډډه، د ظالمانو ملګرتيا او د پيغمبرانو او حقپالونکو مخالفت، دوى ګومان کاوو او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ويل چې جنت يوازې ستاسو لپاره پيدا شوى او تاسو د جنت لپاره، د دوى په ځواب کې ويل شوي: که داسې وي نو تاسو خو بايد له مرګ نه وېرېدى او د الله په لار کې د شهادت تلوسه مو په زړونو کې نه وى مړه شوې، دا ولې له مرګ وېرېږئ؟ دا ولې ستاسو هيڅ مذهبي مشر په سنګر کې نه دئ ليدل شوى؟ ولې مو تل خپل پيغمبران په جهاد کې يوازې پرېښې؟ له دې خو په ډاګه معلومېږي چې په خپلې دعوى باور نه لرئ. په دې آيتونو کې او دې ته ورته په ډېرو نورو کې له مرګ وېره، د ډېر اوږده ژوند تمنى او د الله په لار کې له شهادت ډډه کول، د هغه قوم نښې ګڼل شوې چې د ايمان په دعوى کې دروغجن دئ، نه په آخرت او جنت باور لري او نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړې الله کوي.

په هر هغه قوم کې چې له مرګ وېره او د دنيا حب او مينه او له ژوند سره افراطي علاقه راپيدا شي، د هغه قوم معنوي شور او شوق به مري، د خپل عزت د ساتلو همت به له لاسه ورکوي، ژوند به غواړي که څه هم د پرديو تر اسارت لاندې وي، د همدې سختې وېرې او افراطي مينې له امله به تل سپك او ذليل وي او د شمن به پرې حکومت کوي. پيغمبر عليه السلام خپلو يارانو ته همداسې فرمايي: په تاسو باندې به داسې حالت راشي چې دښمنان به له هرې خوا ستاسو د ختمولو لپاره داسې يو بل رابولي، داسې به ټول لاسونه ستاسو د خوړلو او هضمولو لپاره اوږده شوي وي، لکه څوك چې په غوړه کاسه راټولېږي. صحابه وو وويل: آيا په هغه وخت کې به موږ لږ وو؟ پيامبر عليه السلام وفرمايل: نه! تاسو به ډېر زيات وئ، خو د اوبو د ځګ او د خس او خاشاکو په څېر به وئ، په تاسو کې به وهن راپيدا شي، اصحابو وويل: ما الوهن يا رسول الله؟ دا وهن څه دئ يا رسول الله؟ هغه وفرمايل: له مرګ کراهيت او کرکه او له ژوند سره مينه، يعنې کله چې دا دوه خصلتونه په يوه قوم کې راپيدا شي، د خسو او خاشاکو په څېر به سپك، بې ارزښته او ذليل شي، دښمن به پرې حکومت کوی او د پرديو په اسارت او محکوميت کې به شپې ورځې تېروي.

## ړوند مذهبي تعصب

ړوند مذهبي تعصب يوه بله فتنه ده چې له حقيقي دين بې خبره دينداران پرې مبتلی کېږي، خپل شرك لړلی محرف مذهب، ناقص علم او د ديني ارزښتونو په اړه غلط تعبيرات به کافي ګڼي او په هغه کې به هيڅ ډول تبديلي نه مني او د هر هغه دعوت او دعوتګر مقابله به کوي چې د دوی له غلطو عقائدو او محرف مذهب سره ټکر کوي، قرآن فرمايي:

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفُۢ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ البقرة

او وئې ويل: زړونه مو په پرده کې دي، نه، داسې نه ده، بلکې الله د دوی د کفر په وجه پر دوی لعنت لېږلی، نو ځکه لږ ايمان راوړي.

د دوی لجوجو علماءو به ويل: په مونږ باندې ستا تبليغات تأثير نه شي کولی، زمونږ زړونه له علومو ډك دي، زمونږ او ستا تر منځ ډېرې پردې حايل دي، د دې لجاجت او سرټمبګۍ وجه ړوند مذهبي تعصب وو، الله تعالی د همدې تعصب او د خپلو کافرانه او مشرکانه عقائدو او کړو وړو په سبب رټلي او د لعنت وړ ئې ګرځولي وو، نو ځکه له ايمان راوړو محروم شوي وو.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا
ٱشْتَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن

يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ۝٩٠ البقرة

او کله چې د الله لخوا داسې کتاب ورته راغی چې له دوی سره د شته (کتاب) تصديقوونکی وو او دوی د هغه (له راتلو) د مخه (د همداسې يوه کتاب په راتلو سره) پر کافرانو د بريا غوښتنه کوله، خو کله چې همغه څه ورته راغی چې ښه ئې پېژندو، په هغه کافران شول، نو په دې کافرانو دې د الله لعنت وي. څومره بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، په دې چې په باغيانه توګه پر ما انزل الله کافران شول، له دې کبله چې الله ولې له خپلو بندګانو (له دوی پرته) پر هغه چا چې دی ئې غواړي له خپل فضل او پېرزوينې څه رانازلوي، نو د الله په پر له پسې غضب اخته شول او دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب دئ.

دوی د پيغمبر تر راتلو وړاندې تل دا تلوسه کوله چې کاش يو ځل بيا په دوی کې کوم پيغمبر مبعوث شي او د کافرانو له سلطې ئې وژغوري، خو چې کله پيغمبر راغی او له ځان سره ئې همغه څه راوړو چې مخکينيو پيغمبرانو راوړي وو او بني اسرائيل ښه پوه شول چې دا د دوی د اصلي دين په څېر دئ، خو له دې امله ئې ايمان رانه وړ چې پيغمبر د دوی له قوم نه وو، د دوی مذهبي قيادت او هغه ګټې چې د دين تر نامه لاندې ئې له غولېدليو مذهبي عوامو تر لاسه کولې په خطر کې ولوېدې، نو د پيغمبر د مخالفت لپاره ئې ملا وتړله او د الله تعالی د پرله پسې غضب وړ وګرځېدل. هم له مخکيني کتاب د مخالفت په وجه او هم له نوي کتاب سره د مخالفت په سبب.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ نُؤۡمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَيَكۡفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَهُمۡۗ قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ۝٩١ البقرة

او کله چې ورته وويل شي: په هغه څه چې الله نازل کړي ايمان راوړئ، وايي: په هغه څه ايمان راوړو چې پر مونږ نازل شوی او له دې علاوه په هر څه کافران کېږي، که څه هم هغه حق وي او له دوی سره د شته کتاب تصديقوونکی، ورته ووايه: نو که تاسو مؤمنان وئ ولې مو له دې د مخه د الله پيغمبران وژل؟

يو له هغو سترو خنډونو چې هر صالح داعي ورسره مخامخ کېږي، هغه قومي تعصب دئ چې کله کله مذهبي ښه غوره کړي او مذهب د يوې خاصې ډلې او قوم په لاس کې د ناروا سياسي، اقتصادي او اجتماعي امتيازاتو د لاس ته راوړو وسيله شي، دغه ډله بيا د هر دعوت مقابله د مذهب په توره کوي، حتی د هغه دعوت هم چې د دوی مذهب ته ورته وي او د دوی د اصلي مذهب تائيد او تصديق کوي. د بني اسرائيلو مذهبي مشران ښه پوهېدل چې قرآن همغه څه وايي چې تورات ئې وايي او محمد عليه السلام همغه څه وايي چې موسی عليه السلام ويل، خو سره له دې ئې تر هر چا زيات د اسلام مخالفت کاوو. د

دوی په ځواب کې ویل شوي: له اسلام سره ستاسو دا مخالفت نه د الله لپاره دئ، نه د تورات په خاطر او نه د موسی علیه السلام په خاطر، تاسو خو همغه خلك یاست چې تر دې د مخه مو د موسی او عیسی علیهما السلام او د تورات او انجیل مخالفت وکړ، دا کوم ایمان دئ چې تاسو ته د سخوندر د عبادت اجازه درکوي؟

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ كِتَـٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَـٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ البقرة

او کله چې د الله له لوري کوم داسې پیغمبر ورته راغلی چې له دوی سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی وو، نو د اهل کتاب یوې ډلې د الله کتاب داسې شا ته وغورځاوو لکه (په هیڅ) چې نه پوهېدل. او د هغه څه متابعت ئې پیل کړ چې شیطانانو به د سلیمان علیه السلام د پاچاهۍ (په نامه) لوستل، دا په داسې حال کې چې سلیمان د کفر لار نه وه غوره کړې، بلکې په خپله دا شیطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هیچا ته څه تعلیم نه ورکاوو مګر دا چې ورته ویل به ئې: مونږ (خو د یوه) امتحان (لپاره راغلې) یو، نو ته مه کافرکېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارینه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسې حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هیچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسې حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله او یقیناً په دې پوه شوي وو چې هرڅوك دا وپېري نو په آخرت کې به ئې هیڅ برخه نه وي او یقیناً چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، کاش پوهېدلی.

دلته په اصل کې د بني اسرائیلو په څېره کې د یوه بې لارې دیندار ولس ځو سترو سترو انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسې شا ته غورځول لکه چې په هیڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب په ځای کوډو، جادو او تعویذونو ته مخه کول، دا حرام کارونه نه یوازې حلال ګڼل بلکې د سلیمان علیه السلام هغه ستره واکمني، چې بېلګه ئې په تاریخ کې نه ده لیدل شوې، د یوې جادوئي ګوتې او د څه کوډو او منتر نتیجه

ګڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد علیه السلام د جهادونو نتیجه، د دوی لویه مشغله دا شي چي په کوډو سره د مېړه او مېرمني تر منځ ئې بېلتون راولي. بني اسرائیل هم ورو ورو له الهي دین لري شول، په دوی کي فکري او اخلاقي انحرافات راپیدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چي یو د بل ناموس ته په کمین کي کښیناستل، یو به په دې لټه کي وو چي څنګه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعویذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالی د اتمام حجت لپاره دوی ته دوې ملائکي د انسانانو په څېره کي ولېږلې، چي دوی له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوی ته ووايي چي کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ، خو دوی له ملائکو هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چي ښځه له خپل خاوند بېله کړی شي.

دوی په حقیقت کي هغو افتراءاتو وغولول چي په خپل لاس ئې جوړ او دین ته منسوب کړي ول، ویل به ئې زموږ په قوم کي پیغمبران مبعوث شوي، په موږ کي او لیاءالله او نېکان تېر شوي، دوی به د خدای په وړاندي زموږ شفاعت کوي، دوی به موږ تر لاس نیسي او جنت ته به مو بيايي، موږ اولیاء الله، ابناء الله او د خدای دوستان یو، موږ دوزخ ته نه ځو مګر د څو ورځو لپاره، جنت خاص زموږ لپاره پیدا شوی او موږ د جنت لپاره، عوام(له بني اسرئیلو پرته نور قومونه) به دوزخ ته ځی، هغوی د دوزخ د اور د سوند توکي دي، دا غلط تصورات او غلطي انګېرني په هرهغه قوم کي راپیدا کېږي چي له اصلي دین لري شي، د دین له حقیقت بې خبره وي، د ټګمارو علماءو او غولوونکو مشایخو په لومو کي ولوېږي، اصل دین هېر کړي او په شکلیاتو پسي ونښلي، او ګمان کوي چي همدا شکلیات ورته کافي او په همدې سره الله تعالی راضي کولی او جنت تر لاسه کولی شي!!

قرآن هغه مؤمنان د زېري مستحق ګڼي چي خبره اوري او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي: فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَ أُولَئِكَ هُمْ أُولُوا الأَلْبَبِ: زما هغو بندګانو ته زېری ورکړه چي خبره اوري او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي، دوی هغه خلك دي چي الله هدایت کړي او همدا دوی د عقل خاوندان دي.

خو د دوی په مقابل کي متعصب مذهبیان هغه کمعقله خلك وي چي وايي: بس کړه! موږ ته د دین، مذهب او د حق او حقیقت خبره مه کوه، زموږ زړونه د علم خزانې دي، تش ځای پکي نه دئ پاته، د بل چا د خبرو اورېدو ته چمتو نه یو، یوازي په هغه څه ایمان راوړو چي پر موږ نازل شوی، یعنی موږ ته دا خپل مذهب کافي دئ، دې ته ضرورت نه لرو چي ستا خبري واورو او ستا دعوت قبول کړو. د دوی دا ټولي خبري له ړانده تعصب راخوټېدلي دي، حقیقت دا دئ چي په هر هغه قوم کي چي دین ورته له پلار او نیکه په میراث پاته عنعنه شي او له دین فقط اسم و رسم ورته پاته شي او بیا د دې عنعنی، اسم و رسم په نسبت په هغه کي تعصبات پیل شي، هغه بیا د حق خبري په وړاندي همداسي غبرګون ښیي، یوازي هغه څه مني چي د دوی له جاهلانه تعصب سره تصادم ونکړي، که څه هم په دې تعصب سره دوی په خرافاتوکي پرېوتي وي او له پلار نیکه پاته عنعنه، دود او

دستور سل په سلو کې او په بشپړه توګه د دين خلاف وي.

## د روميانو او بابليانو بريدونه

هر ځل چې بني اسرائيلو د شرك، فساد او عصيان لار غوره کړې او د الله په لار کې ئې جهاد ته شا کړې، الله تعالی يو دښمن پرې مسلط کړی، په دې کې د روميانو او بابليانو دوه ستر بريدونه داسې وو چې ټول بني اسرائيل يا وژل شوي، يا اسيران شوي او يا له خپل کور کلي شړل شوي او په ټولې سيمې او نړۍ کې خواره واره شوي، عبادت ځايونه ئې وران شوي او مذهبي کتابونه ئې سوزېدلي. بيا د بل دښمن په لاس د سياسي رقابتونو په ترڅ کې دې سيمې ته راوستل شوي، لکه چې نن د انګرېزانو په لاس او د برتانوي استعمار د يوې شيطاني منصوبې په ترڅ کې په فلسطين کې مستقر او له همغې نېټې تر ننه له مظلومو فلسطيني مسلمانانو سره په جګړو بوخت دي، تر دې د مخه هم کله د بابليانو تر سيورې لاندې دلته مستقر شوي او کله د روميانو په لاس، انګرېزانو د دې لپاره په دې سيمې کې مستقر کړل چې د اسلام، مسلمانانو او په خاصه توګه د عربو په ضد د يوې نظامي اډې د سرتېرو په توګه ترې کار واخلي، قرآن دې ته اشاره کوي او فرمايي:

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓاْ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾ آل عمران

که هر ځای ومونډل شي، ذلت وربانديې تپل شوی، مګر د کومي الهي رسۍ او يا د خلکو د کومي رسۍ په سبب (له دې ذلت او سپکاوي وژغورل شي) او په الهي غضب اخته شول او مسکنت وربانديې وتپل شو، دا له دې کبله چې د الله له آيتونو ئې انکار کاوو او په ناحقه ئې د الله پيغمبران وژل، دا د دې لپاره چې سرغړاوی ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

دوی به تل او په هر ځای کې ذليل وي، مګر دا چې الله پناه ورکړي او يا خلکو ته پناه ورووړي، کېدی شي کله کله د نورو په پناه او حمايت کې موقتاً له ذلت او سپکاوي وژغورل شي، خو تل به د الله په غضب اخته وي او د مسکنت آثار به د دوی د ژوند په ټولو برخو کې له ورايه برېښي، د دې ذلت، الهي غضب او مسکنت اسباب ئې دا دي:

- د الله له آيتونو انکار.
- د پېغبرانو مخالفت.
- عصيان او سرغړاوی.
- تعدي او تېری.

او په حقيقت کې دا عصيان او تعدي ده چې انسان دې مرحلې ته ورسوي چې د الله له آيتونو انکار وکړي او د پيغمبرانو دښمني او مخالفت ته ملا وتړي.

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا
﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ
ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ
وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا
جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ لِيَسُۥٓـُٔوا۟ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا۟ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا۟
مَا عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا ﴿٧﴾ الاسراء

په کتاب کې مو بني اسرائيلو ته پرېکړه واوروله چې دوه ځلي به په زمکې کې فساد کوئ او ستره لويي او کبر به کوئ، نو کله چې د دوی دواړو لومړۍ وعده راورسېږي؛ خپل داسي بندګان به درباندي راولېږو چې شديد او پياوړي جنګيالي دي، چې (ستاسو) کورونو ته به ننوځي، او دا يوه تر سره کېدونکې وعده ده. بيا به تاسو ته پر دوی برى درکړو او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړو او تاسو به د شمېر له پلوه زيات کړو. که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د ځان لپاره به مو وي، نو کله چې دوهمه وعده راشي (موخه به ئې دا وي چې) ستاسو مخونه سپېره کړي، او مسجد الاقصی ته همغسي ننوځي لکه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه ښه نسکور کړي چې لوړ وي.

دوی د ځلوښت کلن عبرتناك او له ذ لته ډك ژوند وروسته د اشموئيل عليه السلام د نبوت پر مهال او د طالوت تر مشرۍ لاندي له دښمن سره وجنګېدل او بريا ئې په برخه شوه، ستره تاريخي پاچايي ئې جوړه کړه چې قرآن دا برخه په دې توګه زموږ مخي ته ږدي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا
نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا
قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ
مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ
قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن
يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾ القرة

آيا د بني اسرائيلو هغه ډله دي ونه ليده چې له موسی وروسته وه، کله چې ئې خپل پيغمبر

ته وويل: مونږ ته يو پاچا وټاکه، چې د الله په لار کې وجنګېږو، ورته وئې ويل: آيا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ويل: نو په مونږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر ايستل شوي يو؟ خو چې کله جنګېدل پرې فرض کړى شو نو ټول په شا شول غير له لږ شمېر ئې او الله خو د ظالمانو په حال ښه پوه دئ. او پيغمبر ئې ورته وويل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلى، وئې ويل: څنګه به پر مونږ باندې ده لره پاچايي وي، حال دا چې مونږ په پاچايي کې تر ده ډېر وړ او مستحق يو او ده ته د مال پراخوالى هم نه دئ ورکړى شوى؟ وئې ويل: بې شکه چې هغه الله پرتاسو غوره کړى او په علم او جسم کې ئې پراخوالى او زياتوالى ورکړى او الله چې چا ته وغواړي پاچايي ورکوي او الله ښه پوه واسع دئ.

له موسى عليه السلام وروسته او هغه وخت چې بني اسرائيل په شرك او فساد اخته او له سمې لارې منحرف شول، نو د جالوت په نامه يو ظالم او بې رحمه پاچا وربانديې مسلط شو، ډېر ئې ووژل، د دوى کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوى ئې له خپل کور کلي وشړل، په دې وخت کې اشموئيل عليه السلام د دوى لارښوونه کوله، هغه ته راغلل، له خپلو مخکينيو کړو وړو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو ئې ندامت وښودو او له هغه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته، هغه مبارك د دوى مخکيني حالت ته په پام سره ورته وويل: مبادا جهاد درباندې فرض شي او بيا تاسو له هغه ډډه وکړئ، دوى ورته وويل: په داسې حال کې چې پر مونږ ظلمونه شوي، له خپل کور کلي شړل شوي يو، هيڅ داسې دليل نه ګورو چې د الله په لار کې ونه جنګېږو، خو چې ورته وويل شو چې اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ، يوازې محدودو کسانو تيارى وښود، نور ټول له خپلې ژمنې او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول. د الله پيغمبر ورته وويل: تاسو د يوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه، دا دئ الله تعالى طالوت درته غوره کړى، د الله له دين اوښتي قوم ورته وويل: دى خو پر مونږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخې او نه د مال او شتمنۍ له مخې، د ټول ولس قيادت او زعامت خو بايد داسې چا ته وسپارل شي چې قيادت او زعامت له پلار نيکه ورته په ميراث پاته شوى وي، د کومې درنې او معتبرې کورنۍ غړى وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پيغمبر د دوى په ځواب کې وايي: دى خو الله غوره کړى، د زعامت او قيادت وړتيا هغه ورکړې، ښه پوه دئ او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دئ، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي، خو دوى دې ته تيار نه وو چې د طالوت قيادت ومني، د دوى معيارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسې انګېرله چې بې دينه او لار ورکي قومونه ئې انګېري، د پيغمبر دا وينا ئې نه منله چې الله تعالى د دوى په څېر نه دئ چې نسب او مال د قيادت لپاره ضروري وګڼي او د طالوت په څېر يو نادار او بې نوم نښانه څوك دې د دوى د مشرۍ لپاره مناسب ونه ګڼي، له پيغمبر ئې د ثبوت غوښتنه کوله:

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ

مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحۡمِلُهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾ البقرة

او پیغمبر ئې ورته وويل: د ده د پاچايۍ نښه دا ده چې تاسو ته به هغه صندوق راشي چې په هغه کې ستاسو د رب له لوري يوه ډاډينه او د موسی او هارون د اولادې پاته شوني دي، هغه چې ملائکې به ئې حمل کوي، په دې کې تاسو ته څرګنده نښه ده که مؤمنان ياست.

بني اسرائيلو ته له پلار نيکه داسي يو صندوق په ميراث پاته شوی وو چې په هغه کې څه مبارك شيان لکه د تورات لوحې او د موسی او هارون عليهما السلام د لاس څه نښې وې، دوی داسي ګڼله چې تر کله دا صندوق زمونږ په واك کې وي نو تل به بريالي وو او دښمن به پر مونږ غلبه نه شي موندلی، ناڅاپي د دوی په سيمو د بريد په ترځ کې دا صندوق د دښمن په لاس کې پرېووت، په دې سره د دوی پاته مېړانه او همت هم ختم شو، د دښمن له مقابلې ئې لاس واخيست او وتښتېدل، پيغمبر ئې ورته وويل: دا صندوق به الله تعالی بېرته تاسو ته مسترد کړي، ملائکې به ئې تاسو ته راوړي او دا به د دې نښه ګڼئ چې طالوت د الله له لوري تاسو ته غوره شوی، همداسي وشول. د دې قصې په ترځ کې الله تعالی مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چې مبادا د جهاد له فرض کېدو وروسته تر شا شئ، مبادا د قيادت لپاره هغه معيارونه وکاروئ چې جاهلو قومونو کارولي، مبادا له علمي استعداد او جسمي پياوړتيا پرته د نورو مواصفاتو له مخې ځانته قيادت غوره کړئ، مبادا له هغه چا سره د مخالفت لار غوره کړئ چې الله تعالی د قيادت غوره صفات ورکړي وي. تاسو د آدم عليه السلام د خليفه کېدو په بحث کې هم وليدل چې الله تعالی د ده علمي استعداد او د هر څه پېژندل او مناسب نوم ورته غوره کول د خلافت د وړتيا دليل وښودو.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلۡجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبۡتَلِيكُم بِنَهَرٖ فَمَن شَرِبَ مِنۡهُ فَلَيۡسَ مِنِّي
وَمَن لَّمۡ يَطۡعَمۡهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغۡتَرَفَ غُرۡفَةَۢ بِيَدِهِۦۚ فَشَرِبُواْ مِنۡهُ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ
فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ قَالَ ٱلَّذِينَ
يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ
ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا
وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ
ٱلۡمُلۡكَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّفَسَدَتِ
ٱلۡأَرۡضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۚ

وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾ البقرة

نو كله چې طالوت لښكري راوايستې، وئې ويل: الله په يوې ويالې سره ستاسو آزمويونكى دئ، نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې ندئ او چا چې (ئې خوند) ونه څکو، نو هغه زما (ملګرى) دئ، مګر دا چې د خپل يوه لاس يوه لپه (اوبه) غوړپ كړي، خو د دوى له لږو كسانو پرته نورو هغه وڅښلې، نو چې كله دى او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل، وئې ويل: نن خو مونږ د جالوت او د ده د لښكرو (د مقابلې) توان نه لرو، خو هغو كسانو چې په دې ئې باور وو چې له الله سره مخامخ كېدونكي دي وويل: څومره لږكي ټولګي د الله په اذن سره په ډېركي ټولګيو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. او كله چې جالوت او لښكرو ته ئې راڅرګند شول، وئې ويل: اې زمونږ ربه! پر مونږ صبر نازل كړه او ګامونه مو ټينګ كړه او پر دې كافر قوم برى را، نو د الله په حكم سره ئې دوى ته ماتې وركړه او داؤد جالوت وواژو او الله ورته پاچايي او حكمت وربه برخه كړ او چې څه ئې غوښتل هغه ئې وروښودل او كه د الله دا د خلكو ځيني په ځينو نورو دفع كول نه وى، نو زمكه به تباه شوې وه، خو الله په نړۍ والو د فضل خاوند دئ. دا د الله آيتونه دي چې پر تا ئې لولو او يقيناً چې ته له پيغمبرانو يې.

دا آيتونه مونږ ته لارښوونه كوي چې جهاد د صابرانو كار دئ، بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې ارادې او هغه ضعيف النفسه كسان چې د كړاوونو د ګاللو همت او حوصله نه لري، جهاد نه شي كولى، د جهاد مشران بايد خپل مجاهدين وآزمويي او وګوري چې په دوى كې څوك د ستونزو او كړاوونو ګاللو ته تيار دئ، پياوړې متې، غښتلى زړه، لوړ همت، كلك عزم لري او د صبر او زغم خاوند دئ، يوازې په دغو كسانو حساب وكړئ او د همدوى په ملګرتيا بسنه وكړئ، بې همته او بې صبره كسان د نيمې لارې ملګري وي او په سختو شېبو كې له خپل صف بېلېږي او خپل سنګر دښمن ته پرېږدي، د داسې كسانو ملګرتيا د ګټې په ځاى تاوان كوي، د همدې لپاره طالوت خپلو ملګرو ته وويل: له ما سره هغه څوك ملګرتيا كولى شي چې د دې راتلونكې نهر اوبه ونه څښي، په تنده كې صبر وكړي، هغه هم راسره تلى شي چې په يوه غوړپ اكتفاء وكړي، خو هغه چې ډك نس اوبه څښي، زما د ملګرتيا وړ نه دي. (د طالوت دا آزموينه داسې ده لكه مونږ چې په روژې مكلف شوي يو، دا په اصل كې د روژې لپاره يو مثال او بېلګه ده، په روژې سره په انسان كې د صبر او ځان ساتنې خصلت وده كوي) د ده له لوى لښكر يو وړوكى ټولګى په دې آزموينه كې بريالي وختل او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن برى وركړ. برى د صابرانو په برخه كېږي، هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګې په لار وي، له الله تعالى په سنګر كې او د دښمن په وړاندې د صبر او استقامت غوښتنه كوي، نه د هغه چا په برخه چې د جنګياليو شمېر ئې زيات وي. دا په وار وار ليدل شوې چې يوه وړوكي ټولګي ته الله تعالى په لوى لښكر فتح او برى وركړى، دا ځكه چې الله د صابرانو مل دئ.

په دې نښتي کې د دښمن د فوځ سالار د داؤد عليه السلام په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالی داؤد عليه السلام ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پيغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، د الله تعالی سنت دا دئ او په دې راضي کېږي چي د مؤمنانو قيادت د دغسي مجاهدو مشرانو په لاس کې وي.

له دې آيت دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: لومړی دا چي له تباهۍ د زمکي د ساتلو يوازينۍ لار دا ده چي د مؤمنانو د صالح ډلي په لاس د کافرانو د فاسدي ډلي مخنيوی وشي، الله تعالی د دوی په ذريعه د هغوی شر دفع کوي او په دې سره زمکه له تباهۍ ژغوري. او دوهمه دا چي د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو يوه مجاهده ډله راپيدا کېږي، د مفسدو ځواکونو مقابله به کوي او الله تعالی به هغوی ته د شر او فساد پر ځواکونو غلبه ورکوي. په بخاري کې راغلي:

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « لاَ تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِى ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِىَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَذَلِكَ صحيح مسلم

له ثوبان رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: تل به زما د امت يوه ډله داسي وي چي په حق سره به برلاسي وي، هغه څوك به ئې نه شي زيانمن کولی چي دوی يوازي پرېږدي، تر هغه چي الله تعالی خپله پرېکړه وکړي او دوی په همدې حالت کې وي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

١٣٨٨/٤/٥

## العنکبوت

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (العنکبوت) دئ، دا نوم د همدې سورې له ٤١ آيت اخيستل شوی، نه شپېته آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (يفتنون) او د درېيم آيت (الكٰذبين) ته ورته دي، څو آيتونه ئې د (يسير، قدير، نصير او اليم) په څېر صيغو پای ته رسېدلې چي وزن ئې کاذبين ته نژدې دئ، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکې دور په وروستيو کلونو کې نازل شوي.

لکه څنګه چي دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسي توګه په دې

سورې کې راغلې لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ: وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩: او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا) ده، تاسو به وګورئ چې د سورې په لومړۍ برخې کې د الله تعالی د لارې مجاهدين معرفي شوي، په همدې لړ کې هغه ډول ډول الهي آزمويني انځور شوې چې د الله د لارې مجاهدين ورسره مخامخ کېږي، په همدې ارتباط هغو سترو سترو آزموينو ته ګوته نيول شوې چې د ابراهيم، نوح، لوط، هود، صالح، شعيب او موسی عليهم السلام په څېر مجاهدين ورسره مخامخ شوي، د آيت دوهمه فقره (لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ) ده؛ او تاسو به وګورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښووني احتوی کوي چې د دغو مجاهدينو په برخه شوې؛ او د آيت درېيمه فقره (وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ) ده او دا د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ کې ئې له دغو مجاهدينو سره د الله ملتيا او معيت څېړل شوی. که لږ ځير شو نو راته جوته کېږي چې دا ټوله سوره؛ له سر تر پايه؛ د مجاهدينو په اړه بحث کوي؛ او د سورې په پای کې د الله د لارې د مجاهدينو په اړه ويل شوي چې هدايت او د الله تعالی معيت به ئې په برخه کېږي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣

الف، لام، ميم، آيا خلکو داسې انګېرلې چې کله ووايي ايمان مو راوړی نوپرې به ښودی شي او وبه نه آزمويل شي؟! حال دا چې يقيناً موږ هغه وآزمويل چې تر دوی وړاندې ول، نو الله به هرو مرو هغه معلوم کړي چې رښتيني دي او حتماً به دروغجن معلوم کړي.

---

(١-٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

لکه څنګه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توګه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، يعني د سورې په لومړۍ برخې کې د الله د لارې مجاهدين معرفي شوي، ورپسې دا موضوع راغلې چې الله تعالی د دغو مجاهدينو پر مخ د هدايت ټولې دروازې پرانيزي او د ژوند په هرې برخې کې به ئې لارښوونه کوي او په پای کې د همدغو مجاهدينو په اړه ويل شوي چې له دوی به هغه محسنين جوړ شي چې الله تعالی به د دوی مل وي او خپل تأييد او نصرت به ورپه برخه کوي.

دا هسې يوه بې ځايه هيله او غلطه انګېرنه ده چې الله تعالی به د ايمان د مدعيانو په دغې وينا اکتفاء کوي چې وايي: موږ ايمان راوړی؛ او په همدې سره به ئې خپلې مخې ته پرېږدي او د همدغې ادعاء له مخې به دوی مؤمنان ګڼي او همغه څه به ورسره کوي چې له مؤمنانو سره ئې د کولو وعده کړې!! پرته له دې چې د آزموينو په ترڅ کې د دوی د دغې ادعاء حقيقت څرګند کړي!! داسې نه ده؛ الله تعالی به حتماً دوی له ډول ډول آزموينو سره مخامخ کوي او د دغو آزموينو په ترڅ کې به له يوې خوا هغه معلوم او څرګند کړي چې په خپلې ادعاء کې رښتيني دي او له بلې خوا هغه چې د ايمان په دعوی کې دروغجن دي. د دې معنی دا ده چې د ايمان رښتينی او دروغجن مدعي به د الهي آزموينو په ترڅ کې معلومېږي.

دا يو ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ، الله تعالی له وړاندينيو سره همداسې کړي او له وروستنيو سره به همداسې کوي.

د ايمان لار له کړلېچونو، لوړو ژورو، خطرونو او ټکرونو ډکه لار ده، د دې لارې مؤمن لاروی بايد په هر ګام کې له آزموينو سره مخامخېدو ته چمتو او په دې باور وي چې هغه مهال به د الله تعالی رضا او د هغه ملتيا تر لاسه کوي چې له دغو آزموينو بريالی تېر شي.

---

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسۡبِقُونَاۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٤﴾

آيا هغو چې بد عملونه کوي داسې ئې انګېرلې چې تر موږ به وړاندې شي، څومره بد دئ هغه قضاوت چې دوی ئې کوي.

---

(٤)- په دې مبارك آيت کې هغه وګړي چې بد عملونه کوي داسې معرفي شوي چې ګواکې له الله تعالی سره خپل زور آزمويي، په دې هيله د خپل رب له حکم سرغړاوی کوي او بدو عملونو ته ئې ملا تړلې چې ګمان کوي همدا به ئې خپلو هيلو او آرمانونو ته ورسوي او نېکمرغي به ئې په برخه کړي!! الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: آيا داسې ئې انګېرلې چې تر موږ به وړاندې شي، په دې سيالۍ او مسابقې کې به برلاسي شي؟!! دا بې بنسټه قضاوت

ئې څومره بد دئ!!

مَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَأٓتٖۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٥ وَمَن
جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٦ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ۝٧

هغه چې د الله د ملاقات هیله لري نو یقیناً چې الهي ټاکلې نېټه هرومرو راتلونکې ده؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ. او چا چې جهاد وکړ نو د خپل ځان لپاره جهاد کوي، یقیناً چې الله له ټولو عالمیانو بې نیاز دئ؛ او هغه چې ایمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې وکړل حتماً به د دوی بدغوني ترې وپوښو او حتماً به د هغه ډېر غوره عمل په پرتله بدله ورکړو چې دوی کاوو.

(۵-۷)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- څوك چې آخرت ته طمع لري، داسې نېك عملونه ئې کړي چې د آخرت د ورځې په اړه ئې په ده کې هیلې راپیدا کړې، دا طمع لري چې له خپل رب سره د ملاقات په ورځ به ئې غوره بدله په برخه شي، هغه دې مطمئن وي چې د الله تعالی له لوري دا ټاکلې نېټه هرومرو راتلونکې ده، د ده ملاقات به له هغه رب سره وي چې پوه اورېدونکی دئ، د خپلو بندګانو په هر څه پوه دئ او د دوی وینا او دعاء اوري.
- او څوك چې د جهاد لپاره ملاتړې نو دا جهاد به ئې د ځان لپاره وي، ګټه به ئې په دنیا او آخرت کې ده ته رسېږي، الله تعالی د چا جهاد ته اړ نه دئ، هغه له ټولو عالمیانو بې نیاز دئ.
- چا چې ایمان راوړ او نېك عملونه ئې وکړل، الله تعالی به د روزنې، تربیت او اصلاح دروازې د دوی پر مخ پرانیزي، د دوی بدغوني به ترې وپوښي؛ او د دوی د هغه ډېر غوره عمل په پرتله به بدله ورکړي چې دوی کاوو. دلته د (لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ) الفاظ راغلي، د سیئات معنی بدګوني ده، چې هم ئې پر ګناهونو اطلاق کېږي او هم پر بدو خصلتونو، د تکفیر معنی پوښل او پټول دي، نو د تکفیر سیئات معنی د بدو خصلتونو ازاله او له منځه وړل دي، ځینو درنو مفسرینو دا د ګناهونو د بخښلو په معنی نیولې، حال دا چې د ګناهونو د بخښلو لپاره معمولاً په قرآن کې د یغفر الذنوب الفاظ راځي؛ او کله کله دا دواړه څنګ په څنګ راځي، چې په ډېر وضاحت سره ښیي چې د دواړو معنی یوه نه ده، یوه ئې د ګناهونو د بخښلو او بله ئې د بدو خصلتونو د ازالې په معنی ده، په قرآن کې دا هم په

مکرره توګه راغلي چې جهاد د تمحيص او عيارولو وسيله ده؛ او تمحيص د بدو خصلتونو ازالې او په نېکو خصلتونو د سمبالولو په معنی دئ.

د قيامت په ورځ او په الهي محاسبې کې د نېکعمله انسان بدله داسي نه ټاکل کېږي چې د ډېر ښه او لږ ښه عملونو اوسط بدله ورکړی شي، بلکې تر ټولو ښه عمل ئې په پام کې نيول کېږي او د هغه په پرتله بدله ورکوي.

وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗاۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَآۚ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٨ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدۡخِلَنَّهُمۡ فِي ٱلصَّٰلِحِينَ ۝٩

او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د نېك چلن سپارښتنه وکړه؛ او که هغوی ستا په اړه دا هڅه وکړي چې له ما سره هغه څه شريك کړې چې نه پرې پوهېږې نو اطاعت ئې مه کوه، راګرځېدا مو زما په لوري ده، نو زه به مو پر هغه څه خبر کړم چې تاسو کول. او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به ئې د صالحانو په صف کې داخل کړم.

(٨-٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د الله د لاري د مجاهد لومړۍ او تر ټولو ستره آزموينه او ستونزه د پلار مور مخالفت دئ، هغه مشرك مور پلار چې خپل مؤمن زوی د الله په لار کې جهاد ته نه پرېږدي او هڅه کوي چې هغه د دوی په څېر مشرك شي.
- الله تعالی دغه مجاهد ته څو لارښووني کړې: ١- له مور پلار سره نېك چلن کوه، ٢- که هغوی ستا په اړه دا هڅه وکړي چې له ما سره هغه څه شريك کړې چې نه پرې پوهېږې نو اطاعت ئې مه کوه، ٣- تاسو ټول زما لوري ته راګرځئ، ٤- زه به مو پر هغه څه خبر کړم چې تاسو کول، خلك به تا ملامتوي چې له خپل پلار او مور سره مخالفت کوې، ته به دا هيله کوې چې کاش داسي څوك راپيدا شي چې زما او زما د والدينو د اختلاف په اړه عادلانه قضاوت وکړي او وګوري چې زه ملامت نه يم، مطمئن اوسه چې تاسو ټول زما لوري ته راګرځئ او وروستۍ پرېکړه به زه کوم، نو مه د خلکو د غلطو قضاوتونو پروا کوه او مه ئې د ملامتولو.
- هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او د نژدې خپلوانو له ملاتړ او تأييد محروم شوی بايد ډاډه وي چې الله تعالی به صالح ملګري ورپه برخه کړي او د صالحانو په ډلې کې به ئې شامل کړي.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتۡنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِۖ وَلَئِن جَآءَ نَصۡرٞ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمۡۚ أَوَ لَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ ﴿١١﴾

او له خلکو ځيني داسې دي چې وايي: پر الله مو ایمان راوړی، خو کله چې د الله په اړه وځورول شي د خلکو فتنه داسې ګڼي لکه د الله عذاب؛ او که ستا د رب له لوري نصرت راشي حتماً وايي: يقيناً چې موږ له کوم شك پرته له تاسو سره وو، آيا الله په هغه څه ښه پوه نه دئ چې د عالميانو سينو کې دي؟!! او الله به حتماً هغه معلوم کړي چې ايمان ئې راوړی او حتماً به منافقين معلوم کړي.

(١٠-١١)- په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي:

- ځيني خلك د ايمان دعوی کوي او وايي: پر الله مو ايمان راوړی، خو کله چې د الله په اړه او د خپل ايمان له کبله د خلکو له لوري وځورول شي نو همدا د خلکو په لاس ځورونه داسې ګڼي لکه د الله تعالی عذاب. د دې فقرې په اړه مفسرينو بېل بېل تعبيرونه وړاندې کړي، ځينو ويلي چې د الله تعالی د عذاب له وېرې ئې ايمان راوړی او د خلکو د عذاب له کبله ئې ايمان پرېښی او د کفر لوري ته اوښتی؛ او ګواکې همدا د خلکو عذاب د الله تعالی د عذاب په څېر ګڼل دي، ځينو ويلي د خلکو عذاب دومره ورته ستر برېښي لکه د الله عذاب!! غوره او دقيق تعبير دا دئ چې ځيني خلك هغو طبيعي آزموينو ته چې هر مؤمن د الله تعالی په لار کې ورسره مخامخ کېږي؛ د الهي عذاب په سترګه ګوري؛ او د هغو مؤمنانو په اړه چې له داسې آزموينو او ځورونو سره مخامخ شوي دا تبليغات کوي چې دوی حتماً د الهي عذاب مستحق ول او حتماً ئې داسې اشتباهات او غلطۍ کړي چې الله تعالی ترې ناراضه شوی او له دغو مصيبتونو او عذابونو سره ئې مخامخ کړي. د خلکو له لوري د دوی ځورونو ته د الهي عذاب نوم ورکوي او په دې توګه د مظلومو مؤمنانو پر زخمونو مالګې دوړوي. وروستۍ فقره د دې مزيد وضاحت کوي او د برياوو په وخت کې د مؤمنانو په اړه د دوی وينا داسې انځوروي:
- او که ستا د رب له لوري نصرت راشي نو بيا په ډېر تأکيد سره وايي: يقيناً چې موږ له کوم شك پرته له تاسو سره وو!! يعني د مصيبتونو، هزيمتونو او ځورونو په وخت کې د مؤمنانو په ضد غلط او ظالمانه تبليغات کوي؛ او دوی ګرم او ملامت ګڼي، خو د برياوو په وخت کې ځان د دوی خواخوږی، ملګری او همسنګر معرفي کوي!!
- دوی ته ويل شوي چې تاسو په دې منافقانه دريځونو سره يوازې خپل ځان غولوئ، هيڅ

څه مو له الله تعالى پټ نه دي، ستاسو او د هر چا د سینو له اسرارو خبر دئ، الله تعالى به حتماً داسي حالت راولي چي په ترڅ کي ئې هم واقعي مؤمنان جوت شي او هم مکار او حیله گر منافقین. له ستونزو او کړاوونو سره د مؤمنانو د مخامخ کولو یوه لویه موخه دا ده چي واقعي مؤمنان او چالاك منافقین جوت او سره تفکيك شي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبِعُواْ سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَٰيَٰكُمْ وَمَا هُم بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَيْءٍۖ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْۖ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾

او هغو چي کفر ئې کړی هغو ته چي ایمان ئې راوړی وویل: زموږ د تګلاري متابعت وکړئ او موږ دي ستاسو د ګناهونو پېټی (پر خپلو اوږو) واخلو، په داسي حال کي چي دوی ئې د هيڅ ګناه پېټی (پر خپلو اوږو) وړونکي نه دي، یقیناً چي دوی حتماً دروغجن دي؛ او حتماً به خپل درانه پېټي (پر اوږو) وړي او ډېر نور پېټي له خپلو پېټو سره؛ او حتماً به د قیامت په ورځ له هغه څه وپوښتی شي چي دوی افتراء کول.

(۱۲-۱۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- کافرانو به مؤمنانو ته ویل: زموږ د تګلاري متابعت وکړئ او موږ دي ستاسو د ګناهونو پېټی (پر خپلو اوږو) واخلو. باید وګورو چي دا کافران څوك ول او د دوی د دې وینا معنی څه ده چي موږ دي ستاسو د ګناهونو پېټی پر خپلو اوږو واخلو؟ د دې بېل بېل تعبیرونه وړاندي شوي خو تر ټولو غوره او دقیق تعبیر دا دئ چي دلته مخکیني منافقین د کافرانو په نامه یاد شوي، دوی به مخلصو مؤمنانو ته ویل: راشئ زموږ تګلاره غوره کړئ، د عقل او هوښیارۍ تقاضا همدا ده چي موږ ئې کوو، که د دې تګلاري او دریځ په غوره کولو کي څه ګناه وي، نو مسئولیت ئې زموږ پر غاړه!! د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي د منافقینو دغه کرغېړن خصلت ته اشاره شوې، یوه بېلګه ئې د آل عمران په سورې کي په دې توګه راغلې: ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ وَقَعَدُواْ لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلْ فَٱدْرَءُواْ عَنْ أَنفُسِكُمُ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾ آل عمران: ۱٦۸

هغه چي خپلو ورونو ته ئې وویل؛ په داسي حال کي چي په خپله کښېنستلي وو: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل، ورته ووایه: له خپله ځانه مرګ دفع کړئ که رښتیني یئ.

- دا همغه منافقین دي چي په خپله ئې هم په جنګ کي برخه نه اخیسته او نور ئې هم له برخي اخیستو منع کول او له جګړي وروسته ئې ویل: که دوی زموږ خبره منلې وی او

په جګړې کې ئې له برخې اخیستو ډډه کړې وی، نو له دې مرګ ژوبلې سره به نه وو مخامخ شوي،

- دوی مؤمنانو ته دا خبره په داسې حال کې کوي چې نه په خپلې بلنې کې رښتیني دي او نه دا کار کولی شي، دا ځکه چې هر څوك د خپلو غلطیو ذمه وال دئ، د بل د غلطیو پېټی پر خپلو اوږو نشي وړی، دوی په دې وینا سره هغه څه وایي چې په الهي معیارونو کې دروغ دي، هو؛ دوی به حتماً د خپلو ګناهونو درانه پېټي پر اوږو وړي او ډېر نور پېټي هم له خپلو پېټو سره یو ځای، هغه پېټي هم چې د دوی د غلطو ویناوو له کبله نور تېروتي، ګناه ئې کړې او په سزا کې ئې دوی ورسره شریك دي.
- دوی به حتماً د قیامت په ورځ له هغه څه وپوښتی شي چې له ځانه ئې افتراء کول.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةً لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾

او یقیناً چې نوح مو د خپل قوم په لوري ولېږو، چې په دوی کې پنځوس کم زر کاله پاته شو، نو په داسې حال کې چې ظالمان ول طوفان ونیول، نو دی او کښتۍ وال مو وژغورل او دا مو د عالمیانو لپاره یوه څرګنده نښه وګرځوله.

(۱٤-۱٥)- په دې مبارکو آیتونو کې د سورې د لومړنۍ محوري موضوع لپاره یوه تاریخي بېلګه د نوح علیه السلام په قصې کې انځور شوې، چې په نه نیم سوه کاله اوږدې مبارزې وآزمویل شو، د دې اوږدې ستونزمنې مبارزې نتیجه ئې دا وه چې د ده د قوم یوه دومره واړه ټولګې پرې ایمان راوړ چې په یوې ډکې کښتۍ کې ځای شول.

نو د خپل ظلم او بغاوت له کبله د ستر طوفان ور شول، دا طوفان په داسې حال کې پرې راغی چې په خپل ظلم او بغاوت کې عملاً لګیا او دې ته چمتو نه ول چې لاس ترې واخلي.

په دې طوفان کې له یوې خوا ظالمان غرق شول او له بلې خوا نوح علیه السلام او د ده هغه ملګري چې په کښتۍ کې ورسره سپاره شوي ول وژغورل شول.

الله تعالی دا کښتۍ او دا پېښه د عالمیانو لپاره یوه څرګنده نښه وګرځوله.

وَإِبۡرَٰهِيمَ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُۖ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا وَتَخۡلُقُونَ إِفۡكًاۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ لَكُمۡ رِزۡقٗا فَٱبۡتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزۡقَ

وَٱعۡبُدُوهُ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓۖ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تُكَذِّبُواْ فَقَدۡ كَذَّبَ أُمَمٞ مِّن
قَبۡلِكُمۡۖ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٨﴾

او ابراهیم چې خپل قوم ته ئې وویل: د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، له الله پرته فقط څه بتان لمانځئ او څه دروغ جوړوئ، یقیناً هغه چې له الله پرته ئې لمانځئ رزق درته په واك کې نه لري، نو رزق د الله په خوا کې ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او شکر ورته وکړئ، د هغه لوري ته بېرته ګرځول کېږئ؛ او که تکذیب کوئ نو هغو ولسونو هم تکذیب وکړ چې تر تاسو وړاندې ول؛ او پر پیغمبر له څرګند تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته.

(۱٦-۱۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د سورې د مضامینو لپاره د ابراهیم علیه السلام په قصې کې یوه بله تاریخي بېلګه وړاندې شوې، په دې توګه چې ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته وویل:

- د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، تاسو چې له الله تعالی پرته څه لمانځئ فقط بتان او مجسمې دي او څه چې هغوی ته منسوبوئ له دروغو پرته بل څه نه دي، که کرامات ورته منسوبوئ، یا د دعاءګانو اجابت، یا د مشکلاتو حلول، ټول دروغ دي او تاسو له خپله ځانه جوړ کړي.
- هغه څه چې تاسو ئې له الله تعالی پرته لمانځئ نه رزق درکولی شي او نه دا واك او اختیار ورسره دئ چې تاسو ته رزق درکړي، د رزق واك په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ، نو خپل رزق د هغه په خوا کې ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او د هغه د نعمتونو شکر اداء کړئ، د هغه لوري ته بېرته ګرځول کېږئ.
- که تاسو د کفر او د حق د تکذیب لار غوره کوئ نو تر تاسو وړاندې ولسونو هم د تکذیب او کفر لار غوره کړه، تاسو همغه څه کوئ چې هغوی وکړل او برخلیك به مو همغه وي چې هغوی ورسره مخامخ شول.
- پر پیغمبر له څرګند تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ كَيۡفَ يُبۡدِئُ ٱللَّهُ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ﴿١٩﴾ قُلۡ
سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرۡحَمُ مَن يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ تُقۡلَبُونَ
﴿٢١﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن

وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٣﴾

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله څنګه پيدايښت پيلوي او بيا ئې (پر له پسې) اعاده کوي، يقيناً چې دا الله ته آسان دئ، ووايه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې پيدايښت ئې څنګه پيل کړی؛ او الله به بيا د آخرت (د ورځې) په بيارالپاڅولو سره راپاڅول کوي، يقيناً چې الله په هر څه توانمن دئ، هغه تعذيبوي چې دی ئې غواړي او پر هغه پېرزوينه کوي چې دی ئې غواړي؛ او د ده لوري ته ورګرځول کېږئ؛ او تاسو نه په زمکې کې ناتوانه کوونکي يئ او نه په آسمان کې؛ او له الله پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم مرستندوی. او هغه چې د الله په آيتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندې کافران شوي، همدا دوی زما له رحمته مأيوس شوي؛ او همدې ډلې ته دردناك عذاب دئ.

(١٩-٢٣)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی فرمايي: آيا د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی د دعوت مكذبينو دې ته پام نه دئ کړی چې الله تعالی څنګه د مخلوقاتو پيدايښت پيلوي او بيا ئې په پر له پسې توګه اعاده کوي، د يوه مخلوق پيدايښت له مخکينۍ بېلګې پرته په نوې بڼې کې پيل کړي؛ بيا د همدغه مخلوق نسل په پر له پسې توګه پيدا کوي؛ او دا بيا پيدايښت يقيناً چې تر لومړني پيدايښت ډېر آسان دئ.
- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې لارښوونه کړې چې خپلو مخاطبينو ته ووايه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې الله تعالی څنګه ډول ډول مخلوقات پيدا کړي، همدا الله تعالی به د آخرت د ورځې بيارالپاڅول کوي او مړي به راژوندي کوي، يقيناً چې الله تعالی په هر څه توانمن دئ. په دې ورځ به هغه څوك تعذيبوي چې دی ئې د تعذيب وړ ګڼي؛ او پر هغه به پېرزوينه کوي چې دی ئې د پېرزويني وړ ګڼي، تاسو ټول به د ده لوري ته ورګرځول کېږئ. تاسو نه په زمکې کې داسې ځواك موندلی شئ چې د الله تعالی په وړاندې د برلاسي امکان مو په برخه کړي او نه په آسمان کې؛ او له الله تعالی پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم مرستندوی.
- يوازې هغه وګړي به د الله تعالی له رحمت او پېرزويني ناهيلي او مأيوس وي چې د الله تعالی په آيتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندې کافران شوي، همدا ډله به په دنيا او آخرت کې له دردناك الهي عذاب سره مخامخ کېږي.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقۡتُلُوهُ أَوۡ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِۚ إِنَّ

فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا مَّوَدَّةَ
بَيۡنِكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ
بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾

نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ويل: وئې وژنئ يا ئې وسوزوئ، نو الله له اوره وژغورو، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې ايمان راوړي؛ او وئې ويل: له الله پرته يوازې څه بتان مو (خپل معبودان) نيولي، په دنيايي ژوند کې د خپلمنځي مينې له کبله، بيا به د قيامت په ورځ ستاسو ځيني له ځينو نورو انکار کوي او ستاسو ځيني به پر ځينو نورو لعنت وايي؛ او مېشتځی به مو اور وي او هيڅ مرستندويان به نه لرئ.

---

(۲٤-۲٥)- د ابراهيم عليه السلام مشرك قوم هغه ته يوازې يو ځواب درلود او هغه دا چې وئې ويل: وئې وژنئ يا ئې وسوزوئ، نو الله له اوره وژغورو، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې ايمان راوړي، څو نښې: ۱- د ايمان په لار کې به له آزموينو سره مخامخ کېږي، همغسې لکه چې ابراهيم عليه السلام ورسره مخ شو، ۲- ځيني خلك داسې دي چې په دلائلو نه قانع کېږي که څه هم د هغوی په وړاندې د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر او اغېزمن داعي ولاړ وي او د الله تعالی د کتاب دلائل ورته وړاندې کوي او داسې ستره معجزه په خپلو سترګو ګوري چې د ستر اور لمبې د ابراهيم عليه السلام له سوزولو عاجزې دي او روغ رمټ ترې وځي، ۳- الله تعالی به د حق د لارې مجاهدين د دښمنانو له بدو عزائمو ژغوري، همغسې لکه چې ابراهيم عليه السلام ئې وژغورو.

ابراهيم عليه السلام هغوی ته وويل: تاسو چې له الله تعالی پرته څه لمانځئ او د معبودانو په توګه مو نيولي، هسې څه بتان دي چې نه څه حيثيت لري، نه د لمانځنې او عبادت وړ دي، نه ګټه رسولی شي او نه ضرر دفع کولی شي، په ورځنۍ دنيايي ژوند کې د خپلمنځي مينې له کبله مو ځيني خلك هغه ځای ته رسولي چې هم ئې په ژوند کې لمانځئ؛ او هم ئې له مرګ وروسته د دوی بتان جوړ کړئ او د معبودانو په سترګه ورته وګورئ. يعنې په خپلو کې مينه مو په شرك منتج شوه، د خپل قوم د صالح او نېکو شخصيتونو په ستاينې کې مو غلو وکړه، هغوی مو د الله تعالی سيال او ند وګڼل، لومړی مو د دوی له قبر او مرقد ځان ته قبله او مطاف جوړ کړ، بيا مو د دوی مجسمې جوړې او هغه مو ځان ته (اوثان) وګرځول، د دغو اوثانو په پښو کې اعتکاف مو الله تعالی ته د تقرب وسيله وګڼله او په پای کې مو هغوی په الوهيت او ربوبيت کې شريك او د خدای ند ومنل، د عالم د چارو اداره، د بندګانو اړتياوو ته ځواب، د دعاګانو اجابت او د استغاثو اورېدل مو د الله تعالی او اوثانو

تر منځ ووېشل، ورو ورو مو هغه خدای هېر کړ چې له سترګو پټ دئ او د ده په ځای مو هغه خدای کښیناوو چې ستاسو د ذهن زېږنده او ستاسو د لاس مصنوع او مولود دئ، خو د قیامت په ورځ به نه دا مینه وي، نه ستاینه، نه لمانځنه، بلکې ستاسو ځیني به له ځینو نورو انکار کوي او ستاسو ځیني به پر ځینو نورو لعنت وایي، ستاسو ټولو مېشتځی به د دوزخ اور وي او هیڅ مرستندویان به نه لرئ، عملاً به درته ثابته شي چې له بتانو او دروغجنو معبودانو د مرستي هیله درلودل څومره خوشې او بې بنسټه هیله وه!!

فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

نو لوط پرې ایمان راوړ؛ او وئې ویل: زه د خپل رب لوري ته هجرت کوونکی یم، یقیناً چې هغه باحکمت عزتمن دئ؛ او ده ته مو اسحاق او یعقوب ورپه برخه کړل او د ده په اولاد کې مو نبوت او کتاب (یو امتیاز) وګرځاوو او د ده اجر مو په دنیا کې ورکړ؛ او یقیناً چې هغه به په آخرت کې حتماً له صالحانو وي.

(٢٦-٢٧)- دا مبارك آیتونه موږ ته وایي:

- په ټول ولس کې یوازې لوط علیه السلام پر ابراهیم علیه السلام ایمان راوړ، سره له ټول هغه اغېزمن، مستدل او له زړه سوي ډك دعوت؛ او سره له هغې ستري معجزې چې د نمرود له سره اور له لمبو روغ رمټ وژغورل شو، دا دئ یوازې یوه ځوانکې، د ده وراره؛ لوط علیه السلام پرې ایمان راوړ، خو ابراهیم علیه السلام په دغې آزموینې کې هم بریالی شو، نه د خپل رب له مرستې ناهیلی شو او نه د خپل دعوت له نتائجو مأیوس، پرېکړه ئې وکړه چې دا سیمه پرېږدي، خو نه د تېښتې او فرار په توګه؛ بلکې په بلې سیمې کې د دعوت د دوام او د الله تعالی لوري ته د خلکو د بلنې په قصد، وئې ویل: زه د خپل رب لوري ته هجرت کوونکی یم، یقیناً چې هغه باحکمت عزتمن دئ، یعنې زما د رب هره پرېکړه حکیمانه ده، هغه د خپلو پرېکړو په پلي کولو برلاسی او ځواکمن دئ، که ولس زما له ملګرتیا ډډه کړې، یوازې او له یوه ملګري سره له دې سیمې وتلو ته اړ شوی یم، خو طمع مې دا ده چې په همدې کې به لوی مصلحت مضمر وي، هیله من یم په همدې هجرت ستر ستر نتائج مرتب شي، دا ځکه چې زما رب باحکمت عزتمن دئ.
- د خپل رب په اړه د دې ډاډ او اعتماد څرګندولو او په دې الهي آزموینې کې د بریا له امله؛ الله تعالی خپل خلیل ابراهیم علیه السلام ته څو ستر ستر انعامونه ورکړل: ١- د اسحاق او یعقوب علیهما السلام په څېر پیغمبران ئې د ده په اولاد کې راپیدا کړل، د بني اسرائیلو

ټول پیغمبران ئې، تر عیسی علیه السلام پورې او په پای کې محمد علیه السلام؛ د ده په اولاد کې غوره کړل. ۲- (نبوت) او (کتاب) ئې د ده په اولاد کې (یو امتیاز) وګرځاوو، له ده وروسته ټول انبیاء د ده په اولاد کې غوره شوي او ټول الهي کتابونه په دوی کې نازل شوي. ۳- د ده اجر ئې په دنیا کې هم ورکړ، تر قیامت پورې به هم د ده نوم ژوندی وي او هم د ده تګلاره تلپاتې. ٤- په آخرت کې به د صالحانو په ډلې کې او د موحدینو د ستر سالار په توګه حشر کېږي.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾

او لوط چې کله ئې خپل قوم ته وویل: یقیناً چې تاسو د هغه فحش (کرکجن کار) مرتکب کېږئ چې په نړۍ والو کې هیچا هغه ته پر تاسو وړاندې والی نه دئ کړی، آیا تاسو له نارینه وو سره (جنسي) نژدېکت کوئ او لار قطع کوئ او په خپلو مجلسونو کې د دې کرکجن کار مرتکب کېږئ، نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ویل: که رښتینی یې نو د الله عذاب راته راوړه! وئې ویل: اې زما ربه! پر دې مفسدو وګړو بریا را!

(۲۸-۳۰)- د الله د لارې د مجاهدینو او له آزموینو سره د مخامخېدو بله بېلګه لوط علیه السلام دئ چې یوه مفسد ولس ته د داعي په توګه تللی او هغوی ته ئې وویل: یقیناً چې تاسو د داسې فحش، ګنده او کرکجن کار مرتکب کېږئ چې په نړۍ والو کې هیچا هغه ته پر تاسو وړاندې والی نه دئ کړی، نه په انسانانو کې داسې څوک تېر شوی چې تر تاسو وړاندې ئې دا ګنده او د انساني فطرت خلاف کار کړی وي او نه په حیواناتو کې!! آیا تاسو له نارینه وو سره جنسي نژدېکت کوئ او لار قطع کوئ او په خپلو مجلسونو کې د دې کرکجن کار مرتکب کېږئ؟!! دلته د لوط علیه السلام درې خبرې رانقل شوې: آیا له نارینه وو سره جنسي نژدېکت کوئ؟ لار قطع کوئ؟ په خپلو مجلسونو کې دا ګنده فعل کوئ؟ د لومړۍ خبرې معنی واضح ده، د اړوند آیت له الفاظو هم په وضاحت سره معلومېږي چې معنی ئې د نارینه وو تر منځ جنسي نژدېکت دئ او د قرآن بل آیت هم د دې مزید وضاحت کوي او وایي چې د شهوت په موخه به ئې له نارینه وو سره نژدېکت کاوو.

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ الاعراف

تاسو خو له ښځو پرته نارينه وو ته د شهوت په موخه درومئ!! بلکې تاسو يو مسرف قوم يئ.

خو د دوهمي او دريېمي خبرې په اړه په تفسيرونو کې بېل بېل تعبيرونه مومو، ځيني وايي چې دوی د دې گنده کار تر څنگ شوکې کولې، په لويو لارو کې به د شوکو لپاره کښېنستل او لاروي به ئې ځورول، د دوی مالونه به ئې لوټل او د دوی پر سر، مال او عزت به ئې تېری کاوو؛ او په خپلو غونډو او مجلسونو کې به ئې ډول ډول گنده کارونه کول، خو تر ټولو غوره او دقيق تعبيرونه دا دي چې دوی په دې گنده او د فطرت خلاف کار سره د انساني فطرت له غوښتني سره سم او د انسان د نسل د دوام فطري لار پرېښوده او غير فطري لار ئې غوره کوله، دا گنده فعل ئې په پټه نه بلکې په څرگنده او په خپلو مجلسونو کې د نورو په وړاندې کاوو، دا تعبيرونه ځکه تر نورو دقيق دي چې له يوې خوا د کلام تسلسل همدا مطلب افاده کوي، (السبيل) او (المنكر) په معرفه صيغو راغلي چې ښيي تر دې وړاندې ئې يادونه شوې او دلته په وړاندېنيو فقرو کې له دغه گنده فعل پرته بل مورد نه مومو، له بلې خوا قرآن په نورو آيتونو کې دا وضاحت کړی چې دوی د نورو په وړاندې دا کار کولو او ښځې ئې پرېښودې:

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾ النمل

او لوط چې کله ئې خپل قوم ته وويل: آيا دې فحش کار ته په داسې حال کې وړاندې کېږئ چې تاسو (يو بل ته) گورئ، آيا تاسو له ښځو پرته نارينه وو ته د شهوت په موخه وړاندې کېږئ، بلکې تاسو په جهالت کې پرېوتونکي وگړي يئ.

دا مطلب په څو نورو آيتونو کې هم په همدې توگه راغلی، دغو آيتونو ته په پام سره په بشپړ يقين سره ويلی شو چې دلته هم مراد همدا دئ نه بل څه.

لوط عليه السلام ته د دې مفسد او په گندگيو کې د پرېوتي ولس ځواب له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ويل: که رښتينی يې نو د الله عذاب راته راوړه! په کوم عذاب چې موږ گواښې؛ او ادعاء کوې چې موږ د الهي عذاب وړ يو، که ستا دا ادعاء رښتينې وي نو دا الهي عذاب پر موږ نازل کړه!! د دې ځواب معنی دا وه چې دوی له دې گنده فعل لاس اخيستو ته چمتو نه دي، د لوط عليه السلام د انذار او گواښني پروا نه لري، د لوط عليه السلام دا وينا نه مني چې دغه گنده عمل به ئې له الهي عذاب سره مخامخ کړي، نو ځکه لوط عليه السلام د دوی له ايمان راوړو ناهيلی شو او خپل رب ته ئې داسې دعاء وکړه: اې زما ربه! پر دې مفسدو وگړو بريا را! الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، د ده مرستې ته ئې د فرشتو يو ټولگی ولېږو، د فرشتو دې ټولگي ابراهيم عليه السلام ته د اسحاق او يعقوب عليهما السلام د زېږېدو او نبوت زېری ورکړ او په ضمن کې ئې د خپل اصلي مأموريت په اړه هغه ته وويل

چې د لوط علیه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلوي.

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُوٓاْ إِنَّا مُهۡلِكُوٓاْ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِۖ إِنَّ
أَهۡلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطٗاۚ قَالُواْ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَن فِيهَاۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ
وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٣٢﴾

او کله چې زموږ استازي ابراهیم ته له زېرې سره ورغلل وئې ویل: یقیناً چې موږ د دې کلي ویجاړوونکي یو، یقیناً چې هستوګن ئې ظالمان ول، وئې ویل: په دې کې خو د لوط غوندې (شخصیت) دئ، هغوی وویل: موږ هغه ښه پېژنو چې په (دې کلي) کې دي، حتماً به دی او د ده ټبر وژغورو، له مېرمنې ئې پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده.

(٣١-٣٢)- د فرشتو دغه ټولګی چې د لوط علیه السلام د دعاء په ځواب کې او د ده د مرستې لپاره لېږل شوی، تر ده وړاندې د ابراهیم علیه السلام خوا ته ځي، دا ځکه چې لوط علیه السلام د ده په لارښوونه او د ده له لوري په دې سیمې کې د داعي په توګه ګمارل شوی وو، الله تعالی د لوط علیه السلام او د ده د مخاطب قوم د برخلیك په اړه لومړی ابراهیم علیه السلام خبروي او بیا لوط علیه السلام، فرشتې لومړی د ده خوا ته درومي، هم د اسحاق او یعقوب علیهما السلام د زېږېدو او رسالت زېری ورکوي او هم د لوط علیه السلام او د ده د مؤمنو ملګرو د ژغورنې او د ده د مفسد قوم د تعذیب خبر ورکوي، نو کله چې د فرشتو دا ټولګی ابراهیم علیه السلام ته له زېرې سره ورغی ورته وئې ویل: موږ د دې کلي د ویجاړولو په موخه راغلي یو، دا ځکه چې هستوګن ئې ظالمان ول او د دې وړ چې کلی ئې نسکور شي، ابراهیم علیه السلام ورته وویل: په دې کې خو د لوط علیه السلام غوندې شخصیت دئ، څنګه ئې ورانوئ؟!! هغوی ورته وویل: موږ د کلي ټول هستوګن ښه پېژنو، په دې پوهېږو چې څوك د ژغورلو وړ دئ او څوك د هلاکولو، دی او د ده ټبر به حتماً وژغورو، له مېرمنې ئې پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده او د هغوی په برخلیك به اخته کېږي.

وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗاۖ وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا
تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ
أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿٣٤﴾ وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ

ءَايَةَۢ بَيِّنَةَ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٣٥

او کله چې زموږ استازي لوط ته ورغلل؛ د دوی (د ورتلو) له کبله خوابدی شو او د دوی له کبله زړه تنګی شو، وئې ویل: مه وېرېږه او مه غمجن کېږه، موږ حتماً ستا او ستا د اهل ژغورونکي یو، ستا له مېرمنې پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده، یقیناً چې موږ د دې کلي پر هستوګنو له آسمانه د لړزوونکي عذاب نازلوونکي یو، له دې کبله چې دوی سرغړاوی کاوو؛ او یقیناً چې له دې کلي مو د هغو وګړو لپاره څرګنده (د عبرت) نښه پرېښوده چې تعقل کوي.

(٣٣-٣٥)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

کله چې د فرشتو دغه ټولګی د تنکیو زلمیانو په بڼې کې د لوط علیه السلام خوا ته ورغی؛ د دوی د ورتلو له کبله هم سخت خوابدی شو او هم ډېر زړه تنګی، پوهېدو چې د ده مفسد قوم به د همدغو زلمیانو له کبله د ده پر کور برید کوي، له کوره ایستل ئې د غیرت او شهامت خلاف کار دئ او قوم ته ئې سپارل د ایمان منافي عمل، له همدې کبله سخته پرېشانۍ پرې راغله، نه پوهېدو څه وکړي، نه د قوم د مقابلې وس لري او نه د خپلو مېلمنو د خوندي ساتلو امکانات، فرشتو ورته وویل: مه وېره کوه او مه اندېښنه، مه زموږ په اړه وېره لره او مه زموږ د ژغورنې اندېښنه، موږ راغلي یو چې تا او ستا اهل وژغورو، ستا له مېرمنې پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده، موږ د دې کلي پر هستوګنو له آسمانه د لړزوونکي عذاب نازلوونکي یو، له دې کبله چې دوی فاسقان ول. همداسې وشول، کلی نسکور شو، زمکه ئې کښېنسته، لوط علیه السلام د خپلې کورنۍ له مؤمنانو سره وژغورل شول؛ او له دې نسکور شوي او ښخ شوي کلي او دغې پېښې د هغو وګړو لپاره د عبرت څرګنده نښه جوړه شوه چې تعقل کوي. قرآن په دې قصې کې خپل مخاطب ته څو درسونه ورکوي:

د الله تعالی په لار کې یوه ستره آزموینه دا ده چې د دې لارې لاروی د خپلې مېرمنې او د ژوند همسفر له ملګرتیا محروم شي، هغه ئې په نیمې لارې کې یوازې پرېږدي، لکه څومره چې د یوه داعي او مجاهد انسان لپاره یوه صالح او مؤمنه مېرمن ستره متکاء وي، د ده زړه مضبوطوي، ډاډینه ورکوي، اندېښنې ئې رفع کوي، که له کور بهر له هر څومره ستونزو، اهانتونو، کړاوونو او مخالفتونو سره مخامخ شي خو کله چې کور ته راستون شي او د خپلې مېرمنې له احترام، مینې، ورین تندي، حمایت، ترغیب او تشویق سره مخ شي، نو یأس ئې په هیلي او ستوماني ئې په نشاط بدل شي، د مېرمنې عدم توافق او مخالفت همدومره ستره ستونزه وي او د اولوالعزم داعي ملا ماتوي او همت ئې ویلې کوي. نو اې د الله تعالی د لارې صبور او باهمته مجاهده! کېدی شي له دې ستونزمنې آزموینې سره مخامخ شې، د لوط او نوح علیهما السلام په څېر به صبر کوې.

کېدی شي د مبارزې په دوران کې داسې حالت دربانديږ راشي چې د نصرت فرشتې ستا خوا ته رسېدلې وي، ستا او د وروستي بري تر منځ څو ګامه او څو لنډې شېبې پاتې وي، خو الله تعالی غواړي بيا هم تا وآزمويي، داسې حالت دربانديږ راولي چې د نصرت فرشتې ته د يوه بل مصيبت په سترګه وګورې، همغسې لکه چې د لوط عليه السلام خوا ته د نصرت فرشتې رسېدلې وې، د هغوی په راتلو سره سخت خوابدی او غمجن شو، خو بې همتي ئې ونه کړه او د صبر لمن ئې پرې نښوده، نو ځکه فرشتو ورته وويل: سحر به سخت الهي عذاب خپل وزر پر دې خلکو غوړوي، سحر خو به لرې نه وي؟!!

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱرْجُوا۟ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٣٧﴾

او د مدين لوري ته د دوی ورور شعيب (مو ولېږو) چې وئې وويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ او د آخرت ورځې ته طمع ولرئ او په زمکې کې فساد کوونکي مه ګرځئ. نو هغه ئې تکذيب کړ چې په پايله کې ئې سختې جړکوونکې (زلزلې) ونيول، نو په خپلو کورونو کې پر ګونډو پرېوتي شول.

(۳٦-۳۷)- د الله د لارې له مجاهدينو سره د مخالفتونو يوه بله بېلګه له شعيب عليه السلام سره د ده د قوم مخالفت دئ، هغه خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! ۱- د الله عبادت وکړئ، ۲- د آخرت ورځې ته طمع ولرئ، د هغو وګړو په څېر شئ چې د خپلو نېکو عملونو له امله د اخروي سعادت هيله لري او د هغو په څېر مه کېږئ چې د بدو عملونو له امله ئې په آخرت کې له نېك مستقبل طمع قطع شوې، ۳- په زمکې کې فساد کوونکي مه ګرځئ. خو هغوی تکذيب کړ او د دې تکذيب پايله دا وه چې سختې جړکوونکې زلزلې ونيول؛ او په خپلو کورونو کې پر ګونډو پرېوتي په مرګ محکوم شول.

وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمْ ۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُوا۟ مُسْتَبْصِرِينَ ﴿٣٨﴾

او عاد او ثمود چې له هستوګنځيو ئې درته جوته شوې؛ او شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل نو له لارې ئې واړول، په داسې حال کې چې سترګور ول.

(۳۸)- عاد او ثمود هم خپل پيغمبران تکذيب کړل، شيطان خپلې تګلارې ورته ښايسته کړې

وې، له سمي لارې ئې واړول، دا هر څه ئې په داسې حال کې کول چې هم د خپلو غلطو کړنو د بدوالي شاهد ول او هم د خپلو پيغمبرانو په حقانيت پوهېدل.

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ﴿٣٩﴾

او قارون، فرعون او هامان، چې موسی له ځرګندو نښو سره ورغی، خو دوی په ځمکې کې د خپلې لويي لټه وکړه، په داسې حال کې چې وړاندې کېدونکي نه ول.

(٣٩)- د مصر دريو ځواکونو، قارون، فرعون او هامان، (چې يو ئې د شتمنو ممثل دئ، بل ئې د واکمنو او دريم ئې د نظام د فکري او ديني حاميانو)، د موسی عليه السلام مخالفت وکړ، د ټولو د مخالفت او دښمنۍ وجه او موخه دا وه چې د موسی عليه السلام دعوت ئې د خپلې لويي لپاره ګواښ ګڼلو او غوښتل ئې خپله برلاسي، لويي او امتيازات خوندي وساتي. خو ومو ليدل چې په دې سيالۍ کې برلاسي نه شول او مسابقه ئې ونه ګټله.

فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٤٠﴾

نو هر يو مو د خپلې ګناه له کبله ونيو، نو د دوی ځيني هغه ول چې تونده سيلۍ مو پرې ولېږله، ځيني ئې هغه چې لوړې چيغې ونيول، ځيني ئې هغه چې په ځمکې کې مو خسف کړل او ځيني ئې هغه چې غرق مو کړل، په داسې حال کې چې الله ظلم نه پرې کولو بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو.

(٤٠)- الله تعالی دا هر قوم د خپلې ګناه له کبله ونيو، پر ځينو ئې تونده ويجاړوونکې سيلۍ ولېږله چې هر څه ئې پر دوی رانسکور کړل، ځيني ئې له درنې چاودنې او هيبتناکې چيغې سره مخامخ کړل، ځيني ئې په ځمکې کې خسف او ښخ کړل او ځيني ئې په سمندر کې غرق کړل، دوی چې له کوم دردناك برخليك سره مخ شوي په دې کې الله تعالی پر هغوی کوم ظلم نه دئ کړی بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو او داسې ظالمانه تګلاره ئې غوره کړې وه چې پايله ئې له دې پرته بل څه نه وو.

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ

أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

د هغو خلکو چې له الله پرته نور مرستندويان نيسي مثال د هغي غڼې په څېر دئ چې ځان ته ئې کور ونيو، دا په داسي حال کې چې تر ټولو سست کور د غڼې کور دئ، کاش پوهېدی.

---

(٤١)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دلته هغه څوك له غڼې سره تشبيه شوی چې له الله تعالی پرته بل څه ته پناه وړي، د فرعون، قارون او هامان او د ګڼ شمېر نورو ځواکمنو قومونو د بدو پايلو له يادولو وروسته دا خبره کوي، دوی پر خپل زور، ځواك او ډېرښت مغرور شوي وو، نه پوهېدل چې دا ډېره کمزورې متکاء ده، داسي لکه د غڼې ځاله، د الله له عذابه او د حق په وړاندي له حتمي ماتې ئې نشي ژغورلی، تاريخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د دوی او د دوی د زور، ځواك او ډېرښت پايله څه وه!!
- په دې مبارك آيت کې د (اتخذت) صيغه راغلې، چې د مؤنث صيغه ده او ښيي چې دا کور ښځينه غڼې جوړوي؛ او دا هغه خبره ده چې نن ئې محققين کوي، نه يوازي د قرآن د نزول په وخت کې هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدو بلکې تر نولسمې پېړۍ وړاندي څوك له دې حقيقته خبر نه وو، چا چې د غڼو د ژوند په اړه څېړني کړې دي ورته جوته شوې چې د ځالي د جوړولو دنده د ښځينه غڼې په غاړه وي!! نارينه ئې د ځالي په جوړولو کې هيڅ لاس نه لري. او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ.
- دې ته مو پام وي چې د غڼې ځاله يوازي د غڼې کور نه وي بلکې د ښکار دام هم وي، په همدې کې نور حشرات لکه مېږي، ماشې او موچان نښلي او دوی ئې خوري. ډېر نور ژوي هم داسي دي چې د ښکار دنده د ښځو په غاړه وي، د بېلګې په توګه د زمريانو نارينه په ځانګړې توګه هغه مهال چې ستر او دروند شي په ښکار کې برخه نه اخلي، ښځه ئې ښکار کوي او بيا ئې لومړی نارينه ځان پرې موړ کړي او وروسته ئې ښځه په خوراك پيل وکړي!!
- د ځالي په جوړولو کې چې الله تعالی غڼې ته کوم استعداد ورکړی د ډېر حيرت وړ دئ، څومره منظمه ځاله جوړه کړي، د تارونو تر منځ ئې فاصله څومره دقيقه وي، يو ماهر او مسلکي انجنير ئې په آسانۍ او له پرمختللو وسائلو له استفادې پرته نشي جوړولی، هغه هم له داسي نازك تار چې په خپله ئې توليدوي!!
- د يوويشتمي پېړۍ په لومړۍ لسيزي کې د جراحي ډاکټران په دې لټه کې شول چې د زخمونو د ګنډلو لپاره داسي تار تر لاسه کړي چې که په زخم کې پاته شي نو کومه ستونزه راولاړه نشي، دوی چې له کومو مصنوعي تارونو استفاده کوله تر اوږدې مودې د بيمار په بدن کې د پاته کېدو په صورت کې به ئې ستونزي راولاړولې، له زياتو تجربو او تحقيقاتو وروسته دې نتيجې ته ورسېدل چې د غڼې له تار په دې اړه استفاده وکړي!! آيا عجيبه نه

ده چې د الله تعالی یو وړوکی مخلوق داسې تار جوړولی شي چې د یوویشتمې پېړۍ انسان ئې له جوړولو عاجز دئ؟!!

إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٤﴾

یقیناً چې الله پوهېږي چې دوی له ده پرته کوم (د اعتناء وړ) شی نه وربلي؛ او دی باحکمت عزتمن دئ. او دا هغه مثالونه دي چې خلکو ته ئې بیانوي، دا په داسې حال کې چې له پوهانو پرته بل څوك نه پرې پوهېږي، الله آسمانونه او زمکه په سمه توګه پیدا کړي، یقیناً چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده.

(٤٢-٤٤)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• الله تعالی ته د دوی د معبودانو ماهیت، د هغه څه ماهیت چې دوی مرسته ترې غواړي، دوی پرې اتکاء کوي او دوی ئې مغرور کړي، ښه معلوم دئ، دا نه یوازې د غني د ځالې په څېر سست او کمزوري دي بلکې د الله په وړاندې او د حقیقت په تلې کې داسې دي لکه هیڅ، دا د دوی د وهم زېږنده موهومې شیان دي چې دوی ئې ځانځي، مرسته ترې غواړي او اتکاء پرې کوي، د هغه الله تعالی په وړاندې به د دغو مرستندویانو څه حیثیت وي چې عزیز او حکیم دئ؟! د دې آیت یو بل تعبیر هم شوی چې وایي: الله تعالی هر هغه څه پېژني چې دوی ئې وربلي، خو دا تعبیر کمزوری دئ، نه د آیت له الفاظو سره اړخ لګوي او نه د آیت له سیاق و سباق سره.

• دا هغه مثالونه دي چې الله تعالی ئې خلکو ته بیانوي، د دې مثالونو په حقیقت او معنی یوازې د پوهې او علم خاوندان پوهېږي.

• الله تعالی آسمانونه او زمکه په حق او سمه توګه پیدا کړي، دلته د باطل لپاره مجال، د پښو ځای، متکاء او مستمسك نشته، په آسمانونو او زمکې کې داسې څه نه موندل کېږي چې د باطل او باطلپالو مرسته وکړي.

• یقیناً چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده، هغوی باید پوه شي چې الله تعالی او د آسمانونو او زمکې هر څه د دوی تأیید او ملاتړ کوي د دوی مخالفین د الله تعالی او د آسمانونو او زمکې د هر څه له تأیید او ملاتړ محروم دي.

ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ

وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ﴿٤٥﴾

**د دې کتاب هغه برخه لوله چې تا ته ئې وحې شوې او لمونځ قائم کړه، يقيناً چې لمونځ د فحشاء او منکر مخنيوی کوي او د الله يادونه ډېره ستره ده؛ او الله په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ.**

(٤٥)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لارې مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې قرآن ولولي او لمونځ وکړي، يعني که تاسو د مخکينيو پيغمبرانو او مؤمنانو په څېر له آزموينو سره مخامخ يئ نو قرآن ته رجوع وکړئ، هغه ځان ته لارښود کړئ، د هغه په رڼا کې خپله لاره او خپل دريځ وټاکئ او په لمانځه سره دا سعادت تر لاسه کړئ چې له فحشاء او منکر خوندي پاتې شئ او د الله تعالى مرسته او تأييد مو په برخه شي، يقيناً چې لمونځ نه يوازې له هر سپك او کرکجن کار مخنيوی کوي بلکې ډېر نور ايجابي نتائج لري، دا ځکه چې د الله يادونه ډېره ستره او اغېز ئې ستر او پراخ دئ، دا لارښووني د هغه الله تعالى له لوري دي چې ستاسو د کړنو په څرنګوالي او پايلو ډېر ښه پوهېږي.

پدې مبارك آيت کې چې د لمانځه د اغېز په اړه څه ويل شوي خلاصه ئې دا ده:

- لمونځ له هر هغه کرکجن فکر، وينا او فعل انسان منع کوي چې د سالم فطرت خاوند ترې کرکه لري او بل ئې له ده نه خوښوي. د دې وجه کاملاً څرګنده ده، د هر انسان اخلاق او سلوك د ده له قبلې او هدف رنګ اخلي، دا ستا د ژوند جهت او ستا د هلو ځلو مقصد او هدف دئ چې ستا د کړو وړو څرنګوالی ټاکي. ته په خپل لمانځه سره له شيطان سره چې د شر په لوري هڅوونکی دئ مقاطعه کوې، د ده له وسوسو الله ته پناه وړې، مخ خدای ته اړوې او شا شيطان ته، خود به له ټولو هغو بدو کارونو ډډه کوې چې شيطان ئې خوښوي او الله ورباندې ناراضه کېږي.
- کوم لمونځ چې د فحشاء او منکر مخنيوی ونکړي هغه لمونځ لمونځ ندئ.
- د لمانځه يوازې سلبي نتائج ندي چې فقط له کرکجن فکر، قول او عمل مانع شي، بلکې بې شمېره ايجابي اثرات او نتائج لري. دې مطلب ته د نوموړي آيت پدې برخې کې اشاره شوې: وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ: او د الله يادونه ډېره ستره ده. په تفسيرونو کې د دې فقرې لاندې تعبيرونه مومو:

دلته له ذکر مراد لمونځ دئ، يعنی لمونځ تر دې هم ستر دئ چې يوازې له فحشاء او منکر مخنيوی وکړي، بلکې په انسان کې د لوړو لوړو اخلاقي ښېګڼو د پيدا کېدو باعث دئ.

ته په لمانځه کې د الله يادونه کوې او الله جل شأنه ستا يادونه کوي، خو د الله يادونه ډېره ستره او غوره ده، که ته ئې د زمکې په کوم ګوټ کې له ځان سره ياد کړې نو لوی الله جل شأنه دې پورته په آسمانونو کې يادوي، که ته ئې د انسانانو په کومې ټولنې کې ياد کړې،

نو الله جلت عظمته دې په ملاء اعلی کې، ستا تر ټولنې په غوره ټولنې کې يادوي، الله جل شأنه فرمايي: فَاذْكُرُونِى أَذْكُرْكُمْ : ما ياد کړئ چې ياد مو کړم.

• د لمانځه او د بل هر عبادت، اساسي او ترټولو مهم جزء د الله ذکر او يادونه ده، د عباداتو ظاهري حرکات د جسد د غړو په شان او د الله يادونه د هغه د روح په څېر ده، که کوم څه يو واقعي عبادت، له يوه بې مقصده حرکت او يوه انساني عادت، تقليد يا شکلي مراسمو بېلوي نو هغه د الله ذکر دئ، الله ته مقبول عبادت يوازې هغه دئ چې محرك او هڅوونکی ئې د خدای ذکر وي. دا مطلب په يوه مبارك حديث کې ډېر ښکلی انځور شوی:

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم « أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِى دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ ». قَالُوا بَلَى. قَالَ « ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى ». الترمذی

له ابو درداء رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: آيا تاسو ته تر ټولو غوره عمل مو دروښيم، هغه چې ستاسو د رب په وړاندې تر ټولو پاکيزه او ستاسو په درجو کې تر ټولو لوړ؛ او د سرو سپينو زرو تر انفاق هم غوره وي؛ او تردې هم چې له دښمن سره په جګړې کې مخامخ شئ، هغه ستاسو غاړې او تاسو د دوی غاړې ووهئ؟ صحابه وو وويل: هو يا رسول الله! هغه وفرمايل: د الله جل شأنه ذکر.

خو دې ته مو بايد پام وي چې د دې معنی هيڅکله دا نه ده چې په يوې ګوښې کې ناسته او د الله د نامه ورد او ذکر تر دغو عملونو د مقام، منزلت، ارزښت او درجې له پلوه غوره دئ، شپېته کاله، د کعبې خوا ته داسې عبادت چې ورځ ئې په روژې او شپه ئې په لمانځه تېره کړې د سنګر له يوې ورځې سره برابرې نشې کولی، معنی ئې دا ده چې د الله يادونه هر نېك عمل ته ارزښت ورکوي، ستا جهاد او د سرو او سپينو زرو انفاق هغه مهال ارزښت لري چې باعث ئې پر الله تعالی ايمان او د هغه يادونه وي، ستا جهاد هغه مهال تر ټولو عباداتو لوړ دئ چې په سنګر کې دې زړه د الله په نامه ډاډه وي او هدف دې د الله دين قائمول وي.

د الله ذکر يوازې په پنځه وخته لمانځه کې مه محدودوئ، د الله جل شأنه د ذکر لمن پراخه او ستره ونيسئ، هر وخت په هر مناسب حالت کې هغه ياد کړئ، ستاسو ژبه بايد تل د الله په ذکر لمده وي.

لکه څنګه چې د انسان د ټولو ښېګڼو اصلي محرك فقط په الله ايمان دئ، همدا راز د ټولو بديو، فساد او ظلم اصلي عامل ئې په خدای ايمان نه درلودل دي، څوك چې په خدای او آخرت ايمان نه لري، ولې بايد خپل شهوات او د نفس غوښتنې مهارکړي، ولې بايد د څان په ګټه د بل حق غصب نکړي، ولې بايد له هغې ګناه او خيانت چې کولی ئې شي ډډه

وکړي؟!!

د همدې لپاره ته د ورځې په پنځه وخته لمانځه مکلف شوی یې چې تل دې خدای په یاد وي او له هغه سره ستا دائمي تړاو او ربط، تا له هري گناه منع او هري ښېگڼې ته وهڅوي.

هغه به ځوك وي چې دا خبره ونه مني چې په انسان کې د بدې او گناه په لوري یو داسې هڅوونکی ځواك شته چې هغه ته وایي: په خپل حق قناعت پرېږده، په خپل حلال رزق اکتفاء ناپوهي ده، د خپلو غرایزو د اشباع یوازې جائز او مشروع لارې ترك کړه، نفس دې چاغ او ځورب کړه، ټولو غوښتنو ته ئې ځواب ووایه، په بل خپله لویي ومنه، نور دې ستا د خوښې لپاره قربان شي، ټول غوره، خوندور، نفیس، ښکلي، ښایسته، گران او گټور شیان باید ستا وي، که خوراك دئ، که څښاك دئ، که کور، جامه، ښځه، موټر، منصب؛ او مقام دي، له هري لارې چې ممکن وي، باید دې ته ځان ورسوې، دا حریص، گناه ته هڅوونکی او د بل په حق تېري ته پاروونکی ځواك، په الله او آخرت له ایمان پرته په بل هیڅ څه نشي مهارکېدی.

که ته نه یوازې دا چې په خپل حلال رزق اکتفاء کوې بلکې د خپل لاس په تناکو گټلی مال د کوم مظلوم د لاس نیوې او مرستې په لار کې یا د کوم ستر او مقدس هدف د تحقق لپاره قرباني کوې، آیا په الله جل شأنه له ایمان پرته د دې لپاره کوم بل عامل او باعث موندلی شې. په انسان کې د اخلاقي ښېگڼو، غوره انساني صفاتو، ښه خویونو او په بل د ترحم او عاطفې ونه له هغه زړه څروبه کېږي چې د الله په یاد خوځېږي، د الله له ذکر خالي زړه د رجیم شیطان ځاله شي چې له هغه ځایه د انسان ټول احساسات د شر، فساد او گناه خوا ته هڅول کېږي.

وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ وَقُولُوٓاْ
ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ
مُسۡلِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يُؤۡمِنُونَ
بِهِۦۖ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٤٧﴾

او له اهل کتاب سره له دې پرته چې تر ټولو غوره وي په بله توگه مجادله مه کوئ، مگر د دوی له هغو سره چې ظلم ئې کړی؛ او ووایئ: پر هغه څه مو ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوی او تاسو ته نازل شوی؛ او زموږ معبود او ستاسو معبود یو دئ او موږ ورته تسلیم یو؛ او همداسې مو دا کتاب پر تا نازل کړی، نو هغه چې کتاب مو ورکړی ایمان پرې راوړي؛ او د دغو خلکو ځیني داسې دي چې ایمان پرې راوړي؛ او زموږ له آیتونو یوازې کافران انکار کوي.

(٤٦-٤٧)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- له اهل کتاب سره باید ستاسو مجادله او مناقشه په داسې توګه وي چې تر ټولو غوره وي، په استثناء د هغو چې ظلم ئې کړی، یعني شرك ئې کړی یا ستاسو په ضد ئې د زور زیاتي او ظلم لار غوره کړې.
- دوی ته باید ووایئ: موږ هم پر هغه قرآن ایمان راوړی چې زموږ لوري ته لیږل شوی او پر هغه کتاب هم ایمان لرو چې ستاسو لوري ته نازل شوی، زموږ معبود او ستاسو معبود یو دئ او موږ ورته تسلیم یو.
- که غواړئ په دې پوه شئ چې له اهل کتاب سره د غوره مناقشې او مجادلې اسلوب به څنګه وي، نو قرآن چې د دوی په اړه کوم اسلوب غوره کړی او په کومه طریقه هغوی ته خطاب کوي، همدا تر ټولو غوره اسلوب دئ، په قرآن کې دا حکیمانه اسلوب مراعات شوی.
- څوك چې په حقیقي معنی اهل کتاب وي هغه به حتماً پر قرآن ایمان راوړي، ځکه هغوی پوهیږي چې قرآن همغه څه وایي چې په تورات او انجیل کې هم راغلي.
- د عربو له مشرکینو به هم ځیني ایمان پرې راوړي.
- د الهي کتاب له څرګندو آیتونو یوازې هغه څوك انکار کوي چې (کافر) وي، یعني حق پټوي او پر حقائقو پرده اچوي.

وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾

او ته داسې نه وې چې تر دې وړاندې دې کوم کتاب لوستو او نه دې هغه په خپل ښي لاس لیکلو، په هغه صورت کې به باطلپال په شك کې پرېوتي ول، بلکې دا د هغو په سینو کې د څرګندو آیتونو مجموعه ده چې علم ورکړی شوی؛ او زما له آیتونو یوازې ظالمان انکار کوي.

(٤٨-٤٩)- دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې ته تر دې وړاندې په لیك لوست نه پوهېدې، که په لیك لوست پوهېدی نو د باطل پلویان به په شك کې لوېدلي وو او دا ادعاء به ئې کوله چې دا قرآن تا په خپله لیکلی، خو ستا د ټولني فرد فرد ته معلومه ده چې تا نه تر دې وړاندې کوم کتاب لوستی او نه دې په خپل لاس کوم لیك لیکلی، خو سره له دې دې داسې کتاب وړاندې کړی چې نه له علمي پلوه د نړۍ کوم دیني یا غیر دیني کتاب له هغه سره سیالي کولی شي او نه له ادبي پلوه، د علم او پوهې خاوندان دا کتاب له څرګندو نښو، واضح لارښوونو او معجزو ډك کتاب ګڼي او له همدې کبله پر تا د یوه پیغمبر

په توگه او پر دې کتاب د يوه الهي کتاب په توگه ايمان راوړي. يوازې هغه څوك به له دې حقيقت انكار كوي چې ډېر ظالم وي. يعني نه د حقيقي علم خاوند له دې قرآن انكار كولی شي او نه د انصاف خاوند، يوازې ناپوه او په خپلو قضاوتونو کې ډېر ظالم انسان به قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب نه گڼي او له څرگندو آيتونو به ئې انكار كوي.

ځينو درنو مفسرينو د ٤٩ آيت لومړۍ فقره (بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ) داسې ژباړلې: بلکې دی (محمد عليه السلام) د هغو خلکو په سينو کې د څرگندو آيتونو مجموعه دئ چې علم ورکړی شوی!! خو دا تعبير د آيت له سياق و سباق سره اړخ نه لگوي. غوره او دقيق تعبير دا دئ چې په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې، قرآن د معجزو او څرگندو آيتونو مجموعه دئ او همدا قرآن د رسول الله صلی الله عليه و سلم د رسالت د اثبات لپاره تر ټولو ستره معجزه. يعني يوازې دا نه چې تا په داسې حال کې دوی ته يو کتاب وړاندې کړی چې په ليك لوست نه پوهېدې بلکې داسې کتاب دې وړاندې کړی چې د علم خاوندان ئې له معجزو او څرگندو نښو ډك کتاب مومي.

ځينو نورو د دې څرگند او صريح آيت په خلاف دا هڅه کړې چې ثابته کړي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په ليك لوست پوهېدو، دا په داسې حال کې چې نه يوازې دا آيت بلکې د قرآن نور آيتونه هم د دې شهادت ورکوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم امي وو او په ليك لوست نه پوهېدو؛ او همدا د ده د رسالت د اثبات يوه بله ستره نښه گڼي. عجيبه ده؛ ځيني چې په ړانده تعصب اخته دي او په هيڅ توگه نه ترې تېرېږي؛ دا څرگند آيتونه له پامه غورځوي او د دې په مقابل کې د بخاري يوه غريب او کمزوري روايت ته ترجيح ورکوي. راشئ وگورو چې د بخاري دا روايت څومره وزن لري او د اعتناء او اعتبار وړ گڼل کېدی شي. روايت دا دئ:

عن الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رضى الله عنهما قَالَ لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم. فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ . فَقَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُهُ » . فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ، وَصَالَحَهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ هُوَ وَأَصْحَابُهُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ، وَلاَ يَدْخُلُوهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ، فَسَأَلُوهُ مَا جُلُبَّانُ السِّلاَحِ فَقَالَ الْقِرَابُ بِمَا فِيهِ . البخارى

له البراء بن عازب رضی الله عنهما روايت دئ چې وايي: کله چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له حديبيه والو سره مصالحه وکړه نو علي رضی الله عنه د دوی تر منځ (د معاهدې سند) وليکلو، په هغه کې ئې محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم وليکل، نو قريشو وويل:

محمد رسول الله مه ليکه، که ته کوم پيغمبر وی نو موږ به نه وو درسره جنګېدلي، نو علي رضی الله عنه ته ئې وويل: حذف ئې کړه، علي رضی الله عنه وويل: زه ئې حذفوونکی نه يم، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل لاس هغه حذف کړ، بيا ئې پر دې ورسره روغه جوړه وکړه چې دی او ياران به ئې د دريو ورځو لپاره (مکې) ته ننوځي؛ او نه به ننوځي مګر داسې چې د وسلې له جلبان سره به وي، پوښتنه ترې وشوه چې د وسلې جلبان څه دي؟ وئې ويل: تېکي او څه چې په هغه کې وي (يعني توري له تېکو سره).

دا روايت چې په بخاري کې شپږ ځلي نور هم په دغو شمېرو ۱۷۸۱، ۱۸٤٤، ۲٦۹۹، ۲۷۰۰، ۳۱۸٤، ٤۲٥۱ . راغلی، د سند له مخې مطلق غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کې يو يو راوي لري، د متن له مخې څو ستونزې لري: لومړۍ ستونزه ئې دا ده چې د روايت له الفاظو داسې معلومېږي لکه چې قريشو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په همدې سفر کې مکې ته د ننوتلو او عمرې اجازه ورکړې وي حال دا چې په معاهده کې راغلي وو چې په راتلونکي کال کې به د عمرې لپاره راځي، بله ستونزه ئې دا ده چې د مصالحې بل لوری د حديبيه والو په نامه ياد شوي، حال دا چې دوی مکه وال وو نه حديبيه وال،ستره ستونزه ئې دا ده چې د بخاري له نورو رواياتو سره جدي توپيرونه لري، توپيرونه دا دي: په يوه کې لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ كَتَبَ عَلِيٌّ بَيْنَهُمْ كِتَابًا فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم راغلي خو په بل کې فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم، په بل کې صَالَحَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ په بل کې فَأَخَذَ يَكْتُبُ الشَّرْطَ بَيْنَهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ او په بل کې فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ كَتَبُوا، هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ راغلي، په يوه کې فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لاَ تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، لَوْ كُنْتَ رَسُولاً لَمْ نُقَاتِلْكَ په بل کې فَقَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَا، فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ لَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ په بل کې فَقَالُوا لَوْ عَلِمْنَا أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ لَمْ نَمْنَعْكَ وَلَبَايَعْنَاكَ په بل کې قَالُوا لاَ نُقِرُّ بِهَذَا، لَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ مَا مَنَعْنَاكَ شَيْئًا، وَلَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ په يوه کې فَقَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُهُ »، فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِى أَمْحَاهُ . فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ په بل کې ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولُ اللَّهِ » . قَالَ لاَ، وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم الْكِتَابَ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، په بل کې فَقَالَ لِعَلِيٍّ «امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . فَقَالَ عَلِيٌّ وَاللَّهِ لاَ أَمْحَاهُ أَبَدًا . قَالَ « فَأَرِنِيهِ » . قَالَ فَأَرَاهُ إِيَّاهُ، فَمَحَاهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ، په بل کې ثُمَّ قَالَ لِعَلِيٍّ « امْحُ رَسُولَ اللَّهِ » . قَالَ عَلِيٌّ لاَ وَاللَّهِ لاَ أَمْحُوكَ أَبَدًا . فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم الْكِتَابَ، وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ، فَكَتَبَ هَذَا مَا قَاضَى مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ راغلي. دا دئ ګورئ چې په بخاري کې د يوې پېښې په ارتباط اوه روايات راغلي چې تر منځ ئې دومره توپيرونه دي چې له ځينو داسې برېښي لکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم يو تکړه ليکوال وو، نه يوازې دا چې د معاهدې له متنه ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم برخه حذف کړې بلکې بيا ئې خپل

نوم لیکلی او د معاهدې متن ئې بشپړ کړی؛ او له ځینو ئې داسې برېښې لکه چې یوازې دا الفاظ ئې حذف کړي او هغه هم علي رضی الله عنه یا بل چا ورښودلي!! آیا صحیح ده چې په داسې کمزوري روایت استناد وشي او هغه خبره ترې راووځي چې د قرآن له ګڼ شمېر واضح آیتونو سره تعارض لري؟!! مستشرقین په همداسې کمزورو روایاتو د خپلو دروغجنو ادعاګانو د اثبات لپاره استناد کوي او وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په لیك لوست پوهېدو او د قرآن مطالب ئې له مخکینیو کتابونو اقتباس کړي!! عجیبه ده چې زموږ ځیني په خپله د دوی تېر ته لاسټي برابروي او د بې علمو خلکو د غولولو مجال په لاس ورکوي!!

وَقَالُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلْ إِنَّمَا ٱلْءَايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾

او وئې ویل: ولې د ده د رب له لوري څرګندې نښې (معجزې) نه دي پرې نازلې شوې؟ ووایه: یقیناً چې نښې (معجزې) خو له الله سره دي؛ او زه یوازې یو څرګند نذیر یم؛ آیا دا ورته کفایت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي؟! یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

(۵۰-۵۱)- یعني قریشو دا اعتراض درلود چې ولې محمد علیه السلام ته معجزې نه دي ورکړی شوې؟ الله تعالی د دوی په ځواب کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چې ورته ووایې: یقیناً چې معجزې له الله تعالی سره دي؛ او زه یوازې یو څرګند نذیر یم؛ له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك؛ زه فقط یو نذیر یم چې د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پایلو تاسو ته خبرداری درکوم. همدا راز الله تعالی فرمایي: آیا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك کتاب چې ته ئې پرې لولې؛ کفایت نه کوي؟! یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ؛ هغه چې د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه ده ځپل شوې؛ هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه ستره معجزه او لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي. خو چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي، نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو؛ دا دئ ګورئ چې د قریشو په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډك کتاب ورته وړاندې شوی؛ خو هغوی نه یوازې له ایمان راوړو ډډه کوي بلکې د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې شیطان ئې پرې قانع شي.

هو؛ په چا کې چې د ایمان راوړلو استعداد وي؛ هغه ته دا کتاب په خپله د معجزې او

دلیل په توګه کافي دئ؛ تر دې لویه او ستره معجزه نشته. که څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندې سره؛ قرآن ته رجوع وکړي؛ نو یقیناً چې د قرآن هره وینا به د دې عالَم او د عالَم د هر څه په اړه هومره علمي او دقیقه وومي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالَم او د عالَم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هیڅ شی او حقیقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسې حجاب نشته چې د یوه شي په حقیقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وینا او قضاوت دقیق او صحیح دئ؛ دا دقیق او سل په سلو کې صحیح او علمي قضاوتونه او پرېکړي موږ ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحیې قرآن معجزه ده او د پیغمبر علیه السلام په حقانیت شهادت ورکوي.

په قرآن کې دې ته ورته آیتونه ډېر زیات دي چې ثابتوي دا کتاب د داسې علیم او پوه ذات له لوري لېږل شوی چې د عالَم په ټولو اسرارو پوه دئ. ما د قرآن نژدې دوه سوه هغه آیتونه د (ساینس او د قرآن علمي اعجاز) په کتاب کې څېړلي چې د عالَم د اسرارو په اړه بحث کوي او هغه حقائق ئې توضیح کړي چې ساینس او ساینس پوهان په ډېر زحمت او تکلیف سره او له ډېر اوږد مزل وروسته پرې پوه شوي. پوښتنه دا ده چې د دې کتاب حامل څنګه په هغو اسرارو پوه شو چې نور انسانان څوارلس سوه کاله وروسته پرې پوهېږي او هغه هم د ډېرو دقیقو، پېچلو، پرمخ تللو او مډرنو وسائلو په مرسته، په هغه صحرایي ټولني کې چې د باسوادو او په لیك لوست پوهو کسانو شمېر ئې لسو ته نه رسېدو!! پیغمبر علیه السلام د عالَم د مختلفو برخو په اړه دومره دقیق معلومات له کومې منبع تر لاسه کړل، هغه معلومات چې د نړۍ ستر ستر علماء او ساینس پوهان نن پرې پوهېږي او ایمان راوړي؟ دا ولې د غرب معروف شخصیتونه او نومیالي علماء له دې امله په دې کتاب ایمان راوړي چې ګوري د ساینس دقیقي څېړني او علمي لاسته راوړني همغه خبره کوي چې په قرآن او د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې څوارلس پېړۍ مخکې ویل شوې، دې نتیجې ته رسېږي چې د اسلام په حقانیت ایمان راوړي او وایي: انسان باور نشي کولی چې د قرآن دا دقیقي او علمي ویناوي دي د یوه داسې انسان شخصي نظریات وي چې په څوارلس سوه کاله مخکې محیط او اجتماع کې ئې ژوند کولو. قرآن د خپلو علمي او دقیقو ویناوو له پلوه داسې ستره معجزه ده چې د یوه عاقل او منصف انسان د اقناع لپاره کفایت کوي.

قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ شَهِيدٗاۖ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ وَكَفَرُواْ بِٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾

ووایه: زما او ستاسو تر منځ الله د شاهد په توګه کافي دئ، په هر هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي؛ او هغه چې په باطل ئې ایمان راوړی او د الله په اړه

ئې کفر کړی همدا دوی زیانمن دي.

(۵۲)- په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې د دوی په ځواب کې ووایي: زما او ستاسو تر منځ الله د شاهد په توګه کافي دئ، الله په هر هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، زما په حال هم پوه دئ او ستاسو په حال هم، څوك چې د باطل پلوي کوي او د باور او ایمان بنسټ ئې باطل خیالات او اوهام دي او د الله تعالی په اړه ئې کفر کړی همدا دوی زیانمن دي، چې هم خپله دنیا تباه کوي او هم آخرت.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَوۡلَآ أَجَلٞ مُّسَمّٗى لَّجَآءَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ وَلَيَأۡتِيَنَّهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ۝٥٣ يَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٥٤ يَوۡمَ يَغۡشَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۡ وَيَقُولُ ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٥٥

او په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي؛ او که ټاکلې نېټه نه وی نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو؛ او حتماً به په داسي حال کې ناڅاپي ورباندي راشي چې دوی به بې خبره وي، په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسي حال کې چې جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ، هغه ورځ چې عذاب به دوی له بره ئې او د پښو له لاندي ئې وپوښي؛ او وبه وایي: هغه څه وڅکئ چې تاسو کول.

(۵۳-۵۵)- دلته یو ځل بیا او په مکرره توګه د کافرانو هغې مطالبې ته ګوته نیول شوې چې دلائلو ته د اعتناء پر ځای ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم او ټولو پیغمبرانو ته ویلې: که ته په رښتیا د الله رسول یې او ستا دا ګواښونه حقیقت لري چې الله تعالی زموږ باورونه او عملونه نه خوښوي او موږ د الهي عذاب وړ یو نو دا عذاب ولې پر موږ نه نازلېږي؟!! په دې اړه ویل شوي: دوی په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي، که د الله تعالی له لوري هغه ټاکلې نېټه نه وی چې هر چا ته مهلت ورکوي او د مهلت په پای کې محاسبه ورسره کوي نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو؛ او دا عذاب به حتماً او په داسي حال کې ناڅاپي ورباندي راشي چې دوی به په بشپړه توګه بې خبره او غافل وي، په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسي حال کې چې جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ، هغه ورځ چې عذاب به هم د دوی له بره پرې راتاو وي او هم د پښو له لاندي ئې؛ او دوی ته به وویل شي: هغه څه وڅکئ چې تاسو کول. ستاسو عملونو نن د اور په بڼې کې داسي پر تاسو خپل وزر غوړولی لکه چې په دنیا کې پر تاسو محیط ول، هلته ئې فسادونه او مصیبتونه

زېړول او نور ئې ځورول، نن پر تاسو راتاو دي، نو د خپلو عملونو خوند وڅکئ. خو دا خبره به د چا له لوري ورته ویل کېږي، د الله تعالی له لوري، که د فرشتو، که د دوزخ او که په خپله د دغه عذاب له لوري چې پر دوی به راتاو وي؟ که څه هم د دې ټولو احتمال شته، خو د آیت له الفاظو داسې معلومېږي چې همدا عذاب به دوی ته دا خبره کوي، د قرآن له نورو آیتونو هم معلومېږي چې دوزخ به دوزخیانو ته دې ته ورته ویناوې کوي.

يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾

اې زما هغو بندګانو چې ایمان ئې راوړی! زما زمکه پراخه ده، نو یوازې زما عبادت وکړئ، هر نفس د مرګ (د خوند) څکونکی دئ، بیا زما لوري ته راګرځول کېږئ؛ او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ هرومرو به ئې د جنت په داسې دنګو دنګو ماڼیو کې مېشت کړو چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاتي په هغه کې، څومره غوره دئ د دغو عمل کوونکو اجر، هغه چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي.

---

(٥٦-٥٩)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانو ته دا لارښوونې شوې:

• اې د الله مؤمنو بندګانو! که په خپل ټاټوبي کې له مخالفتونو سره مخ شوئ، دلته په دې نه توانېدئ چې په ډاډه زړه او همغسې د خپل رب بندګي وکړئ چې ستاسو ایمان ئې غواړي، نو د الله زمکه پراخه ده، بلې داسې سیمې ته ولاړ شئ چې له الله تعالی پرته د بل عبادت ته اړ نه وئ.

• له مرګ مه وېرېږئ، هر نفس په خپل خپل وخت د مرګ خوند څکي، نه ستاسو تدبیر د مرګ مخنیوی کولی شي او نه دښمن ته تسلیمېدا او د ذلت او سپکاوي منل، نو ولې به د مرګ له وېرې د خپل رب له بندګۍ لاس اخلئ.

• دا مرګ خو تاسو د خپل رب په لوري بیایي؛ او په هر صورت کې مو ورتګ د الله تعالی لوري ته دئ، نو آیا له دې سره سره له مرګ وېرېدا او د مرګ له وېرې د خپل رب له ګمانځنې تر شا کېدا څه توجیه لري؟!!

• چا چې ایمان راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ الله تعالی به ئې هرومرو د جنت په داسې دنګو دنګو ماڼیو کې مېشت کړي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاتي په هغه کې، څومره غوره دئ د دغو عمل کوونکو اجر!! یعني که ته د الله تعالی په لار کې خپل وطن پرېږدې نو الله تعالی به ئې په بدل کې جنت درکړي، که ته خپل کور له لاسه ورکړې نو الله تعالی به

د هغه په بدل کې د جنت دنگې دنگې ماڼۍ درکړي، که ته د دنيا لنډ او له کړاوونو ډك ژوند له لاسه ورکړې نو الله تعالی به ئې په بدل کې د جنت تلپاتې ژوند درپه برخه کړي.

- نو اوس ته په خپله قضاوت وکړه چې د دغو عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!
- خو دا اجر به هغه عمل کوونکي تر لاسه کوي چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي. دا نېك اجر او غوره بدله د هغو (عمل کوونکو) په برخه کېږي چې د ايمان او صالح عمل تر څنگ دوې نورې ځانگړتياوې هم ولري: ۱- صبر ولري، په نيمايي لار کې بې حوصلې او بې صبره نشي، کله چې له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي نادم او پښېمانه نشي، شکوه او شکايت ونه کړي، بلکې صبر کوي او وړاندې درومي، ۲- پر خپل رب توکل کوي، الله تعالی ځان ته کافي گڼي، د خپل نېك عمل له نتائجو او پايلو ډاډه او مطمئن وي، نتائج الله ته حواله کوي. دا مبارك آيت که له يوې خوا موږ ته د (صبر) او (توکل) اهميت او ارزښت واضح کوي له بلې خوا ئې حقيقي معنی زموږ مخې ته ږدي او وايي: (صبر) او (توکل) د مؤمنو عمل کوونکو صفات او ځانگړتياوې دي، د بې عملو صفات نه دي، متأسفانه ځيني هم (صبر) غلط تعبيروي او هم (توکل)، دوی دې ته د صبر نوم ورکوي چې څوك په ذلت او سپکاوي کې راضي وي، نه د اعتراض جسارت کوي او نه له کړاوونو سره د مقابلې عزم؛ او متوکل هغه بې عمله کس گڼي چې عمل نه کوي، خپل مسئوليت نه تر سره کوي، خپل وجائب نه اداء کوي او صرف په خوله وايي چې په الله مې توکل دئ.

خو د قرآن له نظره صبر او توکل د عمل کوونکو مواصفات دي، توکل دې ته وايي چې ته خپله وجيبه او مسئوليت تر سره کوې، له نتائجو ډاډه او مطمئن يې، هغه الله تعالی ته حواله کوې او الله جل شأنه د وکيل په توگه نيسې. توکل داسې وگڼئ: الله تعالی مسلمانان په دې مکلف کړي چې که د دښمن شمېر تر دوی دوه ځلې زيات وي، مقابله به ئې کوي، دښمن ته به شا نه اړوي او له ميدانه به نه تښتي، که ته د دغه الهي حکم مطابق د يوه داسې ځواکمن دښمن مخې ته ودرېږې او مقابلې ته ئې ملاتړې چې ستا دوه برابره دئ، د نښتې د پايلو په اړه هيڅ اندېښنه نه لرې، نتائج خپل رب ته حواله کوې او په ډاډه او مطمئن زړه د دښمن مقابله کوې، دې ته توکل وايي. ته څکه د داسې دښمن مقابلې ته ملا تړې چې د الله تعالی په دې وينا دې باور دئ چې فرمايي: که څه هم د کافرانو شمېر، ستاسو په نسبت لس چنده وي، تاسو به غالب ياست، ته په دې باور لرې، د لس چنده لښکر سره مخامخ يې، د هغه مقابله کوې او له خپلې بريا او فتح ډاډه او مطمئن يې، د توکل حقيقي معنی همدا ده. يعني توکل د بې عملو صفت نه دئ؛ بلکې د عمل کوونکو صفت دئ.

په دې آيتونو کې خطاب هغو کسانو ته متوجه دئ چې وېرې اخيستې او گمان کوي چې که له وطنه د هجرت هڅه وکړي ښايي د دښمن له لورې به ووژل شي، هر څه به ترې پاته کېږي، نو د رزق او روزي انتظام به ئې څنگه کېږي؟ د دوی د دغو اندېښنو په ځواب کې ويل شوي چې هر نفس د مرگ څکونکی دئ، هرو مرو او په هر صورت کې به انسان مري،

کوم ذي نفس او ذيروح دئ چي هغه به يوه ورځ د مرگ خوند نه څکي؟ چي انسان په هر صورت کي مري نو ولي د يوه ستر او لوړ مقصد په لار کي ونه مري، په ځای د دې چي هسي مري او د هيڅ لپاره مري، ولي د الله په لار کي ونه مري؟ په دې دليل هم له مرگ وېره نه ده په کار چي ستا مسير د الله جل شأنه په لوري دئ، په مرگ سره د خپل رب خوا ته بېرته گرځې، هغه الله چي ته ئې عبادت کوې، هغه چي ستا د ژوند مطلوب او مقصود دئ، هغه ستا معبود دئ، د مرگ په نتيجه کي د هغه طرف ته درومې. مرگ د ژوند پای نه دئ چي له هغه ووېرېږې، بلکي مرگ د نوي ژوندون پيل دئ، مرگ له يوې نړۍ بلي ته د تگ ذريعه ده، مرگ تا خپل هدف ته رسوي، تا خپل مطلب ته رسوي، نو د څه لپاره بايد له مرگ ووېرېږې؟ له دې کبله هم له مرگ وېره نه ده په کار چي چا ايمان راوړی او صالح عملونه ئې کړي او په دې لار کي له ستونزو سره مخامخ شوي او يا په مرگ محکوم شوي که هغه په دې لار کي د ختو کور له لاسه ورکوي، د دې په بدل کي به د جنت ستري، ستري او دنگي، دنگي بنگلې تر لاسه کوي، چي د ونو او قصرونو لاندي به ئې ويالې بهېږي، که دنيا له لاسه ورکړي، په بدل کي ئې جنت ورکوي او په هغه کي داسي قصرونه چي ترې لاندي به ئې ويالې بهېږي، که د څو شپو ورځو محدود ژوند له لاسه ورکوي، د دې په عوض کي الله جل شأنه د جنت ابدي، دائمي او تلپاتې ژوند ورکوي. د دنيا د ژوند په مقابل کي د جنت ژوند، د ختو د کورونو په مقابل کي د جنت قصرونه او د دنيا په مقابل کي جنت، دا خو هغه شيان دي چي ته ئې پېژنې، خو له دې آخوا چي کوم څه په جنت کي انسان ته مهيا شوي، سترگو نه دي ليدلي، انسان د هغه خوند او ذائقه په خپل ژوند کي نه ده څکلې، داسي خوندوري او په زړه پوري منظرې او غړونه چي د چا په ذهن کي ئې خطور نه دئ کړی او د انسان له تصور او وهم ډېر لوړ او اوچت دي، نو په داسي حال کي چي ته هر څه له لاسه ورکوې، الله جل شأنه تر هغه غوره په عوض کي درکوي، ولي بايد له مرگ ووېرېږې؟ معقوله نه ده چي انسان دي په آخرت ايمان ولري او هغه دي له مرگ ووېرېږي.

په آخرت د ايمان بله تقاضا دا ده چي انسان به هيڅکله د خپلو کړو وړو او هلو ځلو د نتائجو په اړه تشويش نه لري، په دې به ئې کلك باور وي چي د خپلو هلو ځلو نتايج حتماً او په هر صورت کي تر لاسه کوي، که احياناً په دنيا کي ترې محروم شو نو په آخرت کي به ئې په بشپړه توگه تر لاسه کوي، له همدې کبله هغه هيڅکله نه مأيوس کېږي، په داسي حال کي چي ته په دې باور لرې او مطمئن يې چي د خپلو ټولو کړو وړو مکمل اجر به پرته له کموالي او ضياع، څو څو برابره تر لاسه کوې او ستا اجر د الله تعالی په خوا کي خوندي او محفوظ دئ، هيڅوك ئې نشي ضايع کولی او هيڅوك ئې نشي کمولی، دا باور په خپله د دې باعث شي چي انسان په هيڅ صورت کي مأيوس نشي، تر سختو سخت حالت کي مطمئن او ډاډه وي، ځکه هغه د خپل عمل له نتيجې مطمئن وي، انسان په هغه صورت کي مأيوس کېږي چي گمان وکړي عملونه ئې بې نتيجې پاته شول، د هغه هڅي حبط او ضايع شوې، خو چي انسان په دې ډاډه او مطمئن وي چي د خپلو عملونو او هلو ځلو اجر حتماً تر لاسه

کوي، هغه په هيڅ صورت کې نه مأيوسه کېږي. عدم يأس، په آخرت باندي د ايمان نتيجه او د هغه غوښتنه او تقاضا ده. نو داسي نه چي د مرگ له وېرې د الله له بندگۍ لاس واخلې، هسي هم هر نفس د مرگ خوند څکي او د الله په لوري درومي.

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾
وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ
ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٦١﴾ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ
ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ
ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ
﴿٦٣﴾

او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي (پر خپلو اوږو) نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ؛ او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنگه دوکه کېږي، دا خو الله دئ چي په خپلو بندگانو کې هغه چا ته روزي پراخوي چي دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنگه کوي، يقيناً چي الله په هر څه ښه پوه دئ؛ او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلې مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستاينې ټولې الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(٦٠-٦٣)- په دې مبارکو آيتونو کې هم دغو مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شوی چي که د الله په لار کې هجرت ته اړ شوئ نو هيڅ وېره او اندېښنه مه کوئ، الله ستاسو د رزق او روزي ذمه وال دئ، لکه څنگه چي نورو ژوو ته روزي ورکوي تاسو ته به ئې هم درکوي، آيا نه گورئ چي د زمکې څومره ژوو ته الله تعالی په داسي حال کې رزق او روزي ورکوي چي نه پټی لري، نه دوکان او نه ذخيره.

د زمکې پر سر څومره حيوانات داسي دي چي د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، باغ او پټی نه لري، گودام او ذخېره نه لري، د سبا لپاره څه نه ذخيره کوي، د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو نه وړي، الله ورته رزق ورکوي، همداسي ئې تاسو ته هم درکوي، دا ځکه چي الله تعالی اورېدونکی او عليم دئ، د بنده دعاء د حال او قال په ژبه اوري، په اړتياوو ئې پوه دئ.

په دنيا کې دومره ژوي شته چې که ټول په شلو برخو ووېشو، نولس۱۹ برخې ئې په اوبو کې دي او يوه برخه ئې په وچه کې، انسانان د دې شلمې برخې يوه وړه برخه ده، له دې د ژوو شمېر معلومولی شئ، دغو ټولو ژوو ته رزاق خدای رزق او روزي ورکوي. داسې حيوانات هم شته چې هر يو ئې، هره ورځ، د يوه کلې په اندازه رزق ته ضرورت لري، په بحرونو او ځنګلونو کې داسې ستر ستر حيوانات شته چې هر يو د يوه کلې په اندازه روزي ته، په يوه وخت کې ضرورت لري، خو نه تجارت کوي، نه پټې کري، نه د خپل رزق او روزي پېټی په اوږو وړي او نه د سبا لپاره څه ذخيره کوي، الله تعالی ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم. او الله تعالی د دعاءګانو اورېدونکی او د انسان په احتياجاتو او اړتياوو پوه دئ، په دې هم پوهېږي چې څنګه هغه ته رزق او روزي ورکړي او د رزق او روزي انتظام ئې څنګه وکړي.

دلته دا وضاحت هم شوی چې د رزق او روزي اصلي اسباب خو آسمان دئ چې اوبه ترې راورېږي او زمکه ده چې دانه او مېوه ترې راشنه کېږي، که له دوی پوښتنه وکړې چې دا زمکه او آسمانونه چا پيدا کړي؟ دا لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ شپه او ورځ چې د رزق او روزي د پيدا کېدو باعث ګرځي د چا په اراده ځي راځي؟ لمر د ورځې علامه او سپوږمۍ د شپې علامه ده، دا دواړه د رزق په پيدا کېدو کې اساسي ونډه لري، که دا نه وی نو نه به په زمکه کې بوټی وو، نه ونه، نه حيوان او نه انسان، د دوی ځواب به څه وي؟ حتماً به وايي چې دا هر څه د الله تعالی په اراده تر سره کېږي، له دې پرته بل ځواب نه لري، نو څنګه او له کومه ځايه دوکه کېږي؟! د دوی د دوکه کېدو او بې لارې کېدو عامل څه دئ؟ ولې په دې اړه شك لري چې د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وال الله تعالی دئ؟!!

دا الله دئ چې له خپلو بندګانو هر چا ته چې وغواړي په رزق او روزي کې ورته وسعت، بسط او پراخوالی ورکوي او چا ته ئې چې خوښه وي ورته تنګوي ئې، رزق ئې ورته محدود کړي، يقيناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ، په دې ښه پوهيږي چې د انسان خير او مصلحت په څه کې دئ، دا پرېکړه د الهي علم له مخې کېږي، که چا ته پراخ رزق ورکوي، عليم الله په دې پوهېږي چې خير په همدې کې دئ او که په چا ئې محدودوي او د رزق له محدوديت او تنګوالي سره ئې مخامخ کوي، دا هم د عليم الله فيصله ده، حتماً په دې کې يو مصلحت مضمر دئ.

آيا څوك دې پوښتني ته چې څوك له آسمانه اوبه وروي او له زمکې دانه او مېوه راټوکوي، له دې پرته بل ځواب موندلی شي چې ووايي: الله؟ پرته له دې چې اعتراف وکړي چې دا کار الله تعالی کوي، له آسمانه اوبه نازلوي او مړه زمکه پرې ژوندۍ کوي، بل څه ځواب لري؟ نو سره له دې ولې د خپل رزق په اړه شك لري؟!!

په دې مبارکو آيتونو کې ګورو چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بيا د آسمانونو او زمکې د پيدايښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخير (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بيا له آسمانه د اوبو راورېدا او بيا په زمکې کې د ژوندون پيلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ويل شوي چې رزق او وسائل او

اسباب ئې د الله له لورې پيدا شوي او ذمه وال ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چې چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. دا مطلب د هود سورې په اوم آيت کې هم راغلی چې هيله من يم تفصيل ئې هلته وګورئ. ځکه د دغو دواړو سورتونو په دغو آيتونو کې بشپړ ورته والی او يو د بل شرح او تفسير دئ.

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٤﴾

او د دې دنيا دا ژوند له لهو (خوشې مشغولتيا) او لعب (لوبې) پرته بل څه نه دئ؛ او يقيناً چې د آخرت کور داسې دئ چې همدا (واقعي) ژوندون دئ، کاش پوهېدی!!

(٦٤)- په دې مبارك آيت کې د دنيا ژوند د جنت له ژوند سره مقايسه شوی او ويل شوي: د دې دنيا دا ژوند د آخرت په پرتله داسې دئ لکه خوشې مشغولتيا او لوبې؛ او واقعي ژوندون د دار آخرت (جنت) ژوند دئ، کاش دوی پوهېدی!!

دې ته مو بايد پام وي چې د دې آيت او دې ته ورته آيتونو معنی په هيڅ توګه دا نه ده چې ګواکې قرآن غواړي مخاطبين ئې د دنيا ژوند ته په سپکه سترګه وګوري، بې ارزښته ئې وګڼي، لاس ترې واخلي؛ او په اړه ئې بې اعتناء او بې پروا شي، بلکې معنی ئې دا ده چې د دنيا ژوند د آخرت په پرتله او د هغه چا ژوند چې په آخرت باور نه لري، داسې وګڼي لکه خوشې مشغولتيا او د ماشومانو لوبې، د قرآن موخه دا ده چې خلك دنيا او متاع ئې وسيله وګڼي نه وروستی هدف، هغه بايد لوړ لوړ او سپېڅلي اهداف ځان ته غوره کړي، د دغو سپېڅلو اهدافو لپاره بايد د هر څه قربانۍ ته چمتو شي، د هغه لپاره بايد اخروي سعادت وروستی هدف وي، هغه بايد په دنيا کې د هدفمن انسان په څېر له سپېڅلو او لوړو اهدافو سره ژوند وکړي، ژوند ئې په دې کې راخلاصه نشي چې د دنيا عيش، متاع او لذت ئې په برخه شي، هوسونه ئې تر سره او شهوتونه ئې اشباع شي او د يوه حيوان په څېر ژوند وکړي. متأسفانه په غرض او مرض مبتلا کسان د قرآن دا آيتونه غلط تعبيروي او هغه څه ترې راباسي چې يا ئې شيطان خوښوي او يا ئې د اسلام هغه ستر ستر دښمنان چې پر مسلمانانو د مزيد حکومت کولو، د دوی د لا زيات سپکولو او لوټلو په لټه کې دي، هغه چې مسلمانانو ته وايي: آخرت ئې ستاسو او دنيا ئې زموږ!! دوی دې ته متوجه نه دي چې دا آيتونه د هغو لارښوونو په ضمن کې راغلي چې د الله تعالی د لارې مجاهدينو او مهاجرينو ته متوجه دي، هغوی ته د صبر او توکل سپارښتنه کوي، هغوی له مرګ نه وېرېدو ته رابلي، هغوی ته وايي: له الله تعالی پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ، که په دې لار کې له تبعيد او مرګ سره مخامخ کېدئ نو پروا ئې مه کوئ، هغه ژوند بې ارزښته وګڼئ چې بې هدفه وي، له ذلت او سپکاوي سره توأم وي او له الله تعالی پرته بل ته د سر ټيټولو غوښتنه کوي.

وَمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ لَهِىَ ٱلْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾

کله چي په کشتۍ کې سپاره شي نو په داسي حال کې الله مرستي ته رابلي چي دده ته د خپل دیانت خالصوونکي دي، خو کله چي هغوی د وچي لوري ته وژغوري ناڅاپه بیا شرک کوي. د دې لپاره چي د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چي موږ ورکړي او چي متمتع شي، نو ژر به پوه شي.

(٦٥-٦٦)- په دې مبارکو آیتونو کې په دین کې (اخلاص) او (شرك) په ډېري جالبي او ښکلې بڼي کې انځور شوي: په دین کې اخلاص د هغه چا له حالت سره تشبیه شوی چي په کښتۍ کې سپور شي، ارتباط ئې له هر څه سره قطع شي، داسي څوك او ځواك ئې نه تر سترګو کېږي چي د خطر په وخت کې پناه وروړي او مرسته ترې وغواړي، که د طوفان څپې ئې احاطه کړي نو له الله تعالی پرته داسي څوك نه مومي چي له دې حالت ئې ژغورلی شي، نو له الله تعالی پرته بله هره ملجأ او مرجع هېره کړي او یوازي د ده په وړاندي د دعاء لاسونه لوړوي او په بشپړ اخلاص او صفاوالي سره ئې مرستي ته رابلي او دا تعهد کوي چي له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت او بندګي نه کوي، په دین کې اخلاص ئې له دغه حالت سره تشبیه کړی؛ او شرك له هغه حالت سره چي همدا د کښتۍ سپور په عافیت سره ساحل ته ورسېږي، له خطرونو تېر شوی او له طوفانونو ژغورل شوی، په خوندي ساحل کې له کښتۍ کوز شي، خو هلته دا بریالی سفر، هدف ته له خپل انتظار سره سم رسېدا او له خطرونو روغ رمټ تېرېدا، د الله تعالی د فضل او رعایت پر ځای نورو عواملو ته منسوبوي، کله ئې خپلي سمي او دقیقي منصوبې ته، کله د وخت او کښتۍ سم انتخاب ته، کله د هوا او موسمي شرائطو مساعدت ته او کله د ملاح مهارت ته!! شرك له دې حالت سره ورته ګڼل شوی.

دلته په ښېړۍ کې د سپرېدو یادونه د دې لپاره شوې چي په ښېړۍ کې د انسان رابطه له ډېرو هغو شیانو سره قطع شي چي په واك کې ئې وو، ټول هغه وسائل، ذرایع او امکانات چي په اختیار کې ئې وو، د ده مرسته ئې کوله، ده پرې اعتماد کولو، اوس ئې ارتباط ورسره شلېدلی، په هغه حساب نشي کولی، په هغه تکیه او اعتماد نشي کولی، د ده مرسته نشي کولی، کله چي وګوري په کشتۍ کې له سپرېدو سره سم ئې له ټولو دغو وسائلو لاس قطع شوی، د سمندر له څپو سره مخامخ دئ خو داسي څه ورسره نشته چي له خطره ئې وژغوري، نو په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، مرسته ترې غواړي، اوږدې اوږدې دعاءګاني ورته کوي، د خطر په زیاتېدو سره نه یوازي د ده دعاءګاني اوږدې او پرله پسې شي بلکي له الله

تعالی سره ژمنه کوي چي که له خطره ئې وژغوري په اخلاص او صداقت سره به د ده بندګي کوي، خو کله چي څپې تم شي، خطر پای ته ورسېږي، الله تعالی ئې روغ رمټ ساحل ته ورسوي، بیا نو په دې ژغورني او نجات کي له الله تعالی سره بل څه او بل څوك شریکوی، خپلي مخکینۍ ژمني هېري کړي، مخکیني حالت ته وګرځي، طمع ئې له الله تعالی پرته له نورو او اعتماد ئې له الله تعالی پرته پر نورو شي!!

دې مبارك آیت نه یوازي د خطرونو او ګواښونو په وخت کي د انسان حالت او له الله تعالی سره د ده د تعلق څرنګوالی په دقیقه توګه انځور کړی بلکي په دین کي د اخلاص حقیقت ئې هم موږ ته واضح کړی. په دین کي د اخلاص معنی دا ده چي انسان له الله تعالی پرته په بل چا اعتماد و نه لري، له بل چا طمع ونه لري، په بل څه باندي توکل او تکیه ونه کړي، طمع ئې یوازي له الله وي؛ او د دعاء لاسونه ئې یوازي د الله تعالی په وړاندي لوړ کړي وي، داسي وګڼي چي په دې عالم کي له الله تعالی پرته داسي څه نشته چي د ده مشکل حل کړی شي، د ده اړتیاوو ته ځواب وویلی شي او د ده مرسته وکړی شي، نو ځکه ئې هم طمع له الله تعالی وي او هم ئې اعتماد پر الله تعالی، دې حالت ته په دین کي اخلاص وایي.

ته چي هر څومره د الله تر څنګ په بل څه حساب کوې، په هغه اعتماد او ویسا کوې، هغه ته امید ساتې او له هغه طمع کوې، دې حالت ته د شرك حالت وایي، خو کله چي ستا حالت هغه چا ته ورته شي چي په بېړۍ کي سپور دئ او د طوفان څپو احاطه کړی، هري خوا ته چي سترګي اړوي داسي څه په نظر نه ورځي چي د ده مرسته وکړی شي، نو الله جل شأنه ته مخه کړي او له هغه مرسته غواړي، خپل دین د هرراز شرك له شوائبو پاکوي، په اخلاص سره د الله تعالی د بندګۍ تعهد کوي، له الله تعالی سره ژمنه کوي چي یوازي د ده عبادت به کوي، له ده سره به په عبادت او بندګۍ کي بل څه او بل څوك نه شریکوي، ستا دا حالت په دین کي د اخلاص او سوچه والي په معنی دئ، یعني انسان هغه وخت په خپل دین کي مخلص دئ او هغه وخت ئې ایمان له شرك پاك او منزه دئ چي په کښتۍ کي د سپور انسان په څېر یوازي یوه خدای ته ئې مخه وي او یوازي هغه ته پناه یوسي او که ستا حالت د هغه چا په څېر شو چي د طوفان له څپو ژغورل شوی، ساحل ته روغ رمټ رسېدلی، خو په دې ژغورني کي له الله تعالی پرته د بل چا د مرستي او عنایت په اغېز باور لري؛ او خپل نجات د نورو عواملو مرهون ګڼي، له الله تعالی سره خپلي ژمني هېروي او د مخکینیو شېبو اخلاص له لاسه ورکوي، نو تا د الله تعالی په نسبت شرك کړی. یعني که ته د همدې انسان په څېر شوې، چي د سفر کښتۍ ئې د بحر له څپو روغه ساحل ته رسېدلې، حالت ئې بدل شوی، هغه د څپو په منځ کي احساس ئې ورسره پاته نه دئ، اوس نو هغه کس نه دئ چي له الله پرته ئې هیچا ته طمع نه وه، له خدای پرته ئې له ټولو امید قطع کړی وو، یوازي له یوه خدای ئې مرسته غوښته، اوس ئې د امید دروازې ډېري شوې، د یوه دربار په عوض ئې ګڼو دړو ته سترګي دي، کله دا د خپل نجات عامل ګڼي او کله هغه بل، کله ئې ګمان دا وي چي د فلان مرستي وژغورلو او کله د هغه بل توجه او عنایت د خپلي ژغورني وسیله ګڼي او

پدې سره خپل دين او ايمان په شرك ملوث او ككړ كړي او د شرك مرتكب شي.
كله چې انسان له مشكلاتو، ستونزو او كړاوونو سره مخامخ شي، بل ته اړ او محتاج شي او كله چې د هغه اميد له هر څه قطع شي، په خپل ماحول كې داسي څوك و نه گوري چې د ده مشكل حل كړى شي، د هغه نارې واوري، د هغه احتياج او اړتياوي منتفي كړي؛ او داسي يو شى په خپل ماحول كې نه گوري چې په هغه حساب وكړي، په هغه توكل او اعتماد وكړي، ټول هغه وسائل او ذرايع چې په اختيار كې ئې دي هغه بې نتيجې پاتې شي؛ او ونشي توانېدى چې د ده غوښتنو او اړتياوو ته ځواب ووايي او د هغه اضطراب او پرېشاني رفع كړي، په دې حالت كې الله جل شأنه ته پناه وړي، له هغه مدد او مرسته غواړي او په اخلاص سره د بندگۍ تعهد كوي، خو چې كله ځان بې نيازه وگڼي، له وفرت او كثرت سره مخامخ شي، نو بيا الله هېر كړي او خپل مؤكد تعهدات شا ته وغورځوي؛ او د الله جل شأنه په نسبت د شرك مرتكب شي. د شرك په ارتكاب كې ئې موخه دا وي چې د الله تعالى په نعمتونو كې د خپلې خوښې مطابق په خلاص لاس تصرف وكړي نه د يوه شاكر بنده په توگه او چې له دې نعمتونو په پراخه پيمانه متمتع شي.

أَوَ لَمْ يَرَوْاْ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾

آيا وئې نه ليدل چې موږ (له مكې) خوندي او باامنه ټاټوبى جوړ كړ، په داسي حال كې چې د دوى شاوخوا ته خلك تښتول كېږي، نو آيا پر باطل ايمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي كوي؟!

(٦٧)- په دې مبارك آيت كې د (امن) او (خوف) حالتونه انځور شوي، يو ئې د ايمان د يوې نښې د اغېز په توگه وړاندې شوى او بل ئې پر باطل د باور پايله ښودل شوې، په مكه كې د (كعبې) له طفيله امن دئ؛ او په شاوخوا كې ئې او هلته چې د كعبې له اغېز بهر دئ د خوف او بې امنۍ دا حالت دئ چې خلك اختطاف كېږي، نو څنگه دوى پر باطل باور ساتي او د الله د نعمتونو په اړه د كفر او انكار لار غوره كوي؟!!
په دې مباركو آيتونو كې كه له يوې خوا خطاب د مكې قريشو ته متوجه دئ له بلې خوا هغو ضعيف النفسه خلكو ته چې د دښمن له وېرې له ايمان راوړلو ډډه كوي، خپلې سوكالې، بې خطره او مرفه ژوند ته پر ايمان ترجيح وركوي، دوى ته ويل شوي: نه گورئ د ايمان د يوې نښې (كعبې) په طفيل ئې دا حرم څنگه خوندي او د امن ځاى وگرځولو، نه گورئ چې له هرې خوا؛ د هر موسم؛ ډول ډول مېوې ورته رادرومي؟! تاريخ ته رجوع وكړئ، صفحات ئې واړوئ او وگورئ چې د هغو خلكو شمېر څومره دئ چې مرفه ژوند ئې درلود، خپل معيشت او سوكاله ژوند هغه پړاو ته رسولې ول چې تېرى ئې وكړ او له پولو واوشتل او له

همدې کبله هلاك شول؟! دا دي تشي او وراني ماڼۍ ئې د عبرت لپاره ترې پاتې، چې لږ خلك د لنډې مودې لپاره په کې پاته شوي، هر څه ئې الله تعالی ته په میراث پرېښودل. نو سره له دې څنگه د ایمان راوړلو له نتائجو وېرېږئ او د سوکاله او مرفه ژوند له بدو پایلو وېره نه لرئ.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء وکړه؛ یا ئې حق له هغه وروسته تکذیب کړ چې ورته راغی؟! آیا دغو کافرانو ته په جهنم کې یو هستوگنځی نه دئ (مناسب)؟

(٦٨)- په دې مبارك آیت کې دوه کسان ستر ظالمان گڼل شوي: یو هغه چې پر الله تعالی دروغجنه افتراء کوي او بل هغه چې حق له هغه وروسته تکذیبوي چې ورته راشي او پرې پوه شي. آیا د دې خبرې معنی دا ده چې که کوم څوك په درواغو د پیغمبرۍ دعوی وکړي او خپلې خبرې په دروغو الله تعالی ته منسوب کړي لوی ظالم دئ او که څوك رښتینی پیغمبر او د هغه په لاس لېږل شوی کتاب له هغه وروسته تکذیب کړي چې ورته راغلی او په حقیقت ئې پوه شوی نو تر ټولو ستر ظالم دئ، دا دواړه کافران دي او د دوی لپاره مناسبه سزا دا ده چې هستوگنځی ئې جهنم وي. او که ئې معنی دا ده چې څوك (خوف) او بې امني د الله دین ته منسوب کړي او ووایي: دین ته بلنه زموږ سوکالي گواښي، اختلافات راولاړوي، بې امني رامنځته کوي او پر الله تعالی ایمان موږ له خطرونو سره مخامخ کوي، دا د حقیقت خلاف خبره په داسي حال کې کوي چې حقیقت ورته جوت شوی، دا تر ټولو ستر ظالمان دي؟! ځینو درنو مفسرینو لومړي تعبیر ته ترجیح ورکړې، خو د آیت له الفاظو او سیاق و سباق داسي معلومېږي چې دوهم تعبیر دقیق دئ؛ او دا آیت په اصل کې د مخکیني آیت شرح او تفصیل دئ، په مخکیني کې ویل شوي: آیا وئې نه لیدل چې موږ (له مکې) خوندي او باامنه ټاټوبی جوړ کړ، په داسي حال کې چې د دوی شاوخوا ته خلك تښتول کېږي، نو آیا پر باطل ایمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟! او په دې آیت کې همدا پر باطل باوري او د الله تعالی د نعمتونو منکر د ستر ظالم په توگه معرفي شوی او ویل شوي: تر هغه به لوی ظالم څوك وي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء وکړه یا ئې حق له هغه وروسته تکذیب کړ چې ورته راغی؟!

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښیو او یقیناً چې الله له

دغو محسنينو سره دئ.

(٦۹)- دا مبارك آيت چې د دې سورې وروستی آيت او د ټولو مضامينو لپاره ئې جامع او بشكلې تتمه ده، څو لارښوونې لري:

دلته د الله د لارې له مجاهدينو سره دوه وعدې شوې: د (هدايت) او (معيت) وعدې، يعنې د هدايت دروازې به د دوی پر مخ پرانيزي، د بريا، عزت او سعادت پر لارو د تلو توفيق به ورکوي، په هر گام کې به د دوی لارښوونه کوي، د هدايت او رشد لوړو پوړو ته د رسېدو سعادت به ئې په برخه کوي؛ او د (احسان) لوړې څوکې ته به ئې رسوي؛ او له خپلې ملتيا او معيت به ئې برخمن کوي.

دلته هغه مجاهدين د (محسنين) په نامه ياد شوي چې د الله په لار کې جهاد کوي او د همدې جهاد په طفيل؛ الله تعالی د هدايت ټولې لارې د دوی پر مخ پرانيستې دي، د ژوند په هرې برخې کې ئې لارښوونه کوي او د خپلې ملتيا او معيت وزر ئې پرې غوړولی. متأسفانه د (هدايت)، (معيت) او (احسان) په څېر قرآني مفاهيمو سره همغه ظالمانه چلن شوی او حقيقي مفهوم ئې تحريف شوی چې د قرآن له گڼ شمېر نورو مفاهيمو سره شوی، ما د يوه تور زړې متصوف خطيب وينا اورېده چې د قرآن دغه څرگند آيت ئې داسې تعبيراوو چې د خانقا او کوم زيارت په کونج کې ناست صوفي ته ئې د (محسن) نوم ورکولو او له (سبلنا) ئې د طريقت څلور طريقې رااېستلې او ويل ئې الله تعالی د همدغو طريقو پلويانو ته هدايت کړی او له دوی سره دئ!! ما ته ووايئ: آيا د دې آيت په اړه دا تعبير ډېر کرکجن او منفور تعبير او له قرآن سره ستره بې باکي نه ده؟!! دا په داسې حال کې چې دا ټوله سوره؛ له سر تر پايه؛ د مجاهدينو په اړه بحث کوي، هغو سترو سترو آزموينو ته گوته نيسي چې د ابراهيم، نوح، لوط، هود، صالح، شعيب او موسی عليهم السلام په څېر مجاهدين ورسره مخامخ شوي؛ او د سورې په پای کې د الله د لارې د مجاهدينو په اړه ويل شوي چې (هدايت) او د الله تعالی (معيت) به ئې په برخه کېږي، خو دې جناب دا ټول حقائق له پامه غورځولي او داسې تعبير ئې وړاندې کړی چې يوازې يو تور مغزی او کوږ زړی ئې د ويلو جسارت کولی شي. د قرآن له ډېرو آيتونو سره دې ته ورته چلن شوی.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# الروم

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (الروم) دئ، دا نوم د همدې سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، شپېته آيتونه لري، د اکثرو آيتونو فواصل ئې د لومړيو آيتونو (الروم) او (سيغلبون) ته او د لږو ئې د څلورم (الرحيم) ته ورته دي، څو آيتونه ئې د (حکيم، قدير؛ او کافرين) په څېر صيغو پای ته رسېدلې چې وزن ئې (الرحيم) ته نژدې دئ، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په وروستيو کلونو کې نازل شوې.

لکه څنگه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسي توگه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

نو صبر کوه، يقيناً چې د الله وعده رښتينې ده او هغه خلك دې تا سپك ونه مومي چې باور نه کوي.

په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (فَٱصۡبِرۡ: صبر کوه) ده، تاسو به وگورئ چې د سورې په لومړۍ برخې کې په همدې اړه مؤمنانو ته لارښوونه شوې، د آيت دوهمه فقره دا ده إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ) تاسو به وگورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوی کوي چې په دنيا او آخرت کې د الله تعالی د وعدو پر رښتينوالي تأکيد کوي؛ او درېمه فقره ئې (وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ) ده او دا د دې سورې د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ کې ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده له لارې مؤمنانو ته ويل شوي چې پر خپل دريځ ثابت پاته شي، د دښمنانو تبليغات او مخالفتونه ئې متزلزل نه کړي، د دوی عدم ايمان د دې باعث نشي چې د خپلې لارې د حقانيت په اړه شکمن شي او د الله تعالی د وعدو د تحقق په اړه ئې ډاډ او اطمئنان کمزوری شي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ﴿٣﴾
فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٤﴾
بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ
وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٦﴾

**الف، لام، میم، روم مغلوب شو، په دغې نژدې سيمې کې؛ او دوی به له خپلې مغلوبېدا وروسته ژر غالب شي، په څو کلونو کې، کارونه وړاندې او وروسته د الله په واك کې دي؛ او دغه ورځ به مؤمنان د الله په نصرت خوشحالي کوي، هغه چا ته برى ورکوي چي دى ئې غواړي؛ او دى مهربان عزتمن دئ. د الله وعده ده، الله له خپلې ژمنې نه په شا کېږي خو اکثر خلك نه پوهېږي.**

(۱-٦)- په دې مبارکو آيتونو کې لاندې لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي:

لکه څنګه چي دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توګه په دې سورې کې راغلي لکه چي په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

**نو صبر وکړه، يقيناً چي د الله وعده رشتينې ده او هغه دي تا سپك ونه مومي چي باور نه کوي.**

دا درې فقرې د دغې سورې د مضامينو لپاره درې اساسي محورونه دي، ټوله سوره په همدې موضوعاتو راڅرخي.

په دې مبارکو آيتونو کې پر فارسيانو د روميانو د برې وړاندوينه په داسې حال کې او هغه مهال شوې چي روميان د فارسيانو په وړاندې له سختې ماتې سره مخامخ شوي وو، تفصيلات ئې داسې دي:

په ٦۱۹ م کال کې، هغه مهال چي روميان د فارس په وړاندې له سختې ماتې سره مخامخ شول، د شام، اردن او فلسطين په څېر دېرې سيمې ئې له لاسه ووتې، فارسيان د مصر تر وروستيو پولو پورې ورسېدل، قريش د فارسيانو په دې برياوو خوشحال شول، خو مؤمنان

سخت غمجن، رومیان اهل کتاب ګڼل کېدل او فارسیان مشرکان ول، دغه مهال د الروم د سورې دغه څو آیتونه نازل شول چې په هغوی کې دا وړاندوینه شوې وه چې روم به له دې ماتې وروسته په راتلونکو څو کلونو کې بېرته پر خپل دښمن برلاسی شي؛ او دغه مهال به مؤمنان د الله تعالی په نصرت خوشحاله شي. دا داسې وړاندوینه وه چې ښايي ډېرو قريشو به په خپلو مجلسونو کې پرې کټ کټ خندلي وي، په دې کې دوه وړاندوينې شوې وې: يوه د روميانو د بيا غلبې او بله ئې د مؤمنانو د يوې بريا، همدا دواړه وړاندوينې تر سره شوې، په همغه کال چې قريشو په بدر کې سخته ماته وخوړه روميان وتوانېدل چې د هرقل تر مشرۍ لاندې د ارميا په لورې وړاندې ولاړ شي او آذربايجان ته ورسېږي. ارميا د زردشت د زېږېدو ځای دئ چې فارسيانو ته ئې ارزښت دومره وو لکه مسلمانانو ته مکه او مدينه.

دلته د روميانو د ماتې سيمه د (ادنى الارض) په نامه ياده شوې، (ادنى) هم نژدې ته ويل کېږي او هم ټيټ ته، د فلسطين هغه سيمه چې روميانو په هغې جګړې کې له لاسه ورکړه هم مکې ته نژدې سيمه وه او هم د بحر له سطحې تر ټولو ټيټه سيمه. دا ښيي چې په قرآن کې د مطالبو د افادې لپاره الفاظ په څومره دقت سره غوره شوي.

دلته په وړاندوينې کې ويل شوي چې په (بضع سنين) کې به روميان بيا غالب شي، بضع تر دريو زيات او تر لسو کم عدد ته وايي؛ او معنى ئې دا ده چې تر لسو په کمو کلونو کې به دوی پر خپل دښمن بېرته برلاسې شي، همداسې وشول او دا وړاندوينه په همدومره کلونو کې تر سره شوه.

دا آيت موږ ته د دې مبارکې سورې د نزول دقيقه نېټه راښيي، دا سوره هغه مهال نازله شوې چې روميان د فارسيانو په لاس له ماتې سره مخامخ شوي. د قرآن سورې همداسې دي، د سورې په متن او مطالبو کې د غور او دقت له لارې په آسانۍ سره کولی شو د نزول نېټه ئې او هغه حالت درک کړو چې دا سوره په کې نازله شوې.

دې ته مو پام وي چې پر فارسيانو د روميانو او پر قريشو د مسلمانانو د برې د نېټې په اړه دوه متعارض روايات زموږ مخې ته راځي: ځيني وايي چې دا دواړه برياوې د بدر د فتحې پر مهال رامنځته شوې دي، په همدې کال مؤمنان پر قريشو او روميان پر فارسيانو غالب شول، ځيني نور وايي چې دا بريا د حديبيې د معاهدې بريا وه او ګواکې روميان هم په دغه کال پر خپل حريف برلاسې شول، دوهم روايت په دوه دلائلو کمزوری دئ: لومړی دا چې د حديبيې د معاهدې نتائج ډېر وروسته راڅرګند شول، د معاهدې پر مهال نه يوازې دا چې مؤمنان خوښ نه ول بلکې سخت غمجن ول حال دا چې قرآن وايي: په دغه ورځ به مؤمنان د الله تعالى پر نصرت خوښ وي!! او دوهم دا چې د روميانو او فارسيانو له تاريخي اسنادو معلومېږي چې پر فارسيانو د روميانو بريا په ٦٢٤ ميلادي کال رامنځته شوې او همدا د بدر د غزوې کال دئ. د دې معنى دا ده چې دا مبارکه سوره تر هجرت پنځه شپږ کاله وړاندې نازله شوې.

په څلورم آيت کې ويل شوي: لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ: کارونه وړاندې او وروسته د الله په واك کې دي، يعني د روميانو ماته هم د الهي مقدراتو مطابق وه او بريا به ئې هم د الهي مقدراتو مطابق وي، د ماتې او بريا پرېکړې د الله تعالی له لوري کېږي، څوك چې د الهي سننو له مخې د ماتې مستحق وي هرو مرو به له ماتې سره مخامخ کېږي، هيڅ څه او هيڅوك ئې د ماتې مخه نشي نيولی او څوك چې د الهي سننو له مخې د بريا وړ وي هيڅوك او هيڅ څه ئې د بريا مخه نشي نيولی، دا ځکه چې کارونه وړاندې او وروسته د الله په واك کې دي او د کارونو د پايلو او نتائجو په اړه پرېکړې د ده له لوري صادرېږي.

د پنځم آيت په وروستۍ فقرې کې د الله تعالی د دوو صفتونو يادونه شوې: (عزيز) او (رحيم)، دا صفات د آيتونو له اساسي موضوع سره ژور ارتباط لري، يوه مات شوي کمزوري ولس ته پر برلاسي او غالب دښمن بريا ورکول ښيي چې الله تعالی داسې عزتمن او ځواکمن (عزيز) دئ چې هيڅوك ئې د ارادې د تحقق مخه نشي نيولی؛ او خپله ملتيا او نصرت د مظلومو مؤمنانو په برخه کول ښيي چې الله تعالی رحيم او مهربان دئ. له دې دواړو صفاتو معلومېږي چې يو ئې د روميانو له بيا غلبې سره تعلق لري او بل ئې پر قريشو د مؤمنانو له غلبې سره. د (عزيز) صفت له لومړۍ پېښې سره او د (رحيم) صفت له دوهمې سره.

دې ته مو پام وي چې د شپږمې ميلادي پېړۍ تر لومړيو پورې روم د يوه داسې زبرځواك په بڼې کې راڅرگند شوی وو چې په نړۍ کې ئې سيال نه درلود، د عربو ډېرې سيمې د اوسني اردن، شام او فلسطين په شمول او د افريقا ډېرې برخې د روميانو لاس ته ورغلې وې، د فارس کسری خسرو پرويز هم د روم په مرسته اقتدار ته رسېدلی وو چې د همدې پېرزوينې له کبله ئې د روم قيصر ماريس ته د خپل پلار او محسن په سترگه کتل. د رسول الله صلی الله عليه و سلم له بعثت اته کاله وړاندې د ماريس په خلاف بغاوت وشو، د دې بغاوت په نتيجه کې د فوکاس په نامه يو بل قيصر د اقتدار پر گدۍ کښېناست، ده د ماريس پنځه زامن د هغه په وړاندې ووژل بيا ئې دی په خپله ووژلو او د دوی سرونه ئې په قسطنطنيه کې د خلکو په وړاندې ځوړند کړل، څو ورځې وروسته ئې د هغه مېرمن او درې لوڼې هم ووژلې، دې وژنو د فوکاس په خلاف د ماريس د پلويانو پارېدلې احساسات او په عمومي توگه د روم تر واکمنۍ لاندې سيمو کې تشنجاتو خسرو پرويز ته د روم خلاف د لوی بريد فرصت په لاس ورکړ، اعلان ئې وکړ چې غواړي د خپل مجازي پلار انتقام واخلي، په ٦٠٣ ميلادي کال ئې د روميانو په ضد جگړه پيل کړه، په څو کلونو کې ئې د فوکاس فوځونو ته پرله پسې ماتې ورکړې، په شمال کې تر ايډيسا پورې او په غرب کې د شام تر حلب او انطاکيې پورې ورسېدو، رومي مشران دې نتيجې ته ورسېدل چې فوکاس د هېواد له دفاع او ادارې عاجز شوی، نو د افريقا له والي ئې مرسته وغوښته، هغه خپل زوی هرقل له لوی لښکر سره د دوی مرستې ته ولېږو چې قسطنطنيې ته له رسېدو سره سم فوکاس عزل او هرقل د قيصر په توگه وټاکل شو، هرقل له قيصر کېدو سره سم له فوکاس سره همغه څه وکړل چې ده له

ماریس سره کړي ول، دا پېښه په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له بعثت سره هممهاله وه.

د فوکاس له عزل او مجازات وروسته هغه بهانه له منځه ولاړه چې خسرو پرویز د رومیانو په ضد د جګړې لپاره کاروله، خو هغه جګړه متوقف نه کړه، ځان ئې لا خوره کړه او هغې ته ئې د مجوسیت او مسیحیت تر منځ د جګړې نوم ورکړ، د رومي واکمنو سیاسي او مذهبي مخالفینو د ده ملاتړ کولو، یهودانو او د عیسایانو هغو فرقو چې د کلیسا له لوري په الحاد او ارتداد تورنې شوې وې له مجوسیانو سره نه یوازې خواخوږي درلوده بلکې عملاً ئې د دوی مرسته او ملګرتیا کوله، دومره چې د خسرو په فوځ کې د استخدام شوو یهودي جنګیالیو شمېر شپږویشت زرو ته رسېدو. هرقل ونه توانېدو د دې برید مخه ډپ کړي، انطاکیه، دمشق او بیت المقدس ئې یو په بل پسې له لاسه ووتل، په بیت المقدس کې نژدې نوي زره مسیحیان ووژل شول، د دوی ستره کلیسا نسکوره کړی شوه، اصلي صلیب (هغه چې مسیحیان ګمان کوي عیسی علیه السلام پرې پانسۍ شوی) د مجوسیانو لاس ته ورغی او مدائن ته انتقال شو، د دوی ستر کشیش زکریا هم د مجوسیانو په لاس اسیر شو، په نیول شوو سیمو کې د مسیحیانو ټول معبدونه ویجاړ کړی شول، خسرو د دغو فتوحاتو له کبله دومره مغرور شوی وو چې هرقل ته ئې په هغه لیك کې چې له بیت المقدس ئې ورلېږلی وو لیکلي ول:

(تر ټولو خدایانو د لوی خدای او د ټولې نړۍ د مالك خسرو له لوري خپل سپك او بې شعور غلام هرقل ته! ته وایې چې پر خپل رب مې ویسا ده! دا ولې ستا خدای یروشلیم زما له لاسه ونه ژغورو؟!! )

له دې فتحې وروسته ایراني فوځونو اردن، فلسطین او د سینا ټوله جزیره ونیول او د مصر پولو ته ورسېدل. دا هغه مهال وو چې په مکه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له بعثت وروسته د توحید او شرك تر منځ یوه بله جګړه پیل شوې وه، هیڅوك نه پوهېدو چې د دې جګړې پایلې او ابعاد به تر هغې جګړې هم ستر او پراخ وي چې هغه مهال د نړۍ د دوو سترو ځواکونو تر منځ روانه وه، نه چا دا ګمان کولی شو چې روم به بېرته پر فارسیانو غالب شي او نه دا چې مسلمانان به پر قریشو برلاسي شي، په داسي حال کې چې په همدغو شپو ورځو کې مسلمانان د قریشو له ظلمونو دومره تنګ شوي وو چې ځینو ئې د حبشې عیسائي سلطنت ته هجرت وکړ، هر چا داسي انګېرله چې نور نو په نړۍ کې داسي ځواك پاته نه دئ چې د فارسیانو مخې ته تم شي، مشرکو قریشو له مجوسي فارسیانو سره خواخوږي درلوده او د دوی پر فتوحاتو خوشحالېدل، مسلمانانو رومیانو ته د اهل کتاب په سترګه کتل او هغوی ئې ځان ته نژدې ګڼل او د دوی پر ماتو خوابدي کېدل. په همدغو ظروفو کې دا مبارکه سوره نازله شوه او دا وړاندوینه ئې وکړه چې د څو راتلونکو کالونو په ترڅ کې به نه یوازې رومیان پر خپل دښمن برلاسي شي بلکې مؤمنان به هم پر یوې سترې بریا خوشحالي کوي. دا دواړه وړاندوینې د ټولو خلکو د انګېرنو او محاسبو خلاف تر سره

شوې.

يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ۝٧

د دنيايي ژوند په ځينو ښکاره (اړخونو) پوهېږي په داسي حال کي چي دوی له آخرته غافل دي.

(۷)- د دوی ليدواړتن لنډ دئ، يوازي د خپلو پښو مخي ته څو گامه ليدی شي، قضاوتونه ئې د ظواهرو له مخي وي، لکه څنگه چي د دنيا او آخرت په اړه د دوی انگېرنه سطحي ده همدا راز د فارسيانو د ظاهري بري په ارتباط د دوی انگېرنه عجولانه او سطحي ده، په يوې جگړي کي د دوی بريا او برلاسي ته په پام سره گمان کوي چي نور نو نه د دوی ماته ممکنه ده او نه د روميانو بيا سرلوړول او برلاسی!! په داسي حال کي چي ډېر ځلي يوه بريا د داسي ماتي مقدمه وي چي د مغرور برلاسي ځواك په بشپړ زوال منتج شي.

أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا
بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ۝٨ أَوَلَمۡ
يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ
مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم
بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ۝٩ ثُمَّ كَانَ
عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝١٠
ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ۝١١

آيا له ځان سره ئې فکر نه دئ کړی چي الله آسمانونه او زمکه او څه چي د دوی په منځ کي دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توگه) نه دي پيدا کړي او د خلکو ډېری د خپل رب له ملاقات انکار کوي. آيا په زمکي کي نه دي گرځېدلي چي ليدلي ئې وی د هغو پايله څنگه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی د قوت له مخي ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زياته سپړلې (ودانه کړې) وه چي دوی سپړلې؛ او پيغمبرانو ئې ښکاره نښې وروړې، نو الله پر دوی ظلم نه کاوو بلکي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، بيا د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې وکړه، له دې کبله چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله. الله هغه ذات دئ چي پيدايښت

پيلوي بيا ئې اعاده کوي، بيا (ټول) د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ.

(۸-۱۰)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د آخرت او بيا ژوندون په اړه د دوی د غلطو انگېرنو د ترديد په اړه دوه داسي مضبوط دلائل د دوی په وړاندي پړدول شوي چي که هر عاقل انسان له ځان سره پرې فکر وکړي حتماً پرې قانع کېږي: لومړی دا چي په آسمانونو او زمکي کي داسي څه نشي موندلی چي بېهوده، خوشی او بې گټي وي، په سمه توگه او په حقه نه وي پيدا شوی او په پيدايښت کي ئې کوم حکمت او مصلحت مضمر نه وي!! له دې سره سره څنگه گمان کوي چي الله تعالی به انسان داسي پيدا کړی وي چي خپلي مخي ته ئې پرېښی، نه د سم کار نېکه بدله ورکوي او نه د غلط کار سزا؟!! داسي غلط کار له هغه الله تعالی سره څنگه مناسب گڼې چي آسمانونه او زمکه او د دوی په منځ کي هر څه ئې په سمه توگه او پر حق او حقيقت ولاړ پيدا کړي؟!! دوهم دا چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي هر څه داسي پيدا کړي چي هم ئې پيدايښت ټاکلې نېټه لري او هم ئې پای. د دې حقيقت له مشاهدې سره سره څنگه گمان کوي چي دا عالم دائمي دئ او پای نه لري؟!!
- مگر نه گورئ چي الله تعالی د هر مخلوق پيدايښت پيلوي، بيا ئې اعاده کوي، يا په دې معنی چي په پر له پسې توگه ئې پيدا کوي او يا په دې معنی چي په مرگ ئې محکوموي او په پای کي د هغه په لوري درومي؟!!
- د خپلو مجوسي ملگرو پر موقتي بريا د قريشو د بې ځايه غرور او خوشۍ په ځواب کي ورته ويل شوي: آيا په زمکي کي نه دي گرځېدلي چي ليدلي ئې وی د هغو پايله څنگه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی د قوت له مخي ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زياته ودانه کړې وه چي دوی ودانه کړې، پيغمبرانو ئې څرگندي نښي وروړې، دوی انکار وکړ، نو الله تعالی کلك ونيول او سخته سزا ئې ورکړه، دا سزا عادلانه سزا وه، په دې سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، آيا دا ئې د تاريخ په پاڼو کي نه دي لوستي چي تل د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې کړې، له دې بدي پايلي سره له دې کبله مخامخ شوي چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله.
- په دې مبارکو آيتونو کي قريشو او د آخرت او د الهي مکافات او مجازات ټولو منکرينو ته ويل شوي: دا څوك دئ چي ظالمان مواخذه کوي؟ تاريخ ته رجوع وکړئ؛ د هغو متمدنو قومونو انجام وگورئ چي که څه هم په تمدن او قوت کي تر موجوده قومونو ډېر پرمخ تللي ول؛ خو چي د پيغمبرانو د دعوت مخالفت ئې کړی، وگورئ چي الله جل شأنه څنگه مواخذه کړي، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي؟! آيا د دوی دا تباهي، تعذيب او هلاکت د دې دليل نه دئ چي دلته داسي څوك شته چي له هر چا سره محاسبه کوي او عملونو ته ئې بدله ورکوي؟ همدا ذات به قيامت قائموي، همدا ذات هغه دئ چي پيدايښت ئې پيل کړی او له

پای ته رسېدو وروسته به ئې بيا اعاده کوي، دا همغه ذات دئ چې ټول به د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ.

وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَٰٓؤُاْ
وَكَانُواْ بِشُرَكَآئِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلْأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿١٦﴾

او هغه ورځ چې (د قيامت) دغه گړۍ قائمه شي مجرمين به نهيلي شي. او دوی ته به له خپلو شرکاوو (هيڅ) شفاعت کوونکي نه وي؛ او له خپلو شرکاوو به انکار کوونکي وي. او هغه ورځ چې (د قيامت) دغه گړۍ قائمه شي دوی به په دې ورځ سره بېل بېل شي. نو هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی به په داسي باغ کې وي چې (پرې) خوشحاله به کړی شي. او هغه چې کفر ئې کړی او زما آيتونه او د آخرت ملاقات ئې تکذيب کړي نو دوی به عذاب ته حاضر کړی شوي وي.

(١٢-١٦)- په دې مبارکو آيتونو کې له يوې خوا د قيامت په ورځ د هغو مجرمينو او مشرکينو حالت انځور شوی چې په آخرت ئې ايمان نه درلود او له بلې خوا د هغو مؤمنانو چې ايمان ئې راوړی وو او همدغه ايمان نېکو عملونو ته چمتو کړي وو، وايي: کله چې د قيامت دغه گړۍ راورسېږي نو مجرمين به نهيلي شي او هر څه به د خپلو انگېرنو خلاف ومومي، چا چې دوی د الله تعالی سيال او ند گرځولي وو او د شفاعت طمع ئې ترې درلوده وبه ئې گوري چې مرسته ئې نشي کولی، هلته به ئې هيڅ شفاعت کوونکی نه تر سترگو کېږي، له خپلو شرکاوو به انکار کوي، يو له بله به سره بېل بېل شي. او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی به په داسي باغ کې وي چې پرې خوشحاله به کړی شي او هغه چې کفر ئې کړی او د الله آيتونه او د آخرت ملاقات ئې تکذيب کړي نو دوی به عذاب ته حاضر کړی شوي وي.

فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ
مِنَ ٱلْحَيِّ وَيُحْيِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

نو تسبيح ويل دي الله ته؛ هغه مهال هم چې ماښام ته ننوځئ او هغه مهال هم چې

سباوون ته ننوځئ؛ او په آسمانونو او ځمکې کې ستاینه (ویل) ده ته (مختص) دي؛ او بیګا هم او هغه مهال هم چې ماسپښین ته ننوځئ، ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي؛ او ځمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کوي؛ او همداسې به تاسو هم راایستل کېږئ.

(۱۷-۱۹)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• باید تل او په ځانګړې توګه له یوه وخت بل ته د ننوتو په مهال د الله تعالی (تسبیح) او (تحمید) ووایو، (تسبیح) یعني الله تعالی له هر عیب او نقص منزه او پاك ګڼل او (تحمید) یعني الله تعالی د ټولو ستاینو وړ ګڼل.

• دلته د تسبیح او تحمید لپاره څلور وختونه تر سترګو کېږي: هغه مهال چې ماښام ته ننوځئ، هغه مهال چې سباوون ته ننوځئ، بیګا او هغه مهال هم چې ماسپښین ته ننوځئ. ماښام، سبا، ماسپښین واضح او ثابت وختونه دي، خو (عشي) د ورځې آخر ته وضع شوې او کله کله له زوال وروسته تر ماخستن پورې وخت افاده کوي، نو ځکه ځینې مفسرین دا د مازدیګر وخت ګڼي او ځینې ئې له زوال تر ماخستن پورې. خو که د آیتونو ترکیب ته ځیر شو داسې برېښي چې دلته ئې مراد یوازې د ماخستن وخت دئ، ځکه په مخکینۍ آیت کې له ماښام وروسته د سحر یادونه (تمسون او تصبحون) شوې، دا ایجابوي چې (عشي) د (مساء) په څېر له (ظهر) وړاندې وخت وي. د دې عکس ترتیب د آیتونو نظم ته صدمه رسوي. همدا راز دلته دوو متضادو وختونو ته اشاره مراد ده: لږ تیاره او لږ رڼا (ماښام او سباوون)، ډېره تیاره او ډېره رڼا (ماخستن او ماسپښین)، په ورپسې آیت کې هم د مرګ او ژوند دوه متفاوت حالتونه زموږ په وړاندې انځور شوي او وایي: ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي؛ او ځمکه له خپلې مړینې وروسته بیا راژوندۍ کوي؛ او همداسې به تاسو هم راایستل کېږئ.

که څه هم ځینو درنو مفسرینو دلته (تسبیح) او (تحمید) د لمانځه په معنی تعبیر کړي او دا وختونه ئې د لمانځه پنځه وختونه ګڼلي خو د آیتونو سیاق و سباق له دې تعبیر سره اړخ نه لګوي، ځکه تر دې آیتونو وړاندې هم د قیامت په اړه بحث شوی او د آیتونو په پای کې هم د بیاژوندون خبره شوې؛ او له دې په صراحت سره معلومېږي چې دلته له وختونو د تیارې او رڼا له پلوه متفاوت وختونه دي، همداسې لکه دنیا او آخرت چې متفاوت وختونه دي او همداسې لکه مرګ او ژوند چې متفاوت حالتونه دي، لکه چې دا وختونه یو په بل پسې راځي او لکه څنګه چې الله تعالی ژوندی له مړي راپیدا کوي او مړه ځمکه بیاراژوندۍ کوي همداسې به قیامت راځي او مړي به بیا راژوندي کېږي. هغه څوك چې له قیامت او بیاژوندون انکار کوي په حقیقت کې د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکي رب ته یو ستر عیب منسوبوي په داسې حال کې چې الله تعالی له هر عیب منزه او د ټولو ستاینو وړ دئ.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾

او دا د ده له آيتونو دئ چي تاسو ئې له خاوري راپيدا کړئ، نو بيا ناڅاپه تاسو داسي بشر شوئ چي خورېږئ.

(٢٠)- په دې مبارك آيت کي له خاوري د داسي انسان پيدايښت چي منتشر کېږي د الله تعالی د قدرت بارزه نښه ښودل شوې. آيا له خاوري د يوه متحرك، خوځېدونکي او خورېدونکي انسان پيدايښت دا نه ښيي چي پيداکوونکی ئې خلاق رب دئ؟ آيا دا نه ښيي چي الله تعالی له خاوري د انسان په بيا پيدا کولو قادر دئ؟ ولي د هغو مړو بيا راژوندي کېدا درته محال او گران برېښي چي خاوري شوي؟ مگر الله تعالی په سر کي انسان او ټول ژوي له خاوري نه دي پيدا کړي؟ آيا دا نن هره ورځ له همدې خاوري انسانان او نور ژوي نه راپيدا کوي؟ دانه او مېوه له خاوري راپيدا کوي، همدا دانه او مېوه د ژوو په بدن کي په نطفې بدلېږي او نوي ژوي ترې پيدا کېږي.

دا مبارك آيت له بعثت او بياژوندي کېدو انکار کونکو ته دوه ستر دلائل وړاندي کوي:

- پداسي حال کي چي هره شيبه له مړې خاوري د ژوو د پيدا کېدو بېلگي گورې، په يوه باران سره د مړې زمکي له تل رنگ رنگ ژوي سر رااوچت کړي، تا ته ولي له خاورو د انسان د بيا راپيدا کولو کار گران برېښي؟! څنگه له بيا ژوندون انکار کوې حال دا چي هره شېبه ئې بېلگي گورې؟!
- تا نه يوازي د بيا ژوندي کولو بېلگو ته پام نه دئ کړی بلکي د پيدا کوونکي خدای د قدرت نښو ته دي هم توجه نده کړې. آيا د زمکي، آسمانونو او دغه ستر او بې انتهاء عالم او پراخ کائنات او د هغه په غېږ کي د بې شمېره مخلوقاتو پيدا کوونکی، پالونکی، ساتونکی او روزونکی رب له دې عاجز گڼې چي انسان بيا راپيدا کړي؟!! مگر پدې خور عالم کي د الله د قدرت بې شمېره نښي ستا لپاره کفايت نکوي چي همدا قدير خدای د انسان په پيداکولو قادر وگڼې؟!

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

او د آيتونو ئې يوه څرگنده نښه دا ده چي تاسو ته ئې په خپله له تاسو داسي جوړې راپيدا کړې چي خوا ته ئې آرامښت ومومئ؛ او ستاسو تر منځ ئې مينه او پېرزوينه راپيدا کړه، يقيناً چي په دې کي هغو وگړو ته څرگندي نښي دي چي تفکر کوي.

(٢١)- په دې مبارك آيت کي څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندي څلېږي:

- موږ گورو چي انسانان او نور ژوي د دوی د نسل د دوام په موخه او د يوې دقيقي

منصوبې له مخې جوړه جوړه (نر او ښځه) پیدا شوي، که دوی همداسې جوړه جوړه نه وی پیدا شوي نو د نسل دوام ئې ممکن نه وو.

- دوی نه یوازې جوړه جوړه پیدا شوي بلکې د دغو جوړو تر منځ د (میني) او (پېرزویني) شاهد یو، همدا مینه او پیرزوینه د دې باعث شي چې کورنۍ رامنځته شي او د کورنۍ په غېږ کې د ماشوم د روزنې او حفاظت لازم او مناسب شرائط برابر شي، که داسې نه وی نو د ژوو د نسل دوام ممکن نه وو.
- آیا دا ښکارندویې په څرګنده توګه او په جګ غږ موږ ته نه وایي چې دا عالم حکیم او علیم رب لري؟ آیا موږ ته لارښوونه نه کوي چې د دې عالم خالق او پیدا کوونکی د انسان په بیا پیدایښت قادر دئ؟ آیا له دغو څرګندو حقائقو انکار ډېر جاهلانه انکار نه دئ؟

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾

او د آیتونو ئې یوه (څرګنده نښه) د آسمانونو او زمکې پیدایښت او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف (بېلوالی) دئ، یقیناً چې په دې کې پوهانو ته څرګندې نښې دي.

(۲۲)- دا مبارك آیت دغه ستر ستر حقائق زموږ په وړاندې ږدي:

- د آسمانونو او زمکې پیدایښت، له دومره پراخوالي، ستروالي او رنګ رنګ مخلوقاتو سره او له دومره نظم او دقت سره د رب العالمین د قدرت څرګنده نښه ده، کوم عقل به دا ومني چې دا ستر عالم دې له کوم ځواکمن او علیم خالق پرته پیدا شوی وي، په داسې حال کې چې د عالم هرې خوا ته او په هر څه کې ئې د علم، دقت، حکمت، هدفمنۍ او ښایست نښې او آثار له ورایه برېښي او په دې شهادت ورکوي چې خالق ئې علیم او حکیم ذات دئ؟!!
- دا بې شمېره انسانان، په بېل بېل شکل او رنګ کې، له متفاوتو استعدادونو او بېلو بېلو ژبو سره ښيي چې احسن الخالقین خالق پیدا کړي، که انسانان په ماشیني توګه پیدا کېدی نو د ټولو شکل، رنګ او ژبه به سره ورته وو، خو موږ په ټول عالم کې دوه داسې انسانان نه شو موندلی چې له هره پلوه سره ورته وي. یقیناً چې د انسانانو تر منځ د شکل، رنګ او ژبې اختلاف د احسن الخالقین رب د قدرت ستره او عقل پاروونکې نښه ده او په دې کې پوهانو ته څرګندې لارښوونې دي.
- په رښتیا که زموږ ژبې بېلې بېلې نه وی، له لومړي حالت ئې ارتقاء نه شوی کولی او موږ د نویو شیانو لپاره نومونه نه شوی وضع کولی، له څومره ستونزو سره به مخامخ وو، د یوه شي په اړه د بحث په دوران کې به مجبور وو هغه شی په خپله راحاضر کړو!! او که زموږ رنګونه او شکلونه سره مختلف نه وی د خلکو په پېژندا کې به له څومره کړاوونو سره مخامخ وو، په یوې کورنۍ کې دوه ماشومان جوړه او په یوه شکل او رنګ پیدا او ستر شي، هر څوك

پرې غلطيږي، معامله ئې له يوه سره وي او دعوى پر بل کوي، که د ټولې نړۍ خلك يو رنگ او ژبه ئې سره ورته وى، نړۍ وال به له څومره ستر کړاو سره مخامخ ول، په دې اړه د قرآن وينا څومره دقيقه او درنه ده چې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ۝١٣ الحجرات: ۱۳

اې خلکو! يقيناً چې موږ له يوه نارينه او يوې ښځينه راپيدا کړئ او ټبر ټبر او قبيلې قبيلې مو کړئ چې يو بل وپيژنئ، بې شکه چې د الله په وړاندې ستاسو تر ټولو غوره ستاسو تر ټولو زيات پرهېزګار دئ، يقيناً چې الله ښه باخبره پوه دئ.

---

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ۝٢٣

او د آيتونو ئې يوه (څرګنده نښه) په شپه او ورځ کې ستاسو خوب او د ده د فضل لټونه مو ده، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګندې نښې دي چې اوري.

---

(۲۳)- دلته د انسان دوو اساسي اړتياوو ته ګوته نيول شوې: خوب او رزق، په خوب سره د هغه ذهني ستړيا رفع کېږي او د ورځنې کار په ترڅ کې ضائع شوې انرژي جبرانوي او په رزق سره د مزيد کار ځواك تر لاسه کوي، الله تعالى نه يوازې انسان داسې پيدا کړى چې د خپلې دغې فطري اړتيا رفع کولو لپاره خوب پرې راځي بلکې عالم ئې داسې پيدا کړى چې د دې اړتيا په تأمين کې د انسان مرسته وکړي او داسې مناسب شرائط ورته مهيا کړى چې دى په کې په ډاډه زړه خوب کولى شي، انسان د خوب لپاره (چوپتيا) او (تيارې) ته ضرورت لري، نه په شور او ځوړ کې سم خوب کولى شي او نه په تېزې رڼا کې، دا دئ ګورئ چې د (انسان) او (عالم) پيداکوونکي رب؛ طبيعت داسې جوړ کړى چې له هرو څو ګنټو وروسته شپه راشي، په هر څه خپل وزر خور کړي، غړونه چوپ شي او په دې توګه د انسان د خوب لپاره اړين شرائط برابر شي!! همدا راز انسان رزق ته اړ دئ، د ده او د نورو ژوو د روزي اساسي برخه دانه، مېوه او واښه دي، دا ټول له رڼا او تودوخې پرته نشي پيدا کېدى، الله تعالى ورځ راولي، د زمکې مخ لمر ته واړوي، لمر زمکې ته هم رڼا ورکړي او هم تودوخه، په دې توګه هم زمکه په واښو، دانو او مېوو سمسوره شي او هم د انسان لپاره داسې شرائط برابر شي چې هر څه په کې ليدى، پېژندى او کار ترې اخيستى شي، که دا دقيق نظام نه وى د زمکې پر سر ژوند ممکن نه وو.

---

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ بِهِ

ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٢٤﴾

**او د آيتونو ئې يوه (ځرگنده نښه) دا ده چې برېښنا د ويرې او طمعې په توگه درښيي او له آسمان اوبه نازلوي او په دې سره زمکه له خپلې مړينې وروسته راژوندۍ کوي، يقيناً چې په دې کې هغو وگړو ته ځرگندې نښې دي چې تعقل کوي.**

(٢٤)- د آسمان دا برېښنا چې له تېزې رڼا او هيبتناك ږغ سره توأم وي، په څا کې وېره او په څا کې طمع راولاړوي، باران ته اړ او منتظر خلك ورته طمع کوي؛ او له باران بې زار او له سيلابونو وېرېدونکي ترې وېره کوي، هيبتناك ږغ ئې د هر څا په زړه کې وېره راولاړوي، همدا د زمکې پر سر د ژوند تومنه او د ژوند د دوام وسيله ده، په همدې سره د هغه باران وربېدا پېل شي چې مړه زمکه پرې راژوندۍ شي، آيا دا د ژوند بخښونکي، قيوم او مدبر ذات د حکيمانه تصرف ځرگنده نښه نه ده؟ يقيناً چې په دې کې هغو وگړو ته ځرگندې نښې دي چې تعقل کوي.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ بِأَمۡرِهِۦۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ إِذَآ أَنتُمۡ تَخۡرُجُونَ ﴿٢٥﴾

**او د آيتونو ئې يوه (ځرگنده نښه) دا ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي، بيا کله چې تاسو له زمکې وروبلي ناڅاپه به راوځئ.**

(٢٥)- دا مبارك آيت موږ ته وايي: تاسو په آسمان او زمکې کې د يوه دقيق، مضبوط او پر حکمت مبتني نظم شاهد يئ، هر څه ئې په خپل خپل ځای کې او په منظمه توگه ساتل کېږي، اداره کېږي او له بې نظمۍ او تصادم ئې مخنيوی کېږي، آيا دا نه ښيي چې آسمانونه او زمکه د يوه ځواکمن رب تر بشپړې سلطې لاندې اداره کېږي؟ آيا دا د الله تعالی د آيتونو يوه ځرگنده نښه نه ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي؟! آيا هغه ذات چې دا پراخ عالم اداره کوي له دې عاجز گڼئ چې تاسو له مړينې وروسته بياراژوندي کړي؟! يقيناً چې د داسې ځواکمن او مقتدر ذات يوازې يوه بلنه کافي ده چې تاسو له زمکې ژوندي راووځئ.

په دې مبارك آيت کې ويل شوي چې آسمان او زمکه د الله تعالی په حکم قائم (ولاړ) دي، د آسمان په اړه د (قائم او ولاړ) مطلب واضح دئ خو د زمکې په اړه دا صيغه څنگه کارول شوې او څه مطلب افاده کوي؟ او څنگه د آسمان او زمکې ودرېدا سره ورته ده او د دواړو لپاره يوه صيغه کارول شوې؟ آيا له دې وينا په ډېر وضاحت سره نه معلومېږي چې زمکه د آسمان په څېر ولاړه ده؟ د آسمان په غېږ کې چې کوم واړه او ستر ستوري دي ټول

په فضاء کې معلق ولاړ او هر يو ئې په خپل خپل مسير کې خوځي، زمکه هم يو له دغو بې شمېره ستورو ده او ودرېدا ئې د نورو په څېر ده، انسانانو ته دغه حقيقت اوس او له ډېرو علمي څېړنو وروسته معلوم شوی، خو په دغه مبارك آيت کې څوارلس سوه کاله وړاندې دغه علمي حقيقت ته اشاره شوې او يقيناً چې دا د قرآن بل علمي اعجاز دئ.

متأسفانه په مفسرينو کې داسې خلك هم مومو چې نه يوازې د قرآن دا صريح او واضح لارښوونه ئې له پامه غورځولې او داسې څه ئې ويلي او ليکلي چې سل په سلو کې د قرآن د دې وينا خلاف دي بلکې تر دې هم وړاندې تللي او د نورو غلطو او خرافي مذاهبو د غلطو افکارو او عقائدو تر اغېز لاندې ئې د قرآن آيتونه په غلطه توګه تعبير او تفسير کړي، يوه بېلګه ئې د زمکې په اړه د ځينو مفسرينو دا خرافي رأيه ده چې وايي: زمکه د غوائي پر ښکر ولاړه ده، دا غوائی د کب پر شا ولاړ دئ او کب په اوبو کې دئ!! ډېره ډېره عجيبه ده چې څوك د الله تعالی د کلام په اړه داسې جسارتونه کوي او داسې خرافي او د عقل خلاف چتې خبرې د قرآن د تفسير په توګه وړاندې کوي!!

وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾

او هغه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د ده دي، ټول ورته منقاد دي.

(٢٦)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی دي، هم له دې پلوه چې ده پيدا کړي او دی ئې يوازينی خالق دئ او هم له دې پلوه چې د ده په واك کې دي او د ده حکم ته منقاد دي، همغه څه کوي چې الله تعالی پرې ګمارلي.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

او دی هغه ذات دئ چې پيدايښت پيلوي بيا ئې اعاده کوي او دا (اعاده ئې) ده ته ډېر آسان دئ؛ او په آسمانونو او زمکې کې لوړ لوړ مثالونه ده ته دي او دی باحکمت عزتمن دئ.

(٢٧)- تاسو په عالم کې بې شمېره مخلوقات ګورئ چې خلقت ئې په لومړي ځل پيل شوی او بيا ئې نسل په پرله پسې توګه دوام کوي، زوړ شي، مړ شي او خپل ځای خپل خلف او نوي نسل ته پرېږدي، د خلقت دغه لړۍ په مسلسله توګه روانه ده، هره شېبه نوي نوي مخلوقات پيدا کېږي او همداسې ئې د نسل د دوام شرائط برابرېږي، د چا په اراده چې دا کار تر سره کېږي هغه د عالمونو رب الله تعالی دئ، آيا دغه رب ته د انسان بيا پيدا کول ګران دي او تا ته ګران برېښي؟!! آيا بيا اعاده تر لومړي پيدايښت ډېره آسانه نه ده؟!! په

آسمانونو او زمکې کې د بې شمېره داسې لوړو لوړو مثالونو او بېلګو شاهد یو چې موږ ته په جګ ږغ وايي: د عالَم رب باحکمت عزتمن دئ، د (حکمت) او (ځواکمنۍ) مظاهر ئې هر لورې ته تر سترګو کېږي، څنګه هغه باحکمت او عزتمن رب د انسان له بیا پیدا کولو عاجز ګڼئ چې دا پراخ عالَم، آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي او هر څه ئې ساتي او پالي؟!!

ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِي مَا رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْآيَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ فَمَن يَهْدِي مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾

تاسو ته په خپله ستاسو یو مثال بیانوي: آیا په هغه څه کې چې تاسو ته ئې درروزي کړي داسې شریکان مو شته چې ستاسو لاسونه ئې مالك وي (ستاسو مملوك او مریې وي) نو تاسو په هغه کې سره برابر وئ؛ داسې ترې وېرېږئ لکه له خپلو ځانونو وېره؟!! همداسې هغو وګړو ته آیتونه په تفصیل سره بیانوو چې تعقل کوي. بلکې هغو چې ظلم ئې کړی له کومې پوهې پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی. نو هغه به څوك هدایت کړي چې الله بې لارې کړی او هیڅ مرستندویان ئې نشته.

(۲۸-۲۹)- په دې مبارکو آیتونو کې د شرك د تردید لپاره یو ښکلی او عقل پاروونکی مثال وړاندې شوی، هغو ته چې د مریانو خاوندان دي ویل شوي: آیا په هغه څه کې چې الله تعالی تاسو ته درروزي کړي داسې شریکان مو شته چې ستاسو مملوك او مریان وي او تاسو او دوی په هغه رزق کې چې ستاسو په واك کې دئ سره برابر شریك وئ، کله چې په خپل رزق کې تصرف کوئ نو له دوی داسې وېرېږئ لکه له خپلو سیالانو وېره؟!! هیڅوك داسې نه کوي چې خپل مریان په خپلو شتمنیو کې برابر شریك کړي، هیڅوك په خپلو شمتنیو کې د تصرف په دوران کې د خپل غلام په اړه داسې اندېښنه نه کوي چې د خپل سیال شریك په اړه ئې کوي، دا په داسې حال کې چې ټول انسانان دي، نه شتمن له خپل مریي په خلقت کې څه توپیر لري او نه ئې سیالان، د ټولني ځانګړو اجتماعي شرائطو دی شتمن کړی او ده ته ورته انسان ئې د ده مریي کړی!! که د انسان په اړه دا تصور معقول نه برېښي نو دا مشرکین څنګه د الله تعالی په اړه داسې انګېري چې کوم مخلوق او بنده به ئې په خپل ملك او مالکیت کې له ځان سره شریك کړی وي او د تصرف په دوران کې به دا اندېښنه لري چې شریك ئې ناراض نشي؟!! یقیناً چې په دې عبرتناك مثال کې د هغو وګړو لپاره څرګند دلیل دئ چې تعقل کوي؛ او هغه چې د شرك لوی ظلم ئې کړی او په الوهیت او ربوبیت کې ئې

يو مخلوق د الله تعالی شريك گرځولی؛ يقيناً چې ستر ظلم ئې کړی، هم له خپل عقل سره او هم د الله تعالی په اړه، له کومې پوهې پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی او د الله تعالی په اړه ئې داسې څه ويلي چې له هوس او شيطاني القاءاتو راټوکېدلي. داسې انگېرنې له هغه زړه او دماغ راټوکېږي چې په الهي څلاندو لارښوونو نه دي روښانه شوي، نو هغه به څوك هدايت کړي چې الله بې لارې کړی، دوې په ټول عالم کې داسې مرستندويان نشي موندلی چې له تيارو ئې وباسي او په حقيقت ئې پوه کړي.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًاۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَاۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًاۖ كُلُّ حِزْبِۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

نو خپل مخ دې په يو مخيزه (بشپړه) توگه د دين لورې ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې (فطرتاً) پيدا کړي، د الله پيدايښت ته هيڅ بدلون نشته، همدا سم او مضبوط دين دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي. د ده لورې ته انابت کوونکي او ترېووېرېږئ او لمونځ قائم کړئ او له مشرکينو مه کېږئ، له هغو چې خپل دين ئې شيندلی دئ او ډلې ډلې شوي وو، هره ډله پر هغه څه خوښ چې ورسره ول.

(۳۰-۳۲)- د پورتنيو مضبوطو او قانع کوونکو دلائلو تقاضا دا ده چې له الله تعالی پرته له بل هر معبود مخ واړوو او په بشپړه او کامله توگه الله تعالی ته مخه کړو او هغه يوازينی رب وگڼو، په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن مخاطب ته ويل شوي: نو خپل مخ دې په يو مخيزه او بشپړه توگه د دين لورې ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې فطرتاً پيدا کړي، دا دين د هغه فطرت مطابق دئ چې الله تعالی انسانانو ته ورپه برخه کړی، دا فطرت نه د زمانې په تېرېدو سره بدلېږي او نه د شرائطو په بدلېدو سره، د الله تعالی فطري خلقت او پيدايښت هيڅکله بدلون نه مومي، همدا سم او مضبوط دين دئ؛ خو ډېری خلك نه سم دين پېژني او نه په دې پوهېږي چې د دوی د فطرت تقاضا څه ده. په داسې حال کې دې الهي دين ته ننوځئ چې د خپل رب لورې ته انابت کوونکي يئ او ترې وېرېږئ، لمونځ قائم کړئ او له مشرکينو مه کېږئ، له هغو چې خپل دين ئې شيندلی دئ او ډلې ډلې شوي دي، هرې ډلې ځان ته بېل بېل دين او تگلاره غوره کړې او هره ډله پر خپل مذهب او تگلارې خوښ دي.

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوۡاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنۡهُ رَحۡمَةً إِذَا
فَرِيقٌ مِّنۡهُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ
تَعۡلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشۡرِكُونَ ﴿٣٥﴾

او کله چې خلکو ته کوم کړاو ورسېږي خپل رب ته په داسې حال کې دعا کوي چې د ده لورې ته انابت کوونکي وي، بیا کله چې له خپل لوري کوم رحمت وروڅکي ناڅاپه د دوی یوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي. د دې لپاره چې د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چې دوی ته ئې ورکړي، نو متمتع شئ چې ژر به (ئې په پایلې) پوه شئ، آیا پر دوی مو کوم داسې دلیل نازل کړی چې دوی ته د هغه څه په اړه وینا کوي چې دوی پرې شرك کوي؟!

(۳۳-۳۵)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- دلته د انسان د فطري جوړښت یوه داسې اړخ ته اشاره شوې چې ښيي د ده په خټه کې پر الله تعالی ایمان او په کړاوونو کې د هغه په وړاندې د دعاء احساس تعبیه شوی، دا دئ ګورئ چې کله انسان له کړاوونو سره مخ شي، زور، ځواك او تدبیرونه ئې له کړاوونو ونه شي ژغورلی، له غرور او مستي ولوېږي، نو خپل رب ته مخه کړي او په انابت او زاریو سره مرسته ترې غواړي!! که پر الله تعالی ایمان د انسان فطري ښکارندویه نه وی نو هغه مهال به ئې د خپل رب په وړاندې د دعاء لاسونه نه لوړول چې کړاوونه ئې له مستي وغورځوي، عقل ئې سر ته راولي او طبیعي حالت ته ئې وګرځوي.
- د انسانانو بله ډله داسې ده چې کله الله تعالی له خپل لوري کوم رحمت وروڅکي د همدې رحمت له کبله د خپل رب په اړه شرك کوي، دا نعمت له الله تعالی پرته بل ته منسوبوي او د بل له لوري ئې ګڼي، اصلي منعم هېر کړي، یا ئې د خپلو مټو او تدبیر نتیجه ګڼي یا له الله تعالی پرته د بل چا پېرزوینه؛ او دا هم د دې لپاره چې غواړي د همدې نعمت په اړه ناسپاسي وکړي؛ او په هغه کې د خپلې خوښې او په آزاد لاس تصرف وکړي، که دا الله تعالی ته منسوب کړي او د خپل رب له لوري ئې یوه پېرزوینه وګڼي، دا احساس ئې دې ته اړ باسي چې په نعمت کې د تصرف په دوران کې د منعم رضایت په پام کې ولري او له داسې تصرف ډډه وکړي چې هغه پرې ناراضه کېږي، خو دوی آزاد او د خپل هوس مطابق تصرف غواړي، نو ځکه ورته ویل شوي: نو متمتع شئ چې ژر به (ئې په پایلې) پوه شئ!!

قرآن دلته او په ګڼ شمېر نورو مواردو کې د مشرکینو په اړه وايي: آیا د دې شرك لپاره کوم عقلي او نقلي دلیل لري؟!! د دې معنی دا ده چې هیڅوك د شرك په اړه کوم عقلي او نقلي دلیل نشي وړاندې کولی، ځوك چې د الله تعالی د کوم نعمت پېرزوینه له خپل رب او اصلي منعم پرته بل ته منسوب کړي داسې شرك ئې کړی چې هم د عقل خلاف دئ او هم

د الله تعالی له لوري نازل شوي کتاب خلاف.

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ ۝٣٦

او کله چې خلکو ته کوم رحمت وروڅکو پرې خوښ شي؛ او که د هغه څه له کبله کومه ستونزه وررسېږي چې د دوی لاسونو وړاندې کړي ناڅاپه دوی ناهیلي کېږي.

(۳۶)- دا مبارك آیت د انسان یوه بله فطري کمزوري داسې انځوروي: کله چې ده ته کوم رحمت وروڅکو پرې خوښ شي او که د هغه څه له کبله کومه ستونزه وررسېږي چې د دوی لاسونو وړاندې کړي ناڅاپه دوی ناهیلي کېږي.

دا مبارك آیت موږ ته دا لارښوونه هم کوي چې کوم نعمتونه د انسان په برخه کېږي دا ټول د الله تعالی د رحمت له کبله او د ده پېرزوینه ده، منشأ ئې د ده ذاتي صفت دئ، دی رحمن دئ، هر انسان که مؤمن وي او که کافر، په یوې او بلې بڼې د ده د پراخ رحمت خوند څکي، خو مصیبتونه، ستونزي او کړاوونه د انسان د کړنو محصول او بدله ده، چې کله په خپله عامل ته ورگرځي او کله ئې لمن پراخه شي او د ده همنوع او ورور ته هم سرایت کوي.

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ۝٣٧

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله هر چا ته چې وغواړي روزي پراخوي او تنگوي، یقیناً چې په دې کې هغو وگړو ته څرگندې نښې دي چې ایمان راوړي.

(۳۷)- دا د رزق د پراخوالي او تنگوالي پرېکړه څوك کوي؟ هغه څوك دئ چې کله له آسمانه گټور بارانونه وروي او له زمکې سمسور فصلونه راټوکوي چې انسانانو ته په پراخه پیمانه خوندوري مېوې او دانې راپیدا کړي او کله بیا داسې حالت راولي چې نه آسمان باران پرې پیرزو کوي او نه زمکه خوندوري مېوې او دانې؟!! که دا ټول د الله تعالی له لوري وي او پرېکړه ئې د انسان له لوري نه بلکې د الله تعالی له لوري کېږي نو دا مشرکین څنگه خپل نعمتونه له الله تعالی پرته د بل چا پېرزوینه او لورېینه گڼي؟!! آیا په دې کې هغو وگړو ته څرگندې نښې نه دي چې ایمان راوړي؟! آیا دا کافي نه ده چې انسان پر الله تعالی ایمان راوړي؟!

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ۝٣٨

نو د خپلوۍ خاوند، مسکین او مسافر ته د هغه حق ورکړه، دا هغو ته غوره دئ چې د الله رضا غواړي؛ او همدا دوی بریالي دي.

(۳۸)- دا آیت له یوې خوا مورږ ته لارښوونه کوي چې د نعمتونو په اړه د پورتني باور تقاضا دا ده چې په هغوی کې د تصرف په دوران کې د منعم رضاء په پام کې ولرو او له بلې خوا وایي چې ستاسو په مالونو کې د خپلوۍ خاوندان، مسکینان او مسافران ثابت حق لري، د هغوی حق ورکړئ، داسې مه انګېرئ چې ستاسو مال ستاسو ذاتي شتمني ده او په هغه کې نه د بل چا څه حق شته او نه په مالونو کې ستاسو تصرف څه حدود، تقاضاوې او شرائط لري، بل ته چې څه ورکوئ دا د هغه حق وګڼئ نه خپله احسان او پېرزوینه، همدا کړنلاره او باور هغو ته غوره دئ چې د الله رضا غواړي؛ او همدا دوی بریالي دي.

وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ۝٣٩

او له سود مو چې څه د دې لپاره ورکړي چې د خلکو په مال کې وده وکړي نو د الله په وړاندې وده نه کوي؛ او له زکات مو چې څه د الله د رضاء په تکل ورکړي نو همدا دوی (څو ځلي) زیاتوونکي دي.

(۳۹)- دا مبارك آیت د اقتصادي مناسباتو دوه متقابل صورتونه زمورږ په وړاندې ږدي: ربا (سود) او زکات، د سود په اړه وایي: هغه څه (مال) چې خلکو ته ئې د دې لپاره ورکوئ چې د هغوی په مال کې زیات شي، وده وکړي او تر خپل اصلي او لومړني مقدار زیات تاسو ته بېرته راستون شي، دا سود دئ او د الله تعالی په وړاندې وده نه کوي او بې برکته دئ؛ او کوم څه چې د زکات په توګه او د الله تعالی د رضاء په تکل ورکوئ نو په دې سره نه یوازې د خپل رب رضاء تر لاسه کوئ بلکې مضاعف بدله او اجر درپه برخه کېږي، همدا زکات ورکوونکي د الهي معیارونو له مخې د خپلو نعمتونو څو ځلي زیاتوونکي دي.

د دې مبارك آیت الفاظ ډېر صریح او حکم ئې ډېر پرېکنده دئ او هرې هغې معاملې ته د سود (ربا) نوم ورکوي چې بنسټ ئې پر داسې تعامل ولاړ وي چې د یوه مال د بل په مال کې زیات شي، یو بل ته خپل مال ورکړي او د مال دا لومړنی خاوند، څه موده وروسته، هم خپل مال او هم ئې اضافي ګټه تر لاسه کړي، پرته له دې چې څه کار، زیار او څه تاوان ئې ګاللی وي. د (زکات) په مقابل کې د (ربا) راوړل د سود ماهیت او څرنګوالی لا زیات

واضح کوي، زکات دا دئ چي څوك په خپل حلال مال كي يوه برخه د فقير او مسکين مسلم حق وګڼي او هغه د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو په موخه ورکړي او سود دې ته وايي چي څوك د خپل نفس راضي کولو په موخه خپل مال بل ته په دې شرط ورکړي چي مزيد مال او ګټه تر لاسه کړي.

دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا دا هم د سود په ضمن کي راځي چي څوك خپله د کر زمکه بل ته ورکړي او هغه ئې وکري او ګټه د دواړو تر منځ په يوه عادلانه او معقول تناسب ووېشل شي؟ يا خپلي پيسې بل ته ورکړي او هغه پرې تجارت وکړي، کور پرې جوړ کړي او په کرايه ئې ورکړي، زمکه پرې واخلي او وئې کري، يا کوم بل ګټور کار پرې وکړي او په ګټې کي ئې دی او د زمکي او مال خاوند شريك وي؟ که دې پوښتني ته د دې مبارك آيت په رڼا کي ځواب ووايو نو يقيناً ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چي د مسکين له خولو د ګټې تر لاسه کولو پر ځای له هغه سره مرسته وکړه، له ګټې پرته حسنه قرض ورکړه، هغه ستا ورور دئ او ستا په مال کي د حق خاوند، که د الله تعالی رضاء لټوې او دا غواړې چي الله تعالی ستا په مال کي برکت واچوي نو يا بلاعوضه مرسته ورسره وکړه او يا له ګټې پرته حسنه پور ورکړه. خو دا چي آيا داسي معامله جائزه ده که نه؛ بايد ووايو چي ځينو فقهاءو په دې شرط جائز ګڼلې چي په ګټې کي دواړه لوري په يوه عادلانه تناسب شريك وي او د تاوان په صورت کي د مال خاوند د تاوان پېټی قبول کړي.

دې ته مو بايد پام وي چي دا معامله اوس له مخکيني انفرادي حالت وتلې او پراخه نړۍ واله بڼه ئې غوره کړې، ستر ستر بانکونه رامنځته شوي، له يوه د سود په بدل کي پيسې تر لاسه کوي، بل ته ئې د سود په بدل کي ورکوي، هغه پرې يا تجارت کوي، يا کورونه جوړوي او په کرايه ئې ورکوي، يا د حمل و نقل وسائل (لکه کښتۍ، جهازونه او موټري) پېري او ګټه تر لاسه کوي؛ او دې ته ورته کوم بل کار پرې روانوي، څه موده وړاندي دې ته د يوه ګټور اقتصادي تعامل په سترګه کتل کېدل، په اسلامي نړۍ کي هم ځينو هڅه وکړه چي دې ته اسلامي رنګ ورکړي، خو په دې وروستيو کي د دې معاملې بدي پايلي راڅرګندي شوې، د امريکا او اروپا ستر ستر بانکونه له افلاس سره مخامخ شول، ستر ستر اقتصادي بحرانونه ئې وزېږول، دولتونه مجبور شول د دې خطرناکو بحرانونو د حل لپاره دغو بانکونو ته په ملياردونو ډالر پور ورکړي، خو سره له دې ونه توانېدل چي دا ستونزه حل کړي، يوه بېلګه ئې په افغانستان کي رامنځته شوه، د صليبي ځواکونو له تسلط وروسته ګڼ شمېر بانکونه جوړ شول، ټول ئې د هغو کړيو له لوري چي دغو ځواکونو واك ته رسولې ول، دغو بانکونو په غولوونکو اعلاناتو سره له خلکو پيسې تر لاسه کړې، د اقتدار خاوندانو له دغو بانکونو د پور په نامه په لوی مقدار کي پيسې واخيستې، بهر ته ئې انتقال کړې او په دوبۍ او نورو هېوادو کي ئې کورونه او هوټلونه جوړ کړل، په پای کي بانکونو ته نه ګټه مسترد شوه او نه د قرضې اصلي مبلغ، دا ځکه چي دا مبالغ هم له خلکو په دوکه تر لاسه شوې وو او هم له بانکونو، د کابل بانك نژدې يو مليارد ډالر د څو خائنانو له لوري اختلاس شول، هغه هم د

لوړ پوړو چارواکو او د دوی د خپلوانو له لوري!! آیا عجیبه نه ده چې څوك داسې معاملې ته د مضاربت نوم ورکړي او هغه جائز وګڼي؟!! له هغو مفتیانو چې دا معامله جائز ګڼي پوښتنه کوم: د مال د خاوند او هغه چا تر منځ چې په دې مال کوم تولیدي کار تر سره کوي او څه ګټه تر لاسه کوي څومره کسان له کوم ګټور او تولیدي کار او زیار پرته مستفید کېږي؟ د بانك له شریکانو نېولې تر مأمورینو پوري او د هغو شرکتونو له مالکانو نېولې چې له دغو بانکونو د سود په بدل کې پیسې تر لاسه کوي د دوی تر اداري پرسونل پوري؟!! څنګه داسې معامله جائز ګڼئ چې له سر تر پایه په دوکې، سود، له زیار ګاللو او تاوان منلو پرته ګټې باندې ولاړه ده؟!! ولې هغې معاملې ته اسلامي رنګ ورکوئ چې د غرب له ظالمانه پانګوال نظام زېږېدلې او هغوی ته ئې بدې پایلې تحویل کړې؟!! نړۍ وال بانکې نظام په بشپړه توګه پر سودي تعامل ولاړ دئ، دا د غربي پانګوال نظام یوه ځانګړتیا ده، غربیانو دا نظام پر نړۍ والو تپلی، ولې دا هڅه کوئ چې له کفري نظام زېږېدلې بانکي سیستم ته شرعي او اسلامي رنګ ورکړئ؟ څه دې ته اړ کړي یئ چې له دې کفري نظام راولاړو شوو ستونزو ته داسې نسخه وړاندې کړئ چې نه یوازې د حل لار او ذریعه نه ده بلکې د اسلام په اړه شکوك او شبهات راولاړوي؟ ولې نه وایئ چې دا ستونزې غیر اسلامي تګلارو زېږولې علاج ئې دا دئ چې دا نظام په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، هم ئې فکري بنسټونه نسکور شي او هم ئې کړنلارې او تګلارې؟!! اسلام داسې نظام دئ چې ټولې برخې ئې سره تړلې دي، یوه برخه ئې له نورو بېل هیڅکله هغه نتیجه نه ورکوي چې د نورو په څنګ کې او له نورو سره یو ځای ئې ورکوي، داسې نشي کېدی چې د یوې ټولنې فکري، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي مناسبات به په بشپړه توګه پر غیراسلامي بنسټونو ولاړ وي او د اسلامي اقتصاد د یوې برخې په پلې کولو سره به د هغې ټولنې ستونزې حل کېږي!! د پانګوال غربي نظام له بانکي سیستم د راولاړو شوو ستونزو د حل لپاره د مضاربت نسخه ورکول د هغه ډاکټر نسخې ته ورته ده چې یوه بیمار ته د سرخوږې دوا ورکوي خو په دې نه پوهېږي چې دا سرخوږی ئې له څه راولاړ شوی او عامل ئې څه دئ؟!! یقیناً چې د داسې ډاکټر نسخه به د ګټې پر ځای بیمار ته لا زیات تاوان رسوي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾

الله هغه ذات دئ چې تاسې ئې پیدا کړئ، بیا ئې تاسو ته روزي درکړه، بیا تاسې مړه کوي، بیا مو بېرته راژوندي کوي، آیا ستاسې له شریکانو داسې څوك شته چې له دې کارونو کوم یو وکړی شي؟! پاکې ده الله لره او هغه لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې

ورسره شريك گرځوي.

(٤٠)- په دې مبارك آيت کې هغه څلور امور په گوته شوي چې الله تعالی ته مختص دي او په هغوی کې هيڅوك له ده سره شريك نه دئ: ١- د انسان پيدايښت، ٢- د هغه د رزق او روزي انتظام، ٣- د هغه د مرگ پرېکړه او ٤- د هغه بياراژوندی کول. د آيت په پای کې ويل شوي چې الله تعالی له دې عيب پاك او له دې نقص ډېر لوړ دئ چې په دغو چارو کې څوك د ځان شريك کړي، يعني څوك چې په دغو امورو کې کوم يو له الله تعالی پرته بل چا ته منسوب کړي هغه په حقيقت کې الله تعالی ته يو عيب او نقص منسوب کړی؛ حال دا چې الله تعالی له داسې عيب او نقص منزه او لوړ دئ.

ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾

د هغه څه له کبله چې د خلکو لاسونو حاصل کړي په وچه او سمندر کې فساد راڅرگند شو، د دې لپاره چې دوی ته د ځينو هغو عملونو خوند وروڅکو چې دوی کړي په دې هيله چې راوگرځي. ووايه: په ځمکې کې وگرځئ او وگورئ چې د هغو پايله څنگه وه چې تر دې وړاندې ول، د دوی ډېری مشرکان ول.

(٤١-٤٢)- دا مبارك آيتونه د شرك بدې پايلې په دې توگه انځوروي:

- هر لورې ته فساد او تباهي خپل تور وزر غوړولی، په وچه او سمندر کې فساد راڅرگند شوی، وجه ئې د خلکو هغه عملونه دي چې له شرك څرووېږي.
- الله تعالی دوی له دغو بدو پايلو سره د دې لپاره مخامخ کړي چې دوی ته د ځينو هغو عملونو خوند وروڅکي چې دوی کړي، د دې سزا موخه دا ده چې دوی په خپلو تگلارو کې بياکتنه وکړي او سمې لارې ته راوگرځي.
- دوی ته ووايه: په ځمکې کې وگرځئ او وگورئ چې د هغو پايله څنگه وه چې تر دې وړاندې ول، د دوی ډېری ستاسو په څېر مشرکان ول، ستاسو د شرك او بدو کړنو پايله به هم د هغوی په څېر وي.

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ

يَمۡهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾

نو خپل مخ دې د سم دين لوري ته برابر کړه؛ تر دې وړاندې چې هغه ورځ راشي چې د الله له لوري ئې بېرته ستنول نشته، په دې ورځ به بېل بېل شي. چا چې کفر کړی نو پر ده به د خپل کفر بده پايله (مسلط) وي؛ او چا چې کوم نېك عمل وکړ نو د خپلو ځانونو لپاره د آرامښت تيارى کوي. د دې لپاره چې هغو ته له خپل فضل بدله ورکړي چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي؛ يقيناً چې هغه کافران نه خوښوي.

(٤٣-٤٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د مخکينيو بحثونو غوښتنه دا ده چې ته خپل مخ د سم الهي دين لوري ته برابر کړې، په بشپړه توگه هغه ته مخه کړې او ورته تسليم شې، تر دې وړاندې چې هغه ټاکلې او حتماً راتلونکې ورځ راشي چې د الله تعالى له لوري ئې بېرته ستنېدا نشته.
- په دې ورځ به خلك بېل بېل او په دوو ډلو به ووېشل شي، چا چې کفر کړى نو هغه به د خپل کفر بده پايله گوري؛ او چا چې کوم نېك عمل کړى نو د خپلو ځانونو لپاره ئې د آرامښت تيارى کړى.
- الله تعالى دا د قيامت ورځ د دې لپاره ټاکلې چې هغو مؤمنانو ته د خپل فضل او پېرزويني مناسبه بدله ورکړي چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي. او هغو ته مناسبه سزا ورکړي چې د کفر لار ئې غوره کړې، يقيناً چې الله تعالى کافران نه خوښوي.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرۡسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٖ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَلِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٤٦﴾

او د آيتونو ئې يوه (ځرگنده نښه) دا ده چې بادونه د زېري ورکوونکو په توگه لېږي او د دې لپاره چې خپل رحمت دروڅکي او چې کښتۍ د ده په حکم رواني شي او چې د ده فضل ولټوئ او ښايي شکر وکړئ.

(٤٦)- په دې مبارك آيت کې د بادونو لېږنه د الله تعالى د قدرت او د انسان په اړه د هغه د فضل او پېرزويني د يوې ځرگندې نښې په توگه ښودل شوې؛ او ويل شوي: الله تعالى هغه ذات دئ چې بادونه د زېري ورکوونکو په توگه لېږي، هغو وگړو ته زېرى ورکوي چې باران ته اړ او سترگې په لار دي، همدا بادونه له يوې خوا د باران ورېدو باعث شي او په دې سره الله تعالى خپلو بندگانو ته د خپل رحمت خوند وروڅکي او له بلې خوا د بادي کښتيو په خوځېدو کې مرسته کوي، چې دا کښتۍ د تجارتي اموالو د انتقال مهمه وسيله وه او له همدې

لاري به خلکو د رزق او روزي پراخ امکانات تر لاسه کول، د دې الهي پېرزوينو تقاضا دا ده چي انسان د خپل رب او منعم د احساناتو مننه او شکر په ځای کړي. عجيبه ده چي مشرکين دا ټول حقائق له پامه غورځوي او د کفر، ناسپاسي او شرك لار غوره کوي!!

دلته د بادونو د لېږلو او په هغه کې چي انسان ته کومي ګټي مضمر دي د دې لړاره يادونه شوې چي د وروستي مضمون لپاره يوه ښکلې او عقل پاروونکې مقدمه وي، په ورپسې آيت کې د پيغمبرانو لېږلو ته اشاره شوې، د دوی بعثت کټ مټ داسي دئ لکه چي الله تعالی زېری ورکوونکي بادونه لېږي چي د هغه باران ورېدو باعث شي چي الله تعالی د خپل رحمت نوم ورکړی، د پيغمبرانو بعثت همداسي د الله تعالی لويه پېرزوينه او رحمت دئ.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او يقيناً چي تر تا وړاندي مو داسي پيغمبران خپلو خپلو قومونو ته لېږلي چي څرګندي نښې ئې ورووړې، نو له هغو مو انتقام واخيست چي جرمونه ئې کړي ول او د مؤمنانو مرسته زموږ پر ذمه ده.

(٤٧)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته او د ده له لاري د قرآن هر مخاطب ته ويل شوي: تر تا وړاندي مو داسي پيغمبران خپلو خپلو قومونو ته لېږلي چي څرګندي نښې ئې ورووړې، ځينو ايمان پرې راووړی او ځينو مخالفت ته ملا تړلې، هغو مخالفت کړی چي مجرمان ول، نو الله تعالی له هغو انتقام اخيستی چي جرمونه ئې کړي ول او د مؤمنانو مرسته ئې کړې، دا ځکه چي الله تعالی له مؤمنانو سره مرسته په خپله ذمه اخيستې ده.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَـٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ
وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَـٰلِهِۦ ۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ
مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن
قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَـٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ
إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾

الله همغه ذات دئ چي دغه سيلۍ رالېږي چي وربځي خوځوي، بيا ئې څنګه چي

غواړي په آسمان کې ئې خورې ورې او ټوټې ټوټې کړي، بيا ګورې چې له منځه ئې څاڅکي راوځي او چې کله ئې خپلو هغو بندګانو ته ورسوي چې دی ئې غواړي؛ ناڅاپه (پرې) خوشحالېږي، په داسي حال کې چې تر دې وړاندې چې پرې ووربېږي ناهيلي ول. نو د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه زمکه له مړيني ئې وروسته راژوندۍ کوي، يقيناً چې همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دئ؛ او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

(٤٨-٥٠)- د اوبو له بخاراتو د ورېځو جوړېدا، په سيليو سره د هغوی خوځېدا، په بېلو بېلو ټوټو د هغوی وېش، هر لوري ته د ضرورت وړ برخي لېږد، په اړو سيمو کې په دې ورېځو کې داسي تغييرات راوستل چې په ځينو سيمو کې واوره وروي او په ځينو کې باران، هر څه له يوې دقيقي منصوبې سره سم او د اړتيا او ضرورت مطابق، دا دئ وګورئ چې زمکه په سپېره ډاګ بدله شوې وي، بوټي ئې په مرګ محکوم شوي وي، داسي چې څوك په هغې کې د ژوند آثار نه ګوري، خو الله جل شأنه په همدې زمکې باران ووروي او دا مړه زمکه را ژوندۍ کړي. دا د الله د رحمت د آثارو يو مظهر دئ، په مرګ محکومه شوې زمکه چې انسان د هغې دانې او مېوې ته اړ او محتاج دئ، له دې پرته د هغه ژوند امکان نه لري، د دې لپاره چې انسان او حيوان ژوندي پاته شي، بايد له زمکې دانه، مېوه او واښه راوټوکېږي، د زمکې د سر ژوي دې ته اړ او محتاج دي، له دې پرته ئې د زمکې پر سر ژوند امکان نه لري، ګورئ چې الله تعالی د خپل وسيع او پراخ رحمت وزر پر دوی وغوړوي، دا مړه زمکه راژوندۍ کړي او د ژوو لپاره د ژوند د اړتياوو او د رزق او روزي انتظام وکړي. آيا دا صحنه په جګ غږ موږ ته دا حقيقت نه څرګندوي چې دا عالم، زمکه او آسمان يو عليم رب او حکيم مدبر لري؟ آيا دا نه ثابتوي چې همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دئ او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ؟!!

پداسي حال کې چې هره شېبه له مړې خاوري د ژوو د پيدا کېدو بېلګي ګورې، په يوه باران سره د مړې زمکې له تل رنګ رنګ ژوي سر رااوچت کړي، تا ته ولې له خاورو د انسان د بيا راپيدا کولو کار ګران برېښی؟!

تا نه يوازې د بيا ژوندي کولو بېلګو ته پام ندئ کړی بلکې د پيدا کوونکي خدای د قدرت نښو ته دې هم توجه نده کړې. آيا د زمکې آسمانونو او دغه ستر او بې انتهاء عالم او پراخ کائنات او د هغه په غېږ کې د بې شمېره مخلوقاتو پيدا کوونکی، پالونکی، ساتونکی او روزونکی رب له دې عاجز ګڼې چې انسان بيا راپيدا کړي؟!! مګر پدې خور عالم کې د الله د قدرت بې شمېره نښې ستا لپاره کفايت نکوي چې همدا قدير خدای د انسان په پيداکولو قادر وګڼې؟!!

وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾

او که داسې سیلۍ ولېږو چې په نتیجه کې ئې (خپل فصل) ژېړ ومومي نو حتماً به تر هغه وروسته داسې شي چې کفر کوي.

(۵۱)- خو که همدا کم ظرف انسان له داسې سړې سیلۍ سره مخامخ شي چې فصلونه وروچ او ژېړ کړي او وګوري چې فصل ئې تباه شوی او زیار ئې ضائع شوی؛ بیا به هم ګورئ چې د صبر پر ځای د کفر او انکار لار نیسي، نه د پېرزوینو، رحمت او نعمت په وړاندې شکر کوي او نه د محرومیتونو او نقمتونو په وړاندې د صبر لمن کلکه نیسي، په دواړو حالتونو کې به ئې داسې ومومې چې کفر کوي.

فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوْاْ مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلْعُمْيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمْۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾

نو ته دغو مړو ته اورول نشې کولی؛ او دغو کڼو ته هم هغه مهال بلنه نشې اورولی چې په داسې حال کې مخ واړوي چې تر شا کېدونکي وي. او ته د دغو ړندو داسې لارښود نه یې چې (حتماً به ئې) له لار ورکېدا (ژغورې)، ته یوازې هغه ته اورول کولی شې چې زموږ په آیتونو په داسې حال کې ایمان راوړي چې مسلمان (غاړه ایښودونکي) وي.

(۵۲-۵۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه باید څو اساسي خبرې په پام کې ولرو:

- دلته مخکینیو ایمان نه راوړونکو کافرانو او مشرکینو ته د مړو، ګونګیانو او ړندو نوم ورکړی شوی، له دوی سره همدا نوم ښایي، ځکه د دوی ضمیر او وجدان مړ شوی، د دوی بصیرت ختم شوی او د زړه سترګې ئې ړندې شوې، دوی د حق وینا اورېدو استعداد له لاسه ورکړی، دا ظرفیت ئې ځپل شوی چې په ژبې ئې حق خبره راشي، نو ته اې پیغمبره! نه دغو مړو ته حق خبره اورولی شې او نه دغو کڼو ته، په ځانګړې توګه هغه مهال چې مخ واړوي او تر شا شي؛ او ته د دغو ړندو داسې لارښود هم نه یې چې حتماً به ئې له لار ورکېدا ژغورې، ته یوازې هغو ته اورول کولی شې چې زموږ په آیتونو په داسې حال کې ایمان راوړي چې مسلمان او غاړه ایښودونکي وي.
- خو دا آیت په قاطع او پرېکنده الفاظو دا حقیقت هم زموږ مخې ته ږدي چې نه پیغمبر علیه السلام او نه بل انسان کولی شي مړو ته کومه خبره واوروي، مړي نه یوازې خبره نه اوري بلکې انسان نشي کولی په هیڅ توګه هغوی ته خبره واوروي. ډېره عجیبه ده چې ځیني خلك نه یوازې د قرآن دا پرېکنده وینا له پامه غورځوي بلکې ادعاء کوي چې مړي خبرې اوري، دلیل ئې هم دا دئ چې ځیني روایات ئې داسې موندلي چې وایي مړي خبرې اوري!! د حیرانتیا وړ ده چې پر قرآن د ایمان مدعي د قرآن تر یوه صریح آیت یوه غریب او کمزوري روایت ته ترجیح ورکوي او د قرآن خلاف خبره کوي یا ئې مني!! دې ته هم پام نه کوي چې

دغه غلط باور څومره بدې پایلې لري، څومره په شرك اخته وګړي ئې تر سترګو کېږي چې د قبرونو خوا ته ولاړ وي، د قبر له خاوندانو مرسته غواړي او دا ګمان کوي چې هغوی ئې دعاء اوري او د الله تعالی او دعاء کوونکي تر منځ وسیله کېږي!! دې ته هم پام نه کوي چې ولې قرآن په مکرره توګه وايي چې مړو ته خبره نشې اورولی!! قرآن په دې وینا سره غوښتي چې د شرك دغه جرړه پرې کړي، د هغو ټګمارانو مخه ډپ کړي چې له قبرونو ئې ځان ته دکانونه جوړ کړي او د قبر په اړه دغه باور ئې جیبونه ورډکوي، هغه چې جهل وهلي وګړي قبرونو ته بيايي او له هغوی مرستي غوښتو ته ئې هڅوي او په عوض کې ئې شکرانې تر لاسه کوي!! د دې غلط باور ستر او نشیط مبلغین د قبرونو مجاورین دي، دوی ته له دې غلط باور انکار ستر او بواح کفر برېښي!! باید متوجه وو چې روایت ته پر آیت ترجیح ورکول یوه بیماري ده، پام کوئ چې په دې بیماري اخته نشئ، هغه روایت قطعاً د اعتبار وړ مه ګڼئ چې د قرآن له صریح آیت سره تعارض ولري.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ﴿٥٤﴾

الله هغه ذات دئ چې تاسو ئې له کمزوري (حالت) پیدا کړئ، بیا ئې له کمزورۍ وروسته قوت جوړ (درپه برخه) کړ، بیا ئې له قوت وروسته کمزوري او زوړوالی (مقدر) کړ، څه چې غواړي پیدا کوي ئې؛ او هغه توانمن پوه دئ.

(٥٤)- هغه ذات چې انسان په داسې حالت کې پیدا کوي چې کمزوری او ضعیف وي، بیا له دې کمزورۍ وروسته قوت ورپه برخه کړي، وده ورکړي او د خپل ټاکلي قوت وروستي پړاو ته ئې ورسوي، له دې ځای ئې کوزېدا پیل شي، بېرته د کمزورۍ او زوړوالي پړاو ته ورسېږي، انسان دا ټاکلی مسیر هرو مرو او له څه تغییر او بدلون پرته او د خپلې خوښي او مرضي خلاف پلی کوي، د چا ارادې او پرېکړې ته چې انسان منقاد دئ او د داسې مسیر پلي کولو ته اړ دئ چې هغه ورته ټاکلی، دا همغه د عالمونو رب ذات دئ چې څه غواړي پیدا کوي ئې او هغه توانمن پوه دئ.

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقۡسِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖۚ كَذَٰلِكَ كَانُواْ يُؤۡفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَٱلۡإِيمَٰنَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡبَعۡثِۖ فَهَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡبَعۡثِ وَلَٰكِنَّكُمۡ كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴿٥٧﴾

او هغه ورځ چې هغه ساعت تر سره شي؛ مجرمین به قسمونه خوري چې له یوې ګنټې پرته نه دي تم شوي، همداسې دروغ ته هڅول کېدل؛ او هغه چې علم ورکړی شوی وایي به: یقیناً چې د الله د کتاب له مخې د پاڅون تر ورځې تم شوي یئ، نو همدا د پاڅون ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. نو په دې ورځ به هغو ته چې ظلم ئې کړی نه به ئې خپل معذرت ګټه وررسولی شي او نه به ترې وغوښتل شي چې معافي وغواړي.

(۵۵-۵۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت په ورځ د قیامت د منکرینو حالت داسې انځور شوی: هغه ورځ چې د قیامت ټاکلې نېټه راورسېږي نو دغه مجرمین به قسمونه خوري چې په دنیا کې تر یوې ګنټې زیات نه دي تم شوي!! دوی به په دنیا کې د خپلې تم کېدا د مودې په اړه داسې دروغ وایي لکه چې د قیامت په اړه ئې په دنیا کې دروغ ویل، دغو دروغو ته یا شیطان هڅولي ول، یا خپل نفس او یا خپلو لار ورکو مفسد مشرانو، خو د دوی په مقابل کې به د ایمان خاوندان چې د قیامت او بیاژوندون په اړه ئې باور او علم درلود وایي: یقیناً چې د الله د کتاب له مخې د پاڅون تر ورځې تم شوي یئ، نو همدا د پاڅون ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. نو په دې ورځ به هغو ته چې په آخرت د عدم ایمان له کبله ئې د جرمونو او ظلمونو لار غوره کړې وه؛ نه به ئې خپل معذرت ګټه وررسولی شي او نه به ترې وغوښتل شي معافي وغواړي.

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٩﴾

او یقیناً چې خلکو ته مو په دې قرآن کې هر ډول مثالونه بیان کړل؛ او که کومه څرګنده نښه ورته راوړې؛ هغه چې کفر ئې کړی حتماً به وایي: تاسو فقط باطلې خبرې کوئ، الله همداسې د هغو په زړونو مهر لګوي چې نه پوهېږي.

(۵۸-۵۹)- دا مبارك آیتونه موږ ته لارښوونه کوي چې قرآن کامل، جامع او په ټولو ضروري لارښوونو شامل دئ، هر هغه څه په کې راغلي چې انسان ورته اړ دئ، هر هغه مثال او دلیل د خپل مخاطب په وړاندې ړدي چې د انسان د لارښوونې او په حقائقو د پوهاوي لپاره ضروري دئ، څوك چې د قرآن په دلائلو او مثالونو قانع نشي نو یقیناً چې په بل هیڅ دلیل به قانع نشي، که د حق دغو منکرینو ته بله هره څرګنده نښه وړاندې شي نو ځواب به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې وایي: تاسو فقط باطلې خبرې کوئ، لار او وینا مو باطله ده. دا هغه خلك دي چې د خپلو افکارو او اعمالو له کبله الله تعالی د هغوی پر زړونو مهر

لګولی او د حق منلو ټول استعدادونه په کې ځپل شوي.

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

نو صبر کوه، یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده او هغه خلك دې تا سپك ونه مومي چې باور نه کوي.

(٦٠)- دا مبارك آیت چې د دې سورې وروستی آیت دئ؛ د سورې د ټولو مضامینو لپاره یوه شکلې تتمه او خلاصه هم ده، په دې آیت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (فَٱصۡبِرۡ: صبر کوه) ده، تاسو ولیدل چې د سورې په لومړۍ برخې کې په همدې اړه مؤمنانو ته لارښوونې شوې، د آیت دوهمه فقره دا ده (إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ: یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده)؛ او تاسو ولیدل چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوی کوي چې په دنیا او آخرت کې د الله تعالی د وعدو پر رښتینوالي تأکید کوي؛ او درېیمه فقره ئې (وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ): او هغه خلك دې تا سپك ونه مومي چې باور نه کوي) ده او دا د دې سورې د هغو آیتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ کې ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده له لارې مؤمنانو ته ویل شوي چې پر خپل دریځ ثابت پاته شي، د دښمنانو تبلیغات او مخالفتونه ئې متزلزل نه کړي او د دوی عدم ایمان د دې باعث نشي چې تاسو د خپلې لارې د حقانیت په اړه شکمن شئ او د الله تعالی د وعدو د تحقق په اړه مو ډاډ او اطمئنان کمزوری شي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## لقمان

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (لقمان) دئ، دا نوم د همدې سورې له دولسم آیت اخیستل شوی، څلور دېرش آیتونه لري، د اکثرو آیتونو فواصل ئې د لومړیو آیتونو (الحکیم) او (المحسنین) ته او د لړو ئې د څلورم (یوقنون) ته ورته دي، څو آیتونه ئې د (الامور، فخور؛ او الصدور) په څېر صیغو پای ته رسېدلې چې وزن ئې (یوقنون) ته نژدې دئ، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. د سورې مضامینو ته په پام سره معلومېږي چې دا سوره د عنکبوت له سورې وروسته نازله شوې.

لکه څنګه چې دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسي توګه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کې راغلي، یو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې په آخري آیت کې، د دې سورې آخري آیت دا دئ:

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ٣٤

په دې آیت کې درې فقرې راغلي او همدا درې فقرې د سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانو په څېر دي، لومړۍ فقره ئې (إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ يقيناً چې د قیامت د ګړۍ علم له الله سره دئ، باران وروي او پوهېږي چې په رحمونو کې څه وي)، تاسو به وګورئ چې د سورې په لومړۍ برخي کې په همدې اړه مؤمنانو ته لارښووني شوې، په لومړنیو آیتونو کې ویل شوي چې دا قرآن د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې په آخرت باور لري، د پنځم آیت په پای کې د مخکینیو آیتونو د تتمې په توګه ویل شوي چې په آخرت ایمان لرونکي بریالي دي، ورپسې هغه وګړي معرفي شوي او د دوی بده پایله زموږ په وړاندي انځور شوې چې د قرآن په ځای او د هغه په خلاف بېهوده خبري پېري، په دې موخه چې خلك د الله له لاري منحرف کړي، د دوی په اړه ویل شوي چې په رسوا کوونکي عذاب به اخته کېږي، خو د صالح مؤمنانو په اړه ویل شوي چې تلپاتې او له نعمتونو ډك جنت ته به درومي، ورپسې د آسمانونو او زمکې، غرونو، ډول ډول ژوو پیدایښت، له آسمانه د باران ورېدا، په دې باران سره له زمکي د ډول ډول بوټو راټوکېدا، د داسي مشهود او ملموس آیتونو په توګه زموږ مخي ته ږدي چې په جګ ږغ او څرګنده توګه د الله تعالی په شته والي او عظمت ګواهي ورکوي، بیا ډېر زوی ته د لقمان د مواعظو په ترڅ کې قریشو ته لارښوونه کوي چې د قرآن دغه ویناوي کټ مټ هغسي دي لکه چې ده خپل زوی ته کړې وې، عجیبه ده چې تاسو لقمان ته د همدغو ویناوو له کبله د یوه حکیم او پوه انسان په سترګه ګورئ او د هغه درناوی کوئ خو د همدغو ویناوو له کبله د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفت کوئ!! د آیت دوهمه فقره دا ده (وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ: او هیڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه تر لاسه کوي او هیڅ څوك نه پوهېږي چې په کومي زمکي کې به مري)، تاسو به وګورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښووني احتوی کوي چې خپل مخاطب ته وایي: د هغه الله تعالی په لارښوونو عمل وکړه چې علیم او خبیر دئ، هیڅ څه ترې پټ نه دي، ستاسو علم محدود دئ، هم د عالم په اړه او هم د خپل ځان په اړه، حتی دومره چې نه پوهېږئ سبا به څه کوئ او کله او چېري به مرئ، آیا دغه انسان ته چې له بې شمېره غیبي امورو بې خبره دئ دا اړینه او ضروري نه ده چې د هغه رب د لارښوونو په رڼا کې ژوند وکړي چې علیم او خبیر دئ؟!! او د آیت درېمه فقره

دا ده: (إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ يقيناً چې الله باخبره پوه دئ)؛ او دا د دې سورې د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترڅ کې ئې د الله تعالى پر دغو دواړو صفاتو ترکيز شوى؛ او په دې توگه مؤمنانو او د قرآن هر مخاطب ته ويل شوي چې پر الهي لارښوونو عمل وکړئ، په همدې سره د دنيا او آخرت سعادت تر لاسه کولى شئ.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ ٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥

الف، لام، ميم، دا د باحکمت کتاب آيتونه دي، د نېکانو لپاره لارښود او رحمت، هغو ته چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او دوى همغه دي چې پر آخرت يقين کوي، دوى د خپل رب له لوري لارښووني باندې (سمبال) دي او همدا دوى برياليي دي.

---

(۱-۵)- د دې مبارکو آيتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندې خبرې په پام کې ولرو: لکه څنگه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسې توگه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسې او خلاصه ئې د سورې په آخري آيت کې، د دې سورې آخري آيت دا دئ:

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ٣٤

په دې آيت کې درې فقرې راغلې او همدا درې فقرې د سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانو په څېر دي، دا درې فقرې د دغې سورې د مضامينو لپاره درې اساسي محورونه دي، ټوله سوره په همدې موضوعاتو راڅرخي. لومړۍ فقره ئې دا ده (إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ : يقيناً د قيامت د گړۍ علم له الله سره دئ، باران وروي او پوهېږي چې په رحمونو کې څه وي)، په لومړنيو آيتونو کې ويل شوي چې دا قرآن د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې په آخرت باور لري، د پنځم آيت په پاى کې د مخکينيو آيتونو د تتمې په توگه ويل شوي چې په آخرت ايمان لرونکي برياليي دي، ورپسې هغه وگړي معرفي شوي او د دوى بده پايله زموږ په وړاندې انځور شوې چې د قرآن په ځاى

او د هغه په خلاف بېهوده خبرې پېرې، په دې موخه چې خلك د الله له لارې منحرف كړي، د دوى په اړه ويل شوي چې په رسوا كوونكي عذاب به اخته كېږي، خو د صالح مؤمنانو په اړه ويل شوي چې تلپاتي او له نعمتونو ډك جنت ته به درومي، ورپسې د آسمانونو او زمكې، غرونو، ډول ډول ژوو پيدايښت، له آسمانه د باران ورېدا، په دې باران سره له زمكې د ډول ډول بوټو راټوكېدا، د داسې مشهود او ملموس آيتونو په توگه زموږ مخې ته ږدي چې په جگ ږغ او څرگنده توگه د الله تعالى په شته والي او عظمت گواهي وركوي، بيا خپل زوى ته د لقمان د مواعظو په ترځ كې قريشو ته لارښوونه كوي چې د قرآن دغه ويناوي كټ مټ هغسې دي لكه چې ده خپل زوى ته كړې وې، عجيبه ده چې تاسو لقمان ته د همدغو ويناوو له كبله د يوه حكيم او پوه انسان په سترگه گورئ او د هغه درناوى كوئ خو د همدغو ويناوو له كبله د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخالفت كوئ!! د آيت دوهمه فقره دا ده (وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ : او هيڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه تر لاسه كوي او هيڅ څوك نه پوهېږي چې په كومې زمكې كې به مري)، تاسو به وگورئ چې د سورې دوهمه برخه هغه لارښوونې احتوى كوي چې خپل مخاطب ته وايي: د هغه الله تعالى په لارښوونو عمل وكړه چې عليم او خبير دئ، هيڅ څه ترې پټ نه دي، ستاسو علم محدود دئ، هم د عالم په اړه او هم د خپل ځان په اړه، حتى دومره چې نه پوهېږئ سبا به څه كوئ او كله او چېرې به مرئ، آيا دغه انسان ته چې له بې شمېره غيبي امورو بې خبره دئ دا اړينه او ضروري نه ده چې د هغه رب د لارښوونو په رڼا كې ژوند وكړي چې عليم او خبير دئ؟!! او د آيت درېيمه فقره دا ده: (إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ: يقيناً چې الله باخبره پوه دئ)؛ او دا د دې سورې د هغو آيتونو لپاره عنوان دئ چې په ترځ كې ئې د الله تعالى پر دغو دواړو صفاتو تركيز شوى؛ او په دې توگه مؤمنانو او د قرآن هر مخاطب ته ويل شوي چې پر الهي لارښوونو عمل وكړئ، په همدې سره د دنيا او آخرت سعادت تر لاسه كولى شئ.

دلته ويل شوي چې دا د باحكمت كتاب آيتونه دي، يعني د دې آيتونو هره وينا حكيمانه ده، لارښوونې، احكام او قضاوتونه ئې پر حكمت ولاړ دي، هغه څه په كې ويل شوي چې د انسان خير او مصلحت په كې مضمر او د هغه د سعادت ضامن دي، دا د الله تعالى له لورې يوه ستره پېرزوينه ده، څوك چې دا كتاب ځان ته لارښود كړي د الله تعالى د رحمت وزر به پرې وغوړېږي.

خو له دې حكيمانه لارښوونو هغه څوك مستفيد كېدى شي چې څو ځانگړتياوې ولري: محسن او نېك وي؛ او په داسې حال كې لمونځ قائموي او زكات وركوي چې پر آخرت يقين لري، د دوى لپاره به دا كتاب لارښود او د الله تعالى د پېرزوينې او رحمت باعث وي.

څوك چې دغه ځانگړتياوې لري همدا دوى د خپل رب په لارښوونو سمبال دي او همدا

دوی بریالي دي، یعنې په چا کې چې دا ځانګړتیاوې ونه مومئ هیڅکله ګمان مه کوئ چې له الهي لارښوونو برخمن، د الله تعالی د پېرزوینو وړ او بریالي دي. همدا د یوه ملاك او محك په توګه په پام کې ولرئ، یوازې هغه څوك هدایت شوی، بریالی او د رحمن رب د رحمت تر وزر لاندې وګڼئ چې محسن وي، لمونځ کوي، زکات ورکوي او پر آخرت یقین لري.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ۝٦ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٧

او ځینې خلك (داسې دي چې) چټې خبرې پېرې د دې لپاره چې (خلك) په ناپوهۍ سره د الله له لارې بې لارې کړي او ملنډې پرې وهي، دوی همغه دي چې رسوا کوونکی عذاب ئې (په برخه) دئ؛ او کله چې زموږ آیتونه پرې ولوستل شي د لویې په لته کې داسې شا اړوي لکه چې هغه ئې نه وي اورېدلي، لکه چې په غوږونو کې ئې درونوالی وي. نو د دردوونکي عذاب زېری ورکړه.

(٦-٧)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- ځینې خلك داسې دي چې د خلکو د بې لارې کولو په موخه چټې خبرې پېرې او خلك پرې بې لارې کوي، دا چټې خبرې یا سندرې دي او د پېرلو معنی ئې دا ده چې دوی سندرغاړي استخداموي، مصارف پرې کوي، مقصد ئې دا وي چې خلك په سندرو مصروف وساتي، مهمو ورځنیو قضایاوو ته د اهتمام مخه ئې ونیسي، دیني مفاهیمو ته د اعتناء او د دین په لوري د تلو مخنیوی ئې وکړي؛ او یا ئې مراد د داسې شعراوو، مبلغینو او لیکوالو استخدام دئ چې په بېهوده او چټې خبرو، مبتذلو اشعارو، مشغولوونکو قصو او ناولونو خلك مصروفوي. د قریشو ځینو مشرانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت د مخنیوي او د دې لپاره چې د اسلام په لوري د خلکو د پراخې رجوع مخه ونیسي؛ له نورو سیمو ئې داسې سندرغاړې مکې ته راوستلې او د هغوی لپاره ئې محفلونه جوړول چې په خپلو ګنده عشقي سندرو عام ولس مخصوصاً ځوانان مصروف وساتي او د اخلاقي فساد په ګنده ډنډ کې ئې لاهو کړي او هغه پاك او سپېڅلي احساسات او جذبات ئې ساړه کړي چې په ټولنې کې د مثبتې او عادلانه تبدیلې په اړه ئې هر صالح ځوان په خپل زړه کې لري؛ او په دې توګه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دوی د ملګرتیا او پر ټولنې د مسلط ظالمانه نظام په ضد د پاڅون مخه ونیسي، نن هم که تاسو پر اسلامي نړۍ د غربي استعمار د کلتوري یرغل پراخو ابعادو ته ځیر شئ وبه ګورئ چې په سلګونو راډیوګانې او ټلویزیونې چینلونه ئې په کار اچولي، مجلې او ورځپاڼې خپروي، په ټولو مهمو ژبو شپه او ورځ تبلیغات

کوي او ټول په همغه کار مصروف دي چې په دغه مبارك آيت كې ورته اشاره شوې، د دغو رسنيو مهمه دنده دا ده چې ځوانان د موسيقۍ، نڅا، سندرو، شراب او قمار لوري ته راغب کړي، هغو شعراوو ته غونډې جوړوي چې اخلاقي ارزښتونه تر پښو لاندې کوي، د عفت او اخلاق پولې نسکوروي، عشق او گنده ميني ته خلك بلي، دوی هغه شعرونه خوښوي او هغه شاعران او سندرغاړي ستايي چې د همدې ناولي او شيطاني مقصد په لار کې د دوی مرسته وکړي، هغه چې په شعر او سندرو کې ئې د عزت، خپلواکۍ، همت، عفت، صبر، استقامت، د سپېڅلو اهدافو لپاره قربانۍ، له ذلت، سپکاوي او د پرديو له غلامۍ نفرت په ځای شراب، جام، ساقي، جانان، سرې شونډې، سره اننگي، توري زلفې او ... ستايل کېږي.

- قرآن وايي چې د حق دښمنان د دغو چټي خبرو بازار د دې لپاره تودوي چې خلك په ناپوهۍ سره د الله له لارې بې لارې کړي، يعني نه پوهېږي چې په دې ناولي کار سره هيڅ گټه نشي تر لاسه کولی، ځان او خپلې ټولنې ته تاوان رسوي، په کومې ټولنې کې چې معنوي ارزښتونه وځپل شي، اخلاقي پولې ونړېږي، خلك په چټي او بېهوده خبرو مصروف شي، دا ټولنه له داسې تباه کوونکو بيماريو سره مخامخ کېږي چې علاج ئې ممکن نه وي.
- دوی په حق باندې ملنډې وهي، خو نه پوهېږي دا تگلاره به ئې له رسوا کوونکي عذاب سره مخامخ کړي.
- دا مفسدين چې بېهوده خبرې پېرې او د خورولو په لار کې ئې مصارف کوي، د حق په وړاندې او د څرگندو الهي آيتونه په اړه ئې چلن داسې وي چې کله الهي آيتونه پرې ولوستل شي کبر او غرور ئې تحريك شي، ځان تر دې لوړ گڼي چې څوك ئې د حق لوري ته وبلي، د الهي آيتونو د اورېدو بلنه ورکړي، خپله مزعومه لويي ئې دې ته وهڅوي چې شا واړوي او غبرگون ئې داسې وي لکه چې دا آيتونه ئې نه وي اورېدلي، لکه چې په غوږونو کې ئې دروندوالی وي.
- دوی به له دې سپك چلن د خير طمع لري او گمان به ئې دا وي چې خپلو ناولو موخو ته د رسېدو په لار کې به د دوی مرسته وکړي، خو نه پوهېږي چې هيڅکله به د خپلو هيلو د تر سره کېدو زېری وانه وري، بلکې د دردوونکي عذاب زېری به ورکړی شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ۝٨ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٩

يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، دوی ته له نعمتونو ډك جنتونه دي، تلپاتي په هغه کې، د الله رښتينې وعده؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ.

(٨-٩)- د مخکينۍ ډلې په مقابل کې هغه مؤمنان دي چې چې هم د ايمان خاوندان دي او هم نېك عملونه کوي، الله تعالی به دوی ته له نعمتونو ډك جنتونه او د جنت تلپاتي ژوند

ورپه برخه کړي، دا د هغه الله تعالی رښتينې وعده ده چې باحکمت عزتمن دئ.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ
وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ
كَرِيمٍ ﴿١٠﴾ هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى
ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١١﴾

آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته پيدا کړل چې تاسو ئې ليدی شئ؛ او په زمکې کې ئې داسې لنگرونه واچول چې تاسو ونه لړزوي؛ او په هغې کې ئې ډول ډول خوځېدونکي (ژوي) خواره کړل؛ او له آسمانه مو اوبه نازلې کړې نو په دې سره مو په (زمکې) کې ډول ډول غوره جوړې راوټوکولې، دا د الله پيدايښت دئ؛ نو راوښيئ چې له ده پرته (نورو) څه پيدا کړي؟ بلکې ظالمان په څرگند بې لاريتوب کې دي.

(۱۰-۱۱)- دا مبارك آيتونه څو مهمې لارښوونې لري:

• الله تعالی هغه ذات دئ چې آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته لوړ ودرولي چې ليدل کېدی شي، ستنې شته خو نه ليدل کېږي؛ او دا هغه ستر علمي حقيقت دئ چې د قرآن بل علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، انسان نن په دې حقيقت پوه شوی چې د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسې نامرئي ځواك شته چې كه دا نه وی او يا له اوسني حالت ځواكمن او كمزوری وی نو د عالم دا موجود نظام پايښت نه شو موندلی، يا به يو بل جذبولو او يا به داسې خواره واره كېدل چې ټول نظام به له منځه تلو. كه تاسو يوه ساينسپوه ته ووايئ چې زموږ په هغه مذهبي كتاب كې چې څوارلس پېړۍ وړاندې نازل شوی راغلي چې آسمان په داسې ستنو لوړ ساتل شوی چې نه ليدل كېږي، نو يقيناً هغه به له ځنډ پرته تاسو ته ووايي: پر دې حقيقت انسانان په نولسمې پېړۍ كې پوه شول، تر دې د مخه هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسې ځواك د شته والي تصور ئې هم نه شو كولی.

• په دې مبارك آيت كې ويل شوي چې الله تعالی په زمكې كې داسې لنگرونه واچول چې د زمكې د لړزېدو مخه ونيسي او تاسو ونه لړزوي. د دې مبارك آيت په ژورو مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام كې ولرئ:

دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (القى: واچول) صيغه كارول شوې، ولې د جوړولو او پيدا كولو پر ځای دا صيغه راغلې؟ ولې د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنگرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندې زمكه خوځېده؟ غرونو څنگه د هغې

خوځښت له منځه يوړ؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.

علمي څېړني ښيي چي غرونه د زمکي له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکي په زړه کې وي او لږ ئې بهر راوتلې وي، دا غرونه هغه مهال راوټوکېدل چي د زمکي بهرنی قشر سوړ او د ډبري په څېر کلك شو، خو نازك وو او د زمکي په سينه کې د متراکمي انرژۍ د فشار په وړاندي ئې مقاومت نه شو کولی او په پر له پسې توگه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلي مواد بهر شيندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ کې غرونه د جوړېدو په حال کې دي خو په لږ پيمانه، دا ښيي چي د غرونو لپاره د (القی) صيغه کارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده کوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي. د زمکي پر سر د غرونو د جوړېدو څرنگوالی له دې سره شباهت لري چي څوك هگۍ په جوش اوبو کې کېږدي، د هگۍ زېړ او سپين ورو ورو گرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هگۍ پوستکی وچوي، د هگۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي، غرونه د زمکي پر سر همداسي جوړ شوي.

د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقيقت هم ثابت شوی چي زمکه د پيدايښت په لومړيو مراحلو کې او هغه مهال چي بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېړ شوی نه وو او غرونه لا نه وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چي د زمکي بهرنی قشر مضبوط او دروند شي، بېلي بېلي ټوټې ئې سره وصل او کوشير (ويلډينگ) شي او د زلزلو مخه ونيول شي، دا داسي وگڼئ لکه چي د يخو اوبو پر سر د مات کنگل ټوټې له کوم لوی او دروند او ډېر سوړ کنگل سره ونښلي او په دې توگه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنگر نوم غوره کول په حقيقت کې دغه ستر علمي حقيقت ته اشاره کوي او يقيناً چي دا د قرآن يو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

ته گورې چي الله تعالی له آسمانه اوبه وروي او په دغو اوبو له زمکي د ژوو او نباتاتو ډول ډول غوره جوړې راټوکوي، د زمکي پر سر د پيدايښت په دې لړۍ کې د خلاق رب د خلقت څرگند مظاهر زموږ په وړاندي ځلېږي، ټول په جگ ږغ گواهي ورکوي چي دا هر څه د الله تعالی په اراده تر سره کېږي، څوك چي دا حقيقت نه مني نو داسي څوك دي وښيي چي د کوم څه د پيدا کولو توان لري، راودي ښيي چي له ده پرته نورو څه پيدا کړي؟ د قرآن دا او گڼ شمېر نور آيتونه وايي چي له الله تعالی پرته هيڅوك د څه پيدا کولو توان نه لري، ساينس نن همدا خبره کوي او وايي: انسان نه څه پيدا کولی شي او نه څه له منځه وړلی شي، هغه يوازي دومره کولی شي چي يو شئ له يوه حالت بل ته واړوي، داسي لکه چي لرگی وسوزوي او په ايرو او دود ئې واړوي، هغه په دې عمليې سره نه کوم شئ پيدا کړی او نه ئې له منځه وړی، د سوزېدلي لرگي په کتلې کې هيڅ کمی او زياتي نه راځي، فقط حالت ئې بدلېږي.

هغه څوك چي له دغو حقائقو انکار کوي ستر ظالم دئ او په څرگنده توگه بې لاري

شوی او سمه لار ئې ورکه کړې!!

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِۚ وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ
وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ﴿١٢﴾ وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ
لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ
وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن
جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي
ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾ يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٖ فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ
أَوۡ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ﴿١٦﴾ يَٰبُنَيَّ أَقِمِ
ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ
عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿١٧﴾ وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ
لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ﴿١٨﴾ وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ
أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ ﴿١٩﴾

او يقيناً چي لقمان ته مو دا حکمت ورپه برخه کړ چي الله ته شکر کوه؛ او څوك چي شکر کوي نو د خپل ځان (د ګټې) لپاره شکر کوي؛ او چا چي ناسپاسي وکړه نو الله ستايلى بې نياز دئ؛ او هغه مهال (درپه ياد کړه) چي لقمان خپل زوى ته په داسي حال کي چي وعظ ئې ورته کولو وويل: اې زما ګرانه زويه! له الله سره (څوك) مه شريکوه، يقيناً چي شرك لوى ظلم دئ؛ او انسان ته مو د والدينو په اړه د ښېګڼې سپارښتنه وکړه، مور ئې دى په پرله پسې سستيو ګاللو سره حمل کړ؛ او بېلول ئې په دوو کلونو کي وو، دا سپارښتنه چي زما او د خپلو والدينو شکر کوه، بېرته ستنېدا زما په لوري ده؛ او که دوى دواړو ستا په اړه دا هڅه کوله چي له ما سره داسي څه شريك کړې چي د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه؛ او په دنيايي چارو کي په ښه توګه مصاحبت ورسره کوه؛ او د هغه چا متابعت کوه چي زما لوري ته ئې انابت

کړی، بیا مو بېرته گرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول. اې زما گرانه زویه! حقیقت دا دئ چې که د سپیلني د دانې په مقدار څه وي او هغه په کومې ډبرې کې یا په آسمانونو او یا په زمکې کې وي نو الله به ئې راحاضر کړي، یقیناً چې الله باخبره لطیف دئ. اې زما گرانه زویه! لمونځ قائموه، په ښېگڼې گمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه؛ او په هغه څه (کړاوونو) صبر کوه چې دررسي، یقیناً چې دا له همتناکو کارونو دئ. اننگي دې خلکو ته مه کږوه او په زمکې کې په نخرو نخرو مه درومه، یقیناً چې الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي؛ او په خپل تگ کې اعتدال کوه او خپل ږغ راټیټ کړه؛ یقیناً چې تر ټولو کرکجن ږغ د خره ږغ دئ.

---

(۱۲-۱۹)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- لقمان په عربو کې د یوه پوه او حکیم شخصیت په نامه پېژندل کېدو او گڼ شمېر مواعظ، نصائح او وجېزې هغه ته منسوببدل، دلته د هغه یادونه د دې لپاره شوې چې قریشو ته وویل شي: رسول الله صلی الله علیه و سلم تاسو ته د لقمان په څېر او تر هغه ډېرې لوړې او غوره ویناوې کوي، دا ولې هغه ته د درناوي او احترام په سترگه گورئ او له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره دښمنۍ ته ملا تړئ؟!! راشئ د لقمان څو هغو خبرو ته ځیر شئ چې هغه خپل زوی ته کړې وې:
- د هغه لومړۍ سپارښتنه دا وه چې شرك مه کوه، شرك لوی ظلم دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم تاسو ته همدا خبره کوي.
- هغه د الله تعالی دا حکم پر ځای کړی وو چې د الله تعالی په وړاندې د هغه د نعمتونو شکر وکړي، څوك چې شکر کوي نو د خپل ځان په گټه شکر کوي او څوك چې ناسپاسي کوي نو ځان ته تاوان رسوي، الله تعالی د ده او د ده شکر ته هیڅ اړتیا نه لري، الله تعالی ستایلی بې نیاز دئ.
- هغه خپل زوی ته په داسې حال کې چې وعظ ئې ورته کولو وویل: اې زما گرانه زویه! له الله سره څوك مه شریکوه، یقیناً چې شرك لوی ظلم دئ. لکه څنگه چې لقمان خپل گران زوی ته د د خپل وعظ په سر کې له شرك د ځان ساتلو سپارښتنه کوله، همداسې رسول الله صلی الله علیه و سلم تاسو ته د خپلو مواعظو په سر کې او تر هر څه وړاندې له شرك د لاس اخیستو توصیه کوي، ستاسو په اړه ئې زړه سوی او مهرباني همدومره ده لکه د یوه مهربان پلار زړه سوی له خپل اولاد سره.
- الله تعالی د مور پلار په زړه کې له خپل اولاد سره دومره مینه تعبیه کړې چې مور ئې د هغه لپاره سخت سخت کړاوونه گالي، دوه کاله ئې په خپل رحم او غېږ کې گرځوي، تی ورکوي، د هغه لپاره کړاوونه او بې خوبي گالي، د دې په بدل کې ئې انسان پر دې گمارلی چې له والدینو سره به ښېگڼه کوي، د هغوی د پېرزوینو درناوی او شکر به کوي، د قیامت په ورځ به الله تعالی د دې پوښتنه کوي چې له والدینو سره مو چلن څنگه وو، د ټولو بېرته

ستنېدا د الله تعالی په لوري ده، خو انسان ته ئې دا سپارښتنه هم کړې چې که پلار او مور ستا په اړه دا هڅه کوله چې له ما سره داسي څه شریك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه، خو سره له دې په دنیایي چارو کې له هغوی سره په ښه توګه مصاحبت کوه، د دوی پر ځای د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی، بیا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

- لقمان خپل زوی ته ویلي وو: اې زما ګرانه زویه! حقیقت دا دئ چې که د سپیلني د داني په مقدار څه نېك یا بد عمل، ښه او بد شئ وي؛ او هغه په کومي ډبري کي یا په آسمانونو او یا په زمکي کي وي؛ نو الله به ئې راحاضر کړي، یقیناً چې الله باخبره لطیف دئ. پر هیچا به له هیڅ پلوه ظلم نه کېږي، که چا د سپیلني د داني په مقدار ښه یا بد عمل کړی وي نو څرګند به شي، هیڅ څه له الله تعالی پټ نه پاته کېږي؛ دا ځکه چې هغه (خبیر) او (لطیف) دئ.
- همدا راز هغه خپل زوی ته ویلي وو: اې زما ګرانه زویه! لمونځ قائموه، په ښېګڼې ګمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه؛ او که د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کار کي له کړاوونو سره مخامخ شوې صبر کوه؛ یقیناً چې دا له همتناکو کارونو دئ. اننګي دي خلکو ته مه کږوه، له هغوی مخ مه اړوه، په سپکه سترګه مه ورته ګوره، په زمکي کي په نخرو نخرو مه درومه، یقیناً چې الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي؛ او په خپل تګ کي اعتدال کوه او خپل ږغ راټیټ کړه؛ یقیناً چې تر ټولو کرکجن ږغ د خره ږغ دئ.
- دې ته مو پام وي چې دلته د (وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ) الفاظ راغلي، (صعر) هغي بیماري ته وايي چې اوښان پرې اخته کېږي او له کبله ئې د اوښ غاړه کږه شي، دلته د (لاتصعر خدك) معنی دا ده چې په کبر سره خلکو ته کوږ کوږ مه ګوره او په بې اعتنائي سره مخ مه ترې اړوه، د هغه کبرجن په څېر مه کېږه چې د بل خبري ته خپل اننګی کوږ کړي او بې ارزښته ئې وګڼي. د آیت په پای کي دا فقره راغلې إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ: یقیناً چې الله هر فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي)؛ له دې فقرې معلومېږي چې په(وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ) کي له کبر ډډه کول مراد دي.

که دې مبارکو آیتونو ته په دقیقه توګه ځیر شو نو راته جوته کېږي چې په دې کي د پېغمبر صلی الله علیه و سلم د دعوت اساسي ټکي راغلي چې په دې توګه دي:

- له الله سره څوك مه شریکوه، یقیناً چې شرك لوی ظلم دئ.
- الله تعالی انسان ته د والدینو په اړه د ښېګڼې سپارښتنه کړې.
- دا سپارښتنه چې د خپل رب او د خپلو والدینو شکر کوه.
- د ټولو بېرته ستنېدا د الله تعالی په لوري ده.
- که والدینو دي دا هڅه کوله چې له الله تعالی سره داسي څه شریك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه. خو سره له دې په دنیایي چارو کي له هغوی سره په

ښه توګه مصاحبت کوه.

- د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی، یعني باید په یوه تنظیم او جماعت کې ژوند وکړې او له یوه لارښود سره بیعت وکړې.
- لمونځ قائموه.
- په ښېګڼې ګمارنه کوه او له منکر ممانعت کوه.
- د هغو کړاوونو په وړاندې صبر کوه چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دوران ورسره مخامخ کېږې. همدا له همتناکو کارونو دئ.
- اننګې دې خلکو ته مه کږوه او په زمکې کې په نخرو نخرو مه درومه، یقیناً چې الله تعالی فخر کوونکی کبرجن نه خوښوي.
- په خپل تګ کې اعتدال کوه. مه د مغرورو په څېر په نخرو نخرو تګ کوه او مه د کمزورو او ذلت ته د تسلیم شوو په څېر له کړې غاړې سره ورو ورو تګ کوه.
- له مخاطبینو سره د خبرو په دوران کې خپل ږغ ټیټ ساته او د هغه کمعقل مغرور په څېر په لوړ، پرېږ او تحکمانه غږ خبرې مه کوه چې ځان تر نورو لوړ ګڼي او خلکو ته په سپکه سترګه ګوري.

دا مبارك آیتونه موږ ته ښيي چې د دین له نظره مهم مهم او اساسي کارونه کوم کوم دي، دلته له توحید وروسته له والدینو سره د ښه سلوك سپارښتنه شوې، ورپسې د صالح لارښود د متابعت یادونه شوې، بیا د لمانځه، بیا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او د هغو کړاوونو په وړاندې صبر چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په دوران کې ورسره مخامخ کېږو؛ او په پای کې له کبر او غرور ډډه کول. له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په اسلام کې نه د انفرادي ژوند تصور او مجال شته او نه د ټولنې د ناخوالو په وړاندې د بې اعتنائي او بې تفاوتي جواز، د دین تقاضا او د ټولو پیغمبرانو او صالحینو کړنلاره دا ده چې د یوه موحد داعي په توګه به د یوه صالح صف په څنګ کې او د یوه خدای پال لارښود په متابعت کې په ټولنې کې د اصلاح هاند کوو، په معروف ګمارنه او له منکر مخنیوی به خپله الهي او دیني وجیبه ګڼو. قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې موږ ته لارښوونه کوي چې د الله په لار کې به کله د مال قرباني ته بلل کېږئ او کله د ځان، کله به د دین په جامه کې د دین دښمنان ستا مقابله کوي او کله مشرکان، هم به له دې ځوروونکې خبرې اورې او هم له هغه، لږ نه؛ ډېرې، حوصله دې لوړه ساته، د الله رضاء وړیا نه تر لاسه کېږي، دا ګوهر تر لاسه کول په ستر سیند کې لامبو او له پیاوړو څپو سره ئې ډغرې وهل غواړي، دا الماس د جګو غرونو په لوړو څوکو کې موندلی شې، هلته ځان رسول غواړي، له کړلېچونو به تېرېږې، لوړې ژورې به پلې کوې، زړه غښتلی او متې مضبوطې کړه، قرباني ته تیار شه، له مخالفتونو سره مخامخ کېدو ته ځان چمتو کړه، سختې آزمویني په مخکې لرې، که دې همت وکړ، بې زړه نه شوې، له ودرېدو، تر شا کېدو او یوې بلې خوا ته له کږېدو دې ځان وساتو او له دغو

آزموينو برياله ووتې، الله ته رسې او رضاء ئې تر لاسه کوې.

لکه چې دلته د حج، زکات او روژې يادونه نه ده شوې خو د امر بالمعروف او نهي عن المنكر يادونه شوې، همداسې په قرآن کې تر روژې او حج د امر بالمعروف، نهي عن المنكر او جهاد في سبيل الله زياته يادونه شوې، که د جهاد اړوند هغه آيتونه هم حساب کړو چې په غيرمستقيمه توگه د جهاد سپارښتنه کوي نو ويلې شو چې تر لمانځه او زکات هم په جهاد زيات ترکيز او تأکيد شوی، جهاد د ايمان او په ايمان کې د اخلاص او صداقت لپاره د معيار او ملاك په توگه معرفي شوی، بل هيڅ عبادت ته په دې سترگه نه دي کتل شوي، د هغه چا د ايمان دعوی دروغجنه گڼل شوې چې له جهاد ډډه کوي، د بل عبادت په اړه دا خبره نه ده شوې. په رواياتو کې د جهاد پرېښودونکي په اړه ويل شوي چې له اسلامه وتلی که څه هم لمونځ کوي او روژه نيسي.

عن الحارث الاشعرى أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ الله أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ الله، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ"، قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ الله وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى؟ قَالَ: نعم وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، فادعوا بدعوة الله الذى سماكم بها المسلمين المؤمنين عباد الله. مسند احمد

له الحارث الاشعري روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په هغو پنځو خبرو مو گمارم چې الله تعالی زه پرې گمارلی يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، نو څوك چې له جماعت د يوې لوېشتي په اندازه ووت يقيناً چې د اسلام کړی ئې له خپلي غاړي وايسته، مگر دا چې بېرته راوگرځي؛ او څوك چې د جاهليت په بلنې بلنه کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي، يوه سړي وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړی وي، نو د الله په هغې بلني سره بلنه وکړئ چې تاسو ئې پرې مؤمنان، د الله بندگان مسلمانان نومولي يئ.

دا روايت چې د احاديثو په ټولو کتابونو کې په همدې الفاظو سره يا په لږ تغيير سره راغلی او صحيح ئې گڼلی، په جماعت کې ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، دومره مهم بولي چې له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه گڼي!!

همدغو نصوصو ته په پام سره عمر رضى الله عنه فرمايي: لا اسلام الا بالجماعة و لا جماعة الا بالامارة و لا امارة الا بالسمع و الطاعة: نه له جماعت پرته اسلام شته، نه له امارته پرته جماعت شته او نه له اورېدو او اطاعته پرته امارت شته.

همدا راز عمارة له أبي زرعة روايت کوي چي عمر رضی الله عنه وويل: عرى الايمان أربع: الصلاة والزکاة والجهاد والأمانة: د ايمان کړۍ څلور دي: لمونځ، زکات، جهاد او امانت.

او بل جليل القدره صحابي حذيفه رضی الله عنه وايي: الاسلام ثمانية أسهم: الصلاة سهم والزكاة سهم و الجهاد سهم وصوم رمضان سهم وحج البيت سهم، والامر بالمعروف سهم والنهي عن المنكر سهم والاسلام سهم، وقد خاب من لا سهم له: اسلام اته برخي دئ: لمونځ يوه برخه، زکات بله برخه، جهاد بله برخه، د رمضان د مياشتي روژه بله برخه، د بيت الله حج بله برخه، امر بالمعروف بله برخه، نهي عن المنکر بله برخه؛ او اسلام بله برخه او هغه ځوك نامراد شو چي کومه برخه ئې نه وي.

لاندي روايت جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د ماڼۍ اساسي ستنه او د اسلام د لوړي څوکه ګڼي:

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَلَمَّا رَأَيْتُهُ خَالِيًا، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ، قَالَ: " لَقَدْ سَأَلْتُ عَنْ عَظِيمٍ، وَهُوَ يَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ: تُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَلْقَى اللَّهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، أَوَلَا أَدُلُّكَ عَلَى رَأْسِ الْأَمْرِ، وَعَمُودِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟، فَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ " مصنف ابن ابی شيبه

له معاذ بن جبل روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د تبوك له غزوې راګرځېدو، کله چي مي هغه يوازي وموند ومي ويل: يا رسول الله! له داسي عمله مي خبر کړه چي جنت ته مي داخل کړي، وئې فرمايل: يقيناً چي د ستر شي پوښتنه دي وکړه، خو هغه چا ته آسانه دئ چي الله ئې ورته آسان کړي: فرض لمونځونه کوه، فرض زکات ورکوه؛ او له الله سره داسي مخامخ کېږه چي هيڅ څه دي نه وي ورسره شريك کړي؛ او آيا د دې کار له سر؛ او ستني او د لوړي له څوکي دي خبر نه کړم؟ چي هغه د الله په لار کي جهاد دئ.

(يعني جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د ماڼۍ اساسي ستنه او د لوړي څوکه ئې ده).
دا روايت د حافظ عبد الله بن محمد بن أبي شيبة په مصنف کي راغلی، هغه د احاديثو د کتاب لومړنی مصنف دئ، په سنة ۲۳۵ هجري کي وفات شوی، د دې معنی دا ده چي دی د دوهمي پېړۍ شخصيت دئ او د نورو محدثينو لپاره د استاد حيثيت لري.)

په بيعت عقبة کي رسول الله صلی الله عليه و سلم د انصارو له وفد په لاندي خبرو بيعت اخيستی وو:

عن جابر بن عبد الله الأنصارى.... قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «**تُبَايِعُونِي عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي النَّشَاطِ وَالْكَسَلِ**، وَعَلَى النَّفَقَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ، وَعَلَى الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ،

وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَعَلَى الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ، وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَعَلَى أَنْ تَقُولُوا فِي اللَّهِ لَا تَأْخُذُكُمْ فِيهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ، وَعَلَى أَنْ تَنْصُرُونِي إِذَا قَدِمْتُ عَلَيكم، وَتَمْنَعُونِي مِمَّا تَمْنَعُونَ مِنْهُ أَنْفُسَكُمْ وَأَزْوَاجَكُمْ وَأَبْنَاءَكُمْ وَلَكُمُ الْجَنَّةُ"، فَقُمْنَا نُبَايِعُهُ، فَأَخَذَ بِيَدِهِ أَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ وَهُوَ أَصْغَرُ السَّبْعِينَ، فَقَالَ: رُوَيْدًا يَا أَهْلَ يَثْرِبَ، إِنَّا لَمْ نَضْرِبْ إِلَيْهِ أَكْبَادَ الْمَطِيِّ إِلَّا وَنَحْنُ نَعْلَمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، إِنَّ إِخْرَاجَهُ الْيَوْمَ مُفَارَقَةُ الْعَرَبِ كَافَّةً، وَقَتْلُ خِيَارِكُمْ، وَأَنْ تَعَضَّكُمُ السُّيُوفُ، فَإِمَّا أَنْتُمْ قَوْمٌ تَصْبِرُونَ عَلَى السُّيُوفِ إِذَا مَسَّتْكُمْ، وَعَلَى قَتْلِ خِيَارِكُمْ، وَعَلَى مُفَارَقَةِ الْعَرَبِ كَافَّةً، فَخُذُوهُ وَأَجْرُكُمْ عَلَى اللَّهِ، وَإِمَّا أَنْتُمْ قَوْمٌ تَخَافُونَ مِنْ أَنْفُسِكُمْ خِيفَةً فَذَرُوهُ، فَهُوَ أَعْذَرُ عِنْدَ اللَّهِ قَالَوا: يَا أَسْعَدُ بْنَ زُرَارَةَ أَمِطْ عَنَّا يَدَكَ، فَوَاللَّهِ لَا نَذَرُ هَذِهِ الْبَيْعَةَ، وَلَا نَسْتَقِيلُهَا، فَقُمْنَا إِلَيْهِ رَجُلًا رَجُلًا يَأْخُذُ عَلَيْنَا وَيُعْطِينَا عَلَى ذَلِكَ الْجَنَّةَ هذا حديث صحيح الإسناد جامع لبيعة العقبة ولم يخرجاه.

**له جابر بن عبدالله انصاري روايت دئ چي.... رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: له ما سره په دې خبرې بيعت وکړئ چي اورئ او اطاعت به کوئ؛ په هغه څه کې هم چي له زړه نه ورته تيار وئ او په هغه کې هم چي زړه مو نه غواړي؛ او په تنگسې او سوکالي کې انفاق کول؛ او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندي؛ او دا چي د الله لپاره به حق خبره کوئ او د ملامتوونکي د ملامتولو پروا به نه کوئ؛ او په دې چي که درغلم زما مرسته به کوئ او هغه څه به رانه تموئ چي له خپل ځان، مېرمنو او اولاد نه ئې تموئ او تاسو ته به د دې بدله جنت وي)، نو موږ ودرېدو چي بيعت ورسره وکړو، اسعد بن زراره چي د اويا کسانو تر ټولو کم عمره وو د ده لاس ونيو او وئې ويل: لږ تم شئ اې د يثرب استوگنو! موږ خو دلته د دې لپاره د زيات زحمت په گاللو سره راغلي يو چي پوهېږو دی د الله رسول دئ، ده ته پناه ورکول له ټولو عربو سره جنگ ته ملا تړل دي، د دې په نتيجه کې به ستاسو شازلميان وژل کېږي او توري به درباندي ورېږي، که په دې ټولو صبر کولی شئ نو لاس ورکړئ، اجر به ئې د الله تعالی په ذمه وي او که پر خپل ځان کومه وېره لرئ نو پرې ئې ږدئ او خپله خبره په واضح الفاظو ورته وکړئ، دا به د الله په وړاندي ستاسو عذر شي، وئې ويل: اې اسعده! له موږ لاس واخله، په خدای قسم چي دا عهد نه پرېږدو او نه ئې ماتوو، نو يو يو ورپورته شوو او له موږ ئې دا ژمنه واخيسته چي په بدل کې به ئې الله تعالی موږ ته جنت راکوي...**

**په دې مصيبت ډېر خلك اخته دي چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر د لمانځه په څېر يوه فريضه نه گڼي؛ او ډېر بيا داسي دي چي فرعي او مستحب امور تر فرائضو هم مهم**

ګڼي، فرائض ترې پاته وي خو پر فضائلو او مستحباتو به کلك ښتي وي، هغه چا ته به څه نه وایي چي فرایضو ته اعتناء نه لري خو هغه څوك به په څلورو کتابونو کافر ګڼي چي کوم مستحب ترې پاته شي. ټول ژوند به ئې په فروعي مسائلو کې په بېهوده شخړو او خوشو مناظرو تېر شي او هغه چا ته به د ستر او اساسي دښمن په سترګه ګوري چي له ده سره په فروعي مسائلو کې اختلاف لري خو د خدای او دین ستر ستر دښمنان به ترې پاته وي او د هغوی په ضد به د یوې خبرې کولو جسارت نه کوي!! د اصلي دښمن له پېژندو به عاجز وي، د الله تعالی په لار کې د جهاد خبره به نه کوي، په ټولنې کې په ناخوالو، ظلم، فساد او بې عدالتیو به اعتراض نه کوي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فریضه به ئې هېره کړې وي خو په دې به مکرر ټینګار کوي چي له لمانځه وروسته دعاء څنګه ده، پیښې به څومره له بېلېیو لوړې ساتو... !!

د دې موضوع یادونه هم ضروري برېښي چي د (إن الشرك لظلم عظیم) په اړه په بخاري کې تر دې عنوان لاندې (ظلم څو مرتبې لري) یو روایت په دې صیغه راغلی:

حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح. قَالَ وَحَدَّثَنِي بِشْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله قَالَ لَمَّا نَزَلَتِ (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ) قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَأَنْزَلَ الله (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ). (بخاری:۳۲)

له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي کله دا آیت نازل شو (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ: هغه چي ایمان ئې راوړی او خپل ایمان ئې په ظلم نه دئ لړلی) نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه وو وویل: له موږ به کوم یوه ظلم نه وي کړی؟ نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ: یقیناً چي شرک لوی ظلم دئ). یعني په دې تېر آیت کي د ظلم مراد شرک دئ، نه بل ډول ظلم.

دا روایت په بخاري کې شپږ ځلي نور هم راغلی، په دغو شمېرو: ۳۳۶۰، ۳۴۲۸، ۳۴۲۹، ۴۶۲۹، ۴۷۷۶، ۶۹۱۸، ۶۹۳۷،

د دې روایت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دا روایت غریب دئ، په ټولو طبقاتو کې یو یو راوي لري، الأَعْمَش له إِبْرَاهِيمَ، هغه له عَلْقَمَةَ او هغه له عَبْدِ الله بن عباس روایت کوي، وروستي راویان ئې بېل بېل دي، خو په الفاظو کې ئې څو توپیرونه شته چي دوه ئې ډېر ستر دي او جدي تعارض په ګوته کوي او هغه دا چي په ځینو کې ویل شوي چي الله تعالی دا آیت نازل کړ خو په ځینو کې ویل شوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته وفرمایل: (داسي نه ده لکه چي تاسو ئې انګېرئ، له ظلم مراد شرك دئ، آیا دا آیت مو نه دئ اورېدلی چي لقمان خپل زوی ته وایي: شرك لوی ظلم دئ)؛ او د دې معنی دا ده چي دا آیت تر هغه بل د مخه نازل شوی وو.

• دې ته مو پام وي چې (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ) د لقمان د سورې آيت دئ او (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) د الانعام د سورې، د دغو دواړو سورتونو له متن په وضاحت سره معلومېږي چې د الانعام سوره د لقمان تر سورې ډېره وروسته نازله شوې، الانعام د مکي دور په وروستيو کې او د لقمان سوره په منځنيو کلونو کې نازله شوې، په روايت کې په دې اړه اشتباه شوې، چې د لقمان د سورې آيت تر هغه بل چې د الانعام په سورې کې راغلی وروسته ګڼي، له دې معلومېږي چې په دغو متعارضو رواياتو کې يوازې هغه دقيق دئ چې د آيت د نزول خبره نه کوي بلکې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د لقمان د سورې دا آيت ورته ولوست او د دوی تشويش ئې رفع کړ. دا چې ولې په رواياتو کې تعارض راغلی وجه ئې دا ده چې عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په مدينه کې ځوانۍ ته رسېدلی او دا موضوع په مکه کې واقع شوې، ده هم له نورو اورېدلې، خو د هغوی نوم ئې نه دئ اخيستی، شايي له ځينو ئې دا وينا اورېدلې وي او له ځينو هغه بله. دا روايت په نورو کتابونو کې هم راغلی خو اصلي راوي ئې يوازې عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دئ.

• دې ته مو پام وي چې اصولاً لومړی يو نوم يا اصطلاح وضع کېږي بيا ئې کارول پيل کېږي، هيڅوك داسې نه کوي چې اسم له مسمٰی مخکې وکاروي، لومړی بايد په شرك باندې د ظلم نوم اېښودل شوی وي بيا به دا وينا د فهم وړ وي چې (څوك خپل ايمان په ظلم ونه لړي يعني خپل ايمان له شرك سره خلط نه کړي).

• دې ته مو هم بايد پام وي چې د ايمان تر څنګ د ظلم يادونه په داسې توګه چې له ايمان سره ګډول افاده کوي ښيي چې دا (ظلم) يوه عقيده ده نه عمل، ځکه عمل او عقيده سره ګډېدی نشي، عقيده له عقيدې سره ګډېدی شي، نو ځکه دلته له ظلم مراد د شرك عقيده ده نه عام ظلم او د بل په حق تېری.

أَلَمْ تَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴿٢٠﴾

آيا پام مو نه دئ کړی چې يقيناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر کړي چې په آسمانونو کې دي او ټول هغه څه چې په زمکې کې دي؛ او پر تاسو ئې خپل نعمتونه په څرګنده او پټه توګه بشپړ کړي؛ او له خلکو ځيني له علم، هدايت او روڼ کتاب پرته د الله په اړه مجادله کوي.

(٢٠)- په دې مبارك آيت کې د انسانانو توجه هغو الهي نعمتونو ته اړول شوې چې په آسمانونو او زمکې کې او په مشهود او غيرمشهود توګه د دوی په برخه شوي، قرآن خپلو

مخاطبينو ته فرمايي: آيا پام مو نه دئ کړی چي يقيناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر کړي چي په آسمانونو او زمکي کي دي؟ يعني د آسمانونو او زمکي هر څه ستاسو په خدمت کي لګيا دي، يوه بل ته لاس ورکړی، په ګډه لګيا دي او تاسو ته هغه څه مهيا کوي چي تاسو ورته ضرورت لرئ، ځيني نعمتونه ئې څرګند دي او تاسو ئې په خپلو سترګو ګورئ او هغوی پېژنئ خو ځيني ئې داسي دي چي تاسو ئې نه وينئ او نه ئې پېژنئ، تاسو دا ګورئ چي لمر رڼا او تودوخه درکوي او له ورېځو باران دربانديي ورېږي او په همدې سره له زمکي ډول ډول خوندوري مېوې او ګټور بوټي او دانې درته راټوکېږي، خو د الله تعالی بې شمېره نعمتونه داسي دي چي ستاسو له سترګو پټ دي او نه ئې پېژنئ. په سطحي نظر دا خبره عجيبه برېښي چي د آسمانونو او زمکي هر څه څنګه انسان ته مسخر دي، د انسان پر ژوند به د ټولو هغو شيانو اغېز څه وي چي د آسمانونو په پراخي غېږ او د زمکي په پلني لمني کي ئې ګورو؟ خو حقيقت دا دئ چي د قرآن دغه وينا يو ستر علمي حقيقت دئ، نه يوازي دا چي الله تعالی موږ ته بې شمېره داسي نعمتونه راپه برخه کړي چي موږ ئې نه وينو او نه ئې پېژنو، ډېر داسي دي چي څو کلونه وړاندي مو نه پېژندل خو نن ئې پېژنو، نن ئې نه پېژنو خو څو کاله وروسته به راته جوت شي، موږ پرون په دې نه پوهېدو چي زموږ د زمکي او نورو ستورو تر منځ به څه تړاو وي، خو نن پوهېږو چي د زمکي د سر دا اوسنی وضعيت د هغه نظم او تعادل نتيجه ده چي په شمسي نظام کي رامنځته شوی، په دې کي معمولي تغيير د زمکي دا اوسنی وضعيت له منځه وړي، زموږ د شمسي نظام دا موجود حالت د هغه خاص او دقيق نظم په نتيجه کي رامنځته شوی چي زموږ پر اړوند ستور ليکی حاکم دئ، که دا نظم متلاشي شي نو نه به زموږ شمسي نظام په اوسني حالت کي پاته شي او نه زموږ د زمکي حالت، ټول عالم په همدې توګه يو له بل سره تړاو لري او د يوه حالت پر بل اغېز لري، دا ډېره درنه او دقيقه وينا ده چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي هر څه انسان ته مسخر کړي.

خو د انسانانو ځيني داسي دي چي دا مبارک آيت ئې موږ ته په دې توګه معرفي کوي: د الله تعالی دا ټول څرګند او پټ نعمتونه له پامه غورځوي، د الله تعالی په اړه د يوه داسي کس په توګه قضاوت کوي چي نه په خپله څه علم لري، نه ئې له بله کومه لارښوونه تر لاسه کړې او نه ئې کوم لارښود او روڼ کتاب لوستلی!!

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٢١﴾

او کله چي ورته وويل شي: د هغه څه متابعت وکړئ چي الله رالېږلي؛ وايي: نه؛ بلکي د هغه څه متابعت کوو چي خپل پلرونه مو پرې موندلي، آيا که څه هم شيطان دوی د لمبه ناک عذاب لوري ته بلي!!

(۲۱)- کله چې د الله تعالی په اړه دغو بې علمه او لار ورکو مجادله کوونکو ته وویل شي: د هغو لارښوونو متابعت وکړئ چې د الله تعالی له لوري رالېږل شوي؛ وايي: نه؛ بلکې د هغه څه متابعت کوو چې له خپلو پلرونو په میراث رارسېدلي، په همغه لار درومو چې پلار نیکه مو پرې تللي، که څه هم دا ړوند او په قومي تعصب ولاړ متابعت په حقیقت کې د شیطان متابعت وي او پایله ئې هم د لمبه ناك عذاب په لوري د دوی بېول وي!!

وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴿٢٢﴾

او څوك چې خپل مخ (ځان) الله ته تسلیم کړي په داسې حال کې چې نېك وي نو یقیناً چې په مضبوطي کړۍ ئې منګولې ټینګې کړې دي؛ او د کارونو پایله الله ته (راجع کېدونکې) ده.

(۲۲)- دا مبارك آیت وايي: څوك چې خپل ځان الله تعالی ته په بشپړه توګه تسلیم کړي، په داسې حال کې چې نېك وي نو یقیناً چې هغه په مضبوطي کړۍ منګولې ټینګې کړې دي، الله تعالی ئې ساتونکی او پالونکی دئ او تل او په هر حال او هر ځای کې د خپل رب تر رعایت لاندې دئ، د هغه رب په حفظ او امان کې چې د ټولو کارونو پایلې د هغه له لوري ټاکل کېږي.

وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمۡ قَلِيلٗا ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴿٢٤﴾

او څوك چې کفر وکړي نو د ده کفر دې تا غمجن نه کړي، بېرته ګرځېدا زموږ په لوري ده، نو په هغه څه به ئې خبر کړم چې کول ئې، یقیناً چې الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ، لږ به ئې متمتع کړو بیا به ئې د سخت عذاب لوري ته اړ کړو.

(۲۳-۲٤)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دغو کافرانو په اړه دا لارښوونه شوي:

څوك چې د کفر لار غوره کړي نو د هغه کفر دې تا غمجن نه کړي، د دوی بېرته ګرځېدا زموږ په لوري ده، نو په هغه څه به ئې خبر کړم چې دوی کول، یقیناً چې الله تعالی ښه پوهېږي چې د دوی په خپلو سینو کې څه لري، ولې ئې د کفر لار غوره کړې، کومو موخو ته د رسېدو په طمع ئې کفر ته مخه کړې، کېدی شي ځیني هیلې ئې تر سره شي، د دنیا له متاع ئې لږ برخمن کړم، خو په پای کې به د دوزخ په لوري کش کړی شي او د سخت عذاب په

منګولو کې پرېوتو ته به اړ شي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

او که دوی وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؛ حتماً به ووايي: الله، (ورته) ووايه: الحمد لله (ټولې ستايني الله ته دي)، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(۲۵)- دا مبارك آيت په دې ټينګار کوي چې هيڅوك د آسمانونو او زمکې د پيدايښت په اړه له دې پرته بل څه نشي ويلی چې دا الله تعالی پيدا کړي، له دې پرته بل داسې ځواب چې د انسان عقل پرې قانع شي نشي وړاندې کولی، رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده له لارې د قرآن هر مخاطب ته وايي: که دوی وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؛ نو حتماً به ووايي: الله، ورته ووايه: الحمد لله چې تاسو په دې حقيقت اعتراف کوئ، دا په داسې حال کې چې د دوی ډېری نه پوهېږي.

لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾

او څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي (ټول) د الله دي، يقيناً چې الله ستايل شوی بې نياز دئ.

(۲٦)- الله تعالی نه يوازې د دې عالم خالق دئ بلکې پر دې سربېره د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالی په واك کې دي، څه چې په دې عالم کې شته، که دا په آسمانونو کې دي يا په زمکې کې؛ ټول د الله تعالی دي، يقيناً چې هغه ستايل شوی بې نياز دئ.

وَلَوْ أَنَّمَا فِى ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَٰمٌ وَٱلْبَحْرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾

او که په زمکې کې چې کومې وني دي؛ (دا ټولې) قلمونه وي او سمندر ئې په داسې حال کې (د قلم) رنګ شي چې له ټماميدو وروسته ئې اوه نور سمندرونه وي نو د الله کلمې به پای ته ونه رسېږي، يقيناً چې الله باحکمت عزتمن دئ.

(۲۷)- که دا مبارك آيت د مخکينيو آيتونو په رڼا کې او له هغوی سره په تړاو وڅېړو نو معنی ئې دا ده: د الله تعالی هغه احکام چې له کبله ئې په آسمانونو او زمکې کې څه پيدا شوي وشمېرو او د شمېرلو لپاره ئې د زمکې د سر ټولې وني قلمونه او سمندر ئې رنګ کړو،

اوه نور سمندرونه ئې هم په خوا کې کېږدو، نو د سمندرونو اوبه به ختمې شي خو د الله کلمې به پای ته ونه رسېږي، يقيناً چې الله باحکمت عزتمن دئ. له دې وينا څو خبرې معلومېږي: ۱- د عالَم هر مخلوق د الله تعالی د يوې کلمې او حکم مظهر دئ، ۲- د الله تعالی مخلوقات دومره زيات دي چې انسان ئې له شمېرلو عاجز دئ، ۳- مسيحيان هسې دوکه شوي چې عيسی عليه السلام د الله تعالی يوازينۍ کلمه گڼي.

دې ته مو پام وي چې انسانان د عالَم په عظمت، پراخوالي او د مخلوقاتو د شمېر په زياتوالي اوس او د پرمخ تللو وسائلو په مرسته پوه شوي، تر دې وړاندې او د قرآن د نزول په وخت کې به د قرآن دغې وينا ته ډېرو د حيرت په سترگه کتلې وي او ښايي دښمنانو به ښه ډېر پرې خندلي وي، خو که تاسو د قرآن دغه وينا هغه ستور پېژاندي ته وکړئ چې د هبل ټيلسکوب شا ته ناست دئ او د خپلو محاسباتو له مخې دې نتيجې ته رسېدلی چې په آسمان کې تر سل مليارډه زيات ستور ليکي دي او په هر ستور ليکي کې په اوسط توگه تر سل مليارډه زيات ستوري دي„, نو يقيناً چې هغه به تا ته ووايي: د مخلوقاتو د شمېر په اړه د قرآن دا وينا ډېره دقيقه ده!!

د دې مبارك آيت ارتباط له مخکينيو سره په دې توگه دئ: چا چې د کفر لار غوره کړې، له الله تعالی او د هغه له پيغمبرانو انکار کوي، په قيامت او بياژوندون باور نه لري، له الله تعالی پرته د جعلي معبودانو عبادت کوي، آيا دې ته متوجه نه دئ چې انکار ئې له هغه رب دئ چې دا ستر او پراخ عالَم ئې پيدا کړی او هر څه ئې د ده په واك کې دي؟! د ده دا مخالفت او انکار به څه ارزښت ولري؟! څنگه دا الله تعالی د انسان له بياپيدا کولو عاجز گڼي؟!! ورپسې آيت د دې مزيد وضاحت کوي او وايي: د انسانانو لومړی پيدايښت او د قيامت په ورځ پاڅون داسې دئ لکه د يوه نفس پيدايښت.

مَّا خَلۡقُكُمۡ وَلَا بَعۡثُكُمۡ إِلَّا كَنَفۡسٖ وَٰحِدَةٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾

ستاسو پيدايښت او پاڅون نه دئ مگر داسې لکه د يوه نفس، يقيناً چې الله ليدونکی اورېدونکی دئ.

(۲۸)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- د ټولو انسانانو لومړنی او ورځنی پيدايښت او د قيامت په ورځ د دوی پاڅون او بيارا ژوندي کول داسې دي لکه د يوه انسان پيدايښت او پاڅون، کوم ذات چې انسان ئې په لومړي ځل پيدا کړ بيا راپيدا کول ئې ورته ډېر آسان دئ.
- د آيت په پای کې د الله تعالی دوه صفات راغلي او ويل شوي: يقيناً چې الله (ليدونکی) (اورېدونکی) دئ. د دې فقرې ارتباط له مخکينۍ سره په دې توگه دئ:
- الله تعالی عليم (ډېر پوه) دئ، ډېر پوه ذات ته د کوم څه پيدايښت آسان دئ، هغه څوك د يوه څه له پيدا کولو عاجز وي چې لازم او اړين علم او پوهه ونه لري، الله تعالی

سميع (ښه اورېدونکی) دئ؛ د مخالفينو ټولې هغه وېناوې ئې اورېدلې دي چې د الله تعالی او آخرت په اړه ئې کړې دي، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخې ئې د هغوی په ځواب کې دا حکيمانه ارشادات او لارښوونې کړې دي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾

آيا نه ګورې چې الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي؛ او لمر او سپوږمۍ ئې داسې مسخر کړي چې هر يو ئې تر ټاکلې نېټې درومي او دا چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. دا له دې کبله چې همدا الله حق دئ او هغه څه چې له ده پرته ئې لمانځي (مرستې ته ئې بلي) باطل دي؛ او دا چې همدا الله ستر لوړ دئ.

(۲۹-۳۰)- په دې مبارکو آياتونو کې څو طبيعي ښکارندويو ته ګوته نيول شوې چې هره يوه ئې د يوه ستر حقيقت څرګندونه کوي، ته ګورې چې کله شپه وي او کله ورځ، کله شپه په ورځ کې ننوځي او کله ورځ په شپه کې، يوه خپل ځای ورو ورو بلې ته پرېږدي او بله ورو ورو وړاندې ځي او د هغې ځای نيسي، ته لمر او سپوږمۍ ګورې چې مسخر دي، هر يو ئې په خپل خپل مسير کې له کوم تغيير او انحراف پرته درومي، تګ ئې د ثابتې او نه بدلېدونکې نېټې مطابق، داسې چې ته د هغوی د تګ له مخې کولی شې په دقيقه توګه اوقات وټاکې، همدا راز ته ګورې چې دا زمکه او آسمان داسې جوړ شوي چې ستا لپاره ئې مناسب کارځی برابر کړی، ستا د ټولو هغو کارونو لپاره ټول مناسب شرائط مهيا شوي چې ته ئې کوې، دا ښيي چې ستا او د دې عالم پيدا کوونکی داسې ذات دئ چې هم ستا په اړه کامل علم لري او هم د ټول عالم په اړه، هر عقلمن انسان له دغو څرګندو ښکارندويو څو نتائج تر لاسه کوي: الله تعالی حق دئ او هغه څه چې له ده پرته ئې لمانځئ او مرستې ته ئې دربلئ باطل دي؛ او دا چې همدا الله ستر او لوړ دئ. آيا کېدی شي له دغو مشهودو واقعيتونو له دې پرته بله نتيجه تر لاسه کړو؟ آيا دا واقعيتونه په جګ ږغ نه وايي چې الله حق دئ او بل معبود نشته؟ آيا نه وايي چې د دې عالم پيدا کوونکی، ساتونکی او پالونکی ستر دئ او د لوړ عظمت خاوند؟

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَٰتِهِۦٓ إِنَّ فِى

ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣١﴾ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ
مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا
كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴿٣٢﴾

آيا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله له فضل سره په بحرونو کې خوځي، د دې لپاره چې ځيني خپل آيتونه دروښيي، يقيناً چې په دې کې هر صبر کوونکي شکور (بنده) ته ښرګندي نښې دي؛ او کله چې ئې څپې د چتر په څېر وپوښي، (څپې ئې احاطه کړي، نو هغه مهال) الله پداسي حال کې مرستي ته رابلي چې په دين کې ورته مخلص وي، خو چې کله ئې د وچې په لوري وژغوري (په نتيجه کې به ئې ګورې چې يوازي) د دوی ځيني مقتصد او منځ لاري وي؛ او زموږ له آيتونو انکار نه کوي مګر هر ناشکر عهد ماتوونکی.

---

(۳۱-۳۲)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

نه ګورئ چې الله تعالی تاسو ته داسي کشتۍ پيدا کړې چې په سمندر کې درومي او ستاسو ضروري تجارتي اموال له يوې سيمي بلي ته انتقالوي، په دې کې د الله تعالی د قدرت ګن شمېر ښرګند مظاهر زموږ په وړاندي ځلېږي. څوك چې د الله د نعمتونو قدر کوي، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال د صبر لار غوره کوي، هغوی ته په دې وينا کې ډېري نښې او لارښووني دي، دا بحرونه الله تعالی درته مسخر کړي، په دې عالم کې ئې داسي ضوابط او سنن وضع کړي چې ته له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړی شې، څوك چې د نعمتونو قدر پېژني او د منعم شکر په ځای کوي؛ هغوی ته په دې مقدمه کې يقينا ډېري ځلاندي نښې دي. او دا چې ګورئ کله کشتۍ په بحر کې له طوفانونو سره مخامخ او د بحر له څپو سره ټکر شي، خو الله جل شأنه ئې له خطره وژغوري او د نجات ساحل ته ئې ورسوي، په دې کې صبر کوونکو لره دا لارښوونه ده چې که دوی هم له داسي ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شي او صبر وکړي نو کشتۍ به ئې له څپو روغه تېرېږي او ساحل ته به رسېږي، خو تر ساحله پوري تر رسېدو له طوفانونو سره مخامخېدل شته او له موجونو او څپو سره ټکرونه په مخکي دي، پدې کې د هر شاکر او صابر بنده ته ډېري نښې دي.

د دې په مقابل کې د عجول، ناسپاس او بې عهده انسان وضع داسي وي چې له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په وخت کې الله تعالی ته پناه وړي، هغه ته دعا کوي، مرسته ترې غواړي، د اخلاص او مخلصانه بندګۍ ژمنه کوي، خو څو شېبې وروسته او کله چې د مصيبتونو او کړاوونو څپې تېري شي، له خطرونو وژغورل شي، ساحل ته ورسېږي، بيا نو خپلي ټولي ژمني هېري کړي، د الله تعالی د پېرزوينو ناشکري کوي!! د هر ناسپاس او بدعهد

انسان حال او كار داسي وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٣٣

اې خلكو! د خپل رب پروا وكړئ او له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه به كوم پلار د خپل زوی بدله وركولی شي او نه به كوم زوی د خپل پلار د څه بدلې وركوونكی وي، يقيناً چي د الله وعده حق ده، نو نه دي دنيايي ژوند تاسو دوكه كړي او نه دي غولوونكی (شيطان) تاسو د الله په اړه وغولوي.

(٣٣)- په دې مبارك آيت كي د قرآن مخاطبينو ته دا سپارښتني شوې:

- د خپل رب پروا وكړئ او له هغه څه ځان وساتئ چي ستاسو رب پرې ناراض كېږي.
- د قيامت له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه به كوم پلار كولی شي د خپل زوی بدله وركړي او له سزا ئې وژغوري او نه به كوم زوی د خپل پلار د څه بدلې وركوونكی وي.
- په دې كلك باور ولرئ چي د الله تعالی وعده حق او حتماً تر سره كېدونكې ده.
- دنيايي ژوند او د هغه لذتونه او مال متاع دي تاسو دوكه نه كړي.
- د خپل رب په اړه دي غولوونكی شيطان تاسو ونه وغولوي.

إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ غَدٗاۖ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرُۢ ٣٤

يقيناً چي (د قيامت) د نېټې علم له الله سره دئ، هغه باران وروي او په هغه څه علم لري چي د ميندو په رحم كي وي؛ او هيڅوك نه پوهېږي چي سبا به څه تر لاسه كړي؛ او نه پوهېږي چي په كومي زمكي كي به مري، يقيناً چي الله ښه باخبره پوه دئ.

(٣٤)- د دې مبارك آيت په ځلاندو لارښوونو د ښه پوهېدو لپاره لاندي خبري په پام كي ولرئ:

- دا مبارك آيت د دې سورې وروستی آيت او د ټولو مضامينو لپاره ئې يوه ښكلې تتمه او خلاصه ده.
- دلته د څو امورو علم الله تعالی ته مختص شوی:

الف- د قيامت وخت: قرآنكريم په متعددو آيتونو كې دا مطلب بيان او روښانه كړی چې له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي چې قيامت به كله راځي.
ب - د باران د ورېدو وخت او سيمه. چې پدې اړه بايد دوه ټكي په پام كې ولرو: ۱- د باران په اړه د انسان وړاندوينه په حدس او گمان ولاړه وي، د حدس (گمان) او علم تر منځ ژور توپير بايد هېر نه كړو، گمان ته علم ونه وايو، په هر حدس او گمان كې گڼ شمېر احتمالات وي؛ خو علم احتمالات يوې خوا ته بېدي او قاطع فيصله صادروي، په علم كې متعددو احتمالاتو ته ځای نه وي. ۲- كله چې مونږ د پرمختللو وسائلو په مرسته د بادونو سرعت او استقامت او د ورېځو حالت او كيفيت معلوموو او بيا په همدې اساس او د دغه معلومات په رڼا كې وايو چې په فلاني وخت او فلاني ځای كې د باران ورېدو احتمال شته، دا وړاندوينه كه هرڅومره دقيقه وي، د حدس او گمان له دائرې نشي وتی، انسان نشي كولی ټول هغه عوامل چې د ورېځو په جوړېدو، حركت او د باران، ږلۍ يا واورې په ورېدو كې لږ يا زيات ونډه او اغېز لري؛ درك او په دقيقه توگه ئې وپېژني او بيا د هغه په رڼا كې سل په سلو كې علمي وړاندوينه وكړي. هغه وړاندوينه چې په هغې كې د يوې ثانيې ۱/۱۰۰۰، يا د يوه مليمتر ۱/۱۰۰۰ د اشتباه احتمال وي دا په حدس او گمان ولاړه ده او نه ښايي هغه ته علم ووايو، ځكه په علم كې د اشتباه هيڅ احتمال نه وي. همدا ورېځ چې په خاص سرعت سره د خاص استقامت او سمت په لور روانه ده او هغه سړه وږمه چې د باران سبب كېږي، په څو كيلومترۍ كې ورته انتظار باسي، دا احتمال شته چې له يوه بل استقامت ديوه تېز باد په لگېدو سره خپله لاره بدله كړي او په بله خوا لاړه شي، د همدې ډول احتمالاتو د شته والي له امله د انسان وړاندويني ته علم نه شو ويلی، خو الله تعالی عالم الغيب دئ او په ټولو عواملو پوره علم لري.
ج - الله تعالی پدې پوره علم لري چې په رحم كې څه دي، پدې عالم دئ چې دا د مور په رحم كې نوی جوړ شوی ماشوم نېكمرغه دئ كه بدمرغه، ښكلی دئ كه بدرنگه، ذكي دئ كه غبي، هلك دئ كه نجلۍ، روغ دئ كه ناروغ، ځواكمن دئ كه كمزوری... الله پدې علم لري؛ خو انسان نه شي كولی د مور په گېډه كې د ماشوم د ټولو مواصفاتو په اړه علم ولري. دا چې اوس د اشعې په واسطه او په هغو پرمختللو وسائلو چې د رحم د بل لوري جدار ښكاره كوي، د نطفې د تأنيث او تذكير حالت معلومېدی شي، دا بايد د پورته ذكر شوي آيت منافي ونه بلل شي. پدې وسائلو سره په رحم كې د ماشوم په حالت خبرېدل داسي دي لكه چې د يوه دېوال شا ته د نصب شوې ويډيويي كامرې په واسطه هغه كسان ووينې چې د دېوال شاته ولاړ دي، ته ئې په خپلو سترگو نشې ليدلی خو د همدې كامرې په واسطه ئې وگورې او بيا ووايې چې هلته فلانی او فلانی ولاړ دي، آيا دېته علم غيب ويلی شو؟ هيڅكله نه، همدا راز كه د يوه قوي دوربين په ذريعه څو كيلومتره لرې چې هلته په سترگو څه نه شو ليدی، ته يو څوك په آس سپور وويني، بيا خپلو ملگرو ته ووايې چې اوس به فلانی زمونږ خوا ته راشي، آيا دا علم غيب دئ؟ نه، هيڅكله نه، علم غيب دا دئ چې ته بې له وسائلو

او ذرائعو او بې له دې چې په حواسو ئې درك کړې په پټو شيانو پوه او خبر شي.
دې ته مو پام وي چې که څه هم په سطحي نظر سره دا درې خبرې (قيامت، د باران ورېدا او دا چې د مور په رحم کې څه دي) بېل بېل موضوعات برېښي، خو حقيقت دا دئ چې دا خبرې په خپلو کې ژور تړاو لري، د قيامت يوه اساسي برخه د انسان بيا ژوندون دئ، د قيامت منکرين دا خبره نه مني چې انسانان به بېرته راژوندي کېږي، قرآن په وار وار دغو منکرينو ته ويلي: آيا هغه الله تعالی چې د يوه باران په ورولو سره مړه زمکه راژوندۍ کوي له دې عاجز ګڼئ چې انسان به د قيامت په ورځ بياژوندی کوي؟!! آيا هغه عليم خلاق چې له خاورې نطفه جوړوي او له دغې نطفې انسان پيدا کوي له دې عاجز ګڼې چې په خاورو بدل شوي انسانان بيا راژوندي کړي؟!
د - انسان په دقيقه توګه پدې نه پوهېږي چې سبا به څه کوي، سبا غائب دئ او څه چې سبا راتلونکي دي هغه له انسان پټ دي، هلته په مليونونو احتمالات شته، هيڅوك نه شي کولی په دقيقه توګه په دې پوه شي چې سبا به په څه حالت کې وي او څه به کوي؟ ستا تصميم صرف يو احتمال کېدی شي، له ډېرو او بې شمېره احتمالاتو يو احتمال، کولی شې ګمان وکړې، ممکنه ده ګمان او تخمين دې واقعيت ته ډېر نژدې وي، خو دانشې کولی په هغه څه دقيقاً او په يقيني توګه پوه شې چې سبا پېښېدونکي دي، نشې کولی په هغه څه چې سبا به ئې کوې بشپړ علم ولرې.
هـ - هيڅوك پدې نه پوهېږي چې چېرې به مري، څه وخت به د مرګ قاصد ورته راځي او په کوم ځای او کوم حالت کې به د روح امانت خپل مالك ته سپاري.
د آيت په پای کې ويل شوي: يقيناً چې الله ښه باخبر پوه دئ. دا فقره هم د آيت له لومړۍ برخې سره ژور تړاو لري او هم له دوهمې برخې سره، له لومړۍ برخې سره ئې تړاو ډېر څرګند دئ، خو له دوهمې برخې سره ئې تړاو داسې دئ: د انسان په اړه د الله تعالی دا وينا چې هغه نه پوهېږي سبا به څه کوي او نه پوهېږي چې چېرې به مري؛ د هغه علم او پوهې له مخې کوي چې د انسان په اړه ئې لري، دا د عليم او خبير خدای وينا ده چې هيڅوك نه د سبا ورځې له پېښو خبرېږي او نه دا چې کله، څنګه او چېرې به مري. که څوك د خپل ځان په اړه خبر نه وي نو د بل چا د مړيني د ځای، وخت او څرنګوالي په اړه پوهېدا خو لا زيات ورته محال او ناممکنه ده، څوك چې په دې آيت ايمان لري هيڅکله به داسې خبره په خوله رانه وړي چې کوم انسان ته د بل د مړيني د وخت، ځای او څرنګوالي په اړه د پوهې نسبت وکړي، صحابه نه پوهېدل چې پيغمبر عليه السلام به کله رحلت کوي، د رحلت په ورځ ئې صحت نسبتاً ښه شو، د ماښځه په مهال ئې له دروازې جومات ته وکتل او تبسم ئې وکړ، ټول صحابه خوشحال شول چې هغه روغ شوی، ابوبکر رضی الله عنه له همدې کبله هغه شپه له مدينې بهر د خپلې يوې مېرمنې کره ولاړ، ناڅاپي ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د رحلت خبر واورېد او بېرته په تلوار مدينې ته راستون شو، عمر رضی الله عنه جلالي شوی وو او ويل ئې چې په خدای قسم محمد عليه السلام نه دئ وفات

شوی، ... كه د ابوبكر او عمر رضی الله عنهما په څېر جليل القدره صحابه له دې غيبه خبر نه ول بل څوك به څنگه پرې پوهېږي؟!! په قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې ټول هغه روايات يوې خوا ته لرې کېږدو چې له دې پرېکنده او صريح آيت سره تعارض لري. مخصوصاً هغه چې ډېر غريب وي.

د دې مبارك آيت په ارتباط يو روايت لرو چې داسې دئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ". (بخاري:١٠٣٩)

له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (د غيب کلياني پنځه دي چې له الله تعالی پرته هيڅوک پرې نه پوهېږي، هيڅوک نه پوهېږي چې سبا به څه کېږي، هيڅوک نه پوهېږي چې د مور په رحم کې څه دي، هيڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه کوي، هيڅوک پدې نه پوهېږي چې چېرې به مري او هيڅوک پدې نه پوهېږي چې کله به باران ورېږي).

دا روايت په بخاري کې څلور ځلې نور هم په دغو شمېرو راغلی: ٤٦٢٧، ٤٦٩٧، ٤٧٧٨، ٧٣٧٩، د دغو پنځو رواياتو تر منځ دا توپيرونه تر سترگو کېږي: په يوه کې مِفْتَاحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ الله، په بل کې مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ ( إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ....، په يوه کې لاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى غَدٍ، وَلاَ يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا يَكُونُ فِى الأَرْحَامِ، وَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَمَا يَدْرِى أَحَدٌ مَتَى يَجِىءُ الْمَطَرُ، په بل کې إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ، وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، وَيَعْلَمُ مَا فِى الأَرْحَامِ، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا، وَمَا تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، إِنَّ الله عَلِيمٌ خَبِيرٌ، په بل کې لاَ يَعْلَمُ مَا فِى غَدٍ إِلاَّ الله، وَلاَ يَعْلَمُ مَا تَغِيضُ الأَرْحَامُ إِلاَّ الله وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى يَأْتِى الْمَطَرُ أَحَدٌ إِلاَّ الله، وَلاَ تَدْرِى نَفْسٌ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ، وَلاَ يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلاَّ الله راغلي.

د دې رواياتو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دا روايات د لقمان د سورې د ٣٤ آيت شرح او تفسير زموږ په وړاندې ږدي چې وايي په پنځو شيانو له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي.
- هيڅوك نه پوهېږي چې قيامت به کله وي، څوك چې په دې اړه وړاندويني کوي دروغ وايي، د قيامت د راتلو په نېټې يوازې هغه ذات پوهېږي چې د ټول عالم، زمکې او آسمانونو، ستورو او ستور ليکو په اړه علم لري، دا ځکه چې قيامت په دې ټولو پورې تړلې پېښه ده.

د باران په اړه وړاندويني يا تخميني دي يا د هغه معلومات له مخې دي چې د ورېځو د حرکت سمت او سرعت ته په پام سره په تخميني توگه وايي چې دغه ورېځ اوس په دې

سيمي باران وروي، سرعت ئې دومره دئ، په هغه لوري روانه ده، فلان ځای ته به په فلان ساعت کې ورسېږي او هلته به باران ووروي، خو دا وړاند وينې تخميني دي، کېدی شي ناڅاپي له بل لوري تيز باد راشي او د وربڅې لوری او سرعت بدل کړي.

د مور په رحم کې د پرمخ تللو وسائلو په مرسته دا معلومېدی شي چې ماشوم هلك دئ که نجلۍ، روغ دئ که ناقص الاعضاء، خو د وسائلو په مرسته د څه ليدل په غيب د پوهېدا په معنی نه شو تعبيرولی، دې ته مو بايد پام وي چې په آيت کې داسي نه دي ويل شوي چې هيڅوك نه پوهېږي د مور په رحم کې هلك دئ که نجلۍ، بلکې داسي صيغه کارول شوې چې د ماشوم ټولي ځانګړتياوي احتوی کوي او يقيناً چې په ټولو له الله تعالی پرته هيڅوك د هيڅ وسيلې په مرسته نشي پوهېدی. څوك دا ويلی شي چې دا ماشوم به څنګه انسان وي، ښه که بد، صالح که طالح؟!

هيڅوك په يقيني توګه نشي ويلی چې سبا به له کوم برخليك سره مخامخ کېږي. په دې اړه ئې هر تصميم تخميني او احتمالي وي.

هيڅوك نه پوهېږي چې کله او چېري به مري، نه د ځان په اړه وړاندوينه کولی شي او نه د بل په اړه، نه ډاکټر په يقيني توګه وړاندوينه کولی شي، نه فرشتې پوهېږي، نه پيغمبران عليهم السلام او نه اولياء الله، چا چې داسي وړاندوينه وکړه دروغ وايي او چا چې له الله تعالی پرته بل چا ته د دې علم منسوب کړ دروغ ئې ويلي.

ځيني ټګماران د خلکو د غولولو لپاره وايي چې دلته الله تعالی د مفتاح او کيلي يادونه کړې؛ او ګواکې د دې معنی دا ده چې الله تعالی ځينو ته په دغو خبرو د پوهېدا مفتاح او کيلي ورکوي نو څکه پرې پوهېدی شي!! حال دا چې د مفتاح يادونه د دې لپاره شوې چې تا ته ووايي: د دغو امورو علم په داسي ځای کې دئ چې دروازې ته ئې قفل (کولپ) اچول شوی، په ډاګ پرته خزانه نه ده، کيلياني ئې له الله تعالی سره دي، هيڅوك ورننوتی نه شي او پرې پوهېدی نشي.

دا ضروري برېښي چې دلته د بخاري هغه روايت هم وڅېړو چې د عمار رضی الله عنه د شهادت په اړه راغلی؛ او ګواکې رسول الله صلی الله عليه و سلم دا وړاندوينه کړې وه چې دی به د يوې باغي ډلي له لوري شهيد شي،؛روايت دا دئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدری رضی الله عنه: أَنَّهُ كَان يُحَدِّث يَوْماً حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: كُنَّا نَحْمِلُ لَبِنَةً لَبِنَةً، وَعَمَّارٌ لَبِنَتَيْنِ لَبِنَتَيْنِ، فَرَآهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، وَيَقُولُ: "وَيْحَ عَمَّارٍ تَقْتُلُهُ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ"قَالَ: يَقُولُ عَمَّارٌ: أَعُوذُ بِالله مِنَ الْفِتَنِ. (بخاری:٤٤٧)

له ابو سعيد خدري رضی الله عنه روايت دئ چې هغه يوه ورځ خبري کولې، تر دې چې د نبوي جومات د جوړېدو د يادوني وار راغی، نو وئې ويل: موږ به يوه، يوه خښته راوړله او

عمار رضی الله عنه به دوه، دوه خښتې راوړلې، رسول الله صلی الله علیه و سلم ولید، نو په داسي حال کي چي خاوري ئې ترې څنډلې وئې فرمایل: (افسوس د عمار په حال! یوه باغي ډله به ئې ووژني، دی به هغوی د جنت لوري ته رابولي او دوی به ئې دوزخ ته بولي).
ابو سعید وايي: عمار رضی الله عنه به ویل: له فتنو خدای تعالی ته پناه وړم.

دا روایت په بخاري کي دوه ځلي راغلی؛ له دې توپیرونو سره: په یوه کي فَانْطَلَقْنَا فَإِذَا هُوَ فِي حَائِطٍ يُصْلِحُهُ، په بل کي فَأَتَيْنَاهُ وَهُوَ وَأَخُوهُ فِي حَائِطٍ لَهُمَا يَسْقِيَانِهِ، په یوه کي فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَاحْتَبَى، ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، په بل کي فَلَمَّا رَآنَا جَاءَ فَاحْتَبَى وَجَلَسَ، په یوه کي فَرَآهُ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، په بل کي فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم وَمَسَحَ عَنْ رَأْسِهِ الْغُبَارَ، په یوه کي عَمَّارٌ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللهِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ، په بل کي يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ، وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ راغلي.

دا روایت د سند له مخي تر ټولو زیات غریب دئ، په صحاح سته کي یوازي بخاري او النسائي راوړی، د احادیثو په ځینو نورو کتابونو کي هم راغلی، په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کي یو یو راوي لري، د متن په اړه ئې څو خبري په پام کي ولرئ:

- قرآن په ډېر قاطع؛ او واضح توګه وايي چي هیڅوك نه پوهېږي، کله او چېري به مري، که څوك د خپل مرګ د وخت او ځای په اړه نه پوهېږي نو د بل په اړه خو په هیڅ توګه نشي پوهېدی.
- که د عمار رضی الله عنه په اړه دا خبره شوې وی نو ډېر صحابه به ترې خبر شوي وو او هیڅوا به د هغي ډلې په خلاف په جنګ کي د برخي اخیستو جرأت نه وو کړی چي عمار رضی الله عنه ئې یو جنګیالی وو.
- د معاویه او علي رضی الله عنهما د پلویانو تر منځ د نښتو په اړه قضاوت باید د داسي روایاتو له مخي ونه شي، داسي روایات ډېر جوړ شوي او په ډېره آسانۍ د یوه او بل په ګټه توجیه کېدی شي، د همدغه پورتني روایت په اړه راغلي چي هري ډلې بله د عمار رضی الله عنه په قتل تورنوله، یوې ویل چي اصلي قاتلان ئې هغه دي چي عمار رضی الله عنه ئې جنګ ته راوستی وو او د وژلو باعث ئې شول او بلي ډلي ویل چي قاتل ئې مقابل لوری دئ!! په دې اړه باید د نورو حقائقو له مخي دا پرېکړه وشي چي کوم لوری په حقه وو. په دې کي هیڅ شك نشته چي علي رضی الله عنه د مسلمانانو شرعي امیر وو، د مسلمانانو د شرعي بیعت له مخي امیر ټاکل شوی وو، د عثمان رضی الله عنه د قاتلانو عدم محاکمه د دې مجوز نه وو چي څوك د ده په ضد وسله واخلي او مسلحانه پاڅون وکړي، په دې کي هم هیڅ شك نشته چي د دوی تر منځ نښته د عبدالله بن سبا او د هغه د پلویانو د شرارتونو نتیجه وه، هغوی عثمان رضی الله عنه شهید کړ، علي رضی الله عنه ئې دې ته اړ کړ چي د خلافت مرکز له مدینې کوفې ته انتقال کړي، چي دا یوه ستره دردوونکې پېښه وه، دوی باعث شول چي علي رضی الله عنه د قاتلانو له محاکمې ډډه وکړي، دوی د هغي جګړي اور

بل کړ، همدغو علي رضی الله عنه او بیا حسین رضی الله عنه شهیدان کړل او همدغو د شیعه وو د رافضي او شرکي مذهب بنسټ کېښود.

یادونه: عمار رضی الله عنه وروسته د علي رضی الله عنه د خلافت په دوران کي د علي رضی الله عنه په پلوی کي په شهادت ورسېد.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# السجده

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (السجده) دئ، دا نوم د همدې سورې له پنځلسم آیت اخیستل شوی، دېرش آیتونه لري، د لږو آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (العالمین) ته او د اکثرو ئې د درېیم آیت (یهتدون) ته ورته دي، څو آیتونه ئې د (الرحیم او اسرائیل) په صیغو پای ته رسېدلې چي وزن ئې (العالمین) ته نژدې دئ، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکي دور په منځنیو کلونو کي نازل شوي. د سورې مضامینو ته په پام سره معلومېږي چي دا سوره د عنکبوت تر سورې وړاندي نازله شوې.

لکه څنگه چي دا سوره په دریو مقطعاتو حروفو (الف، لام، میم) پیل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي، دا درې اساسي مضامین په داسي توگه په دې سورې کي راغلي لکه چي په همدغو حروفو پیل شوو نورو سورتونو کي راغلي، یو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې په آخري دریو آیتونو کي چي داسي سره تړلي دي لکه چي درې واړه یوآیت وي او په گډه یو مضمون وړاندي کوي، د دې سورې آخري آیتونه دا دي:

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ ٱلْفَتْحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟
إِيمَٰنُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَٱنتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

او وایي: که رښتیني یئ دا فتح به کله وي؟ ووایه: د فتحې په دې ورځ به هغو ته د دوی ایمان گټه ونه رسوي چي کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي، نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چي دوی هم منتظر دي).

دا درې آیتونه د دې سورې د دریو اساسي مضامینو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړی آیت وایي: کافران رسول الله صلی الله علیه و سلم او مسلمانان په خپلو خبرو کي رښتیني نه گڼي، نه په دې باور کوي چي قیامت به راشي او د الله تعالی له محاسبې سره به مخامخ شي او نه په دې چي الله تعالی به حق او حقپال پر باطل او د باطل پر پلویانو برلاسي کوي.

تاسو به وګورئ چې د سورې لومړۍ برخه په همدې اړه بحث کوي، په لومړنيو آيتونو کې
ويل شوي چې دا قرآن د رب العالمين له لوري لېږل شوی، ويناوې ئې روښتينې، قطعي او کره
دي، د شك مجال په کې نشته، دا رسول الله صلی الله عليه و سلم له ځانه نه دئ جوړ کړی،
د هغه الله تعالی له لوري ده ته ورکړی شوی چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې
پيدا کړل، د ټول عالم ټولې چارې د ده په واك کې دي، له ده پرته نه کوم مولا لرئ او نه کوم
شفيع، هغه چې د عالم د چارو سمبالولو لپاره ئې داسې فرشتې ګمارلې دي چې اوږدمهاله
منصوبې ورسپارل کېږي او د خپل مأموريت په پای کې د خپل رب لوري ته ستنېږي او نوې
مأموريتونه ورسپارل کېږي. هغه چې هر څه ئې ښه، ښکلي او په خپل حد کې بشپړ پيدا
کړي، انسان ئې له خټې پيدا کړ او د نسل دوام ئې له داسې اوبو چې ده ته سپکې برېښي،
بيا ئې ده ته روح ورکړه او غوږونه، سترګې او زړه ئې ورکړل، دا ولې د انسان بيا پيدايښت
تاسو ته ګران او محال برېښي؟! مګر هره شبېه له خاوري د ژوو د پيدايښت شاهد نه يئ؟!
بيا د قيامت په ورځ د هغو حالت انځور شوی چې د دې ورځې راتګ ورته محال برېښېدو؛
او په څنګ کې ئې هغه وګړي معرفي شوي او ځانګړتياوې ئې ښودل شوې چې په دې ورځې
ايمان لري، ويل شوي چې په دې ورځ به د يوې ډلې مېشت ځی دوزخ او د بلې جنت وي،
بيا ويل شوي چې دغو منکرينو ته به حتماً د قيامت د ورځې تر لوی عذاب وړاندې د دنيا
د لنډ عذاب خوند وروڅکو، له دوی سره به همغه څه کېږي چې له فرعون او فرعونيانو
سره وشول؛ او مؤمنانان به له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چې موسی عليه السلام او د
ده مؤمن پلويان ورسره مخامخ شول، د ايمان او صبر په نتيجه کې هغه لوړ مقام ته ورسېدل
چې د نړۍ والو قيادت او زعامت د دوی په برخه شو. د تاريخ په اوږدو کې تل او يو په بل
پسې د سترو سترو مجرمينو مؤاخذه او په سخت الهي عذاب د دوی اخته کېدل ښيي چې
الله تعالی حتماً له مجرمينو انتقام اخيستونکی دئ، سپېره ډاګونه او شاړې زمکې په يوه باران
سره شېرازه کول ښيي چې الله تعالی به جهل ځپلې او شرك وهلې ټولنې چې شاړې زمکې او
سپېره ډاګ ته ورته وي؛ د خپل فضل او لطف په باران، د وحي نزول او د پيغمبر په بعثت
سره شېرازه کوي، نوی نسل، له نويو او غوړېدلو افکارو او غوره اخلاقو سره به په کې راپيدا
کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ
بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ

يَهۡتَدُونَ ۝٣

الف، لام، ميم، په دې کې کوم شك نشته چې د دې کتاب لېږنه د رب العالمين له لوري ده، آيا وايي: ده (له ځانه) افتراء کړی؟ داسي نه ده؛ بلکې هغه په رښتيني توگه ستا د رب له لوري دئ، د دې لپاره چې هغه وگړي (پرې) انذار کړې چې تر تا وړاندي کوم نذير نه وو ورغلی، هيله ده چې هدايت به شي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آيتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندي خبري په پام کې ولرو: لکه څنگه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (الف، لام، ميم) پيل شوې؛ د دې سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، دا درې اساسي مضامين په داسي توگه په دې سورې کې راغلي لکه چې په همدغو حروفو پيل شوو نورو سورتونو کې راغلي، يو په بل پسي او خلاصه ئې د سورې د پای په آيتونو کې، د دې سورې آخري آيتونه دا دي:

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٢٨ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ۝٢٩ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ۝٣٠

او وايي: که رښتيني يئ دا فتح به کله وي؟ ووايه: د فتحي په دې ورځ به هغو ته د دوی ايمان گټه ونه رسوي چې کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي، نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي). دا درې آيتونه د دې سورې د دريو اساسي مضامينو لپاره د عنوانونو په څېر دي، لومړی آيت وايي: کافران رسول الله صلى الله عليه و سلم او مسلمانان په خپلو خبرو کې رښتيني نه گڼي، نه په دې باور کوي چې قيامت به راشي او د الله تعالی له محاسبې سره به مخامخ شي او نه په دې چې الله تعالی به حق او حقپال پر باطل او د باطل پر پلويانو برلاسي کړي. تاسو به وگورئ چې تر څوارلسم آيت پوري په همدې لومړۍ موضوع بحث شوی، ورپسې د دوو هغو ډلو او د هغوی د مواصفاتو په اړه بحث شوی چې ايمان راوړي او هغه چې ايمان نه راوړي، د دوی دواړو د تگلارو پايلي انځور شوې او د موسی عليه السلام قصه د يوې تاريخي بېلگي په توگه وړاندي شوې.

دلته ويل شوي چې په دې کې هيڅ شك نشته چې د دغه کتاب لېږنه د رب العالمين له لوري ده. دا کتاب په خپله شهادت ورکوي چې لېږونکی ئې د عالمونو له رب پرته بل څوك نشي کېدی، که څوك په شفاف ذهن، صفا زړه، له عناد او تعصب لري، د حق او حقيقت په لټه کې دې کتاب ته رجوع وکړي، نو ډېر ژر به پر دې پوه شي چې واقعاً او له شك پرته دا کتاب هغه الله رالېږلی چې د دې ټول عالم رب، پيداکوونکی، ساتونکی او پالونکی دئ، هغه ذات چې د ټول عالم په اړه وسيع علم لري، دا ځکه چې ده پيدا کړي، د هر څه پالنه او روزنه کوي، همغه الله دا کتاب رالېږلی، په دې کتاب کې د رب العالمين د پراخ علم آثار او مظاهر د هر مخاطب په وړاندي ځلېږي؛ او په دې ئې متيقن کوي چې رالېږونکی ئې رب

العالمین دئ.

همدا راز دلته ویل شوي چي د هغو مخالفینو دا ادعاء بې بنسټه ده چي وايي: دا کتاب رسول الله صلی الله علیه و سلم له ځانه افتراء کړی!! داسي نه ده؛ بلکي هغه په رښتیني توګه ستا د رب له لوري دئ، د دې لپاره چي هغه وګړي پرې انذار کړې چي تر تا وړاندي کوم نذیر نه وو ورغلی، هیله ده چي هدایت به شي. دلته په ضمني توګه د مخالفینو د معاندانه دریځ دوه اساسي وجوهات په ګوته شوي: د دوی د مخالفت یوه وجه دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوه نذیر په توګه لېږل شوی، دوی د خپلو تګلارو له بدو پایلو وېروي؛ او دا دغو مغرورو مخالفینو ته د منلو وړ نه ده چي څوك ئې پرکړنو اعتراض وکړي، د دوی سیاسي، اجتماعي او اقتصادي برلاسي وګواښي او پایلي ئې بدي وګڼي، دوهمه وجه ئې دا ده چي په دوی کې تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وړاندي بل پیغمبر نه وو مبعوث شوی، دا ئې نوې پېښه ګڼله، ویل ئې الله تعالی به څنګه یو انسان د پیغمبر په توګه غوره کوي، ولې تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وړاندي زموږ په قوم کې داسي پیغمبر نه وو مبعوث شوی؟! د دوی په ځواب کې ویل شوي: مګر تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وړاندي موسی علیه السلام نه وو لېږل شوی؟ مګر د موسی علیه السلام تر مشرۍ لاندي بني اسرائیلو ته دا اعزاز او افتخار ورپه برخه نه شو چي الله تعالی د نړۍ د نورو ولسونو لپاره لارښود کړ او له معنوي، فکري او اخلاقي پلوه ئې د نړۍ والو لپاره اسوه او بېلګه وګرځاوو.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا شَفِيعٍۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾

الله همغه (ذات) دئ چي آسمانونه، زمکه او هر څه چي په دوی کې دي په شپږو ورځو کې ئې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، له ده پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم شفاعت کوونکی، نو آیا پند نه اخلئ؟!

(٤)- په دې مبارك آیت کې څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي:

دا قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چي آسمانونه، زمکه او هر څه چي په دوی کې دي؛ په شپږو ورځو کې ئې پیدا کړل، نه یوازي دا چي د ټول عالم خالق دئ بلکي د عالم د ټولو چارو واګي هم عملاً او مخامخ د ده په واك کې دي، هغه د ټول عالم واکمن او مالك دئ او د دې عالم د واکمنۍ پر هغه عرش ئې استوی کړې چي ټول کائنات ترې لاندي دئ، له ده پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم شفاعت کوونکی. په ټول عالم کې داسي څوك نه مومئ چي د عالم د چارو په سمبالولو کې له الله تعالی سره شریك وي، د کوم څه د ورکړي، د کوم حالت د بدلولو، د رڼا راوستو، د تیارې ختمولو، د مصیبت دفع کولو، باران ورولو، د دانې او مېوې راټوکولو کې څه ونډه ولري او څه اختیار ورسره وي، نو آیا پند نه اخلئ؟!

دلته ویل شوي چې الله تعالی د مخلوقاتو له پیدا کولو وروسته پر عرش استوی وکړه، په ورپسې آیت کې ویل شوي چې (یدبر الامر: کارونه سمبالوي)، همدا د استوی علی العرش تفسیر او تشریح ده، یعني د استوی علی العرش معنی دا ده چې الله تعالی د دې عالم ټولواك دئ، دلته د ده حکم حاکم دئ، د عالم هر څه اداره کوي، د عالم د چارو تدبیر د ده په واك کې دئ.

همدا راز دلته ویل شوي چې له ده پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم شفاعت کوونکی، یعني د داسې چا لټه مه کوئ چې د الله تعالی په وړاندې به ستاسو شفاعت وکولی شي او د هغه مرسته او خواخوږي به تاسو ته کومه ګټه ورسولی شي، داسې څوك نشئ موندلی.

د آیت په پای کې ویل شوي: نو آیا پند نه اخلئ؟! یعني: آیا د پند اخیستو لپاره همدا مقدمه او همدا دلائل کفایت نه کوي؟

يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٥ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٦ ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ۝٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ۝٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ۝٩

له آسمانه تر زمکې پورې (اوامر لېږي چې پرې) چارې سمبالوي، بیا په داسې ورځ کې د ده لوري ته بر درومي چې مقدار ئې د هغو زرو کلونو په اندازه دئ چې تاسو ئې شمېرئ. همدا په پټ او ښکاره پوه مهربان عزتمن دئ، همغه چې هر هغه څه ئې ښکلی جوړ کړی چې ده پیدا کړی؛ او د انسان پیدایښت ئې له خټې پیل کړ، بیا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له خلاصې وګرځاوو، بیا ئې برابر کړ او خپله روح ئې په کې پو کړه؛ او تاسو ته ئې غوږونه، سترګې او زړونه جوړ کړل، لږ دئ هغه شکر چې تاسو ئې کوئ!

(۵-۹)- د دې مبارکو آیتونو په ارتباط باید لاندې ټکې په پام کې ولرو:

په پنځم آیت کې د (استوی علی العرش: پر عرش برابریدو) معنی او حقیقت توضیح شوی، یعني پر عرش د استوی معنی او شرح دا ده چې الله تعالی د عالم چارې سمبالوي، د عالم د ټولو امورو تدبیر د ده په واك کې دئ. د زمکې چارې د هغو اوامرو مطابق تر سره کېږي چې الله تعالی ئې له آسمانه د زمکې په لوري لېږي. دلته ویل شوي چې د دغو اوامرو

پلي کوونکې فرشتې په داسې ورځ کې د ده لوري ته بېرته بر درومي چې مقدار ئې د هغو زرو کلونو په اندازه دئ چې تاسو ئې شمېرئ. يعني دوی ته زر کلنه منصوبه سپارل کېږي، د ځمکې په لوري لېږل کېږي او د خپل مأموريت له بشپړولو وروسته بېرته د خپل رب په لوري درومي. د المعارج په سورې کې ويل شوي: تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ٤ : فرشتې او روح د ده لوري ته بر درومي؛ په داسې يوې ورځ کې چې مقدار ئې پنځوس زره کالونه دئ. يعني فرشتې او د دوی سالار او سردار جبرئيل عليه السلام چې د روح او ژوند متعلق چارې ورسپارل شوې، د لوړ تلو لپاره ځانګړی او خاص مَعْرَجْ لري، پنځوس زره کلنه منصوبه ورسپارل کېږي، د خپل مأموريت په پای کې لوړ درومي او د الله تعالی په حضور مشرف کېږي، د دې لپاره چې د مخکينيو مأموريتونو معلومات وړاندې او نوې دندې په غاړه واخلي، يعني دلته هر کار د دقيقې او اوږدمهالې منصوبې له مخې په خپل خپل وخت تر سره کېږي، د قيامت منکران هسې تلوار او عجله کوي او د الهي عذاب د فوري راتلو غوښتنه کوي. له دې معلومېږي چې دا منصوبې کله لنډمهالې او کله اوږدمهالې وي، د حالت او موضوع له مخې ئې موده تغيير کوي.

هغه ذات چې تاسو ئې د پيدايښت، پالنې، ساتنې، ټولواکۍ، حاکميت، سلطې او ادارې آثار تل او هر لوري ته ګورئ، هغه الله تعالی دئ چې په پټ او ښکاره پوه او مهربان عزتمن دئ.

دلته ويل شوي چې الله تعالی همغه ذات دئ چې څه ئې پيدا کړي نو په خپل خپل حد کې ئې ښکلی او بشپړ جوړ کړی، يعني په مخلوقاتو کې ئې نقص او عيب نشته. په دې اړه پوښتنه راولاړېږي چې د مخلوقاتو په يوه نوع کې کله کله د داسې ژوو شاهد يو چې د خپلو نورو همنوعو په پرتله نقص او عيب لري، لکه دا چې ړوند، کوڼ، ګونګ، کمزوری او بيمار وي، دا استثنائي حالت به د دې آيت په رڼا کې څنګه توجيه کوو؟! د دې پوښتنې لومړی ځواب دا دئ: تل د يوه شي د ځرنګوالي په اړه د اکثريت له مخې حکم او قضاوت کېدی شي، که اکثريت ئې ښه وي نو د ښو حکم پرې کوو، استثنائي حالت په ځانګړې توګه هغه مهال چې دا استثناء په سلو کې يو او تر دې هم لږ احتوی کوي نه محاسبه کوو او د اعتناء وړ ئې نه ګڼو، دوهم ځواب دا دئ: دا استثنائي حالت داسې دئ لکه چې حامله مور د بيمارۍ، لوږې، له لوړې راپېښوتو او نورو عواملو له کبله بيمار، کمزوری او ناقص اولاد وزېږوي، د دې نقص اعتراض هغه ذات ته نشي راجع کېدی چې د انسان د پېدايښت په اړه ئې دقيقه، جامع او کامله منصوبه وضع کړې، درېيم ځواب دا دئ چې ړوند د سترګه ور په پرتله ناقص ګڼو حال دا چې هغه په خپل حد کې يو بشپړ مخلوق دئ، يو حس ئې تر نورو کم دئ خو کېدی شي په خپلو نورو حواسو کې تر سترګه ورو ډېر وړاندې وي، د دې حس په بدل کې د ده نورو حواسو ته پياوړتيا ورپه برخه شوې وي. معمولاً ګورو چې ړانده همداسې وي، يا ډېره پياوړې حافظه ورکړی شوې وي يا ئې د غوږونو او لامسې حس ډېر قوي وي. دا راته مناسب برېښي چې دا مطلب د يوې قصې په ترڅ کې لا زيات واضح کړم: زموږ په

کلي کې یوه مدرسه وه، معمولاً به هغو کسانو د قرآن حفظ ته ملا تړله چې ړانده به ول، د دې عمومیت دومره وو چې هر ړوند طالب به د قاري او حافظ په نامه یادېدو، په دې مدرسې کې د سکندر په نامه یو قاري وو، په دې مشهور وو چې هر څوك به ئې له غږ علاوه د لاس له پوستکي پېژندو، زما له شهید ورور اختر محمد سره ئې ملګرتیا وه، څه موده وروسته بلې مدرسې ته ولاړ، څو کاله پرې تېر شول، یوه ورځ چې د بوې ورا په ضمن کې له چهاردرې امام صاحب ته راتلو، موټر مو د یوه کلي خوا ته ودرېدو، دلته د سړك خوا ته یوه مدرسه وه، موږ تېر ماښام دې ځای ته رسېدلي وو، زما ورور تږی شوی وو، د اوبو لپاره مدرسې ته ورغی، همغه قاري ئې تر سترګو شو، ورو ورو وروړاندې شو او تر شا ئې د هغه پر سترګو لاس کېښود، هغه ئې د لاس په شا خپل لاس راکش کړ، له لږ ځنډ وروسته ئې وویل: اختر محمد یې؟! زما ورور ته دا ډېره حیرانوونکې وه چې څنګه ئې له دومره کلونو تېرېدو وروسته دی د لاس له پوستکي وپېژندو، له دومره مودې تېرېدو وروسته خو اکثراً په سترګو لیدلی کس هم له انسانه هېر شي او په پېژندو کې ئې اشتباه وکړي، په ځانګړې توګه د شپې له لوري. او د دې ځلورم ځواب دا دئ چې که الله تعالی داسې ناقص الاعضاء مخلوقات نه وی پیدا کړي نو هیڅوك به د بشپړ او کامل مخلوق په څرنګوالي او اهمیت نه پوهېدو.

دلته ویل شوي چې الله تعالی د انسان پیدایښت له ختې پیل کړ، بیا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له خلاصې وګرځاوو، بیا ئې برابر کړ او خپله روح ئې په کې پو کړه. په دې سره له یوې خوا د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، د زمکې پر سر د انسان او ټولو نورو ژوو پیدایښت هغه مهال پیل شو چې په زمکې کې لومړی خاوره او بیا خټه پیدا شوه، دا خټه ورسته، توره او بوی ناکه شوه؛ او په دې توګه د ژوو د پیدایښت لپاره مناسب او ضروري شرائط برابر شول. بیا د انسان د نسل دوام ئې د داسې اوبو (مني) له خلاصې وګرځاوو چې انسان ته سپکې برېښي او ترې کرکه لري. د ده لومړی نطفه یو داسې بشپړ انسان نه وي چې ورو ورو وده کوي، بلکې یوه وړه نطفه وي چې ورو ورو تکمیل کېږي او له څه مودې وروسته د یوه مکمل انسان صورت غوره کړي او د بېلو بېلو غړو او اعضاء خاوند شي، الله تعالی د ده په کالبوت کې په یوې خاصې مرحلې کې خپله روح پو کړي او د یوه ژوندي مخلوق بڼه غوره کړي، د دې معنی دا ده چې انسان او هر ژوی دوه برخې لري: کالبوت او روح، لومړی ئې کالبوت جوړ شي، بیا روح ورکړی شي او بیا یو بشپړ ژوی ترې جوړ شي. دا داسې وګڼئ لکه یو کمپیوټر چې د هارډ ویر او سافټ ویر په نامه دوې برخې لري، یو ئې د کمپیوټر ټولې پرزې احتوی کوي او بل ئې هغه پروګرامونه چې په کمپیوټر کې نصب کېږي، که دا پروګرامونه نه وي نو کمپیوټر هیڅ کار نشي کولی، که څه هم ټولې پرزې ئې بشپړې وي، کله چې په کمپیوټر کې د مثال په توګه د تفسیر کوم پروګرام او اړوند پروګرامونه ئې نصب شي نو له دې وروسته کولی شو د خپل کمپیوټر له لارې د هر آیت تفسیر ولولو. یا کله چې په کمپیوټر کې د ریاضي اړوند پروګرام نصب شي کولی شو د ریاضي ټول عملیات د

خپل کمپیوټر له لاري اجراء کړو.

د دې آیت او ځینو نورو له وینا معلومېږي چي لومړی د انسان غوړونه، بیا سترګي او بیا ژړه جوړ شي. دلته دا خبره غور غواړي: د غوړونو یادونه ئې تر سترګو او زړونو وړاندي کړې، دا ولې؟ آیا غوړونه تر سترګو او زړونو وړاندي جوړېږي؟ راشئ د دې ځواب له ساینسپوهانو او هغو ډاکټرانو وغواړو چي د ماشوم د پیدایښت د څرنګوالي په اړه ئې ژوري څېړني کړې دي او کلونه کلونه ئې د پرمختللو وسائلو څنګ ته تېر کړي، نن هغوی همدا خبره کوي چي قرآن څوارلس پېړۍ وړاندي کړې!! دوی وایي: د مور په رحم کې لومړی د ماشوم د غوړونو جوړېدا پیل شي، بیا ئې د سترګو او بیا ئې د زړه؛ او دا هغه حقیقت دئ چي علم د شلمي پېړۍ په پای کې د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته پرې پوه شو. دوی وایي: دا هر غړی د یوه ځانګړي ژن له لوري په داسي توګه جوړېږي چي د هر غړي لومړنی سلول وده کوي، شمېر ئې ډېرېږي او ورو ورو بشپړ غړی ترې جوړ شي، د جوړېدا لپاره ئې تر ټولو غوره صیغه همغه ده چي قرآن ورته غوره کړې، قرآن دلته د (جعل) او په نورو آیتونو کې د (أنشأ) صیغه کارولې، ځکه د ورو ورو ودي له لاري بشپړ غړی جوړېږي.

همدا راز تر سترګو وړاندي د غوږ د یادولو بله وجه دا ده چي غوږ تر سترګي ډېر حساس دئ، غوږ د حجاب او پردې له شا هم خبرېږي خو سترګي دا کار نشي کولی، غوږ ستا له حکم پرته تا خبروي خو سترګي به ته په خپله یوه لوري ته اړوې او پرانیستې به ئې نیسي چي اطلاع درکړي، د دماغ پرېکړه د هغو معلوماتو له مخي وي چي د غوړونو او سترګو له لاري ئې تر لاسه کوي، تل ئې کار تر دوی دواړو وروسته پیل کېږي.

دلته یوه بله موضوع هم زموږ په وړاندي ځان ښیي، هغه دا چي آیا د انسان نطفه په تسلسل سره د نیکونو او نیاګانو په صلب او بدن کې د ده تر مور او پلار رارسي، که په خپل وخت کې او له وړاندي سره له کوم تعلق او اړیکي پرته پیدا کېږي؟ آیا د هر انسان نطفه د آدم او حوا علیهما السلام د پیدایښت په ورځ پیدا شوې او همدا لړۍ تر قیامت پوري همداسي دوام کوي او له یوه بل ته انتقالېږي؟ دا پوښتنه د دې لپاره ځواب غواړي چي په مسلمانانو کې ځیني ګمان کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تر آدم علیه السلام وړاندي پیدا شوی، دی یو نور وو، دا نور د صالح کسانو او مؤمنانو په سلب کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پلار او مور بدن ته په تسلسل سره انتقال شوی، دوی ادعاء کوي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم پلار او مور مؤمنان ول، په شرك او خرافاتو کې غرق جاهل شیعه او متصوفین داسي انګېري چي د پیغمبرانو علیهم السلام هم اجداد تر آدم علیه السلام پوري مؤمنان وي او هم ئې تر قیامت پوري اولاد، دوی په نسبي سپېڅلیتا او تقدس باور لري، د شیعه وو ناپوه آخوندان کله چي د ابوطالب او نورو نومونه اخلي نو وایي: حضرت ابوطالب، حضرت عبدالله، حضرت آمنه، حضرت هاشم او ... فقط دومره پاته دي چي ووایي: حضرت ابوجهل، حضرت ابولهب او حضرت آزر!! دوی وایي: ابراهیم علیه السلام او اسمعیل علیه السلام په ګډه دعاء کړې وه چي زموږ په اولاد کې ځیني یو مسلم ټولګی

کړه، ګواکې د دغې دعاء له مخې دا مسلم ټولګی همغه کړی ده چې له دوی تر عبدالله او آمنې (د رسول الله صلی الله علیه و سلم پلار او مور) پورې غزېدلې او تر قیامت پورې به همداسې دوام کوي!! په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

د ابراهیم علیه السلام د دې دعاء (رَبَّنَا وَ اجْعَلْنَا مُسلِمَیِن لَك وَ مِن ذُرِّیَّتِنَا اُمَّةً مُّسلِمَةً لَّك وَ أرِنَا مَنَاسِكَنَا وَ تُب عَلَیْنَا إنَّك أنت التَّوَّاب الرَّحِیمُ * البقره: ۱۲۸)، په (مِنْ ذُرِّیَّتِنَا أُمَّةً مُّسلِمَةً لَّك) کې من د تبعیض لپاره نه دئ او معنی ئې قطعاً دا نه ده چې زموږ ټیني اولاد مسلم ټولګی کړه، معنی ئې دا ده چې زموږ له اولاد یو مؤمن ټولګی جوړ کړه، د ټول اولاد په اړه ئې دعاء کړې نه د څینو لپاره. او دا یادونه د دې لپاره شوې چې قریشو ته وواېې: ستاسو د جد دعاء دا وه خو تاسو د هغه د دعاء مصداق نه یئ، تاسو د شرك او د الله تعالی له دین د بغاوت لار غوره کړې.

څوك چې ادعاء کوي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نسب لړۍ له پیل تر پای، له آدم علیه السلام یا له ابراهیم علیه السلام تر عبدالله او آمنې پورې او تر قیامت پورې د مؤمنانو لړۍ ده، د دین، علم او عقل خلاف خبره کوي، د تردید لپاره ئې دا دلائل کافي دي: قرآن په ډېر صراحت سره وایي چې د ابراهیم علیه السلام والد (آزر) مشرك او د الله دښمن وو، ابراهیم علیه السلام تر هغه ده ته بخښنه غوښته چې ورته معلومه شوه د الله دښمن دئ:

وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ﴿١١٤﴾ التوبه

او خپل پلار ته د ابراهیم بخښنه غوښتل خو یوازې د هغې وعدې له مخې وو چې له ده سره ئې د هغې ژمنه کړې وه، خو کله چې ورته جوته شوه چې هغه د الله دښمن دئ نو ترې بې زاره شو، یقیناً چې ابراهیم ډېر نرم زړی او د زغم خاوند وو.

په دې مبارك آیت کې مسلمانانو ته ویل شوي چې ستاسو جد؛ ابراهیم علیه السلام هغه مهال له خپل پلار سره خپلې اړیکې وشلولې او خپل برائت ئې ترې اعلان کړ چې ورته معلومه شوه هغه د خدای دښمن دئ. تر یوې مودې ئې د دې لپاره هغه ته د بخښنې دعاء کوله چې د همدې استغفار ژمنه ئې ورسره کړې وه، خو کله چې پوه شو هغه د الله دښمن دئ او له خپل شرك او کفر لاس نه اخلي نو خپل برائت ئې ترې اعلان کړ. د دې معنی دا ده چې کېدی شي د یوه پیغمبر پلار دومره ستر کافر وي چې د الله د دښمن خطاب ورته کولی شو. یعني خبره داسې نه ده چې مؤمن به له مؤمن پیدا کېږي او کافر له کافر، لکه څنګه چې الله تعالی ژوندی له مړي او مړی له ژوندي پیدا کوي همداسې کله له کافر مؤمن پیدا کړي او کله له مؤمن کافر، کله له شپې ورځ راپیدا کړي او کله له ورځې شپه، د قرآن له نظره نسبي تقدس او سپېڅلتیا هیڅ بنسټ نه لري، هر انسان له روغ او سالم فطرت سره پیدا

کېږي، مور او پلار ئې هغه یهودي، نصراني او مجوسي کړي، که داسي نه وی نو له نوح علیه السلام به کافر زوی نه پیدا کېدو او له بُت لمانځونکی آزر به د تاریخ ستر بُت ماتوونکی ابراهیم علیه السلام نه پیدا کېدو.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: ما له الله تعالی اجازه وغوښته چي د مور لپاره بخښته وغواړم، اجازه ئې رانکړه، بیا مي اجازه وغوښته چي د مور د قبر زیارت وکړم؛ د دې اجازه ئې راکړه.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « اسْتَأْذَنْتُ رَبِّى أَنْ أَسْتَغْفِرَ لأُمِّى فَلَمْ يَأْذَنْ لِى وَاسْتَأْذَنْتُهُ أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا فَأَذِنَ لِى ». رواه مسلم

د دې حدیث معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم والدین مشرکان ول او رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې منع شوی وو چي هغوی ته مغفرت وغواړي.

قرآن وایي چي الله تعالی د انسان نطفه له دوو برخو په مختلطه توګه پیدا کوي، یوه برخه ئې د پلار او بله ئې د مور په بدن کي جوړېږي، د دغو دواړو له اختلاط او ګډېدو د ده نطفه جوړه شي، دا دواړه برخي نه وي، د قرآن په اصطلاح (لم یکن شیئاً مذکورا) وي، په خپل خپل وخت کي د مور او پلار په بدن کي جوړېږي او دا له هغو خوړو چي له خاوري ئې د دانې، مېوې، سابو او نورو خوراکي توکو په توګه تر لاسه کوي، یعني د هر انسان د نطفې اصلي ماده مړه خاوره ده، دغه مړه خاوره د مور او پلار په بدن کي په دوو داسي نطفو بدله شي چي له یو ځای کېدو ئې د انسان نطفه جوړه شي، دا نطفه دومره وړه وي چي په سترګو نه لیدل کېږي، ورو ورو وده کوي او له څه مودې وروسته د یوه ماشوم بڼه غوره کړي او بیا په خاص پړاو کي روح ورکړی شي او بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي.

قرآن وایي چي د ټولو انسانانو لومړی جد آدم علیه السلام دئ، ځوك چي د دې خلاف خبره کوي او د عیسی علیه السلام یا رسول الله صلی الله علیه و سلم پیدایښت تر آدم علیه السلام وړاندي ګڼي وینا او ادعاء ئې په بشپړه توګه د قرآن او عقل خلاف ده، هم له دې پلوه چي د اولاد پیدایښت تر جد وړاندي ګڼي او هم له دې پلوه چي قرآن وایي انسان له خاوري پیدا شوی او هغه ادعاء کوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم نور وو او دا نور په ازل کي وو او د هغه له مخي نور مخلوقات پیدا شوي!! دا عقیده نه په قرآن کي کوم بنسټ لري او نه په صحیح الإسناد احادیثو کي، جرړه ئې په بایبل کي ده، بایبل د عیسی علیه السلام په اړه همدا خبره کوي، دوی د بایبل دا غلطه وینا اقتباس کړې او د عیسی علیه السلام پر ځای ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم نوم راوړی، بایبل لیکي: (په ازل کي، مخکي له دې چي څه پیدا شي، (کلمه) وه او د خدای په خوا کي وه، هغه تل ژوندی وو او دی په خپله خدای دئ، چي څه شته د ده په وسیله پیدا شوي، داسي څه نشته چي ده نه وي پیدا کړي، دا تلپاته ژوندی خلکو ته نور او رڼا بخښي، خدای یحیی پیغمبر راولېږو چي دا نور خلکو ته معرفي کړي او خلك پرې ایمان راوړي، ... که څه هم نړۍ ده پیدا کړې وه

خو کله چې دنیا ته راغی هیچا ونه پېژاندو، حتی په خپل ټاټوبي کې او په خپل قوم یهودانو کې چا ونه منلو، یوازې څو کسانو پرې ایمان راوړ، خو ده ټولو هغو کسانو ته چې ایمان ئې پرې راوړ دا حق ورکړ چې د خدای زامن شي، هو؛ یوازې دا کافي ده چې پر ده ایمان راوړي او نجات ومومي... د خدای کلمه انسان شو او د دې زمکې پر سر او زموږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!!)

متأسفانه په مسلمانانو کې ځیني د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه دې ته ورته خبرې کوي، حال دا چې نه عیسی علیه السلام ازلي نور وو او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم، که د دوی په اړه په انجیل یا قرآن کې د نور او څراغ الفاظ راغلي نو دا په مجازي معنی دي نه په حقیقي معنی.

---

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٠﴾ ۞قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴿١١﴾

او وئې ویل: آیا کله چې په زمکې کې ورك (او خاورې) شو بیا به په نوي پیدایښت کې وو؟! بلکې دوی د خپل رب د ملاقات په اړه کافران دي، ورته ووایه: د مرگ هغه فرشته تاسو وفات کوي (ستاسو روح قبض کوي) چې پر تاسو گمارل شوې، بیا د خپل رب په لوري گرځول کېږئ.

---

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کې دا لارښووني گورو:

- د آخرت منکرین وایي: آیا دا ممکنه ده چې موږ ومرو، جسدونه مو خاورې او په زمکې کې متلاشي او ورك شي؛ بیا به په نوي پیدایښت کې پیدا کېږو؟! د دوی په اړه ویل شوي: دوی په اصل کې له خپل رب سره په مخامخېدو باور نه لري، له بیا ژوندون ئې انکار له دې کبله نه دئ چې دا کار ورته مستحیل او ناممکن برېښي، د انکار اصلي وجه ئې دا ده چې له خپل رب سره د ملاقات او د خپلو جرمونو له سزا سره د مخامخېدا منل ورته گران کار دئ، په دې اړه د دوی کفر د دې باعث شوی چې له بیاژوندون انکار کوي.
- د دوی په ځواب کې ویل شوي: ستاسو مرگ کومه تصادفي او خپل سره پېښه نه ده، دا ځکه چې الله تعالی ستاسو د حفاظت او ساتنې بند و بست کړی او له خپلې خوا ئې ستاسې لپاره ساتونکې موظف کړي، دا ساتونکي د مرگ تر ثابتې نېټې ستاسو ساتنه کوي او د دې نېټې په رارسېدو سره ټاکلې فرشتې ستاسو روح قبض کوي. نو ستاسو د روح وتل د یوې دقیقې منصوبې له مخې تر سره کېږي، بدن مو متلاشي کېږي خو روح مو ساتل کېږي. الله تعالی به هغه ورځ چې ستاسو د بېرته ستنېدو لپاره ئې ټاکلې ده؛ دغې روح ته بیا بل

کالبوت ورکړي.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا
فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴿١٢﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَأَتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَىٰهَا
وَلَٰكِنْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ مِنِّى لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٣﴾ فَذُوقُواْ
بِمَا نَسِيتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمْ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ
تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

او کاش هغه مهال وګورې چې مجرمین د خپل رب په وړاندې د خپلو سرونو کوز نیوونکي وي (او وايي): اې زموږ ربه! ومو لیدل، واموورېدل، نو بېرته مو ستانه کړه چې نېك عمل وکړو، یقیناً چې باور کوونکي یو!! او که مو غوښتي وی نو هر کس ته به مو د ده لارښوونه ورپه برخه کړې وه، خو زما له لوري دغه وینا محققه شوه چې حتماً به دوزخ له پېريانو او خلکو یو ځايي ډکوم. نو د هغه څه له کبله ئې وڅکئ چې د خپلې دغې ورځې ملاقات مو هېر کړی وو، یقیناً چې موږ هېر کړي یئ؛ او تلپاتی عذاب د هغه څه له کبله وڅکئ چې تاسو کول.

(۱۲-۱٤)- په دې مبارکو آیتونو کې د آخرت د منکرینو هغه حالت انځور شوی چې د قیامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندې د قیام په وخت به ئې په برخه وي: خپل سرونه به ئې کوز نیولي وي، د غرور غاړه به ئې کړه شوې وي، سترګې به نښې لوړولی، په ټیټ سر، لاندې نیولو سترګو او ټیټ ږغ به د الله تعالی په وړاندې وايي: اې زموږ ربه! ټول حقائق مو هم په خپلو سترګو ولیدل او هم مو واورېدل، اوس په حقائقو پوه شوي یو، نو بېرته مو دنیا ته ستانه کړه، یو بل فرصت راپه برخه کړه چې نېك عمل وکړو، یقیناً چې باور کوونکي یو!! الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: که مو غوښتي وی نو هر چا ته به مو د ده لارښوونه ورپه برخه کړې وه، داسې حالت به مو ورباندې راوستي وو لکه چې د آخرت منکرین به د قیامت په ورځ ورسره مخامخ کېږي، حقائق به په خپلو سترګو وګوري، وینا به ئې دا وي چې اوس په بشپړه توګه متیقن شوي یو، د صالح عمل ژمنه کوو، له مخکیني انکار او بدو عملونو نادم یو، یو بل فرصت راکړه چې خپل صداقت عملاً درته ثابت کړو!! خو د الله تعالی سنت داسې نه دئ چې انسان ایمان راوړلو ته اړ کړي او داسې حالت پرې راولي چې د انکار اختیار ترې سلب شي، بلکې انسانان او پېريان ئې داسې پیدا کړي چې له دوو لارو د یوې د انتخاب واك او اختیار ورکړی شوی، دغه واك او اختیار په دې منتج شي چې ځیني د کفر او انکار لار غوره کړي او د دوی په اړه د الله تعالی هغه وینا محققه شي چې دوزخ به حتماً له

پېريانو او انسانانو يو ځايي ډکوم. که دوی په دوزخ کې پرېوځي وجه ئې دا ده چې په دوزخ کې د پرېوتو لار ئې غوره کړې وه، تگلاره او کړنلاره ئې داسي وه چې دوی ئې دوزخ ته ورسول، نو د قيامت په ورځ به ورته وويل شي: د هغه څه له کبله ئې وڅکئ چې د خپلې دغې ورځې ملاقات مو هېر کړی وو، يقيناً چې موږ هېر کړي يئ؛ او تلپاتی عذاب د هغه څه له کبله وڅکئ چې تاسو کول.

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِـَٔايَـٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدًا وَسَبَّحُواْ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ۩ ﴿١٥﴾ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ ٱلْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَـٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿١٦﴾

يقيناً چې زموږ پر آيتونو يوازي هغه وگړي ايمان راوړي چې کله پند پرې ورکړی شي سجده کوونکي پرېوځي او د خپل رب له ستايني سره د هغه تسبيح کوي، په داسي حال کې چې لويي غوښتونکي (او کبر کوونکي) نه وي. اړخونه ئې له بسترونو لري وي او له وېرې او طمعې سره خپل رب بلي؛ او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي.

(۱۵-۱۶)- دلته د منکرينو په مقابل کې د هغو وگړو حالت بيان شوی چې د ايمان راوړلو اهليت او استعداد لري، د دوی ځانگړتياوې داسي ښودل شوې:

- زموږ پر آيتونو يوازي هغه وگړي ايمان راوړي چې کله پند پرې ورکړی شي سجده کوونکي پرېوځي. دوی نه يوازي د قرآن د آيتونو په اورېدو سره فوراً او له ځنډ پرته ايمان راوړي بلکې د خپل رب په وړاندي خپل بشپړ انقياد د هغې سجدې په ترڅ کې څرگندوي چې د دغو آيتونو په اورېدو سره ئې کوي، د خپل رب په وړاندي سجده کوي او تندی پر زمکه ږدي.
- د خپل رب تسبيح وايي او ستاينه ئې کوي، له هر عيب او نقص ئې لوړ او د هري ستايني وړ ئې گڼي.
- په داسي حال کې ده ته سجده کوي او تسبيح او تحميد وايي چې لويي غوښتونکي او کبر کوونکي نه وي، بلکې د خپل رب په وړاندي خاضع او خاشع وي.
- اړخونه ئې له بسترونو لري وي، په عبادت بوخت وي او خپل رب په داسي حال کې بلي او مرسته ترې غواړي چې هم وېرېږي او هم طمع ورته لري. دلته د مؤمنانو حال داسي ښودل شوی چې د شپې له خوائې اړخونه له مضجع او د پرېوتو له ځايه لري او کناره کېږي، خوب او آرام بستر پرېږدي، د شپې په خلوت کې خپل رب ته دعاء کوي، د خپل رب په وړاندي په دعاء او عبادت مصروف شي، خوفاً و طمعاً: له وېرې او هيلي سره، له يوې خوا

له الله جل جلاله او د هغه له عذابه وېرېږي او له همدې کبله د شپې په زړه کې د الله په عبادت لګيا شي، خوب پرېږدي او له آرام بستر کناره شي او له بلې خوا الله تعالى ته طمع او هيله لري چې د همدې طمعې او هيلې په وجه بستر پرېږدي، د الله په وړاندې ودرېږي او د هغه عبادت کوي.

- او له هغه څه چې الله تعالى ورروزي کړي انفاق کوي.

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًاۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلًۢا بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخْرُجُواْ مِنْهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾

نو هيڅوك په هغو د سترګو يخولو (نعمتونو او څرنګوالي ئې) نه پوهېږي چې ورته مخفي کړی شوي، د هغه څه بدله چې دوی کول، نو آيا هغه چې مؤمن دئ د هغه په څېر به وي چې فاسق دئ؟! نشي سره برابرېدی، اما هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ نو دوی ته به د جنت مېشت ځی وي، د هغه څه (په بدل کې) يوه مېلمستيا چې دوی کول؛ او هغه چې فسق ئې کړی نو مېشت ځی ئې دوزخ دئ، کله چې وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي او ورته وبه ويل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو تکذيبولو. او هرو مرو به تر لوی عذاب وړاندې ووړ (رالنډ دنيايي) عذاب وروڅکو؛ چې راوګرځي.

(۱۷-۲۱)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني شوې:

- الله تعالى د خپلو بندګانو لپاره په جنت کې داسي نعمتونه تيار کړی چې د هغوی په ليدو سره به ئې سترګې يخې او زړونه ښاد شي، دا نعمتونه دومره خوندور، ښکلي او په زړه پوري دي چې د انسان له زعم، خيال او تصور ډېر لوړ او داسي دي چې هيڅوك ئې په څرنګوالي پوهېدی نشي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه مبارك حديث کې په دې اړه داسي راغلي:

عَنْ سَهْلِ بن سَعْدٍ، قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَصِفُ الْجَنَّةَ

حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهَا، ثُمَّ قَالَ:"فِيهَا مَا لا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلا عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ خَطَرَ"، ثُمَّ اقْتَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} إِلَى قَوْلِهِ: {جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}. المعجم الكبير للطبرانى

له سهل بن سعد رضی الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: په داسي حال کي چي موږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوا کي وو او هغه د جنت صفت بياناوو تر دې چي د هغې پای ته ورسېدو؛ بيا ئې وفرمايل: په جنت کي هغه څه دي چي نه کومي سترګي ليدلي، نه کوم غوږ اورېدلي او نه د کوم بشر په زړه کي ګرځېدلي، بيا ئې دا آيت قرائت کړ: {تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} إِلَى قَوْلِهِ: {جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ}

- دا نعمتونه د مؤمنانو لپاره د هغه څه بدله ده چي دوی کول.
- مؤمنان نه له فاسقانو سره په خپلو کړنو کي ورته وي، نه په خپلو تګلارو کي او نه د خپلو کړنو په پايلو کي، هغه چي ايمان ئې راوړی، عملونه ئې نېك وي، پايله ئې هغه جنت چي د دوی مېشت ځی به وي؛ او دا به د هغه څه په بدل کي د دوی لپاره د يوې مېلمستيا په توګه ورکړی شي چي دوی کول، خو هغه چي فسق ئې کړی نو مېشت ځی به ئې دوزخ وي، کله چي وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي او ورته وبه ويل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چي تاسو دروغ ګڼلو.
- دغو فاسقانو ته به د آخرت تر لوی عذاب وړاندي په دنيا کي ووړ او لنډ دنيايي عذاب وروڅکل شي؛ او دا په دې موخه چي د خپل رب لوري ته راوګرځي او له کفر او عصيان لاس واخلي.
- دلته د فاسقانو د دنيايي عذاب يادونه ښيي چي په مخکيني آيت کي د مؤمنانو بدله هم عامه ده، هم دنيايي بدله احتوی کوي او هم اخروي. دوی به لومړی په دنيا کي داسي بدله تر لاسه کوي چي زړونه ئې پرې ښاد شي او بيا په آخرت کي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾

او تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چي د خپل رب پر آيتونو پند ورکړی شي (خو) بيا دی ترې ډډه وکړي، يقيناً چي موږ له دغو مجرمينو انتقام اخيستونکي يو.

(٢٢)- دا مبارك آيت وايي چي تر ټولو ستر ظالم هغه مجرم انسان دئ چي د خپل رب پر آيتونو پند ورکړی شي خو دی ترې ډډه وکړي، الله تعالی به حتماً له دغو مجرمينو انتقام اخلي.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآئِهِۦۖ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى
لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا
يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ
يَخۡتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾

او يقيناً چې موسی ته مو هغه کتاب ورکړ، نو د مخامخېدو په اړه ئې په شك کې مه اوسه؛ او هغه مو د بني اسرائيلو لپاره لارښود وگرځاوو؛ او له دوی مو ځيني داسې امامان وگرځول چې زموږ د امر مطابق ئې (د خلکو) لارښوونه کوله، (دا) هغه مهال چې دوی صبر وکړ او زموږ پر آيتونو ئې باور کولو. يقيناً چې همدا ستا رب به د قيامت په ورځ د دوی تر منځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

(۲۳-۲۵)- د دې مبارکو آيتونو په مهمو لارښوونو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندې خبرې په پام کې ولرو:

- دلته موسی عليه السلام ته د کتاب ورکړه د مخکينيو مطالبو لپاره د يوه تاريخي مثال او يوه دليل په توگه وړاندې شوې، لکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته کتاب ورکړی شو همداسې موسی عليه السلام ته کتاب ورکړی شوی وو، ځينو ايمان پرې راوړ، د دې کتاب په لارښوونو د عمل او د ايمان په لار کې د صبر له کبله الله تعالی له دوی داسې امامان جوړ کړل چې د الله تعالی له امر سره سم ئې د خلکو لارښوونه کوله، يعني د ولسونو امامت او زعامت د دوی په برخه شو، دې جليل مقام ته د رسېدو دوه اساسي وجوهات ول: د ايمان په لار کې د دوی صبر او پر الهي آيتونو د دوی باور. په مقابل کې ئې د موسی عليه السلام ځواکمن، مغرور او مجرم مخالفين له عبرتناك برخليك سره مخامخ کړل، مؤمنان بايد ډاډه او مطمئن وي چې دا تجربه به يو ځل بيا تکرارېږي، دوی ته به هم د نړۍ والو فکري زعامت او قيادت ورپه برخه کېږي، دغه رفيع او جليل مقام ته د (ايمان) او (صبر) په نتيجه کې رسېدلی شي، قريش او د رسول الله صلی الله عليه و سلم مخالفين بايد پوه شي چې دوی به هم له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چې د موسی عليه السلام مخالفين، فرعون او فرعونيان ورسره مخامخ شول.
- دلته ويل شوي چې (د مخامخېدو په اړه ئې په شك کې مه اوسه)، پوښتنه راولاړېږي چې له څه سره مخامخېدا؟ په لقائه کې ضمير چا او څه ته اشاره کوي؟ او دا خطاب يوازې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته متوجه دئ که د قرآن هر مخاطب ته؟! په تفاسيرو کې گڼ شمېر توجيهات او تعبيرونه مومو، ځيني ئې په يادولو نه ارزي، د اعتناء وړ تعبيرونه دا

دي: لومړی دا: کوم څه چې موسی علیه السلام ته د کتاب ورکولو په نتیجه کې رامنځته شول، فرعون او فرعونیان چې نه پر الله تعالی او د هغه پر آیتونو ایمان راوړو ته چمتو ول، نه ئې پر آخرت ایمان درلود او نه ئې د الله تعالی غوره پیغمبر موسی علیه السلام د پیغمبر په توګه منلو، ستر ستر مجرمین ول، د دغه کفر، انکار او جرمونو له کبله د الله تعالی له سخت عذاب سره مخامخ او غرق شول، بني اسرائیل د (ایمان) او (صبر) له کبله د نړۍ والو لپاره امامان شول، د همداسې حالت د بیا تکرار او له همداسې برخلیك سره د قریشو د مخامخېدو او همداسې مقام ته د مؤمنانو د رسېدو په اړه شك مه کوه، دا تاریخي تجربه به بیا هم تکرارېږي، قریش به د خپل سلف او مؤمنان د خپل سلف له برخلیك سره مخامخ کېږي.
دوهم تعبیر دا دئ چې د مخکیني آیت په پای کې ویل شوي: موږ هرو مرو له دغو مجرمینو انتقام اخیستونکي یو، موسی علیه السلام ته هم دغه وینا په لیکلې توګه ورکړی شوې وه، همداسې وشول، ته هم د داسې حالت راتلو او له دغو مجرمینو د الهي انتقام د تحقق او په خپلو سترګو د هغه د لیدو په اړه شك مه کوه، درېیم تعبیر دا چې دلته خطاب یوازې هغو قریشو ته متوجه دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم رسالت او د الله تعالی له لوري هغه ته د کتاب ورکړه ئې نه منله او ګواکې دلته هغوی ته ویل شوي: لکه څنګه چې تر دې وړاندې موسی علیه السلام ته تورات ورکړی شوی وو، همداسې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته قرآن ورکړی شوی! په دې کې شك مه کوئ!! لومړی تعبیر له هره پلوه دقیق او صحیح دئ او د آیت له الفاظو او سیاق و سباق سره په بشپړه توګه تطابق لري او دوهم تعبیر د آیتونو تر منځ د تړاو او نظم له پلوه دقیق برېښي او درېیم تعبیر په څو دلائلو کمزوری دئ: عام خطاب له کوم دلیل او وجهې پرته خاص کړی شوی، د الفاظو له ترکیب داسې نه معلومېږي چې خطاب یوازې مخالفینو ته متوجه دئ، همدا راز دا تعبیر د آیت له سیاق و سباق سره اړخ نه لګوي، تر آیت وړاندې ویل شوي چې موږ له دغو مجرمینو حتماً انتقام اخیستونکي یو؛ او وروسته ویل شوي چې بني اسرائیل مو د (ایمان) او (صبر) له کبله د نړۍ والو امامان کړل، د دې سیاق و سباق غوښتنه دا ده چې دلته به یوازې د همداسې حالت د بیا راتلو په اړه خبره شوې وي او د قرآن هر مخاطب ته به ویل شوي وي چې له همداسې حالت سره د مخامخېدو په اړه شك مه کوه؛ او داسې تعبیر د فهم او منلو وړ نه دئ چې ګواکې دلته یوازې قریشو ته ویل شوي چې په دې کې شك مه کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هم د موسی علیه السلام په څېر کتاب ورکړی شوی!!

- نه یوازې دا چې په دنیا کې به مؤمنان او د دوی مخالفین له همغه حالت سره مخامخ کېږي چې موسی علیه السلام او د ده مؤمن ملګري او فرعون او د ده پلویان ورسره مخامخ شول، بلکې د قیامت ورځ راتلونکې ده او هغه مهال به ستا رب د دوی تر منځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو، د قیامت په ورځ به هم د حق او باطل او د دوی د پلویانو تر منځ وروستۍ الهي پرېکړه کېږي.

أَوَ لَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍۚ أَفَلَا يَسۡمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَسُوقُ ٱلۡمَآءَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡجُرُزِ فَنُخۡرِجُ بِهِۦ زَرۡعٗا تَأۡكُلُ مِنۡهُ أَنۡعَٰمُهُمۡ وَأَنفُسُهُمۡۚ أَفَلَا يُبۡصِرُونَ ﴿٢٧﴾

آيا دوى ته دې (حقيقت) لارښوونه ونه كړه چې تر دوى وړاندې مو څومره هغه نسلونه هلاك كړل چې دوى ئې په استوګنځيو كې ګرځي، يقيناً چې په دې كې (ډېرې) څرګندې نښې دي، آيا نه ئې اوري؟! او آيا نه ئې دي ليدلي چې موږ اوبه د شاړې ځمكې په لوري بيايو او په دې سره داسې كښت (بوټي) راباسو چې څيني ئې هم د دوى څاروي خوري او هم دوى په خپله، نو آيا نه ګوري؟!

(۲۶-۲۷)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو منكرينو او مخالفينو په ځواب كې چې په دنيا او آخرت كې د الله تعالى د وعدو د تحقق په اړه شك څرګندوي دوه مضبوط دلائل وړاندې شوي:

- لومړى دا چې د الله تعالى د وعدو د تحقق څرګندې بېلګې د تاريخ په مختلفو پړاوونو كې موندلى شئ، آيا د دوى د اقناع لپاره دا تاريخي حقائق كافي نه دي چې د كفر، شرك، ظلم او فساد ستر ستر ځواكونه له الهي محاسبې سره مخامخ او د الله تعالى په ستر عذاب اخته شوي، نه ګوري چې تر دوى وړاندې څومره هغه نسلونه هلاك شوي چې نن دوى د هغوى په استوګنځيو كې ګرځي؟!! يقيناً چې په دې كې د عقلمنو لپاره ډېرې څرګندې نښې دي، آيا سره له دې د حق وينا ته غوږ نه ږدي او حقائق نه اوري؟!
- دوهم دا چې عملاً ګورئ الله تعالى په شاړې ځمكې باران وروي او په دې سره مړه ځمكه راژوندۍ كړي او داسې سمسور بوټي په كې راټوكوي چې څيني ئې هم د دوى څاروي خوري او هم دوى په خپله، الله تعالى همداسې جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې چې مړې ځمكې ته ورته وي؛ د پيغمبرانو عليهم السلام د بعثت او د وحي د نزول له لارې ښېرازه كوي، نوى نسل، له نويو او غوړېدلو افكارو او غوره اخلاقو سره په كې راپيدا كوي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

او وايي: كه رښتيني يئ دا فتح به كله وي؟ ووايه: د دې فتحې په ورځ به هغو ته د دوى ايمان ګټه ونه رسوي چې كفر ئې كړى او نه به مهلت وركړى شي، نو له دوى ډډه

وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي.

(۲۸-۳۰)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

• منکرين وايي: تاسو چې د حق او باطل تر منځ د الهي پرېکړې او د قيامت د راتلو په اړه څه وايئ دا به کله تر سره کېږي؟ دا ورځ ولې ځنډېدلې؟ که رښتيني يئ نو ووايئ چې دا فتح به کله وي؟ دوی له يوې خوا د الهي عذاب په راتلو کې ځنډ داسې تعبيروي چې د عذاب دا گواښونه هسې تهديدونه دي او حقيقت نه لري، له بلې خوا د مسلمانانو ضعف او کمزوري او د دوی د مخالفينو زور او ځواك داسې تعبيروي چې د مسلمانانو د بريا او برلاسي هغه وعدې هيڅ حقيقت نه لري چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې دوی ته ورکوي او وايي چې الله تعالى به حتماً او ډېر ژر دوی ته د کفر او شرك پر ځواکونو بری ورکوي!!

• د دوی په ځواب کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ووايه: د دې فتحې په ورځ به هغو ته د دوي ايمان گټه ونه رسوي چې کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي. دا ورځ به راشي، ستاسو د انگېرونو خلاف او د مؤمنانانو له انتظار سره سم، هغه مهال به تاسو په هغه حقيقت پوه شئ چې نن ترې انکار کوئ، خو هغه مهال به دا ايمان تاسو ته هيڅ گټه ونه رسوي.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لاري مؤمنانو ته ويل شوي: نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي.

• دا درې آيتونه چې په گډه يو مضمون جوړوي؛ د دې مبارکې سورې يوه جامع تتمه ده او د سورې د ټولو مطالبو خلاصه زموږ په وړاندې انځوروي، درې اساسي مضامين زموږ په وړاندې ږدي: ۱- منکرين وايي: د حق او باطل تر منځ د الهي پرېکړې او د قيامت د راتلو په اړه د مؤمنانو ادعاء حقيقت نه لري، دا د خپلو مخالفينو د وېرولو لپاره دروغجن گواښونه او تهديدونه دي، ۲- د دوی په ځواب کې ويل شوي: دا ورځ به راشي، ستاسو د انگېرونو خلاف او د مؤمنانانو له انتظار سره سم، هغه مهال به تاسو په هغه حقيقت پوه شئ چې نن ترې انکار کوئ، خو هغه مهال به دا ايمان تاسو ته هيڅ گټه ونه رسوي. ۳- رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لاري مؤمنانو ته ويل شوي: نو له دوي ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي.

د سورې د شرحې په پای کې دا راته مناسب برېښي چې د دې سورې په اړه هغه روايت هم وڅېړو چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د جمعې د ورځې د سهار په لمانځه کې دا سوره لوستله. روايت دا دئ:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقْرَأُ فِي الْجُمُعَةِ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ ( الم، تَنْزِيلُ، السَّجْدَةَ ) وَ ( هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ ) (بخارى:۸۹۱)**

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د جمعې

په ورځ د سهار په لمانځه کې د (الم تنزيل، السجده) او (هل اتى على الانسان) سورتونه تلاوت کول.

دا روايت په بخاري کې دوه ځلي راغلی، چې دواړه سره ورته دي. له اميرالمؤمنين علي، ابن عباس او عبد الله بن مسعود رضى الله عنهم هم روايت شوی.

خو که تاسو ټول هغه روايات له نظره تېر کړئ چې په ځينو لمونځونو کې د ځينو خاصو سورتونو د تلاوت يادونه په کې شوې نو دې نتيجې ته به ورسېږئ چې دا نه عموميت لري او نه وجوب او لزوم ترې ثابتېږي، ارجح خبره دا ده چې امام وضعيت ته په پام سره داسې سوره انتخاب کړي چې له روان او موجود حالت سره هم د مطالبو له پلوه مناسبت ولري او هم د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه، د قرآن وينا هم دا مطلب افاده کوي چې د سورې انتخاب لمونځ کوونکي ته پرېښودل شوی، داسې چې که د منافقينو په اړه څه ويل ګټور وي نو غوره دا ده چې د منافقينو سوره ولوستل شي، که جهاد ته د خلکو د هڅولو وخت وي نو د التوبه له سورې دي يوه برخه غوره کړي، د هر وخت او هرې موضوع لپاره مناسبه سوره په قرآن کې موندلی شئ، که امامت در په غاړه شو نو د جمعې په لمونځونو کې له حالت سره متناسبه سورې غوره کوئ، دې ته مو هم پام وي چې تاسو به داسې مشهور او عزيز روايت ونه مومئ چې په خاصو لمونځونو کې د خاصې سورې تلاوت ئې لازم او ضروري ګڼلی وي. په دې اړه اکثر روايات داسې دي چې په صحابه وو او تابعينو کې يو يو راوي لري او په مقابل کې ئې متعارض روايت شته.

دې ته مو هم پام وي چې ځينې محققين په دې نظر دي چې د جماعت په لمونځونو کې او هغه مهال چې مقتديان ډېر وي او په دوی کې ډېری ئې عوام او د شريعت له احکامو بې خبره خلك وي نو غوره دا ده چې د داسې سورې له لوستلو ډډه وشي چې د قرائت سجده ايجابوي، دا ځکه چې د يوه جائز يا مستحب کار لپاره خلك په شك کې غورځول او د لمانځه نظم مختل کول سم کار نه دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الاحزاب

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الأحزاب) دئ، دا نوم د همدې سورې د دوه ويشتم آيت له (يحسبون الاحزاب لم يذهبوا) اخيستل شوی، درې اويا آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې د لومړي او دوهم آيت (حکيماً) او (خبيراً) ته ورته دي، يوازې څلورم آيت ئې په (السبيل) پای ته رسېدلی، خو دا آيت په حقيقت کې له وروستي سره داسې تړلی دئ چې په ګډه يو

آيت ترې جوړېږي او په (رحيماً) پای ته رسي. د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. د سورې مضامين په خپله موږ ته وايي چې دا سوره د احزاب له جګړې وروسته نازله شوې او په حقيقت کې د نورو مهمو قضاياوو په څنګ کې د دې جګړې يو دقيق انځور زموږ په وړاندې ږدي. دا جګړه د پنځم هجري کال د شوال مياشت کې رامنځته شوه.

په دې سورې کې د يوې بلې غزا په اړه هم بحث شوی چې د بني قريظه جګړه ده او د همدې کال د ذي القعدې په مياشت کې او د احزاب له جګړې وروسته متصل رامنځته شوې.

په دې سورې کې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د زينب رضی الله عنها د نکاح قضيه هم څېړل شوې چې منافقينو ترې لويه او ستره تبليغاتي وسيله جوړه کړه.

لکه څنګه چې په جګړو کې ماتې له يوې خوا کورنۍ ستونزې زېږوي، د منافقينو د جسارت او زړه ورتوب باعث کېږي، د فتنو راولاړولو او له دښمن سره د خپلو پټو اړيکو مزيد ټينګولو او په ګډه لا زياتو خطرناکو توطئو ته ئې هڅوي، همدا راز بهرني دښمنان زړه ور کوي، پټ دښمنان او هغه چې تر دې وړاندې ئې خپله دښمني پټه ساتله؛ دې ته هڅوي چې خپله دښمني څرګنده کړي او له څرګند دښمن سره لاس يو کړي، د احد له ماتې وروسته هم دې ته ورته فضاء رامنځته شوه، کورني او بهرني دښمنان زړه ور شول، کورنيو دښمنانو؛ منافقينو او په مدينه کې مېشت يهودانو قريشو ته بلنه ورکوله چې که پر مدينه بريد وکړي نو دوی به ئې کلکه ملګرتيا او مرسته کوي، د عربو ډېري مشرکې قبيلې چې تر دې وړاندې ئې د مسلمانانو په ضد د قريشو ملګرتيا او ملاتړ نه کولو او د مسلمانانو په ضد جګړو کې ئې برخه نه اخيستله؛ د احد له ماتې وروسته زړه ور شول، ځينو قريشو ته اطمئنان ورکولو چې په راتلونکو جګړو کې به د دوی ملګرتيا کوي، ځينو په خپله پر مدينه د بريد تياری نيولو، ځينو د دوکې او خدعې له لارې مسلمانانو ته د ضرر او تاوان رسولو توطئې جوړولې، په همدې لړ کې د احد له جګړې دوه مياشتې لا نه وې تېرې شوې چې د نجد بني اسد قبيلې پر مدينې د حملې تياری وکړ؛ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې بريد د مخنيوي په موخه د ابوسلمه سريه ولېږله، ورپسې د څلورم هجري کال د صفر په مياشت کې د (عَضَل او قَارَّه) قبيلو له رسول الله صلی الله عليه و سلم وغوښتل چې د خلکو د دعوت او لارښوونې په موخه څو مبلغين ورولېږي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د اصحابو يو شپږ کسيز ټولی ورسره ولېږو، خو هغوی دوکه وکړه او د دوی د وژلو لپاره ئې د هُذَيل له قبيلې سره مرسته وکړه، چې په بريد کې څلور تنه شهيدان شول او دوه ئې له ځان سره بوتلل او د څو پيسو په بدل کې ئې پر قريشو وپلورل، که څه هم په دې اړه بل روايت داسي دئ چې ګواکې رسول الله صلی الله عليه و سلم دا ټولی د استطلاع په موخه لېږلی وو، د ټولي د شمېر په اړه هم په رواياتو کې اختلاف تر سترګو کېږي، ځيني ئې شپږ او ځيني ئې لس بولي، ورپسې په همدې مياشت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم د بني عامر د قبيلې د يوه مشر په غوښتنه يو بل تبليغي وفد چې څلوېښت يا اويا کسان ول د نجد په لوري ولېږل، له دوی سره هم

غداري وشوه، د بني سُلَيم درې قبيلو: عُصَيَّه، رِعل او ذَكْوان؛ دوی ته کمين ونيو او په ناڅاپي توگه ئې پر دوی بريد وکړ او ټول ئې شهيدان کړل. په همدې دوران کې د مديني يوې يهودي قبيلې بني نضير د همدې کال په ربيع الاول کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د شهيدولو توطئه جوړه کړه چې بريالۍ نه شول، ورپسې د همدې کال په جمادي الاولی کې د بني غطفان دوو قبيلو: بنو ثعلبه او بنو محارب پر مديني د بريد لپاره چمتو شول چې د دوی د ځپلو لپاره رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله د يوه لښکر په ملگرتيا هلته ولاړ.

د احد د جگړې په پای کې او هغه مهال چې قريش د جگړې له ډگر په شا شول خو څو فرسخه آخوا متوجه شول چې تر شا کېدا ئې ستره غلطي وه، بايد مسلمانان ئې تعقيب کړي وی او پر مدينې ئې بريد کړی وی، په الروحاء کې تم شول، غوښتل ئې بېرته راستانه شي او پر مدينې بريد وکړي، خو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته اطلاع ورسېده چې دښمن پر مدينې د بريد اراده لري، په داسي حال کې چې په خپله ټپي شوی وو، د احد د جگړې قائد حمزه رضی الله عنه له اوياوو جليل القدرو زړه ورو جنگياليو اصحابو سره شهيدان شوي ول او گڼ شمېر نور مجروح ول، اعلان وکړ چې له دښمن سره مقابلې لپاره چمتو شئ، له شاوخوا شپږ سوه دېرش مجاهدينو سره يو ځای له مدينې ووتل او تر حمراء الاسد پوري د دښمن په استقامت وړاندې ولاړل، هلته ئې درې ورځې انتظار وکړ، ابوسفيان د قريشو د لښکر سالار ته د دې اقدام اطلاع ورسېده، له نورو مشرانو سره له مشورې وروسته دا ورته مناسب وبرېښېده چې خپل تصميم بدل کړي او د مکې په لوري خپل سفر ته دوام ورکړي، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د يوه غيرمسلم خو د مسلمانانو خواخوږي له لوري دا خبر ورسېد چې قريش له خپلې ارادې په شا شول او د مکې په لوري وخوځېدل، نو بېرته مدينې ته د ستنېدو پرېکړه ئې وکړه، دې حکيمانه تدبير نه يوازې د قريشو همت کمزوری او پر مدينې ئې د دوی د بريد اراده شنډه کړه بلکې نورو پټو او څرگندو دښمنانو ته ئې وښوده چې د احد ماتې نه د مسلمانانو عزم او همت ځپلی او نه ئې د دوی د قربانۍ جذبه او جنگي روحيه کمزورې کړې.

همدا راز کله چې بني اسد پر مدينې د بريد تياری شروع کړ، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د ده د خواخوږو له لوري اطلاع ورکړی شوه، تر دې وړاندې چې دښمن پر مدينې بريد وکړي د ابوسلمه رضی الله عنه تر مشرۍ لاندې ئې شاوخوا يو نيم سل سرتېري ورولېږل، د دوی ناڅاپي بريد دښمن داسي وارخطاء کړ چې يوې بلې خوا ته وتښتېدل او هر څه ئې تر شا پرېښودل او ټولې شتمني ئې مسلمانانو غنيمت کړې.

کله چې د بني نضير يهودي قبيلې توطئه افشاء شوه او رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو ته جوته شوه چې دوی د رسول الله صلی الله عليه و سلم د قتل منصوبه جوړه کړې وه، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم په همغه ورځ دوی ته اعلان کړه چې تر لسو ورځو به له مدينې وځي او له دې ټاکلې مودې وروسته چې د دوی هر څوك پاته وي هغه به وژل کېږي، د منافقينو سالار عبدالله بن ابی بن سلول هغوی هڅول چې د دې

ګواښ پروا ونه کړي، له مدينې ونه وځي، دی تيار دئ له دوو زرو جنګياليو سره د دوی مرسته وکړي، د بني قريظه يهودي قبيله او د بني غطفان قبيله به د دوی مرسته کوي؛ دغو دروغجنو ډاډېينو ته په پام سره هغوی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ځواب ورکړ چي وتلو ته چمتو نه يو؛ څه چي کولی شې وئې کړه!! رسول الله صلی الله عليه و سلم د دغه لس ورځني مهلت په پای کي د دوی سيمه محاصره کړه؛ هيڅا دا جسارت ونه کړ چي د دوی مرستي ته راوړاندي شي، د محاصرې په پای کي بني نضير دې ته چمتو شول چي له مدينې ووځي او هغه هم په دې شرط چي هر درې تنه يو اوښ او دومره سامان له ځان سره وړی شي چي دا اوښ ئې وړلی شي. په دې توګه د مدينې شاوخوا ټول هغه کلي، زمکي او باغونه د مسلمانانو لاس ته ورغلل چي بني نضير په کي اوسېدل.

بيا ئې د بني غطفان لوري ته مخه کړه چي پر مدينې د بريد لپاره ئې تياری نيولی وو؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم له څلورو سوو جنګياليو سره د دوی په لور وخوځېدو او په ذات الرِّقاع کي له هغوی سره مخامخ شو، د مسلمانانو ناڅاپي بريد داسي وارخطاء کړل چي له جګړي پرته ئې خپل کورونه او هر څه پرېښودل او يوې بلي خوا ته خواره شول.

د احد جګړي په پای کي ابوسفيان مسلمانانو ته په خطاب کي ويلي وو: په راتلونکي کال کي به په بدر کي يو ځل بيا سره مخامخ کېږو!! رسول الله صلی الله عليه و سلم د يوه صحابي په خوله هغوی ته ويلي وو: صحيح ده همدا دي زموږ او ستاسو تر منځ موعد وي، له دغي ژمني سره سم رسول الله صلی الله عليه و سلم د څلورم هجري کال د شعبان په مياشت کي له يو زر پنځه سوو مجاهدينو سره د بدر سيمي ته ولاړ، د مکې له لوري ابوسفيان له دوو زرو جنګياليو سره د بدر په لور وخوځېدو، خو کله چي مر الظهران (ننۍ فاطمه نومي ځای) ته ورسېدو او خبر شو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم له خپلو مجاهدينو سره د ده انتظار کوي، د وړاندي تلو همت ئې ونه کړ او بېرته د مکې په لوري ستون شو، رسول الله صلی الله عليه و سلم تر اتو ورځو پوري هلته پاته شو؛ او له کومي جګړي پرته ئې داسي بريا په برخه شوه چي يقيناً د احد ماته ئې جبران کړه.

دغو پېښو ټول دښمنان دې ته متوجه کړل چي د عربو هيڅ قبيله د قريشو په شمول په يوازي توګه او د نورو له مرستي او ملګرتيا پرته د مسلمانانو مقابله نشي کولی، له دې پرته بله چاره نه لري چي ټول په ګډه او د يوه ستر بريد له لاري د مسلمانانو له دې ورځ په ورځ زياتېدونکي ګواښ ځان د تل لپاره وژغوري. دښمنانو د يوه ګډ لوی بريد ضرورت هغه مهال لا زيات احساس کړ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د حجاز او شام تر منځ پرتې سيمي دُومَة الجَندَل کي د مېشت شوکه مارو هغه ډله وځپله چي دلته به ئې تجارتي قافلې لوټلې؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د پنځم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کي له زرو مجاهدينو سره د دې لوټمارو د تأديب لپاره په هغه لوري وخوځېدو، هغوی خپله سيمه پرېښوده او وتښتېدل؛ د مسلمانانو دغي ستري بريا دښمنان لا زيات هيبت وهلي کړل او د دوی د خېرنو زړونو کينه ئې لا زياته تشديد کړه؛ همدا د احزاب د تاريخي جګړي

شالید او محرکات ول.

دې ته مو پام وي چې د الاحزاب د سورې په اړه یو داسې روایت هم تر سترګو کېږي چې وايي: دا سوره په سر کې دومره اوږده وه لکه د البقره سوره، د رجم آیت هم د دې سورې یو آیت وو، خو نور آیتونه ترې حذف شوي او یوازې ۷۳ آیتونه ئې پاتې شوي!! راشئ وګورو چې دا روایت څومره د اعتبار وړ دئ؛ روایت داسې دئ:

عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ: قَالَ لِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ: «كَمْ تَعُدُّونَ سُورَةَ الْأَحْزَابِ؟» فَقُلْتُ: نَعُدُّهَا اثْنَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا وَسَبْعِينَ آيَةً قَالَ: «إِنْ كَانَتْ لَتُوَازِي سُورَةَ الْبَقَرَةِ، وَلَقَدْ كَانَ فِيهَا: الشَّيْخُ، وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ» المعجم الاسط

له زر بن حبیش روایت دئ چې وايي: ابی بن کعب راته وویل: د الاحزاب سوره څومره ګڼئ؟ ومې ویل: دوه اویا یا درې اویا آیتونه، وئې ویل: یقیناً چې دا د بقره له سورې سره برابره وه؛ او یقیناً چې په دې کې دا هم وو: سپین ږیری او سپینې سرې چې زنا وکړي نو دواړه حتماً سنګسار کړئ، د الله له لورې یوه عبرتناکه سزا؛ او الله باحکمت عزتمن دئ.

دا مطلب په ځینو نورو روایاتو کې هم له ځینو توپیرونو سره راغلی، لکه دا روایت:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ : قَدْ خَشِيتُ أَنْ يَطُولَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ حَتَّى يَقُولَ الْقَائِلُ مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَضِلُّوا بِتَرْكِ فَرِيضَةٍ أَنْزَلَهَا اللَّهُ عز وَجَلَّ أَلاَ وَإِنَّ الرَّجْمَ حَقٌّ إِذَا أَحْصَنَ الرَّجُلُ وَقَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَمْلُ أَوِ الاِعْتِرَافُ فَقَدْ قَرَأْنَاهَا : الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ وَقَدْ رَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِى الصَّحِيحِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِى بَكْرِ بْنِ أَبِى شَيْبَةَ وَغَيْرِهِ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. السنن البیهقی

له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چې عمر رضی الله عنه وویل: له دې ووېرېدم چې پر خلکو زمانه اوږده شي تر هغه چې یو ویونکی ووايي: د الله په کتاب کې د رجم حکم نه مومو، نو د یوې داسې الهي فریضې په اړه بې لارې شي چې الله تعالی نازله کړې، پام چې رجم حق دئ، هغه مهال چې سړی واده کړی وي، ګواهي ورکړی شي، حمل واقع شي، یا اعتراف وشي، یقیناً چې موږ دا (آیت) لوستلی: سپین ږیری او سپینې سرې چې زنا وکړي نو دواړه حتماً سنګسار کړئ، ... او یقیناً چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د رجم حکم اجراء کړی او تر ده وروسته موږ د رجم حکم اجراء کړی.

دا روایات ګڼ شمېر داسې ستونزې لري چې ښيي په هیڅ توګه د اعتبار وړ نه دي، ځیني ئې دا دي:

- وايي: دا (الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا، فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ نَكَالًا مِنْ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) د

الاحزاب د سورې یو آیت وو چې حکم ئې پاته او الفاظ ئې حذف شوي!! حال دا چې دا ادعاء په بشپړه توګه بې بنسټه ده، ځکه د الاحزاب د سورې د ټولو آیتونو فواصل د لومړي او دوهم آیت (حکیماً) او (خبیراً) ته ورته دي، یوازي څلورم آیت ئې په (السبیل) پای ته رسېدلی، خو دا آیت په حقیقت کې له وروستي سره داسي تړلی دئ چې په ګډه یو آیت ترې جوړېږي او په (رحیماً) پای ته رسي. خو پورتنی مضمون په وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ پای ته رسېدلی!!! او د دې مضمون آخري برخه په اصل کې د مائدې د سورې د ۳۸ آیت وروستۍ فقره ده، د المائدې د آیتونو فواصل دغو صیغو ته ورته دي: خاسرین، رحیم، قدیر، یرید، تشکرون، صدور او عقاب، اکثر آیتونه ئې خاسرین ته په ورته صیغو پای ته رسېدلي چې حکیم، رحیم، قدیر او یرید ته هم ورنژدې دي.

• قرآن خپل ځانګړي اصطلاحات لري، د نکاح شوي سړي او ښځي لپاره د محصن او محصنة الفاظ کاروي، د دوی لپاره د قرآن په هیڅ آیت کې د الشیخ او الشیخة الفاظ نه دي راغلي، دا الفاظ نه یوازي په قرآن کې نه دي راغلي بلکې دلته ئې کارول جدي التباس رامنځته کوي، ځکه معنی ئې داسي کېږي چې که نارینه او ښځینه په زړښت کې زنا وکړي نو رجم کېږي به!! یعني رجم په زړښت پوري تړي نه په نکاح پوري!! او دا هم له قرآن سره تعارض لري او هم له عدل او عقل سره.

• همدا راز د قرآن په هیڅ آیت کې د (البتة) لفظ نه تر سترګو کېږي.

• دا رأیه د الله تعالی د هغې ژمني خلاف ده چې د قرآن د حفاظت په اړه ئې کړې، دا شك راولاړوي چې ښایي د قرآن ډېري برخي به حذف شوې وي!! صحیح او دقیقه رأیه دا ده چې د قرآن یو حرف هم نه دئ حذف شوی، یوه برخه یا ګڼ شمېر آیتونه خو ئې پرځای پرېږدئ.

• د قرآن د آیتونو تر منځ دومره ژور نظم او تړاو مراعات شوی چې که یو لفظ ئې حذف یا بدل شي نظم او ښکلا ئې صدمه ګوري، داسي لکه د مرغلرو یو ښکلی هار چې تار ئې وشلېږي او مرغلري ئې خورې شي، څوك چې له قرآن سره آشنا وي پوهېږي چې نه له قرآن څه حذف شوي او نه پورتنی مضمون د قرآن له آیتونو سره د محتوی، ادبي ترکیب، ښکلا او ښایست له پلوه ورته والی او شباهت لري. هیڅ په قرآن پوه انسان به دا ادعاء ونه مني چې له قرآن څه حذف شوي.

• ټولو صحابه وو پر دې اجماع کړې چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی قرآن همدغه دئ چې په اوسني مصحف کې راغونډ شوی، د دوی دا اجماع کافي ده چې ووایو داسي روایات په بشپړه توګه بې اعتبار دي چې وایي د قرآن کومه برخه حذف شوې.

• د دې روایت په اړه د ابوعبدالرحمن رأیه هم واورئ چې وایي: لا أعلم أن أحدا ذكر في هذا الحديث الشيخ والشيخة فارجموهما البتة غير سفيان وينبغي أنه وهم والله أعلم: له سفیان پرته بل داسي څوك نه پېژنم چې په دې حدیث کې ئې دا خبره هم ذکر کړې وي چې

که بوډا او بوډۍ زنا وکړي دواړه رجم کړئ، ښايي ده به وهم کړی وي، الله تعالی ښه پوهېږي.

• دې ته مو هم پام وي چې ټول مفسرين او فقهاء په دې اړه متفق دي چې د محصن زناکار سزا رجم (سنگسارول) دي. خو په دې اړه بېل بېل آراء لري چې د دې حکم منشأ څه ده، دقيقه رأيه دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم دې ته په پام سره محصن زناکار د رجم په سزا محکوم کړی چې د مجرد زناکار سزا سل درې ده نو طبيعي ده چې د متأهل زناکار سزا به تر دې زياته وي؛ او دا به همغه سزا وي چې په مخکيني شريعت کې راغلې او قرآن هغه نه ده منسوخ کړې. همغسې لکه چې د آزادې ښځې او وينځې سزا توپير لري، وينځې ته د دې لپاره چې محدوديتونه ئې تر آزادې زيات دي، د خپلې خوښې نکاح ئې نه ده په برخه شوې نو سزا ئې تر آزادې نيمه ټاکل شوې. د دې تفصيل د النور د سورې د دوهم آيت په تفسير کې وگورئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ۝١ وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا ۝٢ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ۝٣

اې نبي! د الله پروا لره او د کافرانو او منافقينو اطاعت مه کوه، يقيناً چې الله ښه باحکمت پوه دئ. او د هغه څه متابعت کوه چې ستا د رب له لوري درته وحي کېږي، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. او پر الله توکل کوه چې الله د وکيل (ذمه وال) په توگه کافي دئ.

(۱-۳)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې تل او په هر څه او هر حال کې د الله تعالی پروا کوه او له داسې څه ځان ساته چې الله تعالی پرې ناراض کېږي. د دې تقوی تقاضا دا ده چې د کافرانو او منافقانو خبرې مه منه، د دوی تگلارې او کړنلارې مه غوره کوه. ستا رب (عليم) او (حکيم) دئ، تا ته ئې داسې لارښوونې کړې دي چې بنسټ ئې د ده پر کامل او بشپړ علم او پراخ حکمت ايښودل شوی. نو د هغه څه متابعت کوه چې ستا د رب له لوري درته وحي کېږي، هم په پټه او هم په ښکاره، هم د نورو تر څنگ او په ټولنې کې او هم يوازې يا په خپلې کورنۍ کې، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، هم ستاسو له پټو کارونو خبر دئ او هم د ځرگندو

کارونو له څرنګوالي، موخو او محرکاتو؛ او پر الله توکل کوه چې الله د کفيل (ذمه وال) په توګه کافي دئ، د الله د حکم مطابق عمل کوه او نتائج ئې خپل رب ته محول کوه او ډاډه اوسه چې الله تعالی د کفيل په توګه درته کافي دئ.

مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلۡبَيۡنِ فِي جَوۡفِهِۦۚ وَمَا جَعَلَ أَزۡوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي تُظَٰهِرُونَ مِنۡهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمۡۚ وَمَا جَعَلَ أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ قَوۡلُكُم بِأَفۡوَٰهِكُمۡۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلۡحَقَّ وَهُوَ يَهۡدِي ٱلسَّبِيلَ ﴿٤﴾ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمۡ تَعۡلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمۡۚ وَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٞ فِيمَآ أَخۡطَأۡتُم بِهِۦ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتۡ قُلُوبُكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٥﴾

الله د هيڅ سړي په ګېډه کې دوه زړونه نه دي ګرځولي؛ او ستاسو هغه مېرمني ئې ستاسو میندي نه دي ګرځولې چې ترې ظهار کوئ (ورته وایئ چې زما د مور په څېر شوې)؛ او ستاسو زوی بوللي ئې ستاسو زامن نه دي ګرځولي، دا ستاسو د خپلو خولو وینا ده؛ او الله حقه وينا کوي او هغه سمه لار ښيي، خپلو پلرونو ته منسوب ئې دروبلئ (د خپلو پلرونو په نامه ئې یاد کړئ)، همدا د الله په وړاندي ډېره عادلانه ده؛ او که ئې پلرونه نه پېژنئ نو په دین کې ستاسو وروڼه او ستاسو دوستان دي؛ او په هغه څه کې کومه ګناه درباندي نشته چې په کې خطاء شئ، ليکن په هغه څه کې (ګناه شته) چې ستاسو زړونو ئې قصد کړی وي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ.

(٤-٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی هر چا ته يوازې يو زړه ورکړی، دا زړه به يا له ايمان، صدق او اخلاص ډکوي او يا له شرك، کفر او نفاق، داسې نشي کېدی چې څوك دې مؤمن هم وي او داسې افکار او عقائد دې هم ولري چې منشأ ئې کفر او نفاق وي او له ايمان سره نه ښايي، داسې نشي کېدی چې عمل ئې د کافر او منافق وي خو دعوی ئې دا چې په زړه کې ئې ايمان دئ او له الله تعالی وېرېږي!! د يوه زړه له خاوند سره دوه ګوني او غبرګ معيارونه نه ښايي، داسې چې يو څوك هم دوست وګڼي او هم دښمن، عقيده ئې داسې وي چې يوه ډله ورته د دښمنانو ډله ګڼي خو دی ورسره دوستي کوي، ايمان يو څه ورته حلال او جائز ګڼي خو دی د حرام په سترګه ورته ګوري.
- که تاسو خپلې مېرمني ته سل ځلې ووايئ چې زما د مور په څېر راباندي حرامه شوې،

په دې وينا سره هغه ستاسو مور نه ګرځي، مور مو يوازې هغه ده چې تاسو ئې زېږولي يئ، که تاسو څوك په زوى ولې ونيسئ په دې سره هغه ستاسو اصلي زوى نه دئ ګرځېدلى، اصلي زوى مو يوازې هغه دئ چې تاسو ئې پلار يئ او ستاسو له نطفې پيدا شوى. په دغو مواردو کې به نه دود دستور معتبر ګڼئ او نه ستاسو له خولې وتلې ويناوې، يوازې د الله تعالی احکام او د خپل دين لارښوونې به معتبر ګڼئ. د الله تعالی هره وينا حق ده او تاسو ته سمه لار ښيي.

- څوك چې تاسو په زوى ولې نيسئ هغه ځان ته نه بلکې خپل اصلي پلار ته منسوبوئ او د خپلو پلرونو په نامه ئې ياد کړئ، همدا د الله تعالی په وړاندې ډېره عادلانه وينا او د حقيقت مطابق انتساب دئ. که احياناً د هغه پلار نه پېژنئ نو د ورور او دوست په نامه ورته خطاب کوئ، هغه په دين کې ستاسو ورور او دوست دئ.
- که احياناً اشتباه وکړئ او دا الهي لارښوونه اشتباهاً مراعات نه کړئ نو په هغو مواردو کې چې خطاء شوې يئ کومه ګناه درباندې نشته، خو په هغه څه کې ګناه شته چې ستاسو زړونو ئې قصد کړى وي؛ او عمداً مو د دې الهي لارښوونې خلاف عمل کړى وي. خو سره له دې الله تعالی مهربان بخښونکى دئ، اميد دئ ستاسو غلطي او ګناه معاف کړي.

دلته بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

تر اسلام وړاندې او د جاهليت د دور يو جاهلانه دود دا وو چې خلکو به خپلو مېرمنو ته د دائمې طلاق ورکولو لپاره دا الفاظ کارول چې پر ما داسې شوې لکه خپله مور، ستا شا راته داسې شوه لکه د خپلې مور شا، همدا راز که به چا کوم څوك په زوى ولې ونيولو نو نه يوازې دا چې د ده زوى به ګڼل کېدو او په همدې نامه به يادېدو بلکې په ميراث کې به ئې هم برخه د اصلي زامنو په اندازه وه، اسلام د جاهليت دا دودونه هم د نورو ناوړه دودونو په څېر لغو کړل او د دې مبارکې سورې په ترڅ کې ئې دغه لارښوونې وکړې چې په داسې مواردو کې ستاسو د خپلو خولو ويناوې څه ارزښت نه لري او حقيقت نه شي بدلولى، داسې ويناوې نه له مېرمنې مور جوړولى شي او نه پردى زوى اصلي زوى. د طلاق او ميراث په جامع احکامو سره ئې دا دودونه لغو کړل. که څوك د شفقت او ترحم له کبله چا ته د ورور، خور، مور او پلار خطاب وکړي، په دې کې څه حرج نشته، د پورتنې آيت مراد دا نه دئ چې دا راز خطاب منع کوي، بلکې مراد ئې دا دئ چې دا الفاظ به په حقيقي معنى نه کاروئ، په دې الفاظو سره هغوى ستاسو اصلي خپلوان نه جوړېږي، نه د اصلي خپلوانو حکم پرې کېدى شي او نه ئې حقوق د هغوى په څېر کېدى شي.

ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ

أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ٦

مؤمنانو ته دا نبي د دوی تر خپلو ځانونو لومړی توب لري؛ او مېرمني ئې د دوی میندي دي؛ او د الله په کتاب کې مؤمن او مهاجر خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري، مګر دا چي له خپلوانو سره مو په معروفه توګه کومه ښېګڼه وکړئ، همدا په دې کتاب کې لیکل شوي.

(٦)- په دې مبارکو آیتونو کې مؤمنانانو ته څو لارښووني شوې:

- د دوی د ایمان تقاضا دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به تر خپل ځان لومړی توب او ترجیح ورکوي، د ده وینا به تر خپلي وینا غوره ګڼي، د ده له لوري بلنه به د خپل نفس له بلني مقدمه ګڼي، د ده ژوند به تر خپل ژوند مهم ګڼي، له ده سره به ئې مینه دومره وي چي له الله تعالی پرته له هیچا سره دومره مینه ونه لري، تر مور، پلار، اولاد، مېرمني او نژدې خپلوانو او دوستانو به ئې له هغه سره مینه زیاته وي. دا ځکه چي انسان له هغه چا سره زیاته مینه کوي چي تر نورو ئې له ده سره زیاتي پېرزویني کړې وي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم د بعثت له کبله چي الله تعالی پر دوی کومه پېرزوینه کړې او د هغه په لاس ئې له شرك، کفر، ظلم، جهل، فساد، سپکاوي او رسوایي ژغورلې او او د دنیا عزت او د آخرت سعادت ئې ورپه برخه کړی، د دې ستري پېرزویني عظمت ته په پام سره باید له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دوي مینه پر بلي هري میني غالبه وي.
- د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمني به داسي ګڼي لکه خپلي میندي، رسول الله صلی الله علیه و سلم د ټولو مؤمنانو؛ نارینه او ښځو معنوي پلار دئ او حقوق ئې تر پلار زیات او د ده مېرمني ئې د عزت او درناوي له پلوه داسي دي لکه د دوی میندي. دلته باید دوه خبري په پام کې ولرئ: لومړی دا چي دا حکم یوازي د درناوي او احترام په اړه دئ او ټولو مؤمنانانو؛ نارینه او ښځو ته راجع دئ، د حجاب په اړه نه دئ، ځکه تر دې وړاندي ویل شوي چي داسي مجازي نسبتونه حقیقت نه شي بدلولی. دوهم دا چي د قرآن د بل آیت په ترڅ کې دا لارښوونه شوې چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته به د هغه له مېرمنو سره له نکاح ډډه کوئ، دا درباندي حرام ده او د الله تعالی په وړاندي ستر قبیح عمل، ځینو درنو مفسرینو له همدې فقرې (و ازواجه امهاتهم) له امهات المؤمنین سره د نکاح د حرمت حکم رااېستلی حال دا چي دلته د دې حرمت خبره نه یوازي مطرح نه ده بلکې داسي تعبیر له مخکیني آیت سره تعارض رامنځته کوي، ځکه هلته ویل شوي چي ستاسو د خولې وینا حقیقت نه شي بدلولی. د دواړو فقرو تر منځ یوازي هغه مهال همغږي رامنځته کېدی شي چي مجازي حرمت (درناوی) د ستر او حجاب د عدم مراعات په معنی تعبیر نشي، په بلي بڼې کې او د دغو درنو مفسرینو د تعبیر له مخي خو مجازي حرمت د حقیقي حرمت په معنی تعبیر شوی نو په دې صورت کې خو د حجاب حکم هم باید منتفي وګڼل شي.

- مؤمنان باید دې ته متوجه وي او له خپلوانو سره په چلن کې دا خبره په پام کې ولري چې د خپلوانو درجې او حقوق یو تر بل توپیر لري، د ځینو درجې او حقوق تر نورو زیات دي، خو د (ایمان) او (هجرت) په شرط، د الله په کتاب کې مؤمن او مهاجر خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري، خو د دې لارښووني معنی دا نه ده چې له غیرمؤمن او غیر مهاجر خپلوانو سره له هر ډول خپلوۍ پاللو او ښېگنې کولو منع شوي یئ، داسي نه ده؛ له داسي خپلوانو سره کولی شئ چې په معروفه توگه کومه ښېگڼه وکړئ، همدا د الله تعالی په دې کتاب کې لیکل شوي.
- ځینو درنو مفسرینو د دې آیت دا برخه (وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ) داسي ژباړلې: (او د الله په کتاب کې خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري؛ تر نورو مؤمنانو او مهاجرینو)، دا ژباړه هم له ادبي پلوه رکاکتونه او ستونزي لري او هم د آیت له سیاق سره اړخ نه لگوي. تر دې فقرې وروسته راغلې دغه استثناء (إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ) نه یوازي د دوی له تعبیر سره اړخ نه لگوي بلکي په واضح توگه ښیي چې دلته هغه خپلوان مستثنی شوي چې مؤمن او مهاجر نه دي. د آیت وروستۍ فقره (كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا) هم د دوی له تعبیر سره مناسبت نه لري، ځکه په قرآن کې تر دې وړاندي دا لارښوونه نه مومو چې خپلوان (که کافر او غیر مهاجر هم وي) تر مؤمنانو او مهاجرینو اَوْلٰی دي او مؤمنان باید دوی ته لومړی توب ورکړي، خو په قرآن کې دا لارښوونه مومو چې له غیر مؤمن او غیر مهاجر سره که خپل وي او که پردی په معروفه توگه ښېگڼه کولی شو. قرآن فرمایي:

لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٨ الممتحنه

الله له هغو نه یئ منع کړي چې له تاسو سره نه دي جنگېدلي او تاسو ئې له خپلو مېنو نه یئ ایستلي، چې ښېگڼه ورسره وکړئ او عادلانه چلن ورسره وکړئ، یقیناً چې الله مقسطین خوښوي.

په حقیقت کې د الاحزاب د سورې په هغه مبارك آیت کې د الممتحنه سورې د دغه اتم آیت مزید وضاحت شوی.

دې ته مو هم باید پام وي چې د دې الهي ارشاد له مخي د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټولي مېرمني د احترام او درناوي له پلوه د مؤمنانو د میندو حیثیت لري، که څوك د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مېرمنو درناوی نه کوي، خپلي معنوي میندي ئې نه گڼي، د هغوی د شأن او حیثیت په اړه کړه خوله خوځوي، هغه نه یوازي د الله تعالی د صریح حکم خلاف عمل کوي، بلکي د اسلام او د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه و سلم په اړه داسي ستره دښمني کوي چې تر بلي هري دښمنۍ سخته، قبیح او کرکجنه ده، خدای وهلي

شیعه په همدې بېمارۍ اخته شوي، هغوی د عائشې رضی الله عنها په څېر د هغه ستر شخصیت په اړه ناروا تبلیغات کوي چي د قرآن یوه مکمله سوره د هغې په دفاع کې نازله شوې، د النور سوره له سر تر پایه د هغه اتهام د رد او غندلو په اړه نازله شوې چي د منافقینو له لوري د عائشې رضی الله عنها په ضد وارد شوی وو. له دې پلوه له رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته هیڅا ته دا شرف او افتخار نه دئ په برخه شوی چي په قرآن کې دي په دومره صریحو الفاظو د هغه برائت اعلان شي، د شیعه ځیني بدمغزه او بدطینته آخوندان وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت وړاندي علي رضی الله عنه ته دا واك ورکړی وو چي کولی شي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کومي مېرمني نوم د امهات المؤمنین له فهرست حذف کړي او هغه دا کار وکړ او عائشه رضی الله عنها ئې له دې فهرست وایستله!! دا بدبختان نه دې ته گوري چي قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټولي مېرمني د مؤمنانو میندي گڼلې دي او د قرآن یوه مکمله سوره د عائشې رضی الله عنها په برائت او پاك لمنۍ شهادت ورکوي او نه دې ته چي په داسي کرکجنو ادعاءگانو او جعلي روایاتو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه د درنې او متقي کورنۍ هتك حرمت کوي!! آیا دا ممکنه ده چي د چا په زړه کې دي یوه ذره ایمان وي او هغه دي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ټبر په اړه داسي هتك حرمت وکړي؟!

وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٨﴾

او هغه مهال چي له انبیاوو مو د دوی تړون واخیست، له تا، له نوح، ابراهیم، موسی او عیسی د مریمې زوی؛ او له دوی مو کلك تړون واخیست، چي له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتنه وکړي؛ او کافرانو ته ئې ځانگړی دردوونکی عذاب تیار کړی.

(۷-۸)- په دې مبارك آیت کې له پیغمبرانو علیهم السلام د یوه تړون اخیستلو موضوع ته اشاره شوې او ویل شوي چي له دې لاري الله تعالی له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتنه کوي، په داسي حال کې چي کافرانو ته ئې ځانگړی دردوونکی عذاب تیار کړی. دا پوښتنه راولاړېږي چي دا تړون څه دئ؟ دلته دغه تړون ته په واضحو الفاظو اشاره نه ده شوې، د قرآن په نورو آیتونو کې د دې میثاق مختلف بندونه توضیح شوي، لکه دا چي له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت نه کوي، د دین په مضبوطي رسۍ به خپلي منگولي کلکي ساتي، د الله تعالی پیغام به په پشړه توگه او په امانت سره خلکو ته رسوي، په دین کې به له تفرق ډډه کوي، د نورو پیغمبرانو ملاتړ او تأیید به کوي، له الله تعالی پرته به له بل چا وېره نه

لري، د پیغام په رسولو کې به د خلکو د مخالفتونو پروا نه کوي، خو دا چې د رښتينو رښتينولي ځنګه له دې لاري معلومېدی شي په دې پوهېدل لږ وضاحت غواړي او هغه دا چې ډېر خلك پر الله تعالی د ایمان دعوی کوي، کله په خپله د خپل ځان په اړه داسي انګېري چي مؤمن او متقي دئ او کله نور د ده په اړه همدا ګمان کوي، خو په حقيقت کې او د الهي معيارونو له مخي نه مؤمن وي نه صالح او متقي، قرآن د پيغمبر اطاعت د ایمان او تقوی لپاره معيار او ملاك ګڼي؛ هغه څوك د ایمان، تقوی او له الله تعالی سره د مینې په ادعاء کې رښتينی بولي چي عملاً او د ژوند په ټولو ډګرونو کې د پيغمبر اطاعت وکړي، د پيغمبرانو د بعثت او د هغه ترون له لاري چي الله تعالی له دوی اخيستی هغه وګړي څرګندېږي چي د ایمان په دعوی کې رښتيني دي، له همدې لاري د کافرانو په اړه حجت بشپړ کېږي او د هغه دردناك عذاب مستحق ګرځي چي الله تعالی د دوی لپاره تيار کړی. که دلته د آيت سياق و سباق ته په پام سره دا مطلب توضيح کړو چي له پيغمبرانو د ترون اخيستل او له رښتينو د دوی د رښتينولۍ پوښتلو تر منځ تراو څنګه دئ نو د وروستي آيت په رڼا کې دا مطلب راته جوتېږي چي د الهي ميثاق له مخي پر پيغمبرانو او د دوی پر صادقو پلويانو داسي سخت آزمېښتونه راځي چي په ترڅ کې ئې صادق او کاذب سره بېلېږي، په وروستي آيت کې به وګورئ چي مسلمانان له همداسي يوې سختي آزمويني سره مخامخ شوي وو چي په نتيجه کې رښتيني مؤمنان او هغه چي په زړونو کې ئې بيماري او نفاق وو جوت شول. په
١٥ آيت کې دې ژمني ته اشاره شوې چي له دښمن سره د مقابلې په دوران کې به تېښته نه کوئ او دښمن ته به شا نه اړوئ؛ او د آيت په پای کې ويل شوي چي د الهي ژمني پوښتنه کېږي، له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چي په آيت کې له پيغمبرانو عليهم السلام د ترون اخيستلو دقيق تعبير همدا دئ.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا
عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذۡ جَآءُوكُم
مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ
ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا
شَدِيدٗا ﴿١١﴾ وَإِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ﴿١٢﴾ وَإِذۡ قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمۡ
فَٱرۡجِعُواْۚ وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ

بِعَوۡرَةٍۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ١٣ وَلَوۡ دُخِلَتۡ عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُواْ
ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ١٤ وَلَقَدۡ كَانُواْ عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ لَا
يُوَلُّونَ ٱلۡأَدۡبَٰرَۚ وَكَانَ عَهۡدُ ٱللَّهِ مَسۡـُٔولٗا ١٥

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوینه درياد کړئ چې لښکري درته راغلې نو موږ سیلۍ پرې ولېږله او داسې لښکري چې تاسو ونه لیدلې؛ او الله د هغه څه ښه لیدونکی وو چې تاسو کول، هغه مهال چې له بره مو هم دربانديې راغلل او ستاسو له کوز لوري هم؛ او هغه مهال چې سترګي تتې شوې وې او زړونه ستونو ته رسېدلي وو او د الله په اړه مو ډول ډول ګمانونه کول، هملته مؤمنان وآزمويل شول او په سختي لړزېدا سره ولړزول شول؛ او هغه مهال چې منافقينو او هغو چې په زړونو کې ئې مرض دئ ويل: الله او د ده رسول له يو ډول غولولو پرته د بل څه وعده نه وه راسره کړې؛ او هغه مهال چې د دوی يوې ډلي وويل: اې د يثرب استوګنو! د تمځي ځای درته نشته؛ نو بېرته ستانه شئ؛ او د دوی يوې لويي ډلي په داسې حال کې له پيغمبر اجازه غوښتله چې ويل ئې: يقيناً چې زموږ کورونه نامحفوظ دي، حال دا چې نامحفوظ نه ول، له تېښتي پرته ئې بل څه نه غوښتل؛ او که له اطراف ئې پرې ورننوتي وی بيا فتنه ترې غوښتل شوې وی؛ حتماً به ورغلي وو او د هغې په اړه به له معمولي درنګ پرته نه وو تم شوي. په داسې حال کې چې تر دې وړاندي ئې له الله سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي؛ او الهي ژمنه خو داسې ده چې پوښتنه ئې کېږي.

(٩-١٥)- په دې مباركو آيتونو كې د احزاب د جګړې يو دقيق او زړه راښكونكی انځور وړاندې شوی چې په ترځ كې ئې د ايمان په لار كې او د پيغمبرانو عليهم السلام په ملګرتيا كې د مؤمنانو د آزمويلو يوه بېلګه زموږ په وړاندې اېښودل شوې، په دې تاريخي بېلګې كې له يوې خوا د ستر برید په وړاندې له مؤمنانو سره د الله تعالی مرسته، په ډېر سخت حالت كې د مؤمنانو آزمېښت، د صبر او استقامت په نتيجه كې پر ستر دښمن او د ټولو دښمنانو د ګډ لوی بريد په وړاندې د دوی حیرانوونكې بريا، د مسلمانانو له ليكو د منافقينو او بیمارزړو د بېلېدا هڅه، د الهي وعدو په اړه د دوی د عدم باور او اعتقاد څرګندېدا، له خپلو مخكينيو ژمنو تر شا كېدا او د كافرانو لوري ته د دوی د تمايل په څېر ستر ستر مسائل په كې څېړل شوي.
بحث مؤمنانو ته په دې الهي خطاب پيل شوی: اې هغو چې ايمان ئې راوړی! پر تاسو د الله تعالی هغه پېرزوينه درياد كړئ چې ډېري لښكري ستاسو خوا ته راورسېدې، الله تعالی سیلۍ پرې مسلطه كړه او داسې لښكري ئې د دوی د خورولو لپاره ولېږلې چې تاسو په خپلو سترګو نه ليدلې، تاسو چې هغه مهال په كوم وضعيت كې وئ، هر يوه مو څه كول، هر يوه

مو کوم دریځ غوره کړی وو؛ الله تعالی لیدلئ، ستاسو د هر څه ښه لیدونکی وو، هغه مهال چې له بره مو هم د دښمن لښکري درباندي راغلې او ستاسو له کوز لوري هم، ځيني د نجد او خيبر له لوري راغلل چې تر مدينې بر سيمه ګڼل کېده او ځيني د مکې له لوري چې د مدينې لر سيمه ګڼل کېده، هغه مهال چې د هيبت او وېري له کبله د ډېرو سترګي خړي شوې وې، زړونه ئې ستونو ته رسېدلي وو او د الله په اړه ئې ډول ډول ګمانونه کول، هملته مؤمنان وآزمويل شول او په سختي لړزېدا سره ولړزول شول. همدا هغه مهال وو چې منافقينو او هغو چې په زړونو کې ئې مرض دئ ويل: د الله او د ده د رسول هغه د بري او برلاسي وعدې چې موږ ته ئې راکولې له يو ډول غولولو پرته بل څه نه وو، هغه مهال چې د دوی يوې ډلي وويل: اې د يثرب استوګنو! د تېکي ځای درته نشته؛ چې له دې خبري ئې يا مراد دا وو چې نه دلته تم کېدی شئ او نه دا د خندق خوا ته تم کېدا ستاسو لپاره مناسبه او ګټوره ده، غوره دا ده چې بېرته ستانه شئ؛ او يا ئې مراد دا وو چې په اسلام ټينګار هيڅ ګټه درته نه لري راشئ بېرته خپل پلرني دين ته واوړئ؛ او د دوی يوې لويي ډلي په داسي حال کې له پيغمبر عليه السلام اجازه غوښتله چې ويل ئې: يقيناً چې زموږ کورونه نامحفوظ دي، مجبور يو خپلو کورونو ته ستانه شو او د حفاظت څه انتظام ئې وکړو، حال دا چې کورونه ئې نامحفوظ نه ول، له تېښتي پرته ئې بل څه نه غوښتل، له دې خبري ئې قصد او اراده يوازې دا وه چې خپلې تېښتي ته يوه بهانه جوړه کړي؛ او که په همدې حالت کې د دښمن لښکري مدينې ته ننوتې وی او له دغو منافقينو ئې په کومي فتنې کې د برخي اخيستو غوښتنه کړې وی نو له کوم ځنډ پرته به په دې فتنې کې د پرېوتو لپاره چمتو شوي وو، يعني که دوی ته د کفارو له لوري د اسلام او مسلمانانو په ضد د کوم کار او د کافرانو د ملګرتيا بلنه ورکړی شوې وی نو له کوم ځنډ پرته به ئې دا بلنه منلې وه او په فتنې کې د پرېوتو په اړه به ئې له معمولي درنګ پرته ځنډ نه وو کړی. دا په داسي حال کې چې تر دې وړاندي ئې له الله تعالی سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي؛ او الهي ژمنه خو داسي ده چې پوښتنه ئې کېږي. نه به دښمن ته شا اړوي او نه به له اسلام د کفر لوري ته اوړي.

په دې مبارکو آيتونو کې دښمن ته شا کول او خپله مورچل ورته پرېښودل د هغي ژمني خلاف کار ګڼل شوی چې هر مسلمان ئې له خپل رب سره لري؛ هغه ژمنه چې پر خدای د ايمان او په قرآن د باور غوښتنه ده. دا څه عادي ژمنه نه ده، الله تعالی حتماً د هغې پوښتنه کوي. له دښمن تېښته او سنګر ورته پرېښودل، نه تا له مرګ ژغورلی شي او نه له وژل کېدو. که فرضاً د تېښتي په نتيجه کې له وژل کېدو وژغورل شې، ما ته ووايه چې څومره وخت به نور ژوندی وې، چا دا تضمين درکړی؟!! آيا داسي څوك او يا داسي کوم تدبير په نظر درځي چې له الله تعالی دې وساتلی شي؟ که خدای ستا لپاره د کوم ضرر اراده وکړي هغه څوك دئ چې د دې ضرر مخه ونيسي؟ او که خدای ستا د بري او فتحي اراده کړې وي هغه څوك دئ چې د دې مانع شي. له الله تعالی پرته نه کوم مولا او چاري سمبالوونکی لرې او نه کوم مرستندوی.

لکه چې ګورئ په دې مبارکو آيتونو کې د احزاب د ستري جګړې او د مخالفينو له لوري د دوی د وروستې ستر ګډ بريد ډېر جامع او دقيق انځور زموږ مخې ته ځلېږي؛ او ښيي چې د ايمان په لار کې د احزاب له جګړې سره مخامخېدل يو طبيعي بهير او د هغه تړون يو بند دئ چې الله تعالی له اولوالعزمه پيغمبرانو او د دوی له لارې له ټولو مسلمانانو اخيستی دئ، ټول بايد ذهناً او عملاً دې ته چمتو وي چې د خپلې مبارزې په بهير کې به حتماً له داسې حالت سره مخامخ کېږي چې د کفر، شرك، نفاق او فساد ټول ځواکونه د دوی په ضد ګډه جبهه پرانيزي او د ګډ ستر بريد پرېکړه وکړي، که له دې طبيعي پړاو سره مخامخ شول نو بايد ډاډه وي چې د صبر، استقامت او پر خپل رب د توکل په نتيجه کې به الله تعالی په خپلو غيبي لښکرو د دوی مرسته کوي، دوی ته به بريا ورکوي او دا بريد به د دوی په ضد د دښمن وروستی ناکام بريد ثابتېږي. يوه سره سيلۍ، د دښمن د جنګياليو په زړه کې وېره او يأس اچول، له بريا ئې ناهيلي کول، د دوی تر منځ اختلاف راولاړول او دې ته ورته هغه کارونه چې الله تعالی ئې په غيبي لښکرو تر سره کوي؛ کافي دي چې لوی لوی مجهز فوځونه خواره واره شي او تش لاس د جګړې له ډګر په شا شي، آيا د احزاب ستره تاريخي جګړه د دې حقيقت لپاره يو څرګند او انکار نه منونکی ثبوت نه دئ؟!!

د دې سورې په مقدمه کې دا مطلب واضح شوی چې د احد له ماتې وروسته داسې فضاء رامنځته شوه چې کورني او بهرني دښمنان زړه ور شول، کورنيو دښمنانو؛ منافقينو او په مدينه کې مېشت يهودانو قريشو ته بلنه ورکوله چې که پر مدينه بريد وکړي نو دوی به ئې کلکه ملګرتيا او مرسته کوي، د عربو ډېرې مشرکې قبيلې چې تر دې وړاندې ئې د مسلمانانو په ضد د قريشو ملګرتيا او ملاتړ نه کولو او د مسلمانانو په ضد جګړو کې ئې برخه نه اخيستله د احد له ماتې وروسته زړه ور شول، ځينو قريشو ته اطمئنان ورکولو چې په راتلونکو جګړو کې به د دوی ملګرتيا کوي، ځينو په خپله پر مدينې د بريد تيارۍ نيولو، ځينو د دوکې او خدعې له لارې مسلمانانو ته د ضرر او تاوان رسولو توطئې جوړولې، خو الله تعالی د دښمنانو ټولې توطئې شنډې کړې، رسول الله صلی الله عليه و سلم هر دښمن ته په خپل وخت مناسب ځواب ورکړی او د هغه بريد ئې شنډ کړی، دغو پېښو ټول دښمنان دې ته متوجه کړل چې د عربو هيڅ قبيله د قريشو په شمول په يوازې توګه او د نورو له مرستې او ملګرتيا پرته د مسلمانانو مقابله نشي کولی، له دې پرته بله چاره نه لري چې ټول په ګډه او د يوه ستر بريد له لارې د مسلمانانو له دې ورځ په ورځ زياتېدونکې ګواښ ځان د تل لپاره وژغوري. دښمنانو د يوه ګډ لوی بريد ضرورت هغه مهال لا زيات احساس کړ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د حجاز او شام تر منځ پرتې سيمې دومة الجندل کې د مېشت شوکه مارو هغه ډله وځپله چې دلته به ئې تجارتي قافلې لوټلې، رسول الله صلی الله عليه و سلم د پنځم هجري کال د ربيع الاول په مياشت کې له زرو مجاهدينو سره د دې لوټمارو د تأديب لپاره په هغه لوري وخوځېدو، هغوی خپله سيمه پرېښوده او وتښتېدل، د مسلمانانو دغې سترې بريا دښمنان لا زيات هيبت وهلي کړل او د دوی د خېږنو زړونو

کینه ئې لا زیاته تشدید کړه، همدا د احزاب د تاریخي جګړې شالید او محرکات ول. په دې جګړې کې د مسلمانانو ټولو دښمنانانو په یوې او بلې بڼې کې برخه واخیسته، د پنځم هجري کال د شوال په میاشت کې د دښمن لښکرې د مدینې په لور وخوځېدې، له مکې د قریشو د سردارانو تر مشرۍ لاندې لوی لښکر د مدینې له لاندې لورې او له نجد او خیبر د دغو سیمو د یهودانو او مشرکانو د مذهبي او قومي مشرانو تر قیادت لاندې د مدینې له بر لورې وخوځېدل او د مدینې په شمال کې سره یو ځای شول. دا مخالفین د بني نضیر د هغې یهودي قبیلې مشرانو دې جګړې ته هڅولي ول چې د یوې ناکامې توطئې له کبله له مدینې وشړل شوه، دوی لومړی قریشو ته او بیا د عربو نورو قبائلو ته په ننواتې ورغلل او هغوی ئې یو ګډ لوی برید ته چمتو کړل. دا لښکر دومره ستر وو چې د عربو په تېر تاریخ کې هیڅکله دومره ستر لښکر په یوه برید کې برخه نه وه اخیستې، د مسلح جنګیالیو شمېر ئې تر لس زره زیات وو، هیچا دا ګمان نه کولو چې مسلمانان به د دې برید په وړاندې مقاومت وکړی شي، د هر چا انګېرنه دا وه چې دا ځل به مدینه د دښمن په لاس کې پرېوځي او مسلمانان به یا وژل کېږي او یا به د مدینې پرېښودو ته اړ کېږي. خو داسې ونه شول، کله چې دښمن د مدینې شمالي څنډې ته ورسېدو په ناڅاپي توګه له داسې څه سره مخامخ شو چې تر دې وړاندې ئې نه لیدلی وو او نه اورېدلی، یوه ژور (او احتمالاً له اوبو ډک) خندق ئې مخه ډب کړې، نه ترې اوښتی شي او نه د مدینې په لورې د پرمختګ لپاره بله لار او ګودر مومي، د دې خندق د کیندلو پرېکړه رسول الله صلی الله علیه و سلم د سلمان فارسي رضی الله عنه په مشوره کړې وه، لا دښمن سیمې ته نه وو رسېدلی چې د خندق کیندلو کار بشپړ شوی وو، په شپږو ورځو کې د خندق کار بشپړ شو، رسول الله صلی الله علیه و سلم له درې زرو زړه ورو مجاهدینو سره د خندق په امتداد کې مورچلې ونیولې، دښمن یوازې له همدې لورې پر مدینې د برید امکان درلود، نورو لوریو ته داسې طبیعي خنډونه او موانع ول چې د دوی د برید مخه ئې نیولې وه، مجبور شول همدلته واړوي او مدینه محاصره کړي، دا کلکه محاصره تر یوې میاشتې اوږده شوه، نه دښمن شاتګ ته تیار وو او نه مسلمانان له مقاومت لاس اخیستو ته، په پای کې دښمن دا هڅه وکړه چې په مدینه کې مېشت د بني قریظه یهودي قبیله دې ته چمتو کړي چې له دوی سره لاس یو کړي، په لومړي سر کې هغوی منفي ځواب ورکړ او ورته وئې ویل چې موږ له مسلمانانو سره په خپلې معاهدې ولاړ یو، تر نن پورې مو نه له دوی د معاهدې خلاف کوم عمل لیدلی او نه کوم تاوان، خو وروسته د دښمن د دې وینا تر اغېز لاندې راغلل چې ورته ویل ئې: داسې مناسب فرصت له لاسه مه ورکوئ، دومره ستر لښکر بیا نشي راغونډېدی، همدا د مسلمانانو د ځپلو وروستی فرصت دئ... د بني قریظه مشرانو توافق وکړ چې له دوی سره به د مسلمانانو په ضد ملګرتیا کوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې موضوع اطلاع ورسېده، د انصارو مشران ئې د سعد بن معاذ او سعد بن عباده په شمول دوی ته ورولېږل چې حقیقت معلوم کړي، په خپلو ژمنو ودرېدو ته ئې تشویق کړي، دوی ته ئې ویلي وو چې که د بني قریظه

ځواب منفي وو نو يوازې ده ته به اطلاع ورکوې او که ئې ځواب مثبت وو او له دښمن سره د ملګرتيا پرېکړه ئې نه وه کړې نو په لوړ ږغ دې ټولو مسلمانانو ته دا خبره اعلان کړي، خو وفد له دوی سره له خبرو وروسته متوجه شو چې د خيانت اراده لري، له دوی ئې نه يوازې منفي ځواب تر لاسه کړ بلکې دا ئې ترې واورېدل چې ويل ئې: زموږ او محمد تر منځ نه کوم تړون شته او نه کومه ژمنه، که څه هم دې پلاوي خبره پټه وساتله او يوازې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې حقيقت څرګند کړ خو دا خبره ډېر ژر هر لوري ته خوره شوه، د دوی غدارې مسلمانان سخت اندېښمن کړل، منافقينو ته دا فرصت په لاس ورغی چې خپل تبليغات تشديد کړي او د مسلمانانو د همت کمزوري کولو لپاره ترې استفاده وکړي، مسلمانان د بني قريظه له لوري ډاړه ول او رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه لوري ته د دفاع کوم ځانګړی انتظام نه وو کړی، حتی ځينو مسلمانانو خپلې کورنۍ دې لوري ته لېږلې وې، منافقينو به ويل: موږ ته د روم او فارس د فتحې زېرې راکول کېدل خو اوس مو حالت داسې دئ چې له خپلو مورچلو بهر نه شو وتلی، دا د فتحې او برياوو زېرې هسې زموږ د غولولو لپاره ول، ځينو ويل چې غوره دا ده قريشو ته تسليم شو، د هغوی شرائط ومنو، له اسلام او مسلمانۍ لاس واخلو او خپل مخکيني دين ته ستانه شو، ځينو لا دا هم ويل چې د دې ستونزې حل يوازې دا دئ چې محمد (عليه السلام) قريشو ته تسليم کړو!! رسول الله صلی الله عليه و سلم دا مهال د بني غطفان له قبيلې سره خبرې پيل کړې وې، غوښتل ئې هغوی دې ته چمتو کړي چې له جګړې لاس واخلي او د قريشو ملګرتيا پرېږدي چې په بدل کې به ئې د مدينې د حاصلاتو درېيمه برخه دوی ته ورکړي، خو کله چې ئې په دې اړه د انصارو له مشرانو سعد بن معاذ او سعد بن عباده وپوښتل هغوی ورته وويل: يا رسول الله! دا ستا خپله رأيه ده او پر موږ د زړه سوي لپاره ئې وړاندې کوې که د الله تعالی له لوري وحي؟ که وحي وي موږ له اطاعت پرته بل ځواب نه لرو خو که پر مو ږ د زړه سوي له کبله وي نو په خدای قسم چې موږ د شرك په حالت کې دوی ته جزيه نه وه ورکړې نو اوس چې الله تعالی په اسلام سره موږ ته عزت راپه برخه کړ څنګه به هغوی ته جزيه ورکوو؟!!، اوس به زموږ او دوی تر منځ پرېکړه په توري سره کېږي!! رسول الله صلی الله عليه و سلم د دوی د همتناك ځواب له اورېدو وروسته دا لړۍ متوقفه کړه او حتی ويل شوي چې د معاهدې مسوده ئې وشلوله.

دغه مهال د غطفان د قبيلې د اشجع څانګې يو کس د نعيم بن مسعود په نامه چې نوی مسلمان شوی وو او هيڅوك د ده له مسلمانېدو خبر نه وو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! زه نوی مسلمان شوی يم، هيڅوك زما له مسلمانېدو خبر نه دئ، که ما ته د څه کولو امر کوې چمتو يم، کولی شم د دوی تر منځ تفرقه او اختلاف راولاړ کړم، رسول الله صلی الله عليه و سلم د ده له وړانديز سره توافق وکړ چې همدا کار وکړي، هغه لومړی بني قريظه ته ورغی او ورته وئې ويل: کېدی شي قريش او غطفان د محاصرې له اوږدېدو تنګ او بېرته ستانه شي، دا کار هغوی ته نه ګران دئ او نه کوم تاوان

وررسوي، خو تاسو به همدلته په مدينه کې له مسلمانانو سره يوازي پاته يئ، نه به قريش د مسلمانانو په وړاندي ستاسو مرسته کولى شي او نه غطفان او نوري قبيلي، ښه به دا وي چي هغوى ته همدا خبره وکړئ او ورته ووايئ: په جگړي کې به يوازي هغه مهال برخه اخلو چي تاسو څو کسان موږ ته د يرغمل په توگه راکړئ چي مطمئن شو تاسو به موږ يوازي نه پرېږدئ، هغوى دا وړانديز خوښ کړ او پرېکړه ئې وکړه چي خپله مطالبه او شرط به قريشو ته وايي، نعيم له دې وروسته د قريشو او غطفان مشرانو ته ورغى او هغوى ته ئې وويل: داسي معلومېږي چي قريظه له خپلو ژمنو په شا شوي او غواړي ستاسو ځيني کسان يرغمل کړي او محمد (عليه السلام) ته ئې تسليم کړي او په دې توگه د هغه باور ېبرته تر لاسه کړي، بايد له دوى سره په خپلي معاملې کې محتاط وو، کله چي هغوى د قريظه مشرانو ته دا خبره وکړه چي محاصره اوږده شوه، جنگيالي تنگ شوي، بايد گډ بريد پيل کړو، هغوى د يرغمل کسانو غوښتنه تري وکړه، د متحده محاذ مشران پوه شول چي د نعيم وينا دقيقه وه، د دوى دا شرط ئې قبول نه کړ، بني قريظه هم متوجه شول چي د نعيم مشوره سمه وه او د متحده محاذ مشران دوى په دې جگړي کې ښکېلوي او بيا ئې يوازي پرېږدي!! په دې توگه گډ بريد وځنډېدو، له محاصرې نژدې پنځه ويشت ورځي تېري شوې وې، په همدې ظروفو او شرائطو کې يوه شپه سخته سړه سيلۍ راغله، داسي تياره خوره شوه چي چا خپل لاس نه شو ليدلى، د دښمن خيمې ئې ونړولې، د پخلي ديگونه ئې نسکور کړل، اوښانو او آسونو ئې پړي وشلول او په تېښته شول، د دښمن د هر جنگيالي همت ئې داسي وځپلو چي د سيمي له پرېښودو پرته ئې بله پرېکړه نه شوى کولى، سحر چي رڼا خوره شوه او مسلمانانو د لښکر مورچلو ته وکتل ټوله سيمه ئې په بشپړه توگه تشه وموندله!! دغه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دوى به له دې وروسته بيا پر تاسو بريد ونه کړى شي تاسو به پرې بريدونه کوئ.

وعن جابر بن عبد الله أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال يوم الأحزاب ... " عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الأَحْزَابِ: {وَقَدْ جَمَعُوا لَهُ جُمُوعًا كَثِيرَةً، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لا يَغْزُوكُمْ بَعْدَهَا أَبَدًا، وَلَكِنْ تَغْزُوهُمْ». مسند جابر بن عبد الله

دا د دښمن د وضعيت په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم ژور او دقيق معلومات، د جزيرة العرب د هغه مهال د حالت په ارتباط د ده صحيح پېژندنه او تحليل او يوه دقيقه وړاندوينه وه چي په بشپړه توگه رښتينې ثابته شوه، همداسي وشول، قريشو او نورو مشرکينو بيا پر مسلمانانو د بريد امکان تر لاسه نه کړ.

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلۡفِرَارُ إِن فَرَرۡتُم مِّنَ ٱلۡمَوۡتِ أَوِ ٱلۡقَتۡلِ وَإِذٗا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا

قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلۡ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ
بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧﴾

ووايه: که وتښتئ دا تېښته به هيڅکله تاسو ته له مړيني او وژل کېدو (کومه) ګټه درونه رسوي؛ او په هغه صورت کې به له لږ شاني پرته برخمن نه کړی شئ، ووايه: هغه څوك دئ چې له الله مو خوندي وساتي که کوم بدوالی درته وغواړي او يا کومه پېرزوينه درته وغواړي؟! او له الله پرته به نه ځان ته کوم مولا ومومي او نه کوم مرستندوی.

---

(۱٦-۱۷)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې منافقينو او هغو ته چې د دې جګړې په دوران کې ئې بې همتي کړې، داسې سخته وېره پرې مسلطه شوې چې غوښتل ئې سنګر پرېږدي او وتښتي؛ ووايي: که وتښتئ او دښمن ته شا کړئ نو دا تېښته نه تاسو له مړيني ژغورلی شي او نه له وژل کېدو، ستاسو دا د تېښتې غلط تدبير په دې اړه هيڅ ګټه نه دررسوي، که احياناً ستاسو مرګ او وژل کېدا وځنډېږي نو دا ژوند به له دې پرته بل څه نه وي چې څو لنډې ورځې د دنيا له مال متاع برخمن شئ!! که الله تعالی ستاسو په اړه دا پرېکړه کړې وي چې تاوان درورسېږي او له کوم کړاو سره مخامخ شئ آيا داسې څوك مومئ چې له الله تعالی مو خوندي وساتي او له ستونزې او کړاو سره له مخامخېدو مو وژغوري؟! او که د جنګ په ميدان کې او هغه مهال چې ستر لښکر ستاسو په ضد راغونډ شوی الله تعالی وغواړي خپله پېرزوينه درپه برخه کړي؛ آيا داسې څوك شته چې د الله تعالی د پرېکړې او ارادې مخه ونيسي؟! مګر نه پوهېږئ چې له الله تعالی پرته نه ځان ته کوم مولا موندلی شئ او نه کوم مرستندوی؟!

---

قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ
ٱلۡبَأۡسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ
تَدُورُ أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ سَلَقُوكُم
بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ فَأَحۡبَطَ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ
ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿١٩﴾ يَحۡسَبُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ
يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم بَادُونَ فِي ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا
قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢٠﴾

بې شکه چې الله ستاسو خنډ کېدونکي وګړي او هغه ښه پيژندلي چې خپلو ورونو ته (د دې وينا) ويوونکي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسي حال کې چې په جګړې کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، پر تاسو (د هري ښېګڼي) په اړه بخل کوونکي، کله چې د وېري حالت راشي نو دوی به ووينې چې ستا په لوري به داسي ګوري چې سترګی به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ (د وېري او هيبت) له کبله بې سده شوی، خو کله چې وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ کېږي، د مال ډېر حرص لرونکي، دوی ايمان نه دئ راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار الله ته آسان دئ. داسي انګېري چې (د دښمنانو) ډلي لا نه دي تللې او که احزاب (بيا) راشي دا به خوښوي چې د کوچيانو په ډلي کې په بيديا کې اوسېدی او ستاسو خبري ئې (له يوه او بل) پوښتلی؛ او که (احياناً) په تاسو کې وی نو نه به وو جنګېدلي مګر ډېر لږ.

---

(۱۸-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د جهاد مخالفين داسي معرفي شوي:

- الله جل شأنه دوی ښه پيژني، که هرڅومره بهانې وکړي، خلك وغولوي، د خپل ناروا دريځ لپاره غولوونکي دلائل وړاندي کړي، الله تعالی ته هم د دوی عملونه معلوم دي او هم ئې د زړه کيفيت.
- دوی په عملي جهاد کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ او هغه هم د مجبوريت له کبله.
- خپل ملګري او خپلوان هم له جهاد او په جګړو کې له برخي اخيستو منع کوي.
- د الله د لاري پر مجاهدينو ئې بری او فتح نه لورېږي.
- د خوف او وېري په حالت کې ئې وضعيت داسي وي لکه مرګ چې په سترګو ګوري او د مرګ وېرونکې بلا دوی ته خپله خوله پرانيستې وي.
- کله چې د وېري حالت ختم شي نو د خپلو تېرو ژبو توري له تېکو راوباسي او د مجاهدينو په خلاف شديد تبليغات پيل کړي.
- د تبليغاتو اصلي وجه او موخه ئې مال او مقام تر لاسه کول وي.
- دوی ايمان نه دئ راوړی، د الهي معيارونو له مخي د دوی ايمان حقيقي ايمان نه دئ او الله تعالی د دوی د ايمان دعوی نه قبلوي.
- الله تعالی د دوی هڅي شنډوي، هلي ځلي ئې حبطوي، پر هغو عملونو ئې هم د بطلان کرښه راکاږي چې په ظاهر کې ښه او نېك برېښي، د دوی ظاهري نيك عملونه د الله تعالی په وړاندي هيڅ قدر او قيمت نه لري.
- الله ته دا آسانه ده چې د مسلمانانو په ضد د دغو منافقينو هڅي حبط کړي.
- داسي انګېري چې دښمنان ئې سر ته ولاړ دي او خپلي تېرې توري ئې د دوی پر سر نېولې دي، د دښمن د خوربدو په وخت کې هم داسي ګمان کوي چې لا د دوی جنګيالي نه

دي تللي.

- که دښمن بېرته راستون شي نو دا به خوښوي چي له مسلمانانو او د جنګ له ډګر لري په بيديا کي له کوچيانو سره اوسېدی او شېبه په شېبه ئې د جنګ حال معلومولی او له يوه بل ئې د جنګ او په جنګ کي د مسلمانانو له وضعيت پوښتني کولی.
- که احياناً د جنګ په دغسي يوه حالت کي د مسلمانانو په څنګ کي پاته کېدو ته اړ شي نو په جنګ کي به برخه وانه خلي مګر ډېر لږ.

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾

**يقيناً چي تاسو ته د الله په استازي کي نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چي الله او د آخرت ورځي ته اميد ساتي او الله زيات يادوي.**

(۲۱)- په دې مبارك آيت کي موږ ته لارښوونه شوې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د مؤمنانو لپاره داسي ځلانده قدوه دئ چي پر الله تعالى او آخرت باندي د ايمان او الله تعالى او آخرت ته د اميد او هيلي ساتلو څرنګوالی د هغه په سنت او کړنلاري کي پېژندی شي، يعني څوك چي غواړي الله تعالى ته د هيلي درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چي له کبله ئې انسان د الله د مرستي، رعايت او عنايت طمع او هيله کولی شي، نو دا دي له پيغمبر عليه السلام زده کړي، څوك چي غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او اميد درلودل يعني څه؛ او غواړي هغه عملونه وپېژني چي په آخرت کي به ګټه وررسوي او له دې لاري کولی شي د نېك آخرت طمع ولري نو هغه دي آخرت ته د طمعي او هيلي څرنګوالی له پيغمبر صلى الله عليه و سلم زده کړي او څوك چي غواړي د الله د زيات ذکر په څرنګوالي پوه شي بايد په دې کي د پيغمبر عليه السلام متابعت وکړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت کي او د ده د اخلاقو او کړنو په رڼا کي د دې خبرو په حقيقت ځان پوه کړي، د ژوند په ټولو مسائلو کي بايد پيغمبر عليه السلام موږ ته بېلګه، اسوه او قدوه وي، الله ته د هيلي درلودو په څرنګوالي کي، د آخرت په نسبت ايمان درلودلو، د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمع او هيله ساتلو او د الله د زيات يادولو او ذکر په څرنګوالي کي بايد پيغمبر زموږ قدوه او اسوه وي.

دلته بايد څو مهمي خبري په پام کي ولرو:

دا موضوع د داسي بحث په ترڅ کي راغلې چي يو ستر جنګ او په هغه کي د بېلو بېلو ډلو دريځونه څېړل شوي، د دې معنى دا ده چي دلته پر الله تعالى ايمان او هغه ته طمع او هيله درلودل، په آخرت باور او اخروي سعادت ته هيله درلودل هغه مهال حقيقي ايمان او پر ځای طمع او هيله ده چي د جنګ په سخت حالت کي د انسان دريځ داسي وي لکه د

رسول الله صلی الله علیه و سلم دریځ، څوك چې پر الله تعالی او آخرت د ایمان دعوی کوي، گمان او انگېرنه ئې دا وي چې ایمان ئې د الله تعالی په وړاندې مقبول او هیله ئې پر ځای ده خو نه د دین دښمنو ځواکونو په ضد هغه څه کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کړي او نه د جگړو په سختو حالتونو کې داسې دریځ غوره کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم غوره کړی؛ نه ئې د ایمان دعوی ارزښت لري او نه ئې هیلې او گمانونه صحیح او پر ځای دي. تاسو به ډېر داسې اشخاص او ډېرې داسې مذهبي فرقې او ډلې وگورئ چې پر الله تعالی، آخرت او رسول الله صلی الله علیه و سلم د ایمان دعوی کوي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ستاینې کې به دومره مبالغه کوي چې مسیحیانو د عیسی علیه السلام په اړه کوله، دومره غلو چې عیسی علیه السلام ئې د خدای زوی، د خدای ځای ناستی او حتی دریم خدای او په خپله خدای وگڼلو!! دومره غُلُو او افراط چې الله تعالی هغوی ته وفرمایل:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾ النساء

اې اهل کتاب! په خپل دین کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وایئ، بې شکه چې مسیح د مریمې زوی خو یوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مریمې ته ئې القاء کړې وه او د ده یوه روح، نو پر الله او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ او مه وایئ چې درې دي، ډډه وکړئ، چې دا درته غوره دئ، الله خو یوازینی اله دئ، له دې منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکیل په توگه کافي دئ.

په دې مبارك آیت کې د محرف مسیحیت د تردید لپاره په موجزو او مختصرو الفاظو سره داسې پرېکنده او قاطع استدلال شوی چې د دې او هر هغه جعلي مذهب د تردید لپاره کفایت کوي چې د پیغمبرانو په اړه ئې غلو کړې، دا آیت وایي:

- دوی په دین کې غلو کړې.
- د الله په اړه د دوی وینا د حق خلاف ده.
- مسیح په الوهیت کې شریکوي، حال دا چې هغه پیغمبر وو، هغه یو انسان وو، له مریمې پیدا شوی انسان، د الله په یوه امر له پلار پرته پیدا شو، الله ورته روح ورکړه او راژوندی ئې کړ.
- هم په الله باندې د دوی باور ناسم دئ او هم په پیغمبرانو.
- د یوه الله پر ځای په دریو خدایانو باور لري. حال دا چې الله یو دئ، نه شریك لري او

نه زوی.

- زوی درلودل خو د فناء کېدونکي مخلوق د بقاء ذريعه ده او شريك درلودل خو د ضعيف او ناتوانه واکمن اړتيا ده، الله خو له دې منزه دئ چې زوی، ځای ناستی يا شريك ولري.
- هغه ذات چې د زمکې او آسمانونو هر څه د ده وي ولې به ځان ته شريك، زوی او ځای ناستی نيسي؟!!
- دوی له الله پرته بل خيالي معبود ځان ته وکيل او د چارو سنبالوونکی نيولی، حال دا چې الله د وکيل په توګه کافي دئ.

دا عجيبه مه ګڼئ چې څنګه د اهل کتاب ځينو مذهبي مشرانو د عيسی عليه السلام د وژلو دعوی کوله او پر دې ئې فخر کاوو او بلې ډلې هغه د خدای زوی او ځای ناستی کړ، دا ځکه چې دوی د طاغوت د دربار سرکاري مفتيان ول، د يوه طاغوت لپاره ئې پيغمبر ته باغي ويل او د بل لپاره ئې له هماغه مزعوم باغي (اله) جوړولو، د تاريخ په اوږدو کې دين پلورونکو سرکاري مفتيانو تل همداسي کړي. د عباسيانو په دور کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د اهل بيت په اړه دومره له مبالغو ډك جعلي روايات جوړ شول چې ډېر د دين له روح بې خبر خلك ئې د شرك په ډنډ کې پرې غرق کړل، د هر روايت په بدل کې دغو جعلکارانو له عباسي حکامو له درهمو ډکې کڅوړې تر لاسه کړې!! همدغه جعلي روايات نه يوازې د شيعه خرافي مذهب بنسټ وګرځېدو بلکې ډېرې نورې په خرافاتو او مبالغو کې غرقې ډلې ئې رامنځته کړې!! نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته له دغو ډلو يوه تاسو ته معرفي کړم: يوه پاکستاني ډله چې مرکز او مشر ئې په بريتانيا کې دئ، د بريتانيا حکومت يوه ټلويزيوني شبکه په واك کې ورکړې، د دې شبکې د نشراتو محوري برخې دا دي: د عرس په نامه په زيارتونو کې د جوړو شوو مسخره غونډو او محفلونو فيلمونه، داسي نعتونه چې له ډېرو مبالغو ډك وي، رسول الله صلی الله عليه و سلم په داسي صفاتو ستايل چې الله تعالی نه دئ پرې ستايلی، د سينګار شوو پېغلو په غږ او تصوير کې نعتونه، د خپل مشر هغه ويناوې خپرول چې هم ئې د قرآن په آيتونو استناد دومره ناسم وي چې د صريح تحريف نوم ورکولی شو، هم ئې په رواياتو استناد داسي وي چې اکثراً پر جعلي، ضعيف، غريب او له قرآن سره متضاد او متصادم او له صحيح احاديثو سره متعارض رواياتو باندې استناد کوي، خو همدې ته له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د محبت، د سنت حُجِيَّت او ... نوم ورکوي!! دې جناب او د ده پلويانو ته وايو: له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د مينې او د ده سنت ته د حجت په سترګه د کتلو معنی دا ده چې عملاً د هغه اطاعت وکړو او پر سنتونو ئې عمل وکړو، موږ ته ووايئ چې تاسو له دغو مهمو سنتونو په کوم يوه عمل کړی؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپل ټول ژوند کې، له بعثت تر رحلت پوري، د کفر او شرك ځواکونو له سردارانو او سالارانو سره مقابله کړې خو تاسو نه يوازې هيڅکله د دوی مقابله نه ده کړې بلکې تل مو د هغوی ملاتړ کړی او د هغوی مشرې او زعامت مو

منلی!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د همدې مقابلې په یوه پړاو کې مکه له دې کبله پرېښوده او مدینې ته ئې هجرت وکړ چې د ابوجهل واکمنې ئې نه منله او کله چې د مدینې په څېر پناه ځی ورته میسر شو له ځنډ پرته ئې هجرت وکړ، خو ستاسو مشر د پاکستان له اسلامي هېواد د بریتانیا په څېر د اسلام او مسلمانانو ستر او تاریخي دښمن ته پناه وړې!! رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدني ژوند په لسو کلونو کې تر اویا زیاتې نښتې له دښمن سره درلودې خو ما ته ووایئ: آیا تاسو او ستاسو مشرانو په خپل ټول ژوند کې یوه شېبه په سنگر کې تېره کړې؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم له هیچا په هیڅ نامه د ځان لپاره صدقه او خیرات نه دئ تر لاسه کړی او پر خپلې کورنۍ ئې د صدقاتو اخیستل حرام کړي، دا تاسو او ستاسو مشران ولې ټول ژوند د نورو په صدقاتو او خیراتونو تېروئ؟! رسول الله صلی الله علیه و سلم په هیڅ قبر د گنبدې جوړولو اجازه نه ده ورکړې، د هیڅ مړي لپاره ئې د عرس محفل نه دئ جوړ کړی، په مدینه کې د هیڅ صحابي پر قبر نه زیارت جوړ شوی او نه گنبده، تر هغه مهاله چې پر قبرونو زیارتونه ول، جنډې ئې درلودې، مجاوران ئې درلودل، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم قبرونو او هدېرو ته له تلو ممانعت کولو، هغه مهال ئې اجازه ورکړه چې د قبرونو لیدو او هغوی ته د دعاء کولو او له لیدو ئې د پند اخیستلو په موخه ورشو چې پر قبرونو نه جنډې لیدل کېدې، نه گنبدې او نه ئې خوا ته د صدقاتو په طمع ناست مجاورین، دا تاسو ولې له قبرونو زیارتونه جوړ کړي او هغه مو هم دکان دئ، هم دفتر او هم آدرس؟!! قرآن وایي: کله چې به منافقین د رسول الله صلی الله علیه و سلم حضور ته ورغلل نو هغه به ئې په داسې القابو ستایو چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی، نن تاسو همدغه کار کوئ!! رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسې القابو ستایئ چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!! الله تعالی فرمایي چې آدم علیه السلام د ټولو انسانانو جد او لومړی انسان او لومړی پیغمبر دئ خو تاسو وایئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم تر آدم علیه السلام وړاندې پیدا شوی!! الله تعالی فرمایي چې انسان مې له خاورې پیدا کړی تاسو وایئ: رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی په خوا کې او په ازل کې او د ټولو مخلوقاتو له پیدا کېدو وړاندې یو نور وو، ټول عالم له دغه نور یا د دغه نور له طفیله پیدا شوی!! او دا همغه څه دي چې مسیحیانو د عیسی علیه السلام په اړه ویلې او قرآن د دوی وینا او ادعاء تکذیب کړې او ویلي ئې دي چې عیسی علیه السلام یو انسان وو او له خپلې مور پیدا شوی، تاسو ادعاء کوئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا نور له آدم علیه السلام بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر پلار عبدالله پورې د صالح او مؤمنو شخصیتونو په صلب او رحم کې له یوه بل ته انتقال شوی!! حال دا چې قرآن دا خرافي باور له بنسټه ردوي او وایي: د هر انسان د لومړنۍ نطفې یوه برخه د مور په بدن کې او بله ئې د پلار په بدن کې له هغو موادو جوړېږي چې له خاورې راټوکېدلې، دا دواړه برخې د مور په رحم کې سره یو ځای شي، ورو ورو وده کوي او له څه مودې وروسته یو بشپړ ماشوم ترې جوړ شي او په دې وخت کې الله تعالی هغه ته روح ورکړي، داسې نه

دي چي نطفه ئې د اجدادو په بدن کې له وړاندي جوړه شوې او له يوه بل ته انتقال شوې!!
قرآن وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم يو جد؛ د ابراهيم عليه السلام پلار آزر؛ دومره ستر کافر او مشرك وو چي د (عدو لله) يعني د الله دښمن نوم ئې ورته غوره کړی، همغه چي خپل زوی ابراهيم عليه السلام ته ئې وويل: أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِى يَٰإِبْرَٰهِيمُ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَ اهْجُرْنِى مَلِيًّا* اې ابراهيمه! آيا زما له معبودانو تېر شوی (څنگ ته شوی) يې؟ که دېده ونه کړې نو حتماً به دي رجم (سنگسار) کړم؛ او د تل لپاره له ما لرې شه!! ما ته ووايئ: تاسو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کوم سنت عمل کړی؟! تاسو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه د قرآن کومي وينا ته اعتناء کړې؟ تا ته چا ويلي چي د دې او هغه شخصيت په ستايلو سره څوك جنت ته رسېدی شي او د الله تعالى رضاء تر لاسه کولی شي، په داسي حال کې چي قرآن د ابراهيم عليه السلام، اسمعيل عليه السلام، اسحاق عليه السلام او يعقوب عليه السلام په څېر سترو شخصيتونو په اړه موږ ته وايي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾ البقرة

دا خو يوه تېره شوې ډله ده، چي دوی لره به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

په دې مبارك آيت کې نه يوازي د دين يو بنيادي اصل توضيح شوی، بلکي د مذهبي انحراف يوه اساسي او بنيادي اړخ ته هم گوته نيول شوې، د دين اساسي خبره دا ده چي هر څوك به د خپل عمل سزا گوري، يو د بل پېټی نشي وړی، يو د بل لپاره نه مجازات کېږي، نه پلار د زوی په گناه نيول کېږي او نه زوی د پلار د ښو عملونو په وجه جنت ته درومي، هر څوك به د خپلو لاسته راوړنو پېټی په اوږو وړي. او د مذهبي انحراف تر ټولو ستره او اساسي خبره دا ده چي د الله صالحو بندگانو ته د انتساب تر نامه لاندي څوك ځان د جنت مستحق او د مذهب وارث وگڼي او له دې لاري د امتيازاتو د تر لاسه کولو په لټه کې وي، مذهب قومي رنگ غوره کړي، قومي تعصب ته د مذهب جامه ورواغوستل شي او مذهبي مشران ئې ځان د پيغمبرانو د امتيازاتو وارث وگڼي نه د دوی د مسئوليتونو او دندو وارث. الله تعالى دا نه خوښوي چي څوك د ده صالحو بندگانو ته خپل ناوړه عمل او ناسمه عقيده منسوب کړي، هم د مذهب نوم بد کړي او هم د الله د صالحو بندگانو نوم.

الله تعالى په دې آيت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چي د مخکينيو صالحانو په اړه له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، د دې پر ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چي تاسو له عذاب ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه، له تاسو دا پوښتنه نه کېږي چي فلان نېك او صالح شخصيت څنگه وو او عملونه ئې څنگه ول، تاسو به د خپلو عملونو په اړه پوښتل کېږئ نه د نورو د عملونو په اړه، د نورو په ستايلو سره نه

جنت تر لاسه کولی شئ او نه د الله تعالی رضاء، خپله عقیده او خپل عمل مو جنت ته رسولی شي.

وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾

او کله چې مؤمنانو هغه ډلې ډلې (لښکري) ولیدلې وئې ویل: دا همغه څه دي چې الله او پیغمبر ئې له موږ سره ژمنه کړې وه؛ او الله او د هغه پیغمبر رښتیا ویلي؛ او زیات ئې نه کړ مگر د دوی ایمان او انقیاد.

(۲۲)- په دې مبارك آیت کې د احزابو جنگ ته اشاره شوې، هغه مهال ته چې د مسلمانانو په خلاف ټول دښمنان راغونډ شوي وو، مدینه محاصره وه، تر دې وړاندې د عربو په تاریخ کې هیڅکله دومره ستر لښکر د چا په خلاف نه وو وتلی، مسلمانانو د دې ستر لښکر د مخامخ مقابلې توان نه درلود، مجبور شوي وو چې د مدینې منورې شا و خوا خندق وکیني، خو کله چې مؤمنان گوري چې د دوی په خلاف ټول دښمنان په مدینې باندې د پرېکنده ستر برید لپاره راغونډ شوي، راشئ وگورو چې د دې حالت په لیدو او له دغه ستر لښکر سره د مخامخېدو په دوران کې د دوی حالت څنگه او وینا ئې څه وه؟ قرآن موږ ته د دوی حالت داسې انځور کړی: د لښکر په لیدو سره هغوی وویل: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې له موږ سره وعده کړې وه، دا وعده چې پر دوی به فتح او غلبه راکوي، ډاډه او مطمئن دي چې د الله تعالی دا وعده رښتینې ده، د دې په ځای چې د ستر لښکر راغونډېدل په دوی کې وېره او خوف راولاړ کړي، د دوی په زړونو کې شك او ریب راپیدا کړي، د دوی د اضطراب او پرېشانۍ باعث شي، برعکس مطمئن دي چې الله او د هغه پیغمبر په خپلو وعدو کې رښتیني دي، دا همغه د الله تعالی رښتینې وعده ده چې له موږ سره ئې کړې ده، حتماً به موږ ته په دوی باندې فتح او غلبه راکوي، که د دښمنانو راغونډېدا په دوی کې څه زیات کړی وي نو هغه د دوی ایمان او پوخ باور په الله تعالی او د ده په وعدو وو نه بل څه: وَ مَا زَادَهُمْ إِلا إِيمَاناً وَ تَسلِيماً : په دوی کې ئې بل څه زیات نه کړ مگر ایمان او د الله تعالی په وړاندې انقیاد، یعنې دغه حالت باعث شو چې پر الله جل شأنه د دوی اعتماد او باور مزید مضبوط او اړیکې ئې له خپل رب سره لا زیاتې ټینگې شي؛ او د الله تعالی د اوامرو په وړاندې ئې انقیاد او تسلیمي لا زیاته شي، گورئ چې په سختو حالاتو کې، د اضطراب او پرېشانۍ په وخت کې، د دې په ځای چې د مؤمنانو په زړونو کې خوف، وېره، جبن او پرېشاني راپیدا شي، برعکس د هغوی ایمان تقویه کېږي، داسې حالات په دوی کې نه راپیدا کوي مگر د ایمان ټینگوالی او د انقیاد زیاتوالی. دا دئ گورئ چې په دغسې سختو حالاتو کې به د ایمان په وجه د انسان په زړه کې اطمئنان او ډاډ راپیدا کېږي او د عدم ایمان له کبله به انسان مضطرب

او پرېشان وي.

مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ
وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا ٢٣ لِّيَجۡزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ
وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٢٤

له مؤمنانو ځيني مېړني داسي دي چي له الله سره کړې ژمني ئې رښتيني کړې، نو د دوی ځيني هغه دي چي خپل نذر ئې تر سره کړ؛ او ځيني هغه چي انتظار کوي او په هيڅ ډول بدلون سره ئې (د خپلي ژمني) بدلون نه دئ کړی، چي الله رښتينو ته د خپلي رښتينولۍ بدله ورکړي او منافقين يا له خپل مشيت سره سم تعذيب کړي يا ئې توبه قبوله کړي، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

(٢٣-٢٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د الهي ميثاق يو بل بند زموږ مخي ته اېښودل شوی او د هغو مؤمنانو په څېرو او تګلاري کې انځور شوی چي يا ئې د دغه الهي ميثاق له تقاضا سره سم خپل سر او ويني د الله په لار کې نذرانه کړي او يا منتظر دي داسي فرصت تر لاسه کړي چي پر خپلي ژمني عمل وکړي، خپل سر په رغوي کې ونيسي او خپل رب ته ئې وړاندي کړي، قرآن دوی داسي معرفي کړي: له مؤمنانو ځيني مېړني داسي دي چي له الله تعالی سره ئې خپلي ژمني رښتيني کړې دي، ځينو ئې خپل نذر تر سره کړ؛ او ځيني ئې منتظر دي چي پر خپلو ژمنو د وفا کولو فرصت تر لاسه کړي، د ميثاق پر نورو بندونو ئې په بشپړه توګه او له بدلون او تغيير پرته عمل کړی يوازي دومره پاته دي چي د الله تعالی په لار کې د شهادت مقام تر لاسه کړي او په دې توګه د ميثاق په وروستي بند د عمل کولو سعادت ئې په برخه شي. همدا د الله تعالی د لاري او د الهي ميثاق تقاضا ده او په همدې توګه او له همدې لاري له يوې خوا صادقان معلوموي او د دوی د صداقت او رښتينولۍ بدله ورکوي او له بلي خوا منافقين معلوموي چي يا به ئې له خپل مشيت سره سم تعذيبوي او يا به ئې توبه قبلوي، د توبې دروازه ئې ځکه د دوی په وړاندي پرانيستې پرېښې چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن
صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ فَرِيقٗا ٢٦

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَـٰرَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾

او الله هغه وګړي له خپلو غصو (ډکو زړونو) سره په شا وتمبول چي کفر ئې کړی وو په داسي حال کي چي په هيڅ خير او ښېګڼي نه وو نائل شوي؛ او الله د دې جنګ په اړه مؤمنانو ته کافي شو؛ او الله عزتمن ځواکمن دئ؛ او د اهل کتاب هغه وګړي ئې له خپلو کلاګانو راکوز کړل او د دوی په زړونو کي ئې رعب واچولو چي د هغوی ملاتړ ئې وکړ، ځيني مو وژل او ځيني مو اسيرول؛ او د دوی زمکه، کورونه او اموال مو تاسو ته په ميراث درکړل او هغه زمکه هم چي لا تراوسه مو ګام نه دئ پرې ايښی؛ او الله په هر څه توانمن دئ.

---

(٢٥-٢٧)- په دې مبارکو آيتونو کي له يوې خوا د دې لوی بريد د اصلي لوري په اړه ويل شوي چي الله تعالی دوی نامراد، له غصې ډك او تش لاس په شا وتمبول، د دوی په وړاندي الله تعالی مؤمنانو ته کفايت وکړ، د بل له مرستي پرته ئې ستره او وړيا بريا د دوی په برخه کړه، دې بريا مؤمنانو ته هم او کافرانو ته هم عملاً وښوده چي الله تعالی عزتمن ځواکمن دئ، له بلي خوا د هغو يهودانو د خيانت بده پايله ئې انځور کړې چي له يرغلګر دښمن سره ئې لاس يو کړ، خپلې ژمني ئې تر پښو لاندي کړې، غوښتل ئې له قريشو سره په دې جګړې کي مرسته وکړي او د شا له لوري پر مسلمانانو بريد وکړي، د دوی په اړه ئې په څو جامع فقرو کي داسي ويلي: د اهل کتاب هغه وګړي ئې له خپلو کلاګانو راکوز کړل چي د يرغلګرو ملتيا ئې کړې وه، د دوی په زړونو کي ئې رعب واچولو، په خپلو مضبوطو کلاګانو کي ئې ځان خوندي نه ګڼلو او د مقاومت توان ئې په خپلو متو کي نه ليدلو، الله تعالی داسي حالت پرې راوست چي مسلمانانو د دوی ځيني وژل او ځيني ئې اسيرول، د دوی زمکه، کورونه او اموال ئې مسلمانانو ته په ميراث ورکړل، د همدې بريا په نتيجه کي الله تعالی د ډېرو نورو فتوحاتو لار ورته آواره کړه، داسي سيمي ئې هم په لاس کي ورېوتې چي لاتر دې مهاله دوی پرې ګام نه وو ايښی. دغو پېښو وښوده چي يقيناً الله تعالی په هر څه توانمن دئ.

د يرغلګر فوځ له ماتي وروسته له غدارو بني قريظه وو سره د محاسبې او تصفيې وخت رارسېدلی وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم له خندق د کور په لور له ستنېدو وروسته او په داسي حال کي چي لا ئې د خندق دوړي له سر او بدن نه وې څنډلې دا پرېکړه مسلمانانو ته واوروله چي د مازديګر لمونځ د بني قريظه وو سيمي ته ورسوئ، سيمه محاصره شوه، په لومړي سر کي دښمن داسي انګېرله چي خپلې مضبوطي کلاګاني به ئې وساتي، له يوه او بل لوري به داسي څوك راپيدا شي چي د دوی مرسته وکړي، د مسلمانانو په ليکو کي به داسي

خواخوږي وومي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دوی د بخښنې سپارښتنه وکړي، دغې طمعې فوري تسلیمېدو ته نه پرېښودل، نو ځکه محاصره اوږده شوه او پنځه ویشت ورځې ئې دوام وکړ، خو کله چې متوجه شول دا هیلې ئې نه تر سره کېږي او له تسلیمېدو پرته بله چاره نه لري نو په دې شرط تسلیم شول چې د انصارو ستر سالار سعد بن معاذ رضی الله عنه به د حکم په توګه مني او دواړه لوري به د هغه پرېکړې ته غاړه ږدي، دوی ګمان کولو چې سعد بن معاذ رضی الله عنه به د هغې مخکینۍ دوستۍ له کبله د دوی په ګټه پرېکړه کوي چې تر اسلام وړاندې د دوی او سعد رضی الله عنه او د ده د قبیلې تر منځ وه، رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی شرط او وړاندیز قبول کړ، سعد رضی الله عنه چې د احزاب په جګړې کې سخت ټپي شوی وو؛ او له همدې جراحت وفات شو، د حکمیت لپاره په کټ کې د سورلۍ په واسطه راوستل شو، مسلمانان د ده په درناوي ودرېدل، له دواړو لوریو ئې دا ډاډ تر لاسه کړ چې د ده پرېکړه به مني، د ده د قوم ځینو ترې وغوښتل چې د بني قریظه وو په اړه نرمښت وښيي او له دوی سره د مخکینۍ دوستۍ پاس وساتي، خو سعد رضی الله عنه دومره ستر شخصیت او د داسې مضبوط ایمان خاوند وو چې تر هر څه د الله تعالی رضاء او د اسلام او مسلمانانو عزت او سر لوړي ورته مهم وو او له دې پرته ئې نه د بل څه پروا وه او نه اندېښنه، پرېکړه ئې داسې وه چې په اورېدو سره ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم په لوړ غږ الله اکبر وویلو او وئې فرمایل: "لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بحُكمِ اللهِ مِنْ فَوْقِ سَبْعَةِ أَرْقِعَةٍ": یقیناً چې له اوو آسمانونو بر د الله تعالی له حکم سره سم دې د دوی په اړه فیصله وکړه، فیصله ئې دا وه: د دوی جنګیالي دې ووژل شي، د دوی پاته شوني (اولاد او ښځې) دې مریان کړی شي، د دوی زمکې دې یوازې مهاجرینو ته ورکړی شي نه انصارو ته، دا ځکه چې انصار زمکې لري او مهاجرین ئې نه لري. په ځینو روایاتو کې راغلي چې د بني قریظه وو شپږ سوه جنګیالي ووژل شول، ځیني نور دا شمېر له اوه سوو تر نه سوو پورې ګڼي.

ښه به وي چې په دې اړه هغه روایت هم له نظره تېر کړو چې په بخاري کې راغلی او وايي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم لَنَا لَمَّا رَجَعَ مِنَ الأَحْزَابِ "لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلاَّ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ". فَأَدْرَكَ بَعْضُهُمُ الْعَصْرَ فِي الطَّرِيقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ نُصَلِّي حَتَّى نَأْتِيَهَا، وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّي لَمْ يُرَدْ مِنَّا ذَلِكَ. فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّصلی الله علیه و سلم فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِنْهُمْ. (بخاری:۹٤٦)

له ابن عمر رضی الله عنهما روایت دئ چې وايي: کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د احزاب له غزا راستون شو راته وئې فرمایل: (هیڅوک دې د مازدیګر لمونځ له بني قریظه پرته بل ځای کې نه کوي). پر ځینو د لارې په اوږدو کې د مازدیګر وخت راغی، ځینو ئې

وويل: تر هغه چې بني قريظه ته نه وو رسېدلي لمونځ نه کوو؛ او ځينو نورو وويل: لمونځ همدلته کوو ځکه له موږ دا نه دي غوښتل شوي (چې لمونځ قضاء کړو)، دا خبره رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ياده شوه او هغه هيڅ يوه ته عتاب ونکړ.

دا روايت په بخاري کې يو ځل بيا هم په دې شمېرې ٤١١٩ راغلی، دواړه سره ورته دي، مطلب ئې دا دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم پر هغو خلکو اعتراض ونه کړ چې د مازديگر لمونځ ئې د جنگ لپاره وځنډولو.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ
أُمَتِّعۡكُنَّ وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ
ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٢٩﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن
يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى
ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿٣٠﴾ وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا نُّؤۡتِهَآ أَجۡرَهَا
مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ
ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا
﴿٣٢﴾ وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ
وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ
أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾ وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِ وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾

اې نبي! خپلو مېرمنو ته دي ووايه: که د دنيوي ژوند او د هغه د سينگار په لټه کې يئ نو راشئ چې څه متاع درکړم او په ښه توگه خوشې کولو سره مو خوشې کړم؛ او که داسي يئ چې الله، د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو يقيناً چې الله ستاسو نېکو ته ستر اجر برابر کړی. اې د نبي مېرمنو! که له تاسو څوك کوم څرگند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې په دوه ځلي زياتوالي سره زيات کړی شي؛ او الله ته دا کار آسان دئ؛ او له تاسو چې څوك الله او د هغه رسول ته منقاد شي او نېك عمل وکړي اجر به ئې دوه ځلي ورکړو او غوره رزق به ورته برابر کړو. اې د پيغمبر مېرمنو! تاسو

د هیڅ بلي ښځې په څېر نه یئ که تقوی وکړئ، نو په وینا کې پوستوالی مه کوئ داسې چې هغه څوك څه طمع وکړي چې په زړه کې ئې کوم مرض وي؛ او په معروفې غوره وینا سره خبري کوئ، په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکیني جاهلیت د دور څرګندېدو په څېر مه څرګندېږئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو یوازې دا غواړي چې له تاسو اې کوروالو؛ ناپاکوالی لرې وساتي او په ځانګړې پاکولو سره مو پاکې وساتي؛ او هغه څه یاد کړئ چې ستاسو په کورونو کې له الهي آیتونو او حکمت کوم څه دربانديې لوستل کېږي، یقیناً چې الله ډېر باخبر د لطافت خاوند دئ.

(۲۸-۳٤)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د خپلو مېرمنو په اړه څو مهمي او ارزښتناکې لارښووني شوې او ورته ویل شوي چې هغوی ته دا خبري وکړي:

- که د سوکاله دنیوي ژوند او د هغه د سینګار په لټه کې یئ نو راشئ چې څه متاع درکړم او په ښه توګه طلاق درکړم؛ او که داسې یئ چې الله، د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو یقیناً چې الله ستاسو نېکو ته ستر اجر برابر کړی. یعني زما په ملګرتیا کې به د قناعت او صبر لار غوره کوئ، په هغه محدود رزق او روزي او لږ مال متاع به اکتفاء کوئ چې زه ئې په واك کې لرم، زما په شان ساده او له تکلف لرې فقیرانه ژوند به غوره کوئ، له ما به دا غوښتنه نه کوئ چې له وافرو نعمتونو او سوکالیو ډك ژوند درته برابر کړم، له نورو سره د سینګار او ګاڼو په درلودو کې سیالي باید تاسو دې ته ونه هڅوي چې له ما د سینګار سامان وغواړئ، که په دې حالت صبر او قناعت نشئ کولی نو راشئ په ښه توګه طلاق درکړم، له دغو دواړو یو غوره کړئ: یا قناعت یا طلاق، باید متوجه وئ چې که د الله تعالی رضاء او د هغه د رسول ملګرتیا خوښوئ او غواړئ چې جنت او اخروي سعادت مو په برخه شي نو یقیناً چې الله تعالی داسې نېکو مېرمنو ته ستر اجر برابر کړی.
- اې د پیغمبر مېرمنو! په دې دې پوه وئ چې که له تاسو څوك کوم څرګند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې تر نورو دوه ځلي زیات وي، ګمان مه کوئ چې ستاسو حیثیت او مقام به تاسو له الهي عذاب وژغوري او له دې کبله به له الهي مؤاخذې وژغورل شئ چې د پیغمبر مېرمني یئ، الله تعالی ته دا کار آسان دئ چې تاسو ته په دنیا او آخرت کې داسې عذاب درکړي چې د نورو په پرتله دوه برابره زیات وي، د زیاتوالي سبب ئې دا دئ چې تاسو باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مصاحبت او ملګرتیا له کبله له ګناه ډېري لرې وئ، د ده د مسلسلې روزنې له کبله باید د تقوی هغه پړاو ته رسېدلې وئ چې شیطان ستاسو خوا ته له نژدې کېدو او د خپلو وسوسو په دام کې ستاسو له غورځولو عاجز وی، داسې چا ته باید هم د خپلې ګناه سزا ورکړی شي او هم د خپل لارښود مسلسلو لارښوونو ته د بې اعتنائي سزاء، له بلې خوا ستاسو غلطي او ګناه اسلام او د رسول الله صلی الله علیه و سلم دعوت ته صدمه رسوي، ناپوه او په غرض او مرض لړلي کسان له دې غلطه استفاده

کوي او د ساده وګړو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړوي.

• او له تاسو چې څوك الله او د هغه رسول ته منقاد او په بشپړه توګه تسليم وي او نېك عمل وکړي؛ نو الله تعالی به ئې اجر دوه ځلې ورکړي او غوره رزق به ورته مهيا او برابر کړي، هم په دنيا کې ښه رزق او هم په آخرت کې. داسې ګمان مه کوئ چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ملګرتيا کې به تل له دغو ستونزو سره مخامخ يئ، دا د امتحان څو ورځې دي، د صبر او قناعت په نتيجه کې به سرلوړې ترې تېرې شئ او د رزق او روزي د پراخوالي پړاو به راورسېږي.

• اې د پيغمبر مېرمنو! که د تقوی لمن کلکه ونيسئ نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مصاحبت له کبله به دومره ستر او لوړ مقام ستاسو په برخه شي چې هيڅ مېرمن به له تاسو سره سيالي او برابري نشي کولی، ستاسو د دغه مقام تقاضا دا ده چې په بشپړه توګه احتياط وکړئ، حتی له داسې وينا هم ډډه وکړئ چې پوستوالی او ښيټوالی ئې د هغو وګړو په زړونو کې شيطاني طمع راپاروي چې زړونه ئې بېمار او په غرض او مرض ککړ وي، ستاسو وينا بايد ستاسو له شأن سره ورته وي، داسې لکه مور چې زوی ته وينا کوي، لکه مؤمنه داعي خپل مخاطب ته، لکه لارښوده او معلمه خپلو شاګردانو ته.

• په خپلو کورونو کې تم شئ، بهر ته په هغه توګه مه وځئ چې د مخکيني جاهليت په دور کې به ښځې له خپل جلبوونکې سينګار سره بهر وتلې او ځان به ئې پرديو ته ښودو، لمونځ کوئ، زکات ورکوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، الله تعالی په دغو لارښوونو سره يوازې دا غواړي چې له تاسو اې کوروالو؛ ناپاکوالی لرې وساتي او په ځانګړې پاکولو سره مو پاکې وساتي، د دغو لارښوونو موخه او پايله دا ده چې ستاسو لمن به له ګناهونو پاکه ساتل کېږي او معنوي پاکوالی به مو په برخه کېږي. له دې نېکمرغه فُرصت اعظمي استفاده وکړئ چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم مصاحبت مو په برخه شوی، د هغه د کور واکمنې يئ او ستاسو په خپل کور کې او د همدې مهربان او حکيم لارښود له لورې د قرآن آيتونه او د حکمت خبرې دراورول کېږي، دا الهي آيتونه او د حکمت ويناوې زده او حفظ کړئ.

• ستاسو معامله له هغه رب سره ده چې له هر څه مو خبر دئ، نه ئې حجابونه مانع کېدی شي او نه تيارې، نه پټې خبرې او پټ کارونه او نه لوړې ويناوې او څرګند کارونه، دا ځکه چې الله تعالی (لطيف) او (خبير) دئ.

د دې مبارکو آيتونو په ارتباط بايد څو مهمې خبرې په پام کې ولرو:

• دلته د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمنو ته د (اهل البيت) نوم ورکړی شوی، دا لقب د قرآن په يوه بل آيت کې د ابراهيم عليه السلام مېرمنې سارا رضی الله عنها لپاره هم کارول شوی؛ او له دې معلومېږي چې قرآن د مېرمنو لپاره دغه ښکلی لقب غوره کړی او همدا ورسره ښايي، د دې لقب معنی دا ده چې د قرآن له نظره مېرمن د مېړه د کور واکمنه

او خاونده شمېرل شوې، ګواکې کور د مېرمنې اصلي (کارځی) او (دفتر) دئ، د اصلي کار تر څنګ نور فرعي کارونه کولی شې، د ضرورت په صورت کې له خپل اصلي مقر وتلی شې، جومات ته تلی شې، د تعلیم او زده کړې لپاره له خپل کور وتلی او مدرسې ته تلی شې، د حج په موخه اوږد سفر کولی شې، په جهاد کې په ځانګړې توګه هغه مهال برخه اخیستی شې چې نفیر عام او جهاد په ټولو فرض شوی وي؛ او دا هغه کارونه وو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وخت کې امهات المؤمنین او د صحابه وو مؤمنو او متقي مېرمنو او لوڼو کول، هغه مهال هیچا دا آیت داسې نه دئ تعبیر کړی چې مېرمنې له خپل کور په هیڅ توګه او هیڅ صورت کې بهر نه شې وتلی. دې ته مو هم پام وي چې د دې آیتونو له سیاق و سباق او فحوی په ډېر صراحت سره معلومېږي چې حکم ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر مېرمنو پورې مختص دئ او په هیڅ توګه نورو مؤمنو مېرمنو ته نه دئ راجع.

• د هغو کړیو دریغ او تګلاره ډېره کرکجنه ده چې د قرآن څرګند او واضح اصطلاحات په غلطه توګه تعبیروي، پر قرآن د ایمان تقاضا دا ده چې قرآني اصطلاحات په خپل خپل ځای کې او په خپلې خپلې معنی وکاروو، که قرآن یوازې مېرمنو ته د (اهل البیت) اصطلاح کارولې نو موږ به ئې هم یوازې په همدې معنی کاروو، عجیبه ده چې یوه مذهبي فرقه د (اهل البیت) قرآني اصطلاح د مېرمنو پر ځای د زوم، لور او لمسیانو لپاره کاروي او مېرمنې ترې باسي، وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم اهل البیت یوازې علي، فاطمه، حسن او حسین دي رضی الله عنهم!! نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنې او نه بل زوم او نورې لوڼې او نور خپلوان په کې شامل ګڼي!! او دا هم فقط د جاهلانه تعصب په حکم، نه د کوم عقلي او نقلي دلیل له مخې، په دې اړه پر داسې روایاتو استناد کوي چې یا په بشپړه توګه جعلي دي، یا د سند له مخې د اعتبار وړ نه دي، یا له نورو سره تعارض لري او یا د قرآن خلاف خبره کوي. قرآن مېرمنو ته د اهل البیت، زامنو، لوڼو او لمسیانو ته د اولاد او ذریة، پلویانو ته د (آل)، خپلوانو ته د عشیره، قوم ته د قوم، ټبر ته د قبیله ... اصطلاحات غوره کړي، که پر قرآن ایمان لرو نو دا اصطلاحات به په همدې معانیو کاروو او بل تعبیر به نه ترې لرو او په بلې معنی به ئې نه کاروو. دا د شیطان په لومې کې نښتي، لار ورکي او په خرافاتو کې غرق؛ په جهل او تعصب کې هغه پړاو ته رسېدلي چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم علي رضی الله عنه ته دا واك ورکړی وو چې کولی شي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کومې مېرمنې نوم د امهات المؤمنین له نوم لړ حذف کړي او هغه هم د عائشې رضی الله عنها نوم ترې حذف کړ!! دا په داسې حال کې چې قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټولې مېرمنې بلااستثناء د دومره درناوي او احترام وړ ګڼي چې ټولې د مؤمنانو میندې ګڼي؛ او د عائشې رضی الله عنها په اړه خو ئې یوه بشپړه سوره مختص کړې او دومره ئې ستایلې چې هیڅ صحابي ئې په داسې صفاتو نه دئ ستایلی.

• په قرآن کریم کې د اهل بیت لفظ د مېرمنو لپاره کارول شوی؛ که دا د پېغمبر علیه السلام په ارتباط استعمال شوی او که د ابراهیم علیه السلام په ارتباط. په دواړو مواردو کې

یوازې مېرمنې مراد دي، نه ئې ابناء په کې شامل دي او نه اقرباء. د احزاب په سوره کې د اهل البيت مراد یوازې د پیغمبر علیه السلام مېرمنې دي، ځکه چې تر دې مخکې د یا نساء النبي په صیغه هغوی ته مکرر خطاب شوی او ورپسې د اهل البيت په نامه یادې شوې او ورته ویل شوي:

... إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا : ...

خبره دا ده چې الله له تاسو اې اهل بيت! ناپاکي لرې ساتل او ستاسو ښه پاکول غواړي.

د قرآن معمولي فهم خو پرېږده چې څوك په عربي پوه وي او لږ ادبي سليقه ولري نو دلته له (اهل البيت) له (نساء النبي) پرته بله هیڅ معنی نشي اخیستی.

او د هود د سورې په ۷۳ آیت کې دا لفظ د ابراهیم علیه السلام د بي بي لپاره په دې توګه راغلی: قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ۷۳ : وئې ویل: آیا د الله په کار کې تعجب کوئ، د الله رحمتونه او برکتونه دې پر تاسو وي اې اهل البیتو، بې شکه چې هغه ستایلی د مجد خاوند دئ.

دې څرګندو آیتونو ته په پام سره پوښتنه کوو: آیا کوم عاقل انسان به دا خبره وکړي چې زما اهل بیت زما مېرمن نه بلکې زما زوم، لور او لمسیان دي، هغه هم نه ټولې لوڼې او نه بل زوم، بلکې ځینې ئې؟!! تاسو څنګه پیغمبر علیه السلام ته د عقل او عرف خلاف خبره منسوبوئ؟!! الله تعالی د پیغمبر علیه السلام ازواج مطهرات د اهل بیت په نامه یادوي او تاسو پیغمبر علیه السلام ته داسې قول منسوبوئ چې ګواکې هغه د قرآن د صریح وینا خلاف خپلې مېرمنې له اهل بیت ایستلې دي!! زه او هر هغه څوك چې په قرآن ایمان لري هغه روایت په دېوال وهو چې پیغمبر علیه السلام ته داسې غلطه او د عقل، عدل، عرف او قرآن خلاف وینا منسوبوي!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم به کله د دعوت، ارشاد او تبلیغ په چارو کې سخت مصروف وو، کله په جهاد پورې اړوند کارونو کې او کله په عبادت کې، په فارغ فرصتونو کې به ئې کورنیو چارو ته پام اړولو، د دې لپاره ئې ډېر لږ وخت مومو، د ژوند په ډېرو کلونو کې ئې لاس تنګ او امکانات محدود ول، فقیرانه ژوند ئې درلود، په داسې ژوند قناعت کول لوی زړه او زیات صبر او زغم غوښتو، مېرمنو ئې دا حالت ورسره منلی وو، تر ډېرو کلونو ئې دا حالت ورسره وزغملو، خو ورو ورو د مسلمانانو اقتصادي حالت ښه شو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو د نورو مسلمانو مېرمنو حالت ته په پام سره وغوښتل چې د دوی په اقتصادي حالت کې هم باید تبدیلي راشي او تر مخکې په نسبي توګه ښه شي، دا هیله او تلوسه ئې په وار وار په وېناوو او چلن کې څرګنده شوې، دومره چې رسول الله صلی الله علیه و سلم پرې ځورېدلی، په دغو مبارکو آیتونو کې دغه حالت انځور شوی. خبره دې حد ته رسېدلې وه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه میاشت له ټولو مېرمنو بېل او په یوې جلا خونې کې دېره شو، الله تعالی د دې ستونزې د حل لپاره دا لارښوونه وکړه چې مېرمنو

ته دي ووايه: يا پر دې ساده ژوند قناعت وكړئ او يا بېلېدا غوره كړئ، ټولو ورسره ومنله چي د قناعت او صبر لار نيسو. ښه به وي چي د دې پېښې اړوند يو روايت هم له نظره تېر كړو.

عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهْىَ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا. فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِىَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لاَ أَدْرِي. ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ "لاَ". فَقُلْتُ الله أَكْبَرُ. (بخارى:۸۹)

له عمر رضى الله عنه روايت دئ چي وايي: ما او زما يوه انصاري گاونډي چي د بني اميه بن زيد د قبيلې وو چي د عوالي په نامه يادېدله، (عوالي ځكه ورته ويل كېدو چي د مدينې په برنۍ برخي كې پرته وه)، د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاكلى وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، كله چي به زه ورغلم نو خپل گاونډي ته به مي د هغي ورځي د وحي او نورو مسائلو خبر وروړ؛ او كله چي به هغه ورغى نو هغه به همداسي وكړل، نو يوه ورځ زما همدا انصاري ملگرى پخپل وار ورغلى وو، نو زما د كور دروازه ئې په زوره وټكوله او وئې ويل: فلانى شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئې ويل: لويه پېښه شوې ده. عمر رضى الله عنه وايي: زه حفصې رضى الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضى الله عنه لور او د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن وه)، ومي ليدل چي هغه ژاړي، ورته ومي ويل: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته طلاق دركړى؟ هغې راته وويل: نه يم خبره، بيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته ورغلم؛ او په داسي حال كې چي ولاړ وم ومي ويل: آيا خپلي مېرمني دي طلاقي كړې دي؟ وئې فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اكبر!

دا روايت په بخاري كې نه ځلي نور په دغو شمېرو تكراراً راغلى: ۲٤٦۸، ٤۹۱۳، ٤۹۱٤، ٤۹۱٥، ٥۱۹۱، ٥۲۱۸، ٥۸٤۳، ۷۲٥٦، ۷۲٦۳

په دې رواياتو كې ښه ډېر توپيرونه شته، ما دوه ترې غوره كړې چي دوهم ئې دا دئ:

عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما قَالَ لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم اللَّتَيْنِ قَالَ الله تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله

فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ) حَتَّى حَجَّ وَحَجَجْتُ مَعَهُ، وَعَدَلَ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِإِدَاوَةٍ، فَتَبَرَّزَ، ثُمَّ جَاءَ فَسَكَبْتُ عَلَى يَدَيْهِ مِنْهَا فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم اللَّتَانِ قَالَ الله تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ) قَالَ وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، هُمَا عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ. ثُمَّ اسْتَقْبَلَ عُمَرُ الْحَدِيثَ يَسُوقُهُ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهُمْ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِمَا حَدَثَ مِنْ خَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ أَوْ غَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى الأَنْصَارِ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَأْخُذْنَ مِنْ أَدَبِ نِسَاءِ الأَنْصَارِ، فَصَخِبْتُ عَلَى امْرَأَتِي فَرَاجَعَتْنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي قَالَتْ وَلِمَ تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ فَوَالله إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيُرَاجِعْنَهُ، وَإِنَّ إِحْدَاهُنَّ لَتَهْجُرُهُ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ. فَأَفْزَعَنِي ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُنَّ. ثُمَّ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَنَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَىْ حَفْصَةُ أَتُغَاضِبُ إِحْدَاكُنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ قَالَتْ نَعَمْ. فَقُلْتُ قَدْ خِبْتِ وَخَسِرْتِ، أَفَتَأْمَنِينَ أَنْ يَغْضَبَ الله لِغَضَبِ رَسُولِهِصلى الله عليه و سلم فَتَهْلِكِي لاَ تَسْتَكْثِرِى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَلاَ تُرَاجِعِيهِ فِي شَىْءٍ، وَلاَ تَهْجُرِيهِ، وَسَلِينِي مَا بَدَا لَكِ، وَلاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ، وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم - يُرِيدُ عَائِشَةَ- قَالَ عُمَرُ وَكُنَّا قَدْ تَحَدَّثْنَا أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِغَزْوِنَا، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَرَجَعَ إِلَيْنَا عِشَاءً فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا وَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ قَدْ حَدَثَ الْيَوْمَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قُلْتُ مَا هُوَ، أَجَاءَ غَسَّانُ قَالَ لاَ بَلْ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَأَهْوَلُ، طَلَّقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نِسَاءَهُ. فَقُلْتُ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ، قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ، فَجَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَصَلَّيْتُ صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَدَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مَشْرُبَةً لَهُ، فَاعْتَزَلَ فِيهَا، وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ أَلَمْ أَكُنْ حَذَّرْتُكِ هَذَا أَطَلَّقَكُنَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لاَ أَدْرِى هَا هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ

فِى الْمَشْرُبَةِ. فَخَرَجْتُ فَجِئْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ فَإِذَا حَوْلَهُ رَهْطٌ يَبْكِى بَعْضُهُمْ، فَجَلَسْتُ مَعَهُمْ قَلِيلاً ثُمَّ غَلَبَنِى مَا أَجِدُ، فَجِئْتُ الْمَشْرُبَةَ الَّتِى فِيهَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ لِغُلاَمٍ لَهُ أَسْوَدَ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ الْغُلاَمُ فَكَلَّمَ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ كَلَّمْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم وَذَكَرْتُكَ لَهُ، فَصَمَتَ. فَانْصَرَفْتُ حَتَّى جَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِى مَا أَجِدُ فَجِئْتُ فَقُلْتُ لِلْغُلاَمِ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَرَجَعْتُ فَجَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِى مَا أَجِدُ فَجِئْتُ الْغُلاَمَ فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَىَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَلَمَّا وَلَّيْتُ مُنْصَرِفًا- قَالَ- إِذَا الْغُلاَمُ يَدْعُونِى فَقَالَ قَدْ أَذِنَ لَكَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ، قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَايِمٌ يَا رَسُولَ الله أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ. فَرَفَعَ إِلَىَّ بَصَرَهُ فَقَالَ "لاَ". فَقُلْتُ الله أَكْبَرُ. ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَايِمٌ أَسْتَأْنِسُ يَا رَسُولَ الله لَوْ رَأَيْتَنِى، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَتَبَسَّمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله لَوْ رَأَيْتَنِى وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا لاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم يُرِيدُ عَايِشَةَ فَتَبَسَّمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم تَبَسُّمَةً أُخْرَى، فَجَلَسْتُ حِينَ رَأَيْتُهُ تَبَسَّمَ، فَرَفَعْتُ بَصَرِى فِى بَيْتِهِ، فَوَالله مَا رَأَيْتُ فِى بَيْتِهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ غَيْرَ أَهَبَةٍ ثَلاَثَةٍ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله ادْعُ الله فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ، فَإِنَّ فَارِسًا وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ، وَأُعْطُوا الدُّنْيَا وَهُمْ لاَ يَعْبُدُونَ الله. فَجَلَسَ النَّبِىُّ صلى الله عليه و سلم وَكَانَ مُتَّكِئًا. فَقَالَ "أَوَفِى هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، إِنَّ أُولَيِكَ قَوْمٌ عُجِّلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِى الْحَيَاةِ الدُّنْيَا". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله اسْتَغْفِرْ لِى.... (بخارى: ۵۱۹۱)

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ چي وايي: تل مي دا تلوسه وه چي له عمر بن الخطاب د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغو دوو مېرمنو په اړه پوښتنه وکړم چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا: که تاسو دواړه توبه وکړئ (درته غوره ده)، يقيناً چي ستاسو زړونه کاږه شوي)، تر هغه چي حج ته ولاړ او زه

هم ورسره حج ته ولاړم، يو ځای دی هم له لاري يوې خوا ته کوږ شو او زه هم ورسره کوږ شوم، د اوبو له لوښي سره، هغه صحرا ته ولاړ بيا چي بېرته راغی پر لاسونو مي اوبه ترې ورتوی کړې، اودس ئي پرې وکړ نو ورته ومي ويل: اې اميرالمؤمنين! د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه دوه مېرمني کومي دي چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا )؟ وئې ويل: اې ابن عباس! تا ته حيرانتيا ده! دوی عائشه او حفصه وې، بيا عمر خبره مخکي بېوله او وئې ويل: زه او زما يو ګاونډی چي د انصارو د بني اميه بن زيد د قبيلې وو او دا د مدينې د برنۍ سيمي له قبيلو يوه قبيله وه، موږ دواړو د رسول الله صلی الله عليه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چي به زه ورغلم نو خپل ګاونډي ته به مي د هغي ورځي د وحي او نورو مسائلو خبر وروړ؛ او کله چي به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، موږ قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چي انصارو ته راغلو دوی داسي ول چي مېرمني ئې پرې غالبي وې، نو ورو ورو زموږ مېرمنو د انصارو د مېرمنو خصلتونه خپلول، يو ځل مي پر خپلي مېرمني چيغه کړه، هغې همداسي ځواب راکړ؛ نو د دې ځواب راباندي بد ولګېدو، هغې وويل: ولي زما ځواب درباندي بد ولګېدو؟! په خدای قسم چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمني هغه ته همداسي ځواب ورګرځوي، ځيني ئې يوه ورځ حتی شپه ترې لري پاتې کېږي، دې خبري ووېرولم او ورته ومي ويل: له دوی چي هر څوك دا كار كوي تباه شوه، بيا مي جامي راغونډي کړې، راکوز شوم او حفصې ته ورغلم؛ او ومي پوښتله: آيا تاسو له رسول الله صلی الله عليه و سلم مروري کېږئ، يوه ورځ حتی تر شپې پوري؟! وئې ويل: هو؛ ورته ومي ويل: يقيناً تباه او تاواني شوې، آيا د دې پروا نه کوئ چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د غضب له وجهي الله تعالی پر تاسو غضب نازل کړي او هلاکي شئ؟! مه له رسول الله صلی الله عليه و سلم زياتي غوښتني کوه، مه ځواب ورګرځوه او مه ترې مروره کېږه، څه چي دي زړه غواړي له ما ئې وغواړه، دا دي تا ونه غولوي چي ګاونډۍ (بن) دي تر تا ښايسته او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ګرانه ده، (مراد ئې عائشه رضی الله عنها وه)، عمر رضی الله عنه وايي: موږ د غسان په اړه خبري کولې چي خپل آسونه ئې زموږ لپاره تيارول (د بريد تياری ئې نيولو)، يوه ورځ زما همدا انصاري ملګری پخپل وار (رسول الله صلی الله عليه و سلم) ته ورغلی وو، ماخستن راوګرځېدو، نو زما د كور دروازه ئې په زوره وټکوله او وئې ويل: فلانی شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئې ويل: لويه پېښه شوې ده. ما ورته وويل: هغه څه دي؟ آيا غسانيان راغلي؟ وئې ويل: نه؛ تر دې هم ستر او هيبتناك! رسول الله صلی الله عليه و سلم خپلي مېرمني طلاقي کړې دي، ومي ويل: حفصه تباه او هلاکه شوه، ما همداسي ګمان کاوو چي دا کار به وشي، نو جامې مي پر ځان برابري کړې او د سحر لمونځ مي له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره وکړ، بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل كور د دروازې پر سر خوني ته ننوت، په هغې کې ګوښی پاته شو، زه حفصې رضی الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضی الله عنه لور او د

رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمن وه)، ومې لیدل چې هغه ژاړي، ومې ویل: ولې ژاړې، آیا له دې مې نه وې وېرولې؟ آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم تاسو ته طلاق درکړی؟ هغې راته وویل: نه یم خبره، هغه دئ په خپلې خونې کې گوښه شوی، بیا راووتم او د منبر خوا ته راغلم، گورم چې په خوا کې ئې یوه ډله راغونډه ده او ځینې ئې ژاړي، لنډه شېبه ورسره کښېنستم، زړه مې طاقت ونه کړ، بیا هغې خونې ته راغلم چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په کې وو، د ده تورپوستي خادم ته مې وویل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، هغه ورغی، له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ئې خبره وکړه او بېرته راغی او راته وئې ویل: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مې خبره وکړه او ستا یادونه مې وکړه خو څه ئې ونه ویل، تر شا شوم او د منبر خوا ته ټولگي ته راغلم، بیا مې زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومې ویل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ویل: ورته یاد مې کړې خو څه ئې ونه ویل، د منبر خوا ته ټولگي ته راغلم، بیا مې زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومې ویل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ویل: ورته یاد مې کړې خو څه ئې ونه ویل، نو راستون شوم خو ناڅاپه خادم راغږ کړل او وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه درکړه، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم که گورم چې هغه په اوبدل شوي پوزي باندې ډډه لگولې چې د ده او پوزي تر منځ کوم فرش نشته، د پوزي کرښو د ده پر اړخ نښې پرېښې، د پوستکي پر داسې بالښت ئې تکیه کړې وه چې د خرما له پوسته ډک وو، بیا مې سلام پرې واچاوو او په داسې حال کې چې ولاړ وم ومې ویل: یا رسول الله! آیا خپلې مېرمنې دې طلاقې کړې دي؟ نو سترگې ئې زما لوري ته رالوړې کړې او وئې فرمایل: (نه)، نو ما وویل: الله اکبر! بیا په داسې حال کې چې لا ولاړ وم ومې ویل: که ئې راته مناسبه گڼې څو خبرې درسره کوم، موږ قریش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوی داسې ول چې مېرمنې ئې پرې غالبې وې، رسول الله صلی الله علیه و سلم تبسم وکړ، بیا مې وویل: یا رسول الله! که ئې راته مناسبه گڼې حفصې ته مې وویل: دا دې تا ونه غولوي چې گاونډۍ دې تر تا ښایسته او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته گرانه ده، (مراد ئې عائشه رضی الله عنها وه)، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم یو ځل بیا تبسم وکړ، کله چې مې هغه د تبسم په حالت کې ولید نو کښېنستم او سترگې مې د ده په کوټه کې وغړولې، په خدای قسم چې له دریو اومو پوستکو پرته مې بل څه په کې ونه لیدل، (ښایي د اوبو ژي به وو)، نو ومې ویل: یا رسول الله! الله تعالی ته دعاء وکړه چې ستا امت ته ئې پراخه کړي، فارس او روم ته په داسې حال کې پراخي او د دنیا نعمتونه ورکړی شوي چې د الله تعالی عبادت او بندگي نه کوي، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم کښېنستو په داسې حال کې چې تکیه ئې کړې وه او وئې فرمایل: اې ابن خطابه! آیا ته په همدې فکر کې یې؟! دا خو هغه خلك دي چې دا نعمتونه په همدې دنیایي ژوند کې ژر ورکړی شوو، نو ما وویل: یا رسول الله! ما ته بخښنه وغواړه،....

که لږ ځیر شئ نو وبه گورئ چې د دې روایت موضوع د عبدالله بن عباس رضی الله

عنهما له پوښتني سره هيڅ ارتباط نه لري او د ده د پوښتني ځواب په کې نشته، دا موضوع کاملاً بېله موضوع ده، دا له دوو مېرمنو (له عائشه او حفصه رضي الله عنهما) د خفګان اړونده قصه نه ده بلکې له ټولو مېرمنو د يوې مياشتي لپاره د بېلېدو قصه ده او وجه ئې دا وه چي مېرمنو ئې د پيغمبر عليه السلام په ساده ژوند قناعت نه شو کولی او داسي غوښتني ئې درلودې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې له پوره کولو عاجز وو، په لومړيو کې او د نيستيو پر مهال ئې قناعت کاوو خو وروسته چي د وفرت او د شتمنيو د ډېروالي زمانه شوه، دوی هم غوښتل د نورو په څېر سوکاله ژوند ولري، دا پر پيغمبر عليه السلام ګرانه تمامېده او د خپل انتظار خلاف ورته معلومېده، په دې اړه د احزاب د سورې برني آيتونه نازل شول، د پيغمبر عليه السلام بيبياني وګواښلې شوې، چي که په دې فقيرانه ژوند قناعت نشئ کولی راشئ چي پيغمبر عليه السلام طلاق درکړي. په روايت کې حفصې رضی الله عنها ته د عمر رضی الله عنه دا وينا چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم زياتي غوښتني مه کوه ښيي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خفګان وجه همدا وه. که چېري د رسول الله صلی الله عليه و سلم د خفګان وجه د عائشې او حفصې رضی الله عنهما د سلوك له کبله وی نو بيا خو به ئې يوازي له دوی خپله نارضايتي څرګندوله نه له ټولو، ولي به رسول الله صلی الله عليه و سلم ټولو تر يوې مياشتي بېلېدو؟!

خو د پورتني روايت په اړه دا وينا ضروري ده چي دا ډېر ښکلی، په زړه پوري او اغېزناك روايت دئ او ډېري مهمي او ارزښتناکي لارښووني لري، په دې روايت کې د تحقيق په دوران کې ما د عمر رضی الله عنه د هغې وينا په اړه تبسم کړی چي پيغمبر عليه السلام پرې موسکی شوی او هغې وينا ئې زما اوښکې بهولې دي چي د پيغمبر عليه السلام د ژوند فقيرانه حالت ئې انځور کړی، له دغه روايت معلومېږي چي عمر رضی الله عنه څومره مدبر، حکيم او ستر شخصيت وو، د پيغمبر عليه السلام په اړه ئې څومره درناوی، احترام، مينه او زړه سوی درلود، د هغو پېښو په اړه څومره حساس وو چي اسلام ته ئې تاوان رساوو. د خپل ګران قائد او لارښود رسول الله صلی الله عليه و سلم لارښوونو ته په پام سره ئې هغه مهال هم د خپل مرشد په څېر فقيرانه ژوند غوره کړی وو چي نه يوازي د اسلام د ستر خلافت مشري وروسپارل شوه بلکې د فارسي واکمن تاج او روميانو خزانې د ده په لاس کې پرېوتې!!

بل روايت داسي دئ چي پيغمبر عليه السلام يو مازديګر د خپلي مېرمني زينب بنت جحش په کور کې تر معمول زيات ځنډ وکړ، هغې ورته د شاتو شربت جوړ کړ، عائشه رضی الله عنها وايي چي ما ته په دې باندي رشك راغی، نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم له نورو مېرمنو حفصه، سوده او صفيه رضي الله عنهن سره مي دا خبره جوړه کړه چي کله هره يوه له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مخامخ شي ودي وايي چي له تا د مغافېر ګل بوی راځي (دا يو ګل دئ چي بوی ئې ښکلی نه دئ، کله چي د شاتو موچۍ له دې ګل شات جوړ کړي هغه هم ښه بوی نه لري)، دوی پوهېدلې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم

په داسې مواردو کې ډېر حساس دئ، د دوی تدبیر خپل کار وکړ، کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوې او بلې له لوري دا خبره واورېده نو د دغه شات د نه خوړلو وینا ئې تر خولې ووته، په ځینو روایاتو کې راغلي چې لوړه ئې وکړه او په ځینو کې دا چې کلکه ژمنه ئې وکړه، خو په دې روایت کې هم دا پوښتنه راولاړېږي چې قرآن د دوو مېرمنو یادونه کوي نه د دریو یا څلورو، په دې روایت کې خو د څلورو مېرمنو یادونه شوې ده.

یو بل روایت هم دئ چې وایي پیغمبر علیه السلام د حدیبیې له صلحې وروسته د نورو مشرانو او زعماءو په ضمن کې مقوقیس د اسکندریې مشر ته هم یو لیك ولېږو، حاطب بن ابي بلتعه دا لیك ورساوو، خو هغه که څه هم اسلام ونه مانو خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لیك په ځواب کې ئې ولیکل: (زه په دې باور وم چې یو پیغمبر راتلونکی دئ، خو زما گمان دا دئ چې هغه به په شام کې مبعوث کېږي، خو زه ستا د پلاوي درناوی کوم او له هغوی سره دوه د قدر وړ وینځې هم درلېږم)، دغو دواړو په لاري کې ایمان راوړ، یوه سیرین نومېده چې پیغمبر علیه السلام هغه د حسان بن ثابت په نکاح کړه او بله ئې ماریه رضی الله عنها ځان ته په نکاح کړه، له دې ابراهیم پیدا شو، دا ډېره ښایسته وه، یو روایت وایي چې عائشې رضی الله عنها د دې په اړه ویلي: پر ما د هیڅ مېرمنې راتگ دومره گران نه دئ تمام شوی لکه د ماریه راتگ، ویل کېږي چې یوه ورځ پیغمبر علیه السلام د حفصې په کور کې وو خو هغه هلته نه وه، ماریه رضی الله عنها هلته ورغله او څه وخت ورسره پاته شوه، له دې خبري حفصه خبره شوه، اعتراض ئې وکړ، پیغمبر علیه السلام د حفصې د ارضاء لپاره وویل چې له دې وروسته به له ماریه سره نژدېوالی نه کوي، په ځینو روایاتو کې راغلي چې لوړه ئې وکړه او په ځینو کې دا چې هغه ئې پر ځان حرامه کړه.

دا هم نه یوازې له دې کبله د منلو نه دئ چې اکثر محدثین ئې ضعیف گڼي بلکې له دې پلوه هم چې دلته خو یوازې د حفصې یادونه شوې حال دا چې عبدالله بن عباس د دوو مېرمنو اړوند آیت وضاحت غوښتی. همدا راز د دې روایت الفاظ، محتوی او موضوع داسې ده چې قطعاً د نقل او اعتبار وړ نه برېښي.

---

إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾

يقيناً چې نارينه مسلمانان او ښځينه مسلماناني، نارينه مؤمنان او ښځينه مؤمناني، منقاد نارينه او منقادي ښځي، رښتيني نارينه او رښتيني ښځي، صبرناك نارينه او صبرناكې ښځي، خاشع نارينه او خاشع ښځي، صدقه وركوونكي نارينه او صدقه وركوونكې ښځي، روژتي نارينه او روژتيې ښځي، د خپل عورت ساتونكي نارينه او (د خپل عورت) ساتونكې ښځي؛ او د الله زيات يادوونكي نارينه او ذكر كوونكې ښځي؛ الله ورته د بخښني او ستر اجر تياری نيولی.

(۳۵)- په دې مبارك آيت كې د نارينه او ښځينه مؤمنانو څو ځانګړتياوي او مواصفات زموږ مخي ته ځلېږي او ښيي چې د ايمان مدعي؛ كه نارينه وي يا ښځينه بايد كوم كوم صفات ولري چې د الله تعالی له لوري ئې مغفرت او ستر اجر په برخه شي، دا صفات په دې توګه ښودل شوي: ۱- اسلام يعني ټولو الهي احكامو ته عملاً او په بشپړه توګه غاړه اېښودل، ۲- ايمان يعني پر ټولو هغو شيانو او مفاهيمو د زړه له كومي باور او يقين درلودل چې دين موږ ته راښودلي، ۳- داسي بشپړ انقياد چې د سرغړاوي هيڅ شائبه په كې نه وي، ٤- رښتينولي او صداقت په خپلو ټولو ويناوو، ژمنو او كړنو كې، ۵- صبر د ديني احكامو په پلي كولو كې او د الله تعالی په لار كې له ستونزو او كړاوونو سره د مخامخېدو په صورت كې، ٦- د الله تعالی په وړاندي خشوع درلودل او له هر راز كبر او لويي ډډه كول، ۷- د الله په لار كې مالي او ځاني قرباني ته چمتو والی، د دين په چارو كې او له محتاجو سره د مرستي لپاره خپل مال لګول، ۸- روژه نيول او په دې توګه عملاً ښودل چې د الله تعالی لپاره حتی دې ته هم چمتو دئ چې خپلو انساني اړتياوو ته شا كړي او يوه مياشت هره ورځ له سحر تر ماښام له خوراك او څښاك ډډه وكړي او خپل جائز جنسي غرائز مهار كړي او په دې توګه ثابت كړي چې تل به له حرامو ځان لري ساتي، ۹- خپل عورت ساتي او له حرامو لارو خپل جنسي غريزه نه اشباع كوي، ۱۰- او الله تعالی زيات يادوي، تل ئې ژبه د خپل رب په ذكر لنده وي، په ولاړه، ناسته او ملاسته خپل رب يادوي، په هر كار كې د خدای پار او پاس په پام كې لري. د دغو صفاتو خاوندان د الله تعالی له لوري بخښنه او ستر اجر تر لاسه كوي.

په دې مبارك آيت كې د الله تعالی زيات ذكر د نورو صفاتو په پای كې راغلی، دې ته په پام سره چې د آيت په سر كې د اسلام ذكر تر ايمان وړاندي راغلی، حال دا چې يوازې هغه اسلام د اعتبار وړ دئ چې بنسټ ئې ايمان وي، د انسان نېك اعمال هم هغه وخت ارزښت لري چې باعث ئې ايمان او د الله تعالی د حكم په وړاندي انقياد وي او د دين له لارښوونو سره سم تر سره شي، په اصل كې ايمان له هره پلوه تر اسلام وړاندي دئ، هم د اهميت له پلوه او هم د قدر او ارزښت له پلوه، همداسې د الله تعالی ذكر د ټولو مخكينيو ښېګڼو بنسټ دئ، هغه نېك عمل زيات ارزښت لري چې د الله تعالی له ذكر سره توأم وي، دا مطلب په لانديني حديث كې داسي توضيح شوی:

عَنْ سَهْلِ بن مُعَاذِ بن أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ أَنَّ رَجُلا سَأَلَهُ، فَقَالَ: أَيُّ الْمُجَاهِدِينَ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا"، قَالَ: وَأَيُّ الصَّائِمِينَ أَعْظَمُ لِلَّهِ أَجْرًا؟ قَالَ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا"، ثُمَّ ذَكَرَ الصَّلاةَ وَالزَّكَاةَ وَالْحَجَّ وَالصَّدَقَةَ، كُلُّ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:"أَكْثَرُهُمْ لِلَّهِ ذِكْرًا" المعجم الكبير للطبراني و مسند احمد

سهل بن معاذ بن انس له خپل پلار او هغه له رسول الله صلى الله عليه و سلم روايت کوي چې يوه سړي وپوښتو: په مجاهدينو کې ستر اجر د چا په برخه کېږي؟ وئې فرمايل: څوك چې تر نورو زيات الله يادوي، وئې ويل: په روژتيو کې به د الله په وړاندې د چا اجر ستر وي؟ وئې فرمايل: څوك چې تر نورو زيات الله يادوي، بيا ئې د لمانځه، زكات، حج او صدقې يادونه وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې ټولو په اړه فرمايل: څوك چې تر نورو زيات الله يادوي.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾

او هيڅ مؤمن او مؤمنې ته نه ښايي چې کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بيا دي) دوی ته په خپل کار کې څه اختيار وي؛ او څوك چې له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې په څرگند لار ورکتوب سره لار ورکی شو.

(۳۶)- دا مبارك آيت د ايمان يوه ستره او اساسي تقاضا زموږ مخې ته ږدي او وايي: له هيڅ مؤمن او مؤمنې سره دا نه ښايي چې کله الله تعالى او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي بيا دې دوی په خپل کار کې کوم اختيار ولري او د خپلې خوښې پرېکړه دې وکړي، د الله تعالى او د هغه د رسول د پرېکړې په وړاندې د دوی اختيار په بشپړه توگه سلبېږي او له دې پرته چې پرېکړې ته غاړه کېږدي او له کوم بدلون او ځنډ پرته ئې عملي کړي د بل څه کولو حق نه لري، له دې پرته بل څه کول سرغړاوی دئ او څوك چې له الله تعالى او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چې لار ورکی شوی او سمه لار ترې ورکه شوې.

هر مؤمن انسان د خپل رب عبد او مربي دئ، دا د عبد او مربي يوه اساسي ځانگړتيا او خصوصيت وي چې په خپل ټول ژوند کې د خپل آقا د فرمان مطيع وي، هغه له خپل لوري او په خپل سر د هيڅ کار په اړه فيصله نه کوي، هغه ته چې د څه کولو کوم دستور او هدايت ورکول کېږي همغه کوي، کوم اقدام چې د خپل آقا او مالك د اذن او حکم پرته تر سره کړي دا اقدام ئې بغاوت گڼل کېږي، دا د غلامۍ او مربيتوب له حده تجاوز گڼل کېږي، هغه د ژوند په هيڅ برخې کې په خپله تصميم نه نيسي، هره خبره چې کوي او هر تصميم

چې نیسي نو هغه به د خپل آقا له امر او هدایت سره سم نیسي، د کوم کار په اړه د الله تعالی او د ده د رسول له پرېکړې وروسته له هر مؤمن بنده دا اختیار سلبېږي چې له خپل لوري بله پرېکړه وکړي، له دې وروسته هغه په بشپړ اطاعت مکلف دئ، د بلې پرېکړې او فیصلې حق نه لري، ځوك چې له دې پرته بل څه وکړي او د سرغړاوي لار غوره کړي د هغه په بې لاریتوب او ضلالت کې هیڅ شك نشته، همدا د هغه په ضلالت شهادت ورکوي.

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟ مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾

او کله چې تا هغه کس ته چې هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوینه کړې وه؛ ویل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه؛ او هغه څه دې په خپل زړه کې پټ ساتل چې الله ئې څرګندوونکی وو او له خلکو وېرېدې په داسې حال کې چې الله د دې زیات وړ دئ چې ترې ووېرېږې، نو کله چې زید خپل حاجت ترې پوره کړ تا ته مو په نکاح کړه، د دې لپاره چې پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنګسه نه وي چې د خپلو زوی بوللو مېرمنې هغه مهال په نکاح کړي چې هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي؛ او د الله امر تر سره کېدونکی وو، پر پیغمبر په هغه څه کې هیڅ حرج نشته چې الله ورته ټاکلي، د الله هغه سنت چې تر دې وړاندې تېر شوی او د الله امر په ټاکلي توګه سرته رسېدونکی وي، هغه (انبیاء) چې الهي رسالتونه رسوي او ترې وېرېږي او له الله پرته له هیچا نه وېرېږي او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

(۳۷-۳۹)- په دې مبارکو آیتونو کې د جاهلیت د دور یوه داسې دود ته ګوته نیول شوې چې تصحیح او له منځه وړلو ئې لویه غوغا رامنځته کړه، په جاهلیت کې معمول دا وه چې چا به څوك په زوی ولی، ونیو نو هغه به له هره پلوه د رښتیني او اصلي زوی په توګه ګڼل کېدو، په میراث کې به ئې د زامنو په څېر برخه وه او مېرمن به ئې د ده او د ده ناور ګڼل کېده او د ده

له کونډې يا مطلقه سره به نکاح حرام تلقي کېده. همدا راز خلکو په نسبي شرافت او اصالت باور درلود، ځينو به د ځينو نورو په پرتله له نسبي پلوه ځان لوړ ګڼلو او هغه ته به ئې د خپل سيال په سترګه نه کتلو، د نکاح او ازدواج په چارو کې به دې ته جدي پاملرنه کېده؛ او دا هغه څه وو چې په الهي دين کې هيڅ ارزښت نه لري، د دين له نظره د ټولو انسانانو نسب يو دئ، هيڅ قوم پر بل او هيڅ انسان پر بل له نسبي پلوه هيڅ امتياز نه لري، قرآن د دې جاهلي دود د اصلاح لپاره همغه تګلاره غوره کړه چې د نورو کچه دودونو د اصلاح او تصحيح لپاره ئې غوره کړې، الله تعالی غوښتل چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په عملي کړنلارې سره او د ده په خپل ټبر کې د يوې معاملې په ترڅ کې د دې جاهلي دود الغاء اعلان کړي، بايد د رسول الله صلی الله عليه و سلم په عملي ژوند کې داسې څه خلکو ته وروښيي چې د الله تعالی له لوري او په الهي دين کې د دې دود بشپړه الغاء تلقي شي، نو ځکه ئې داسې شرائط برابر کړل چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل هغه آزاد کړي غلام مطلقه مېرمن په نکاح کړي چې په زوی ولی، ئې نيولی وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم زيد رضی الله عنه په زوی ولی، نيولی وو، خلکو به تر هغه دی د زيد بن محمد په نامه ياداوو چې قرآن امر وکړ دوی خپل اصلي پلار ته منسوبوئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم وغوښتل چې ده ته د خپلې ترور لور زينب بنت جحش په نکاح کړي، خو د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وړانديز سره نه زينب رضی الله عنها موافقه کوله او نه ئې ورور او د کورنۍ نورو غړو، هغه ئې د قريشو سيال نه ګڼلو، خو د قرآن لارښوونو او د رسول الله صلی الله عليه و سلم ارشاداتو ته په پام سره هم زينب رضی الله عنها له دې وړانديز سره موافقه وکړه او هم ئې کورنۍ او له زيد رضی الله عنه سره د دې نکاح تر سره شوه، خو څه موده وروسته د دوی دواړو مناسبات دومره خړپړ شول چې زيد رضی الله عنه غوښتل دې ته طلاق ورکړي، رسول الله صلی الله عليه و سلم له ستونزې خبر شو، زيد ته ئې توصيه وکړه چې له طلاق ډډه وکړي او خپله مېرمن له ځان سره وساتي، خو هغه د خپلې مېرمنې له چلن تنګ شوی وو او له طلاق پرته ئې بله چاره نه ليده، رسول الله صلی الله عليه و سلم نه غوښتل د دوی ستونزه په طلاق منتج شي، دا ځکه چې دا نکاح د ده په وړانديز او هڅو تر سره شوې وه، زينب رضی الله عنها د ده د غوښتنې په احترام دې نکاح ته چمتو شوې وه، دا انديښنه هم ورسره وه چې که زيد رضی الله عنه خپلې مېرمنې ته طلاق ورکړي او په دې توګه د هغې حيثيت ته صدمه ورسېږي له کومې لارې او څنګه به دا صدمه جبرانېږي، معلومه نه ده چې بل څوك به له دې سره نکاح ته چمتو شي که نه، په داسې حال کې چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم زوی بوللې هغې ته طلاق ورکړی بل مسلمان به څنګه دې ته حاضر شي چې هغه نکاح کړي، که ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم ځان ته نکاح کړي نو دښمنان به له دې ستره غوغا جوړه کړي، په همدغه حالت کې زيد رضی الله عنه خپلې مېرمنې ته طلاق ورکړ، همغه څه وشول چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ترې وېرېدو، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته له دې پرته بل بديل نه وو

پاته چې زينب رضی الله عنها ځان ته په نکاح کړي. په پورتنيو آيتونو کې دغې پېښې ته په دې توګه اشاره شوې: هغه مهال درپه ياد کړه چې تا هغه کس ته چې هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوينه کړې وه؛ وويل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه، الله تعالی زيد ته د ايمان سعادت، د رسول الله صلی الله عليه و سلم د نژدې مصاحبت شرف او ښه استعدادونه ورپه برخه کړي وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه له غلامۍ آزاد کړ، په زوی ولۍ ئې ونيولو او خپله د ترور لور ئې هغه ته په نکاح ورکړه، د دې پېرزوينو تقاضا دا وه چې د زينب رضی الله عنها په اړه له بشپړ احتياط، زغم او حوصلې کار واخلي، نو ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته ويل له الله ووېرېږه او مېرمن دې درسره وساته، ورپسې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: هغه څه چې تا په خپل زړه کې پټ ساتل الله تعالی غوښتل هغه ښکاره کړي، له تا سره دا وېره وه چې دښمنان به ستره غوغا جوړه کړي، حال دا چې وېره دې بايد يوازې له الله تعالی وی، د دښمنانو د غوغا او تبليغاتو هيڅ پروا دې نه کولی، ته له دې وېرېدې چې که زيد رضی الله عنه هغې ته طلاق ورکړي او ته دې ته اړ شې چې هغه په نکاح کړې نو دښمن به غوغا جوړه کړي، خو الله تعالی غوښتل همدا کار وشي، له طلاق وروسته ته هغه په نکاح کړې، چې په دې سره د جاهليت هغه غلط دود ستا په لاس په بشپړه توګه لغو شي، نو کله چې زيد رضی الله عنه خپل حاجت له زينب رضی الله عنها پوره کړ هغه مو تا ته په نکاح درکړه، د دې لپاره چې پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنګسه نه وي چې د خپلو زوی بوللو مېرمنې هغه مهال په نکاح کړي چې هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي او طلاق ئې ورکړی وي؛ او په دې توګه د جاهليت دغه جاهلانه دود د تل لپاره لغو شي، الله تعالی چې د کوم کار پرېکړه کړې وي هغه هرو مرو تر سره کېږي، هيڅوک ئې د تحقق مخه نشي نيولی، د الله تعالی له لورې چې څوک د پيغمبر په توګه غوره شي په هغه څه کې به هيڅکله د زړه تنګي احساس نه کوي چې الله پرې مأمور کړی، همدا د ټولو پيغمبرانو په اړه د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ، د الله تعالی هر کار په خپلې ټاکلې نېټې او له الهي مقدراتو سره سم تر سره کېږي، انبياءو ته د الهي رسالت رسولو دنده سپارل کېږي، دوی د خپل مأموريت په تر سره کولو او خلکو ته د الهي رسالت په رسولو کې يوازې له الله تعالی وېرېږي او له الله پرته له هيچا وېره نه لري، الله تعالی د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دا مطلب هم بايد واضح کړو چې په ځينو رواياتو کې داسې څه تر سترګو کېږي چې وايي: کله چې د دې سورې ۳٦ آيت نازل شو نو زينب رضی الله عنها او د هغې کورنۍ د دغه آيت له اورېدو وروسته د زيد رضی الله عنه په اړه له خپل مخکيني دريځ راکوز شول او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وړانديز سره ئې موافقه وکړه، خو که د آيت متن ته ځير شو او د نکاح په اړه د اسلام دا لارښوونه په پام کې ونيسو چې د نکاح واک ئې په بشپړه توګه مېره او مېرمنې ته ورکړی په پوره ډاډ سره ويلی شو چې دا آيت له دې موضوع سره خاص تړاو نه لري او ارتباط ئې له مخکينيو مطالبو سره دئ، ځکه نه رسول الله صلی الله

عليه و سلم زينب ته د نكاح حكم كړى او نه د هغې عدم رضايت د الله تعالى او د هغه د رسول له حكم سرغړاى تلقي كولى شو، آيت وايي: وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ٣٦ : او هيڅ مؤمن او مؤمني ته نه ښايي چي كله الله او د ده رسول د كوم كار پرېكړه وكړي (بيا دي) دوى ته په خپل كار كي څه اختيار وي؛ او څوك چي له الله او د هغه له رسول سرغړاوى وكړي يقيناً چي په ښكاره لار وركتوب سره لار وركى شو.

كه احياناً د زينب رضى الله عنها او د هغې د كورنۍ دريځ د دې آيت يو مصداق وګڼو نو هغه به يوازي له دې پلوه وي چي هغوى د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ارشاداتو له اورېدو وروسته د نسبي توپير مخكينى احساس او خپل ټېر ته د زيد رضى الله عنه تر ټېر په لوړه سترګه كتل پرېښى او له دې ازدواج سره ئې توافق كړى. نه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د نكاح امر كړى، هغوى په ابتداء كي مخالفت او وروسته ئې د دې آيت په اورېدو سره موافقه كړې.

دې ته مو بايد پام وي چي د اسلام دښمنانو له دې قضيې ستره غوغا جوړه كړې، پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې ډول ډول تورونه لګولي، مستشرقينو په خپلو ليكنو كي پر دې قضيې ډېر تركيز كړى او له هغې ئې ستره تبليغاتي حربه جوړه كړې، ځينو ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه ورځ زينب رضى الله عنها په داسي حال كي ليدلې چي زړه ئې پرې بايللى... زيد رضى الله عنه دې ته متوجه شوى او د همدې لپاره ئې هغې ته طلاق وركړ!!!... دا په داسي حال كي چي زينب رضى الله عنها د رسول الله صلى الله عليه و سلم تر نظر لاندي ستره شوې، كه رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتلى نو هغه به ئې له زيد رضى الله عنه سره تر نكاح وړاندي په نكاح كړې وه، كه زينب رضى الله عنها له يوه آزاد شوي غلام سره چي نه ئې مال او دولت درلود او نه دې خپل سيال ګڼلو نكاح ته چمتو كېږي نو آيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د دې د نكاح په وړاندي څه خنډ او مانع وو؟!! دښمنان په خپلو معاندانه تبليغاتو كي دې ته هم اعتناء نه كوي چي ادعاء ئې هم د عقل خلاف ده او هم د تاريخي واقعيتونو خلاف، بس له هر فرصت په استفادې سره د خپل خيرن زړه براسي باسي او دروغجن تورونه لګوي.

---

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٤٠

او محمد ستاسو د هيڅ نارينه پلار نه دئ خو هغه د الله استازى او د انبياوو خاتم (مُهْر او پاى) دئ او الله په هر څه ښه پوه دئ.

---

(٤٠)- دا مبارك آيت د مخكيني مبحث تتمه ده او مطلب ئې دا دئ: محمد صلى الله عليه

و سلم په ژونديو مسلمانانو کې د هيڅ يوه نسبي پلار نه دئ، په زوی ولی نيولی زيد رضی الله عنه د ده زوی نه دئ، د دوی دواړو تر منځ اړيکې د اصلي پلار او زوی تر منځ اړيکې نه دي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی استازی او د مؤمنانو معنوي پلار دئ، وروستی پيغمبر دئ، تر ده وروسته بل پيغمبر نه راځي، د ده په ژوند کې بايد ټول هغه الهي لارښوونې او احکام بشپړ شي چې الله تعالی ئې پر انسانانو پېرزو کوي، د ده په لاس بايد د جاهليت د دور ټول جاهلانه دودونه لغو شي، هيڅ داسي څه پاته نشي چې د بل پيغمبر بعثت ايجاب کړي، د نورو انبياوو په ارتباط د ده حيثيت داسي دئ لکه د يوه ليك په پای کې د ليکوال مُهْر، چې هم د ليك پای په گوته کوي او هم د ليك د ټولو مطالبو د تصديق او تأييد نښه گڼل کېږي، نو رسول الله صلی الله عليه و سلم او د هغه رسالت د ټولو پيغمبرانو د اوږدې لړۍ وروستۍ کړۍ او د دې ضخيم کتاب د وروستۍ پاڼې د آخري کرښې په پای کې هغه مهر دئ چې د کتاب پای او د هغه د ټولو مطالبو تصديق او تأييد په گوته کوي. دا وينا د هغه عليم رب له لوري ده چې په هر څه ښه پوه دئ.

په دې مبارك آيت سره نه يوازې هغه مهم مبحث پای ته ورسېدو چې په ترڅ کې ئې د جاهليت د دور دوه کرکجن او جاهلانه دودونه لغو شول، هم د نسبي توپيرونو او امتيازاتو بت مات کړی شو او هم معنوي اړيکو ته د نسبي اړيکو رنگ ورکولو ناوړه دود لغو شو بلکې د ډېرو سترو فتنو مخه پرې ونيول شوه، په دې مبارك آيت سره د ټولو هغو ټگمارو او دوکه مارو مخه ډب شوې چې د نبوت جعلي مدعيان ترې جوړ شي، يا ځان د مخکيني پيغمبر د نبوت وارث گڼي او يا مستقل نبي!! په تاريخ کې د داسي ټگمارو او د نبوت جعلي مدعيانو شمېر ډېر زيات دئ، د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ژوند کې هم راټوکېدلي او له هغه وروسته هم، غلام احمد قادياني ئې يوه بېلگه دئ، چې انگرېزانو د مسلمانانو لپاره د نبي په توگه غوره کړی!! د دغو دجالانو د ترديد او تکذيب لپاره د قرآن دغه آيت کافي دئ، الله تعالی نوی پيغمبر يوازې هغه مهال لېږلی چې د مخکيني پيغمبر او د هغه د رسالت ټولې نښې زائل شوې، کتاب ئې تحريف شوی، د دعوت اغېز او آثار ئې له منځه تللي، داسي حالت پرې راغلی لکه چې د عيسی عليه السلام پر رسالت او دعوت راغی، تورات او انجيل تحريف شول، له دواړو بايبل دا له خرافاتو ډك کتاب جوړ شو، هغه بايبل چې که ووايو د اصلي تورات او انجيل يوه جمله هم په کې نشته نو مبالغه مو نه ده کړې، ځکه دا بايبل د رومي واکمنو په وينا او په يوناني ژبې ليکل شوی او موجودې نسخې ئې له يوناني نسخې ژباړل شوې، حال دا چې تورات او انجيل د بني اسرائيلو په ژبې نازل شوي نه په يوناني ژبې، هغه مهال چې عيسی عليه السلام د خدای ځای ناستی وگڼل شو، دين د ټگمارو په لاس کې دام او د عوامو د غولولو په وسيلې بدل شو، دغه مهال د بل پيغمبر بعثت او د بل کتاب د لېږلو ضرورت رامنځته شو او د همدې لپاره الله تعالی رسول الله صلی الله عليه و سلم د نوي پيغمبر په توگه غوره کړ او د خلکو د لارښوونې لپاره ئې داسي کتاب ولېږو چې نه يوازې کامل او بشپړ دئ، پر ټولو مخکينيو کتابونو شامل دئ، د انسان ټولو

پوښتنو ته ځواب وايي، ټولې معنوي غوښتني ئې تر سره کوي، د ژوند په ټولو برخو کې ئې لارښوونه کوي بلکې تر قيامت ئې د هغه د حفاظت انتظام هم کړى. الله تعالى د دې ذمه وال دئ چې تر قيامت پورې به داسې حالت نه رامنځته کېږي چې د قرآن ځاى خالي وي او د بل کتاب لېږلو ضرورت احساس شي، نو ځکه د بل پيغمبر او نبي د بعثت اړتيا په بشپړه توګه او د تل لپاره منتفي شوې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ ذِكۡرٗا كَثِيرٗا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾
هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَكَانَ
بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴿٤٤﴾

اې هغو چې ايمان ئې راوړى! الله په ډېرو يادولو سره ياد کړئ؛ او سبا او بېګاه ئې تسبيح وايئ، دى همغه (ذات) دئ چې پر تاسو رحمتونه لېږي او فرشتې ئې هم، چې تاسو له تيارو د نور په لورې وباسي؛ او هغه پر مؤمنانو مهربان دئ، په هغه ورځ چې ورسره مخامخ کېږي ښه راغلى به ئې (په) سلام (سره) وي او غوره اجر ئې ورته تيار کړى.

(٤١-٤٤)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته څو سپارښتنې شوې:

- الله تعالى په ډېرو يادولو سره ياد کړئ.
- سبا او بېګاه ئې تسبيح وايئ، له عيب او نقص ئې منزه او لوړ ګڼئ، د ده له حکم او إذن سره سم چې څه د ده په ملك کې تر سره کېږي په دې ټولو کې نه يوازې الله تعالى ته کوم عيب او نقص نشي منسوبېدى بلکې هغه په ذات، صفاتو او افعالو کې له هر عيب منزه دئ.
- ستاسو رب همغه ذات دئ چې پر تاسو رحمتونه او سلامونه لېږي او فرشتې ئې هم، غواړي تاسو له تيارو د نور په لورې بوځي، پر مؤمنانو مهربان دئ، د پيغمبر بعثت او د لارښود کتاب لېږنه د ده د رحمت او پېرزويني ستره او ځلانده بېلګې دي.
- کله چې مؤمنان د قيامت په ورځ له خپل رب سره مخامخ کېږي نو د دوى ښه راغلى به په سلام سره وي، د الله تعالى او فرشتو له لورې به دوى ته د سلام په صيغه ښه راغلى ويل کېږي.
- الله تعالى مؤمنانو ته غوره او ښايسته اجر تيار کړى.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٤٥﴾ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ

وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَدَعْ أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾

اې نبي! يقيناً چې ته مو شاهد، زېرى ورکوونکى، انذار ورکوونکى، د الله په حکم د الله لوري ته بلونکى او لکه روڼ څراغ لېږلى يې. او مؤمنانو ته دا زېرى ورکړه چې ستر الهي فضل ئې په برخه دئ؛ او د کافرانو او منافقينو متابعت مه کوه، ځوروني ئې له پامه وغورځوه؛ او پر الله توکل وکړه؛ او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

---

(٤٥-٤٨)- په دې مبارکو آيتونو کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم څو صفاتو ته اشاره شوې:

نبي: هغه څوك چې له حقائقو خبر او په خبرو پوه وي.

رسول: هغه استازى چې له يوه پېغام او رسالت سره لېږل شوى.

شاهد: هغه څوك چې د يوه مطلب په حقانيت په خپل قول او عمل سره شهادت ورکوي او د نورو لپاره بېلګه او اسوه وي.

مبشر: زېرى ورکوونکى.

نذير: له بدو پايلو او خطرناکو پېښو او عواقبو د خلکو وېروونکى.

داعياً الى الله: د الله په لوري بلونکى.

سراجاً منيرا: روڼ او روښانه څراغ.

په دې مبارکو آيتونو کې نه يوازې د پيغمبر عليه السلام ځانګړتياوې ښودل شوې بلکې د دعوت د بېلو بېلو مراحلو تسلسل ته هم اشاره شوې، په دې توګه:

- د پيغمبرانو هر دعوت له داسې خلکو پيل شوى چې لومړى ئې په خپله پوهه او بصيرت په برخه شوى، الله تعالى د وحي له لارې په حقائقو پوه کړي، بيا له الهي پېغام او رسالت سره د خلکو د هدايت او لارښوونې لپاره لېږل شوي، بيا همدغه پېغام او دعوت د دوى او د دوى د پلويانو په عملي شخصيت کې عيني تجسم مومي، له هر يوه د خپل دعوت د ټولو مفاهيمو لپاره ژوندى شاهد او بېلګه جوړ شوى، ګورئ چې دلته په دې صف کې يوازې پوهه او بصيرت کافي نه دئ، بلکې له پوهې وروسته ګڼ شمېر مراحل شته، پيغمبر عليه السلام فرمايي: د علم دوه ډولونه دي: يو ئې هغه چې يوازې په ژبه وي، داسې علم به د قيامت په ورځ د انسان په خلاف حجت ګرځي او بل ئې هغه نافع علم چې د عمل لارښود وي او انسان پرې عمل کوي.
- د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونکي بايد د خپلې الهي تګلارې د دقيقې پېژندنې تر څنګ د الهي پېغام حامل وي، دا پېغام او رسالت بايد د دوى په عملي شخصيت کې داسې راڅرګند شي چې هر ليدونکى د دوى په کړنو کې د دې دعوت څرنګوالى او اغېز په خپلو

سترګو وګوري. دا ځکه چې پيغمبر عليه السلام د شاهد او ګواه په توګه لېږل شوی، داسې چې د ده عمل د ده د دعوت او رسالت په حقانيت شهادت ورکوي او دا دعوت او عقيده د ده په عملي شخصيت کې په داسې توګه راڅرګندېږي چې هر ليدونکی د دې عقيدې په حقانيت متقاعد کړي.

- د پيغمبر بل مهم صفت دا دئ چې هغه د مبشر په توګه لېږل شوی، د مأيوسو او نا اميدو خلکو طرف ته تللی، د هغوی مړې هيلې ئې راژوندۍ کړې، د هغوی مأيوس زړونه ئې ډاډه کړي؛ او له ياس او نا اميدۍ ئې ژغورلي، هغوی ته ئې د ايمان په لار کې د روښانه مستقبل او ځلانده راتلونکي زېری ورکړی، د پيغمبرانو عليهم السلام په لار تلونکی هر دعوتګر بايد تر ټولو د مخه مبشر وي، د يأس او نا اميدۍ مقابله به کوي، هغه دعوتګر چې په خپلې بريا باور نه لري، د خپل رب په رعايت، عنايت او مرستې ئې بشپړ يقين نه وي، د خپل دعوت راتلونکي ته هيله من نه وي، مأيوس وي، خپل مخاطب ته د بريا، فتحې، غلبې او روښانه مستقبل زېری نشي ورکولی، هغه يو ناکام داعي دئ، دا ځکه چې له نبوت او رسالت وروسته د هر پيغمبر لومړی صفت مبشر دئ، هغه په خپله هيله من دئ، داسې چې په سختو حالاتو کې نه مأيوس کېږي او هغه خپل امت ته هم د روښانه راتلونکي او حتمي بريا او فتحې زېری ور کوي او د مبشر په توګه د مأيوسو ولسونو طرف ته درومي.
- او هغه نذير دئ، د ظلم مقابله کوي، د فساد، جهل او شرك مقابله کوي، خلك د فساد، شرك، جهل او ظلم له بدو پايلو وېروي، هغه د منکراتو او مفاسدو په وړاندې چوپ او بې اعتناء نه پاته کېږي، بلکې خلك وېروي، که له يوې خوا مؤمنانو ته د ايمان په خط کې د برې او غوره پايلې زېری ورکوي، له بلې خوا هغه چا ته چې له دې لارې منحرف شي او مفسدينو او ظالمانو ته انذار ورکوي او د کفر، ظلم او فساد له بد عاقبت ئې وېروي.
- هغه يو دعوتګر دئ، په خپل قول او عمل سره، بلنه ئې د الله تعالی لوري ته وي، نه د ځان لوري ته؛ او نه د کوم دنيوي غرض او مقصد لپاره، داسې بلونکی او دعوتګر چې د خپل رب په اذن او حکم او د ده له سننو او لارښوونو سره سم خلکو ته بلنه ورکوي، غواړي خلك د الله لوري ته لاړ شي، هغه ته ورنژدې شي، په الهي اخلاقو مزين او سمبال شي.
- هغه په انساني ټولنې کې داسې دئ لکه په تياره کې روڼ او روښانه څراغ، خپله سوزي خو نورو ته رڼا ورکوي، لکه شمع په خپل سر اور وړي چې د نورو ماحول او د پښو مخه روښانه کړي، د نورو لپاره سوزي، د نورو د هدايت او لارښوونې لپاره ځان وقفوي، کله چې خلك په تياره کې وي او روڼ مشعل ته اړوي نو دی د روڼ او روښانه څراغ په څېر دوی ته لار ښيي او له تيارو ئې باسي.
- پيغمبر مؤمنانو ته د دې خبرې زېری ورکوي چې د الله له لوري ئې ستر فضل په برخه دئ، دوی بايد ډاډه وي چې الله تعالی به خپل ستر فضل ورپه برخه کړي، پر دښمنانو به فتح، برلاسي او غلبه ورکړي او خپل تأييد به د دوی په حال شامل کړي.

- پیغمبر په دې گمارل شوی چې د کافرانو او منافقانو اطاعت به نه کوي، له کافرانو او منافقینو به ځان لرې ساتي، د هغوی تگلارې او کړنلارې به مردود شمېري، د ژوند په هیڅ برخې او هیڅ کار کې به د دوی کړنلاره نه غوره کوي، هدف ته د رسېدو لپاره به هغه لارې چارې او تدبیرونه نه غوره کوي چې کافران او منافقان ئې غوره کوي، د دوی د اذیتونو او ځورونو، تبلیغاتو او غوغاوو پروا به نه کوي.
- پیغمبر پر الله تعالی توکل لري، ځان الله تعالی ته سپاري او هغه ځان ته کافي گڼي.

دې آیتونو نه یوازې د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوړ اخلاقي صفات زموږ مخې ته انځور کړي بلکې موږ ته وایي: د پیغمبر علیه السلام په لار تلونکي مؤمنان باید دغه ځانگړتیاوې او مواصفات ولري.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٤٩﴾

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې مؤمنې مېرمنې په نکاح کړئ بیا وړاندې تر دې چې نژدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت داسې کوم حق نه لرئ چې شمېرل به ئې کوئ، نو څه متاع ورکړئ او په ښه توگه خوشې کولو سره ئې خوشې کړئ.

(٤٩)- دا مبارك آیت مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې له هغو مېرمنو سره به څه کوي چې له نکاح وروسته او تر نژدېکت وړاندې طلاق ورکړي، وایي: اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې مؤمنې مېرمنې په نکاح کړئ بیا وړاندې تر دې چې نژدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت تېرولو حق نه لرئ، دا ځکه چې د کونډو او طلاق شوو مېرمنو لپاره د عدت موده د دې لپاره ټاکل شوې چې معلومه شي چې آیا له مخکیني خاوند حامله شوې که نه، په دې مودې کې به حالت څرگند شي، داسې نه چې هغه مېرمن به هم د عدت په نامه درې حیضه انتظار کوي او له بل چا سره به د نکاح حق نه لري چې له نژدېکت وړاندې طلاق ورکړی شوی. له داسې مېرمنو سره به ستاسو چلن ډېر مؤدبانه او له پېرزوینې ډك چلن وي، په ښه توگه او په احترام سره ئې رخصت کړئ او د خپل وس په اندازه مرسته ورسره وکړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ

مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ
خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ
ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا
عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ
ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٠﴾ تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ
ٱبۡتَغَيۡتَ مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ
وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَلِيمٗا ﴿٥١﴾ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ
أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ﴿٥٢﴾

اې نبي! تا ته مو ستا هغه مېرمني روا کړې دي چي تا ئې مهر ورکړی؛ او ستا هغه وينځې چي الله درباندي پېرزو کړې دي؛ او ستا هغه ترلې، د ترندو لوڼي دي، د ماما لوڼي دي، د توريو (خاله ګانو) لوڼي دي چي له تا سره ئې هجرت کړی او هغه مؤمنه مېرمن چي غواړي خپل نفس پيغمبر ته وبخښي، خو که پيغمبر وغواړي هغه په نکاح کړي، دا خاص ستا لپاره دي، نه د (ټولو) مؤمنانو لپاره، موږ په يقين سره پوهېږو چي پر دوی مو د خپلو مېرمنو او وينځو په اړه څه فرض کړي، د دې لپاره چي پر تا کومه تنګسه نه وي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ. هغه ئې وروسته کړه چي ته ئې غواړې او هغه درنژدې کړه چي ته ئې غواړې؛ او که له هغو چي تا جلا کړې دي څوک ئې دروغواړې نو څه ګناه درباندي نشته، همدا دې ته نژدې ده چي د دوی سترګې يخې شي او غمجني نه شي؛ او په هغه څه راضي وي چي تا دوی ټولو ته ورکړي؛ او الله په هغه څه پوهېږي چي ستاسو په زړونو کې دي؛ او الله د حلم او صبر خاوند پوه دئ، تر دې آخوا تا ته نوري ښځې روا نه دي او نه دا چي په نورو مېرمنو ئې تعويض کړې، که څه هم د هغوی ښکلا دي حيران کړي، مګر هغه چي ستا وينځې وي؛ او الله پر هر څه څارونکی دئ.

(۵۰-۵۲)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د خپلو مېرمنو په اړه څو مهمې لارښووني شوې:

• دغه مېرمني درته روا دي: هغه چي تا ئې مهر ورکړی، ستا هغه وينځې چي الله درباندي پېرزو کړې دي، ستا هغه ترلې، د ترندو لوڼي، د ماما لوڼي او د توړيو (خاله ګانو) لوڼي چي له تا سره ئې هجرت کړی او هغه مؤمنه مېرمن چي غواړي خپل نفس پيغمبر ته وبخښي، خو که پيغمبر وغواړي هغه په نکاح کړي، دا خاص ستا لپاره دي، نه د ټولو مؤمنانو لپاره، پر مؤمنانو چي د خپلو مېرمنو او وينځو په اړه څه فرض شوي هغه د الله تعالی د کامل علم مطابق دي.

• ستا لپاره د مېرمنو په اړه استثنائي لارښوونه د خاص او ځانګړي مصلحت له مخي ده، الله تعالی غواړي ته له کوم حرج او کړاو سره مخامخ نه وې، دا مېرمني د دعوت په چارو کې مخصوصاً ښځو ته د پيغام او دعوت رسولو په برخه کې ستا مرستيالې وي، دا په حقيقت کې د الله تعالی يوه پېرزوينه او د ده د رحمت او بخښني نښه ده، الله مهربان بخښونکی دئ.

• د خپلو مېرمنو په اړه په نوبت او وار هم مکلف نه يې، کولی شې يوه وروسته او بله وړاندي کړې، کومه چي غواړې وروسته ئې کړه او کومه چي غواړې درنژدې ئې کړه؛ او که له وروسته او جلا کړی شوو د کومي يوې خوا ته دروستل وغواړې نو څه ګناه درباندي نشته، ستا د مېرمنو لپاره ستا د مصاحبت شرف او افتخار کافي دئ، په هغه څه چي ته ئې ورسره کوې بايد خوشحاله او راضي وي، نه په وروسته وړاندي کېدو غمجني شي، نه تر دې زيات وغواړي او نه اعتراض وکړي.

• ستاسو ټولو معامله له هغه رب سره ده چي ستاسو د زړونو له حالت او کيفيت خبر دئ او په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې په خپلو زړونو کې ساتئ، خو الله تعالی هغه عليم ذات دئ چي د حلم او صبر خاوند دئ، له خپلو بندګانو سره د خپلو صفاتو له مخي معامله کوي.

• تر دې آخوا تا ته نوري ښځې روا نه دي او نه دا چي په نورو مېرمنو ئې تعويض کړې، داسي چي يوه طلاق کړې او پر ځای ئې بله په نکاح کړې، که څه هم د هغوی ښکلا دي حيران کړي، مګر هغه چي ستا وينځې وي.

• الله تعالی پر هر څه څارونکی دئ، ستاسو حالت څاري.

که څه هم د دې آيتونو په ترڅ کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د خپلو مېرمنو د نوبت او وار په اړه اختيار ورکړی شوی، خو رسول الله صلی الله عليه و سلم تل او د ژوند تر وروستيو شېبو پوري د وار مراعات کړی، دېر ځلي داسي شوي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم غوښتي دي چي ټوله شپه به عبادت تېره کړي، نو د خپل وار له مېرمني ئې د دې اجازه غوښتې ده او هغې ورسره موافقه کړې ده.

که څه هم په دې مبارکو آيتونو کې داسي څه نشته چي دښمنان پرې اعتراض وکړي او دا په حقيقت کې د دښمنانو د هغه اعتراض په ځواب کې راغلي چي له زينب رضی الله عنها

سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم د واده په ارتباط ئې کول خو د دښمنانو دا اعتراض ځواب غواړي چې ولې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په ځانگړې توگه او مسلمانانو ته په عامه توگه تر يوې مېرمنې د زياتو درلودو اجازه ورکړی شوې، آيا دا د عدل او مساوات خلاف پرېکړه نه ده؟

په دې اړه بايد ووايو چې داسې اعتراضات يا له هغه کينه کښ زړه راټوکېدلي چې له الهي اديانو سره کلکه او نه پخلا کېدونکې دښمني لري او يا هغه چې د تعدد زوجات له حکمت او فلسفې بې خبره وي او گمان کوي چې د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چې په دې کار کې نغښتی وو. راشئ وگورو چې د پيغمبر عليه السلام د ودونو حقيقت څنگه وو؟ ولې هغه ته د (نه) ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دليل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کې او د پيغمبر عليه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کې تر سره شوی؟

ټولو ته جوته ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې واده وکړ، خديجه رضی الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري ئې يوازې يوه ښځه درلوده، د خديجې رضی الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضی الله عنها چې کونډه وه په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شپې او کړاوونه ئې وگالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وو، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په پېغلتوب کې کړې. نوري بيبياني ئې کونډې وې، هره يوه ئې د يوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې، شايد د حفصه رضی الله عنها د نکاح څرنگوالی د پاته ودونو د موخو لپاره ښه مثال وي:

حفصه رضی الله عنها د عمر رضی الله عنه لور وه، مخکيني مېړه ئې د بدر په جگړې کې برخه اخيستې وه، هغه وفات شو، عمر رضي الله عنه، ابوبکر او عثمان رضی الله عنهما ته ورغی او له هغوی ئې وغوښتل چې حفصه په نکاح کړي، خو دوی د خپلو معاذيرو په وجه ډډه وکړه، عمر رضی الله عنه دا مشکل له پيغمبر عليه السلام سره ياد کړ او هغه پدې خاطر له حفصې رضی الله عنها سره د نکاح اراده وکړه چې له خپل نژدې او مخلص ملگري سره د يوې داسې ستونزي په حل کې مرسته وکړي چې نورو ورته حل نکړی شوه.

همدا راز زينب بنت خزيمة رضی الله عنها چې مېړه ئې د احد په جگړې کې په شهادت ورسېد، عمر خوړلې کونډه وه، په نېکو کارونو کې هومره مشهوره وه چې خلکو به د (بې وزلو مور) په نامه يادوله، پيغمبر عليه السلام هغه پدې خاطر ځانته نکاح کړه چې له يوې خوا ئې د يوه بدري مجاهد په اړه خپله خواخوږي ښودلې وي او له بلې خوا ئې د يوې داسې نوميالۍ، خيرې او با ايمانه ښځې ستونزه حل کړې وي. دا نېکه بي بي يوازې دوه کاله نور ژوندۍ وه.

همدا راز ام سلمه چې ٦ اولاده ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جگړې کې زخمي شو، د

بلې جګړې په دوران کې د ده زوړ پرهار پرې شو او له همدې کبله وفات شو، پیغمبر علیه السلام د ده په مړینې هومره خواشینی شو چې اوښکې ئې توی شوې، د ده له مړینې ٤ میاشتې وروسته ئې ام سلمی ته څوك د خطبې لپاره ورولېږو، هغې خپل عذر داسې وړاندې کړ: زه عمر خوړلې یم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذیت باعث شم. خو پیغمبر علیه السلام غوښتل پدې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو دیني وروڼو په نسبت د وفادارۍ او د کونډو او یتیمانو د پالنې او روزنې نه هېرېدونکې اسوه وړاندې کړي. ام سلمی ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح تر سره شوه. د پیغمبر علیه السلام ټول ودونه همداسې وو.

په دې ودونو کې یو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چې د پیغمبر علیه السلام د بیبیانو له لارې د دین یوه لویه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونکو حیثیت درلود، نورو ښځو به له دوی دین زده کاوو، که تاسو د روایاتو کتابونه وڅېړئ په څرګنده به وګورئ چې د دې کتابونو په هر مخ کې له همدې بیبیانو یو په بل پسې روایتونه ستاسو مخې ته راځي.

د تعدد زوجات وجه د جنسي قوت زیاتوالی نه ده، بلکې وجه ئې دا ده چې په دې سره د ټولنې یوه لویه ستونزه حل کېږي، د کونډو او یتیمانو د کفالت په موخه خلکو ته تر څلورو ښځو اجازه ورکړی شوې، قرآن په هغه ځای کې د تعدد زوجات یادونه کوي چې د یتیمانو د کفالت موضوع څېړي. همدا وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له یوې پرته نورې ټولې کونډې په نکاح کړې دي. متأسفانه ځینو بې بنسټو روایاتو د دښمنانو لاس ته هغه څه ورکړي چې د اسلام په ضد ترې استفاده وکړي، دوی د دښمنانو تېر ته لاستی برابر کړی چې د اسلام جرړې پرې پرې کړي، زه د داسې روایاتو دوه بېلګې ستاسو په وړاندې ږدم:

عن صفوان بن سليم قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم «أَتَانِي جِبْرِيلُ بِقِدْرٍ فَأَكَلْتُ مِنْهَا فَأُعْطِيتُ قُوَّةُ أَرْبَعِينَ رَجُلًا فِي الْجِمَاعِ». الطبقات الكبرى لابن سعد

له صفوان بن سلیم روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ما ته جبرئیل د پخلي لوښی راوړ، له هغه مې څه وخوړل، په همدې سره د څلوېښتو سړیو برابر د جماع قوت راکړی شو!!

د دې جعلي روایت په اړه باید ووایو:

- دا روایت په هیڅ معتبر کتاب کې؛ د صحاح سته په شمول؛ نه دئ راغلی، یوازې د ابن سعد په الطبقات الكبرى کې راغلی، الباني د دې روایت په اړه لیکلي چې باطل او موضوعي دئ، أتاني جبريل بقدر فأكلت منها فأعطيت قوة أربعين رجلا في الجماع . ( باطل )، قال الشيخ الألباني : (موضوعٌ ) انظر حديث رقم : ٦٣ في ضعيف الجامع
- همدا راز بل محقق حافظ احمد الغماری موضوعي ګڼلی: والحديث موضوعٌ كما قال الحافظ أحمد الغمارى فى المغير (ص ٨) .

په بخاري کې دې ته ورته يو روايت راغلی په دې صيغه:

عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ. قَالَ قُلْتُ لأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ أُعْطِىَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ. وَقَالَ سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ إِنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ تِسْعُ نِسْوَةٍ. **(بخاری:۲۶۸)**

له انس رضی الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به د شپې او يا د ورځي په يوې برخي کي له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځای کېدو؛ او د مېرمنو شمېره ئې يولس او په بل روايت نه (۹) وه، انس رضی الله عنه ته وويل شول: آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم دومره طاقت درلود؟ ده وويل: موږ به سره ويل چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړی شوی.

دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دې شمېرو تکرار شوی: ۲۸۴، ۵۰۶۸، ۵۲۱۵ چي تر منځ ئې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ او په بل کي كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي اللَّيْلَةِ الْوَاحِدَةِ، په يوه کي وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعُ نِسْوَةٍ او په بل کي وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ راغلي. لکه چي ګورئ په دغو رواياتو کي تعارض دئ، يو ئې وايي په شپه او ورځ کي او بل ئې وايي په يوه شپه کي، يو ئې وايي چي يولس مېرمني ئې وې او بل ئې وايي چي نه (۹) وې!!

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب روايت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري؛ او د متن له مخي داسي دئ چي هيڅ وزن او اعتبار نه لري، روايت دوه برخي لري، يوه ئې دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم به د ورځي يا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځينو نورو رواياتو کي هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقيقه خبره دا ده چي کله به ئې مازديګر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس رضی الله عنه ته منسوب دا دوه ويناوي دي: ۱- رسول الله صلی الله عليه و سلم يا نه (۹) يا يولس (۱۱) مېرمني درلودې او ګواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نژدېکت کاوو! ۲- دا ځکه چي موږ به ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د دېرشو کسانو طاقت ورکړی شوی دئ. د دې دواړو خبرو په اړه بايد ووايو چي دا په بشپړه توګه بې بنسټه او د حقيقت خلاف خبري دي، په څو دلائلو:

- راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هيڅ توګه نشي ترې خبرېدی، انس رضی الله عنه څه پوهېدو چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه ترې خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روايت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعيفو او غير ثقه راويانو په جمعي کي نيول شوی وی او هر

هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کېدی چې د ده له لوري روایت شوی.

- په روایاتو کې تعارض دئ؛ او دا د ټولو محدثینو او فقهاءو له لوري منل شوی اصل دئ چې کله د یوې موضوع په اړه متعارض روایات مومو داسې چې تر منځ ئې نه تلفیق ممکن وي او نه داسې دلیل موندلی شو چې یوه ته پر بل ترجیح ورکړو، په قرآن کې کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو روایاتو کې هم د ترجیح وجه پیدا نه کړو نو په کار دا ده چې ټول یوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووایو او نه کوم یو د خپلې سلیقې له مخې غوره کړو.
- روایت کې د شك الفاظ دي؛ یو ځای نه (۹) راغلي او بل ځای یولس (۱۱)، یو ځای یوازې شپه راغلې او بل ځای شپه او ورځ، دا شك د روایت اعتبار له منځه وړي.
- راوي ته داسې خبره منسوب شوې چې د هغه په بې خبرۍ دلالت کوي حال دا چې د داسې بې خبرۍ احتمال نشته، څنګه ومنو چې انس رضی الله عنه نه پوهېدو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په حرم کې څو مېرمنې وې؟!!
- په روایت کې د عقل، درایت او فطرت خلاف خبره راغلې، د انسان جنسي طاقت دومره نه دئ چې په یوه شپه کې یولس ځلې جنسي قربت وکړي، حتی د ځوانۍ په وخت کې، په زړښت کې او له پنځه پنځوس کلنۍ وروسته د دې تصور هم نشي کېدی، په یوه شپه کې یو لس ځلې جنسي قربت او هغه هم له بېلو بېلو مېرمنو سره مستحیل دئ!!
- راوي له دې خبر نه دئ چې په یوه وخت کې د پیغمبر علیه السلام په حرم کې څو مېرمنې وې، په خپله وایي چې نه یا یولس! څوك چې له دې خبر نه وي نو له دې به څنګه خبرېدو چې له خپلو مېرمنو سره د لیدو پر مهال څه تېر شوي، پیغمبر علیه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چې د خپل خلوت خبرې د بل چا په وړاندې وکړي، د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمنې پرته بل هیڅوك نه خبرېږي، د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟
- نه قرآن دا خبره کړې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پیغمبر علیه السلام په خپله دا خبره کړې ده، نو راوي د کوم دلیل له مخې دا ادعاء کړې ده؟
- د دې روایت په دوهمې برخې کې انس رضی الله عنه ته منسوب ویناوې داسې دي چې هیڅ مسلمان باید د هغوی د ویلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقیقت، دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شأن کې جسارت او هتك حرمت دئ، هغه نه پوهېږي چې که دښمنانو ته داسې خبرې په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده ترې کوي؟!! څوك چې دا خبره په خوله راوړي باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه حدیث ئې مخې ته ودرېږي چې وایي: چا چې ما ته داسې څه منسوب کړل چې ما نه وي ویلي د جهنم اور ته دې چمتو شي. داسې خبرې هغه څوك کولی شي چې

د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تعدد زوجاتو له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چي د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چي په دې کار کې نغښتی وو.

زه حیران یم چي موږ څنګه د احادیثو په کتابونو کې داسي بې بنسټه خبري راوړې چي زموږ د ګران او محبوب پیغمبر محمد صلی الله علیه و سلم په اړه داسي ژبه په کې کارول شوې!! په کار خو دا وه چي د دې روایت په وجه ټول هغه کسان بې اعتباره ګڼل شوي وی او نور روایات ئې هم له اعتباره ساقط شمېرل شوي وی چي د دې روایت د اسنادو په لړ کې د هغوی نومونه راغلي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه دا وینا خو څه عادي خبره نه ده، ځوك چي دا روایت ګوري نو د پیغمبر علیه السلام په اړه به ئې تصور دا وي چي هغه خپل زیات وخت، په شپه ورځ کې نژدې نیمايي، له خپلو مېرمنو سره او هغه هم په جنسي تعلق کې تېراوو!! نعوذ بالله من ذلك!!! ما ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه داسي خبري همغسي معلومېږي لکه چي یهودانو د داؤد علیه السلام په اړه وکړې او په محرف تورات کې ئې ولیکل چي هغه نه نوي مېرمني درلودې او سلمه ئې هم وکړه، خو دا د هغه چا مېرمن وه چي یو مخلص جنګیالی وو، داؤد علیه السلام امر وکړ چي هغه د جنګ لومړي خط او خطرناك لوري ته ولېږئ چي ووژل شي او مېرمن ئې دی په نکاح کړي، بایبل د داؤد او بتشبع (د سلیمان علیه السلام مور) تر عنوان لاندي هغه د یوه درووند پیغمبر په توګه نه بلکې (نعوذ بالله) د یوه عیاش پاچا په څېر انځوروي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعٗا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن تُبۡدُواْ شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴿٥٤﴾

اې هغو چي ایمان ئې راوړی! د پیغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چي اجازه درکړی شي، د داسي خوړو لپاره چي پخېدو ته ئې منتظر نه وئ؛ او کله چي وبلل شئ نو ننوځئ او کله چي خواړه وخورئ خواره شئ؛ او نه د خبرو تلوسه کوونکي، یقیناً چي

ستاسو دا کار پيغمبر ځوروي او هغه له تاسو حياء کوي؛ او الله د حق (له ويلو) حياء نه کوي؛ او کله چې له مېرمنو (ئې) څه غواړئ نو د حجاب له آخوا ئې ترې وغواړئ، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ؛ او تاسو ته نه ښايي چې رسول الله وځوروئ او نه ابداً دا (درسره ښايي) چې له ده وروسته د ده مېرمنې په نکاح کړئ، يقيناً چې دا مو د الله په نزد ډېر ستر (بد کار) دئ. که کوم څه ښکاره کړئ يا ئې پټ کړئ نو يقيناً چې الله پر هر څه ښه پوه دئ.

(٥٣-٥٤)- په دې مبارکو آيتونو کې مسلمانانو ته د هغو آدابو لارښوونه شوې چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د کور او کورنۍ په اړه ئې بايد مراعات کړي، ورته ويل شوي:

- د پيغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چې اجازه درکړی شي، که خوړو ته وبلل شئ نو داسې مه کوئ چې له خپل وخت وړاندې ورشئ او د خوړو تر پخېدو منتظر وئ، په خپل وخت ورشئ او له خوړو وروسته خواره شئ، داسې نه چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د خبرو تلوسه هلته ستاسو د زيات پاته کېدو سبب شي، دا کار پيغمبر عليه السلام ځوروي، د ډېرې حياء له کبله تاسو ته څه نه وايي، دا دئ الله تعالی تاسو ته لارښوونه کوي او حق خبره له کومې حياء پرته تاسو ته کوي.
- کله چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له مېرمنو څه غواړئ نو د حجاب له شا ئې ترې غواړئ، د دړې، دروازې، دېوال يا پردې له شا پرې غږ کوئ چې مورې د دې غرض لپاره راغلی يم، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زيات پاکوالي باعث دئ.
- تاسو ته نه ښايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وځوروئ، نه په خپلو زيات ورتلو، نه په خپلو وخت ناوخت پوښتنو، نه په خپلو غيرمؤدبانه حرکاتو او نه د ده د خوښې او مرضې خلاف کړنو سره.
- او دا تر ابده درته جائز نه دي او له تاسو سره نه ښايي چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم وروسته د ده مېرمنې په نکاح کړئ، هغوی ستاسو معنوي ميندې دي، د خپلو ميندو په سترګه ورته ګورئ، د الله تعالی په وړاندې دا ستر قبيح کار دئ چې د خپل پيغمبر او معنوي پلار له هغو مېرمنو سره د نکاح اراده وکړئ چې ستاسو معنوي ميندې دي.
- بايد متوجه وئ چې معامله مو له هغه رب سره ده چې ستاسو په پټو او ښکاره کارونو پوهېږي، نه مو بد خيالات ترې پټ پاته کېږي او نه نېک عزائم.

د دې جامع الهي لارښوونو په اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي:

- دلته د (حجاب) يادونه شوې، حجاب هغه څه ته وايي چې د دوو تر منځ حائل شي او د هغه له کبله يو بل ونه ويني، اطلاق ئې هم په دېوال کېږي، هم په دروازې او دړې او هم په پردې، يوه مشهوره غلطي دا ده چې مونږ حجاب د پړوني او ټکري په معنی نيسو چې دا يوه اشتباه ده، قرآن واړه ټکري ته د خمار لفظ کارولی، د هغه لوی پړوني لپاره ئې د جلباب لفظ غوره کړی چې ټول ځان پرې پټېږي، د مېرمنو پړوني او ټکري ته د حجاب

نوم ورکول او هغې مېرمنې ته چې پېرونۍ ئې پر سر وي د محجبه اصطلاح کارول هم له ادبي پلوه غلطه کارونه ده او هم د قرآني اصطلاحاتو او قاموس له مخې.

- ځيني داسې گمان کوي چې د حجاب دغه آيت د النور د سورې تر نازلېدو وړاندې نازل شوی، حال دا چې خبره د دې عکس ده، په دې اړه د النور په سورې کې تفصيلي بحث شوی، اميد دئ هلته ئې وگورئ، دلته څو وضاحتونه ضروري برېښي: د ښځو د حجاب د څرنگوالي په اړه د فقهاءو تر منځ ژور او جدي اختلاف دئ، دا اختلاف له هغو متعارضو رواياتو راولاړ شوی چې ځيني ئې يو څه او ځيني ئې د هغوی خلاف بل څه وايي، د حجاب او ستر په اړه په دوو سورتونو کې لارښووني شوې؛ يوه همدا د الاحزاب سوره او بله د النور سوره، که ومنو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې نو په دې سره به مونږ هغه روايات بې اعتباره گڼلي وي چې دا سوره ترې وروسته بولي او په هغوی کې د مخ پټولو يادونه شوې؛ او که ئې وروسته وگڼو نو هغه روايات به مو بې اعتباره گڼلي وي چې د دې عکس خبره کوي.

په څو دلائلو ويلی شو چې د النور سوره تر الاحزاب وړاندې نازله شوې:

- له دوو رواياتو پرته نور ټول روايات همدا خبره کوي.
- د النور په سوره کې په عامه توگه ويل شوي چې کورونو ته د ننوتلو په مهال له هستوگنو اجازه وغواړئ او سلام پرې واچوئ او د الاحزاب په سوره کې ويل شوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم کور ته له اجازې پرته مه ننوځئ؛ هغه لارښوونه عامه او دا خاصه ده؛ معمولاً عامه لارښوونه تر خاصې وړاندې وي.
- د الاحزاب په سورې کې ويل شوي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وفات وروسته به د هغه مېرمنې داسې گڼئ لکه خپلې ميندې او له هغوی سره به نکاح نه کوئ. دا لارښوونه ښيي چې د الاحزاب سوره د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت لږ وړاندې نازله شوې، په همداسې وخت کې داسې لارښوونې ته ضرورت وو نه تر دې ډېر وړاندې.

د النور سورې ٥٣ آيت وايي:

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُواْ ۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾

په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې که امر ورته وکړې نو حتماً به د جهاد لپاره ووځي، ووايه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوی اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چې الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ.

له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په هغو کلونو کې نازله شوې چې لا د مسلمانانو او د دوی د دښمنانو تر منځ ډېرې نښتې نه وې شوې او لا د منافقينو

هغه خصلت عملاً نه وو جوت شوی چې د نښتو په وخت کې د مسلمانانو له ملګرتیا او په جګړو کې له برخې اخیستو ډډه کوي؛ له دې معلومېږي چې دا سوره د احزاب له سورې وړاندې نازله شوې.

کوم روایت چې وایي د الاحزاب سوره تر النور وړاندې نازله شوې په هغه کې داسې خبرې تر سترګو کېږي چې د روایت اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، لکه دا چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغه چا په جومات کې او د مسلمانانو په وړاندې شکایت وکړ چې دا افتراء ئې جوړه کړې وه، په ځواب کې ئې سعد بن معاذ رضی الله عنه وویل: یا رسول الله! که دا د اوس له قبیلې وي نو موږ به ئې سر غوڅ کړو او که د خزرج د قبیلې وي نو هغه څه به ورسره کوو چې ته ئې امر وکړې. دا په داسې حال کې چې سعد بن معاذ رضی الله عنه د الاحزاب په غزوې کې ټپي شوی وو او د همدې ټپ له کبله لږ وروسته وفات شو!! که سعد بن معاذ رضی الله عنه دا خبره کړې وي نو معنی ئې دا ده چې دا غزوه تر الاحزاب او د سعد بن معاذ رضی الله عنه تر وفات وړاندې وه. د دې اختلاف او د دې روایاتو تفصیل د سورې په تفسیر کې وګورئ.

ځیني د ابن شهاب الزهري په هغه روایت استناد کوي چې د افك د قضیې په ارتباط راغلی او په هغه کې عائشې رضی الله عنها ته دا وینا منسوب شوې چې د حجاب آیت نازل شوی وو نو ځکه ما خپل مخ په ټکري پټ کړ. د دې روایت په اړه څو پوښتنې شوې چې هیچا ئې ځواب نه دئ ویلی: د الاحزاب سوره او په هغې کې د حجاب آیت د بني المصطلق له غزوې او د افك له پېښې وړاندې نازله شوې که وروسته؟ که وایي چې وروسته نازله شوې نو د روایت دا برخه ردوي چې د حجاب حکم د بني المصطلق له غزوې مخکې راغلی وو او که وایي چې وړاندې نازله شوې نو په دې سره د روایت هغه برخه ردوي چې د سعد بن معاذ رضی الله عنه او په جومات کې د هغه د وینا یادونه کوي ځکه سعد بن معاذ رضی الله عنه د احزاب په غزوې کې ټپي شوی او لږ وروسته له همدې ټپ وفات شوی!! همدا راز عائشې رضی الله عنها ته دا وینا منسوبول چې د حجاب آیت ته په پام سره ئې خپل مخ پټ کړی، صحیح انتساب نه دئ، ځکه د حجاب د آیت موضوع د مخ پټول نه بلکې له امهات المؤمنین د پردې له شا څه غوښتل دي، که په ټکري سره د مخ پټولو یادونه ئې کړې وی نو د احزاب د سورې ۵۹ آیت ته به ئې اشاره کوله چې وایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ۵۹ : اې پیغمبره! خپلو مېرمنو؛ او خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چې خپل پېروني ورباندې راتاو کړي، همدا دې ته نژدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ.

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ

وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾

پر دوی نه د خپلو پلرونو په اړه څه ګناه شته، نه د خپلو ورونو، نه د خپلو وریرونو، نه د خپلو خوريیو، نه د خپلوانو ښځو؛ او نه د وینځو په اړه؛ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ.

(۵۵)- په دې مبارك آیت کې دغه کسان له مخکیني حکم مستثنی شوي او پر دې مکلف نه دي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو سره به د حجاب له شا خبرې کوي: د دوی پلرونه، ورونه، وریرونه، خوریې، خپلواني ښځې او وینځې.

د آیت د پای دا فقرې چې وايي: له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله پر هر څه شاهد دئ؛ ښيي چې دا آیت له مخکیني سره تړلی دئ او دا فقرې د مخکینیو مطالبو په ارتباط راغلې دي.

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾

یقیناً چې الله او فرشتې ئې پر پیغمبر درود لېږي، اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر هغه درود لېږئ او ځانګړی سلام پرې وایئ.

(۵٦)- په دې مبارك آیت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم به درود او سلام لېږي، همغسې لکه چې الله تعالی او فرشتې ئې پر هغه درود لېږي. باید متوجه وو چې د درود او سلام لېږلو معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ستاینو وړ شخصیت او له عیبونو او اعتراض وړ نیمګړتیاوو لوړ انسان وګڼو، په دې باور وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له فکري، اخلاقي او عملي پلوه دومره ستر او لوړ شخصیت دئ چې الله تعالی او فرشتې پرې درود وايي، هغه شخصیت چې د لوړوالي تر ټولو لوړې څوکې ته رسېدلی وو، هغې څوکې ته چې تر دې وړاندې د هیڅ انسان وزرونه د الوت توان نه لري. دا سلام او درود یوازې د خولې دوه الفاظ نه دي، باید ستا د زړه او دماغ هغه شعور او احساس منعکس کړي چې ته ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لوړ او ستر شخصیت په اړه لرې. ځوك چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لوړ شخصیت په اړه خبرې کوي او هغه د الله تعالی د یوه غوره استازي په توګه ستايي که د خپلې وینا په دوران کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نوم خوا ته احیاناً دا الفاظ تکرار نه کړي څه حرج په کې نشته خو ځوك چې له دغه شعور او احساس پرته دا الفاظ تکراروي هیڅ ګټه

ورته نه لري. دې ته مو بايد پام وي چي دا آيت د هغه مضمون په لړ کي راغلی چي مسلمانانو ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کور او کورنۍ په اړه د خاص ادب ښوونه کوي. ښايي له ځينو سره به دا پوښتنه راولاړه شي چي په قرآن کي خو دا الفاظ نه مومو چي الله تعالی پر رسول الله صلى الله عليه و سلم درود او سلام لېږلی وي، همغه الفاظ چي موږ ئې وايو صلى الله عليه وسلم، نو د دې آيت معنی څه ده (إن الله و ملائکته يصلون على النبي)، د دې پوښتني ځواب دا دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ستاينه او توصيف او د يوه امين او صادق نبي په توګه د هغه معرفي پر نبي عليه السلام د درود لېږلو په معنی دي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿٥٨﴾

يقيناً هغه چي الله او د ده رسول (په خپلو غلطو خبرو سره) ځوروي الله په دنيا او آخرت کي پر دوی لعنت کړی او سپکوونکی عذاب ئې ورته تيار کړی. او هغه چي مؤمنان او مؤمناني له دې پرته ځوروي چي څه (غلط کارونه) ئې کړي وي نو يقيناً چي د بهتان او ښکاره ګناه (پېټی) ئې پر شا کړی.

(٥٧-٥٨)- دا مبارك آيت هغه کسان په دنيا او آخرت کي د الهي لعنت او سپکوونکي عذاب وړ ګڼي چي په خپلو غلطو خبرو سره الله تعالی او د ده رسول ځوروي؛ او هغه چي د مؤمنانو په ضد غلط تبليغات کوي هغوی به په داسي حال کي د الله تعالی د سختي محاسبې په وړاندي ودرېږي چي د دې د بهتان او ښکاره ګناه پېټی به ئې پر شا وي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٩﴾ لَّئِن لَّمۡ يَنتَهِ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡمُرۡجِفُونَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لَنُغۡرِيَنَّكَ بِهِمۡ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٦٠﴾ مَّلۡعُونِينَۖ أَيۡنَمَا ثُقِفُوٓاْ أُخِذُواْ وَقُتِّلُواْ تَقۡتِيلٗا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٦٢﴾

اې نبي! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايه چي خپل پړوني پر خپلو

ځانونو راتاو کړي، همدا دې ته نژدې ده چې وپېژندی شي او ونه ځورول شي؛ او الله مهربان بخښونکی دئ. که منافقين او هغه چي په زړونو کې ئې بېماري ده او د مدينې مرجفين ډډه ونه کړي حتماً به تا پرې برلاسی کړو چي بيا به دلته ستا مجاورت ونه کړي مگر لږ شانتي، لعنت کړی شوي، چي چېري وموندی شي ونيول شي او په ځانگړي وژلو سره ووژل شي. دا د الله هغه سنت دئ چي په مخکينيو کې تېر شوی او هيڅکله به د الله سنت ته تغيير او بدلون ونه مومې.

(٥٩-٦٢)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چي:
• خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووايي: خپل پړوني درباندې راتاو کړئ، په دې سره به وپېژندی شئ او د مفسدينو له ځورونو به وساتل شئ. يعني ستاسو جلباب او پړونی نورو ته دا پيغام لېږي چي تاسو عفيفې، پاك لمنې او متقي مېرمنې يئ، همدا پړونی به تاسو د هغو مفسدينو له ځورونو خوندي ساتي چي په کوڅه او بازار کې د بدلمنو مېرمنو په لټه کې وي.
• که منافقين او هغه چي په زړونو کې ئې بېماري ده او د مدينې مرجفين چي گنده او چټې خبرې خوروي، د مسلمانانو په ضد تبليغات کوي، عفيفې مېرمنې ځوروي، تورونه پرې لگوي، له دغو گنده کارونو لاس وانه خلي، نو تا ته به دا اجازه او امکان درکړو چي دوی مهار کړې، په مدينې کې اوسېدا ورته گرانه کړې، داسې حالت راپيدا کړې چي په مدينه کې له هر لوري ورټل شي، ونيول شي او ووژل شي، د داسې مفسدينو په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکی سنت همدا دئ، تر دې وړاندې همداسې شوي، بيا به همداسې کېږي، هيڅکله به د الله سنت ته تغيير او بدلون ونه مومې.
دلته د څو خبرو وضاحت ضروري برېښي:
• ځينو د آيت د دې فقرې د صحيح تعبير په اړه اشتباه کړې چي وايي: ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ، دوی داسې ژباړلې: دا دې ته نژدې ده چي ونه پېژندل شي نو اذيت نه کړی شي!! دوی تر يعرفن وړاندې (لا) مقدر گڼې او (لايعرفن: ونه پېژندل شي) ترې جوړوي، د دې بې ځايه او جسورانه تصرف وجه دا ده چي دوی د مخ پټول د ستر برخه گڼې او گمان کوي چي په جلباب سره مخ هم پټېږي، نو ځکه مېرمنې نه پېژندل کېږي!! متأسفانه دا يوه ستونزه ده چي ځيني د قرآن په آيتونو کې د تصرف جسارت هم کوي، کله څه پرې زياتوي او کله څه ترې کموي، کله وايي دلته لا يا بل توری مقدر دئ او کله وايي دلته لا يا بل توری زائد دئ!! خو څوك چي پر قرآن ايمان لري وايي: په قرآن کې نه زائد شته او نه کم، همداسې لکه چي په دې آيت کې (لا) مقدر گڼل او له (يعرفن) (لايعرفن) جوړول ستره غلطي ده همداسې په نورو مواردو کې هم د دوی تصرف غلط دئ.
• ځيني ادعاء کوي چي اوس د فتنو وخت دئ، زمانه خرابه شوې، فساد زيات شوی، هغه حالت نه دئ چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کې وو نو ځکه په کار ده

ښځې جومات ته له تلو منع شي او په ستر کې مخ هم شامل کړی شي!! په دې اړه څو عرائض لرو:

- له فساد او فتنو د ښځو د مخنیوي لار دا ده چې هغوی جومات ته راشي او وعظ واوري.
- څوك چې وايي د پيغمبر عليه السلام په وخت کې تر نن فتنې لږې وې، دغه آيت د دوی د غلطي ادعاء د رد لپاره کافي دئ، دا آيت وايي چې منافقينو، مرجفينو او مفسدينو به هغه عفيفي مېرمني ځورولې چې جومات ته به تلې يا د بل غرض لپاره به له کوره وتلې، دا ادعاء يوازي هغه څوك کولی شي چې له حقائقو بې خبر وي، په مدينه کې ښځې هغه مهال جومات ته تللې چې محدود شمېر کسانو ايمان راوړی وو، دا دئ قرآن وايي چې ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځې ځورولې چې جومات ته به تللې، الله تعالی د دغو مفسدينو له امله ښځې جومات ته له تلو منع نه کړې بلکې امر ئې ورته وکړ چې له جلباب سره جومات ته ولاړې شي.
- که مخ په ستر کې شامل وی نو شريعت به مېرمني هرومرو په دې گمارلې وې چې د حج په موسم کې مخ پټ وساتي، آيا څوك دا حق لري چې ووايي: اوس د فتنې دور دئ نو ښځې دې حج نه کوي، يا د حج په دوران کې دې مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جومات ئې څنگه منع کوو؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شپېو او په خپلو وروستنيو خطبو کې فرمايلي: که ستاسو ښځې غواړي چې په جومات کې لمونځ وکړي نو مخنيوی ئې مه کوئ!!!
- دا آيت ښيي چې حجاب بېل شی دئ او جلباب بېل، که جلباب او حجاب سره ورته وی نو بيا ئې تکرار ته ضرورت نه وو، په همغه مخکيني آيت به اکتفاء شوې وه. اميد دئ د حجاب او ستر په اړه تفصيلي بحث د النور سورې د ۳۰ آيت په تفسير کې وگورئ.

---

يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾

خلك د قيامت په اړه تا پوښتي، ووايه: علم ئې يوازي له الله سره دئ؛ او څه شي خبر کړی يې ښايي دا نېټه به نژدې وي؟!

---

(٦٣)- دلته د منکرينو هغه تکراري پوښتنه يو ځل بيا راغلې چې د قيامت د ټاکلې نېټې په اړه ئې کوي او وايي: که د قيامت د راتلو خبره رښتيا وي ولې تر اوسه رانه غی؟ کله به راځي؟ هر پيغمبر راغلی او د قيامت خبره ئې کړې خو تر اوسه رانه غی، دوی د قيامت په راتلو کې ځنډ د نه راتلو دليل گڼي!! د دوی په ځواب کې ويل شوي: د قيامت د ټاکلې نېټې علم له الله تعالی سره دئ، له ده پرته هيڅوك نه پرې پوهېږي، ولې ئې بعيد او محال گڼئ، ښايي هغه به ستاسو د وهم او تخمين خلاف ډېر نژدې وي.

دا پوښتنه راولاړېږي چې د دې آیت ارتباط له مخکینیو سره څنګه دئ او ولې د مخکینۍ موضوع په ضمن کې د قیامت یادونه شوې؟ د دې پوښتنې ځواب دا دئ چې له قیامت او الهي محاسبې انکار د ټولو ګناهونو بنسټ دئ، پر آخرت عدم باور او له الهي محاسبې انکار انسان ته دا جسارت ورکوي چې ګناه وکړي او په فساد لاس پورې کړي، که منافقین، بېمارزړي او مرجفین پاکلمني مېرمني ځوروي، د مسلمانانو په ضد تبلیغات کوي او تهمتونه پرې لګوي وجه ئې دا ده چې دوی د قیامت په اړه شکمن دي. د دوی دغې اساسي ستونزې ته په پام سره په دې آیت کې ویل شوي چې دا خلك د قیامت په اړه تا پوښتي، ووایه: علم ئې یوازې له الله سره دئ؛ او څه شي خبر کړی یې ښایي دا نېټه به نژدې وي؟!

إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ٦٤ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ٦٥ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ٦٦ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ٦٧ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا كَبِيرٗا ٦٨

یقیناً چې الله کافران لعنت کړي او لمبه ناك اور ئې ورته تیار کړی. تر ابده په هغه کې تلپاتي، نه به کوم مولا موندی شي او نه کوم مرستندوی. هغه ورځ چې مخونه به ئې په اور کې (یوه او بل لوري ته) اوړول کېږي؛ په داسي حال کې چې وایي به: ای کاش د الله او د رسول اطاعت مو کړی وی؛ او وایي به: اې زموږ ربه! یقیناً چې موږ د خپلو سالارانو او لویانو اطاعت وکړ چې له (سمې) لارې ئې منحرف کړو، اې زموږ ربه! دوه برابره عذاب ورکړه او په سترې رټنې سره ئې ورټه.

(٦٤-٦٥)- هغه کافران چې په قیامت باور نه لري او د همدې عدم باور له کبله ئې له مسلمانانو سره د دښمنۍ او عداوت لار غوره کړې، د دوی په ضد تبلیغات کوي او پاك لمني ئې تورنوي سزا ئې دا ده: الهي لعنت، د دوزخ لمبه ناك اور، په دې اور کې د تل لپاره پاته کېدا، نه په دنیا کې له الهي عذاب د نجات لپاره کوم مولا او مرستندوی موندی شي او نه په آخرت کې. په هغې ورځ کې چې مخونه به ئې په اور کې یوه او بل لوري ته اوړول کېږي؛ هغه مهال به په خپل کفر او نفاق نادم وي او وایي به: ای کاش د الله او د هغه د رسول اطاعت مو کړی وی، پر خپلو ګناهونو او اشتباهاتو به اعتراف کوي او وایي به: اې زموږ ربه! یقیناً چې موږ د خپلو سالارانو او لویانو اطاعت وکړ چې له سمې لارې ئې منحرف کړو، هغه مهال به خپلو مشرانو ته دوه برابره عذاب غواړي، هم د خپلو ګناهونو سزا او هم د دوی د بې لارې کولو سزا، وایي به: اې زموږ ربه! دوه برابره عذاب ورکړه او په سترې رټنې

سره ئې ورته.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د هغو وګړو په څېر مه کېږئ چې موسی ئې وځوراوو او الله له هغه څه برائت ورکړ چې دوی ويل او د الله په وړاندې مخور وو.

(٦٩)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې د هغو يهودانو په څېر نشي چې خپل ګران پيغمبر موسی عليه السلام ئې په خپلو ناروا او دروغجنو تورونو سره وځوراوو او الله تعالی هغه تورونه شنډ کړل او موسی عليه السلام ته ئې برائت ورکړ. هغه د الله تعالی په وړاندې مخور او د عزت خاوند وو او دښمنان ونه توانېدل چې په خپلو غلطو او دروغجنو تبليغاتو او تورونو سره د ده عزت او اعتبار ته صدمه ورسوي.

له دې مبارك آيت څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

• پر موسی عليه السلام د يهودانو له لوري داسې تور وارد شوی وو چې د منافقينو له لوري پر رسول الله صلی الله عليه و سلم وارد شوی، په دې مبارکې سورې کې مورې ته هغه تور څرګند شوی چې د دښمنانو له لوري پر رسول الله صلی الله عليه و سلم وارد شوی، دا همغه تور دئ چې د زينب رضی الله عنها د نکاح په اړه لګېدلی او په دې سورې کې د هغه د ترديد او تکذيب په ارتباط جامع او مفصل بحث شوی. خو بايد وګورو چې آيا پر موسی عليه السلام دې ته ورته تور لګېدلی که بل ډول تور؟ د دې آيت له فحوی په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا تور به حتماً دې ته ورته وو، په دې اړه دوه روايات زموږ مخې ته راځي يو دا چې وايي يهودانو د موسی عليه السلام په اړه ويل چې دی ځکه له نورو سره يو ځای او بربنډ غسل نه کوي او د نورو له نظره پټ دا کار کوي چې په ځان کې څه عيب لري يا پر پوستکي ئې سپين داغونه دي او ګواکې الله تعالی داسې شرائط برابر کړل چې موسی عليه السلام د خلکو په وړاندې بربنډ او لوڅ څرګند شي او په دې توګه دا تور ترديد شي!! روايت داسې دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، فَقَالُوا وَالله مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ، فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي يَا حَجَرُ. حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَالله مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ. وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا". فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَالله إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ

أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ. (بخارى:٢٧٨)

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: (بني اسرائيلو به لوڅ غسل كاوو، يوه به بل ته كتل؛ او موسى (عليه السلام) به يوازي غسل كاوو، بني اسرائيلو ويل: قسم په خدای چي موسى (عليه السلام) ځکه له موږ سره غسل نه کوي چي هغه د خصيو رنځ لري (خصيې ئې پړسېدلې)، نو يو ځل موسى (عليه السلام) لاړ چي غسل وکړي، خپلي جامې ئې پر يوې تيږي کېښودې، تيږي ئې جامې ترې وتښتولې، موسى (عليه السلام) ورپسې ووت، ويل ئې: اې تيږې! زما جامې، اې تيږې! زما جامې، تر هغه چي بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته وکتل نو وئې ويل: قسم په خدای چي موسى (عليه السلام) خو هيڅ مرض نه لري، نو خپلي جامې ئې واخستلې او پر تيږي ئې د گوزارونو كول پيل کړل، ابوهريرة رضی الله عنه وايي: په خدای قسم چي پر هغه تيږي د شپږو يا اوو گوزارونو نښې موجودي دي.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دې شمېرو راغلی ٣٤٠٤، ٤٧٩٩؛ د سند له مخي دومره کمزوری دئ چي په څلورو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري!! يعني تر اغرب هم اوښتی دئ. او د متن له پلوه داسي دئ چي له نورو سره په ډېرو مواردو کي ژور توپيرونه لري، په دوی کي دا توپيرونه تر سترگو کېږي: په يوه کي راغلي كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ په نورو کي دا خبره نشته، په يوه کي إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا سِتِّيرًا، لاَ يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ، اسْتِحْيَاءً مِنْهُ، په بل کي وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، په بل کي وَإِنَّ الله أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ مِمَّا قَالُوا لِمُوسَى فَخَلاَ يَوْمًا وَحْدَهُ، په يوه کي فَقَالُوا وَالله مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، په بل کي فَقَالُوا مَا يَسْتَتِرُ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلاَّ مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ، إِمَّا بَرَصٌ وَإِمَّا أُدْرَةٌ وَإِمَّا آفَةٌ، په يوه کي فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي يَا حَجَرُ، په بل کي فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، په بل کي، وَإِنَّ الْحَجَرَ عَدَا بِثَوْبِهِ، فَأَخَذَ مُوسَى عَصَاهُ وَطَلَبَ الْحَجَرَ، فَجَعَلَ يَقُولُ ثَوْبِي حَجَرُ، ثَوْبِي حَجَرُ، په يوه کي حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلاَءٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ الله، وَأَبْرَأَهُ مِمَّا يَقُولُونَ، په بل کي حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَالله مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ، په يوه کي وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا، په يوه کي وَالله إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ، په بل کي فَوَالله إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلاَثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا، په يوه کي يوازي دا راغلي "إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا، وَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ الله مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ الله وَجِيهًا او ځيني نور توپيرونه، د دې متعارضو رواياتو له مخي څوك دا نشي ويلی چي بني اسرائيلو موسى عليه السلام په څه تورن کړی، په دې چي د برص په مرض اخته دئ، که پر پوستکي ئې کوم داغ دئ، که د خصيو مرض لري، که کوم بل آفت؟ دا نشي ويلی چي پر هغه تيږي څو نښي دي: درې، څلور، پنځه، شپږ که اوه؟ دا تيره چېري ده؟ له دې علاوه که تاسو دغه آيت ته چي د دې روايت په ضمن کي راغلی او

ويل شوي چي گواکي د آيت مطلب او تفسير همدا دئ لږ ځير شئ نو درته جوته به شي چي دا تعبير په بشپړه توگه ناسم دئ، كه تاسو دا آيت په خپل ځای کي او له مخكينيو او وروستنيو آيتونو سره يو ځای وڅېړئ نو په آساني به درته جوته شي چي د دې آيت معنی قطعاً دا نه ده چي په دغه روايت کي ئې ادعاء شوې. له دې آيت وروسته راغلي: اې مؤمنانو له الله ووېرېږئ او سمه خبره کوئ، دا آيت د احزاب د سورې په هغې برخې کي راغلی چي په سر کي ئې د هغو كسانو سزا بيان شوې چي الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان اذيت کوي، بيا پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خپلو مېرمنو، لوڼو او د مسلمانانو مېرمنو ته ووايه چي له جلباب سره ووځي، بيا منافقين، مرجفين او بيمار زړي په دې گواښل شوي چي كه له خپلو عملونو لاس وانه خلي له بدو پايلو سره به مخامخ شي، دوی به مسلماني مېرمني ځورولې، غلط تبليغات به ئې كول او رنگ رنگ افواهات به ئې خورول، دا آيت د همدې لړۍ يوه برخه ده؛ او معنی ئې دا ده چي پام کوئ له خپل پيغمبر سره هغه كار ونه کړئ چي بني اسرائيلو له موسی عليه السلام سره وكړ، دا چي په مسلمانانو کي ځينو كسانو له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره څه کړي چي دا آيت د هغوی په اړه نازل شوی؟ كه په قرآن کي ئې ولټوو نو ځواب ئې مونډلی شو، قرآن دوو هغو تورونو ته اشاره کوي چي منافقينو پيغمبر عليه السلام پرې تورن کړی: يو د عائشې رضی الله عنها په اړه تور او بل د زيد رضی الله عنه د هغې مېرمني په اړه تور چي طلاق ئې وركړ او بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه په نكاح کړه، له دې معلومېږي چي د موسی عليه السلام په اړه دې ته ورته كوم تور لگېدلی او الله تعالی هغه ته برائت وركړی، په موسی عليه السلام باندي دوه ستر ستر تورونه لگېدلي: يو دا چي هارون عليه السلام ئې وژلی او بل دا چي منافقينو يوه مېرمن دې ته چمتو کړې وه چي پر موسی عليه السلام باندي د زنا تور ولگوي، خو دې مېرمني اعتراف وكړ چي دا خبره دروغ ده. له دغو دواړو تورونو دا وروستنی ئې له هغه تور سره ورته دئ چي د زيد رضی الله عنه د مطلقه مېرمني زينب رضی الله عنها په اړه پر رسول الله صلی الله عليه و سلم لگېدلی. نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چي پر موسی عليه السلام لگېدلی تور دغسي وو نه هغسي چي په دې روايت کي راغلی.

د څو دلائلو له مخي په قطعي توگه ويلی شو چي دا روايت د اعتبار وړ نه دئ:

- له قرآن سره قطعاً اړخ نه لگوي.
- ډېره بعيده ده چي الله تعالی دې خپل درونډ او مخور پيغمبر د دښمنانو په وړاندي لوڅ او بربنډ وښيي او هغه دې سپك كړي.
- نه دا عقل مني چي ډبري دې د موسی عليه السلام جامې تښتولې وي، نه دا چي موسی عليه السلام د خلكو په وړاندي بربنډ ظاهر شوی، نه دا چي موسی عليه السلام دې ډبري ته گوزارونه وركړي وي او د گوزارونو نښې دې د ابوهريره رضی الله عنه تر ژوند پوري پر ډبري پاتې شوې وي، كه داسي وی نو بني اسرائيلو به دا ډبره د موسی عليه السلام له عصاء

او من او سلوی سره یو ځای په صندوق کې ساتلې وه او په قرآن کې به هرومرو د دې ستري معجزې یادونه شوې وه. لږ تر لږه په بایبل کې به د دې پېښې یادونه شوې وه.

- په صحابه وو کې به د ابوهریره رضی الله عنه تر څنګ ډېرو نورو صحابه وو هم دا خبره کړې وه، ولې دا خبره یوازې ابوهریره ته منسوب شوې او په څنګ کې ئې بل راوي نشته؟!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله پروا وکړئ او په صفا او سمې وینا سره وینا کوئ، چې په دې سره به ستاسو عملونه درته اصلاح کړي او ګناهونه به مو درته وبخښي؛ او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ نو یقیناً چې په ستري بریا سره بریالی شو.

(٧٠٧١)- دلته مؤمنانو ته لارښوونې شوې چې د الله تعالی پروا وکړئ او په صفا او سمې وینا سره وینا کوئ، د دې دواړو په سبب به الله تعالی د دوی عملونه اصلاح کړي او ګناهونه به ئې ورته وبخښي، د دې معنی دا ده چې د عملونو د اصلاح او د ګناهونو د بخښنې اساسي او بنیادي اسباب دوه دي: (تقوی) او (سمه وینا)، عدم تقوی او غلطه وینا د بدو عملونو جرړه او له الهي مغفرت د محرومیت سبب دئ؛ او حقیقي بریا هغه څوك تر لاسه کولی شي چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړي.

إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمَۢا ﴿٧٣﴾

یقیناً چې موږ دا امانت آسمانونو، ځمکې او غرونو ته وړاندې کړ خو هغوی له دې ډېره وکړه چې حمل ئې کړي (په غاړه ئې واخلي او قبول ئې کړي) او (له ستروالي او عظمت ئې) ووېرېدل او انسان حمل کړ، (دا امانت ئې په غاړه واخیست) یقیناً چې هغه ډېر ظالم او ډېر نا پوه او جاهل وو. د دې لپاره چې منافقین او منافقانې، مشرکین او مشرکانې تعذیب کړي او پر نارینه او ښځینه مؤمنانو (په خپل رحمت سره) رجوع وکړي (د دوی توبه قبوله کړي)؛ او یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(٧٢-٧٣)- دا مبارك آیتونه چې په حقیقت کې یو آیت دئ او د دې سورې جامع تتمه او

خلاصه زموږ په وړاندي ږدي څو اساسي مطالب افاده کوي:

د آيت په لومړۍ برخي کې الهي کتاب د امانت په نامه ياد شوی او ويل شوي چي دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي شو خو هغوی ئې له قبلولو ډډه وکړه، بايد وګورو چي د دې معنی څه ده؟ آيا معنی ئې دا ده چي دوی د الله تعالی له حکمه سرغړاوی وکړ؟ او که دا چي دوی داسي لارښود کتاب ته ضرورت نه درلود؟ آيا معنی ئې انکاري اجتناب دئ که په فطري توګه او د عدم ضرورت او عدم اهليت له کبله اجتناب؟ دې پوښتني ته قرآن په خپله ځواب وايي، د قرآن نور آيتونه موږ ته دا حقيقت بيانوي چي د آسمانونو او زمکي هر څه ته په فطري توګه لارښوونه شوې، هر څه همغه کار کوي چي الله تعالی پرې ګمارلی، د زمکي او آسمانونو هر څه طوعاً او کرهاً الله تعالی ته منقاد دي او د هغه اوامرو ته غاړه ږدي، د دغو آيتونو په رڼا کې وايو چي د آسمانونو، زمکي او غرونو ډډه کول هيڅکله د الله تعالی له امره د سرغړاوي، عصيان او عدم اطاعت په معنی نه ده، ځکه قرآن فرمايي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ آل عمران

آيا (دا کافران) د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه طوعاً اوکرهاً ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ايښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

يعني د زمکي او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چي الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چي الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، وني، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګيا دي، په ټولو مخلوقاتو کې يوازي کافر او عاصي انسان دئ چي د الله له دين پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چي د زمکي او د آسمان د هر څه دين دئ.

له دې آيتونو په څرګنده معلومېږي چي د زمکي، آسمانونو او غرونو د اجتناب او اعراض مفهوم دا نه دئ چي ګواکې د الله له امره ئې عصيان او سرغړونه کړې، د قرآن عظيم الشأن د نورو آيتونو په رڼا کې معلومېږي چي الله جل شأنه د زمکي او د آسمانونو هر څه ته د هغوی د فطرت او طبيعت سره سم وحي کړې، هر يوه ته ئې خپله خپله لار ښودلې، هغوی خپل مسير پېژني، په کوم څه چي ګمارل شوي او کومه وظيفه چي ورکړی شوې هغه تر سره کوي، د کوم هدف لپاره چي پيدا شوي د هغه د تحقق هڅه کوي، نو د دې لپاره چي دوی ته بېله وحي شوې، خپله لار ئې پېژندلې، په رڼا کې خوځېږي، په خپل مسير پوهېږي او له بلي خوا دا انسان ته لېږل شوی امانت، د دغو شيانو له طبيعت سره متناسب نه وو، په دې

خاطر هغوی د دې له منلو اجتناب وکړ، دا داسې وګڼئ لکه د چا چې موټر ځراغونه ولري، خو په دې خاطر چې رڼا او ورځ وي د موټر د ځراغونو له بلولو اجتناب کوي، په رڼا کې ځوك ځراغ نه بلوي، د دغو شيانو اجتناب هم دغسې وګڼئ، دوی په رڼا کې دي، هغوی ته وحي شوې، هغوی خپله لار پېژني، بلې رڼا ته ضرورت نه لري، دا د هغوی له طبيعت او فطرت سره جوړښت نه خوري او د دوی لپاره مناسب نه دئ، له دې امله له هغه ډډه کوي، خو په دې مبارك آيت کې دې ته هم اشاره شوې چې د دې امانت، عظمت، لوړوالی او ستروالی دومره دئ چې حتی آسمانونو، زمکې او غرونو هم د هغه له حملولو وېره وکړه، دا دومره ستر امانت دئ چې هغوی د ده له حمل ځان عاجز وګڼلو، خو همدا امانت انسان حمل کړ.

د دې آيت د وروستۍ برخې په اړه د مفسرينو تر منځ ډېر اختلاف رأی ليدل کېږي، په دې کې دومره مختلف آراء وړاندې شوې چې انسان په حيرت کې اچوي او کله کله خو همدا متعدد او مختلف آراء هر ابتدائي لوستونکی په شك او تشويش کې غورځوي او حقيقت پرې مغشوشوي، خو د دې ساده او بسيط مطلب دا دی: وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا: او انسان حمل کړ (له دې کبله چې) يقيناً هغه ډېر ظالم او ډېر جاهل او ناپوه وو.

يعني په آسمانونو او زمکې کې يوازې انسان داسې ځوك وو چې د (ظلم) او (جهل) له تيارې دنيا د وتلو لپاره ئې دغسې يوې رڼا ته ضرورت وو، هغه له دې پرته په خپلو قضاوتونو کې (ډېر ظالم) او د ځان او جهان په پېژندو کې (ډېر جاهل) وو، يوه (معيار او ملاك) او يوه (ځراغ او رڼا) ته اړ وو، ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ.

د دې لپاره چې انسان په خپل قضاوت او له نورو سره په خپل چلن او معاملې کې له ظلم او تېرې ځان وژغوري، د عدل يوه ملاك او معيار ته ئې ضرورت درلود، د همدې لپاره ئې دا کتاب قبول کړ، له انسان پرته نور مخلوقات له دې بې نياز ول، هر يوه ته بېله بېله لارښوونه شوې، خو انسان د عدل لپاره يوه معيار ته اړ او محتاج وو، غوښتل ئې داسې ملاك او معيار تر لاسه کړي چې (عدل) له (ظلم) تفکيك کړی شي، د دې لپاره چې له ظلم وژغورل شي يوې تلې، معيار او ملاك ته محتاج وو، نو ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ، همدا راز هغه ډېر ناپوه او جهول وو، نه ئې ځان پېژندلی شو او نه دا عالم، هر څه ورته مجهول وو، نور او رڼا ته محتاج وو، هغه څه ته ئې ضرورت درلود چې ده ته خپل ځان او دا عالم او کائنات وروپېژني، هغه دا الهي امانت د دې لپاره قبول کړ چې هغه د ناپوهۍ په تيارو کې وو، يوه داسې روڼ ځراغ ته اړ وو چې له تيارو ئې وباسي، نو ځکه ئې دا امانت حمل کړ، خو آسمانونو، زمکې او غرونو د دې لپاره حمل نه کړ چې هغوی خپله لاره پېژندله، هغوی ته خپل خپل مسير ټاکل شوی، هغوی ته د خپل طبيعت او فطرت سره سم وحي او لارښوونه شوې.

حقيقت دا دئ چې انسان نشي کولی يوازې د خپل عقل په مرسته او د تجربو له لارې ټول مفيد او مضر شيان تشخيص کړي او د ژوند داسې تګلاره ځان ته غوره کړي چې د ده

له فطرت سره ښايي، دې هدف ته د رسېدو لپاره يوازې په خپل عقل، شعور، پوهې او تجربې اکتفاء نشي کولی، داسې تګلاره يوازې په هغه صورت کې ځان ته ټاکلی شي چې د خپل ځان او د دې پراخ عالم په اړه بشپړ او کامل علم ولري، که څوك وغواړي د انساني ژوند د ښه تنظيم لپاره قوانين وضع کړي او داسې ژوند ته د رسېدو لپاره ده ته تګلاره وټاکي، هغه بايد په دغو دواړو برخو کې بشپړ او کامل علم ولري، د انسان لپاره د تګلارې ټاکل په دغو دواړو برخو کې داسې بشپړې پوهې او علم ته ضرورت لري چې په رڼا کې ئې هم د انسان د فطري جوړښت او د هغه د نفس ټول مادي او معنوي ابعاد تشخيص کړی شي او هم د دې پراخ او پېچلي عالم له ټولو اجزاوو سره د ده د اړيکو څرنګوالی وروښيي، سره له دې چې انسان د عالم د پېژندو په اړه ډېر پرمختګ کړی، د پرون ورځې ډېرې مجهولې برخې نن ورته ښرګندې شوې، خو دا علم ئې له ضروري حده ډېر محدود او ناقص دئ او د دې لپاره قطعاً کافي نه دئ چې ده ته د يوه صالح او سالم ژوند صحيح لار وروښيي، هغه الهي لارښوونو ته اړ دئ او له دې پرته بله چاره نه لري. انسان ته د خپل نفس يوازې د محدودې برخې پېژندل ممکن دي او تر يوه حده خپل ماحول پېژندلی شي، خو د خپل نفس او د ټول عالم او د عالم په اړه کامل او جامع علم؛ د انسان له وس او توان بهر دئ، دا ځکه چې د هغه عمر محدود دئ او دا عالم ډېر خور، وسيع، پراخ او بې انتهاء، هغه په دې محدود عمر کې نه خپل ځان په بشپړه توګه پېژندلی شي او نه دا خور عالم او هستي، د دې عالم وسعت او پراخوالی او د ده د استعدادونو ضعف او محدوديت، د دې ټول عالم پېژندګلوي هغه ته محال کړې ده، انسان ته امکان نه لري چې دا ټوله هستي وپېژني، د دې عالم يوه برخه خو د انسان تر تجربې لاندې راځي او هغه ئې پېژندلی شي او کېدی شي دا تجارب له يوه نسله بل ته انتقال شي او په دې توګه ورو ورو د انسان علم وسيع شي، خو په دې عالم او د ده په خپل نفس کې داسې مجهولې برخې شته چې لږ تر لږه دومره ويلی شو چې تر ننه پورې انسان نه دئ توانېدلی چې هغه وپېژني، دا عالم دومره خور او پراخ دئ چې د ځينو ستورو نور ئې د سرعت او لرې والي په وجه زمکې ته نشي رسېدلی او ځيني نور ئې داسې دي چې په زرهاوو نوري کلونو ته ضرورت لري چې نور ئې زمکې ته راورسېږي. ساينسي علوم دا عالم او کائنات بې انتهاء ګڼي، يعني دا چې دا عالم پای او انتهاء نه لري، تر اوسه په دې نه دئ توانېدلی چې د ستورو او ستورليکو (کهکشانونو) شمېر ئې دقيقاً معلوم کړي، د زمکې د سر او منځ د ډېرو برخو په اړه دقيق او بشپړ معلومات نه لري او د خپل ذات په اړه هم د انسان علم ډېر محدود دئ، حتی د انسان د فزيولوژۍ او جسمي جوړښت ګڼ شمېر برخې ورته مجهولې دي، تر نن پورې علم د انسان د مغز شاوخوا ٢٥٪ کارونو او وظائفو باندې څه ناڅه پوهېږي، خو متباقي برخې ئې ورته مجهولې دي، نه پوهېږي چې دا څه کار کوي او د څه لپاره پيدا شوي؟ تر اوسه خو علم لا د انسان د دماغ پنځه او يا په سلو کې ٧٥٪ نه پېژني، څه دا چې د هغه د روحي جوړښت په نسبت د څه ويلو جرأت وکړي.

په داسې حال کې چې انسان مجهول دئ او هغه تر اوسه پورې نه دئ توانېدلی چې خپل

ځان وپېژني او دا عالم او هستي هومره وسيع او پراخه ده چې انسان ئې بې انتهاء ګڼي، تر اوسه د هغه پای او نهایت ورته معلوم نه دئ، د هغه ټول اجزاء او توکي خو پرېږده، له دې محدود علم سره انسان څنګه کولی شي د ځان لپاره تګلاره، قواعد او ضوابط وضع کړي؟ حال دا چې د هر مادي توکي او عنصر په اړه قوانین او ضوابط هلته وضع کېدلی شي چې هم د هغه د فزیکي خصوصیاتو په نسبت پوره علم په واك کي ولرو او هم ئې د کیمیاوي خصوصیاتو په نسبت، په دغو خصوصیاتو له پوهېدو وروسته موږ وایو چې دا له کومو کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او څه ترې جوړېدی شي او له کومو سره ئې تعامل محال او ناممکن دئ. اول باید د هغه په اتومي جوړښت او فزیکي خواصو پوه شو، د هغه کیمیاوي خصوصیات درك کړو او په دې پوه شو چې له کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او له کومو سره نه، له دې وروسته د نوموړي عنصر په اړه قواعد او ضوابط وضع کولی شو، نه له دې مخکې.

کله چې د انسان لپاره دین، د ژوند تګلاره او قوانین وضع کېږي، نو لومړی باید په خپله انسان وپېژندل شي او د هغه په اړه کامل علم حاصل شي او بیا د هغه د ټول ماحول په اړه جامع او کامل علم تر لاسه شي، له دې وروسته د انسان لپاره قواعد او ضوابط وضع کېدلی شي، خو دا کار انسان ته ممکن نه دئ، د همدې لپاره الله جل شأنه په خپله د دې انتظام کړی، پیغمبران ئې مبعوث کړي، هغوی ته ئې وحي کړې، د انسان د لارښوونې او هدایت لپاره ئې کتاب لېږلی، هغه ته ئې د ژوند ضابطه وضع کړې او هغه ته ئې حدود ټاکلي.

قرآن د انسان دغه نقص او کمښت ته ګوته نیسي او وايي: که ده ته د میراث د وېش په څېر د خپل اجتماعي ژوند د یوې عادي قضیې پرېکړه وسپارل شي د کوم بنسټ له مخې به عادلانه پرېکړه کوي، د پلار او زوی تر منځ به چا ته ترجیح ورکوي، د چا برخه به زیاته او د چا لږ ټاکي، که ده ته وویل شي چې میراث دې په نژدې خپلوانو ووېشه، وواياست چې پلار به ډېر نژدې ګڼې که زامن، د کوم یوه برخه به تر بل زیاته ټاکې؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

... ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١١﴾ النساء:١١

... نه پوهېږئ چې کوم یو به ئې په نفع کې تاسو ته نژدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فریضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمت پوه دئ.

---

دلته ویل شوي: که دا د میراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي، پخپله د هر یوه برخه وټاکئ، نو وواياست چې د هر یوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معیار په توګه غوره کوئ؟ نژدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنژدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زیاته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکن نه ده چې په دې اړه حکیمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ. دا برخې د هغه الله له لوري ټاکل شوې

چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند، هره پرېکړه ئې حکيمانه او په علم ولاړه پرېکړه ده.

که انسان ته په خپلو نژدې خپلوانو د ميراث د وېشلو عادي مسئله پرېښودی شي وواياست چې د هر يوه حقوق به څنګه ټاکي؟ کوم ته به څومره برخه ورکوي؟ د پلار او زامنو حقوق به د کوم معيار له مخې ټاکي؟ که ده ته حتی دا هم ګرانه وي چې په خپل نژدې ماحول کې، د خپلو نژدې خپلوانو حقوق وټاکي، نو د ژوند په نورو پېچلو برخو کې به څنګه تصرف کوي او څان ته به عادلانه او حکيمانه تګلاره غوره کوي؟!!

له دې علاوه مونږ ګورو چې انسان په دې عالم کې د يوه داسي امتيازي مخلوق حيثيت لري چې د عالم هر څه د ده په خدمت کې او ده ته مسخر شوي، د قرآن په اصطلاح انسان د زمکې خليفه دئ، هغه په دې عالم کې د الله د خليفه په توګه تصرف کوي، دا تصرف جامع او کلي علم ته ضرورت لري، جامع او کلي علم انسان ته ممکن نه دئ، په دې خاطر الله جل شانه په خپله انسان ته د دې انتظام کوي چې هغه په پوره بصيرت سره په دې عالم کې تصرف وکولی شي، الله جل شأنه هغه ته د جامع علم انتظام کړی او د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب رالېږلی. قرآن دغه مطلب په دې توګه زمونږ مخې ته ږدي چې وايي: د انسان لپاره د دين ټاکل او د حدودو او ضوابطو وضع کول د هغه ذات کار دئ چې هم د ټول عالم په اړه جامع او بشپړ علم لري او هم په خپله د انسان د طبيعت په اړه کامل علم، په همدې ارتباط فرمايي چې الهي کتابونه د هغه الله له لوري لېږل شوي چې په زمکه او آسمانونو کې هيڅ شی ترې پټ نه دئ او تاسو ئې پيدا کړي يئ.

د آل عمران په سورې کې د تورات، انجيل او فرقان د نزول له يادونې وروسته فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٦ آل عمران:٥-٦

يقيناً چې په الله باندې هيڅ څه نه شي پټېدی، نه په زمکې کې څه او نه په آسمان کې څه. دی خو همغه ذات دئ چې تاسو ته د (ميندو) په رحم کې هغسې صورت او شکل درکوي چې دی ئې غواړي، پرته له ده چې عزيز او حکيم دئ بل معبود نشته.

دلته د کتاب په اړه څو ډېرې اساسي او بنيادي خبرې شوې چې په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي:

هغه څوک کولی شي د انسان لپاره قانون وضع کړي چې هم د انسان د خلقت، جوړښت او فطرت له ټولو زواياوو او د ده له ټولو فطري اړتياوو خبر وي او هم د انسان د ماحول په ټولو هغو شيانو پوه وي چې دی ئې احاطه کړی او دی ورسره په يوه او بله بڼه کې څه تعلق لري. هم انسان پېژني او هم د انسان په مېشت ځای کې هرڅه پېژني، په دې پوه وي چې انسان څه ته ضرورت لري، څه ورته ګټور دي او څه تاواني. په قانون کې به انسان ته ويل

کېږي چي څه کول ورته جائز دي او څه ناجائز، د کوم څه خوړل ورته روا دي او کوم څه ناروا، د روا، ناروا، جائز او ناجائز او مفيد او مضر پرېکړه هغه څوك کولی شي چي هم د انسان له طبيعت دقيقاً خبر وي او هم په زمکي کي د ټولو موجودو شيانو له ماهيت خبر وي او په دې پوه وي چي کوم څه انسان ته څه تاوان رسولی شي. قانون په حقيقت کي يو کشف دئ نه اختراع، قانون جوړوونکی قانون کشفوي، له خپل ځان او په خپل سر ئې نه شي جوړولی، د انسان لپاره قانون وضع کول داسي دي لکه يو فزيك پوه، کيميا پوه او د ساينس عالم چي د يوه عنصر په اړه وايي: د دې عنصر فزيکي او کيمياوي خواص دا دي، د حرارت او برق د انتقال توان ئې دومره دئ، د حرارت په کومه درجه کي سوزي، له فلاني فلاني عنصر سره ئې ترکيب ممکن دئ او له هر يوه سره ئې د ترکيب فورمول دا دئ. د دې عنصر په اړه چي دوی څه ويلي دا ټول ئې د تحقيقاتو او تجاربو په ترڅ کي موندلي، دا هر څه کشف دي نه اختراع، کشف يعني د څېړني په ترڅ کي موندل او اختراع يعني په خپله نوی شی جوړول، دوی په خپل سر او په خپلي خوښي څه نه دي وضع کړي، بلکي شته او حاکم قوانين ئې کشف کړي او په خاصو الفاظو سره ئې بيان کړي. د ساينس ټول فورمولونه په حقيقت کي په طبيعت حاکم قوانين دي چي ساينس پوهانو کشف کړي، د انسان لپاره قوانين هم بايد همداسي کشف شي، د دې لپاره (انسانپوه) ته ضرورت دئ، نه يوازي انسان پوه ته بلکي (طبيعتپوه) ته هم، هغه چا ته چي هم د انسان په اړه دقيق علم ولري او هم د ده د ټول ماحول په اړه.

که د يوه ساده عنصر په اړه د نړۍ هيڅ فزيك پوه او د ساينس هيڅ عالم دا جرأت نه شي کولی چي له ځانه قانون وضع کړي او هره خبره ئې د کشف نتيجه وي، نو د انسان لپاره قانون جوړوونکي څنګه جرأت کوي چي په داسي حال کي د ده لپاره قانون جوړوي چي تر اوسه خو لا د انسان د جسمي جوړښت له ډېرو پېچلو برخو خبر نه دي، روحي جوړښت خو ئې پرېږده، روحي جوړښت خو ئې هومره پيچلی دئ چي دا برخه لا تراوسه اصلاً د ده تر بحث لاندي نه ده راغلې او په دې اړه څه ويل ورته ممکن نه دي، دا برخه په لابراتوار کي د ميکروسکوب لاندي هم نه شي نيولی. الکسيس کارل د شلمي پېړۍ يو معروف غربي عالم په خپل کتاب (انسان يو ناپېژانده موجود) کي ليکي: زه له نن ورځي د خپل ژوند ترپايه د انسان په اړه هومره سؤالونه يو په بل پسي کولی شم چي علم ئې له ځواب ويلو عاجز دئ او ډېر سؤالونه داسي چي ساينس ئې هيڅکله ځواب نه شي ويلی!

په دغو مبارکو آيتونو کي دغه حقيقت ته اشاره شوې، کوم ذات چي تاسو ته کتاب رالېږلی هغه ته هم د زمکي او آسمانونو ټول پټ اسرار معلوم دي او هم ستاسو د وجود له ټولو اسرارو خبر دئ، تاسو خو هغه پيدا کړي يئ، دی ستاسو د صورت او جوړښت خالق دئ، ستاسو د روحي او جسمي جوړښت له ټولو زواياوو خبر دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# سبإ

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورۍ نوم (سبأ) دئ، دا نوم د همدې سورې د پنځلسم آيت له (لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ...) اخيستل شوی، څلورپنځوس آيتونه لري، د ډېری آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (خبير) او د لږو ئې د دوهم آيت (غفور) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي.

د سورې د بحث اصلي او محوري موضوع آخرت او په آخرت د ايمان او عدم ايمان نتائج او پايلي دي، په لومړيو دوو آيتونو کې د الله تعالی داسې ستاينه شوې چې په ترڅ کې ئې د آخرت يادونه شوې، بيا د کافرانو دا وينا راوړل شوې چې وايي: دا د قيامت نېټه به هيڅکله پر موږ رانشي، د دوی په ځواب کې ويل شوي: نه؛ داسې نه ده، په خپل رب مې چې پر غيب پوه دئ قسم چې حتماً به دربانديې راشي، نه په آسمان کې د يوې ذرې په وزن کوم شی ترې پټ پاته کېدی شي او نه په زمکې کې او نه تر دې ووړ او نه ترې ستر شته مگر دا چې په ځرگندوونکي کتاب کې ئې يادونه شوې. الله تعالی قيامت د دې لپاره ټاکلی چې هغو ته نېکه بدله ورکړي، بخښنه او غوره رزق ورپه برخه کړي چې ايمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي او هغو ته مناسبه سزا ورکړي چې د الله تعالی له آيتونو ئې نه يوازې انکار کړی بلکې هڅه ئې کړې چې د الهي سننو خلاف عمل وکړي او د الله تعالی د وعد او وعيد د تحقق په وړاندې مانع شي. ورپسې ويل شوي چې د علم خاوندان پوهېږي چې د قيامت په اړه د قرآن وينا حق ده او قرآن سمې لارې ته لارښوونه کوي، بيا د آخرت په اړه د کافرانو دا وينا راوړل شوې چې ويل به ئې: آيا داسې سړی دروښيو چې تاسو ته دا خبره کوي چې کله ومرئ، هډوکي مو وراسته شي او بدنونه مو په بشپړ شړېدو سره وشړېږي بېرته به په نوي پيدايښت کې پيدا کړی شئ، آيا پر الله دروغجنه افتراء کوي که پېرياني شوی، د دوی په ځواب کې ويل شوي: دا سې نه ده؛ بلکې هغه چې پر آخرت باور نه کوي په عذاب اخته او په ژور لار ورکتوب کې دي، آيا د آسمان او زمکې هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چې د دوی په وړاندې او د دوی تر شا دي؟ ټول پر دې گواهي ورکوي چې قيامت راتلونکی دئ، که الله تعالی وغواړي په زمکې کې به ئې ښخ کړي او يا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسي، يقيناً چې په دې کې هر انابت کوونکي بنده ته يوه ځرگنده نښه ده. له دې وروسته پر آخرت د

ايمان لرونكو او منكرينو بېلې بېلې ښېګې زموږ په وړاندې انځور شوې، په دې دقيقو انځورونو كې ګورو چې پر آخرت باور لرونكي د عزت او عظمت لوړو څوكو ته رسېدلي او منكرين ئې له ذلت، سپكاوي او الهي عذاب سره مخامخ شوي، پر آخرت د ايمان لرونكو لومړى مثال داؤد عليه السلام دئ چې د هغه په اړه ويل شوي: پر داؤد مو خپل فضل ولوراوه، په قرآن كې د دې الهي فضل ډېر مصداقونه مومو، لا نوى ځوانى ته رسېدلى وو چې الله تعالى ده ته دا سعادت ورپه برخه كړ چې د دښمن د يوه ستر لښكر سالار د ده په لاس ووژل شو او په همدې سره په يوې لويې جګړې كې ستره او تاريخي بريا د مؤمنانو په برخه شوه، د ولس قيادت ده ته وسپارل شو، لوى او ستر سلطنت ئې په برخه شو، الله تعالى داسې اغېزناك او مؤثر غږ ورپه برخه كړى وو چې مرغانو او غرونو به د ده له ذكر او تلاوت سره همغږي كوله، د اوسپنې كشف او د جنګي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغري ترې جوړول د ده په وخت كې پيل شوي، دا پر آخرت د ايمان او صالح عمل اغېز وو چې په سبب ئې الله تعالى داؤد عليه السلام ته دومره ستر فضيلت او عزت وركړ او د عظمت هغې لوړې څوكې ته ئې ورسولو. له ده خپل مجاهد زوى سليمان عليه السلام ته دومره ستر ملك او واكمني په ميراث ورسيده چې په تاريخ كې ئې نظير نه وو ليدل شوى.

وروسته د سليمان عليه السلام په څېره كې پر آخرت د ايمان لرونكو يوه بله بېلګه انځور شوې، د ده په اړه لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالى داسې باد ورته مسخر كړى وو چې سبانى مزل به ئې يوه مياشت او بېګانى به ئې يوه مياشت وو، يعني دا سليمان عليه السلام وو چې د الله تعالى په فضل سره ئې تر ټولو وړاندې داسې بېړۍ جوړه كړه چې د باد په وسيله به خوځېده، سرعت ئې دومره وو چې له سحر تر غرمې پورې به ئې د يوې مياشتې مزل وهلو او له غرمې تر ماښام به ئې د يوې مياشتې مزل.
- د مسو چينه (معدن) ئې كشف او د ويلي كولو او له مسو د ضروري سامان او لوښو جوړول ئې ورزده كړل.
- هغه پېريان ئې ورته مسخر كړي ول چې د الله تعالى په حكم به د ده په وړاندې په ډول ډول كارونو لګيا ول، سرغړاوى ئې نه شو كولى، كه د دوى كوم چا به سرغړاوى او كوږوالى وكړ نو سزا به ئې لمبه ناك عذاب وو، هغه څه به ئې جوړول چې ده غوښتل، لكه جنګي كلاګانې، تماثيل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځاى پر ځاى ولاړ ستر ستر دېګونه.

وروسته پر آخرت د ايمان او عدم ايمان اغېز د سبأ د قوم په يوې عبرتناكې قصې كې څېړل شوى او ويل شوي: يقيناً چې د سبأ اوسېدونكو ته د دوى په هغه ټاټوبي كې د عبرت يوه څرګنده نښه وه چې ښى او كيڼ لورى ئې په ښېرازه بڼونو سمسور وو، الله تعالى دا فرصت وركړى وو چې د خپل رب رزق وخوري او د هغه شكر پر ځاى كړي، ټاټوبى ئې سُتره او

پاکیزه او خپل رب پرې مهربان او بخښونکی. خو دوی اعراض او سرغړاوی وکړ، نو الله تعالی له دغو نعمتونو محروم کړل، هغه بند ونړېدو چې له کبله ئې د دوی ټاټوبی ښېرازه او سمسور وو، درونـد ورانوونکی سیلاب پرې راغی، کلي ئې وران او کورونه ئې نسکور شول او وني او فصلونه ئې ونړېدل، يوه او بل لوري ته په بشپړه توګه خواره واره شول، هغه سمسور باغونه ئې په داسې دوو بڼونو بدل شول چې مېوې ئې بې خونده او وني ئې يا د غز وني وې يا د بېري. همدا د دوی هغه سزا وه چې وجه ئې کفر او د الله تعالی د نعمتونو په وړاندې ناسپاسي وه؛ او دا ثابت الهي سنت دئ چې د هر ناسپاس ولس په برخه کېږي.

الله تعالی د سبأ ولس ته بشپړ امن ورپه برخه کړی وو، تجارتي سفرونه ئې خوندي او مصئون ول، د دوی تجارتي قافلې به هم د شپې له لوري په ډاډ او اطمئنان سره تر شام او فلسطین پورې تلې راتلې او هم د ورځې له لوري، په دې اوږدې لارې کې ځای ځای داسې کلي جوړ شوي وو چې د کاروانونو تمځایونه ګڼل کېدل، له يوه کلي به لا ډېر لرې نه وو تللي چې بل کلی به په نظر ورغی، دا په هر تمځای کې د کلیو رامنځته کېدا يوه الهي پېرزوينه وه چې له کاروانيانو سره ئې زياته مرسته کوله او د دوی ستونزې ئې رفع کولې. خو کله چې دوی د ظلم لار غوره کړه، نو له هغو الهي نعمتونو محروم شول، لنډ، آرام، آسان او مصئون سفرونه ئې اوږده، ستوزمن او ناامن شول، حالت ئې داسې وو لکه چې دوی په خپله له الله تعالی غوښتي وي چې زموږ سفرونه اوږده کړه!! نو داسې عبرتناکه سزا ورکړی شوه چې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت قصه ترې جوړه شوه، په بشپړ خورېدو سره خواره واره شول. ځيني شام او اردن ته ولاړل او ځيني د عربو نورو سيمو ته، اَوْس او خزرج هم د دغه قوم دوه قبيلې وې چې له سبأ يثرب ته ولاړې او هلته مېشت شوې.

د قصې په پای کې ويل شوي: يقيناً چې په دې قصې کې هر ډېر صبرناك او ډېر شکر کوونکي انسان ته څرګندي عبرتناکې نښې دي. څوك چې د نعمتونو د وفرت په حال کې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوي، د شیطاني وسوسو او د نفسي غوښتنو په وړاندې استوار ودرېږي او د صبر لمن کلکه نيسي او له خپل حد او حق آخوا پښه نه ږدي، هغوی ته په دې عبرتناکې قصې کې د پند او عبرت ډېرې نښې دي.

ورپسې مشرکينو ته ويل شوي:

• له الله پرته چې پر هر چا او هر څه د معبود ګمان کوئ هغه مرستي ته دروبلئ، په دې پوه شئ چې دا کاذب معبودان په هېڅ څه کې ستاسو مرسته نه شي کولی، هغوی نه په آسمانونو کې د ذرې برابر څه په واك کې لري او نه په زمکې کې، نه د دې دواړو په کوم څه کې له الله تعالی سره شريك دي، نه د الله تعالی په وړاندې داسې څوك مونډلی شئ چې ستاسو ملاتړی شي؛ او نه داسې څوك مونډلی شئ چې د الله تعالی په وړاندې د هغه شفاعت کومه ګټه درورسوي، دا شفاعت به يوازې هغه څوك کولی شي چې الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړې او هغه چا ته به داسې شفاعت ګټه رسولی شي چې الله تعالی غوښتي وي. د قيامت په ورځ به حالت داسې وي چې د سختي وېرې او هيبت له کبله به هيڅوك د څه ويلو توان

نه لري، يوازې هغه مهال به د څه ويلو امكان تر لاسه كړي چې د هيبت او وېرې حالت پای ته ورسېږي، كله چې د دوی له زړونو وېره وايستل شي ورته وبه ويل شي: ستاسو رب څه ويلي وو؟ هغه مهال به له ځنډ پرته اعتراف كوي چې د الله تعالی ټولې ويناوې حق وې، د قيامت په اړه چې د الله تعالی پيغمبرانو څه ويلي وو مصداق ئې نن په خپلو سترګو ګورو، د الله تعالی په سترواليي او لوړواليي به اعتراف كوي.

- بيا د قيامت په ورځ د منكرينو هغه عبرتناك حالت انځور شوی چې د الله تعالی په وړاندې د ودرېدو په وخت كې به ئې لري، هغه مهال چې دا ظالمان به د خپل رب په وړاندې درول شوي وي په داسې حال كې چې ځينې به ئې ځينو نورو ته په دې توګه وينا ورګرځوي چې په ضعف كې ساتل شوي به هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: كه تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان شوي وو، تاسو له ايمان راوړلو منع كړو، د دوی په ځواب كې به هغه چې لويي ئې غوښتله وايي: آيا موږ له هدايت منع كړئ له هغه وروسته چې درته راغی؟! نه؛ بلكې تاسو په خپله مجرمين وئ، موږ له ايمان راوړلو نه يئ منع كړي په خپله ګنهګار او مجرم وئ، مستضعفين (هغه چې ضعف ئې غوښتل شوی وو) مستكبرينو ته (هغو ته چې لويي ئې غوښتله) وايي: نه؛ بلكې ستاسو هغه د شپې او ورځې مكر له ايمان راوړلو منع كړي وو چې موږ ته به مو امر كولو چې د الله په اړه كفر وكړو او سيالان ورته وټاكو، د دوی تر منځ به دا لانجه تر هغه روانه وي او يو به بل ملامتوي چې عذاب راڅرګند شي، د عذاب له راڅرګندېدو سره سم به پټه خوله شي، نه به يو بل ملامتوي او نه به خپل ندامت څرګندوي، دا ځكه چې د عذاب رعب او هيبت به دا مجال ترې سلب كړي چې يو پر بل اعتراض وكړي، دا مهال به د هغو په غاړو كې زنځيرونه واچول شي چې د كفر لار ئې غوره كړې وه، د خپلو عملونو مناسبه سزا به وګوري، دوی په دنيا كې د نورو په غاړو كې زنځيرونه اچولي وو، هغوی ئې د غلامانو په توګه ساتلي ول، له سمې لارې ئې منحرف كړي ول نو نن به د دوی د مخكينيو كړنو مناسبه او ورته سزا وركړی شي او زنځيرونه به ئې په غاړو كې واچول شي.

- بيا د انبياءو په وړاندې د هغو وګړو دريځ انځور شوی چې د ټولنې حاكم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته سوكالي او تر نورو زيات امتيازات ورپه برخه كړي، يو ئې واكمن دئ، بل ئې شتمن دئ، بل ئې قومي مشر دئ، بل ئې مذهبي مشر دئ، هر يو ئې له خپل خپل موقعيت ګټه اوچتوي او امتيازات تر لاسه كوي، چا له سياست دام جوړ كړی، چا له مذهب دكان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلكو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل ګټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو كې د ولس ډوبوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځكه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چې په ټولنې كې له فكري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي غواړي، قرآن دا حالت په خپلو ښكلو او موجزو الفاظو سره داسې انځور كړی: هيڅ كلي ته مو كوم خبرداری وركوونكی نه دئ لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې (هغو چې سوكالي ورپه برخه شوې) وويل: موږ په

قطعي توګه له هغه څه منکر یو چې تاسو ورسره لېږل شوي یئ!!

• د قیامت په ورځ او هغه مهال چې مشرکین د الله تعالی په وړاندې حاضر کړی شي؛ الله تعالی به فرشتو ته ووايي: آیا دغو مشرکینو ستاسو عبادت کولو؟ هغوی به وايي: پاکي تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندې مولا یې، دوی زموږ نه بلکې د پېریانو (شیطانانو) بندګي کوله، د دوی ډېری پر هغوی باوري ول، هغه ورځ به دوی ته جوته شي چې دغو جعلي معبودانو نه دوی ته کومه ګټه په واك کې درلوده او نه کوم تاوان، د جهل او ناپوهۍ له کبله ئې له هغوی د ګټې رسولو او تاوان دفع کولو طمع درلوده.

• بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې مخالفینو ته ووايي: یوازې په یوې خبرې پند درکوم او هغه دا چې د الله لپاره دوه دوه او یو یو ودرېږئ بیا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو مخالفت هیڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوی چې زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ، لږ له خپلو تعصباتو، دود پالنو او جاهلانه حمیت ګوښه شئ او په سړه سینه او شفاف ذهن زما د بلنې په اړه غور وکړئ.

• بیا په الهي عذاب د کافرانو د اخته کېدو پر مهال او د قیامت په ورځ د دوی حالت داسې انځور شوی: سختې وېرې به خپل وزر پرې خور کړی وي، د خلاصون هیڅ مجال او امکان به نه مومي، له نژدې واټن به ونیول شي، هغه عذاب چې دوی لري او محال ګڼلو ډېر ژر او د دوی له یوې او بلې خوا به پرې راپرېوځي. د قیامت په ورځ او هغه مهال چې د حق منکرین او مخالفین له الهي عذاب سره مخامخ شي او هغه حقائق په خپلو سترګو وګوري چې پیغمبرانو به دوی ته ویل او دوی به انکار کولو؛ نو وبه وايي: ایمان مو پرې راوړ، خو هغه مهال به دا ایمان دوی ته هیڅ ګټه نه رسوي.

• د سورې په پای کې ویل شوي: د منکرینو مثال هغه چا ته ورته دئ چې له لرې واټن د داسې هدف په لوري غشي ولي چې ترې پټ دئ، هغه چا ته ورته دي چې په تیاره کې او په پټو سترګو د نامعلوم هدف په لوري کاڼي شړي، آیا داسې کس هدف په نښه کولی شي؟! له دوی سره به دې ته ورته چلن کېږي، د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چې دوی ئې تمناء کوي، غشي به ئې پر هدف نه لګېږي، خپل مراد ته به رسېدلی نه شي، همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، ټول نامراده ولاړل، پرته له دې چې شیطاني هیلې ئې تر سره شي. یقیناً چې هغوی په دوکه کوونکې شك کې ول.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ

ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ ٱلۡغَفُورُ ٢

ستايني هغه الله ته دي چي څه په آسمانونو کې دي او څه په زمکې کې دي ټول د ده دي؛ او ستايني په آخرت کې هم ده ته دي؛ او هغه باخبره د حکمت خاوند دئ، په هغه څه چي په زمکې کې ننوځي او له زمکې وځي او له آسمان راکوزېږي یا په هغه کې لوړ ځي پوهېږي؛ او هغه بخښونکی مهربان دئ.

(١-٢)- په دې مبارکو آیتونو کې الله تعالی په دې توګه موږ ته معرفي شوی:

- ټولې ستايني له ده سره ښايي، په ذات، صفات او افعالو کې د ټولو ستاینو وړ دئ.
- څه چي په آسمانونو کې دي او څه چي په زمکې کې دي ټول د ده دي، دی ئې خالق او مالك دئ، د دې پرېکړه د ده له لوري کېږي چي د آسمان او زمکې کوم څه چا ته ورکړي او کله ئې ورکړي.
- د آخرت په اړه او په هغه ورځ د ده پرېکړې هم داسي دي چي ښيي الله تعالی د ستاینو وړ دئ.
- هغه باخبر د حکمت خاوند دئ.
- په ټولو هغو شیانو ښه پوهېږي چي په زمکې کې ننوځي، له زمکې وځي، له آسمان راکوزېږي يا په هغه کې لوړ ځي.
- هغه بخښونکی مهربان دئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ
لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ
وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٣ لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ
لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ٥

او هغو چي کفر ئې کړی ووېل: دا د قیامت نېټه به هیڅکله پر موږ رانشي، ووایه: نه؛ داسي نه ده، په خپل هغه رب مي قسم چي پر غیب پوه دئ حتماً به درباندي راشي، نه په آسمان کې د یوې ذرې په وزن کوم شی ترې پټ پاته کېدی شي او نه په زمکې کې او نه تر دې ووړ او نه ترې ستر شته مګر دا چي په څرګندوونکي کتاب کې (ئې یادونه شوې) ده. د دې لپاره چي هغو ته نېکه بدله ورکړي چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، بخښنه او غوره رزق به دوی ته ورپه برخه شي؛ او هغو چي زما د آیتونو په

اړه ئې د عاجزوونکو په توګه هڅه کړې دوی ته د دردناك اضطراب عذاب (تاکل شوی) دئ.

(۳-۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

• کافران وايي: دا د قيامت نېټه به هيڅکله پر موږ رانشي، د قيامت په اړه د پيغمبر عليه السلام وينا نه مني او راتګ ئې محال ګڼي.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې مکلف شوی چي هغوی ته ووايي: داسي نه ده چي تاسو ئې وايئ، په خپل هغه رب مي قسم چي پر غيب پوه دئ، حتماً به دربانديې راشي. دا د هغه ذات پرېکړه ده چي نه په آسمان کې د يوې ذرې په وزن کوم شی ترې پټ پاته کېدی شي او نه په زمکې کې، زما رب او په دې عالم کې د ده د ربوبيت مظاهر په دې ګواهي ورکوي چي قيامت به حتماً او ستاسو د غلطو انګېرنو خلاف راځي.

• زما رب هغه ذات دئ چي نه تر يوې ذرې ووړ شی او نه ترې ستر شی داسي دئ چي د هغه يادونه دې په ځرګندوونکې کتاب کې نه وي کړې.

• قيامت به ځکه راځي چي الله تعالى غواړي هغو ته چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي نېکه بدله ورکړي، بخښنه او غوره رزق ورپه برخه کړي؛ او هغه چي د الله آيتونه تکذيبوي او دا هڅه کوي چي د الله تعالى د وعد او وعيد د تحقق مخه ونيسي د اضطراب او پرېشانۍ په داسي عذاب ئې اخته کړي چي سخت دردناك وي. د عالم الغيب رب له کامل عدالت سره همدا ښايي چي قيامت راولي او هر انسان ته د خپلو کړنو سزا او جزاء ورکړي.

وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلْحَقَّ وَيَهْدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ٦

او هغه چي علم ورکړی شوی هغه (کتاب) ته چي ستا لوري ته درلېږل شوی (په داسي سترګه) ګوري چي هغه ستا د رب له لوري دئ، (سر تر پای) حق دئ او د ستايلي عزتمن (رب) لاري ته لارښوونه کوي.

(٦)- په دې مبارك آيت کې ويل شوي:

د علم خاوندان پوهېږي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم لوري ته لېږل شوی قرآن د الله تعالى له لوري لېږل شوی، سر تر پای حق دئ او د ستايلي عزتمن رب لاري ته لارښوونه کوي. يعني دا قرآن ستا د رسالت په اړه ځرګند شاهد دئ، ټول مطالب او لارښووني ئې داسي دي چي ښيي دا کتاب د الله تعالى له لوري نازل شوی، د هغه الله له لوري چي ټولې ستايني له ده سره ښايي او عزتمن دئ، په دې کتاب د تمسك له لاري او په لارښوونو ئې د عمل په نتيجه کې کولی شئ د عزت لوړو پوړو ته ورسېږئ او د ستايلي عزتمن رب تأييد

تر لاسه کړئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمۡ لَفِي خَلۡقٍ جَدِيدٍ ۝٧ أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢ ۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ۝٨ أَفَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِن نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ نُسۡقِطۡ عَلَيۡهِمۡ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّكُلِّ عَبۡدٍ مُّنِيبٍ ۝٩

او هغو چې کفر ئې کړی وویل: آیا داسې سړی دروښیو چې تاسو پر دې خبروي چې کله په بشپړ شړېدو سره وشړول شئ تاسو به حتماً په نوي پیدایښت کې (پیدا کړی) شئ، آیا پر الله دروغجنه افتراء کوي که پېریانی شوی، نه؛ بلکې هغه چې پر آخرت باور نه کوي په عذاب اخته او په ژور لار ورکتوب کې دي، آیا د آسمان او زمکې هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چې د دوی په وړاندې او د دوی تر شا دي؟ که وغواړو په زمکې کې به ئې ښخ کړو او یا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسو، یقیناً چې په دې کې هر انابت کوونکې بنده ته یوه څرگنده نښه ده.

(۷-۹)- د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د قیامت په اړه د ده وینا او د قرآن په اړه د علم خاوندان هغه څه وایي چې په مخکیني آیت کې ورته اشاره وشوه، دوی قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب گڼي او د قیامت په اړه د قرآن وینا رښتینې گڼي، خو د دوی په مقابل کې هغه جاهل وگړي چې د کفر او انکار لار ئې غوره کړې وایي: آیا هغه سړی دروښیو چې خلکو ته وایي: قیامت به راځي، مړي به بېرته راژوندي کېږي، سره له دې چې د هغوی جسدونه شړېدلي او په خاوري کې خواره شوي!! همدا شړېدلي، وراسته شوي او خاوري شوي بدنونه به بېرته په نوي بڼې او پیدایښت کې بیا راپیدا کېږي، داسې وینا به یا د هغه چا له لوري وي چې پر الله دروغجنه افتراء کوي او یا د هغه چا له لوري چې پېریانی شوی او په لېونتوب اخته وي!! قرآن د دوی په ځواب کې وایي: خبره هغسې نه ده چې دوی ئې وایي، حقیقت دا دئ چې پر آخرت باور نه کوونکې د الهي عذاب وړ او په ژور لار ورکتوب کې دي. آیا د آسمان او زمکې هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چې د دوی په وړاندې او د دوی تر شا دي؟ آیا دا هر څه د دې خبرې شهادت نه ورکوي چې قیامت حتماً راتلونکی دئ؟ د دوی شیطان ورته ویلي: که د قیامت گواښونه رښتیا وی نو تر اوسه به ئې کومه واضح نښه تر سترگو شوې وه، ولې نه راځي؟ ولې دومره وځنډېدو؟ الله تعالی د دوی په

ځواب کې فرمايي: که وغواړو په زمکې کې به ئې ښخ کړو او يا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسو، نه ئې په زمکې کې د ښخېدو مخه څوك نيولی شي او نه له آسمان پر دوی د يوې ټوټې راپرېوتو مخه، دا خو د مهربان رب يوه ستره پېرزوينه ده چې قيامت ئې ځنډولی او انسان ته ئې د انابت، رجوع، توبې او ځان اصلاح کولو فرصت ورکړی، يقيناً چې په دې کې هر انابت کوونکې بنده ته يوه څرگنده نښه ده.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ ۖ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ ٱعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِى ٱلسَّرْدِ ۖ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾

او داؤد ته مو له خپل لوري فضل ورپه برخه کړ، (ومو ويل:) اې غرونو! له ده سره همغږي کوئ او مارغانو ته هم؛ او اوسپنه مو ورته نرمه کړه، چې زغري جوړې کړه او کړۍ په اندازه ولگوه؛ او نېك عمل کوئ، يقيناً چې زه په هغه څه پوهېږم چې تاسو ئې کوئ.

(١٠-١١)- دلته او ورپسې څو آيتونو کې پر آخرت د ايمان لرونکو او منکرينو بېلې بېلگې زموږ په وړاندې انځور شوې، په دې دقيقو انځورونو کې گورو چې پر آخرت باور لرونکي د عزت او عظمت لوړو څوکو ته رسېدلي او منکرين ئې له ذلت، سپکاوي او الهي عذاب سره مخامخ شوي، پر آخرت د ايمان لرونکو لومړی مثال داؤد عليه السلام دئ چې دلته د هغه په اړه ويل شوي:

پر داؤد مو خپل فضل ولوراوو، په قرآن کې د دې الهي فضل ډېر مصداقونه مومو؛ لا نوی ځوانی ته رسېدلی وو چې الله تعالی ده ته دا سعادت ورپه برخه کړ چې د دښمن د يوه ستر لښکر سالار د ده په لاس ووژل شو او په همدې سره په يوې لويې جگړې کې ستره او تاريخي بريا د مؤمنانو په برخه شوه، د ولس قيادت ده ته وسپارل شو، لوی او ستر سلطنت ئې په برخه شو، الله تعالی داسي اغېزناك او مؤثر غږ ورکړی وو چې مرغانو او غرونو به د ده له ذکر او تلاوت سره همغږي کوله، د اوسپنې کشف او د جنگي مقاصدو لپاره له هغې استفاده او زغري ترې جوړول د ده په وخت کې پيل شوي، تاريخي څېړنې هم ښيي چې د داؤد عليه السلام د بعثت زمانه تر ميلاد زر دولس سوه کاله وړاندې ده او اوسپنه په همدغو کلونو کې کشف او د جنگي وسائلو جوړولو په اړه ترې استفاده پيل شوې. مؤمن او صالح آل او پلويان ئې په برخه شول، دا پر آخرت د ايمان او صالح عمل اغېز وو چې په سبب ئې الله تعالی داؤد عليه السلام ته دومره ستر فضيلت او عزت ورکړ او د عظمت هغې لوړې څوکې ته ئې ورسولو. له ده خپل مجاهد زوی سليمان عليه السلام ته دومره ستر ملك او واکمني په ميراث ورسيده چې په تاريخ کې ئې نظير نه وو ليدل شوی. چې قرآن دلته د هغه په اړه فرمايي:

وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ١٢ يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ١٣ فَلَمَّا قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ١٤

او سليمان ته مو هغه باد مسخر کړ چې سبانۍ (مزل) به ئې يوه مياشت او بېګانۍ به ئې يوه مياشت وو، د مسو چينه مو ورته راخوټولې وه؛ او له پېريانو مو هغه ورته مسخر کړي وو چې د ده د رب په حکم به د ده په وړاندې (په کار) لګيا ول؛ او که د دوی کوم چا به زموږ له حکم سرغړاوی او کوږوالی وکړ لمبه ناك عذاب مو ورڅکلو، هغه څه به ئې ورته جوړول چې ده غوښتل؛ لکه لوړې جنګې کلاګانې، تماثيل (انځورونه)، د حوضونو په څېر طشتونه او تم شوې ثابت دېګونه، (ورته ويلي مو وو:) اې د داؤد پلويانو! د شکر په توګه عمل کوئ؛ او زما لږ بندګان شکر کوونکې دي، نو کله چې موږ د ده د مړينې پرېکړه وکړه د زمکې له يوې خزندې پرته چې د ده عصاء ئې خوړله بل څه دوی د هغه په مړينې پوه نه کړل، نو کله چې راپرېوت پېريان پوه شول چې که په غيب پوهېدی نو په سپکوونکې عذاب کې به نه ځنډېدل.

(١٢-١٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د سليمان عليه السلام په اړه لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالی داسې باد ورته مسخر کړی وو چې سبانۍ مزل به ئې يوه مياشت او بېګانۍ به ئې يوه مياشت وو، يعني دا سليمان عليه السلام وو چې د الله تعالی په فضل سره ئې تر ټولو وړاندې داسې بېړۍ جوړه کړه چې د باد په وسيله به خوځېده، سرعت ئې دومره وو چې له سحر تر غرمې پورې به ئې د يوې مياشتې مزل وهلو او له غرمې تر ماښام به ئې د يوې مياشتې مزل.
- د مسو معدن ئې کشف کړ او د مسو د ويلي کولو او له هغه د ضروري سامان او لوښو جوړول ئې ورزده کړل.
- هغه پېريان ئې ورته مسخر کړي ول چې د الله تعالی په حکم به د ده په وړاندې په

ډول ډول کارونو لګيا ول، سرغړاوی ئې نه شو کولی، که د دوی کوم چا به سرغړاوی او کوږوالی وکړ نو سزا به ئې ډېره ناك عذاب وو، هغه څه به ئې ورته جوړول چې ده غوښتل، لکه جنګي کلاګاني، تماثيل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځای پر ځای ولاړ ستر ستر دېګونه.

• د الله تعالی له لوري ده او د ده اهل او پلويانو ته دا لارښوونه شوې وه چې د شاکرو بندګانو په څېر به عمل کوئ، د الله تعالی د نعمتونو پاس به ساتئ او په همغه توګه به په کې تصرف کوئ چې ستاسو حقيقي منعم ئې درته خوښوي.

• کله چې الله تعالی د ده د مړيني پرېکړه وکړه نو په داسي حال کې روح ترې قبض شوه چې پر خپلې عصاء ئې تکيه کړې وه، ليدونکو داسي انګېرله چې دی ژوندی دئ، تر هغه همداسي پاته وو چې د زمکې يوې خزندې د ده عصاء داسي وخوړله چې ماته شي او دی راپرېوځي، بل څه دوی د هغه په مړيني پوه نه کړل، پېريان له دې وروسته پوه شول چې هغه وفات شوی، ويل ئې که موږ په غيب پوهېدی نو تر ننه به په دې سپکوونکي عذاب کې نه پاتي کېدلو.

دلته بايد څو خبري په پام کې ولرو:

• دا د سليمان عليه السلام معجزه وه چې د پېريانو يوه ډله ورته مسخر او تسليم وه او د ده د خوښي کارونه به ئې ورته کول، نه دا معجزه له ده پرته بل پيغمبر ته ورکړی شوې او نه له ده پرته بل چا ته پېريان مسخر شوي، ځيني ټګماران د خلکو د غولولو لپاره وايي چې پېريان ئې مسخر کړي او د غيب خبري ورته ښيي!! دوی د خلکو د غولولو لپاره وايي: موږ د هغه څه په مرسته پېريان مسخر کړي چې سليمان عليه السلام پرې مسخر کړي ول، د پېريانو له لاري په غيبي خبرو پوهېږو، کولی شو خلکو ته ووايو چې په راتلونکي کې به له کوم برخليك سره مخامخ شي!! هر څوك چې دا ادعاء کوي يو ټګمار او دوکه مار دئ او د قرآن د وينا خلاف خبره کوي، قرآن دلته د پېريانو له قوله وايي: که موږ پر غيب پوهېدلی نو تر ننه به په سپکوونکي عذاب کې نه پاتي کېدو، دوی له دې هم عاجز ول چې د سليمان عليه السلام له وفات خبر شي، له نورو غيبي امورو به څنګه خبرېږي؟!!

• دا چې سليمان عليه السلام پر زمکې د ناستي په حالت کې وفات شوی که پر کرسۍ د ناستي په حالت کې او که په ولاړه؛ او دا چې څومره موده همداسي پاته شوی، دلته او د قرآن په بل آيت کې د دې وضاحت نه دئ شوی، په صحيح رواياتو کې هم څه نه مومو، غالب احتمال دا دئ چې سليمان عليه السلام پر هغي کرسۍ د ناستي په حالت کې وفات شوی چې هره ورځ به د خپل کار پر مهال د څه وخت لپاره پرې ناست وو، خپلوان او مقربين ئې پرې پوه شوي، د دې لپاره ئې هغه په همدې حالت تر يوې مودې پرېښی او يوه بله ورځ ئې دا ځای پرانيستی چې د پېريانو مسخر ټولګی د ده له مړيني خبر نشي، خو دې حالت زيات دوام نه دئ کړی او هغه عصاء ماته شوې چې ده پرې تکيه کړې وه. دا په وار وار

ليدل شوي چي د سترو سترو واكمنانو د مړيني خبر تر يوې مودې پټ پاته شوى.

دلته د هغو كارونو په ضمن كې چي پېريانو به سليمان عليه السلام ته كول د (تماثيل) جوړول هم راغلي؛ تمثال هغه تصوير او انځور ته ويل كېږي چي انسان، حيوان، بوټى، يا كوم بل څه تمثيلوي، لسان العرب د تمثال په اړه ليكي: التمثال اسم للشىء المصنوع مشبهاً بخلق من خلق الله: تمثال د هغه مصنوع نوم دئ چي د الله تعالى له مخلوقاتو كوم مخلوق ته ورته وي، د كشاف تفسير وايي: كل ما صور على صورة غيره من حيوان و غيرحيوان: تمثال هر هغه تصوير ته ويل كېږي چي د كوم حيوان يا غير حيوان په بڼي كې انځور شوى وي. متأسفانه ځيني دا د مجسمې په معنى تعبيروي او وايي: په مخكينيو اديانو كې د مجسمې جوړول جائز ووء او ګواكې پېريانو سليمان عليه السلام ته مجسمې جوړولې، دا رأيه ئې د بايبل د غلطو ويناوو تر اغېز لاندي وړاندي كړې؛ خو دا يوه ستره اشتباه او غلطه رأيه ده، د مجسمې جوړول په ټولو الهي اديانو كې تحريم شوي، سليمان عليه السلام ته د مجسمو درلودلو غلطه خبره منسوبول د هغه چا كار دئ چي د بايبل خبره ئې په پټو سترګو منلې او دا په داسي حال كې چي د بايبل په ګڼ شمېر نورو ځايونو كې د مجسمو له جوړولو جدي ممانعت تر سترګو كېږي، بايبل وايي: خداى د هر ډول مجسمو له جوړولو او د دوى په وړاندي د عبادت له كولو ممانعت كړى او فرمايلي ئې دي: بُت مه جوړوئ او بُتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلې ډبري د لمانځني لپاره مه جوړوئ... همدا راز وايي: نو بيا خداى له موسى وغوښتل چي بني اسرائيلو ته ووايه: تاسو وليدل چي څنګه مي له آسمانه له تاسو سره خبري وكړې!!! نو له دې وروسته له سرو او سپينو زرو ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه كوئ...

بايبل د (مختلف قوانين) تر عنوان لاندي ځيني داسي خبري لري چي حتماً ئې له اصلي انجيل اقتباس كړې خو ځيني ئې خپلې پرې علاوه كړې، ليكي: ... بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو څلي او تراشلې ډبري د لمانځني لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام كوئ، غلا مه كوئ، درواغ مه وايئ، ښوك مه دوكه كوئ، ... جادوګري مه كوئ، فال مه نيسئ، د بت لمانځونكو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه كوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي كوئ، د سر وېښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځي كوئ او خپل ګرېوان مه څيرئ او د دوى په څېر خالونه مه وهئ، كله چي د عبادت خيمې ته درومئ نو هيڅكله شراب او نور مست كوونكي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت كوونكي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونكي بايد ووژل شي... دا دئ ګورئ بايبل داسي خبري هم راوړي چي هر الهي دين ئې كوي خو بايبل د دې تر څنګ ليكي: كه د قربانۍ غوښه تر دريمي ورځي پاتې شوه وئې سوزوئ، ځكه دا نجسه ده... كه چا وخوړه ګناهګار دئ، خداى ته ئې بې احترامي كړې بايد له قومه وشړل شي... په خپل پټي كې دوه ډوله دانې مه كرئ، دوه جنسه جامې مه اغوندئ...كه چا له وينځي سره زنا وكړه نو كاهن ته دي يو پسه د قربانۍ لپاره وروړي په دې سره به ئې ګناه وبخښل شي... كله چي موعود سيمي ته

ورسېدئ او ډول ډول مېوه لرونکې ونې مو وکرلې نو تر دریو کلونو ئې مېوې مه خورئ چې نجسې دي... د څلورم کال ټول حاصل به زما وي... کاهنان به د هارون له نسله وي... دوی به مړو ته د عادي خلکو په څېر لاس نه وروړي چې نجس کېږي... د سر او ږيرې وېښتان به نه لنډوي...له طلاق شوې ښځې او کونډې سره به نکاح نه کوي، یوازې باکره پېغلې به په نکاح کوي، که نه نو زامن به ئې سپېڅلي نه وي...له کاهنانو پرته به بل څوك د سپېڅلې قربانۍ توکې نه خوري.. دا ټولې خبرې بې بنسټه، د عقل او علم خلاف او له الهي حق دین سره متعارضې خبرې دي.

په دې کې هیڅ شك نشته چې په تورات کې به د الله تعالی لومړی لارښوونه دا وه چې له الله جل شأنه پرته بل معبود نشته، د انسان، حیوان، مارغه او بل څه بت به نه جوړوئ او عبادت به ئې نه کوئ، دا د هر الهي دین اساسي او لومړنۍ خبره ده، خو د بایبل منونکي د بایبل د دغې څرګندې او پرېکنده وینا په خلاف عیسی علیه السلام په الوهیت کې شریك کړی، د ده او د مریمې علیهما السلام مجسمې ئې جوړې کړې، ټولې کلیساوې ئې په دغو مجسمو ډکې دي، کشیشان ئې د دغو مجسمو په وړاندې په ګونډه کېږي، عبادت ئې کوي او مرسته ترې غواړي!! د بایبل د وینا معنی خو دا ده چې چا له الله تعالی سره څوك یا څه شریك کړ، د هغه مجسمه ئې جوړه او د هغه په وړاندې په ګونډه شو له الله تعالی سره ئې دښمني کړې، داسې دښمني چې الله تعالی به ده او د ده درې او څلور پُشته ته سزا ورکوي!!

د بایبل دا خبره هم د دین له بنیادي اساساتو سره ټکر کوي چې خدای تر درې څلور پُشته خپل دښمن ته سزا ورکوي او تر زر پُشته خپل دوست په خپل رحمت او پېرزوینو نازوي!! دا باور او نظر هم د دیني اصولو او باورونو خلاف دئ او هم د عدل او عقل خلاف، ولې به عادل خدای یو چا ته د پلار او غور نیکه په جرم سزا ورکوي؟!! او ولې به د غور نیکه په خاطر د ده کړوسیانو ته نېکه بدله ورکوي که څه هم د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت مستحق نه وي؟!! که داسې وی نو د آدم علیه السلام په زر پُشته اولاد به د الهي رحمت سیوری غوړېدلی وو، خو بایبل په خپله اعتراف کوي چې د آدم علیه السلام په تېرو شپېتو پُشته کې ډېر د الله تعالی له رحمته محروم او په الهي عذاب اخته شوي!!! د بایبل د ادعاء په اساس خو باید د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام په زر پُشته کې د الله تعالی د لعنت او عذاب مستحق اولاد نه راپیدا کېدو!!

مجسمې جوړول او ساتل یا د هغه چا دود دئ چې مشرك شوی او د الله تعالی تر څنګ د بل چا او بل څه لمانځنه کوي، یا د هغه ذلیل انسان چې د شخصیتونو او د ځان په څېر یوه انسان په لمانځنې او ستاینې کې مبالغه کوي؛ او دا هم اکثراً د مادي اغراضو په طمع؛ یا د هغه چا چې په خرافاتو کې غرق دئ، په بېهوده کارونو او مشغولتیاوو کې ښکېل شوی او خپل وخت او امکانات په بېهوده، عبث او بې ګټې شیانو او امورو کې ضائع کوي. د سپېڅلو

توکيو په نامه داسي مجسمې او هغوی ته ورته شيان ساتل او هغوی ته په درواغو کرامات منسوبول په ټولو جاهلو قومونو کې شته، له چا سره سپېڅلې ډبري، له چا سره سپېڅلې جنډې، له چا سره سپېڅلې جامې، له چا سره سپېڅلې مجسمې او ... هر يو يا خلك پرې غولوي، يا خپل ځواکمن دښمن پرې ماتوي او يا خپل غرض او مراد پرې تر لاسه کوي!! د احد په جنگ کې د قريشو فوځ درې زره او د مسلمانانو شمېر اوه سوه وو؛ خو دوی خپله بريا د هبل او عزا په طفيل گڼله او د هبل او عزا مجاورانو دا بريا د دغو بتانو کرامت ته منسوبوله!!

ځينو درنو مفسرينو د دې آيت په تفسير کې د تصوير او انځور په اړه هم تفصيلي بحثونه کړي؛ چا ليکلي چې تصوير په مطلقه توگه حرام دئ، چا ليکلي چې يوازې د ژوو انځورونه جوړول حرام دي، چا ليکلي چې د تعظيم او درناوي په توگه د انځورونو ساتل حرام دي؛ له تعظيم پرته ئې ساتل شرعي مانع نه لري؛ دا اختلاف هم له متعارضو او متضادو رواياتو راولاړ شوی. په قرآن کې نه يوازې د عکس او انځور د حرمت په اړه کوم واضح او صريح حکم نه مومو بلکې ځيني فقهاء د دې آيت په استناد وايي چې که سليمان عليه السلام د پېريانو په لاس تماثيل جوړ کړي نو داسي تماثيل جوړول څه مانع نه لري؛ ممکنه نه ده چې يو څه دې په الهي شريعت کې د يوه پيغمبر په دوران کې حلال وي او په بل دور کې حرام؛ په داسي مواردو کې د ټولو پيغمبرانو شريعت په بشپړه توگه سره ورته دئ.

زه د تحقيق په ترځ کې د تصوير او انځور په اړه دې نتيجې ته رسېدلی يم چې:

- نانځکې ساتل هيڅ مانع نه لري، که څه هم مجسمو ته ورته وي. نور خو پرېږده حتی عائشې رضی الله عنها نانځکې درلودې؛ نه ابوبکر رضی الله عنه ترې منع کړې او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم.
- د غير ذي روح شيانو انځورونه جوړول او ساتل څه مانع نه لري؛ دې ته مو پام وي چې نن د صنعت يوه اساسي او ضروري برخه انځور دئ، هره فابريکه چې څه جوړوي که دا موټر وي، يا طياره يا رېل، يا موټر سيکل، يا کمپيوټر يا بل هر څه؛ نو انجنيران ئې لومړی تصوير جوړوي او بيا د همدې تصوير له مخي هغه شی، يوه انجنير ته له مخکيني انځور پرته د يوه شي جوړول تقريباً شبه محال دئ.
- د تعظيم او درناوي په توگه د انسان انځورونه جوړول او ساتل حرام دي.
- په خپل لاس د داسي انځورونو جوړول او دا ځان ته يوه حرفه، کسب او دنده گرځول ناجائز دي.
- په خپل لاس او د رسامي له لاري انځورنه له اوسنۍ عکاسي او فيلم سره ژور توپيرونه لري، روايات ټول د رسامي په اړه دي، پر اوسنۍ عکاسي او فيلم ئې اطلاق نه شي کېدی. هغه کسان چې د دغو رواياتو په استناد عکاسي حرام گڼي دوی اوسنۍ عکاسي په مخکينۍ رسامي قياسوي، خو دا په بشپړه توگه قياس مع الفارق دئ، د دې او هغه تر منځ ژور توپير

دئ، هغه د انسان د لاس او ذهن زېږنده رسم او تصوير وو، اکثراً د واقع خلاف؛ او په دې کې نه د انسان ذهن څه اغېز لري او نه لاس، دا داسي دئ لکه په هنداري او اوبو کې د چا انځور، کامره له دې پرته بل څه نه کوي چي دغه د هنداري انځور کاغذ او فيلم ته انتقالوي. دې ته بايد متوجه وو چي په دې اړه علماء په دوو ډلو وېشل شوي: هغه چي عکاسي په رسامي قياسوي؛ او هغه چي له دې قياس سره موافق نه دي. د يوه څه د حل و حرمت په اړه حکم صريح نص ته ضرورت لري، د رسامي په اړه روايات د عکاسي په اړه صريح نص نه شو ګڼلی، ځکه د دې دواړو تر منځ ژور توپيرونه شته؛ دې ته مو هم بايد پام وي چي د هر حرمت تر شا يو حکمت مضمر وي؛ مجسمې او د تعظيم لپاره انځورونه؛ د دې لپاره تحريم شوي چي په شرك او بُتپالني منتج کېږي، که داسي نه وی نو هم به د نانځکو جوړول او ساتل تحريم شوي وو او هم داسي انځورونه چي پر فرش وي.

- د ضرورت په صورت کې او د پېژندګلوۍ په موخه د تصوير ساتل او د روا مقاصدو لپاره او په ګټورو چارو کې له فيلم استفاده مانع نه لري؛ د تبليغ، روزني، تربيت او لارښووني په ډګر کې فيلم داسي مهمه او ارزښتناکه وسيله ده چي هيڅ خبير داعي او مصلح ترې انکار نشي کولی، متأسفانه اوس دا وسيله د شريرو او مفسدو ځواکونو په لاس کې پرېوتې او د خلکو د بې لاري کولو په اړه ترې پراخه استفاده کېږي. د نانځکو په بڼې کې هم دين دښمنه ځواکونه ماشومانو ته د بې عفتۍ او بربنډتوب تلقين کوي.
- هغو ته حيران يو چي له يوې خوا سليمان عليه السلام ته د پېريانو په لاس د مجسمو جوړولو ادعاء کوي او ګواکي په مخکيني شريعت کې مجسمې جوړول او ساتل جائز وو؛ له بلي خوا د عکس په اړه داسي فتوی ورکوي چي ګواکي په بشپړه توګه حرام دي، فتوی ئې هم د هغو رواياتو په استناد چي د رسم په اړه دي؛ حال دا چي عکس په رسامي انځور قياسول غلط قياس دئ.

لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ
رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ﴿١٥﴾ فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ
سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن
سِدۡرٖ قَلِيلٖ ﴿١٦﴾ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ﴿١٧﴾
وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ
سِيرُواْ فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ﴿١٨﴾ فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ

أَنفُسَهُمْ فَجَعَلْنَـٰهُمْ أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَـٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَـٰتٍ لِّكُلِّ
صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُۥ فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِٱلْأَخِرَةِ
مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾

يقيناً چې سبأ (والو) ته د دوی په ټاټوبي کې يوه ځرګنده نښه وه، ښي او کيڼ لوري ته (ئې) دوه بڼه، د خپل رب رزق وخورئ او د هغه شکر پر ځای کړئ، ټاټوبی (مو) سُتره او رب (مو) بخښونکی. دوی اعراض وکړ نو موږ د عرم (بند) سېل پرې راوست او د دوی دوه بڼه مو په داسې دوو بڼو وربدل کړل چې بې خونده خواړه (مېوې)، د غز وني او لږ څه بېري ئې درلودې. همدا د دوی سزا وه چې له دې کبله مو ورکړه چې کفر ئې وکړ؛ او آيا موږ له ډېر ناسپاس پرته بل چا ته سزا ورکوو؟ او د دوی او هغو کليو تر منځ مو ځرګند کلي رامنځته کړل چې برکت مو په کې اېښی؛ او په هغوی کې مو تګ مقدر کړی وو، په شپو شپو او ورځو ورځو په دې لارو کې سفر کوئ؛ په داسې حال کې چې په امن کې به وئ، نو وئې ويل: اې زموږ ربه! زموږ په سفرونو کې لرېوالی راوله؛ او پر خپل ځان ئې ظلم وکړ، نو موږ قصې ترې جوړې کړې او په بشپړ خورېدو سره مو خواره واره کړل، يقيناً چې په دې کې هر ډېر صابر او ډېر شاکر ته زياتې ځرګندې نښې دي؛ او يقيناً چې شيطان خپل ګمان پرې رښتينی کړ نو د مؤمنانو له يوې ډلې پرته نورو د هغه متابعت وکړ، پر دوی ئې څه سلطه نه وه مګر دا چې موږ غوښتل پر آخرت ايمان راوړونکي له هغه جوت کړو چې د هغه په اړه په شك کې دئ؛ او ستا رب پر هر څه ساتونکی (څارونکی) دئ.

(١٥-٢١)- په دې مبارکو آيتونو کې پر آخرت د ايمان او عدم ايمان اغېز د سبأ د قوم په يوې عبرتناکې قصې کې څېړل شوی، تفصيل ئې داسې دئ:

- يقيناً چې د سبأ اوسېدونکو ته د دوی په هغه ټاټوبي کې د عبرت يوه ځرګنده نښه وه چې ښی او کيڼ لوري ئې په ښېرازه بڼو سمسور وو، الله تعالی دا فرصت ورکړی وو چې د خپل رب رزق وخوري او د هغه شکر پر ځای کړي، ټاټوبی ئې سُتره او پاکيزه او خپل رب پرې مهربان او بخښونکی.
- دوی اعراض او سرغړاوی وکړ، نو الله تعالی له دغو نعمتونو محروم کړل، هغه بند ونړېدو چې له کبله ئې د دوی ټاټوبی ښېرازه او سمسور وو، دروند ورانوونکی سيلاب پرې راغی، کلي ئې وران او کورونه ئې نسکور شول او وني او فصلونه ئې ونړېدل، يوه او بل

لوري ته په بشپړه توګه خواره واره شول، هغه سمسور باغونه ئې په داسي دوو بڼو بدل شول چي مېوې ئې بې خونده او ونې ئې يا د غز ونې وې يا د بېري.

• همدا د دوی هغه سزا وه چي وجه ئې کفر او د الله تعالی د نعمتونو په وړاندي ناسپاسي وه؛ او دا ثابت الهي سنت دئ چي د ناسپاس ولس په اړه هرومرو تحقق مومي.

• الله تعالی بشپړ امن ورپه برخه کړی وو، تجارتي سفرونه ئې خوندي او مصئون ول، د دوی تجارتي قافلې به هم د شپې له لوري په ډاډ او اطمئنان سره تر شام او فلسطين پوري تلې راتلې او هم د ورځې له لوري، په دې اوږدې لارې کې ځای ځای داسي کلي جوړ شوي وو چي د کاروانونو تمځايونه ګڼل کېدل، له يوه کلي به لا ډېر لري نه وو تللي چي بل کلی به په نظر ورغی، دا په هر تمځای کې د کليو رامنځته کېدا يوه الهي پېرزوينه وه چي له کاروانيانو سره ئې زياته مرسته کوله او د دوی ستونزي ئې رفع کولې.

• خو کله چي دوی د ظلم لار غوره کړه، نو له هغو الهي نعمتونو محروم شول، لنډ، آرام، آسان او مصئون سفرونه ئې اوږده، ستونزمن او ناامن شول، حالت ئې داسي وو لکه چي دوی په خپله له الله تعالی غوښتي وي چي زموږ سفرونه اوږده کړه!! نو داسي عبرتناکه سزا ورکړی شوه چي د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت قصه ترې جوړه شوه، په بشپړ خورېدو سره خواره واره شول. ځيني شام او اردن ته ولاړل او ځيني د عربو نورو سيمو ته، اَوْس او خزرج هم د دغه قوم دوه قبيلې وې چي له سبأ يثرب ته ولاړې او هلته مېشت شوې.

• يقيناً چي په دې قصې کې هر ډېر صبرناك او ډېر شکر کوونکي انسان ته څرګندي عبرتناکې نښې دي. ځوك چي د نعمتونو د وفرت په حال کې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوي، د شيطاني وسوسو او د نفسي غوښتنو په وړاندي استوار ودرېږي او د صبر لمن کلکه نيسي او له خپل حد او حق آخوا پښه نه ږدي، هغوی ته په دې عبرتناکې قصې کې د پند او عبرت ډېري نښې دي.

• هغه شيطان خپل ګمان پرې رښتينی کړ چي د خپل رب له حکم د بغاوت په ورځ ئې ويلي وو: ستا ډېری بندګان به بې لاري کړم، لږ به ئې شاکر وومې!! همداسي وشول، د مؤمنانو له يوې ډلې پرته نورو د همدې شيطان متابعت وکړ، پر دوی ئې څه سلطه نه وه، خو الله تعالی غوښتل پر آخرت ايمان راوړونکي معلوم او له هغو ئې بېل کړي چي د آخرت په اړه په شك کې دي، انسان ئې داسي پيدا کړی چي کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي او شيطان ته ئې دا مجال ورکړی چي د انسان د غولولو او بې لاري کولو په ډګر کې خپل زور وآزمويي، په دې توګه به په آخرت باور کوونکي له هغو بېلېږي چي د شيطاني وسوسو له کبله د آخرت په اړه شك کوي.

• او دا ټول له دې امله چي ستا رب پر هر څه څارونکی دئ. د هر چا حال ته په پام سره له هغه سره مناسبه او عادلانه معامله کوي.

سبأ د يوه سړي نوم وو، اولاد ئې په همدې نامه ياد شو، په هغې سيمي کې مېشت ول

چې اوس د یمن په نامه یادېږي، مرکزي ښار ئې د مآرب په نامه يادېدو چې له اوسني صنعاء شاوخوا درې فرسخه لرې پروت وو.

قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُۥ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

وواېه: له الله پرته چې پر چا (د معبود) گمان کوئ (مرستي ته ئې ) دروبلئ، (دوی) نه په آسمانونو کې د ذرې برابر څه په واك کې لري او نه په زمکې کې؛ او نه په دوی دواړو کې کوم شراکت لري او نه د ده په وړاندي کوم ملاتړی لري؛ او نه د ده په وړاندي شفاعت گټه رسولی شي مگر هغه چا ته چې اجازه ورکړي، تر هغه چې له زړونو ئې وېره وايستل شي وبه وايي: ستاسو رب څه ويلي؟ وايي به: حق؛ او هغه ستر لوړ دئ.

(٢٢-٢٣)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې مشرکینو ته ووايي:

له الله پرته چې پر هر چا او هر څه د معبود گمان کوئ هغه مرستي ته دروبلئ، په دې پوه شئ چې دا کاذب معبودان په هېڅ څه کې ستاسو مرسته نه شي کولی، هغوی نه په آسمانونو کې د ذرې برابر څه په واك کې لري او نه په زمکې کې، نه د دې دواړو په کوم څه کې له الله تعالی سره شريك دي، نه د الله تعالی په وړاندي داسي څوك موندلی شئ چې ستاسو ملاتړی شي؛ او نه داسي څوك موندلی شئ چې د الله تعالی په وړاندي د هغه شفاعت کومه گټه درورسوي، دا شفاعت به يوازي هغه څوك کولی شي چې الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړي او هغه چا ته به داسي شفاعت گټه رسولی شي چې الله تعالی غوښتي وي. د قیامت په ورځ به حالت داسي وي چې د سختي وېرې او هيبت له کبله به هيڅوك د څه ويلو توان نه لري، يوازي هغه مهال به د څه ويلو امکان تر لاسه کړي چې د هيبت او وېرې حالت پای ته ورسېږي، کله چې د دوی له زړونو وېره وايستل شي ورته وبه ويل شي: ستاسو رب څه ويلي وو؟ هغه مهال به له ځنډ پرته اعتراف کوي چې د الله تعالی ټولي ويناوي حق وې، د قیامت په اړه چې د الله تعالی پيغمبرانو څه ويلي وو مصداق ئې نن په خپلو سترگو گورو، د الله تعالی په سترِوالي او لوړوالي به اعتراف کوي.

قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوۡ إِيَّاكُمۡ لَعَلَىٰ هُدًى
أَوۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٤﴾ قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ أَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا تَعۡمَلُونَ
﴿٢٥﴾ قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلۡ أَرُونِيَ
ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم بِهِۦ شُرَكَآءَۖ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٧﴾

ووایه: څوك له آسمان او زمکې روزي درکوي؟ ووایه: الله، نو یا موږ او یا تاسو به په هدایت (او سمې لارې روان) یو یا په ښکاره ګمراهۍ کې، ووایه: له هغو جرمونو چې موږ کړي وي تاسو نه پوښتل کېږئ او موږ له هغه څه نه پوښتل کېږو چې تاسو ئې کوئ، وواېه: زموږ رب به مو سره یو ځای کوي، بیا به په حق سره زموږ تر منځ پرېکړه کوي او هغه ښه پوه پرېکړه کوونکی دئ. وواېه: هغه راوښیئ چې د شریکانو په توګه مو ورسره نښلولي، هیڅکله داسې نه ده؛ هغه باحکمت عزتمن دئ.

(۲۴-۲۷)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې مشرکینو ته ووایي:

- هغه څوك دئ چې له آسمان او زمکې روزي درکوي؟ آیا له الله تعالی پرته بل داسې څوك شته چې له آسمان د اوبو په ورولو او له زمکې د دانې او مېوې په راټوکولو کې څه برخه او اغېز ولري؟
- یا به د الله تعالی په اړه زموږ وینا او باور صحیح وي او یا ستاسو ادعاء، یا د هغه چا وینا چې وایي الله یو دئ او شریك نه لري او یا د هغه چا چې ادعاء کوي الله تعالی شریکان لري، که خبره داسې وي چې د آسمانونو او زمکې په هیڅ څه کې هیڅوك له الله تعالی سره شریك نه دئ، نه د باران په ورولو کې او نه د دانې او مېوې په راټوکولو کې، نو یقیناً هغه څوك په بشپړه توګه لار ورکی دئ چې مشرك دئ او له الله تعالی پرته بل معبود لمانځي.
- نه تاسو زموږ له جرمونو پوښتل کېږئ او نه موږ ستاسو له کړنو، ولې زموږ مزاحمت کوئ؟ ولې مو زموږ دښمنۍ ته ملا تړلې ده؟
- الله تعالی به موږ او تاسو د قیامت په ورځ سره یو ځای کوي، بیا به زموږ تر منځ په حق سره پرېکړه کوي او هغه ښه پوه پرېکړه کوونکی دئ.
- هغه ذوات راوښیئ چې تاسو د الله تعالی په څنګ کې ودرولي او د هغه شریکان مو ګرځولي، کوم یو ئې په څه کې د الله تعالی شریك دئ؟!! ستاسو ادعاء خوشې او بې بنسټه ده، الله تعالی شریك نه لري، هغه باحکمت عزتمن دئ، نه د پوهې او حکمت له پلوه کوم شریك ته اړ دئ او نه د ځواك او توان له پلوه، شریك ته هغه څوك اړ کېږي چې یا ئې پوهه او حکمت ناقص وي او یا ئې زور او ځواك.

قُلْ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلْحَقْتُم بِهِۦ شُرَكَآءَ ۖ كَلَّا ۚ بَلْ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَآ
أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ
﴿٢٨﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا
تَسْتَـْٔخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾

او ته مو نه يې لېږلی مګر د ټولو خلکو لپاره د بشارت ورکوونکي او انذار ورکوونکي په توګه خو ډېری خلك نه پوهېږي؛ او وايي: (د قيامت) دا وعده به کله وي که رښتيني يئ؟ ووايه: تاسو ته داسي نېټه ټاکل شوې چي نه يو ساعت ترې وروسته کېدی شئ او نه وړاندي کېدی شئ.

(٢٨-٣٠)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته مو ټولو خلکو ته د بشير او نذير په توګه لېږلی يې، ستا دنده دا ده چي مؤمنانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکړې او هغه د خپل کفر له بدو پايلو وويروې چي پر آخرت ايمان نه راوړي. ډېری خلك داسي دي چي د ناپوهۍ له کبله ستا پر رسالت له ايمان راوړو ډډه کوي او وايي: د قيامت د راتګ نېټه به کله وي که رښتيني يئ؟ دوی نه پوهېږي چي د پيغمبر دنده دا نه ده چي خلکو ته د قيامت نېټه وښيي، له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي چي قيامت به کله راځي، هغو ته چي پر قيامت باور نه لري او راتګ ئې محال ګڼي؛ ووايه: تاسو ته داسي نېټه ټاکل شوې چي نه يو ساعت ترې وروسته کېدی شئ او نه وړاندي کېدی شئ.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ وَلَا بِٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ
ٱلظَّٰلِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ٱلْقَوْلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ
ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ لَوْلَآ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟
لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوٓا۟ أَنَحْنُ صَدَدْنَٰكُمْ عَنِ ٱلْهُدَىٰ بَعْدَ إِذْ جَآءَكُم ۖ بَلْ كُنتُم
مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ بَلْ مَكْرُ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ إِذْ
تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ وَأَسَرُّوا۟ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ۚ
وَجَعَلْنَا ٱلْأَغْلَٰلَ فِىٓ أَعْنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ

﴿٣٣﴾

او هغو چې كفر ئې كړی ووېل: نه به هيڅكله پر دې قرآن ايمان راوړو او نه پر هغه چې ترې وړاندې دئ؛ او كاش هغه مهال وګورې چې ظالمان د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي په داسې حال كې چې ځيني ئې ځينو نورو ته دا وينا ورګرځوي چې په ضعف كې ساتل شوي به هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: كه تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان وو، هغه چې لويي ئې غوښتله هغو ته چې په ضعف كې ساتل شوي وو، وايي: آيا موږ له هدايت منع كړئ له هغه وروسته چې درته راغی؟! نه؛ بلكې تاسو په خپله مجرمين وئ؛ او هغه چې ضعف ئې غوښتل شوی وو هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: نه؛ بلكې ستاسو هغه د شپې او ورځې مكر ئې (سبب وو) چې موږ ته به مو امر كولو چې د الله په اړه كفر وكړو او سيالان ورته وټاكو؛ او كله چې عذاب وګوري (خپل) ندامت به پټ كړي؛ او د هغو په غاړو كې به زنځيرونه واچوو چې كفر ئې كړی، آيا له هغه پرته چې كول ئې د بل څه سزا وركول كېږي؟!

(٣١-٣٣)- په دې مباركو آيتونو كې له يوې خوا د كافرانو دا وينا راوړل شوې چې وايي: نه پر قرآن ايمان راوړو ته تيار يو او نه پر هغو چې تر قرآن وړاندې ول، د دوی حالت داسې دئ چې په هيڅ توګه پر الهي كتابونو ايمان راوړلو ته تيار نه دي، له بلې خوا د دوی هغه عبرتناك حالت انځور شوی چې د قيامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندې د ودرېدو په وخت كې به ئې لري، هغه مهال چې دا ظالمان به د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي په داسې حال كې چې ځيني به ئې ځينو نورو ته په دې توګه وينا ورګرځوي چې په ضعف كې ساتل شوي به هغو ته چې لويي ئې غوښتله وايي: كه تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان شوي وو، تاسو له ايمان راوړلو منع كړو، د دوی په ځواب كې به هغه چې لويي ئې غوښتله وايي: آيا موږ له هدايت منع كړئ له هغه وروسته چې درته راغی؟! نه؛ بلكې تاسو په خپله مجرمين وئ، موږ له ايمان راوړلو نه يئ منع كړي په خپله ګنهګار او مجرم وئ، مستضعفين (هغه چې ضعف ئې غوښتل شوی وو) مستكبرينو ته (هغو ته چې لويي ئې غوښتله) وايي: نه بلكې ستاسو هغه د شپې او ورځې مكر له ايمان راوړلو منع كړي وو چې موږ ته به مو امر كولو چې د الله په اړه كفر وكړو او سيالان ورته وټاكو، د دوی تر منځ به دا لانجه تر هغه روانه وي او يو به بل ملامتوي چې عذاب راڅرګند شي، د عذاب له راڅرګندېدو سره سم به پټه خوله شي، نه به يو بل ملامتوي او نه به خپل ندامت څرګندوي، دا ځكه چې د عذاب رعب او هيبت به دا مجال ترې سلب كړي چې يو پر بل اعتراض وكړي، دا مهال به د هغو په غاړو كې زنځيرونه واچول شي چې د كفر لار ئې غوره كړې وه، د خپلو عملونو مناسبه سزا به وګوري، دوی د نورو په غاړو كې زنځيرونه اچولي وو، هغوی ئې د غلامانو په توګه ساتلي ول، له سمې لارې ئې منحرف كړي ول نو نن به د دوی د مخكينيو كړنو مطابق سزا وركړی

شي او زنځيرونه به ئې په غاړو کې واچول شي.

د قرآن له دې وينا معلومېږي چې دلته د مستکبرينو (لويي غوښتونکو) اصطلاح د هغو مذهبي مشرانو لپاره غوره شوې چې د شرك مبلغين او حاميان ول، جاهل عوام به ئې شرك ته بلل او د الله له لارې به ئې منحرف کول؛ او مستضعفين (هغه چې ضعف او ناتواني ئې غوښتل شوې) د هغو جهل ځپلو او شرك وهلو عوامو لپاره کارول شوې چې د دغو مذهبي مشرانو تقليد ئې کولو او د دوی په لومو کې نښتي ول.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾

او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی (پيغمبر) نه دئ لېږلی مگر دا چې مترفينو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توگه له هغه څه منکر يو چې تاسو ورسره لېږل شوي يئ؛ او وئې ويل: موږ (تر نورو) زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو!

(٣٤-٣٥)- په دې مبارك آيت کې د انبياءو په وړاندې د هغو وگړو دريځ انځور شوی چې د ټولني حاکم اجتماعي، سياسي، اقتصادي او مذهبي جوړښت دوی ته سوکالي او تر نورو زيات امتيازات ورپه برخه کړي، يو ئې واکمن دئ، بل ئې شتمن دئ، بل ئې قومي مشر دئ، بل ئې مذهبي مشر دئ، هر يو ئې له خپل خپل موقعيت گټه اوچتوي او امتيازات تر لاسه کوي، چا له سياست دام جوړ کړی، چا له مذهب دکان، چا له خپل اجتماعي وجاهت د خلکو پر اوږو د سپرېدو وسيله، چا ته د عوامو جهل گټور دئ او چا ته په شرك او خرافاتو کې د ولس پرېوتل، دوی نه غواړي دا حالت بدل شي، نو ځکه د هر هغه چا مخالفت ته ملا تړي چې په ټولني کې له فکري، ديني، مذهبي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي پلوه تبديلي غواړي، قرآن دا حالت په خپلو ښکلو او موجزو الفاظو سره داسي انځور کړی: هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی نه دئ لېږلی مگر دا چې مترفينو ئې (هغو چې سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توگه له هغه څه منکر يو چې تاسو ورسره لېږل شوي يئ، يعني ستاسو له رسالت منکر يو؛ او وئې ويل: موږ تر نورو زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو! گورئ چې د (مال) او (اولاد) ډېرښت د پيغمبرانو عليهم السلام له رسالت سره تضاد او مخالفت ته هڅولي او همدا د (مال) او (اولاد) ډېرښت د فلاح او نجات معيار او ملاك گڼي، وايي: که موږ د الهي عذاب وړ وی نو الله به تر نورو زيات مال او پلويان نه راکول!!!

قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ

﴿وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ إِلَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَزَآءُ ٱلضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ٣٧ وَٱلَّذِينَ يَسۡعَوۡنَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ٣٨ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٣٩﴾

ووایه: یقیناً زما رب چا ته چي وغواړي رزق پراخوي او محدودوي، خو د خلکو ډېری نه پوهېږي؛ او ستاسو مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چي زموږ خوا ته مو د نژدې والي په حقیقي معنی نژدې کوي، مګر هغه چي ایمان راوړي او نېك عمل وکړي؛ نو دوی ته د خپلو کړنو له کبله غبرګه بدله ده او همدا دوی به په دنګو ماڼیو کي خوندي اوسي؛ او هغه چي زموږ د آیتونو په اړه د عاجزوونکو په توګه هڅه کوي همدا دوی به په عذاب کي حاضر کړی شوي وي. ووایه: یقیناً چي زما رب چي له خپلو بندګانو هر چا ته وغواړي روزي پراخوي او ورته محدودوي ئې؛ او کوم څه چي تاسو (د الله په لار کي) انفاقوئ نو هغه ئې معاوضه ورکوي او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ.

(۳٦-۳۹)- په دې مبارکو آیتونو کي د هغو مستکبرینو او مترفینو (واکمنو او شتمنو) غلطي انګېرني تردید شوې چي خپلي واکمني او شتمني د پیغمبرانو علیهم السلام مخالفت ته هڅولي او د (مال) او (پلویانو) ډېرښت د ښه والي معیار ګڼي، دوی ته ویل شوي:

- د رزق او روزي ورکړه د الله تعالی له لوري ده، دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چي چا ته څومره رزق ورکړي، د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د ده له لوري او د خاص الهي حکمت له مخي کېږي، خو د خلکو ډېری نه په دې پوهېږي چي د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د رزاق خدای له لوري کېږي او نه په دې چي دا پرېکړه د خاص الهي حکمت له مخي وي، هغه خلك څومره ناپوه او جاهل دي چي د دې د حقیقت له درك عاجز دي، ولي دې ته پام نه کوي چي د رزق ټول اسباب او وسائل د الله تعالی په واك کي دي، باران د ده په حکم له آسمانه ورېږي او دانې، مېوې او بوټي د ده په اراده له زمکي راټوکېږي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چي د یوې سیمي د خلکو رزق دي پراخ او زیات وي که محدود او لږ، ډېر او ګټور باران دي پرې ووربږي که لږ او بې وخته، د دوی فصلونه دي ښېرازه او سمسور وي که مړاوي او ژېړبخن. خو دې ته مو باید په جدي او دقیقه توګه پام وي چي د خلکو ظالمانه وېش او په الهي نعمتونو کي د دوی ناعادلانه تصرف د الله تعالی د

وېش په معنی تعبیر نه کړئ، که چا د ظلم او د نورو په حق کې د تېرې له لارې زيات مال او دولت او د رزق زيات اسباب او ذرائع تر لاسه کړي وي داسې نه چې دا الله تعالی ته منسوب کړئ، دا کار يا هغه څوك کوي چې ناپوه او جاهل وي او يا هغه څوك چې خپلې ناروا شتمنۍ د الله تعالی له لورې پر ده يوه پېرزوينه ګڼي!! په پورتنيو آيتونو کې دغو دوارو ډلو ته اشاره شوې او دا د دغو دوارو ډلو غلطه انګېرنه ګڼل شوې.

- قرآن د دوی په رد کې فرمايي: ستاسو مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چې تاسو د الله تعالی خوا ته د نژدې والي په حقيقي معنی نژدې کوي، دا تقرب او نژدې والی يوازې د هغه چا په برخه کېږي چې ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، دوی ته به د خپلو کړنو له کبله غبرګه بدله ورکول کېږي او د جنت په دنګو دنګو ماڼيو کې به په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره اوسي. او هغه چې الهي وعد او وعيد تکذيبوي او هڅه کوي چې له مؤمنانو سره د الله تعالی د وعدو او د کافرانو په اړه د ده د وعيد مخنيوی وکړي او د هغوی د تحقق په وړاندې خنډونه راولاړ کړي په الهي عذاب به اخته کېږي.
- په داسې حال کې چې د رزق د پراخوالي او تنګوالي پرېکړه د الله تعالی له لورې کېږي، د هر انسان په واك کې چې لږ يا ډېر رزق دئ په حقيقت کې د الله تعالی له لورې ورکړی شوی، خو که همدا انسان دغه د الله تعالی له لورې ورکړی شوی رزق د ده په لار کې لګوي نو هغه ئې بدله او معاوضه ورکوي.
- الله تعالی تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ، خپله روزي له ده وغواړئ او له هغو جائزو او روا لارو ئې ولټوئ چې د الله تعالی له لورې درته ټاکل شوې.

---

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾
قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم
مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ
ظَلَمُوا۟ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾

او هغه ورځ چې دوی ټول راغونډ کړي بيا فرشتو ته ووايي: آيا دغو خلکو ستاسو عبادت کولو؟ وبه وايي: پاکې تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندې مولا يې، بلکې دوی د پېريانو (شيطانانو) بندګي کوله، د دوی ډېری پرې باوري ول، نو نن به نه ځيني ځينو نورو ته کومه ګټه په واك کې لري او نه کوم تاوان؛ او هغو ته به ووايو چې ظلم ئې کړی: د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو دروغجن ګڼلو.

---

(٤٠-٤٢)- د قيامت په ورځ او هغه مهال چې مشرکين د الله تعالی په وړاندې حاضر کړی

شي، الله تعالی به فرشتو ته ووايي: آيا مشركينو ستاسو عبادت كولو؟ هغوی به وايي: پاكي تا لره ده، ته مو د دوی په وړاندې مولا يې، دوی زموږ نه بلكې د شيطانانو بندګي كوله، د دوی ډېری پر هغوی باوري ول، هغه ورځ به دوی ته جوته شي دغو جعلي معبودانو نه دوی ته كومه ګټه په واك كې درلوده او نه كوم تاوان، د جهل او ناپوهۍ له كبله ئې له هغوی د ګټې رسولو او تاوان دفع كولو طمع درلوده، هغه ورځ به دغو مشركينو ته چې هم ئې پر ځان ظلم كړی وو او هم د خپل رب په اړه؛ وويل شي: د هغه اور عذاب وڅكئ چې تاسو دروغجن ګڼلو.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٞ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمۡ عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُكُمۡ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٞ مُّفۡتَرٗىۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَمَا بَلَغُواْ مِعۡشَارَ مَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ فَكَذَّبُواْ رُسُلِيۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾

او كله چې زما څرګند آيتونه پرې ولوستل شي وايي: دا له داسې سړي پرته بل څوك نه دئ چې غواړي تاسو له هغه څه منع كړي چې ستاسو پلرونو لمانځل؛ او وايي: دا له دروغجني افتراء پرته بل څه نه دي؛ او هغو چې كفر ئې كړی د دې حق (دين) په اړه هغه مهال چې دوی ته راغی وويل: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، دوی ته مو نه داسې كتابونه وركړي چې دوی ئې لولي او نه مو تر تا وړاندې دوی ته كوم خبرداری وركوونكی لېږلی؛ او هغو هم دروغ وګڼلو چې تر دوی وړاندې ول؛ او د هغه څه لسمې ته هم نه دي رسېدلي چې هغوی ته مو وركړي وو او زما استازي ئې تكذيب كړل نو (آيا پوهېږئ چې) زما انكار څنګه وو؟!

(٤٣-٤٥)- دلته د هغو مشركينو وضعيت انځور شوی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ورسره مخامخ وو، په دې توګه:

• كله چې د قرآن څرګند آيتونه واوري نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه د دوی وينا او قضاوت دا وي: دا خو همغه سړی دئ چې غواړي تاسو له خپل پلرني دين او مذهب واړوي او د هغو معبودانو له لمانځلو مو منع كوي چې ستاسو پلرونو لمانځل؛ او د قرآن د لارښوونو په اړه كله وايي چې: دا له دروغجني افتراء پرته بل څه نه دي؛ او كله بيا وايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!! كله ادعاء كوي چې قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی كتاب نه بلكې رسول الله صلی الله عليه و سلم له ځانه جوړ كړی او الله تعالی ته ئې

منسوب کړی!! او كله د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت ژور اغېز ته په پام سره وايي: دا له څرگند جادو پرته بل څه نه دئ!!

• دوی په هيڅ الهي کتاب باور نه لري، نه داسي کتابونه ورکړی شوي چي دوی ئې لولي او نه تر رسول الله صلی الله عليه و سلم وړاندي په دوی کې کوم پيغمبر مبعوث شوی، مخالفت ئې له رسول الله صلی الله عليه و سلم او قرآن سره هيڅ ديني بنسټ نه لري.

• هسي پر خپلو شتمنيو مغرور دي، تر دوی وړاندي داسي قومونو پيغمبران تکذيب کړي چي قريش ئې په دوړو پسي هم نشي رسېدلی، قريش د هغه څه لسمي ته هم نه دي رسېدلي چي هغوی ته ورکړی شوي وو، خو راشئ تاريخ ته رجوع وکړئ او وگورئ چي د پيغمبرانو د تکذيب له کبله له کوم دردناك برخليك سره مخامخ شول، قريشو ته دې ته ورته برخليك منتظر دئ.

قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ﴿٤٦﴾ قُلۡ مَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٞ ﴿٤٧﴾ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلۡ إِن ضَلَلۡتُ فَإِنَّمَآ أَضِلُّ عَلَىٰ نَفۡسِيۖ وَإِنِ ٱهۡتَدَيۡتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٞ قَرِيبٞ ﴿٥٠﴾

ووايه: يوازي په يوې خبري پند درکوم چي د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو ملگری په کوم لېونتوب نه دئ اخته شوی، هغه فقط تاسو ته تر يوه سخت عذاب وړاندي خبرداری درکوونکی دئ، ووايه: که مي کوم اجر درنه وغوښت هغه دي ستاسو وي، زما اجر يوازي پر الله دئ؛ او هغه پر هر څه گواه دئ، ووايه: يقيناً چي زما رب په دقيقه او سمه توگه نښه ولي په پټو (اسرارو) ډېر ښه پوه دئ، ووايه: حق راغی؛ او باطل (معبودان) نه څه پيلولی شي او نه ئې اعاده کولی شي، ووايه: که زه بې لاري شوی وم نو يوازي د ځان په ضرر به بې لاري شوی وم؛ او که هدايت شوی وم نو دا د هغي وحي له کبله دي چي زما رب ئې راته کوي، يقيناً چي هغه نژدې اورېدونکی دئ.

(٤٦-٥٠)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي مخالفينو ته ووايي:

• يوازې په يوې خبرې پند درکوم او هغه دا چې د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو مخالفت هيڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوی چې زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ، لږ له خپلو تعصباتو، دود پالنو او جاهلانه حميت گوښه شئ او په سړه سينه او شفاف ذهن زما د بلنې په اړه غور وکړئ.

• ښه پوهېږئ چې ستاسو ملگری (رسول الله صلی الله عليه و سلم) نه پېرياني شوی او نه په لېونتوب اخته دئ، د کينې او رخې له مخې هغه ته دا نسبتونه کوئ، وجه ئې دا ده چې هغه ستاسو په تگلارو او کړنلارو نيوکې کوي او پايلې ئې خطرناکې گڼې، تاسو ته د هغه سخت عذاب راتلو خبرداری درکوي چې ستاسو د تگلارو طبيعي سزا او پايله ده.

• له تاسو هيڅ طمع نه لرم، هيڅ مادي او معنوي بدله نه غواړم، که مې له تاسو د خپل دعوت په بدل کې کوم اجر وغوښت هغه دې ستاسو وي، زما اجر يوازې پر الله دئ.

• زما رب پر هر څه گواه دئ، هم زما حالت گوري او هم ستاسو.

• يقيناً چې زما رب په دقيقه او سمه توگه نښه ولي، د هر څه په اړه د ده وينا دقيقه او رښتينې وي، داسې لکه ماهر غشی ويشتونکی چې سم او په دقيقه توگه هدف په نښه کوي، د غيبي امورو په اړه چې څه وايي په بشپړه توگه صحيح وي، دا ځکه چې هغه په پټو اسرارو ډېر ښه پوه دئ.

• دا دئ حق درته راغی، رښتينې وينا همغه ده چې قرآن ئې تاسو ته وايي، د قرآن خلاف هره وينا باطله وينا ده، له الله تعالی پرته بل معبود نشته، نور معبودان باطل معبودان دي، باطل معبودان نه څه پيلولی شي او نه ئې بېرته اعاده کولی شي، له الله تعالی پرته داسې څوك نشئ په گوته کولی چې د څه پيدا کولو او بېرته اعاده کولو توان ولري.

• که زه بې لارې شوی وم نو يوازې د ځان په ضرر به بې لارې شوی وم او که هدايت شوی وم نو دا د هغې وحې له کبله دې چې زما رب ئې راته کوي، زما د هدايت او ضلالت په اړه تاسو نه پوښتل کېږئ، ولې زما مخالفت کوئ؟ څه زيان مې دررسېدلی؟ ولې مې خپلې مخې ته نه پرېږدئ؟

• يقيناً چې زما رب نژدې اورېدونکی دئ، هم زما د کړنو شاهد او د ويناوو اورېدونکی دئ او هم ستاسو د کړنو او ويناوو.

---

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ فَزِعُواْ فَلَا فَوۡتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٥١﴾

او ای کاش هغه مهال وگورې چې وېرې اخيستي وي، نو د خلاصون (امکان) هم نه وي او له نژدې ځای ونيول شي!!

---

(٥١)- په الهي عذاب د کافرانو د اخته کېدو پر مهال او د قيامت په ورځ به د دوی حالت داسې وي چې سختې وېرې به خپل وزر پرې غوړولی وي، د خلاصون هيڅ مجال او امکان

به نه مومي، له نژدې واټن به ونيول شي، هغه عذاب چې دوی لري او محال ګڼلو ډېر ژر او د دوی له يوې او بلې خوا به پرې راپرېوځي.

وَقَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٢﴾ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۖ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ مَا يَشۡتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشۡيَاعِهِم مِّن قَبۡلُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ فِي شَكّٖ مُّرِيبِۭ ﴿٥٤﴾

او وايي به: ايمان مو پرې راوړ، حال دا چې له لرې واټن به څنګه دوی ته دا لاس رسی وي؟! په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه کفر کړی وو؛ او له لرې واټن په غياب کې ويشتل کوي؛ او د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چې دوی ئې تلوسه کوي؛ همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، يقيناً چې هغوی په دوکه کوونکې شك کې ول.

(٥٢-٥٤)- د قيامت په ورځ او هغه مهال چې د حق منکرين او مخالفين له الهي عذاب سره مخامخ شي او هغه حقائق په خپلو سترګو وګوري چې پيغمبرانو به دوی ته ويل او دوی به انکار کولو؛ نو وبه وايي: ايمان مو پرې راوړ، خو هغه مهال به دا ايمان دوی ته هيڅ ګټه نه رسوي، هغه مهال به له هغه ځای ډېر لرې وي چې ايمان ګټه رسوله، له دومره لرې واټن به څنګه هغه ايمان ته لاس رسی ولري؟! په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه کفر کړی وو.

د دوی مثال هغه چا ته ورته دئ چې له لرې واټن د داسې هدف په لوري غشي ولي چې ترې پټ دئ، هغه چا ته ورته دي چې په تياره کې او په پټو سترګو د نامعلوم هدف په لوري کاڼي شړي، آيا داسې کس هدف په نښه کولی شي؟! له دوی سره به دې ته ورته چلن کېږي، د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چې دوی ئې تمناء کوي، غشي به ئې پر هدف نه لګېږي، خپل مراد ته به رسېدلی نه شي، همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، ټول نامراده ولاړل، پرته له دې چې شيطاني هيلې ئې تر سره شي. يقيناً چې هغوی په دوکه کوونکې شك کې ول.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# فاطر

## د سورې پېژندنه:

دا مبارکه سوره په دوو معروفو نومونو یاده شوې: (فاطر) او (الملائکة)، دواړه نومونه د همدې سورې د لومړي آیت له دغې برخې (ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ..) اخیستل شوي، پنځه څلوېښت آیتونه لري، له لومړي آیت تر اته دېرشم پورې د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (قدیر) او د درېیم آیت (تؤفکون) ته ورته دي، له نه دېرشم تر پای پورې (خساراً) ته ورته دي. د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنیو کلونو کې نازل شوې. د سورې له متن معلومېږي چې هغه مهال له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د قریشو مخالفت زیات او تشدید شوی وو.

د سورې د بحث اصلي او محوري موضوعات دا دي:

- په لومړیو آیتونو کې ویل شوي: ټولې ستاینې له الله تعالی سره ښايي. هغه چې د آسمانونو او زمکې پنځوونکی او پیدا کوونکی دئ، هر څه ئې داسې پیدا کړي چې تر لومړي پیدایښت وړاندې هیڅ نه وو. هغه چې فرشتې ئې د پیغام رسوونکو په توګه ګمارلې دي. څه چې غواړي په پیدایښت کې زیاتوالی ورکوي، نوي نوي مخلوقات پیدا کوي، یوه ته پر بل د پیدایښت له پلوه وړاندې والی او زیاتوالی ورکوي. پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ. الله تعالی چې د خلکو لپاره د رحمت کومه دروازه پرانیزي نو هیڅوک ئې بندولی نشي؛ او چې بنده ئې کړي نو هیڅوک ئې پرانیستلی نشي. هغه باحکمت عزتمن دئ.
- بیا خلکو ته ویل شوي: د خپل منعم رب نعمتونه په یاد ولرئ، پاس ئې کوئ، دې ته مو پام وي چې کوم رزق له آسمان یا زمکې درکول کېږي نو له الله تعالی پرته بل داسې خالق نشته چې د هغوی په درکولو کې څه ونډه او برخه ولري.
- ورپسې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوې ډاډېینې او اطمئنان په توګه ویل شوي: که نن د حق دښمنان ستا مخالفت کوي او تا او ستا دعوت تکذیبوي نو تر تا وړاندې له نورو پیغمبرانو سره هم دې ته ورته چلن شوی.
- بیا د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي: د الله وعده رښتینې ده، حتماً به په خپل ټاکلي وخت تحقق مومي، نو نه دې دنیوي ژوند تاسو د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه وغولوي او

نه دا غولوونکی شیطان.

• ورپسې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې د هغو خلکو د مخالفتونو په اړه زیاته اندېښنه او د دوی ایمان نه راوړولو له کبله حسرت مه کوه چې شیطان هغوی ته خپل بد عملونه مزین کړي او ښکلي ورته ښکاري، د دوی هدایت او لار ورکتوب د هغو الهي سننو مطابق دي چې تغییر او بدلون نه مومي، الله تعالی هغه چا ته د هدایت توفیق ورکوي چې د هدایت ووړتیا ولري او هغه څوك په تیارو کې پرېږدي چې د رڼا لوري ته د تلو تلوسه نه لري، الله تعالی د دوی ځانګړتیاوو او وړتیاوو ته په پام سره دا پرېکړه کوي چې په سمي لار د تلو توفیق ورکړي او که د کفر په تیارو کې د دوی د پاته کېدو پرېکړه وکړي او د رڼا په لوري د تلو توفیق ورنه کړي، ته خپل مأموریت تر سره کړه، د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، دا الله تعالی ته پرېږده چې له دوی سره څه وکړي، الله تعالی ښه پوهېږي چې دوی څه کوي او د کومې سزا وړ دي.

• ورپسې د خلکو هدایت او لارښوونه او په یوې ټولني کې د دعوت اغېز له دې سره تشبیه شوي چې پر وچ او سپېره ډاګ د پسرلي ګټور باران ووربېږي، د زمکې له زړه تازه بوټي راوټوکېږي او په همدې سره له هغه سپېره ډاګ ښېرازه او سمسور ورشو جوړ شي.

• بیا ویل شوي: څوك چې عزت غواړي باید متوجه وي چې عزت یوازي د الله تعالی په خوا کې موندلی شي، په بل ځای کې عزت نشي تر لاسه کولی، دا ځکه چې عزت په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ.

• بیا ویل شوي: الله تعالی تاسو له خاوري پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي مګر د ده له علم سره سم؛ او نه د کوم عمروال عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

• ورپسې د انسان پام هغو دریابونو او سمندرونو ته اړول شوی چې تر منځ ئې ژور توپیرونه شته، یو ئې خوږ، تنده ماتوونکی او خښاك ئې خوندور؛ او بل ئې مالګین او تریو، له هر یوه د ډول ډول کبانو تازه غوښه خورئ او هغه غمي راباسئ چې ځان ته ګاڼې ترې جوړوئ؛ او کښتۍ ګورې چې په سیندونو او سمندرونو کې داسې توندي او تېزي درومي چې د اوبو څپې څیري او وړاندي ځي، الله تعالی دا ټول فرصتونه او امکانات د دې لپاره تاسو ته مهیا کړي چې د الهي نعمتونو او د خپل رب د فضل په لټولو او تر لاسه کولو کې ستاسو مرسته وکړي او دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب د نعمتونو شکر پرځای کړئ.

• ورپسې ویل شوي: د رزق او روزي ورکړه او د چا د عزت او سرلوړۍ پرېکړه د هغه مالك الملك الله له لوري کېږي چې شپه او ورځ د هغه په اراده ځي راځي، لکه څنګه چې شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې، له الله تعالی پرته نه بل څوك د لمانځني وړ دئ او نه د استعانت او مرستي غوښتلو وړ، یوازي له هغه ذات مرسته وغواړئ چې شپه په

ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې.

- بيا خلکو ته ويلي شوي: تاسو په هر څه کې الله تعالی ته اړ يئ، هم په خپل پيدايښت کې او هم په خپل رزق او روزي کې؛ او الله تعالی نه يوازې له دې عيب منزه دئ چې په کوم څه کې چا ته اړ وي بلکې په ذات او صفاتو کې د ټولو ستاينو وړ دئ، که وغواړي ټول انسانان به له منځه يوسي او د دوی پر ځای به نوی مخلوق پيدا کړي، نه د دوی له منځه وړل الله تعالی ته گران کار دئ او نه د بل مخلوق پيدايښت.
- بيا ويل شوي: د قيامت په ورځ به هر څوك د خپلو گناهونو پېټی پر خپلو اوږو وړي، هيڅوك به نشي کولی له بل سره په دې اړه څه مرسته وکړي او پېټی ئې ورسپك کړي، که د کوم گنهگار د گناهونو پېټی دومره درونډ وي چې له وړلو ئې عاجز او د بل مرستې ته اړ وي او له نورو مرسته وغواړي هيڅوك به ئې مرسته نشي کولی، هيڅوك به ئې پېټی نشي ورسپکولی، که څه هم د هغه نژدې خپلوان وي.
- بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده له لارې هر داعي ته لارښوونه شوې چې له هر مخاطب د ملگرتيا او له حق سره د توافق طمع او توقع مه کوئ، ځيني مخاطبين د جهل، بد ذهن، مړ ضمير، ځپل شوو عواطفو او مشاعرو له پلوه داسې پړاو ته رسېدلي وي چې يا ړندو ته ورته وي يا هغو ته چې په تيارو کې پراته وي او يا په قبرونو کې پرتو مړو ته، دوی د حق او باطل تر منځ تفکيك نشي کولی، د سمې او کږې لارې له پېژندو عاجز وي، د ښې او بدې وينا په توپير نه پوهېږي، د دوی د مخالفت او ايمان نه راوړلو له کبله مه مأيوس کېږئ، لکه څنگه چې ړوند او سترگور، تيارې او رڼا، سيوری او د غرمې تودوخه، مړي او ژوندي نشي سره برابرېدی، همدا راز هغه چې د ايمان راوړلو استعداد په کې ځپل شوی، ضمير ئې مړ او د وجدان حساسيت ئې خفه شوی د هغه چا په څېر نشي کېدی چې د حق پېژندلو او ايمان راوړلو وړتيا لري، ضمير ئې ويښ او انساني مشاعر او عواطف ئې ژوندي او حساس دي، له هغه چا د حق وينا اورېدلو او منلو طمع مه کوئ چې مړو ته ورته دي، هغه چې د الهي سننو له مخې دا وړتيا نه لري چې الله تعالی د حق وينا اورېدلو توفيق ورکړي.
- بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې ستا دنده دا ده چې خلك د کفر له بدو پايلو وويروې، ته يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې، د دوی د هدايت او عدم هدايت پرېکړه د الله تعالی له لورې او د خاصو الهي سننو مطابق کېږي. دا لومړی ځل نه دئ چې الله تعالی کوم قوم ته پيغمبر لېږي او هغوی د الله تعالی رسول تکذيبوي، تر دې وړاندې هيڅ داسې امت نه دئ تېر شوی چې د الله تعالی له لورې کوم پيغمبر نه وي ورلېږل شوی. که دا خلك تا تکذيب کړي نو هغو هم مخکيني پيغمبران تکذيب کړل چې تر دوی وړاندې ول، په داسې حال کې چې پيغمبرانو ئې څرگندې نښې، صحيفې او روښانه کتابونه وروړل. الله تعالی د حق هغه مخالفين په خپل عذاب اخته کړي چې د کفر او انکار لار ئې غوره

کړې وه او د پیغمبرانو مخالفت ئې کړی. تاریخ ته رجوع وکړه او وګوره چې پر منکرینو د الله تعالی له لوري نازل شوي عذابونه څنګه ول او د پیغمبرانو مخالفین له کوم بدمرغه برخلیك سره مخامخ شوي!!

• بیا د توحید اړوند څو عمیق او مضبوط دلائل وړاندې شوي، په دې کې قرآن خپل مخاطب ته وایي: آیا نه ګورې چې الله تعالی له آسمان اوبه ورویې او بیا په دغو اوبو سره له ځمکې داسې ډول ډول مېوې راباسي چې رنګونه ئې مختلف او بېل بېل دي، دا د ځمکې او آسمان تر منځ ژور تنسیق او همغږي د چا په اراده رامنځته شوې؟ دا کوم خلاق ذات دئ چې له خاورې خوندورې رنګیني مېوې جوړوي، هغه هم نه یو ډول مېوه او په یوه رنګ کې بلکې ډول ډول مېوې چې هم په خوند کې ژور توپیرونه لري، هم په شکل او بڼې کې او هم په رنګ کې؟ دا خو هر عقلمن ناظر ته په جګ غږ وایي: د دغو خوندورو، رنګینو او ښکلو مېوو پیدایښت هرومرو د یوه داسې علیم، حکیم او خلاق ذات کار دئ چې هم آسمان د ده تر واك او حکم لاندې دئ او هم ځمکه.

• بیا د هغو کسانو څو ځانګړتیاوې بیان شوې چې الله تعالی د دوی د کړنو قدرونه کوي، بشپړ اجر ورکوي، زیاتې پېرزویني پرې کوي او ګناهونه ئې بخښي، د دوی ځانګړتیاوې دا دي: د الله تعالی کتاب لولي، لمونځ قائموي او له هغه څه چې الله تعالی ورکړي په پټه او ښکاره توګه انفاق کوي.

• بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: کوم کتاب چې تا ته درکړی شوی رښتینی کتاب دئ، ټول هغه الهي کتابونه تصدیقوي چې تر ده وړاندې نازل شوي. الله تعالی خبیر او بصیر دئ، هم د خپلو بندګانو له ظاهر او باطن خبر دئ او هم ئې کړنې ګوري.

بیا ویل شوي: د قرآن وارثین په دریو ډلو وېشل شوي:

الف- ځیني ئې د ایمان او نېك عمل تر څنګ خطاګانې او ګناهونه هم لري، کله کله له سمې لارې کاږه شوي او په دې توګه ئې پر خپل ځان ظلم کړی او په الهي عذاب ئې اخته کړی.

ب- ځیني ئې منځ لاري دي، د منځنۍ درجې وګړي دي، که څه هم له سمې لارې ښي او کیڼ لوري ته نه دي کاږه شوي خو هغه لوړې پوړۍ ته نه دي رسېدلي چې د لومړۍ درجې بریالیو په ډلې کې محسوب شي.

ج- ځیني ئې د ښېګڼو په لور تلوار کوونکي دي، تر ټولو وړاندې او له اخلاقي، فکري او معنوي پلوه لوړو پوړو ته رسېدلي.

• بیا ویل شوي: د کتاب دا وارثین به له هغې الهي محاسبې وروسته تلپاتې جنتونو ته ننوځي چې د قیامت په ورځ به تر سره کېږي، له هرې ډلې سره د دوی د کړنو ته په پام سره مناسبه محاسبه، په داسې حال کې چې هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسوندیو سینګار کړی شي او جامې به ئې وریښمنې وي.

• بیا د کافرانو وضعیت په دوزخ کې داسې انځور شوی: هغه چې کفر ئې کړی د دوزخ اور

به ئې په برخه شي، نه به د دوی په اړه دا پرېکړه کېږي چې ومري او نه به د دوزخ له ډول ډول عذابونو کوم عذاب ترې کمېږي، الله تعالی به دا سزا هر ناسپاس انسان ته ورکوي، په دوزخ کې به چیغې وهي: اې زموږ ربه! ترې ومو باسه چې نېك عمل وکړو، له هغه عملونو متفاوت چې موږ کولو!!

• بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: له مشرکانو وپوښته چې ستاسو هغو معبودانو چې له الله پرته ئې ځانځئ او مرسته ترې غواړئ د زمکې څه ئې پیدا کړي او یا ئې په آسمانونو کې څه شرکت په برخه دئ، د آسمانونو په کوم څه کې له الله تعالی سره شریك دي، د زمکې د کوم څه په پیدایښت کې څه ونډه لري او د آسمان کوم څه د دوی په واك کې دي، د آسمانونو او زمکې کوم څه تاسو ته درکولی او یا له تاسو سپمولی شي؟!! آیا د شرك لپاره کوم نقلي دلیل لرئ؟ داسې کوم آسماني کتاب موندلی شئ چې شرك توجیه کړي او کوم دلیل او برهان په لاس درکړي؟! یعني دا مشرکین د خپل شرك لپاره نه کوم عقلي دلیل لري او نه نقلي دلیل، نه په آسمان او زمکې کې داسې څه په ګوته کولی شي چې شرك توجیه کړي او نه داسې الهي کتاب ښودلی شي چې د مشرکینو لپاره مستمسك شي، د دوی د شرك اصلي وجه دا ده چې یو د بل له لوري دوکه شوی، ټګمارو مذهبي مشرانو د دوی ناپوهان او جاهلان غولولي.

• بیا ویلي شوي: آسمانونه او زمکه د الله تعالی په واك کې دي، هغه ئې اداره کوي او د زوال مخه ئې نیسي، که هغه وغواړي چې زمکه زائل شي نو په ټول عالم کې به له ده پرته داسې څوك ونه مومئ چې تم ئې کړي او د زوال مخه ئې ونیسي، خو الله تعالی حلیم او بخښونکی دئ، له خپلو بندګانو سره د دوی د کړنو او چلن له مخې معامله نه کوي، بلکې د (حلم) او (غفران: بخښنې) له مخې معامله کوي، که داسې نه وی نو د دوی د عصیان او بغاوت له کبله به ئې دا آسمانونه پرې رانسکور کړي وو او زمکه به ئې زائل کړې وه.

• بیا ویل شوي: دغو مشرکینو د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندې کلك کلك قسمونه کول چې که کوم پیغمبر ورته راشي نو تر ټولو نورو امتونو به زیات هدایت او په سمې لار تلو ته چمتو شوي وو، خو کله چې پیغمبر ورته راغی نو دې راتګ په دوی کې یوازې یو شی زیات کړ چې له حق تېښته ده، آیا دا د حق دښمنان او د پیغمبر له ملتیا تښتېدونکي په زمکې کې نه دي ګرځېدلي او د تېر تاریخ پاڼې ئې نه دي اړولې چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، هغه چې د ځواك له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي او ځواکمن ول، هغه چې په الهي عذاب اخته شوي، نه خپل زور او ځواك له دې عذاب ژغورلي او نه ئې مکر او تدبیر، نه ئې په آسمانونو کې داسې څوك موندلی وو چې په مرسته ئې د الله تعالی پرېکړې وځنډوي او د عذاب مخه ئې ونیسي او نه په زمکې کې، د دوی کلکې نیونې او د الهي عذاب په وړاندې د دوی د زور، ځواك او تدبیر شنډېدا وښوده چې الله تعالی هم قدیر او توانمن دئ او هم علیم او پوه. که د حق مخالفینو ته فُرصت

ورکول کېږي نو دا مهلت او فُرصت دي دوی نه غولوي، دا دي د خپل زور، ځواك او تدبیرونو حاصل او نتیجه نه گڼي، په دې دي پوه وي چي دا مهلت پای لري، نه بدلېدونکی پای، وخیم او دردناك پای.

په پای کي ویل شوي: که الله تعالی غوښتی چي خلك د هغو گناهونو له کبله مؤاخذه کړي چي دوی کړي نو د زمکي پر سر به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو الله تعالی د خپل پراخ رحمت او بې سارې پېرزویني له امله دوی ته مهلت او فرصت ورکوي او تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢

ستاینه الله ته ده، د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، د هغو فرشتو استازي گرځوونکی چي د دوه گونو، درې گونو او څلور گونو وزرونو والي دي، چي څه غواړي په پیدایښت (مخلوقاتو) کي ئې زیاتوي، یقیناً چي الله پر هر څه په بشپړه توگه قادر دئ، الله چي د رحمت کومه برخه د خلکو لپاره پرانیزي نو هیڅ بندوونکی ئې نشته او څه چي بند کړي نو له ده وروسته ئې هیڅ لېږونکی نشته؛ او هغه باحکمت عزتمن دئ.

---

(۱-۲)- په دې مبارکو آیتونو کي الله تعالی داسي ستایل شوی:

- ټولي ستایني له ده سره ښایي.
- د آسمانونو او زمکي پنځوونکی او پیدا کوونکی دئ، هر څه ئې داسي پیدا کړي چي تر لومړي پیدایښت وړاندي هیڅ نه وو.
- هغه فرشتې ئې د پیغام رسوونکو په توگه گمارلې دي چي دوه گوني، درې گوني او څلور گوني وزرونه لري.
- څه چي غواړي په پیدایښت کي زیاتوالی ورکوي، په دوه تعبیره: ۱- نوي نوي مخلوقات پیدا کوي او پر مخکینیو ئې زیاتوي، ۲- یوه ته پر بل د پیدایښت له پلوه وړاندي والی او زیاتوالي ورکوي. دا دوهم تعبیر په دې دلیل ارجح دئ چي له مخکیني مضمون سره ژور او نژدې تړاو لري، تر دې وړاندي د ډول ډول فرشتو یادونه شوې چي ځیني ئې تر ځینو نورو

د وزرونو د شمېر له پلوه وړاندي والی او زياتوالی لري.

- يقيناً چي الله پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ.
- الله تعالی چي د خلکو لپاره د رحمت کومه دړه پرانيزي نو هيڅوك ئې بندولی نشي؛ او چي بنده ئې کړي نو هيڅوك ئې پرانيستلی نشي.
- هغه باحکمت عزتمن دئ.

دلته د فرشتو د دندي په اړه ويل شوي چي پيغامونه رسوي او د دوی د جوړښت په اړه ويل شوي چي دوه ګوني، درې ګوني او څلور ګوني وزرونه لري. وزر د الوت نښه ده او شمېر ئې د سرعت نښه، يعني فرشتې د الله تعالی د پيغامونو د ابلاغ او د اوامرو د تعميل لپاره د آسمان او زمکي تر منځ تګ راتګ کوي، د ځينو سرعت لږ او د ځينو زيات دئ، دلته د نورو متشابه آيتونو په څېر وزر په مجازي معنی راغلی، په هغې معنی ئې نه شو تعبيرولی چي د مرغانو وزر ته ئې ورته وګڼو، نه فرشتې د مرغانو په څېر دي او نه ئې وزرونه، د فرشتو وزر ته په هغه سترګه مه ګورئ چي د مرغانو وزر ته ګورئ، دې ته په پام سره چي په روايت کې راغلي چي جبرئيل عليه السلام شپږ سوه وزرونه لري، نو دا دوه ګوني، درې ګوني او څلور ګوني وزرونه هم د وزرونو د شمېر محدوديت نه بلکې د هغوی سرعت او عظمت په ګوته کوي، الله تعالی ځيني داسي پيدا کړې چي د سترګو په رپ کې خپل کار ته ځان رسوي او ځيني تر هغوی ورو درومي، هره ډله په خپل ټاکلي وخت خپله دنده تر سره کوي. روايت داسي دئ:

**... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِى قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذی**

... مسروق وايي: عائشې رضی الله عنها ته ورغلم ومي ويل: آيا محمد (عليه السلام) خپل رب ليدلی؟ وئې ويل: داسي خبره دي وکړه چي وېښتان مي ورته ځيږ شول، ومي ويل: لږ حوصله وکړه، بيا مي دا آيت تلاوت کړ (.... لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ويل: چېري ئې بېولی يې؟ دا خو جبرئيل وو، چا چي درته وويل: محمد (عليه السلام) خپل رب ليدلی، يا ئې له هغه وحي کوم څه پټ کړي چي پر ابلاغ ئې مأمور شوی؛ او يا په هغو پنځو شيانو پوهېږي چي الله تعالی د هغوی په اړه فرمايلي: (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ...) نو ستره بدغونې خبره ئې کړې (ستر دروغ ئې ويلي)، خو هغه جبرئيل ليدلی، په

خپلې اصلي بڼې کې ئې يوازې دوه ځلې ليدلی، يو ځل په سدرة المنتهی کې او بل ځل په جياد کې، شپږ سوه وزرې ئې وې، ټول افق ئې پوښلی وو.

دې ته مو پام وي چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له رحلت وروسته ځينې غلط افکار او باورونه په مسلمانانو کې خواره شول، ځينو خلکو به ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی، ځينو نورو به ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې يا پټه ساتلې يا ئې ځينو خاصو وګړو ته ويلې، ګواکې وحي په قرآن کې نه راخلاصه کېږي، ځينو نورو به ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم په غيب پوهېدو!! عائشې رضی الله عنها دغو غلطو او د قرآن خلاف افکارو او باورونو د ترديد لپاره مسروق رضی الله عنه ته پورتنۍ خبرې کړې، د هغې د ويناوو معنی دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم نه خپل رب په خپلو سترګو ليدلی، نه له قرآن پرته داسې وحي شته چې له خلکو ئې پټه ساتلې وي او نه پر غيب پوهېدو.

په دې اړه له علي رضی الله عنه هم پوښتنه شوې او ورته ويل شوي: آيا د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اهل بيت کې له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل کتاب (ليکنه) هم شته؟ د پوښتنې موخه دا وه چې آيا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسې وحي هم شوې چې تا يا کوم بل خاص کس ته ئې ويلې وي او په قرآن کې د هغې يادونه نه وي شوې؟ روايت داسې دئ:

**عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ قَالَ لاَ، إِلاَّ كِتَابُ الله؛ او فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ؛ او مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ قُلْتُ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعُقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. (بخاری:١١١)**

له ابو جحيفه روايت دئ چې وايي: علي رضی الله عنه ته مې وويل: آيا کوم خاص کتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب؛ او هغه پوهه چې يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي او هغه څه چې په دې پاڼې کې دي، وايي: ورته ومې ويل: نو په دې پاڼې کې څه دي؟ وئې ويل: د ديت حکم، د اسير آزادول او دا چې مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کېږي.

---

**يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣**

اې خلکو! پر تاسو د الله (پېرزو شوی) نعمت ياد کړئ، آيا له الله پرته بل کوم خالق شته چې تاسو ته له آسمان او ځمکې روزي درکوي؟ له ده پرته بل معبود نشته، نو له کومه دوکه کېږئ؟

(٣)- په دې مبارك آيت كې خلكو ته ويل شوي چې د خپل منعم رب نعمتونه په ياد ولرئ، پاس ئې كوئ، دې ته مو پام وي چې كوم رزق له آسمان يا زمكې دركول كېږي نو له الله تعالى پرته بل داسې خالق نشته چې د هغوى په دركولو كې څه ونډه او برخه ولري، نه له آسمان د باران او واورې په ورولو كې او نه له زمكې د دانې او مېوې په راټوكولو كې له الله تعالى پرته بل څوك څه ونډه لري، آيا له الله پرته بل كوم خالق شته چې تاسو ته له آسمان او زمكې روزي دركوي؟ له ده پرته بل معبود نشته، نو سره له دې څنګه او ولې دوكه كېږئ؟!!

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٤﴾

او كه تا تكذيب كړي نو يقيناً چې تر تا وړاندې پيغمبران تكذيب شوي؛ او كارونه د الله لورې ته راجع كېږي.

(٤)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د يوې ډاډېينې او اطمئنان په توګه ويل شوي چې كه نن د حق دښمنان ستا مخالفت كوي او تا او ستا دعوت تكذيبوي نو تر تا وړاندې له نورو پيغمبرانو سره هم دې ته ورته چلن شوى، هغوى هم د همدغو څواكونو له لورې له مخالفت او تكذيب سره مخامخ شوي، بايد ډاډه او مطمئن وې چې د حق او باطل تر منځ د تصادم او ټكر پايلې د بل چا له لورې نه بلكې يوازې د الله تعالى له لورې ټاكل كېږي، ټول كارونه هغه ته راجع كېږي او د پايلو پرېكړه ئې يوازې د ده له لورې كېږي. پايله ئې نه د دښمنانو د مخالفت په څرنګوالي پورې تړلې ده او نه د دوى په زور او څواك پورې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٥﴾ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُواْ حِزْبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾

اې خلكو! يقيناً چې د الله وعده رښتينې ده، نو نه دې دنيوي ژوند تاسو غولوي او نه د الله په اړه هغه غولوونكى (شيطان)، يقيناً چې شيطان ستاسو دښمن دئ نو دښمن ئې وبولئ، هغه خو خپله ډله يوازې دې ته بلي چې د دوزخيانو په ډلې كې وي، هغه چې كفر ئې كړى سخت عذاب به د دوى (په برخه) وي؛ او هغه چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي د دوى به بخښنه او ستر اجر (په برخه) وي.

(٥-٧)- خلكو ته ويل شوي: د الله وعده رښتينې ده، حتماً به په خپل ټاكلي وخت تحقق

مومي، نو نه دي دنيوي ژوند تاسو د الله تعالی او د هغه د وعدو په اړه وغولوي او نه دا غولوونکی شيطان، په دې دي پوه وئ چي شيطان ستاسو دښمن دئ، د دښمن په سترگه ورته وگورئ، د هغه خوښه او هڅه دا ده چي خپله ډله د دوزخيانو په صف کي ودروي، بلنه ئې د هغو کارونو په لوري ده چي په دوزخ منتج کېږي. غواړي چي تاسو د کفر لار غوره کړئ، څوك چي کافر شي سخت عذاب به ئې په برخه شي؛ او هغه چي ايمان راوړي او نېك عملونه وکړي بخښنه او ستر اجر به ئې په برخه شي.

أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ۝٨

آيا هغه چي خپل بد عمل ورته مزين کړی شوی او ښکلی ورته ښکاري، نو يقيناً چي الله هغه څوك بې لاري کوي چي دی ئې غواړي او د هغه لارښوونه کوي چي دی ئې غواړي، نو ستا خپل ځان دي پر دوی د حسرت له کبله له منځه نه ځي، يقيناً چي الله په هغه څه ښه پوه دئ چي دوی ئې کوي.

(٨)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي د هغو خلکو د مخالفتونو په اړه زياته اندېښنه او د ايمان نه راوړولو له کبله ئې حسرت مه کوه چي شيطان هغوی ته خپل بد عملونه مزين کړي او ښکلي ورته ښکاري، د دوی هدايت او لار ورکتوب د هغو الهي سننو مطابق دي چي تغيير او بدلون نه مومي، الله تعالی هغه چا ته د هدايت توفيق ورکوي چي د هدايت وړتيا ولري او هغه څوك په تيارو کي پرېږدي چي د رڼا لوري ته د تلو تلوسه نه لري، نه ستا تلوسه او تلوار گټه وررسوي او نه حسرت او افسوس. ځيني خلك په تيارو کي داسي ډوب شي چي نه يوازي د خپلو بدو عملونو په بدوالي د پوهېدو توان او توفيق له لاسه ورکړي بلکي خپل بد عملونه، گنده اخلاق، خرافي افکار، غلط عقائد او کرکجني ويناوي ورته ښه او ښکلي ښکاري، د دوی د هدايت په اړه نه د زړه سواند داعي هڅي څه نتيجه ورکوي او نه د حکيم مبلغ وعظ او نصيحت.

دا مبارك آيت يو ځل بيا موږ ته وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د خلکو د هدايت په اړه دومره تلوسه درلوده او په جهل، شرك او کفر کي د دوی پاته کېدا دومره ځورولو چي نژدې وه د ده په سختي بېماري او مړيني منتج شي.

د آيت په پای کي دا وينا (يقيناً چي الله په هغه څه ښه پوه دئ چي دوی ئې کوي) دوه مطلبه افاده کوي: ١- الله تعالی د دوی عملونو ته په پام سره دا پرېکړه کوي چي په سمي لاري د تلو توفيق ورکړي او که د کفر په تيارو کي د دوی د پاته کېدو پرېکړه وکړي او د رڼا په لوري د تلو توفيق ورنه کړي، ٢- ته خپل مأموريت تر سره کړه، د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، دا الله تعالی ته پرېږده چي له دوی سره څه وکړي، الله تعالی ښه پوهېږي چي دوی

څه کوي او د کومې سزا وړ دي.

وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَـٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَـٰهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ﴿٩﴾

او الله هغه ذات دئ چې بادونه ئې راولېږل چې ورېځې خوځوي، نو د مړه ټاټوبي په لور مو بوتلې، بيا مو زمکه د هغې له مړينې وروسته پرې راژوندۍ کړه، خورېدا (بیاژوندون) به همداسې وي.

(۹)- په دې مبارك آيت کې د خلکو هدايت او لارښوونه او په يوې ټولنې کې د دعوت اغېز له دې سره تشبيه شوې چې پر وچ او سپېره ډاګ د پسرلي ګټور باران وورېږي، د زمکې له زړه تازه بوټي راوټوکېږي او په همدې سره له هغه سپېره ډاګ ښېرازه او سمسور ورشو جوړ شي، وايي: الله تعالى هغه ذات دئ چې بادونه رالېږي او په دې سره ورېځې خوځوي، دا ورېځې د مړه ټاټوبي په لور بيايي، په دې ورېځ سره زمکه د هغې له مړينې وروسته راژوندۍ کوي، نشور (بیاژوندون) به همداسې وي. که څه هم د قرآن په ځينو آيتونو کې د قيامت د ورځې بیاژوندن د (نشور) په نامه ياد شوی او هغه د مړې زمکې له راژوندۍ کېدو سره تشبيه شوی، خو دلته د آيت سياق و سباق ته په پام سره نشور هغه معنوي ژوندون افاده کوي چې د ايمان له کبله د خلکو په برخه کېږي، قرآن کفر له مرګ سره تشبيه کوي او ايمان له ژوندون سره، دا ځکه چې د کفر له کبله د انسان ټول مشاعر او عواطف مري، د ضمير او وجدان حساسيت ئې ځپل کېږي، ايمان د هغه ټولو انساني مشاعرو ته ځلا وربخښي، ويښ ضمير او حساس وجدان ورپه برخه کوي، دلته د بحث موضوع د قيامت بیاژوندون نه بلکې هغه معنوي ژوندون دئ چې د هدايت له کبله د يوه انسان او ټولنې په برخه کېږي، په مخکينيو آيتونو کې له يوې خوا داسې څوك انځور شوی چې د خپلو بدو او کرکجنو کړنو بدوالی او ګنده والی نشي احساسولی او له بلې خوا هغه څوك چې د نورو د بدو کړنو له کبله دومره ځورېږي چې نژدې ده غمونه او اندېښنې ئې له پښو وغورځوي!! دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی چې اندېښنې پرېږده، الله تعالى به په دغې شرك ځپلې او جهل وهلې مړې ټولنې کې ستا د دعوت په طفيل ځلاندي ځېرې او د ژونديو زړونو او حساس ضمير خاوندان را پيدا کړي. همغسې لکه چې په يوه باران سره سپېره ډاګ په سمسور ورشو بدلوي.

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّـٰلِحُ يَرْفَعُهُۥ ۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ وَمَكْرُ أُو۟لَـٰٓئِكَ

هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾

څوك چې عزت غواړي نو (پوه دې شي چې) عزت ټول له الله سره دئ، د ده لوري ته پاکه وينا بر درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي؛ او هغه چې بدې کړنې د تدبير په توګه کاروي سخت عذاب ئې په برخه دئ؛ او د دوی مکر شنډېدونکی دئ.

(١٠)- په دې مبارك آيت کې ويل شوي: څوك چې عزت غواړي بايد متوجه وي چې عزت يوازې د الله تعالى په خوا کې موندلی شي، په بل ځای کې عزت نشي تر لاسه کولی، د عزت ورکړه د ده له لوري وي، دا ځکه چې عزت په بشپړه توګه له الله تعالى سره دئ. د عزت اصلي اسباب دوه دي: پاکه وينا او صالح عمل، يوازې په دې سره انسان کولی شي د عزت لوړو څوکو ته ورسېږي، دا ځکه چې پاکه وينا د الله تعالى په لوري لوړه درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي، نو رفعت، لوړوالی او عزت يوازې له دغې لارې تر لاسه کېدی شي، څوك چې غواړي له نورو لارو عزت تر لاسه کړي، بدې کړنې او ناروا تګلارې د تدبير په توګه کاروي چې له دې لارې عزت ته ورسېږي هغه دې پوه وي چې د عزت پر ځای به ئې شديد الهي عذاب په برخه شي او تدبيرونه به ئې شنډ او بې حاصله شي. دلته د (والعملُ الصالحُ يرفعُه) دوه د اعتناء وړ ژباړې کېدی شي: ١- الله تعالى صالح عمل ته لوړوالی ورکوي او ٢- صالح عمل مؤمن بنده ته رفعت او لوړوالی ورکوي. په دې دواړو کې لومړۍ ژباړه مناسبه برېښي.

په دې سره هغو وګړو ته لارښوونه شوې چې د عزت په لټه کې په غلطو لارو درومي، دوی ته ويل شوي: تاسو عزت ته د رسېدو په موخه داسې لارې غوره کړې چې هيڅکله په عزت نه منتهي کېږي، څه چې تاسو له الله تعالى لرې کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالى په لوري تلو سره په حقيقت کې د عزت او شرف په لوري درومئ. يعني له الله تعالى د بخښنې په غوښتلو او د الله په لوري رجوع سره به نه يوازې د آسمان او زمکې د برکتونو دروازې ستاسو پر مخ پرانيستی شي، الله تعالى به ستاسو اموال او اولاد درزيات کړي او ستاسو ممد به ئې وګرځوي، بلکې عزت او سر لوړۍ ته به ورسېږئ. نو تاسو ولې د هغه عزت او وقار هيله نه کوئ چې اصلي مالك ئې الله تعالى دئ او پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟!! ولې له غير الهي لارو عزت ته د رسېدو هيله کوئ؟ !

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ﴿١١﴾

**او الله تاسو له خاوري پيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځينه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي مگر د ده له علم سره سم؛ او نه د کوم عمروال عمر ورزياتېږي او نه ئې عمر کمېږي مگر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.**

(۱۱)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- الله تعالی انسانان له خاوري پيدا کړي، يعني د انسان د پيدايښت لومړی ماده او لومړی حالت خاوره ده، له خاوري هغه توکي جوړېږي چې د انسان د مور او پلار په بدن کې هغه نطفه ترې جوړه شي چې له يوځای کېدو ئې د انسان پيدايښت د يوې مختلطي نطفې په توگه پيل شي.
- د انسان د پيدايښت دوهم پړاو او حالت هغه دئ چې د يوې مختلطي نطفې بڼه غوره کړي.
- دې نطفې ته يا د يوه نارينه انسان بڼه او جوړښت ورکړی شي يا د ښځينه، په دې توگه انسانان جوړه جوړه پيدا کېږي.
- نه کومه ښځينه څه په خپل رحم کې حمل کوي او نه ئې زېږوي مگر د الله تعالی له علم سره سم، په دوه تعبيره: ۱- الله تعالی پوهېږي چې دا ښځينه انسان او حيوان په خپل رحم کې څه ساتلي او څه زېږوي، ۲- دا د نوي مخلوق جوړښت او زېږېدا د هغه حکيمانه منصوبې له مخي تر سره کېږي چې عليم رب وضع کړې. دوهم تعبير له مضمون سره زيات مناسبت لري او له ورپسې فقرې سره اړخ لگوي.
- د چا د عمر زياتېدا او لږېدا د هغو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي چې الله تعالی له وړاندي وضع کړي او د مقدراتو په کتاب کې ئې ليکلي، په دې کې هيڅ بدلون نه راځي.
- الله تعالی ته دا کار آسان دئ چې د هر مخلوق مقدرات له وړاندي وضع کړي او په هغوی کې د هرراز تغيير او بدلون مخه ونيسي.

که دې مبارك آيت ته لږ ځير شئ نو يو بل مهم مطلب هم په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې معلومېږي او هغه دا چې د انسان لومړی جوړه له يوې نطفې جوړه شوې، دلته الله تعالی فرمايي چې تاسو مو لومړی له خاوري، بيا له يوې نطفې پيدا کړئ او بيا مو جوړه جوړه پيدا کړئ، يعني د انسان پيدايښت لومړی له خاوري د يوې نطفې په بڼه کې پيل شوی او بيا ئې د زوج زوج پيدا کېدو لړۍ پيل شوې. له دې مبارك آيت څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بيا له دغي نطفې د ده جوړه پيدا شوې. يعني هغه (واحد نفس) دغه له خاوري جوړه شوې نطفه وه چې له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) پيدا کړه او بيا له دغي جوړې د ده

د نسل د پیدا کېدو لړۍ پیل شوې.

د دې مبارك آیت له دغه قاطع او صریح بیان سره سره چې څوك په دې خبرې کې شك کوي چې د آدم علیه السلام پیدایښت له نطفې پیل شوی او گمان یا ادعاء کوي چې لومړی د آدم علیه السلام مجسمه جوړه شوې بیا روح په کې پو کړی شو، هغه به په قرآن باور نه لري او د الله تعالی د قول په مقابل کې به د بل چا قول ته اعتبار ورکوي!! څوك چې له دې پرته بله رأیه وړاندې کوي د قرآن له دې څرگند آیت سره مخالفت کوي.

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى ٱلْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾

دا دوه سمندرونه سره برابر نه دي: دا یو خوږ، تنده ماتوونکی او ښناك ئې خوندور؛ او دا بل مالگین او تریو؛ او له هر یوه تازه غوښه خورئ او هغه گاڼه راباسئ چې پر تن کوئ ئې؛ او کښتۍ په کې گورې چې څیرووونکې دي د دې لپاره چې فضل ئې ولټوئ او چې شکر وکړئ.

(١٢)- دلته د انسان پام هغو دریابونو او سمندرونو ته اړول شوی چې تر منځ ئې ژور توپیرونه شته، یو ئې خوږ، تنده ماتوونکی او ښناك ئې خوندور؛ او بل ئې مالگین او تریو، له هر یوه د ډول ډول کبانو تازه غوښه خورئ او هغه غمي راباسئ چې ځان ته گاڼې ترې جوړوئ؛ او کښتۍ گورې چې په سیندونو او سمندرونو کې داسې توندې او تېزې درومې چې د اوبو څپې څیرې او وړاندې ځي، الله تعالی دا ټول فرصتونه او امکانات د دې لپاره تاسو ته مهیا کړي چې د الهي نعمتونو او د خپل رب د فضل په لټولو او تر لاسه کولو کې ستاسو مرسته وکړي او دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب د نعمتونو شکر پرځای کړئ.

دلته د دې موضوع وضاحت هم ضروري برېښي چې یوه ډله ادعاء کوي: په قرآن کې ټول احکام نه دي راغلي، ځیني احکام داسې دي چې یوازې ئې په احادیثو کې موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وایي: په قرآن کې یوازې هغه غوښه حلاله گڼل شوې چې د ذبحې پر مهال ئې د الله تعالی نوم یاد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحې حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آیت نه بلکې د پیغمبر علیه السلام حدیث دئ، په ډېر زور شور سره وایي: راوښیئ د قرآن کوم آیت دا استثناء جائز گڼې؟!! دوی ته په ځواب کې وایو: په قرآن کې دا استثناء شته خو څه وکړو چې تاسو نه یئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د (لحماً طریاً) یعنې تازه غوښې په نامه یاد کړی او دا ښیې چې ماهي د تازه او پاکې غوښې حکم لري، پیغمبر علیه السلام د قرآن دغې وینا ته په پام سره ویلي چې ماهي له ذبحې

پرته حلال دئ.

يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ﴿١٤﴾

شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې ننباسي او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړي چې هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي، دا ستاسو هغه رب دئ چې واکمني د ده ده؛ او هغه چې له ده پرته ئې دربلئ د کجوري د زړي کوم پوستکی هم په واك کې نه لري، که ئې دروبلئ نو ستاسو بلنه نه اوري او که ئې واوري درته منلی ئې نشي؛ او د قيامت په ورځ به ستاسو د شرك په اړه انکار کوي؛ او د کوم باخبره په څېر به دي خبر نه کړي.

(١٣)- چا ته د رزق او روزي ورکړه او د چا د عزت او سرلوړۍ پرېکړه د هغه مالك الملك الله له لوري کېږي چې شپه او ورځ د هغه په اراده ځي راځي، لکه څنګه چې شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپې کې؛ او لمر او سپوږمۍ د هغه له حکم سره سم خوځي او په خپل خپل وخت راځېژي او پرېوځي او په دې کار کې له الله تعالی پرته هيڅوك هيڅ ډول ونډه او اغېز نه لري همداسې د رزق او عزت پرېکړه يوازې د هغه له لوري وي. هغه چې لمر او سپوږمۍ ئې داسې درته مسخر کړي چې هر يو ئې له ټاکلې نېټې سره سم ځي راځي، همدا ستاسو هغه رب دئ چې د ټول عالم واکمني په بشپړه توګه د هغه په لاس کې ده؛ او له ده پرته چې هر څوك مرستې ته دربلئ او د خپلو حاجتونو تر سره کولو طمع ترې لرئ په دې خور او پراخ عالم کې د کجوري د زړي کوم پوستکی هم په واك کې نه لري، که ئې دروبلئ نو ستاسو بلنه نه اوري او که احياناً وائې وري نه مو حاجت تر سره کولی شي او نه مو دعاء منلی شي، د قيامت په ورځ به ستاسو د شرك په اړه انکار کوي، د دوی له ډلې چې د چا په اړه دا ګمان کوئ چې په غيب پوه دئ او ستاسو له برخليك خبر دئ او له راتلونکو ناخوالو مو ژغورلی شي هغوی له هيڅ څه خبر نه دي او په هيڅ څه مو نشي خبرولی، د هيڅ باخبره په څېر به تاسو له کومې راتلونکې پېښې خبر نه کړي.

په دې مبارك آيت کې موږ ته لارښوونه شوې چې له الله تعالی پرته نه بل څوك د لمانځنې وړ دئ او نه د استعانت او مرستې غوښتلو وړ، يوازې له هغه ذات مرسته وغواړئ چې شپه

په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې؛ او دواړه له داسي ځواکمني او دقيقي قاعدې سره سم چي هيڅ بدلون نه مومي، هغه ذات چي لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر يوه ته ئې معين مدار ټاکلی چي دغه مدار په معين وقت کې پلي کوي، هر يو د داسي ټاکلي اجل او نېټې په مراعات مکلف دئ چي نه يوه شېبه ترې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی، همدغه الله ستاسو رب دئ چي پاچايي او ټولواکي د ده ده او څوك چي له ده پرته بل څوك مرستي ته بلي او د هغه عبادت کوي هغه د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ.

گورئ چي هره ورځ څو شېبې په هغه کې تفاوت راځي، شپه په ورځ کې داخله شي او ورځ په شپه کې، ورځ د شپې ځای ونيسي اوشپه د ورځي، په خپل ماحول کې گورو چي کله شپه وي او کله ورځ، اوس دلته ورځ ده خو دا ده ورو ورو شپه راروانه ده او د ورځي ځای شپې ته خالي کېږي، يا شپه کله اوږده شي او ورځ را لنډه شي، کله گورو چي ورځ اوږده شي، شپه لنډه شي. دا د شپې او ورځي يو په بل کې داخلېدل، د الله جل شأنه کار دئ، دا الله جل شأنه دئ چي شپه په ورځ کې داخلوي او ورځ په شپه کې. ووايئ: څوك دئ چي دا کارونه کوي؟ شپه په ورځ کې داخلوي؟ ورځ په شپه کې داخلوي، لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي او هر يو په خپل مدار کې له معيني نېټې سره سم خوځېږي او د هغه اراده په هر څه کې او هر ځای حاکمه او نافذه ده؟ يعني هغه ذات چي دا کارونه د هغه په اراده تر سره کېږي او موږ گورو چي دا د هغه د سلطنت، سيطرې او تسلط مظاهر دي، همغه ستاسو رب دئ. او له هغه پرته چي څوك مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت کوئ حتی د خرما د زړي د پوستکي خاوند هم نه دئ. دومره لږ څه هم د دوی په واك کې نه دي، هيڅ څه هغوی ته نه دي سپارل شوي، د هيڅ شي واك او اختيار نه لري، کوم څه چي له الله تعالی پرته مرستي ته دربلئ او د هغه عبادت او لمانځنه کوئ، په دې عالم کې هيڅ واك او اختيار نه دئ ورکړی شوی، وښيئ؛ د کوم څه مالك دي، چېري د هغوی اراده حاکمه ده او څه کولی شي؟

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ﴿١٧﴾

اې خلکو! تاسو الله ته حاجتمن يئ او الله ستايلی غني دئ، که وغواړي تاسو به له منځه يوسي او نوی مخلوق به رامنځته کړي؛ او دا الله ته گران (کار) نه دئ.

(۱۵-۱۷)- په دې مبارك آيت کې خلکو ته لارښوونه شوې چي په هر څه کې الله تعالی ته اړ يئ، هم په خپل پيدايښت کې او هم په خپل رزق او روزي کې؛ او الله تعالی نه يوازي له دې عيب منزه دئ چي په کوم څه کې چا ته اړ وي بلکې په ذات او صفاتو کې د ټولو ستاينو وړ دئ، که وغواړي ټول انسانان به له منځه يوسي او د دوی پر ځای به نوی مخلوق پيدا کړي،

نه د دوی له منځه وړل الله تعالی ته ګران کار دئ او نه د بل مخلوق پیدایښت.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰٓ ۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

او هیڅ په شا کوونکی د بل بار نه په شا کوي؛ او که کوم دروند بار شوی (کس) د خپل بار وړلو لپاره (چا ته) بلنه ورکړي نو څه به ترې په شا نه کړی شي که څه هم د خپلوۍ خاوند وي، یقیناً چې ته یوازې هغو ته خبرداری ورکوې چې له نه لیدو سره سره له خپل رب وېرېږي او لمونځ قائموي؛ او چا چې پاکیزګي غوره کړه نو یوازې د ځان په ګټه پاکیزګي غوره کوي، بیا د الله په لوري بېرته ګرځېدا ده.

(۱۸)- په دې مبارك آیت کې ویل شوي:

- د قیامت په ورځ به هر څوك د خپلو ګناهونو پېټی پر خپلو اوږو وړي، هیڅوك به نشي کولی له بل سره په دې اړه څه مرسته وکړي او پېټی ئې ورسپك کړي، که د کوم ګنهګار د ګناهونو پېټی دومره دروند وي چې له وړلو ئې عاجز او د بل مرستې ته اړ وي او له نورو مرسته وغواړي هیڅوك به ئې مرسته نشي کولی، هیڅوك به ئې پېټی نشي ورسپکولی، که څه هم د هغه نژدې خپلوان وي.
- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې ته یوازې هغو ته خبرداری ورکوې چې له نه لیدو سره سره له خپل رب وېرېږي او لمونځ قائموي، یعني ستا انذار یوازې هغو ته ګټه رسوي چې دغه دوه ځانګړتیاوې لري: په غائبانه توګه له خپل رب وېرېږي؛ او خپل رب لمانځي او خپلې اړیکې ورسره ټینګوي.
- څوك چې د تزکیې لار غوره کړي، له ګنده افکارو، ګنده اخلاقو، ناولو کړنو او کرکجنو تګلارو ځان لرې ساتي او پاکیزګي غوره کوي نو ګټه ئې ده ته رسي، هم په دنیا کې او هم هغه مهال چې د الله په لوري ستون شي، د ټولو بېرته ګرځېدا د الله تعالی په لوري ده.

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا ٱلظُّلُمَـٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَآءُ ۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِى ٱلْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

نه ړوند او سترګور سره برابرېدی شي او نه تیارې او رڼا؛ او نه سیوری او (د غرمې)

**تودوخه؛ او نه ژوندي سره برابرېدی شي او نه مړي، يقيناً چي الله هغه چا ته اورول کوي چي دی ئې غواړي؛ او ته هغو ته چي په قبرونو کي دي اورووнکی نه يې، ته يوازي يو خبرداری ورکوونکی يې.**

(۱۹-۲۳)- دا مبارك آيتونه رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده له لاري هر داعي ته لارښوونه کوي چي له هر مخاطب د ملګرتيا او له حق سره د توافق طمع او توقع مه کوئ، ځيني مخاطبين د جهل، بد ذهن، مړ ضمير، ځپل شوو عواطفو او مشاعرو له پلوه داسي ړاو ته رسېدلي وي چي يا ړندو ته ورته وي يا هغو ته چي په تيارو کي پراته وي او يا په قبرونو کي پرتو مړو ته، دوی د حق او باطل تر منځ تفکيك نشي کولی، د سمي او کږې لاري له پېژندو عاجز وي، د شپې او بدي وينا په توپير نه پوهېږي، د دوی د مخالفت او ايمان نه راوړلو له کبله مه مأيوس کېږئ، لکه څنګه چي ړوند او سترګور، تيارې او رڼا، سيوری او د غرمې تودوخه، مړي او ژوندي نشي سره برابرېدی، همدا راز هغه چي د ايمان راوړلو استعداد په کي ځپل شوی، ضمير ئې مړ او د وجدان حساسيت ئې خفه شوی د هغه چا په څېر نشي کېدی چي د حق پېژندلو او ايمان راوړلو وړتيا لري، ضمير ئې ويښ او انساني مشاعر او عواطف ئې ژوندي او حساس دي، له هغه چا د حق وينا اورېدلو او منلو طمع مه کوئ چي مړو ته ورته دي، هغه چي د الهي سننو له مخي دا وړتيا نه لري چي الله تعالی د حق وينا اورېدلو توفيق ورکړي، الله تعالی هغه چا ته له حق سره د ملتيا او له حقپالو سره د ملګرتيا توفيق ورکوي چي د الهي مشيت له مخي د دې وړتيا ولري، لکه څنګه چي ته هغو ته کومه خبره نشې اورولی چي په قبرونو کي دي همدا راز هغه کافران هم ستا د دعوت له اورېدلو او منلو محروم دي چي له معنوي پلوه په قبرونو کي پرتو مړو ته ورته دي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ستا دنده دا ده چي خلك د کفر له بدو پايلو وويروې، ته يوازي يو خبرداری ورکوونکی يې، د دوی د هدايت او عدم هدايت پرېکړه د الله تعالی له لوري او د خاصو الهي سننو مطابق کېږي.

دې ته مو بايد پام وي چي په دغو مبارکو آيتونو کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته مړو او هغو ته چي په قبرونو کي دي خبره نشې اورولی، يعني نه يوازي دا چي مړي خبره نه اوري او داسي دي لکه کاڼه او ګونګيان؛ بلکي که هڅه وکړې چي څه ورواوروې نو هڅه به دي څه نتيجه نه لري. د مړو د عدم سماع او نه اورېدلو په اړه د دې آيت حکم ډېر صريح او قاطع دئ، هيڅ تأويل نه مني، په هيڅ بلي معنی ئې نه شو تعبيرولی، هره هغه وينا له دې آيت سره په بشپړه توګه تعارض لري چي وايي: مړي خبري اوري!! پوښتنه راولاړېږي چي د هغو رواياتوپه اړه به څه وايو چي ادعاء کوي: مړي خبري اوري!! دې پوښتني ته يوازي يو ځواب ويلی شو او هغه دا چي يا به قرآن منو يا دغه روايات، که پر قرآن ايمان لرو او هغه د الله تعالی کتاب ګڼو نو هره هغه وينا به لري غورځوو چي له قرآن سره تعارض او تضاد لري او د قرآن خلاف خبره کوي، هغه روايات قطعاً د اعتبار او

اعتناء وړ نه دي چي وايي: مړي خبري اوري، دا روايات نه يوازي له دې پلوه د اعتناء وړ نه دي چي د قرآن خلاف وينا کوي بلکي د سند له پلوه هم د اعتبار وړ نه دي، که د دغو رواياتو په اسنادو کي غور وکړئ وبه ګورئ چي ځيني ئې په صحابه وو کي يوازي يو راوي لري او ځيني ئې په تابعينو او تبع تابعينو کي هم يو يو راوي، داسي غريب روايت چي نه يوازي په قرآن کي کوم شاهد ورته نه مومو بلکي د قرآن له څو څرګندو آيتونو سره تعارض لري او هغه خبره کوي چي د عائشې رضی الله عنها په څېر په قرآن او حديث پوه شخصيتونه ئې ردوي هيڅکله د اعتبار وړ نه شو ګڼلی، دا د ټولو محدثينو، محققينو او فقهاءو اتفاقي وينا ده چي د يوه روايت د اعتبار لپاره لومړی شرط دا دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، غريب روايات يوازي هغه مهال د اعتبار وړ ګڼلی شو چي په قرآن کي کوم شاهد ورته ومومو. پر قرآن د ايمان تقاضا دا ده چي داسي غريب روايات په درناوي سره يوې خوا ته کېږدو چي له قرآن سره اړخ نه لګوي؛ نه پرې استناد وکړو او نه ئې بل ته ووايو.

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ﴿٢٤﴾ وَإِن
يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ
وَبِٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذۡتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾

يقيناً چي ته مو حقيقتاً يو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی يې، هيڅ داسي امت نشته چي کوم نذير نه وي په کي تېر شوی؛ او که تا تکذيب کړي نو يقيناً چي هغو هم تکذيب کړل چي تر دوی وړاندي ول، په داسي حال کي چي پيغمبرانو ئې څرګندي نښي، صحيفې او روښانه کتابونه وروړل، بيا مي هغه ونيول چي کفر ئې کړی وو، نو (وګوره) چي زما انکار او عذاب څنګه وو!!

(٢٤-٢٦)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي:

- په دې کي هيڅ شك نشته چي الله تعالی ته حقيقتاً يو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی يې.
- دا لومړی ځل نه دئ چي الله تعالی کوم قوم ته پيغمبر لېږي او هغوی د الله رسول تکذيبوي، تر دې وړاندي هيڅ داسي امت نه دئ تېر شوی چي د الله تعالی له لوري کوم پيغمبر نه وي ورلېږل شوی او خلکو همداسي معامله نه وي ورسره کړې.
- که دا خلك تا تکذيب کړي نو يقيناً چي هغو هم مخکيني پيغمبران تکذيب کړل چي تر دوی وړاندي ول، په داسي حال کي چي پيغمبرانو ئې څرګندي نښي، صحيفې او روښانه کتابونه وروړل.
- الله تعالی د حق هغه مخالفين په خپل عذاب اخته کړي چي د کفر او انکار لار ئې غوره

کړې وه او د پیغمبرانو مخالفت ئې کړی.

- تاریخ ته رجوع وکړه او وګوره چې پر منکرینو د الله تعالی له لوري نازل شوي عذابونه څنګه ول او د پیغمبرانو مخالفین له کوم بدمرغه برخلیك سره مخامخ شوي!!

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾

آیا نه ګورې چې الله له آسمان اوبه وروي او په دې سره داسې مېوې راباسو چې رنګونه ئې ډول ډول دي؛ او له غرونو ځیني ئې سپیني او سرې ګاري دي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او ځیني ئې تك تور؛ او همداسې د خلکو، خزنده وو او څارویو رنګونه ډول ډول دي، یقیناً چې له الله یوازې د ده پوه بندګان وېرېږي، یقیناً چې الله بخښونکی عزتمن دئ.

(۲۷-۲۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د توحید اړوند څو عمیق او مضبوط دلائل وړاندې شوي، په دې کې قرآن خپل مخاطب ته وایي: آیا نه ګورې چې الله تعالی له آسمان اوبه وروي او بیا په دغو اوبو سره له زمکې داسې ډول ډول مېوې راباسې چې رنګونه ئې مختلف او بېل بېل دي، دا د زمکې او آسمان تر منځ ژور تنسیق او همغږي د چا په اراده رامنځته شوې؟ دا کوم خلاق ذات دئ چې له خاورې خوندوري رنګیني مېوې جوړوي، هغه هم نه یو ډول مېوه او په یوه رنګ کې بلکې ډول ډول مېوې چې هم په خوند کې ژور توپیرونه لري، هم په شکل او بڼې کې او هم په رنګ کې؟ دا خو هر عقلمن ناظر ته په جګ غږ وایي: د دغو خوندورو، رنګینو او ښکلو مېوو پیدایښت هرومرو د یوه داسې علیم، حکیم او خلاق ذات کار دئ چې هم آسمان د ده تر واك او حکم لاندې دئ او هم زمکه، آسمان ته وایي اوبه ووروه او زمکې ته وایي په دغو اوبو ډول ډول مېوې راوټوکوه، دواړو ته ئې لارښوونه کړې چې د انسان په خدمت کې اوسئ او د ده اړتیاوې پوره کړئ!! دا په زرګونو ډوله خوندوري مېوې چې نه یوازې د نوع، شکل، رنګ، خوند، جوړښت، ترکیب، بوی، ذائقې ... له پلوه ژور توپیرونه لري بلکې د انسان ډول ډول غذائي اړتیاوو ته ځواب وایي، انسان ئې له رنګ، شکل، بوي او ذائقې خوند اخلي، په یوه نوع مېوې کې یوه له بلې دومره توپیرونه لري چې هر انسان پرې پوهېدی شي، آیا دا نه ښیي چې د عالم د ټولو مخلوقاتو تر شا د یوه داسې حکیم خلاق رب نامرئي لاس لګیا دئ چې نه غواړي یو مخلوق او مصنوع ئې له هره پلوه بل ته

ورته وي، په هر يوه کې بايد د ده د خلاقيت او حکمت بېل بېل اړخونه راڅرگند شي، د عالم ټول مخلوقات بايد د ده د بې انتهاء علم، حکمت او خلاقيت مظاهر زموږ په وړاندې انځور کړي؟!! که دا عالم يوې فابريکې ته ورته وی او خلاق رب ئې نه درلودی نو هيڅکه به د دومره بې شمېره تنوع، بې انتهاء ښايست او ژور تنسيق شاهد نه وو، لکه څنگه چې يوه فابريکه له يو ډول خامو توکو يوازې يو ډول يا په ډېر پرمخ تللې حالت کې څو ډوله شيان جوړولی شي نو د آسمان له اوبو او د زمکې له خاورې به يوازې څو محدود ډوله شيان پيدا کېدل او هغه هم په بشپړه توگه يو بل ته ورته، خو دا دئ گورو چې خبره کاملاً بل ډول ده، له دې زمکې دومره ډول ډول مېوې پيدا کېږي چې انسان ئې هم له شمېرلو عاجز دئ او هم له توصيف!! دا تنوع چې د حکيم خلاق ذات د بې انتهاء قدرت يو څرگند مظهر دئ يوازې په مېوو کې نه بلکې د عالم په هرې برخې کې تر سترگو کېږي، په غرونو کې سپينې او سرې گارې گورئ چې رنگونه ئې ډول ډول دي، داسې گارې هم گورئ چې رنگ ئې تك تور دئ، نه يوازې د رنگ له پلوه يوه له بلې توپيرونه لري بلکې د ترکيب له پلوه هم د دوی تر منځ ژور او پراخ توپيرونه شته، همداسې د خلکو، خزنده وو او څارويو رنگونه ډول ډول دي، د انسان له پيدايښت بيا تر نن پورې داسې دوه انسانان نه دي پيدا شوي چې له هره پلوه په بشپړه توگه سره ورته وي؛ او د رنگ، شکل، جوړښت، استعدادونو او ځواکونو له پلوه توپيرونه ونه لري!! دا پراخه تنوع هر سترگور او عقلمن انسان ته څه وايي؟ د دې تنوع د خالق په اړه موږ ته څه لارښوونه کوي؟!! يقيناً چې د علم خاوندان نه يوازې دا د رب العالمين د قدرت څرگند مظاهر گڼي او همدغې تنوع ته په پام سره پر رب العالمين ايمان راوړي بلکې دا (علم) او (ايمان) په دوی کې د خپل رب په وړاندې د قصور داسې احساس راولاړوي چې زړونه ئې رېږدوي، همغسې لکه چې الله تعالی فرمايي: له الله يوازې د ده پوه بندگان وېرېږي. هو؛ د الله تعالی په اړه ښه معرفت او د هغه ښه پېژندنه په انسان کې خشوع راپيدا کوي، څوك چې تر نورو زيات پوه او عالم وي هغه به تر نورو زيات له خپل رب وېرېږي، د ده په وړاندې به ځان قاصر بنده گڼي او خپل الهي مسئوليت به تر هغه څه ډېر لوړ گڼي چې کړي ئې دي يا ئې کوي. دا آيت موږ ته حقيقي (عالم) راښيي، وايي: عالم هغه دئ چې له الله تعالی ډېر وېرېږي؛ نه هغه چې ډېر کتابونه ئې لوستلي، عالم هغه نه دئ چې ځان يا نور ئې په لويو لويو او اوږدو القابو ستايي، عالم هغه دئ چې په وينا، کړنو او څېرې کې ئې له الله تعالی د وېرې آثار له ورايه برېښي. عالم هغه دئ چې په عالم کې د ځواکمن او عزتمن رب د قدرت، حکمت او عظمت مظاهر د دوی په زړونو کې وېره راولاړوي او خپل قصور ته په پام سره د هغه مغفرت او بخښنې ته طمع ساتي؛ او په دې باور وي چې يقيناً الله تعالی بخښونکی عزتمن دئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا

وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓۚ
إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٠﴾

يقيناً هغه چي د الله کتاب لولي او لمونځ قائموي او له هغه څه په پټه او ښکاره توګه انفاق کوي چي موږ وروزي کړي؛ د داسي تجارت هيله لري چي هيڅکله نه تباه کېږي. د دې لپاره چي دوی ته خپله بدله په بشپړه توګه ورکړي او خپل فضل لاورزيات کړي، يقيناً چي هغه شکور بخښونکی دئ.

(۲۹-۳۰)- دلته د هغو کسانو څو ځانګړتياوي بيان شوې چي الله تعالی د دوی د کړنو قدرونه کوي، بشپړ اجر ورکوي، زياتي پېرزويني پرې کوي او ګناهونه ئې بخښي، د دوی ځانګړتياوي دا دي: د الله تعالی کتاب لولي، لمونځ قائموي او له هغه څه چي الله تعالی ورکړي په پټه او ښکاره توګه انفاق کوي، دوی په حقيقت کې داسي تجارت کوي چي يقيني ګټې او حاصل ته ئې طمع او هيله لري او هيڅکله نه تباه کېږي. دا له هغه رب سره يوې ګټوري تجارتي معاملې ته ورته تجارت دئ چي له شکور او بخښونکي رب سره تر سره کېږي، هغه چي د خپل صالح بنده د کړنو قدر کوي او قصور ئې بخښي.

وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ هُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ
بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرٌۢ بَصِيرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَاۖ فَمِنْهُمْ
ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ
ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ
وَلُؤْلُؤًاۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا۟ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَذْهَبَ عَنَّا ٱلْحَزَنَۖ إِنَّ
رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِىٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا
نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾

او له کتاب مو چي څه تا ته وحي کړي هغه حق دئ؛ د هغه تصديقوونکی چي تر ده وړاندي وو، يقيناً چي الله د خپلو بندګانو په اړه باخبر ليدونکی دئ. بيا مو دا کتاب خپلو هغو بندګانو ته په ميراث ورکړ چي موږ غوره کړي، نو له دوی ځيني پر خپل ځان ظالم، ځيني ئې منځلاری او ځيني ئې د ښېګڼو په لور تلوار کوونکی دي، همدا ستر فضيلت دئ، تلپاتي جنتونه چي دوی به ورننوځي په داسي حال کې چي هلته به د سرو

زرو او مرغلرو په لاسونديو سينګار کړی شي او جامې به ئې ورېښمني وي؛ او وايي به: ستايني ټولي هغه الله ته دي چې اندېښنې ئې له موږ ختمې کړې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ. هغه چې موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته هستوګنځي کې مېشت کړو په داسي حال کې چې نه په کې ستوماني رارسي او نه په کې ستړيا رارسي.

(۳۱-۳۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: کوم کتاب چې تا ته درکړی شوی رښتينی کتاب دئ، ټول هغه الهي کتابونه تصديقوي چې تر ده وړاندي نازل شوي.
- الله تعالى خبير او بصير دئ، هم د خپلو بندګانو له ظاهر او باطن خبر دئ او هم ئې کړني ګوري.
- الله تعالى دا کتاب خپلو هغو بندګانو ته په ميراث ورکړی چې د همدې لپاره ئې غوره کړي، د دوی ځيني پر خپل ځان ظالم، ځيني ئې منځلاري او ځيني ئې د ښېګڼو په لور تلوار کوونکي دي، همدا ستر فضيلت دئ، يعني د دې کتاب وارثين په دريو ډلو وېشل شوي:
- ځيني ئې د ايمان او نېك عمل تر څنګ خطاګاني او ګناهونه هم لري، کله کله له سمي لاري کاږه شوي او په دې توګه ئې پر خپل ځان ظلم کړی او په الهي عذاب ئې اخته کړی.
- ځيني ئې منځ لاري دي، د منځنۍ درجې وګړي دي، که څه هم له سمي لاري ښې او کيڼ لوري ته نه دي کاږه شوي خو هغه لوړي پوړي ته نه دي رسېدلي چې د لومړۍ درجې برياليو په ډلي کې محسوب شي.
- ځيني ئې د ښېګڼو په لورو تلوار کوونکي دي، تر ټولو وړاندي او له اخلاقي، فکري او معنوي پلوه لوړو پوړو ته رسېدلي.
- د کتاب دا وارثين به له هغي الهي محاسبې وروسته تلپاتو جنتونو ته ننوځي چې د قيامت په ورځ به تر سره کېږي، له هري ډلي سره د دوی کړنو ته په پام سره مناسبه محاسبه، په داسي حال کې چې هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسونديو سينګار کړی شي او جامې به ئې ورېښمني وي.
- په جنت کې به د دغو جنتيانو وينا دا وي: ستايني ټولي هغه الله ته دي چې زموږ اندېښنې ئې له منځه يووړې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ، د خپلو بندګانو د نېکو کړنو قدرونه کوي او له ګناه او قصور ئې تېرېږي، موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته هستوګنځي کې مېشت کړو په داسي حال کې چې نه په کې ستوماني رارسي او نه په کې ستړيا رارسي. موږ د خپلو عملونو له کبله د دې وړ نه وو چې داسي جنتونه راپه برخه شي، زموږ رب د خپل پراخ فضل له مخي دې مقام ته راورسولو، زموږ ګناهونه ئې وبخښل او زموږ د وړو وړو عملونو ئې زياته قدرونه وکړه.

دې ته مو پام وي چې درنو مفسرينو د دغو آيتونو په اړه بېل بېل تعبيرونه وړاندي کړي، ځينو د رازي او زمخشري په شمول ويلي چې د آيت دغه فقره (ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ)

يوازې مخکينۍ فقرې (وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ) ته راجع ده او مطلب ئې دا دئ چې همدا د ښېګڼو په لورې تلوار کوونکې د الله تعالى له ستر فضل برخمن شوې او همدا دوى به جنت ته ننوځي، خو دا تعبير ضعيف دئ، دا فقره يوازې مخکينۍ ته نشي راجع کېدى، د آيت ټول مخکيني مضمون ته راجع ده، په ځانګړې توګه د آيت لومړۍ برخي ته چې وايي: (ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ) همدا خپلو غوره کړو بندګانو ته کتاب په وراثت ورکول د الله تعالى ستر فضل دئ، دلته فضل د فضيلت په معنى نه بلکې د ورکړې او عطاء په معنى راغلى، له بلې خوا جنت ته يوازې سابق بالخيرات نه ننوځي بلکې د مؤمنانو دوه نورې ډلې هم له مناسبې محاسبې وروسته ننوځي، نو ځکه په يقين سره ويلى شو چې غوره او دقيق تعبير پورتنى دئ، په دې اړه په يوه روايت کې داسې راغلي:

عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ (ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ ) فَأَمَّا الَّذِينَ سَبَقُوا بِالْخَيْرَاتِ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَأَمَّا الَّذِينَ اقْتَصَدُوا فَأُولَئِكَ يُحَاسَبُونَ حِسَاباً يَسِيراً وَأَمَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ يُحْبَسُونَ فِى طُولِ الْمَحْشَرِ ثُمَّ هُمُ الَّذِينَ تَلَقَّاهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَتِهِ فَهُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ ( الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ) ». إِلَى قَوْلِهِ (لُغُوبٌ ). مسند احمد

له ابو درداء رضى الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې داسې واورېدل: الله عز و جل فرمايلي: (ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللَّهِ)، نو هغه چې په ښېګڼو کې ئې تلوار کړى هغه کسان دي چې جنت ته به له حساب پرته ننوځي؛ او هغه چې منځلاري ول له هغوى سره به آسان حساب کېږي؛ او هغه چې پر خپل ځان ئې ظلم کړى هغوى به د محشر ټوله موده متوقف ساتل کېږي، بيا همدا دوى دي چې الله تعالى به ئې له خپل رحمت سره مخامخ کړي او همدا دوى دي چې وايي به: ستايني ټولې هغه الله ته دي چې اندېښنې ئې له موږ ختمي کړې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکى دئ. هغه چې موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته هستوګنځي کې مېشت کړو په داسې حال کې چې نه په کې ستوماني رارسي او نه په کې ستړيا رارسي.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦ وَهُمۡ يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا

نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ
وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ٣٧

او هغه چې کفر ئې کړی دوی ته د دوزخ اور دئ، نه به د دوی په اړه داسې پرېکړه کېږي چې ومري او نه به د هغه کوم عذاب ترې کمېږي، همداسې هر ناسپاس ته سزا ورکوو، په داسې حال کې چې دوی به په هغه کې چيغې وهې: اې زموږ ربه! ومو باسه چې نېك عمل وکړو، له هغه عمل متفاوت چې موږ کولو، آيا تاسو ته مو دومره عمر نه وو درکړی چې هغه څوك په کې پند اخيستی شي چې پند قبلوي؛ او نذير هم درغلی وو، نو وڅکئ چې ظالمانو ته هيڅ مرستندوی نشته.

(٣٦-٣٧)- په دې مبارکو آيتونو کې د کافرانو وضعيت په دوزخ کې داسې انځور شوی: هغه چې کفر ئې کړی د دوزخ اور به ئې په برخه شي، نه به د دوی په اړه دا پرېکړه کېږي چې ومري او نه به د دوزخ له ډول ډول عذابونو کوم عذاب ترې کمېږي، الله تعالی به دا سزا هر ناسپاس انسان ته ورکوي، په دوزخ کې به چيغې وهې: اې زموږ ربه! ترې ومو باسه چې نېك عمل وکړو، له هغه عملونو متفاوت چې موږ کولو، دوی ته به په ځواب کې وويل شي: آيا تاسو ته مو دومره عمر نه وو درکړی چې د هر پند اخيستونکي لپاره کافي وو؛ او د دې فرصت تر څنگ نذير هم درغلی وو، نو اوس د خپل کفر سزا وڅکئ، ظالمانو ته هيڅ مرستندوی نشته.

إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٣٨ هُوَ ٱلَّذِي
جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ
كُفۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ إِلَّا مَقۡتٗاۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ كُفۡرُهُمۡ إِلَّا خَسَارٗا ٣٩

يقيناً چې الله د آسمانونو او زمکې په غيبو پوه دئ، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ، دی همغه ذات دئ چې تاسو ئې په زمکې کې خليفه وگرځولئ، نو څوك چې کفر وکړي نو د خپل کفر بده پايله به ئې په برخه وي؛ او د کافرانو کفر د خپل رب په وړاندې له غضب پرته بل څه نه ورته زياتوي؛ او کافرانو ته د دوی کفر له تاوان پرته بل څه نه زياتوي.

(٣٨-٣٩)- په دې مبارکو آيتونو کې موږ ته لارښوونه شوې چې د آسمانونو او زمکې هيڅ څه له الله تعالی پټ نه دي، په ټولو شيانو پوه دئ، د انسانانو د سينو په پټو اسرارو هم ښه پوه دئ، د الله تعالی په اراده د زمکې خلافت انسان ته وسپارل شو، نو څوك چې د کفر لار

غوره کړي د خپل کفر بده پايله به ئې په برخه وي، د کافرانو کفر د خپل رب په وړاندې له غضب پرته بل څه نه ورته زياتوي؛ او د دوی کفر له تاوان پرته بل څه نه ورته زياتوي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمْ ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾

ووايه: آيا پام مو دئ چې ستاسو هغو شرکاوو چې له الله پرته ئې دربلئ راوښيئ چې د ځمکې څه ئې پيدا کړي او يا ئې په آسمانونو کې څه شرکت په برخه دئ، يا مو کوم کتاب ورکړی چې له مخې ئې پر کوم څرګند دليل (متمسك) دي، نه؛ بلکې ظالمان يو له بل سره له دوکې پرته د بل څه وعده نه کوي.

(٤٠)- په دې مبارك آيت کې د شرك د نفي لپاره څو مضبوط دلائل ويل شوي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: له مشرکانو وپوښته چې ستاسو هغو معبودانو چې له الله پرته ئې لمانځئ او مرسته ترې غواړئ د ځمکې څه ئې پيدا کړي او يا ئې په آسمانونو کې څه شرکت په برخه دئ، د آسمانونو په کوم څه کې له الله تعالى سره شريك دي، د ځمکې د کوم څه په پيدايښت کې څه ونډه لري او د آسمان کوم څه د دوی په واك کې دي، د آسمانونو او ځمکې کوم څه تاسو ته درکولی او يا له تاسو سپمولی شي؟!!
- آيا د شرك لپاره کوم نقلي دليل لرئ؟ داسې کوم آسماني کتاب موندلی شئ چې شرك توجيه کړي او کوم دليل او برهان په لاس درکړي؟!
- دا مشرکين د خپل شرك لپاره نه کوم عقلي دليل لري او نه نقلي دليل، نه په آسمان او ځمکې کې داسې څه په ګوته کولی شي چې شرك توجيه کړي او نه داسې الهي کتاب ښودلی شي چې د مشرکينو لپاره مستمسك شي، د دوی د شرك اصلي وجه دا ده چې يو د بل له لوري دوکه شوی، ټګمارو مذهبي مشرانو د دوی ناپوهان او جاهلان غولولي.

إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾

يقيناً چې الله آسمانونه او ځمکه له دې ټموي چې زوال ومومي؛ او که زائل شي نو له ده وروسته داسې څوك نشته چې تم ئې کړي، يقيناً چې هغه بخښونکی حليم دئ.

(٤١)- دا مبارك آيت وايي چې آسمانونه او ځمکه د الله تعالى په واك کې دي، هغه ئې اداره

کوي او د زوال مخه ئې نيسي، که هغه وغواړي چي آسمان او زمکه زائل شي نو په ټول عالم کي به له ده پرته داسي څوك ونه مومئ چي تم ئې کړي او د زوال مخه ئې ونيسي، خو الله تعالی حليم او بخښونکی دئ، له خپلو بندگانو سره د دوی د کړنو او چلن له مخي معامله نه کوي، بلکي د (حلم) او (غفران: بخښني) له مخي معامله کوي، که داسي نه وی نو د دوی د عصيان او بغاوت له کبله به ئې دا آسمانونه پرې رانسکور کړي وو او زمکه به ئې زائل کړې وه.

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې لوړه وکړه چي که کوم پيغمبر ورته راشي نو د نورو امتونو تر هر يوه به زيات هدايت شوي وو، خو کله چي نذير ورغی نو له نفرت (تېښتي) پرته ئې بل څه ورزيات نه کړل. په زمکي کي د لويي غوښتني او بد تدبير په توگه، په داسي حال کي چي بد تدبير له خپل خاوند پرته په بل چا نه پرېوځي، نو آيا دوی د مخکينيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسي حال کي چي هيڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هيڅ تحويل (تغيير) ونه مومې.

(۴۲-۴۳)- دوی د رسول الله صلی الله عليه و سلم تر بعثت وړاندي کلك کلك قسمونه کول چي که کوم پيغمبر ورته راشي نو تر ټولو نورو امتونو به زيات هدايت او په سمي لار تلو ته چمتو شوي وو، خو کله چي پيغمبر ورته راغی دې راتگ په دوی کي يوازي يو شی زيات کړ چي له حق تېښته ده، د دې تېښتي موخه هم لويي غوښتنه او د بدو تدبيرونو له لاري ناولو اهدافو او اغراضو ته رسېدل وو، په داسي حال کي چي بد تدبيرونه له خپل خاوند پرته په بل چا نه پرېوځي، د بدو تدبيرونو تاوان تر نورو زيات او وړاندي خپل خاوند ته رسي، دا ثابت الهي سنت دئ چي په مخکينيو کي تېر شوی او مصداق ئې د تاريخ په اوږدو کي په وار وار ليدل شوی، نو آيا دوی د مخکينيو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسي حال کي چي هيڅکله به د الله تعالی د سننو لپاره هيڅ تبديلي ونه مومې او هېڅکله به د الله تعالی د سننو لپاره هيڅ تحويل او تغيير ونه مومې. الهي سنن ثابت او تغيير نه منونکي دي، نه ئې څوك په خپلو ناوړو تدبيرونو سره بدلولی شي او نه کوم تغيير په کي راوستلی شي.

أَوَ لَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةًۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُوا۟ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَـٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرًۢا ﴿٤٥﴾

آیا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول او د ځواك له پلوه (تر دوی) ډېر پیاوړي؛ او الله داسي نه وو چې په آسمانونو کې ئې کوم شی عاجز کړی شي او نه هم په زمکې کې، یقیناً چې هغه توانمن پوه دئ؛ او که الله خلك د هغه څه له کبله مؤاخذه کولی چې دوی کړي نو (د زمکې) پر شا به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو دوی تر ټاکلې نېټې ځنډوي، نو کله چې د دوی اجل (ټاکلې نېټه) راورسېږي نو الله (هغه مهال) له کوم شك پرته د خپلو بندګانو په اړه ښه لیدونکی وي.

(٤٤-٤٥)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي: آیا دا د حق دښمنان او د پیغمبر له ملتیا تښتېدونکي په زمکې کې نه دي ګرځېدلي او د تېر تاریخ پاڼې ئې نه دي اړولې چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، هغه چې د ځواك له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي او ځواکمن ول، هغه چې په الهي عذاب اخته شوي، نه خپل زور او ځواك له دې عذاب ژغورلي او نه ئې مکر او تدبیر، نه ئې په آسمانونو کې داسي څوك موندلی وو چې په مرسته ئې د الله تعالی پرېکړي و ځنډوي او د الهي عذاب مخه ونیسي او نه په زمکې کې؟ د دوی کلکې نیوني او د الهي عذاب په وړاندي د دوی د زور، ځواك او تدبیر شنډېدا وښوده چې الله تعالی هم قدیر او توانمن دئ او هم علیم او پوه، د هر چا له حال خبر دئ، پوهېږي چې څوك د کومې سزا مستحق دئ، څنګه او کله سزا ورکړي، نه د چا تدبیرونه د علیم خدای په وړاندي تم کېدی شي او نه د چا زور او ځواك د قدیر خدای په وړاندي څه اغېز درلودی شي.

که الله تعالی غوښتی چې خلك د هغو ګناهونو له کبله مؤاخذه کړي چې دوی کړي نو د زمکې پر سر به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو الله تعالی د خپل پراخ رحمت او بې سارې پېرزوینې له امله دوی ته مهلت او فرصت ورکوي او تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي، د حق مخالفین دې دا مهلت او فُرصت نه غولوي، دا دې د خپل زور، ځواك او تدبیرونو حاصل او نتیجه نه ګڼي، په دې دې پوه وي چې دا مهلت پای لري، نه بدلېدونکی پای، وخیم او

دردناك پاى، كله چي دا پاى او د دوى لپاره ټاكلې نېټه راورسېږي نو الله هغه مهال ښه پوهېږي چي له دوى سره څه وكړي، د كومي سزا وړ دي، دا ځكه چي الله تعالى د خپلو بندگانو په اړه ښه ليدونكي دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# يٰس

## د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم (يس) دئ، د سورې په سر كې د (ياء او سين) دوه توري د هغې نوم گرځول شوى، دري اتيا آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (حكيم) او د شپږم آيت (غٰفلون) ته ورته دي، ځيني آيتونه ئې لنډ لنډ دي او د ځينو اوږدوالى ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مكې دور په منځنيو كلونو كې نازل شوي.د سورې له متن معلومېږي چي هغه مهال له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د قريشو مخالفت زيات او تشديد شوى وو او مسلمانان ئې گواښل چي كه له خپل دعوت لاس وانه خلي له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.

لكه څنگه چي دا سوره په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې د سورې محوري مضامين هم دوه دي: رسالت او معاد، ټوله سوره د همدغو دواړو اساسي موضوعاتو پر محور څرخي. د سورې په پيل كې ويل شوي: دا له حكمتونو ډك قرآن شهادت وركوي چي حامل ئې د الله تعالى پيغمبر دئ؛ دا ځكه چي له يوه پيغمبر پرته بل څوك داسي له حكمتونو ډك كتاب نه شي راوړلى. قرآن د داسي شاهد په توگه وړاندي شوى چي څو خبري ترې ثابتېږي: ١- رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالى پيغمبر دئ، ٢- لار ئې سمه او مستقيمه ده، ٣- د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوى. يعني د قرآن له ځلاندو لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا لارښود كتاب د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوى.

ورپسې ويل شوي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دنده د هغو وگړو انذار او خبرداري وركول دي چي نه په دوى كې كوم پيغمبر مبعوث شوى او نه د دوى په څو پېړيو مخكينيو كې، بيا د هغو وگړو د ايمان نه راوړلو ځيني اسباب ښودل شوي چي د مخالفت لار ئې غوره كړې، وايي: دوى ته غلط عقائد او باورونه له پلار نيكه په ميراث پاته شوي، نه په دوى كې كوم لارښود پيغمبر تېر شوى او نه ئې په پلرونو كې، غافل او جاهل پاته شوي، د دوى د اكثريت په اړه دا وينا صدق كوي چي له حقائقو بې خبر او غافل دي نو ځكه ايمان نه راوړي، د دوى بدو افكارو او اخلاقو، جاهلانه غرور او كبر داسي بنه غوره كړې لكه چي د دوى د غاړو پرېړ پرېړ زنځيرونه وي او د دوى سرونه ئې نېغ ساتلي او لاندي كتلو ته ئې

نه پرېږدي، حالت ئې داسي دئ لكه چي تر مخ ئې هم خنډونه وي او څو ګامه آخوا نشي ليدلی او تر شا ئې هم خنډونه وي او نه پوهېږي آخوا څه تېر شوي، نه له ماضي پند اخلي او نه مستقبل ته پام او اعتناء لري، هغه پړاو ته رسېدلي چي د ايمان راوړلو استعداد او وړتيا ئې په بشپړه توګه څېل شوي نو ځكه ايمان نه راوړي.

بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ته يوازي هغه څوك انذار كولی شې چي د پند متابعت وكړي او له رحمن رب په غياب كي ووېرېږي، دوی ته د بخښني او غوره رزق زېری وركړه.

وروسته د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعوت په وړاندي د قريشو غبرګون د يوې داسي سيمي له غبرګون سره تشبيه شوی چي لومړی دوه پيغمبران ورغلل او هغوی دواړه تكذيب كړل، بيا د دواړو مرستي ته دريېم هم ولېږل شو چي د سيمي استوګنو ته ئې وويل: موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته د الله تعالى لخوا لېږل شوي استازي يو، هغوی ورته وويل: تاسو خو زموږ په څېر بني آدمان يئ، له موږ مو په هيڅ څه كي كوم توپير نشته، نه الله تعالى تاسو د استازو په توګه لېږلي يئ او نه ئې ستاسو په لاس كوم پيغام لېږلی، تاسو دروغ وايئ، تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، كه له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم كوو او حتماً به له موږ دردوونكی عذاب دروررسېږي، پيغمبرانو په ځواب كي ورته وويل: د بدمرغۍ اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، آيا موږ له دې كبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصيحت درته كوو؟ آيا سمه ده چي هغه كسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند دركوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن كي تل تېری او اسراف كوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوكېدلي. د اتلسم آيت له وروستۍ فقرې معلومېږي چي دا مباركه سوره هغه مهال نازله شوې چي قريشو هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم په خلاف دې ته ورته دريځ غوره كړی وو او رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده ياران ئې ګواښل چي له خپل دعوت لاس واخلي كه نه نو له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.

بيا ويل شوي: د ښار له لري څنډې يو سړی په داسي حال كي راغی چي تلوار ئې كولو او وئې ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وكړئ، د هغو متابعت وكړئ چي له تاسو د هيڅ بدلې طمع نه لري، مخلص او بې غرضه ناصحان دي، په سمه لار روان دي او هدايت ئې په برخه شوی، ستاسو ئې خوښه خو زه به ولي او د كوم دليل له مخي د هغه ذات عبادت نه كوم چي زه ئې پيدا كړی يم او تاسو هم په پای كي د هغه لوري ته ورګرځول كېږئ، د دې مؤمن بنده په ويناوو كي ټولي هغه اساسي خبري راغلې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې آيتونو د نزول پر مهال قريشو ته كولې. دا د پيغمبرانو زړه ور مدافع مؤمن د مخالفينو له لوري شهيد شو. له شهادت سره سم هغه ته وويل شول چي جنت ته داخل شه، دې مؤمن شهيد له ځان سره دا هيله يووړه چي ويل ئې: كاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چي له كبله ئې زما رب بخښنه راته وكړه او له معززينو ئې وګرځولم، د ده

مشرك قوم داسي هلاك شو لکه د اور لمبې چي مړې شي او په سړو ايرو بدلي شي، دې ته څه اړتيا نه وه چي د دوی د هلاکت لپاره له آسمانه کوم لښکر ولېږل شي، بس يوه تونده چيغه کافي وه چي هر څه پرې رانسکور کړي او له منځه ئې يوسي.

د قصې په پای کي ويل شوي: وای افسوس پر هغو خلکو چي کله کوم پيغمبر ورغلی نو پر ده او د ده پر وينا ئې ملنډي وهلې دي او له بد برخليك سره مخامخ شوي!!

بيا قرآن خپل مخاطبين هغو الهي نعمتونو ته متوجه کوي چي الله تعالی د دوی په برخه کړي، هغه نعمتونه چي په ورکړي کي ئې له الله تعالی پرته هيڅوك هېڅ ډول ونډه نه لري، لکه دا چي مړه زمکه ژوندۍ کړي، سپېره او وچ ډاګونه ئې، وچ شوي بوټي او فصلونه ئې، هغه وني چي د ژمي يخني وهلې دي او پاڼي ئې رژېدلې، دا ټول بېرته راژوندي کوي، مېوې، دانې او بوټي راټوکوي، ټول ئې داسي جوړ کړي چي د انسان لپاره د خوراك توکي شي، په هغې کي ئې د کجورو او انګورو بڼونه پيدا کړل، په هغې کي ئې چينې وبهولې، دا ډول ډول خوندوري مېوې او هغه څه چي تاسو ترې ډول ډول خواړه جوړوئ چا پيدا کړي؟!! د دغو بې شمېره نعمتونو تقاضا خو دا وه چي تاسو د خپل مهربان منعم رب د پراخو نعمتونو شکر پر ځای کړی وئ، آيا عجيبه نه ده چي تاسو شکر نه کوئ؟!

بيا د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندي ځلېږي، وايي: الله تعالی ټول جوړه جوړه مخلوقات پيدا کړي، که دا له زمکي راټوکېدونکي بوټي او وني دي، که انسانان دي او که ډېر نور هغه مخلوقات چي خلك ئې نه پېژني، د قرآن د وينا له مخي د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي؛ او دا هغه څه دي چي ساينس په شلمي پېړۍ کي پرې پوه شو.

بيا ويل شوي: د عالم ټول اشياء او اجزاء محکوم او مقهور دي او د عالم ټول تحولات د معينو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کېږي، هيڅ څه له خپل حد تېری نشي کولی، په خپل وخت کي راځي، په خپل ځای کي راځي. شپه او ورځ د طبيعت دوه حالتونه دي او لمر، سپوږمۍ د طبيعت دوه اجزاء، ګورئ چي دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طی کوي، يو د بل مدار ته نه داخلېږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدارکي ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندي چي کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چي په عالم کي راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو په بل باندي سبقت نشي کولی، آيا دا دليل د دې خبري د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چي دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي؛ او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندي محکوم او مقهور دي؟

بيا د انسان پام د الله تعالی يوې بلي پېرزويني ته اړول شوی: الله تعالی انسان ته د کشتۍ جوړولو استعداد ورکړی، په طبيعت کي ئې داسي سنن ايښي چي له انسان سره د کشتۍ په جوړولو کي مرسته کوي او داسي توکي ئې پيدا کړي چي انسان کولی شي له هغوی په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسي جوړي کړې چي ځيني توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسي کښتيو جوړولو استعداد او توفيق

ورکړ چې د بحر اوبه څېرې او وړاندې درومي، له همدغو کښتیو په استفادې سره له یوې سیمې بلې ته ځي.

ورپسې په ٤٥ آیت سره د سورې دوهمه برخه پیل شوې، په دې برخې کې د بحث دوهمه موضوع څېړل شوې، د قیامت په اړه د منکرینو غلطې انګېرنې او له دې انګېرنو راولاړ شوې غلطې کړنلارې او تګلارې څېړل شوې، د دوی اعتراضاتو او پوښتنو ته مضبوط ځوابونه ویل شوي، دا لړۍ د سورې تر پایه دوام کوي.

په سر کې ویل شوي: پر قیامت د عدم باور لومړۍ نتیجه دا ده چې منکرین ئې د سپېڅلو اهدافو لپاره مالي قربانۍ او له مظلومانو او حاجتمنو سره مرستې ته نه چمتو کېږي او کومه توجیه نه ورته مومي، نه یوازې د قربانۍ جذبه او له همنوع سره زړه سوی ئې ځپې بلکې دا کار ورته ناسم او د عقل خلاف برېښي، بیا د قیامت ناڅاپې راتګ او د کافرانو د انګېرنو او تصوراتو خلاف راتګ او هغه مهال د منکرینو بد حالت داسې انځور شوی چې قیامت به ناڅاپې راشي، داسې چې په شپېلۍ کې به پو کړی شي او په همدې سره به دوی له خپلو قبرونو راپاڅي او د خپل رب په لور به ځغلي، اوس خو دوی قیامت لرې ګڼي او په راتلو کې ئې ځنډ داسې تعبیروي چې قیامت نشته، خو هغه ورځ به وایي: افسوس پر موږ؛ چا له خوبه راپاڅولو؟ له خپلې مړینې تر قیامت پورې اوږده موده به داسې ګڼي لکه د خوب څو شېبې، هغه مهال به دوی په خپله وایي: دا همغه څه دي چې رحمن رب ئې وعده کړې وه او پیغمبرانو رښتیا ویلي وو، همغه مهال به ټول د الله تعالی په وړاندې د محاسبې لپاره حاضر کړی شي، نه به پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا ورکول کېږي چې کول ئې.

بیا د جنتیانو حالت داسې انځور شوی: جنتونه به ئې په برخه شي، د خوښیو په جامو کې به پټ او له خوښیو ډکو مشغولتیاوو کې به بوخت وي، د جنت د ونو سیورې کې پر تختونو ناست او تکیه به ئې وهلې وي، ډول ډول مېوې به ئې مخې ته پرتې وي او هر هغه څه به ئې په برخه وي چې د دوی زړه ئې غواړي، د مهربان رب د وینا مطابق به ئې په سلام سره استقبال کېږي.

او په مقابل کې ئې د دوزخیانو حالت به داسې وي: دوی ته به وویل شي: اې مجرمانو! له نورو بېل شئ، اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ آیا تاسو ته مې نه وو ویلي چې یوازې زما عبادت وکړئ چې همدا یوازینۍ مستقیمه لار ده؟ آیا نه مې وو درته ویلي چې شیطان ستاسو ډېر نسلونه بې لارې کړل؟

د قیامت په ورځ او د الهي محاسبې په یوه ځانګړې پړاو کې به الله تعالی د کافرانو پر خولو مهر ولګوي، د څه ویلو توان به ترې سلب شي، لاسونه به ئې له الله تعالی سره خبرې کوي او پښې به ئې د دوی پر مخکینیو کړنو ګواهي ورکوي.

بیا د مخالفینو دا تبلیغات رد شوي چې ویل به ئې: محمد (علیه السلام) یو پیاوړی

شاعر او ليکوال دئ او د ده کتاب (قرآن) د شعر کتاب دئ، الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: موږ چې څه ورښودلي هغه شعر نه دئ او د ده شأن تر دې ډېر لوړ دئ چې يو شاعر وي، د ده له لوري چې تاسو ته څه وړاندې شوي دا خو له ځانګړې پند او څرګندوونکي قرآن پرته بل څه نه دي.

بيا قرآن خپل مخاطبين هغو الهي پېرزوينو او نعمتونو ته متوجه کوي چې د څارويو په بڼې کې د انسانانو په برخه شوي؛ فرمايي: آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې الله تعالی هغه څاروي ورته پيدا کړي چې په خپل لاس ئې داسې جوړ کړي چې دوی ته مسخر او رام وي، د دوي په خدمت کې وي او د دوی ګڼ شمېر اړتياوې رفع کړي.

ورپسې د مشرکينو او د دوی د جعلي معبودانو په اړه ويل شوي: مشرکينو له الله تعالی پرته داسې معبودان ځان ته غوره کړي چې ګمان کوي هغوی به ئې خپلو موخو ته په رسېدو کې يا په خپله مرسته وکړي او يا به الله تعالی د هغوی په طفيل او سپارښتنه د دوی حاجتونه تر سره کړي، حال دا چې هغوی نه يوازې د دوی مرسته او ملاتړ نشي کولی بلکې دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي.

بيا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې د مخالفينو د معاندانه تبليغاتو له کبله مه غمجن کېږه، الله تعالی د دوی په پټو او څرګندو تبليغاتو او توطئو او په دې چې څنګه ئې شنډ او بې اغېزه کړي ښه پوهېږي.

بيا دغه کافر او مشرك انسان چې له الله تعالی پرته نور معبودان لمانځي او له بيا ژوندون انکار کوي دې ته متوجه کوي چې الله تعالی له يوې نطفې پيدا کړی، هغه ځای ته ئې رسولی چې له خپلې تګلارې او دريځ دفاع کولی شي، خو هغه خپل زور ځواك د حق او حقيقت په ضد کاروي، حتی د خپل رب په ضد استدلال کوي او وايي: څوك به دا هډوکي په داسې حال کې بيارا‌ژوندي کوي چې وراسته شوي وي، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې دې منکر انسان ته ووايي:

- همغه ذات به ئې بيارا‌ژوندي کوي چې په لومړي ځل ئې پيدا کړل،
- همغه ذات به ئې بيارا‌پيدا کوي چې په هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ،
- همغه ذات به ئې بيارا‌ژوندي کوي چې تاسو ته ئې له شنې ونې داسې اور پيدا کړ چې ترې بلول کوئ،
- آيا هغه چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر نه دئ چې دوی ته ورته انسانان پيدا کړي؟!
- کله چې الله تعالی د کوم کار اراده وکړي نو يوازې همدا اراده او دا حکم کافي دئ چې ووايي: وشه؛ او هغه کار له کوم ځنډ پرته تر سره کېږي.

د سورې په پای کې او د يوې جامع او ښکلې تتمې په توګه ويل شوي: نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې د هر څه واك د ده په لاس کې دئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ. يعني

هر څه د ده په اختيار کې او د هغه د ارادې په وړاندې مقهور دي، په پای کې د خپل رب په لوري درومې، تاسو هم د نورو شيانو په څېر د خپل ژوند په پای کې د خپل رب خوا ته درومئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يسٓ ۝١ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ۝٤ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ۝٥

ی س، قسم په باحکمت قرآن چې ته يقيناً يو له پيغمبرانو يې، پر مستقيمې لارې، د مهربان عزتمن ذات (له لوري) لاندې لېږنه.

(۱-۵)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دادي:

دلته پر قرآن لوړه شوې او ورپسې د دې قسم د ځواب په توگه ويل شوي: يقيناً چې ته يو له پيغمبرانو يې، پر مستقيمې لارې، د مهربان عزتمن ذات له لوري لاندې لېږنه. بايد وگورو چې د دې قسم او د هغه د ځواب تر منځ تړاو څنگه دئ، آيا مطلب ئې دا دئ چې الله تعالی د دې لپاره د قرآن پر عظمت لوړه کړې چې مخاطب مطمئن کړي چې له کوم شك او ترديد پرته رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی استازی او پيغمبر دئ؟ او که ئې مطلب دا دئ چې دا له حکمتونو ډك قرآن شهادت ورکوي چې حامل ئې د الله تعالی پيغمبر دئ؛ دا ځکه چې له يوه پيغمبر پرته بل څوك داسې له حکمتونو ډك کتاب نه شي راوړلی؟ د دې پوښتنو ځواب دا دئ: د قسم اصلي معنی دا ده چې په دې سره قسم کوونکی هغه څه د خپلې مدعا لپاره د شاهد په توگه وړاندې کوي چې قسم ئې پرې خوړلی، پر الله تعالی د قسم معنی دا ده چې قسم کوونکی الله تعالی پر خپلې مدعی شاهد نيسي او وايي: الله تعالی شاهد دئ چې زما وينا رښتيا ده. د قرآن ټول قسمونه دې ته ورته دي او په ټولو کې مقسم به (هغه څه چې قسم پرې ياد شوی) د شاهد په توگه وړاندې شوی، دلته هم قرآن د داسې شاهد په توگه وړاندې شوی چې څو خبرې ترې ثابتېږي: ۱- رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی پيغمبر دئ، ۲- لار ئې سمه او مستقيمه ده، ۳- د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوی.

دې ته مو پام وي چې مسلمان ته له الله تعالی پرته په بل څه لوړه کول حرام دي، که څه هم هغه د قرآن او کعبې په څېر يو سپېڅلی شی وي، دا ځکه چې نه قرآن د چا د مدعی لپاره شاهد کېدی شي او نه کعبه، داسې قسم هم له ادبي پلوه ناسم دئ او هم له شرعي پلوه ناجائز، قسم د يوه شي پر عظمت د لوړې کولو په معنی نه دئ که داسې وی نو پر

داسې سپېڅلو شیانو به قسم جائز وو، خو قسم په عامه توګه او په قرآن کې په خاصه توګه د دې لپاره وي چې مقسم به د شاهد په توګه وړاندې شي داسې لکه په پورتني قسم کې چې قرآن د وروستیو دریو مدعاوو د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې شوی. باید وګورو چې قرآن څنګه د دغو مدعاوو د اثبات شهادت ورکوي. حقیقت دا دئ چې قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم ستره معجزه ده، دومره ستره چې د هیڅ پیغمبر هیڅ معجزه نشي ورسره برابرېدی، دا د موسی علیه السلام تر عصاء او ید بیضاء؛ او د عیسی علیه السلام د مړي له ژوندي کولو او د ړوند تر روغولو ډېره ډېره لوړه او ستره معجزه ده، د مخکینیو پیغمبرانو معجزې داسې وې لکه د دوی رسالت، د هغوی د دعوت ساحه او موده محدوده وه، معجزې ئې هم د هغو کسانو لپاره وې چې په خپلو سترګو ئې لیدلې، یوازې دوی ئې پرې قانع کولی شو، نه ئې د خپلې زمانې هغه خلك قانع کولی شو چې دا معجزې ئې په خپلو سترګو نه وې لیدلې او نه د دوی تر رحلت وروسته وګړي، د عیسی علیه السلام د هغو سترو سترو معجزو په لیدلو سره د ګوتو په شمېر خلکو پرې ایمان راوړ، د خپل ښار خلکو ئې نه یوازې ایمان رانه وړ بلکې د هغوی د مخالفتونو او تورونو له کبله مجبور شو سیمه پرېږدي!! د رسول الله صلی الله علیه و سلم دعوت عام دئ، ټوله نړۍ او ټول خلك احتوی کوي، تر قیامت پورې دوام لري، د ده معجزه هم باید د ده د دعوت او رسالت په څېر پراخ ابعاد ولري او اغېز ئې تلپاتې وي، قرآن دغسې یوه ستره او تلپاتې معجزه ده، الله تعالی هغو خلکو ته چې ویل به ئې: ولې محمد (علیه السلام) ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې مخکینیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې، دا ځواب ورکړی: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه ډول معجزې ځکه نه دي ورکړی شوې چې مخکینیو خلکو پرې ایمان رانه وړ، آیا تاسو به په داسې معجزو قانع شوي وئ؛ سره له دې چې ستاسو پلرونو ونه منلې؟!! آیا دا قرآن د معجزې په توګه کافي نه دئ؟!! لکه چې فرمایي:

وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنکبوت

او وئې ویل: ولې د خپل رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ وواېه: یقیناً چې نښې خو له الله سره دي؛ او زه یوازې یو څرګند نذیر یم، آیا دا ورته کفایت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، یقیناً چې په دې کې د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

دا آیتونه وایي: چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي؛ نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قریشو په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر ستر شخصیت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو

ډك كتاب ورته وړاندي شوی، خو هغوی نه یوازي له ایمان راوړو ډډه کوي بلکي له رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسي خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چي د دوی شیطان پرې قانع شي، وایي: ولي د ده د رب له لوري څرګندي نښي نه دي پرې نازلي شوې؟ ولي داسي معجزې نه دي ورکړی شوې چي مخکینیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چي د دوی په ځواب کي ووایي: یقیناً چي نښي له الله سره دي؛ او زه یوازي یو څرګند نذیر یم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك، زه فقط یو نذیر یم چي د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پایلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوی د غلطي غوښتني په ځواب کي فرمایي: آیا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك كتاب چي ته ئې پرې لولې کفایت نه کوي؟!! یقیناً چي په دې کي د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چي د ایمان راوړو استعداد او وړتیا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

همدا راز فرمایي:

فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ القصص

نو کله چي زموږ له لوري حق ورغی وئې ویل: ولي ده ته هم موسی ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آیا تر دې د مخه په هغه څه کافران نه شول چي موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ویل: دوه کوډي (سحر) چي یو د بل ملاتړ کوي؛ او وئې ویل: موږ له هر یوه انکار کوونکي یو.

دا دئ ګورئ چي قریشو له رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي معجزې غوښتلې چي موسی علیه السلام ته ورکړی شوې وې، د دوی په ځواب کي ویل شوي: آیا د موسی علیه السلام له ټولو معجزو سره سره له ده او معجزو ئې انکار ونه شو؟ ستاسو پلرونو د هغه معجزو ته د سحر په سترګه وکتل او تاسو د محمد علیه السلام دعوت ته، دواړه مو کوډي او سحر او یو د بل مؤید وګڼل.

قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی كتاب دئ، د دې ادعاء اثبات لپاره یوازي دا کافي ده چي د اسلام دښمنانو په تېرو څوارلسو پېړیو کي په ټول قرآن کي یو داسي مورد ونه شو موندلی چي له علمي او عقلي پلوه د اعتراض وړ وي او د علم او عقل خلاف خبره ئې کړې وي!! نه یوازي دا بلکي د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي داسي حقائقو ته اشاره شوې چي انسان ډېر وروسته او د زیاتو علمي تحقیقاتو او څېړنو په نتیجه کي پرې پوه شوی، د هغو آیتونو شمېر سلګونو ته رسېږي چي هر یو ئې ستر علمي اعجاز دئ، داسي حقائق ئې په ګوته کړي چي انسان په نولسمي، شلمي او حتی یوویشتمي پېړۍ کي پرې پوه شوی، ما د (ساینس او

د قرآن علمي اعجاز) په نامه کتاب کې نژدې دوه سوه داسې آیتونه راغونډ او تشریح کړي چې هر یو ئې له علمي پلوه داسې ستره معجزه ده چې د هیڅ پیغمبر معجزه برابري نشي ورسره کولی. هر هغه څوك چې ضمیر او وجدان ئې نه وي مړ شوی، انساني مشاعر او عواطف ئې له منځه نه وي تللي، د ایمان راوړلو استعداد ئې په بشپړه توګه نه وي ځپل شوی، د دې آیتونو د هر یوه په لیدلو سره به په قطعي توګه دې نتیجې ته رسېږي چې قرآن حتماً د داسې ذات کتاب دئ چې د عالم پر ټولو اسرارو پوه دئ، دا د یوه عادي انسان وینا نه شي کېدی، هیڅ انسان که هر څومره نابغه وي په داسې حقائقو پنځلس پېړۍ وړاندې نه شو پوهېدی چې ساینس او ساینسپوهان له ډېرو ژورو او پر له پسې تحقیقاتو او څېړنو وروسته دا دئ اوس په شلمي او یوویشتمي پېړۍ کې پرې پوه شول. ما او زما د پېړۍ همزولو رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دئ لیدلی، د ده داسې معجزه مو نه ده لیدلې چې مخکینیو پیغمبرانو علیهم السلام ته ورکړی شوې وې، قرآن وایي چې ده ته دا ډول معجزې نه وې ورکړی شوې، خو د قرآن او د قرآن دغو آیتونو ته په پام سره پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی د یوه رښتیني پیغمبر په توګه ایمان لرو او د زړه سلول سلول مو ګواهي ورکوي چې دا قرآن د الله تعالی کتاب دئ او رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه پیغمبر، هیڅ انسان نشي کولی د قرآن په څېر له حکمتونو او اعجازونو ډك کتاب وړاندې کړي، د دې اعتقاد او باور لپاره دومره مضبوط دلائل لرو چې زړه او دماغ مو په بشپړه توګه پرې قانع شوی، د زړه په هیڅ ګوښې کې مو هیڅ شك او تردد ته هیڅ مجال نه دئ پاته. که داسې معجزه هم وګورو چې مخکینیو انبیاوو ته ورکړی شوې وې نو زموږ په ایمان کې به هیڅ تغییر رانشي.

همدا راز دا آیتونه وایي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم تګلاره مستقیمه ده، د ده له شخصیت او تګلارې معلومېږي چې دی د الله تعالی رسول دئ، هر انسان او شخصیت ئې له خپلې کړنلارې او تګلارې معلومېدی شي، د هر انسان تګلاره موږ ته وایي چې رحماني ده که شیطاني، د حق په لوري تمایل لري او که د باطل په لوري، بنسټ ئې پر حق او عدالت ولاړ دئ که پر ظلم او باطل، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته چې په قرآن کې کومه فکري، اخلاقي او عملي تګلاره ترسیم شوې؛ پر حق او عدالت ولاړه تګلاره ده، کوږوالی په کې نشته، د حق او عدالت خلاف خبره پکې نشته، د عقل او علم خلاف وینا په کې نشته، له هر څه ئې معلومېږي چې دا تګلاره د داسې رحمن رب له لوري ورته ترسیم شوې چې پر انسان زیات مهربان او رؤف دئ، په دې تګلارې کې داسې مورد نه شو موندلی چې د اعتراض وړ وي، داسې چې له حق او عدالت ښې یا کیڼ لوري ته د انحراف کومه وړه او معمولي نښه په کې تر سترګو شي.

د قرآن له ځلاندو لارښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا لارښود کتاب د مهربان عزتمن ذات له لوري رالېږل شوی. یقیناً چې هر هغه څوك به هرومرو دا کتاب د الله تعالی یوه لویه پېرزوینه ګڼي او له هغه به پند اخلي چې د حق په لټه کې وي، په

مستقيمي لار د تلو تلوسه لري او د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه وي څېل شوې. د قرآن له ويناوو معلومېږي چي دا لاربنود کتاب د عزتمن مهربان رب له لوري نازل شوی، په قرآن کې د انسان په اړه د دې رحمن رب د پراخ رحمت او پېرزويني مظاهر له ورايه ځلېږي، عزت ته د رسېدو ځرګنده لار ئې د انسان په وړاندي ترسيم کړې.

لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمْ فَهُمْ غَٰفِلُونَ ۝٦ لَقَدْ حَقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَىٰٓ أَكْثَرِهِمْ
فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝٧ إِنَّا جَعَلْنَا فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا فَهِىَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم
مُّقْمَحُونَ ۝٨ وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ فَهُمْ
لَا يُبْصِرُونَ ۝٩ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝١٠

د دې لپاره چي هغه وګړي انذار کړې چي پلرونه ئې نه دي انذار شوي نو ځکه غافل دي، يقيناً چي دا وينا د دوی پر ډېريو محققه (رښتينې) شوې نو ځکه ايمان نه راوړي، يقيناً چي موږ د دوی په غاړو کې داسي زنځيرونه اچولي چي تر زنو پوري (رسېدلي) دي نو ځکه دوی سر نېغ نيونکي دي؛ او موږ هم د دوی تر مخ ځانګړي خنډونه ګرځولي او هم د دوی تر شا ځانګړي خنډونه، نو دوی مو داسي پوښلي چي ليدل نشي کولی؛ او پر دوی برابره ده چي انذار ئې کړې يا ئې انذار نه کړې؛ (هيڅکله) ايمان نه راوړي.

(٦-١٠)- په دې مبارکو آيتونو کې له يوې خوا د رسول الله صلى الله عليه و سلم د بعثت دې اړخ ته اشاره شوې چي دنده ئې د هغو وګړو انذار او خبرداری ورکول دي چي نه په دوی کې کوم پيغمبر مبعوث شوی او نه د دوی په څو پېړيو مخکينيو کې، له بلي خوا د هغو وګړو د ايمان نه راوړلو ځيني اسباب ښودل شوي چي د مخالفت لار ئې غوره کړې، وايي: دوی ته غلط عقائد او باورونه له پلار نيکه په ميراث پاته شوي، نه په دوی کې کوم لاربنود پيغمبر تېر شوی او نه ئې په پلرونو کې، غافل او جاهل پاته شوي، د دوی د اکثريت په اړه دا وينا صدق کوي چي له حقائقو بې خبره او غافل دي نو ځکه ايمان نه راوړي، د دوی بدو افکارو او اخلاقو، جاهلانه غرور او کبر داسي بڼه غوره کړې لکه چي د دوی د غاړو پرېړ پرېړ زنځيرونه ترې جوړ شوي وي او د دوی سرونه ئې نېغ ساتلي او لاندي کتلو ته ئې نه پرېږدي، حالت ئې داسي دئ لکه چي تر مخ ئې هم خنډونه وي او څو ګامه آخوا نشي ليدلی او تر شا ئې هم خنډونه وي او نه پوهېږي آخوا څه تېر شوي، نه له ماضي پند اخلي او نه مستقبل ته پام او اعتناء لري، داسي لکه چي پر سترګو ئې پردې وي، د جهل او تعصب تورو پردو د دوی سترګي پوښلې دي، د حقائقو له ليدلو عاجز شوي، د دوی په اړه انذار او عدم انذار څه توپير نه لري، پر دوی کوم اغېز نه کوي او کومه ګټه نه وررسوي، هغه پړاو ته رسېدلي

چي د ايمان راوړلو استعداد او وړتيا ئې په بشپړه توگه ځپل شوي نو ځکه ايمان نه راوړي.

دې ته مو بايد پام وي چي دلته أَغۡلَٰلٗا: زنځيرونه، سَدّٗا: بند او خنډ، فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ: دوى مو پوښلي؛ په مجازي معنى راغلي، هيڅ يو ئې په حقيقي معنى او د جسمي زنځير، خنډ او پردې په معنى نه دئ راغلى، د دوى پر سترگو د جهل او تعصب توري پردې پرتې دي، په جهل وهلي او شرك ځپلي ماحول كې نښتي دي، نه له ماضي د پند اخيستلو وړتيا لري او نه له تيارو د وتلو او د روښانه مستقبل په لوري د تللو استعداد، كبر او بې ځايه غرور د دوى سرونه داسي لوړ ساتلي چي د حق په وړاندي ئې ټيټولو ته نه پرېږدي.

إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكۡرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِۖ فَبَشِّرۡهُ بِمَغۡفِرَةٖ وَأَجۡرٖ كَرِيمٍ ﴿١١﴾ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ وَءَاثَٰرَهُمۡۚ وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ﴿١٢﴾

يقيناً چي ته يوازي هغه څوك انذار كولى شې چي د پند متابعت وكړي او له رحمن رب په غياب كې ووېرېږي، نو هغه ته د ځانگړې بخښني او ځانگړي غوره رزق زېرى وركړه، يقيناً چي موږ مړي راژوندي كوو او هغه څه ليكو چي دوى وړاندي كړي او د گامونو نښې ئې هم؛ او هر څه مو په يوه څرگند پرانيستي كتاب كې درج كړي.

(١١-١٢)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: ته يوازي هغه څوك انذار كولى شې چي د پند متابعت وكړي او له رحمن رب په غياب كې ووېرېږي، داسي وگړو ته د ځانگړې بخښني او ځانگړي غوره رزق زېرى وركړه، الله تعالى به هغوى ته بخښنه كوي او په دنيا او آخرت كې به غوره رزق ورپه برخه كوي. دې ته دې پام وي چي الله تعالى مړي راژوندي كوي، همداسي به د هغو خلكو مړه زړونه هم راژوندي كوي چي د كفر له كبله د دوى عواطف او مشاعر مړه شوي، په ايمان سره به دغه مړه زړونه راژوندي كړي، خو د الله تعالى معامله له خپلو بندگانو سره د دوى د كړنو له مخي وي، دا انتظام ئې كړى چي د هر يوه وړاندې او وروسته عملونه او آثار او نتائج په دقيقه توگه او په ليكلې بڼه ثبت او په پرانيستي كتاب كې درج شي، د همدې كتاب له مخي له هر انسان سره مناسبه معامله كوي.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم مُّرۡسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُواْ

رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّآ إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّا
تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِن لَّمْ تَنتَهُواْ لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُواْ
طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمْ أَئِن ذُكِّرْتُم بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾

او د هغو کليوالو مثال ورته تېر کړه چي پيغمبران ورغلل، هغه مهال چي دوه مو ورولېږل خو دوی تکذيب کړل نو په درېيم مو د دوی ملاتړ وکړ، نو وئې ويل: يقيناً چي موږ ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، وئې ويل: تاسو خو له دې پرته بل څه نه يئ چي زموږ په څېر بني آدمان يئ؛ او رحمن رب هيڅ څه نه دي لېږلي، تاسو له دې پرته بل څه نه يئ چي دروغ وايئ، وئې ويل: زموږ رب ښه پوهېږي چي موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو؛ او پر موږ له څرګند ابلاغ پرته بل څه (ذمه والي) نشته، وئې ويل: يقيناً چي تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که ډډه ونه کړئ حتماً مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دروررسېږي، وئې ويل: بدمرغي مو په خپله له تاسو سره ده، آيا سره له دې چي پند درکړی شي، نه؛ بلکې تاسو مسرف وګړي يئ.

(۱۳-۱۹)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي خپلو مخاطبينو ته د هغو وګړو مثال وړاندې کړي چي پيغمبران ورغلل، لومړی دوه ورولېږل شول خو هغوی دواړه تکذيب کړل، بيا د دواړو مرستې ته درېيم هم ولېږل شو چي د سيمې استوګنو ته ئې وويل: موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته د الله تعالی لخوا لېږل شوي استازي يو، هغوی ورته وويل: تاسو خو زموږ په څېر بني آدمان يئ، له موږ مو په هيڅ څه کې کوم توپير نشته، نه الله تعالی تاسو د استازو په توګه لېږلي يئ او نه ئې ستاسو په لاس کوم پيغام لېږلی، تاسو له دې پرته بل څه نه يئ چي دروغ وايئ، پيغمبرانو ورته وويل: زموږ رب ښه پوهېږي چي موږ په يقيني توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، دنده مو يوازې دا ده چي د الله تعالی پيغام په بشپړ امانت او په واضح توګه تاسو ته ورسوو، هغوی ورته وويل: تاسو ځان ته د بدمرغۍ سبب بولو، که له خپلو خبرو لاس وانه خلئ نو هرو مرو مو رجم کوو او حتماً به له موږ دردوونکی عذاب دروررسېږي، پيغمبرانو په ځواب کې ورته وويل: د بدمرغۍ اسباب مو په خپله له تاسو سره دي، ستاسو کفر، شرک، ظلم، فساد او ګناهونه د بدمرغۍ اصلي اسباب دي، آيا موږ له دې کبله په رجم او دردناك عذاب ګواښئ چي نصيحت درته کوو؟ آيا سمه ده چي هغه کسان په دردناك عذاب وګواښئ چي تاسو ته پند درکوي؟ اصلي خبره دا ده چي تاسو په خپل چلن کې تل تېری او اسراف کوئ، زموږ په خلاف ستاسو دا ګواښونه هم له همدې اسراف راټوکېدلي.

د اتلسم آيت له وروستۍ فقرې معلومېږي چې دا مباركه سوره هغه مهال نازله شوې چې قريشو هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم په خلاف دې ته ورته دريځ غوره کړی وو او رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده ياران ئې گواښل چې له خپل دعوت لاس واخلي که نه نو له دردناك عذاب سره به مخامخ شي.

وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُواْ مَن
لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ
تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي
شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ
بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ﴿٢٥﴾

او د ښار له لرې څنډې يو داسې سړی راغی چې تلوار ئې کولو؛ وئې ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وکړئ، د هغو متابعت وکړئ چې کومه بدله نه درنه غواړي او دوی هدايت شوي دي. او څه راباندې شوي چې د هغه ذات عبادت ونه کړم چې زه ئې پيدا کړی يم او د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ، آيا له ده پرته داسې معبودان ونيسم چې که رحمن رب د کوم تاوان اراده راته وکړي نه د دوی شفاعت کوم څه رانه دفع کولی شي او نه مې ژغورلی شي، يقيناً چې زه به هغه مهال په څرگندې تېروتنې کې يم، نو له ما ئې واورئ چې ما په يقيني توگه ستاسو پر رب ايمان راوړی.

(۲۰-۲۵)- دلته د هغه تاريخي پېښې دې اړخ ته اشاره شوې چې د ښار له لرې څنډې يو سړی په داسې حال کې راغی چې تلوار ئې کولو او وئې ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وکړئ، د هغو متابعت وکړئ چې له تاسو د هيڅ بدلې طمع نه لري، مخلص او بې غرضه ناصحان دي، په سمه لار روان دي او هدايت ئې په برخه شوی، ستاسو ئې خوښه خو زه به ولې او د کوم دليل له مخې د هغه ذات عبادت نه کوم چې زه ئې پيدا کړی يم او تاسو هم په پای کې د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ، آيا له الله تعالی پرته داسې معبودان غوره کړم چې که رحمن رب د کوم تاوان اراده راته وکړي نو د دوی شفاعت نه کوم څه رانه دفع کولی شي او نه مې ژغورلی شي، يقيناً چې زه به هغه مهال په څرگندې تېروتنې کې يم، نو له ما ئې واورئ چې ما په يقيني توگه ستاسو پر رب ايمان راوړی.

د دې مؤمن انسان په دې زړه راښکونکو ويناوو کې څو مهم مطالب څلېږي: پيغمبران ئې په څو موجزو جملو کې په ډېره دقيقه توگه معرفي کړي، وايي: له خلکو نه مادي طمع

لري او نه معنوي، نه شكرانې او نذرانې ترې غواړي او نه د ستاينې، تقدير او تمجيد طمع او د دوی لويې منل او غاړه ورته ايښودل، هدايت ئې په برخه شوی، په سمه لار روان دي او خلكو ته په سمې لار د تلو بلنه وركوي، دا په حقيقت كې د يوه صالح او رښتيني داعي اساسي ځانګړتياوې دي، په همدې سره يو مخلص داعي له تګمار او دوكه مار مبلغ بېلولی شو، د پيغمبرانو له معرفي وروسته وايي: ستاسو ئې خوښه خو زه به ولې او د كوم دليل له مخې د هغه ذات عبادت نه كوم چې زه ئې پيدا كړی يم او تاسو هم په پای كې د هغه لوري ته ورګرځول كېږئ، ولې به د الله تعالی پر ځای داسې جعلي معبودان لمانځم چې نه زما په پيدايښت كې څه ونډه لري او نه مې برخليك د هغوی په واك كې دئ، يعني هغه هم پر الله تعالی خپل پوخ او پر دلائلو ولاړ ايمان اعلان كړ او هم پر آخرت، قوم ته ئې ويلې: كه وغواړئ يا ونه غواړئ د خپل رب لوري ته تلونكي يئ، آيا له الله تعالی پرته داسې معبودان غوره كړم چې كه رحمن رب د كوم تاوان اراده راته وكړي نو د دوی شفاعت نه كوم څه رانه دفع كولی شي او نه مې ژغورلی شي، تاسو په دې باور يئ چې دا جعلي معبودان د الله تعالی په وړاندې ستاسو سپارښتنه او شفاعت كوي، دوی الله تعالی ته ستاسو په اړه سپارښتنې كوي چې حاجتونه مو تر سره كړي، حال دا چې د دوی سپارښتنې او شفاعت نه كومه ګټه رسولی شي او نه كوم ضرر دفع كولی شي، كه زه داسې جعلي معبودان غوره كړم او له هغوی كومه طمع ولرم نو سخته غلطي به مې كړې وي او له سمې لارې به كوږ شوی يم، نو تاسو ته په جګ ږغ وايم: ښه ئې واورئ چې ما لا له وړاندې ستاسو پر حقيقي رب ايمان راوړی.

د دې مؤمن بنده په ويناوو كې ټولې هغه اساسي خبرې راغلې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې آيتونو د نزول پر مهال قريشو ته كولې.

قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ
ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا كُنَّا
مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ﴿٢٩﴾ يَٰحَسۡرَةً عَلَى
ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٠﴾

(ورته) وويل شول: دې جنت ته ننوځه، وئې ويل: كاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چې له كبله ئې زما رب بخښنه راته وكړه او له معززينو ئې وګرځولم؛ او له ده وروسته مو نه د ده پر قوم له آسمانه كوم لښكر ولېږلو او نه ئې لېږونكي وو، دا خو له يوې توندې چيغې پرته بل څه نه وو چې له كبله ئې همغه مهال سړې ايرې شول، وای افسوس پر دغو بندګانو، هيڅ پيغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چې پر هغه ئې استهزاء

کړې!!

(۲٦-۳۰)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمې لارښوونې زموږ په وړاندې څلېږي:

• دا د پيغمبرانو زړه ور مدافع مؤمن د مخالفينو له لوري شهيد شو. له شهادت سره سم هغه ته وويل شول چې جنت ته داخل شه، له دې څو خبرې معلومېږي: ۱- د شهيد او جنت ته د ده د فوري ننوتلو تر منځ نه ځنډ شته او نه ځنډ، له حق د دفاع په لار کې شهادت جنت ته د داخلېدو سند دئ، ۲- د برزخ ژوند حق دئ، د قيامت د ورځې تر محاسبې وړاندې جنت ته يو ډول ننوتل شته، له دې حقيقته انکار د قرآن له دغه څرګند آيت د انکار په معنی دئ. په دې اړه دا روايت ډېر وضاحت کوي چې وايي:

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللَّهِ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ) قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ « أَرْوَاحُهُمْ فِى جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِى إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلاَعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا قَالُوا أَىَّ شَىْءٍ نَشْتَهِى وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذَلِكَ بِهِمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِى أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِى سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى. فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا ». رواه مسلم

له مسروق رضی الله عنه روايت دئ چې له عبدالله رضی الله عنه مو د دې آيت په اړه وپوښتل (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ: هغه کسان مړه مه انګېره چې د الله په لار کې شهيدان شوي، بلکې دوی ژوندي دي او د خپل رب خوا ته روزي ورکول کېږي)، وئې ويل: موږ په دې اړه پوښتنه کړې ده نو وئې ويل: "د دوی ارواح به د شنو مرغانو په کالبوت کې وي، داسې قناديل به ئې وي چې تر عرش لاندې به راځوړند وي، د جنت هر ځای ته چې وغواړي ځي به او بېرته به دغو قنديلونو ته ستنېږي، يو ځل به الله تعالی هغوی ته په يوه ډول څرګند شي او وبه وايي: آيا کوم څه مو زړه غواړي؟ وبه وايي: زړه به مو نور څه وغواړي په داسې حال کې چې د جنت هر ځای ته چې وغواړو درومو؟!! درې ځلې به همداسې وکړي نو کله چې وګوري موږ نه پرېښودل کېږو او بيا بيا به پوښتل کېږو نو وبه وايي: اې زموږ ربه! غواړو زموږ ارواح زموږ جسدونو ته وګرځول شي چې يو ځل بيا ستا په لار کې ووژل شو! کله چې د دوی حالت داسې وليدلی شي چې هيڅ څه ته حاجت نه لري نو پرې به ښودی شي.

له دې روايت دغه خبرې معلومېږي: ۱- شهيدان به تر قيامت وړاندې جنت ته تللی شي، ۲- د دوی ارواح ته به نوی کالبوت ورکړی شي، ۳- استوګنځی به ئې تر عرش لاندې وي، ٤-

له دې پرته به بله هيله او آرمان نه لري چې ارواح ئې مخکيني جسد ته وګرځول شي او بيا د الله تعالی په لار کې وجنګېږي.

• دې مؤمن شهيد له ځان سره دا هيله يووړه چې ويل ئې: کاش زما قوم په هغه څه پوهېدلی چې له کبله ئې زما رب بخښنه راته وکړه او له معززينو ئې وګرځولم، يعني پر الله تعالی او آخرت ايمان، د پيغمبرانو ملتيا، له حق د دفاع په لار کې له مرګ وېره نه درلودل، د همدغو له کبله الله تعالی زما ګناهونه راوبخښل او په جنت کې ئې دا لوړ مقام راپه برخه کړ.

• د ده مشرك قوم داسې هلاك شو لکه د اور لمبې چې مړې شي او په سړو ايرو بدلې شي، دې ته څه اړتيا نه وه چې د دوی د هلاکت لپاره له آسمانه کوم لښکر ولېږل شي، بس يوه تونده چيغه کافي وه چې هر څه پرې رانسکور کړي او له منځه ئې يوسي.

• وای افسوس پر هغو خلکو چې کله کوم پيغمبر ورغلی نو پر ده او د ده پر وينا ئې ملنډې وهلې دي او له همدې کبله له بد برخليك سره مخامخ شوي!!

أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې تر دوی وړاندې مو څومره نسلونه داسې هلاك کړل چې د دوی په لوري بېرته نه راستنېږي او هر يو به ئې زموږ په وړاندې غونډ حاضر کړی شوي وي.

(٣١-٣٢)- آيا د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت مخالفينو هغو تاريخي پېښو ته پام نه دئ کړی چې په ترڅ کې ئې ګڼ شمېر هغه سرکښ قومونه په شديد الهي عذاب اخته شوي چې د دوی په څېر او د دوی اسلاف ول، جرړې ئې داسې قطع شوې او ټغر ئې داسې د تل لپاره ټول شو چې نه د دوی د بيا راستنېدو څه امکان شته او نه د دوی د تهذيب او تمدن د اعادې امکان، ټول د الله تعالی په لور تللي او د ده په وړاندې به راغونډ او حاضر کړی شي. د رسول الله صلی الله عليه و سلم مغرور دښمنان او په خپل زور ځواك دوکه شوي مخالفين دې پوه شي چې دوی ته هم دغسې برخليك منتظر دئ.

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلْأَرْضُ ٱلْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَٰهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ ٱلْعُيُونِ ﴿٣٤﴾ لِيَأْكُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾

او دوی ته دا مړه ځمکه يوه څرګنده نښه ده چې موږ ژوندۍ کړه او له هغې مو هغه دانه راوايستله چې دوی ئې خوري؛ او په هغې کې مو د کجورو او انګورو بڼونه پيدا کړل او په هغې کې مو چينې وبهولې، چې مېوه او هغه څه ئې وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آيا شکر نه کوي؟!

(۳۳-۳۵)- دلته قرآن خپل مخاطبين هغو الهي نعمتونو ته متوجه کوي چې الله تعالی د دوی په برخه کړي، هغه نعمتونه چې په ورکړې کې ئې له الله تعالی پرته هيڅوك هيڅ ډول ونډه نه لري، آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې دا مړه ځمکه، سپيره او وچ ډاګونه ئې، وچ شوي بوټي او فصلونه ئې، هغه وني چې د ژمي يخني وهلې دي او پاڼې ئې رژېدلې، دا ټول په پسرلي کې څوك بېرته راژوندي کوي؟ دا مېوې، دانې او بوټي د چا په اراده راټوکېږي، چا داسې جوړ کړي چې د انسان لپاره د خوراك توکي شي؟!! چا په هغې کې د کجورو او انګورو بڼونه پيدا کړل؟! چا په هغې کې چينې وبهولې، دا ډول ډول خوندوري مېوې او هغه څه چې تاسو ترې ډول ډول خواړه جوړوئ چا پيدا کړي؟!! د دغو بې شمېره نعمتونو تقاضا خو دا وه چې تاسو د خپل مهربان منعم رب د پراخو نعمتونو شکر پر ځای کړی وئ، آيا عجيبه نه ده چې تاسو شکر نه کوئ؟!

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٦﴾

سپېڅلتيا هغه ذات ته چې ټول جوړه جوړه (مخلوقات) ئې پيدا کړل، له هغه څه هم چې ځمکه ئې راټوکوي او د دوی له خپلو ځانونو هم او له هغه څه هم چې نه پرې پوهېږي.

(۳۶)- په دې مبارك آيت کې د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي، دا آيت وايي: الله تعالی ټول جوړه جوړه مخلوقات پيدا کړي که دا له ځمکې راټوکېدونکي بوټي او وني دي، که انسانان دي او که ډېر نور هغه مخلوقات چې خلك ئې نه پېژني، د قرآن د وينا له مخې د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي، د قرآن په نورو آيتونو کې هم دې مطلب ته اشاره شوې او ويل شوي چې نه يوازې د ځمکې نباتات زوج زوج يعني جوړه جوړه (نارينه او ښځينه) پيدا شوي بلکې الله تعالی هر څه جوړه جوړه پيدا کړي، دې آيت ته ځير شئ:

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ طه

(الله) هغه (ذات دئ) چې زمکه ئې تاسو ته زانگو گرځولې او په هغې کې ئې لارې درته پرانيستې دي؛ او له آسمانه ئې اوبه راوورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوايستلې، تاسو ئې هم وخورئ او خپل څاروي هم وڅروئ، يقيناً چې په دې کې عقلمنو ته څرگندې نښې دي.

گورئ چې دلته قرآن يو ځل بيا وايي چې بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پيدا کړي، يعنې نر او ښځه، د قرآن له نظره انسان، حيوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پيدا شوي، په دې حقيقت انسانان تر شلمې پېړۍ پورې نه پوهېدل، هيچا دا گمان نه کولو چې بوټي به د انسانانو په څېر جوړه جوړه وي او نر ښځه به لري؛ او د دوی دانې او مېوې به د داسې گردونو له يو ځای کېدا جوړېږي چې ځينې ئې نارينه خصوصيات لري او ځينې ئې ښځينه، له ډېرو علمي څېړنو او تحقيقاتو وروسته په دې حقيقت پوه شول، لکه څنگه چې قرآن وايي الله تعالی د هرې مېوې دوه گونې جوړه پيدا کړې، نن علم او ساينس همدا خبره کوي، تر دې وروستيو پورې هيڅوک په دې نه پوهېدو چې د ژوو او حيواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) کې هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځې د نطفو له يو ځای کېدو راپيدا کېږي، دا نارينه او ښځينه نطفې ئې په گلانو او نورو برخو کې وي، د دوی القاح يا د بادونو په واسطه تر سره کېږي او يا د موچيو په څېر حشراتو په واسطه، د مختلفو نباتاتو او ونو گلان د تذکير او تأنيث له پلوه درې ډوله وي: مذکر، مؤنث؛ او خنثی چې په هغوی کې هم د نارينتوب خصلت وي او هم ښځينه خصلت، د دواړو له القاح مېوه رامنځته کېږي. د مثال په توگه د خرما ونې چې مذکر او مؤنث لري او د جوار په يوه بوټي کې دواړه ډوله راپيدا کېږي. که تاسو د قرآن دا وينا د کوم ساينس پوه مخې ته کېږدئ نو يقيناً چې دا به د قرآن يو ستر علمي اعجاز گڼي.

قرآن د طبيعت د ټولو توکو تر منځ (زوجيت) د کمال او دوام باعث گڼي. دا دقيقه نظريه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چې د کمونستانو ماترياليستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندې کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو تر منځ دائمې (نزاع) د تکامل وسيله گڼي!! دا په داسې حال کې چې ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، همغسې لکه چې قرآن وايي، د دې خور عالم په هيڅ برخې کې د تضاد او عدم زوجيت بېلگه نه شو موندلی، د عالم په هرې برخې کې د دې حقيقت شاهد يو چې تکامل د ازواج او جوړو تر منځ د گډ کار او ژور تنسيق نتيجه ده، په حيواناتو او نباتاتو کې په څرگنده گورو چې يو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخيستلو) لپاره، د يوه ورکول يوه اړتيا وي او د بل اخيستل، همدغه احساس يو بل ته نژدې کړي، يو د بل نقص او اړتيا ته ځواب وايي او ضرورت ئې رفع کوي، همدا د دواړو تر منځ د راکړې ورکړې رابطه او تنسيق د نوي موجود د پيدايښت باعث شي او د دغې (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقاء ميسر او ممکن کړي. د طبيعت په عناصرو کې هم گورو چې دوه توکي يوازې هغه وخت يو له بل سره ترکيب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چې يو ئې د بل

مكمِل وي، يو ئې د وركړي لپاره كوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخيستو لپاره تش ځای، دا دواړه يو بل ته لاس وركړي، سره يو شي، يو د بل مكمِل شي، يو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلې جوړې تشه ډكه كړي او په همدې سره نوی تركيب رامنځته كړي، د عالم ټول مركبات همداسې جوړ شوي، د (تضاد) نظريه په بشپړه توگه واهي او بې بنسټه ده او په عالم كې د تكامل د عواملو له توجيه سخت عاجز او ناتوانه او د هيڅ څه د تكامل د څرنگوالي په اړه صدق نه كوي.

د قرآن په يوه بل آيت كې دا ستر حقيقت په دغو الفاظو راغلی:

وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنْهَٰرًا ۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾ الرعد

او دی همغه ذات دئ چې زمكه ئې خوره كړه او په هغې كې ئې غرونه او نهرونه جوړ كړل؛ او په هغې كې ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا كړه، شپه پر ورځ راكاږي، يقيناً چې په دې كې د تفكر كوونكو وگړو لپاره نښې دي.

قرآن دلته د الله تعالی د ډول ډول نعمتونو د بيانولو په لړ كې وايي چې الله تعالی هغه ذات دئ چې زمكه ئې خوره كړه، په هغې كې ئې غرونه او نهرونه جوړ كړل، په هغې كې ئې د هري مېوې دوه گونې جوړه پيدا كړه او شپه پر ورځ راكاږي.

تاسو پوهېږئ چې زمكه داسې جوړه شوې چې ځينې برخې ئې آواري دي او ځينې ئې لوړې او غرونه، د زمكې دا جوړښت د دې سبب شوی چې هم نهرونه، چينې او كاريزونه په كې وبهېږي او آواري زمكې خړوبې كړي او هم داسې بېلې بېلې سيمې او موسمي حالات په كې راپيدا شي چې د راز راز بوټو او ونو د ټوكېدو او ودې لپاره ضروري دي، كه زمكه داسې نه وی نو نه به نهرونه بهېدل او نه به بېل بېل موسمونه ول او نه رنگ رنگ بوټي او ونې. دا ونې او بوټي نه يوازې بېل بېل انواع دي او د رنگ او بڼې له پلوه په خپلو كې ژور توپيرونه لري بلكې هر نوع ئې داسې جوړه جوړه پيدا شوي چې ځينې ئې نارينه خصوصيات لري او ځينې ئې ښځينه، دا ډول ډول مېوې د همدغه زوجيت نتيجه او ثمره ده.

تاسو پوهېږئ چې ماترياليستان وايي ماده ازلي او ابدي ده خو قرآن وايي پيدا شوې او له منځه تلونكې ده، نن ساينس همدا د قرآن خبره كوي، كمونيستان دا عالم د اضدادو مجوعه گڼي او قرآن ئې د ازواجو مجموعه، ساينس په دې اړه هم د قرآن وينا تأييدوي، دوی په تدريجي تكامل باور لري، موږ په بشپړ او كامل پيدايښت له لومړۍ ورځې، دوی له خالق انكار كوي، حال دا چې د عالم هر څه د خالق په شته والي شهادت وركوي، دوی په تصادف باور لري او قرآن او علم تصادف منتفي گڼي.

---

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى

لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾

او دوی ته یوه څرګنده نښه شپه ده چې ورځ ترې راباسو چې له کبله ئې دوی هغه مهال په تیاره کې شي؛ او لمر په خپل مستقر او ځمځای کې درومي، دا د یوه څواکمن ذات مقدره ټاکنه ده؛ او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چې د کجوري د وچې زړې څانګې په څېر شي، نه لمر ته ښايي چې سپوږمۍ لاندې کړي او نه شپه پر ورځ وړاندې کېدونکې ده؛ او هر یو په خپل خپل فلك کې لامبي (په فضاء کې درومي).

(۳۷-٤٠)- دا مبارك آيتونه څو ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي:

• ورځ د شپې په پرتله داسې ده لکه د یوه شي له پاسه د هغه پوستکی، شپه هغه مهال رامنځته کېږي چې د ورځې د رڼا دا روڼ پوښ ورو ورو ترې وايستل شي، شپه او تياره د زمکې اصلي حالت دئ، زمکه تياره ده، له ځانه رڼا نه لري، د لمر رڼا ئې روښانه کوي، رڼا کول ئې داسې دي لکه چې د نور پرده ورو ورو پرې غوړېږي او تياره کېدا ئې داسې لکه دا د رڼا پرده چې ورو ورو ترې لرې کېږي، د شپې او ورځې په اړه د قرآن دا علمي تعبير دومره دقيق او په زړه پورې دئ چې په اهميت او ارزښت ئې هغه څوك ښه پوهېږي چې د شپې ورځې د تلو راتلو حالت د فضاء له لوړو وګوري، هلته انسان ته څرګندېږي چې رڼا د زمکې له يوې برخې بلې ته په داسې بڼې کې وځي لکه له يوه تور رنګي شي چې سپينه رڼه پرده ورو ورو ايستل کېږي.

• لمر د حرکت ثابت او ټاکلی مدار لري او دا هغه حقيقت دئ چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو. قرآن دې مدار ته د مستقر او فلك نوم ورکړی، وايي لمر درومي خو په يوه ثابت مستقر او مدار کې؛ او دا هغه علمي حقيقت دئ چې ساينس اوس پرې پوه شوی.

• سپوږمۍ د حرکت ټاکلي پړاوونه لري، په هر پړاو کې موږ ته په يوې بڼې کې راښکاري، د نرۍ سپيني ګارې په څېر راڅرګنده شي، ورو ورو ستره شي، بشپړه شي، بيا ورو ورو وړېږي، تر هغه چې له سترګو پټه شي. په ۳۹ آيت کې د سپوږمۍ لپاره د (عرجون القديم) الفاظ کارول شوي، عرجون القديم زړې وچې څانګې ته وايي، د سپوږمۍ لپاره دا الفاظ کارول ډېر عجيب برېښي، په سطحي او ظاهري نظر خو دا مطلب ترې اخيستل کېږي چې سپوږمۍ د مياشتې په آخري شپو کې د خرما د وچې څانګې په څېر نرۍ شي، خو ولې دا مطلب په نورو الفاظو سره نه دئ بيان شوی؟ د دې پوښتنې ځواب د هغو څېړنو په نتائجو کې تر لاسه کولی شئ چې سپوږمۍ ته د انسان له ختلو وروسته تر لاسه شول، کله چې انسان

پر سپوږمۍ کوز شو، ډېري ئې زمکې ته راکوزې کړې، د سپوږمۍ د ډبرو د ترکيب په اړه ئې تحقيقات وکړل، د سپوږمۍ ډېري برخې ئې له نظره تېرې کړې، ورته معلومه شوه چې په سپوږمۍ کې نه اوکسيجن شته، نه اوبه، نه نباتات او نه ژوي، تر دې وړاندې ئې داسې انګېرله چې ښايي د سپوږمۍ جوړښت او د سطحې او فضاء د موادو او غازاتو ترکيب به ئې زمکې ته ورته وي، خو هلته ئې حالات د خپلو انګېرنو او انتظار خلاف وموندل، د مزيدو تحقيقاتو په ترڅ کې دا هم ورته ثابته شوې چې سپوږمۍ له سره او په ابتداء کې داسې نه وه، په لومړيو کې ئې اوبه درلودې خو ورو ورو ئې دا اوبه له لاسه ورکړې دي او اوس يوه داسې کُره ده چې نه د ژوند آثار په کې تر سترګو کېږي او نه د اوبو!! لکه هغه ځانګه چې وچه شوې وي هم ئې خپل لونډوالی له لاسه ورکړی وي او هم د ژوند نښې او آثار!! ما ته ووايئ: آيا د سپوږمۍ په اړه د قرآن دا علمي وينا يو ستر علمي اعجاز نه دئ.

• لمر د سپوږمۍ د جذبولو، له خپل ځانګړي مداره د هغې د ايستلو فرصت نه تر لاسه کوي، يو د بل په مدار کې نه ننوځي، هر يو په خپل مسير کې خوځېږي، د دوی تر منځ ټکر او تصادم نه راځي، په دې وسيع کائنات کې دا بې شمېره اجرام، هر يو په يوه معين مدار کې خوځېږي، يو بل نه مومي چې له هغه سره ټکر وکړي او هغه جذب کړي، هر يو خپل حد پېژني، له هغه تېری او تجاوز نشي کولی، نه لمر له خپل ټاکلي مدار او مستقر بل لوري ته خوځېدلی شي او د سپوږمۍ په مدار کې داخليدلی شي او نه هغه جذبولی شي، نه د دغو دواړو تر منځ تصادم او ټکر راځي او نه هم شپه په ورځ باندی سبقت کولی شی، برعکس هره يوه په خپل وخت او نېټه راځي، دا د سپوږمۍ او لمر لپاره معين حدود چا وضع کړي چې له هغه د يوې ذرې په اندازه د تجاوز او تېري توان نه لري، دا څنګه او د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

• ګورئ چې لمر زرګونه کاله په پرله پسې او منظمه توګه، له يوه ځای طلوع کوي او په يوه ځای کې غروب کوي!! دغه معين مسير طوعاً او کرهاً پلې کوي او له هغه يوه خوا بله خوا د انحراف قدرت نه لري، دا څوك اداره کوي؟ دا په وسيع آسمان کې د ستورو تر منځ ټکر او تصادم ولې نه راځي؟ ولې يو د بل مسير ته نه داخلېږي؟ دا هر يو په خپل خپل مسير کې څوك اداره کوي؟ د دې تر شاه د چا اراده ده؟ د چا د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي چې په داسې منظم ډول او په ټول انقياد سره په خپل معين مدار کې خوځېږي او يو انچ، له هغه يوه او بل لوري ته انحراف نشي کولی؟!

• همدا راز شپه او ورځ خپل هغه حد پېژني چې ورته ټاکل شوی، له هغه تېری نشي کولی، نه اوږدېږي او نه هم لنډېږي، يوه له بلې سبقت نه کوي چې د شپې پر ځای ورځ راشي يا د ورځې پر ځای شپه راشي او يوه له بلې سبقت وکړي، بلکې هره يوه خپل حد پېژني او په خپل وخت کې راځي.

• په دغې مقدمې سره دوو حقائقو ته اشاره شوې: لومړی دا چې د عالَم ټول اشياء او

اجزاء محکوم او مقهور دي او دا چې تحولات د معينو ضوابطو او سننو سره سم تر سره کېږي، له خپلو حدودو تېرى نشي کولى، په خپل وخت کې راځي، په خپل ځاى کې راځي. او دوهم دا چې شپه او ورځ د طبيعت دوه حالتونه دي او لمر، سپوږمۍ د طبيعت دوه اجزاء، ګورئ چې دا دواړه مقهور او محکوم دي، خپل مدار طى کوي، يو د بل مدار ته نه داخلېږي، يو له بل سره ټکر او تصادم نه کوي، مالك الملك الله هر يو په خپل مسير او مدارکې ساتي، د هغه ساتنه کوي او د دغو په حرکت باندې چې کوم نتائج مرتب کېږي، کوم تحولات چې په عالم کې راځي دا هم د معينو سننو او ضوابطو سره سم، يو په بل باندې سبقت نشي کولى، آيا دا دليل د دې خبرې د ثبوت لپاره کفايت نه کوي چې دا هر څه يو مالك ټولواك اداره کوي؛ او هر څه د هغه مالك الله د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي؟

وَءَايَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِى ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِۦ مَا يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾

او دوي ته يوه څرګنده نښه دا ده چې د دوى اولاد مو په ډکې کشتۍ کې سپاره کړل؛ او دې ته ورته هغه څه مو ورته پيدا کړي چې پرې سپرېږي؛ او که وغواړو غرق به ئې کړو نو بيا به ئې نه چيغې اورېدونکى وي او نه به وژغورل شي، مګر زموږ له لورې کومه پېرزوينه او تر يوه وخته څه متاع.

(٤١-٤٤)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني شوې:

الله تعالى انسان ته د کشتۍ جوړولو استعداد ورکړى، په طبيعت کې ئې داسي سنن ايښي چې له انسان سره د کشتۍ په جوړولو کې مرسته کوي او داسي توکي ئې پيدا کړي چې انسان کولى شي له هغوى په استفادې سره کشتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسي جوړې کړې چې ځيني توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسي کښتيو جوړولو استعداد او توفيق ورکړ چې د بحر اوبه څيرې او مخکې درومي، له همدغو کښتيو په استفادې سره له يوې سيمې بلې ته ځي، تجارتي اموال وړي راوړي، نن په دې يويشتمې پېړۍ کې د انسان د انتقالاتو تر ټولو مهمه، ارزانه او خوندي ذريعه همدا کشتۍ دي، يقيناً چې په دې سره الله تعالى خپل ستر فضل د انسان په برخه کړى.

الله تعالى انسان ته د کشتۍ په څېر د نورو داسي وسائلو جوړولو استعداد او توفيق ورکړى چې له يوه ځاى بل ته د دوى تګ ممکن او آسان کړي. ټول هغه وسائل چې انسان تر نن پورې د حمل و نقل لپاره جوړ کړي او يا له دې وروسته به ئې جوړوي د دې آيتونو مظهر او مصداق ګڼل کېږي.

که الله تعالی وغواړي غرق به ئې کړي نو بیا به نه داسې څوك مومي چې د دوی چیغې واوري او نه داسې څوك چې دوی وژغوري، مګر دا چې الله تعالی په خپله وغواړي پرې ورحمېږي او تر یوې مودې مهلت ورکړي او له خپلو نعمتونو ئې تر یوه وخته برخمن کړي، یعني نه دا امکانات په دائمي توګه او له کوم بدلون پرته د دوی په واك کې دي او نه دا فرصتونه دائمي دي، الله تعالی د خپل پراخ رحمت له امله دوی ته فرصت ورکوي او دا تسهیلات ئې دوی ته برابر کړي.

ځینو درنو مفسرینو د دې آیت (وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ) د (فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ) فقرې ته په پام سره ویلي دي چې مراد ئې د نوح علیه السلام کشتۍ ده، خو دې ته اړ شوي چې د (ذُرِّيَّتَهُمۡ) په اړه له تکلف ډك تأویل وکړي او ووایي چې د ذریة کلمه د اضدادو کلماتو له ډلې ده، هم ئې پر پلرونو اطلاق کېدی شي او هم پر اولاد، خو دا تعبیر په څو دلائلو ضعیف دئ: ۱- د قرآن په هیڅ ځای کې ذریة د پلرونو په معنی نه ده راغلې. ۲- له وروستي آیت سره اړخ نه لګوي، ځکه هغه د سپرلۍ د وسائلو عمومیت افاده کوي او وایي: (دې ته ورته هغه څه مو ورته پیدا کړي چې پرې سپرېږي)؛ ۳- تر دې وړاندې او وروسته د نوح علیه السلام یادونه نه ده شوې، دا کشتۍ نوح علیه السلام ته منسوبول بې دلیله انتساب دئ.

غوره تعبیر دا دئ چې دلته د کشتیو او انسانانو نویو نسلونو ته اشاره شوې، لکه څنګه چې د انسانانو نسلونه زیاتېږي د کشتیو ډولونه هم زیاتېږي، پر زړو کشتیو نوي نوي او پرمخ تللي ډولونه ئې اضافه کېږي.

---

**وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٤٦﴾**

**او کله چې ورته وويل شي: له هغه څه ووېرېږئ چې ستاسو مخې ته دي او له هغه څه هم چې تر شا مو دي، چې رحم دربانديي وشي؛ او د خپل رب له آيتونو هيڅ آيت نه ورځي مګر دا چې دوی ترې انکار کوي.**

---

(٤٥-٤٦)- د دې مبارکو آیتونو په مطلب پوهېدل لږ دقت غواړي، دلته ویل شوي چې کله کافرانو ته وویل شي: له هغه څه ووېرېږئ چې ستاسو مخې ته دي او له هغه څه هم چې تر شا مو دي، چې رحم دربانديي وشي، باید وګورو چې په دې سره د دوی پام څه ته اړول شوی او له څه وېرې ته بلل شوي!! الفاظ عام دي، که د آیت سیاق و سباق ته توجه ونه کړو نو اطلاق ئې په ډېرو شیانو کېدی شي، خو که لږ ځیر شو ګورو چې تر دې دوه آیته وروسته ویل شوي: متی هذا الوعد إن كنتم صادقين: که رښتیني یئ ووایئ چې دا وعده به کله وي؟ له دې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې له (مابین ایدیکم) د قیامت

ورځ او له (ما خلفكم) هغه الهي عذابونه مراد دي چي پر مخنكيو باغي ولسونو نازل شوي.

ورپسې ويل شوي: دوی ته چي د خپل رب له لوري هر آيت او هره څرګنده نښه ورشي انكار ترې كوي، په هيڅ دليل نه قانع كېږي چي د دوی كړني او تګلاري د الهي عذاب سبب او موجب دي.

په دې آيت سره د سورې دوهمه برخه پيل كېږي، په دې برخي كې د بحث دوهمه موضوع څېړل شوې، د قيامت په اړه د منكرينو غلطي انګېرني او له دې انګېرنو راولاړي شوې غلطي كړنلاري او تګلاري څېړل شوې، د دوی اعتراضاتو او پوښتنو ته مضبوط ځوابونه ويل شوي، دا لړۍ د سورې تر پايه دوام كوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ
مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا
ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ
يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٠﴾

او كله چي ورته وويل شي: له هغه څه ئې انفاق كړئ چي الله درروزي كړي، هغه چي كفر ئې كړی هغو ته چي ايمان ئې راوړی وايي: آيا هغه چا ته خواړه وركړو چي كه الله غوښتی په خپله به ئې خواړه وركړي وو؟! تاسو نه يئ مګر په څرګندي تېروتني كې، كه رښتيني يئ ووايئ چي دا وعده به كله وي؟ (دوی خو) له يوې داسي لوړي چيغي پرته د بل څه انتظار نه لري چي دوی به ونيسي، په داسي حال كې چي په شخړو به بوخت وي، نو نه به وصيت كولی شي او نه به خپلي كورنۍ ته ستنېدی شي.

(۴۷-۵۰)- دا آيتونه موږ ته وايي: پر قيامت د عدم باور لومړۍ نتيجه دا ده چي منكرين ئې د سپېڅلو اهدافو لپاره مالي قربانۍ او له مظلومانو او حاجتمنو سره مرستي ته نه چمتو كېږي او د داسي انفاق لپاره كومه توجيه نه مومي، نه يوازي د قربانۍ جذبه او له همنوع سره زړه سوی ئې ځپي بلكي دا كار ورته ناسم او د عقل خلاف برېښي، دا آيت په دې اړه وايي: كله چي مؤمنان دوی ته ووايي: له هغه څه ئې انفاق كړئ چي الله درروزي كړي، ورته وايي: آيا هغه چا ته خواړه وركړو چي كه الله غوښتی په خپله به ئې خواړه وركړي وو؟! دا ستاسو تېروتنه ده چي له موږ داسي مطالبه لرئ، چا ته چي خدای څه نه دي وركړي موږ ئې ولي وركړو؟!! قيامت او له بندګانو سره الهي محاسبه نشته، كه په دې اړه ستاسو ادعاء حقيقت لري نو ووايئ چي دا وعده به كله تر سره كېږي؟ ولي ډېر ناصحان راغلي او خلكو ته ئې ويلي چي قيامت راتلونكی دئ او الله تعالى له خپلو بندګانو سره محاسبه كوي

خو نه قيامت راغی او نه دا محاسبه تر سره شوه؟!! د دوی په څواب کې ويل شوي: دوی خو له يوې داسې لوړې چيغې پرته د بل څه انتظار نه لري چې ناڅاپې به ئې ونيسي، په داسې حال کې چې په خپلو کې به په ورځنيو شخړو بوخت وي، داسې ناڅاپې به پرې راشي چې نه به د وصيت کولو مجال تر لاسه کړي او نه به خپلې کورنۍ ته د ستنېدو مجال.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ٥١ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٥٢ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٥٣ فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٤

او په شپېلۍ کې به پو کړی شي چې په نتيجه کې به ئې دوی له خپلو قبرونو د خپل رب په لور ځغلي، وايي به: وای افسوس پر موږ؛ چا له خپلو خوب ځايونو راپاڅولو؟ دا همغه څه دي چې رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو، دا خو به له يوې توندې چيغې پرته بل څه نه وي چې له کبله به ئې همغه مهال ټول زموږ په وړاندې حاضر کړی شوي وي، نو په دې ورځ به نه پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا درکول کېږي چې تاسو کول.

(٥١-٥٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت ناڅاپې راتګ او د کافرانو د انګېرنو او تصوراتو خلاف راتګ او هغه مهال د منکرينو حالت داسې انځور شوی:

- قيامت به ناڅاپې راشي، داسې چې په شپېلۍ کې به پو کړی شي او په همدې سره به دوی له خپلو قبرونو راپاڅي او د خپل رب په لور به ځغلي، همغسې لکه چې په پسرلي کې د تالندې له يوه ږغ سره د باران وربدل پيل شي او همدا باران د دې باعث شي چې تر خاورو لاندې د بوټو زړي وخوځېږي، وده وکړي او له زمکې راوټوکېږي، د قيامت په ورځ به د دوی بياژوندون همداسې وي.
- اوس خو دوی قيامت لرې ګڼي او په راتلو کې ئې ځنډ داسې تعبيروي چې قيامت نشته، خو هغه ورځ به وايي: افسوس پر موږ؛ چا له خوبه راپاڅولو؟ له خپلې مړينې تر قيامت پورې اوږده موده به داسې ګڼي لکه د خوب څو شېبې، هغه مهال به دوی په خپله هم وايي: دا همغه څه دي چې رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو، همغه څه چې موږ ترې انکار کولو، په خپله د قيامت صحنه به هم دوی ته همدا خبره کوي او له مؤمنانو به د خپلې پوښتنې په ځواب کې هم همدا ځواب اوري.
- همغه مهال به ټول د الله تعالی په وړاندې د محاسبې لپاره حاضر کړی شي، نه به پر

چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا ورکول کېږي چې کول ئې.

إِنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِى شُغُلٍ فَٰكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَأَزْوَٰجُهُمْ فِى ظِلَٰلٍ عَلَى
ٱلْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾ سَلَٰمٌ قَوْلًا مِّن
رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴿٥٨﴾

یقیناً چې جنتیان به دغه ورځ خوښ خوښ په ځانګړو مشغولتیاوو کې بوخت وي، دوی او مېرمنې به ئې په سیورو کې پر تختونو (ناست) تکیه وهونکې وي، هلته به ډول ډول مېوې او هر هغه څه د دوی په برخه وي چې غواړي ئې، یو سلام، د رحمن رب له لوري یوه وینا.

(۵۵-۵۸)- دلته د جنتیانو حالت داسې انځور شوی: جنتونه به ئې په برخه شي، د خوښیو په جامو کې به پټ او له خوښیو ډکو مشغولتیاوو کې به بوخت وي، د جنت د ونو سیورې کې پر تختونو ناست او تکیه به ئې وهلې وي، ډول ډول مېوې به ئې مخې ته پرتې وي او هر هغه څه به ئې په برخه وي چې د دوی زړه ئې غواړي، د مهربان رب د وینا مطابق به ئې په سلام سره استقبال کېږي.

وَٱمْتَٰزُوا۟ ٱلْيَوْمَ أَيُّهَا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا۟
ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعْبُدُونِى ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾
وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا۟ تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِى
كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱصْلَوْهَا ٱلْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾

اې مجرمانو! نن بېل شئ، اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دئ؟ او زما عبادت وکړئ، همدا مستقیمه لار ده؛ او یقیناً چې ستاسو ډېر نسلونه ئې بې لارې کړل آیا تعقل مو نه کولو، همدا هغه دوزخ دئ چې وعده ئې درکول کېده، نن د هغه کفر له کبله ورننوځئ چې تاسو کولو.

(۵۹-٦٤)- دلته د قیامت په ورځ د دوزخیانو حالت په دې توګه انځور شوی: دوی ته به وویل شي: اې مجرمانو! له نورو بېل شئ، اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو ښکاره دښمن دئ؟ آیا تاسو ته مې نه وو

ویلي چې یوازې زما عبادت وکړئ چې همدا یوازینۍ مستقیمه لار ده؟ آیا نه مې وو درته ویلي چې شیطان ستاسو ډېر نسلونه بې لارې کړل؟ ولې مو په دې اړه تعقل نه کولو؟ دا همغه دوزخ دئ چې وعده ئې درکول کېده او تاسو دا وعده دروغجنه ګڼله او د هغې له منلو مو انکار کولو، نن د خپل کفر له کبله ورننوځئ.

ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ
يُبۡصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمۡ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مُضِيّٗا وَلَا
يَرۡجِعُونَ ﴿٦٧﴾

په دغه ورځ به د دوی پر خولو مهر ولګوو او د دوی لاسونه به له موږ سره خبرې کوي او پښې به ئې پر هغو کړنو ګواهي ورکوي چې دوی کولې؛ او که وغواړو پر سترګو به ئې ړوندوالی راولو نو د لارې لټه به کوي خو څنګه به ئې ویني؛ او که وغواړو پر خپل خپل ځای به ئې داسې مسخ کړو چې په نتیجه کې به ئې نه وړاندې تللی شي او نه وروسته ستنېدلی شي.

(۶۵-۶۷)- د قیامت په ورځ او د الهي محاسبې په یوه ځانګړې پړاو کې به الله تعالی د کافرانو پر خولو مهر ولګوي، د څه ویلو توان به ترې سلب شي، لاسونه به ئې له الله تعالی سره خبرې کوي او پښې به ئې د دوی پر مخکینیو کړنو ګواهي ورکوي. که الله تعالی وغواړي نو نن او په همدې دنیا کې به د دوی سترګې ړندې کړي، داسې ړندې چې د سترګو هیڅ نښه هم پاتې نشي، بیا به دوی د لارې لټه کوي خو له موندلو او لیدلو به ئې عاجز وي، خو الله تعالی د خپل پراخ رحم له امله له هغو کافرانو هم د سترګو دا نعمت بېرته نه اخلي چې د حق په اړه ئې چلن داسې دئ لکه د ړندو، دوی خو د عدالت له مخې د دې وړ دي چې الله تعالی د سترګو دا نعمت بېرته ترې واخلي، خو مهربان رب داسې نه کوي؛ او د دوی د کفر او عصیان سره سره پرېږدي چې دا سترګې د دوی په خدمت کې وي او د لارې په موندلو کې د دوی مرسته وکړي، که الله تعالی غوښتلی نو دوی به ئې داسې پر خپل خپل ځای مسخ کړي ول چې په نتیجه کې به ئې نه وړاندې تللی شول او نه وروسته ستنېدلی، خو مهربان رب داسې نه کوي، د وړاندې او وروسته تلو راتلو توفیق نه ترې سلبوي.

قرآن وايي چې د انسان هر څه، هره وینا او هر عمل، د زړه هره خبره، اراده او نیت ثبت کېږي او د قیامت په ورځ به ده ته په لیکلې او مجسمه بڼه کې وروښودل شي، د الهي محاسبې په ورځ به د زمکې تر څنګ د انسان سترګې، غوږونه، لاس او پښې او پوستکی هم

د ده په عملونو شهادت ورکوي، لکه چې فرمايي:

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢١﴾ فصلت

تر هغه چې (اور ته) نژدې ورشي، غوږونه، سترګي او پوستکي به ئې پر عملونو شهادت ورکوي. او خپلو پوستکو ته به وايي: ولې زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي يو چې هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

دا آيتونه ښيي چې د انسان لاسونه، پښې او پوستکی او د زمکي هر څه به هغه ورځ شهادت ورکوي. د قرآن دغو آيتونو ته هم ځير شئ:

إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ الزلزال

کله چې دا زمکه په خپلي لړزېدا سره ولړزي؛ او دا زمکه خپل درانه راوباسي؛ او انسان ووايي چې څه پرې شوي؟ په دې ورځ به خپل اخبار بيانوي. دا ځکه چې ستا رب به ورته وحي کړې وي.

بايد وګورو چې څه به په دې ورځ د انسان د حيرانتيا سبب شي؟! د زمکي کوم حرکت به دی په حيرت کې واچوي او دې ته به ئې مجبور کړي چې ووايي: په دې زمکي څه شوي؟ آيا د زمکي هيبتناکه زلزله به ئې حيران کړي؟ يا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدا او يا د انسان په خلاف د زمکي شهادت؟

په لږ دقت سره په دې خبري پوهېدی شو چې په دې آيت کې ښودل شوی حيرت به نه خو د زمکي د سختي زلزلې په وجه وي، ځکه چې دا زلزله به مخکي او له قبرونو د انسانانو له راپاڅېدو د مخه وي او نه به له قبرونو د انسانانو د راوتو په سبب وي، ځکه چې دوی په خپلو سترګو له قبرونو خپل راوتل نه ګوري او نه پرې پوهېږي، داسي لکه چې له ميندو خپل راپيدا کېدا نه ګوري او نه وروسته ور په ياد وي. دا هم سمه نه ده چې ووايو ځيني به د ځينو نورو بياراپاڅېدا ګوري، ځکه د دې خبري لپاره هم څه دليل نشته. د يس د سورې ۵۲ آيت ښيي چې د آخرت منکران به له راژوندي کېدو وروسته يو له بله پوښتنه کوي چې موږ چا له خپلو خوب ځايونو راپاڅولو؟ من بعثنا من مرقدنا؟ دا آيت ښيي چې د قيامت په ورځ به انسانان په دې نه پوهېږي چې څنګه بياراژوندي شوي.

له دې ټولو معلومېږي چې د انسان د حيرت سبب به د زمکي هغه شهادت وي چې د انسانانو د کړو وړو په اړه به ئې ورکوي.

ابوهريره رضى الله عنه روايت كوي چي پيغمبر عليه السلام دا آيت (يومئذ تحدث أخبارها) تلاوت كړ او وئې فرمايل: آيا پوهيږئ چي زمكه به كوم اخبار بيانوي؟ صحابه وو وويل: الله او رسول ئې ښه پوهيږي؛ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د زمكې اخبار بيانول هغه شهادت دئ چي زمكه به ئې د بندگانو د هغو عملونو په اړه وركوي چي د زمكې پر سر ئې كړي، وايي به: په فلانى ورځ ئې فلانى فلانى كار وكړ، دا د زمكې اخبار دي چي هغه به ئې بيانوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الْآيَةَ {يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا} [الزلزلة: ٤]، قَالَ: " أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا؟ "، قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا، أَنْ تَقُولَ: عَمِلَ كَذَا وَكَذَا فِي يَوْمِ كَذَا؛ قَالَ: فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا " الترمذى و النسائى

عن ربيعة الجرشى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تَحَفَّظُوا مِنَ الأَرْضِ فَإِنَّهَا أُمُّكُمْ، وَ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ عَامِلٍ عَلَيْهَا خَيْراً أَوْ شَرًّا إِلاَّ وَ هِيَ مُخْبِرَةٌ بِهِ . رواه الطبرانى

له ربيعة الجرشي رضي الله عنه روايت شوى چي پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له زمكې سره په خپل چلن كې احتياط كوئ، ځكه چي زمكه ستاسو مولد او بنسټ دئ (چي ترې پيدا شوي يئ) او هيڅ داسي عمل كوونكى نشته چي د زمكې پر سر ئې ژوند كړى وي او دا دي د ده په ښه او بد عمل شهادت ورنكړي.

د على رضي الله عنه په اړه راځي چي كله به ئې د بيت المال اموال په مستحقينو ووېشل او هغه به ئې تش كړ نو دوه ركعته لمونځ به ئې همځلته اداء كړل او بيت المال ته به ئې په خپل خطاب كې وويل: ته شاهد يې چي ما په حقه ډك او په حقه تش كړې (يعني نه مي څه حرام مال دركې واچاوو او نه مي ستا كوم څه په حرامه لار مصرف كړ).

پيغمبر عليه السلام فرمايي: (چي كله د لمانځه وخت راورسيږي په لوړ غږ أذان وكړئ، د غرونو او زمكې څه چي ئې واوري د قيامت په ورځ به شهادت وركوي.

دغه زمكه چي ته ئې مړه او بې حسه گڼې او په بې باكۍ سره ئې پر سر گناهونه كوې، د قيامت په ورځ به ستا ټول ښه او بد عملونه بيان كړي.

ما ته وواېئ: ١٤٠٠ كاله مخكې به د دې وينا په اړه د مخالفينو عكس العمل څنگه وو چي د انسان لاسونه به خبري كوي، پښې او پوستكى به ئې شهادت وركوي، زمكه به خپل ټول اخبار بيان كړي؟ آيا په دې خبري به ئې په خپلو كې ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوكو ټوكو به يوه بل ته نه وي ويلي چي دا دئ محمد (عليه السلام) دا ادعاء هم وكړه چي دا مړه زمكه به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت وركوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسي ساينس پوه ته وكړئ چي د علمي څېړنو په نتيجه كې دا ورته

معلومه شوې چې د انسان پوستکی، د زمکې سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حرکت ثبتوي، هغه ساینس پوه چې نن په ډېر قاطعیت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د زمکې په سطح او فضاء کې داسې ثبت کېږي چې د تل لپاره دوام کوي او زرګونه کاله وروسته هم کولی شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو کشف او تر لاسه کړو. که دغه ساینس پوه ته ووایئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې دا خبره کړې، عکسل العمل به ئې څه وي؟ آیا کېدی شي له دې پرته بل څه ووايي چې قرآن حتماً له داسې مرجع راغلی چې په ټولو اسرارو پوه دئ؟

ستا ژبه او شونډې، ستا ستونی او حنجره چې ستا د تکلم وسائل دي او په دې سره د خپل زړه خبرې بیانوې، ټول له دغو خاورو جوړ شوي، همدا خاوره ده چې ستا د ژبې، شونډانو او حنجرې مالیکولونه ترې جوړ شوي او د ما في الضمیر په بیانولو کې ستا مرسته کوي، د قیامت په ورځ به په خپلواکه او مستقله توګه په خبرو راشي او شهادت به ورکوي.

ولې به زمکه په هغه ورځ خپل اسرار راباسي، ټولې خبرې به بیانوي او هر هغه څه به په ډاګه کوي چې د دې پر سر تېر شوي؟ دا ځکه چې الله تعالی ورته وحي کړې چې نن هر څه ثبت او د قیامت په ورځ ئې بیان کړه.

د (یوحی) په ځای د ( اوحی) د صیغې راوړل ښیي چې زمکې ته له مخکې (الهام) شوی چې ټول جریانات به ثبتوي او د قیامت په ورځ به ئې بیانوي، یعنې زمکه دا اوس اوس د ټولو جریاناتو شاهده او ناظره ده، هر څه احساسوي، حفظ کوي ئې او د قیامت په ورځ به ئې د انسان مخې ته ږدي.

**وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ۝٦٨**

**چا ته چې عمر ورکوو بېرته ئې په خلقت کې رانسکورو، نو آیا تعقل نه کوي؟!**

(٦٨)- دا آیت د مخکیني مضمون په ارتباط وايي: الله تعالی چې چا ته عمر ورکوي بېرته ئې په خلقت کې نسکوروي، زوړوالی پرې راځي او ځواکونه او استعدادونه ئې ورو ورو کمزوري او ضعیف کېږي او په پای کې له منځه ځي، نو ولې تعقل نه کوي او دا وېره نه لري چې الله تعالی له دوی ټول شته ځواکونه او استعدادونه بېرته واخلي، نه ئې سترګې لار وروښيي او نه ئې پښې په تګ کې مرسته ورسره وکړي؟!

موږ په خپلو سترګو ګورو چې هر عمر لرونکی په زوال او زړښت محکومېږي، له يوې نېټې ئې ژوند پیل شي، د کمال خاص پړاو ته ورسېږي، د عمر په تېرېدو سره د زوال په لور درومي او په پای کې مري، د چا په اراده چې هر څه د زوړوالي او کهولت قاعدې محکوم دئ او د خپلې ځوانۍ نشاط ورو ورو له لاسه ورکوي هغه ذات کولی شي نن له انسان د ده ځواکونه او استعدادونه سلب کړي او د قیامت په ورځ په خپلو غړو د ده تسلط له منځه یوسي، غړي ئې د ده خلاف شهادت ورکړي.

لكه څنگه چې قرآن وايي د دې عالم هر مخلوق خاص عمر لري او د عمر په پای کې زوال مومي، نن ساينس او علم او ساينس پوهان همدا خبره كوي، وايي: هر څه زړېږي او زوال مومي، د كهولت عامه قاعده چې وايي: هر څه په زوړوالي او فنا باندې محكوم دئ، نن دا د ساينسي علومو يو عام او اساسي بنسټ دئ، خلقو ډېر شيان ابدي او تلپاتې گڼل، خو نن علم په دې پوهېږي چې د كهولت قاعده يوه عامه حاكمه قاعده ده، د عالم هر څه د دې په وړاندې محكوم دي، هر څه د كهولت او زوړوالي په لور درومي، قرآن عظيم الشأن فرمايي: لكه څنگه چې د فرد لپاره اجل ټاكل شوی او د قومونو لپاره اجل ټاكل شوی، همدا راز د عالم د هر توكي لپاره اجل ټاكل شوی.

وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُۥٓ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْءَانٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ ٱلْقَوْلُ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾

او نه موږ شعر ورښودلی او نه له ده سره ښايي، دا خو له ځانگړي پند او ځرگندوونكي قرآن پرته بل څه نه دي، د دې لپاره چې هغه انذار كړي چې ژوندی وي او د كافرانو په اړه هغه وينا محققه شي.

(٦٩-٧٠)- د حق دښمنانو به د قرآن ښكلي او اغېزناك تركيب ته په پام سره ويل: محمد (عليه السلام) يو پياوړی شاعر او ليكوال دئ او د ده كتاب (قرآن) د شعر كتاب دئ، الله تعالی د دوی په ځواب كې فرمايي: نه موږ شعر ورښودلی او نه له ده سره ښايي، موږ چې څه ورښودلي هغه شعر نه دئ او د ده شأن تر دې ډېر لوړ دئ چې يو شاعر وي، د ده له لوري چې تاسو ته څه وړاندې شوي دا خو له ځانگړي پند او ځرگندوونكي قرآن پرته بل څه نه دي، په دې كې تاسو ته پند دركړی شوی او حقائق درته ځرگند كړی شوي، موخه ئې دا ده چې د ژونديو زړونو خاوندان انذار كړي او د كافرانو په اړه حجت بشپړ شي، يعني قرآن د بااحساسه وگړو لپاره پند دئ او د كافرانو لپاره نهائي حجت.

دې ته مو پام وي چې قرآن مكرراً د دښمنانو دا تور رد كړی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې د يوه شاعر خطاب كړی، دا نه د دې لپاره چې قرآن هر شاعر ته په سپكه سترگه گوري، بلكې په دې سره مخالفينو ته ويل شوي: ستاسو دا قضاوت ظالمانه او د عقل او منطق خلاف قضاوت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د يوه شاعر په سترگه گورئ، نه د يوه پيغمبر په سترگه، د قرآن لوړ او اغېزناك ادبي تركيب داسې تعبيروئ چې گواكې دا د كوم شاعر د ادبي سليقې او استعداد زېږنده دئ!! خو تاسو راشئ د خپلې ټولنې شعراء او د دوی اشعار، افكار او اطوار د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لوړ معنوي او اخلاقي شخصيت؛ او د ده له افكارو او افعالو سره او له هغه عظيم الشأن قرآن سره مقايسه كړئ چې د ده په لاس تاسو ته وړاندې شوی. قرآن شعر او شاعران په دوو ډلو

وېشي:

۱- بد شعر او خراب شاعر چې دا ئې ځانګړتياوي ګڼي:

• لار ورکي او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي، د ده شعر به د دوی په محفلونو کې زمزمه کېږي، دی به د هغوی ملګری ومومي او هغوی به د ده ملاتړي او مينه وال.

• د ده د اشعارو له مخي به په دې پوه نه شې چې د ده هدف څه دئ؟ خپل مخاطب څه ته بلي؟ بس هغه چوټکي ته ورته دئ چې کله په يوې ځانګي کښېني او کله په بلي، لالهانده، کله په يوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په شعرونو کې به واضح او سپېځلی پيغام ونه مومې، بس غواړي خپل مخاطب راضي کړي، له هغه څه تر لاسه کړي، که نور هيڅ نه وي نو يو شاباسی خو ئې په برخه شي!!

• هسې د بې مقصده ويناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د ميدان اتل وي خو د عمل د ميدان ملا ماتی او شل، هغه څه وايي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

۲- قرآن د شاعرانو له مخکينۍ ډلې هغه شاعر مستثنی کوي چې ځانګړتياوي ئې دا وي:

• د ايمان خاوند وي، شعر ئې له ايمان راخوټېدلی او د ايمان په خدمت کې، هغه چې د ده د هر شعر په هري مصرع کې به د ايمان نښې وګورې.

• د عمل د ميدان مېړنی وي، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چې شاعر وي يو صالح انسان وي، داسې نه دئ چې په عمل پاڼې کې ئې له شعر پرته بل څه نشته، د ژوند ټوله پانګه ئې يوازې څو اشعار دي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغې پانګې په تر لاسه کولو کې ضايع کړي، بلکې هغه يوازې د فراغت وختونه د شعر ليکلو او ويلو ته مختص کړي.

• تل ئې الله تعالی په ياد وي، ژبه ئې د الله په ياد لمده، زړه ئې د الله په ياد درېبږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر يادوي، که څوك ستايي نو هغه خدای دئ، که له چا سره د ميني اظهار کوي هغه خدای دئ، که له چا طمع يا وېره لري نو هغه يوازې خدای دئ، خدای پالي، خدای لمانځي، له خداي مرسته غواړي، د الله په لوري بلنه ورکوي.

• مبارز او مجاهد شاعر دئ، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو د غچ اخيستلو لپاره ملا تړي او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي او د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

په دې مبارکو آيتونو کې د قرآن هر مؤمن مخاطب ته دا لارښوونه شوې چې د ښکلي شعر او د قدرمن، دروند او هدفمن شاعر د تشخيص او پېژندو په اړه بايد دا دقيق الهي معيار په پام کې ولري او هر شعر او شاعر په دغې تلې وتلي؛ هغه شاعر ته د يوه مؤمن او متعهد شاعر په سترګه وګوري چې دغه ځانګړتياوي ولري، د شعر هغه ديوان لري وغورځوي

چې د لوړو معنوي ارزښتونو په خدمت کې نه وي، هغه خو تر پښو لاندې کړې او اورته ئې وغورځوې چې د گنده مينې او عشق خبرې کوي، ساقي، مى او ساغر ستايي، د خپل گاونډي د لور او خور سور شال، تور خال، زلفې، شونډې او د کميس د ملني نوم په خوله اخلي، په اشعارو کې ئې نه د حق ملاتړ وي او نه د باطل غندنه، نه د مظلوم ملگرتيا او نه د ظالم مخالفت. د هغه چا ديوان چې يا پاچايان او يا د هغوى رنگين رنگين دربارونه او محفلونه ستايي!!

أَوَ لَمْ يَرَوْاْ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

آيا دې ته ئې پام نه دئ کړى چې موږ هغه څاروي ورته پيدا کړي چې زموږ لاسونو جوړ کړي او دوى ئې خاوندان دي؛ او دوى ته مو رام کړي نو ځيني ئې د دوى سورلۍ دي او له ځينو ئې خوراك کوي؛ او په هغوى کې دوى ته ځيني گټې او څښاکونه دي، نو آيا شکر نه کوي؟!!

(۷۱-۷۳)- دلته قرآن خپل مخاطبين هغو الهي پېرزوينو او نعمتونو ته متوجه کوي چې د څارويو په بڼې کې د انسانانو په برخه شوي؛ فرمايي: آيا دې ته ئې پام نه دئ کړى چې الله تعالى هغه څاروي ورته پيدا کړي چې په خپل لاس ئې داسې جوړ کړي چې دوى ته مسخر او رام وي، د دوي په خدمت کې وي او د دوى گڼ شمېر اړتياوې رفع کړي، ځيني ئې د دوى سورلۍ دي، د ځينو غوښه خوري، له شيدو ئې گڼ شمېر خوندور او گټور خواړه لکه مستې، پېروى، تروې، کوچ او پنير جوړوي، له پوستکي، وړيو او هډوکو ئې گټه اخلي، خپل بارونه پرې انتقالوي؛ او ډېرې نورې گټې ترې اخلي، آسونه، کچرې او خره ئې پيدا کړل چې پرې سپاره شئ، تاسو ته تابع او رام او سپرېدو ته مو چمتو، داسې ئې پيدا کړي چې له ښايست ئې خوند اخلئ، رنگونه ئې ښايسته، جوړښت ئې ښکلى او حرکات ئې په زړه پورې. ستاسو د سورلۍ لپاره ئې ډېر نور داسې شيان پيدا کړي چې لا تر اوسه ئې تاسو نه پېژنئ، ډېر نور داسې څاروي شته چې ستاسو په سيمې کې نه تر سترگو کېږي او تاسو نه دي ليدلي، همدا راز د داسې وسائلو جوړولو امکانات ئې په دې عالم کې اېښې چې ورو ورو به ئې جوړول زده کړئ، د سورلۍ او حمل و نقل ټول هغه وسائل په دې لړ کې راځي چې انسانانو تر نن پورې جوړ کړي او يا له دې وروسته به ئې جوړ کړي. آيا عجيبه نه ده چې انسان د دغو نعمتونو شکر ونه کړي او د خپل منعم رب پاس ونه ساتي؟!!

دې ته مو بايد پام وي چې (مِّمَّا عَمِلَت أَيْدِينَا أَنْعاماً: له هغو څارويو چې زموږ لاسونو

جوړ کړي) معنی دا نه ده چې الله تعالی د انسان په څېر لاسونه لري او کوم څه د انسان په څېر په خپل لاس جوړوي، ځيني کمعقله او کمعلمه دا آيت همداسي تعبيروي، حال دا چي دا تعبير د همدې سورې د همدې برخې له ۸۲ آيت سره په بشپړه توګه تعارض لري، ځکه هلته ويل شوي: إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ: يقيناً چي د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چي کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته تر سره) کېږي!! الله تعالی نه په ذات کې مخلوقاتو ته ورته دئ، نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، نه د انسان په څېر جوارح او غړي لري او نه د انسان په څېر کوم کار په خپل لاس کوي، يوازې امر او اراده ئې کافي ده چي يو کار له ځنډ پرته تر سره شي. د ټولو امورو د تدبير او تر سره کېدو لپاره يوازې د الله تعالی اراده کافي ده، د شيانو پيدايښت، مرګ، ژوند، ساتنه، پالنه، تدبير، ورکړه، تمليك، اخيستل، امساك، بطش، دا ټول د الله تعالی په ارادې سره او د كُنْ په حکم تر سره کېږي.

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَهُمۡ وَهُمۡ لَهُمۡ جُندٌ مُّحۡضَرُونَ ﴿٧٥﴾

له الله پرته ئې داسي معبودان ونيول چي ښايي (په دې سره به) د دوی ملاتړ وشي، (نه يوازې) ملاتړ ئې نشي کولی (بلکې) دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي.

(۷٤-۷۵)- دا مبارك آيتونه د مشرکينو او د دوی د جعلي معبودانو په اړه وايي: مشرکينو له الله تعالی پرته داسي معبودان ځان ته غوره کړي چي ګمان کوي هغوی به ئې خپلو موخو ته په رسېدو کې يا په خپله مرسته وکړي او يا به الله تعالی د هغوی په طفيل او سپارښتنه د دوی حاجتونه تر سره کړي، حال دا چي هغوی نه يوازې د دوی مرسته او ملاتړ نشي کولی بلکې دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي، داسي چي همدا دروغجن معبودان دوی د خپلو غرضونو لپاره د مطيع لښکر په توګه کاروي. معبودان ئې نه يوازې دوی ته کومه ګټه نشي رسولی بلکې په خپله د خپلو غولېدلو جاهلو بندګان مرستو ته سترګي په لار وي، شکرانې او نذرانې ترې اخلي او د خپلو ګټو لپاره ئې استعمالوي، دوی ورته تبليغات کوي، کرامتونه ورته ثابتوي، د ځان په څېر جاهلان د هغوی لمانځني ته بلي، له هغوی دفاع کوي او د هغوی لپاره له حقپالو سره جنګېږي، که دا لښکر نه وي نو د هغوی خدايي نه چلېږي.

فَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّا نَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ﴿٧٦﴾

نو د دوی وينا دې تا غمجن نه کړي، يقيناً چي موږ په هغه څه هم پوهېږو چي دوی

ئې پېښوي او په هغه څه هم چې دوی ئې څرګندوي.

(٧٦)- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې د مخالفينو د معاندانه تبليغاتو له کبله مه غمجن کېږه، الله تعالى د دوی په پټو او څرګندو تبليغاتو او توطئو او په دې چې څنګه ئې شنډ او بې اغيزه کړي ښه پوهېږي.

أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا
مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ﴿٧٨﴾ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ
أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ
ٱلۡأَخۡضَرِ نَارٗا فَإِذَآ أَنتُم مِّنۡهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَ لَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ
أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ
شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٨٣﴾

آيا دغه انسان دې ته پام نه دئ کړی چې موږ له يوې نطفې پيدا کړی؛ او بيا دی څرګند جګړاوو شو؛ او زموږ لپاره ئې مثل تېر کړ په داسي حال کې چې خپل پيدايښت ئې هېر کړی، وئې ويل: څوک به دا هډوکي په داسي حال کې راژوندي کړي چې وراسته شوي وي، ووايه: همغه ذات به ئې راژوندي کړي چې په لومړي ځل ئې پيدا کړل؛ او هغه په هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ، همغه چې تاسو ته ئې له شنې ونې داسي اور پيدا کړ چې ترې بلول کوئ، آيا هغه چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر نه دئ چې دوی ته ورته پيدا کړي؟! ولې نه؛ هغه ډېر پوه غوره پيدا کوونکی دئ، يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته تر سره) کېږي!! نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې د هر څه ټولواکي د هغه په لاس کې ده او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

(٧٧-٨٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

آيا دغه کافر او مشرك انسان چې له الله تعالى پرته نور معبودان لمانځي او له بيا ژوندون انکار کوي دې ته متوجه نه دئ چې الله تعالى له يوې نطفې پيدا کړی، هغه ځای ته ئې رسولی چې له خپلي تګلاري او دريځ دفاع کولی شي، په شخړو لاس پوري کولی شي،

خو هغه خپل زور ځواك د حق او حقیقت په ضد كاروي، حتى د خپل رب په ضد استدلال كوي او وايي: څوك به دا هډوكي په داسي حال كي بیاراژوندي كوي چي وراسته شوي وي، دا خبره په داسي حال كي كوي چي خپل پیدایښت ئې هېر كړی. قريشو له هغي ورځي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پر آخرت ایمان ته وبلل او ورته وئې ویل: دا عالم د پای یوه ثابته نېټه لري، قیامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به متلاشي كېږي، بله دنیا به له بلي زمكي او آسمان سره راپیدا كېږي، ټول انسانان به بیا راژوندي كېږي، ټول به د الله په لوري درومي او د خپلو عملونو له ثواب او عقاب سره به مخامخ كېږي، قريشو به كله په حيرت او تعجب سره او كله په تمسخر او ملنډو سره يوه له بله پوښتل: آیا اورېدلي مو دي چي ستاسو دا ملګری څه وايي؟!! آیا دا خبره د منلو ده چي له مرګ وروسته او پس له هغه چي هډوكي مو وراسته او په خاورو بدل شي بېرته به راژوندي كېږو؟!! كه دا خبره رښتیا وي نو زمونږ له پلرونو او نیكونو خو كوم څوك باید تراوسه راژوندی شوی وی!!

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ویل شوي چي دې منكر انسان ته ووایي:

- همغه ذات به ئې بیاراژوندي كوي چي په لومړي ځل ئې پیدا كړل، څوك چي یو شی په لومړي ځل او له مخكيني مثال پرته پیدا كولی شي ولي ئې له بیا پیداكولو عاجز ګڼئ؟! دوهم ځل پیدایښت خو تر لومړي ځل ډېر آسان وي!!
- همغه ذات به ئې بیاراپیدا كوي چي په هر ډول پیدایښت ښه پوه دئ، ډول ډول مخلوقات ئې پیدا كړي، د دې دومره زیاتو او بې شمېره مخلوقاتو خالق څنګه د انسان له بیاپیدا كولو عاجز ګڼئ؟!!
- همغه ذات به ئې بیاراژوندي كوي چي تاسو ته ئې له شنې ونې داسي اور پیدا كړ چي ترې بلول كوئ، چا چي په سرې شنې ونې كي د تودوخي پیدا كولو استعداد ایښی، انسان ته ئې دا توان وركړی چي د اور بلولو په اړه ترې كار واخلي او تودوخه ترې تر لاسه كړي، همغه به مړي بیا راژوندي كوي، تاسو ښه پوهېږئ چي تودوخه او حرارت د ژوندون اساسي تومنه ده، یو ژوی تر هغه ژوندی وي چي په وجود كي ئې تودوخه او انرژي پیدا كېږي، په كومه شېبه چي د هغه په وجود كي د حرارتي انرژي تولید متوقف شي مري، كه انسان دا د الله تعالى یو مخلوق؛ كولی شي له شنې سرې ونې تودوخه تر لاسه كړي ولي د ده خلاق رب له دې عاجز ګڼئ چي له مړې سرې خاوري ژوندون راوټوكوي؟!! آیا هره شېبه له خاوري د ډول ډول ژوو پیدایښت په خپلو سترګو نه ګورئ؟!!
- آیا هغه چي آسمانونه او زمكه ئې پیدا كړي پر دي قادر نه دئ چي دوی ته ورته انسانان پیدا كړي؟! ولي نه؛ هغه ډېر پوه غوره پیدا كوونكی دئ. د ده د (علم) او (خلاقیت) څرګند مظاهر د عالم هر لوري ته، په هر ګام كي او هره شېبه ګورو.
- یقیناً چي د الله تعالى كار داسي دئ چي كله د كوم څه اراده وكړي نو ورته وايي: وشه او هغه له ځنډ پرته كېږي.

- نو سپېڅلتیا هغه ذات ته ده چي د هر څه واك د ده په لاس کي دئ او د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ. هغه ذات چي د هر څه واکي د ده په لاس کي دي، په عالم کي واکمني، سلطنت او سیطره د ده په واك کي دي، د ټولو شیانو ساتنه او پالنه کوي، د ټولو امورو تدبیر ئې په لاس کي دئ، هغه له هر عیب منزه او له هرنقص او ضعف لوړ دئ. هر څه د هغه په اختیار کي او د هغه د ارادې په وړاندي مقهور دي، په پای کي د خپل رب په لوري درومي، تاسو هم د نورو شیانو په څېر د خپل ژوند په پای کي د خپل رب خوا ته درومئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷